تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامۃ العصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد اللہ السید الایوبی

الصندوہاری العیلما نخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

ناشر

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کافسی روڈ مشالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

MAKTABATUL QIRAIATI WALTAJWED
QUITTA

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې بې ساری

په زر ګونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر الابی حنفی

سُبْحٰنَ الَّذِیْ ۱۵ ... ۱۶ قَالَ اَلَمْ

پوولسم توک ۱۱

تالیف اوتصنیف

علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الابوي

الكندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مكتبة التراث والتجويد

كانسي روډ شالدره کوئټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسير ايوبي پښتو يوولسم توک
مؤلف ..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري
السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي
کمپوزر ..... حبيب الحق حقاني (مينګل)
تايپ ..... حقاني کمپيوټر اداره
نشر کوونکي اداره ..... مكتبة القراءت والتجويد كانسي رود كوټه
د چاپ ځای ..... لاهور پاکستان

يو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم په قرآن مجيد، احاديثو يا دفقهي په کتابو کي په قصده سره غلطي نه کوي، زمونږ اداره تر خپله وسه پوري د کتابو تر ليکلو وروسته تصحيح ته زياته پاملرنه کوي، چې ددې په وجه زمونږ کتابونه معياري دي، خو بيا هم بنده بنده دی، يو نه يو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کي يا په يوه جمله کي ځني صادره سي، نو زمونږ د ټولو ناظرينو څخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر داسي غلطي ټپره سي لطفاً زمونږ سره تماس ونيسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کي د هغې ټپروتنې اصلاح وسي

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد كوئته باكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو جزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٣٠ هجري - ٢٠٠٩ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

شارع كانسي كوئته-باكستان

رقم الهاتف ٠٣٠-٢٨٨٥٥٢٥

MAKTABTUL-QIRRAT WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله المنان. الذي علم القرآن. خلق الانسان. علمه البيان. وصدق رسوله النبي الامي للانس والجان.

وبعد: محترمو لوستونكو د تفسير ايوبي يوولسم توک ستاسو په لاسونو کښې دی، کوم چې د پښتو په تاريخ کې يو ځانګړی مقام او حيثيت لري.

کوم چې: د تحت اللفظ ترجمې سره سره پر روانه او سليسه ترجمه باندې مشتمل دی.

کوم چې: په زرګونو نوي مسئلې پکښې حل سوي دي.

کوم چې: سوچه او ربښتينې واقعات لري

کوم چې: د تفسير سره سره د وخت د مقررينو او د جمعې د تقرير کونکو لپاره يوه لويه علمي ذخيره هم ده.

کوم چې: د سوال او ځواب په ښائسته انداز کې خپل ويونکی پوه کوي.

کوم چې: د آيتونو او احاديثو په منځ د ظاهري تعارضاتو دفع کوي.

کوم چې: د تفسير القرآن بالقران يواځنی نمونه او مثال دي.

کوم چې: د نوي نسل لپاره حجت او دليل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

کوم چې: په اسانه او قانوني پښتو باندې ليکل سوی دی.

کوم چې: قرآني متن يې له اعرابي غلطيو او رسم الخط له غلطيو څخه پاک دی.

کوم چې: قرآني متن يې هم هغه متن دی کوم چې د سوونو کلونو راپه دې خوا زمونږ ستر ګې ورسره مانوسيت لري.

کوم چې: د نوي (دور جديد) پر تولو تقاضاوو باندې مشتمل دی.

کوم چې: د نوو فارغه سوو علماؤ او قديم علماؤ کرامو لپاره يو رنګه مفيد او ګټور دی.

کوم چې: د ګران هيواد څخه د لېرې اوسېدونکو لپاره وعظ، عالم، مفسر، مفتي او سيرت او قصص بيانونکی دی.

کوم چې: يې له تولې نړۍ څخه د مبارکۍ پيغامونه را رسېدلي دي.

کوم چې: يې په اوسنې تفاسيرو کې له تولو څخه سيالي ګټلې ده.

نو که په دې تولو مطالبو کې مونږ تر کومه حده پورې بريالیتوب تر لاسه کړی دی، دا تولې ستاسو د مشفقانه مشورو او دعاګانو نتيجه ده، هيله ده چې په خپلو مفيدو مشورو مو نور هم ونازوئ؛ او په خپلو دعاګانو کې مو همېشه ياد ولرئ.

والسلام

(قاري) فضل الحق حقاني

د مکتبة القرائت والتجويد مؤسس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْاِسْرَاءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاِحْدَى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّاَحَدَ عَشَرَ رُكُوْعًا بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله الذي جعل هذا العبد الجهول الذليل من خدام الكلام المجيد والقرآن الحميد، وجعل الصلوة والسلام على حبيبه المصطفى في تضاعيف التفسير من اهم الروابط بينه ﷺ و على آله وبين هذا العاصي لانه قد صح عن النبي ﷺ من صلى علي في كتاب لايزال الملائكة يدعون له ما دام اسمي في الكتاب او كما قال.

يقول العبد الضعيف قد شرعت في تفسير هذا الجزء (١٥) في وقت سعيد قبيل وقت الصبح من يوم الاحد (١٤) الشهر المبارک ذوالقعدة الحرام من شهور سنه (١٤٢٩) هجري قمري في كوئته باكستان وارجوا من فضله العظيم ان يوفقني لتفسير هذا الجزء بل لتفسير بقية اجزأ القرآن العزيز بالصحة والسلامة والفرح والسرور انه تعالى على كل شئ قدير وبالاجابة جدير اللهم سهل وتقبل.

دروښ وايي: چې عادت الهي جاري دی چې شروع د هر سورت په بسم الله سره کوي، الا سورة برائة.

فائده: دا سورت په نامه د سورت بني اسرائيل سره مشهور دی او سورت اسرى يې هم بولي، او بعض علماً يې سورت سبحان بولي.

فائده: ابن مردوية له ابن عباس او عبد الله بن الزبير ﷺ څخه روايت کړی دی چې دا سورت تولـه مکي دی. وهو قول الجمهور. او صاحب الفنيان وايي بالاجماع. او بعض مفسرين وايي الا آيتين وان كادوا ليفتنونک وان كادوا ليستغفرونک، وقيل غير ذالک كما هو المشهور والمذكور في روح المعاني.

سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا

پاکي ده د هغه چا لپاره چې بويې تلی د شپې بنده دده.

دروښ وايي: چې "سبحان" مصدر دی د سبح بتخفيف الباً ومعنى سبح ذهب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في الارض وبعد فمعنى سبح الله بعد الله من جميع النقائص والعيوب، او گاهي سبحان مصدر د سبح بالتشديد من باب التفعيل راغلى دى، نو پر دې تقدير سبحان اسم مصدر دى يعني په ځاى كي د اسم مصدر د باب د تفعيل وضع سوى دى مثل سبح الله سبحاناً، او گاهي سبحان علم مصدر هم راغلى دى كما في قول الشاعر

وقلت لما جائني نحزه ..... سبحان من علقمة الفاخر

وحينئذٍ فهو غير منصرف للعلمية وزيادة الالف والنون، ولهذا سبحان ته يې په دغه ځاى كي تنوين نه دى وركړى كما هو قانون غير المنصرف في النحو والشيخ الرضي انكر علمية، او د شعر مذكور يې دا ځواب وركړى دى چې اصل يې سبحان الله من علقمة آه، فحذف المضاف اليه وهو لفظ الله وترك المضاف على حاله فعدم التنوين في الشعر للاضافة لا للعلمية فهو منصرف، او قاضي محمد مبارک په منهيه د شرح السلم دا ځواب وركړى دى چې كلمه من د من علقمه زائده ده فسبحان في الشعر المذكور مضاف الى علقمة.

دروبش وايي: چې وهذا ليس بوجه والحاصل چې سبحان في مثل سبحان الله دري احتماله دي (١) المصدرية نو پر دې تقدير فعل مصدر يې سبح دى بالتخفيف فهو لازمي والله فاعله ومعناه ماذكرناه (٢) اسم مصدر دى يعني قائم د اصل مصدر دى او په معنى هم د اصل مصدر دى، او پر دې تقدير يې عامل سبح بتشديد الباً او لفظ د الله يې مفعول دى او فاعل يې محذوف دى (٣) علمية المصدر دى، پر دې تقدير يې هم عامل د باب د تفعيل محذوف دى او لفظ د الله مفعول به دى.

پوښتنه: څه فرق دى د اسم مصدر او د علم مصدر؟

ځواب: فرق يې اعتباري دى يعني د تسبيح چې تنزيه ده يوه معلومه معنا ده، نو اعتبار او لحاظ د تعين ورسره ونه كړى اسم مصدر دى او كه يې اعتبار د تعين ورسره وكړى علم مصدر دى.

سوال: باعث پر اعتبار او نه اعتبار څه شى دى؟

ځواب: باعث يې امر لفظي دى چې په سبحان من علقمة الفاخر كې اعتبار د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعین غواړي تاچې غیر منصرف سي للعلمیة والالف والنون، نو دا به یې وجه د سکوط د تنوین وي کما في شعر المذکور، او په سبحان الله کې باعث لفظي ښکته. نو حکمه اسم مصدر دی، وهذا الفرق بین اسم الجنس وعلم الجنس کاسد واسامة چې دواړه د زمري نومان دي لکن "اسامة" په کلام عربي کې غیر منصرف راځي یعني لایقبل التنوین ولا الجر ومن اسباب عدم الانصراف فیه سبب واحد وهو التانیث اللفظي فاعتبروا فیه العلمیة لسبب عدم انصرافه التانیث والعلمیة بخلاف الاسد فانه یستعمل منصرفًا.

پوه سه: چې عامل د نصب د سبحان الذي هغه فعل متروک اظهاره دی چې بعض علماء وایي چې اصل یې اسبح الله سبحانًا ؤ په صیغه د متکلم واحد، او بعض وایي سبحوا الله سبحانًا په صیغه د امر پر هر تقدیر مراد څنې تنزیه بلیغ ده خدای ﷻ من جمیع العیوب والنقائص قلبًا وقولاً لامجرد قول سبحان الله.

پوښتنه: فعل ناصب د سبحان الله ولي واجب الحذف دی؟

ځواب: اصل د کلام سبحت الله سبحانًا ؤ نور لپاره تخفیف چې کثرت الاستعمال یې مقتضي دی فعل یې حذف کړی او لفظ د سبحان یې وه لفظ الله ته مضاف کړی یعني سبحان الله او یا وضمیر ته نحو سبحانه او یا و موصول ته نحو سبحان الذي دا اضافت به د عامل محذوف دلیل وګرځي او قائم مقام العامل به سي، نو اوس داسي نه ده روا سبحت سبحان الله لانه جمع بین العوض والمعوض عنه ولان المعمول وهو لفظ الله لایرضی بعمل عامل ضعیف وهو المصدر اذا وجد في الکلام العامل القوي وهو سبحت ای الفعل هکذا قالوا.

پوه سه: چې ټول مفسرین رحمهم الله پر دې متفق دي چې "اسری" د شپې و بهولو ته وایي خاصةً لکه سری نو اسری او سری سره یو دي. زفر رحمه الله وایي چې د اسری په ویلو سره هغه سوال چې بعض حکما یې کوي چې د علیه الصلوة والسلام بدن لکه د نورو انسانانو ثقیل او د ثقیل میل خو مرکز عالم ته دی نه د اسمان پر خوا لکه خفیف اجسام یعني هوا والنار دفع سو، ولي چې په قرآن کې اسری راغلی دون سار یعني خدای ﷻ بوتې نه دی په خپل فافهم لکه طیاره چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ځپل هوا او لوړه خوا ته طيران نه سي کولای بلکې طياره چلونکی يې پورته کوي يعني پيلوټ.

فائده: ليلاً ظرف دی د اسری نکره چې راوړي لپاره د دلالت پر تقليل د مدة د اسری وانتها بعض الليل.

تنبيه: بعبده يې ووايه برسوله او حبيبه يې نه ووايه تاچې په عليه الصلوة والسلام غلو څوک ونه کړي چې هم نبي دی او هم اله دی لکه توهم النصاری في عيسى عليه السلام، او بل په عبد ويلو کې اشاره و دې ته ده چې مقام د عبوديت تر مقام د رسالت لوړ دی يعني په رسول کې، ولې چې په عبوديت کې توجه ده من المخلوق الى الخالق وفي الرسالة توجه من الخالق الى المخلوق فتدبر اى في التبليغ اليهم، مجنون وايي:

لاتدعني الا بيا عبدها "اى ليلى" ..... فانه اشرف اسمائى

يو بل عاشق و خپل معشوق ته خطاب کوي او وايي:

بالله ان سئلوک عني قل لهم ..... عبدی وملکي وما اعتقته

او د ابى القاسم سليمان الانصاري څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام چې په شپه د معراج ورسېدی الى الدرجات العالية والمراتب الرفيعة اوحي الله ﷻ اليه يا محمد بم نشرفک؟ قال عليه السلام بنسبتي اليک بالعبودية فانزل الله تعالى سبحان الذي اسرى بعبده، وقد جا في الحديث قولوا عبد الله ورسوله يعني كما جا في قعدة الصلوة اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً عبده ورسوله.

فائده: دليل ددې چې رسول الله ﷺ وه معراج ته په روح او جسد دواړو سره ښول سوی دی لفظ د عبد دی، ولې چې عبد مجموع جسد او روح ته وايي، او بل دليل يې دادی چې براق چې د قسم د دوابو وُ انما يحمل الاجساد، او بل دليل يې دادی چې که معراج په روح سره وای فقط يعني په حال د خوب يا د استغراق په حال کې وايي، نو منکرانو د معراج ولې انکار پر کاوه، ولې په حال کې د خوب هر قسم مستبعد حالات سړی وينې او دغه رنګه په حال کې استغراق في المحبة كما يدل عليه التجربة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"لیلاً" منصوب دی علی الظرف کمامر، او لیلاً تاکید دی د اسری، ولي چي اسری د عربو په ژبه کي لایکون الا لیلاً حتی چي دا توهم ونه کړل سي چي دا اسرا به نهاراً وه، او یله فائده د لیلاً داده چي پر تقلیل د مدت السیر دلالت وکړی کمامر، ولي چي که څوک ووایي سرت اللیل یعني معرفه معنا یې په عربي کي داده چي ګرده شپه مي تګ وکړی، نو شپه یې معیار دی لکه ورځ چي د روژې معیار ده، نو د لفانځه په باره کي به سړی دا مي وایي صلیت ظهراً لیدل علی الظرفیة لان وقت الظهر لیس معیاراً لصلوته فافهم.

فائده: د علیه الصلوة والسلام معراج د رجب د میاشتي پر اوومه ویشت تاریخ وو، و علیه عمل الناس ای المسلمون په ټوله اسلامي نړی کي اوه دوشنبې شپه وه.

پوه سه: چي علیه الصلوة والسلام د دوشنبې په ورځ و عالم دنیا ته په مکه مکرمه کي سترګي روښي کړي دي، او د دوشنبې په ورځ نبوت ورکړل سوی دی او د دوشنبې په شپه یې له مکې څخه هجرت کړی دی او د دوشنبې په ورځ مدینې منورې ته رسېدلی دی او وفات یې هم د دوشنبې په ورځ سوی دی، شاه عبد العزیز دهلوي رحمه الله په خپل تفسیر کي وایي چي ددې معنا او سر دادی:

لایمکن الثنا کما کان حقه ..... بعد از خدا بزرګ توئی قصه مختصر

پوښتنه: څه حکمت وو د خدای ﷻ چي د شپې یې علیه الصلوة والسلام و معراج ته یوتلی، که یې د ورځې بیولی وای چي خلګو لیدلی وای، نو د خلګو طعن او تکذیب به نه وای؟

خواب: یو حکمت یې دا وو چي صدق او کذب د خلګو معلوم سي یعني چي څوک یې تصدیق کوي په دې قصه کي او څوک یې تکذیب کوي حتی چي بعض مسلمانان په اوږدلو سره د قصې د معراج مرتد سوه، او بل حکمت دادی چي شپه وخت د ملاقات دی د حبیب د حبیب سره، او ورځ وخت دی د فراق، بل سبب دادی چي شپه وخت دی د عبادت بې ریا له دې سبب د تهجد لصوتع افضل النوافل دی، او بل حکمت دادی چي شپه وخت د راحت ده من تعب النهار او ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وخت د مشاغلو وي په امورو سره د دنيا، نو شپه نمونه د جنت ده او ورځ نمونه د دوزخ ده، ولذا قدم الليل على النهار في جميع القرآن، او بل حكمت دادی چي پټ مجلسونه خلګ د شپې کوي.

دروښ وايي: چي مظهري رحمه الله له بخاري او مسلم څخه په روايت د انس بن مالک بن صعصعة رضي الله عنه داسي روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام وويل بينا انا في المسجد الحرام بين النائم واليقضان اذآتاني جبرئيل بالبراق وبعبارة اخرى بينا انا في الحطيم مضطجعًا او آتاني آتٍ آه، او روح المعاني هم دغه حديث ذکر کړی دی.

"من المسجد الحرام" روح البيان وايي چي اصح د رواياتو دادی چي اسرى له بيت څخه د ام هاني بنت ابی طالب وه چي نوم يې فاخته وه او د فتح مکه په کال يې ايمان راوړی او ددې بيت په حرم کي داخل دی، والحرم کله مسجد ولهذا قال من المسجد الحرام.

پوه سه: چي علما وايي چي حدود د حرم د مدينې له خوا څخه درې ميله دی او د عراق له خوا څخه اووه ميله دی، او د جعرانه له خوا څخه نهه ميله دی او د طائف له خوا څخه اووه ميله دی او د جدې له خوا څخه لس ميله دی. دغه پينځه ميقاته عليه الصلوة والسلام تاکلي دي او معين کړي يې دي لپاره د احرام.

مسئله: څوک چي قصد د بيت الله شريفي لري تر دغو ميقاتو به بې احرامه نه تيريږي تعظيمًا لبيت الله الشريف، خواه دی په نيت زيارت د بيت الله روان وي او که لپاره د تجارت روان وي او غيره.

دروښ وايي: چي افسوس چي يو رئيس جمهور په نامه د يوې جلسې لپاره مکې مکرمې ته ورتلی او د سعودي حکومت مطاف ورته خالي کړی له طواف کوونکو څخه کما هو عادة الحکومة السعودية في وقت مجئ السلطان او يا رئيس جمهور د يوه مملکت اسلامي، نو دا رئيس جمهور بهله احرامه په خپل درېشي کي ورغلی او حجر اسود يې مچ کړی بيرته راووتی.

"الى المسجد الاقصى" ای بيت المقدس دا يې مسجد اقصى ولي وباله څکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د حرم مکي څخه تر مسجد اقصی پورې بل مسجد نه وو په هغه زمانه کې، نو مسجد د بيت المقدس هغه نهايت لېرې مسجد وو له مسجد حرام څخه.

مسئله: د عليه الصلوة والسلام معراج له مسجد حرم څخه تر مسجد اقصی پورې چونکه په صريح قرآن سره ثابت دی، نو منکر يې کافر دی، او له مسجد اقصی څخه بيا تر لامکان پورې په صحيح حديثو سره ثابت دی کما سياتي ان شاء الله تعالی نو منکر يې مبتدع دی کذا في کتب التفاسير المعتبرة.

دروېش وايي: چې وء اسری ته د عليه الصلوة والسلام له بيت څخه د ام هاني جامي هروي قدس سره په دې بيتو کې اشاره کړې ده:

چو دولت شد زبد خواهان نهانی ..... سوی دولت سرای ام هانی
درآمد ناگهان ناموس اکبر ..... سپکرو تر ازين طاؤس اخضر
برو مالید پر که ای خواجه برخيز ..... که خوابت آمد امروز دولت انگيز
پسيج راه عرشت کردم اينک ..... براق برق سير آوردم اينک

الَّذِيْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا

چې برکت ايښی دی موږ پر شاوخوا د هغه مسجد اقصی ای بيت المقدس يعني ببرکات الدين والدنيا، ديني برکت يې دادی چې مهبط د ملائکه وو دی او ځای د عبادت د انبيا عليهم السلام وو دی له وخت څخه د موسی عليه السلام، او دنياوي برکت يې دادی چې جاري ويالې د اوبو پکښې دي او مېوه داري درختې او سرسبز او شاداب باغونه پکښې دي ومع هذا اردن او دمشق او فلسطين هغه ښارونه او وطنونه دي چې پر شاوخوا د بيت المقدس واقع دي، چې موږ وويلو په ده بعض له آياتو څخه د قدرت خپل، مفسرين رحمهم الله وايي چې يو له آيتو څخه تګ دده دی تر بيت المقدس پورې په بعض الليل کې چې تر هغه ځايه پورې د يوې مياشتې د آس د تګ مسافت دی.

دروېش وايي: چې بعض جاهلان دا سرعت د تلو د عليه الصلوة والسلام تر بيت المقدس پورې له دائرې څخه د عقل دباندې بولي، او دوی له قدرت څخه د خدای ﷻ بې خبره دي بلکې په عقلي شيانو هم نه دي خبر، محقق بيضاوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي دا استحاله د سرعت سير د عليه الصلوة والسلام او يا هغه براق چي دی پر سپور ؤ مرفوع ده، ولي چي په علم هندسه کي چي عقلي علم دی دا ثابته ده چي په منځ کي د يوه طرف د قرص الشمس تر بل طرفه پوري مضاعف دی د بعد تر منځ د يوه طرف د منحکي تر بل طرف پوري يوسل پينځه شپېته (۱۶۵) واره، او دا هم هندسه والاوو ثابته کړې ده چي طرف اسفل د لمر و ځای ته د طرف اعلی د لمر د يوې ثانيې په کمه زمانه کي رسېږي.

دروېش وايي: چي ما دا دليل عقلي د بيضاوي که څه هم د هر دقيق ؤ لپاره د اقناع د دغه جاهل چي پابند د عقل ؤ او د خدای ﷻ له قدرت څخه غافله ؤ راوړی فلا يرد مايتوهم فافهم.

دروېش وايي: چي شيخ اکبر محي الدين ابن عربي قدس سره وايي چي معراج د آنحضرت ﷺ څلور د هرش واره واقع سوی دی، يو وار په جسد او روح دوارو سره ؤ چي په دې آيتو کي مراد دی او مشهوره قصه د معراج چي مفسرين يې بيانوي هم دغه معراج دی، او مظهري رحمه الله وايي چي قد انعقد عليه الاجماع، او نور معراجونه د عليه الصلوة والسلام چي درود هرش دي هغه په خوب کي وه قبل النبوة وبعدها، گويا هغه معراجونه د مقدمة الجيش په شکل وه د دغه معراج لپاره کالرؤيا الصادقة التي رئها رسول الله ﷺ قبل النبوة كما في البخاري ومسلم وغيرهما.

دروېش وايي: چي له آيات څخه چي عليه الصلوة والسلام وليدل دا وه چي په مسجد کي د بيت المقدس تولـه انبيا عليهم السلام سره جمع کړي وه او عليه الصلوة والسلام ودوی ته په امر د جبرئيل دوه رکعته لمونځ په جماعت ادا کړی چي په اول رکعت کي يې "قل يا ايها الكافرون" او په دوهم رکعت کي يې "قل الله احد" ووايه، انبيا عليهم السلام تولـه اووه صفه وه، دري صفه يې رسولان وه او ملائکه وو هم په جماعت لمونځ پسي وکړی، او دا امامت له خصائصو څخه دده مبارک دی كما قال القاضي زكريا في شرح الروض قال علامه بغداد السيد الآلوسي رحمه الله في روح المعاني، والحكمة في ذالك ان يظهر انه امام كل انبيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليهم السلام والى هذا اشار العارف الجامي قدس سره:

دران مسجد امام انبیاٗ شد ..... صف پیشینان راپیشوا شد

لکن په دې کې اختلاف دی چې دا امامة الانبیاٗ قبل العروج ؤ او که وروسته تر عروج وه، علامه ابن کثیر په خپل تفسیر کې وایي چې دا امامت وروسته تر عروج ؤ، او قاضي عیاض رحمه الله په شفا کې وایي چې قبل العروج ؤ.

درویش وایي: چې وهو الاشهر، او له آیاتو څخه چې علیه الصلوة والسلام ولیدلې سدرة المنتهی وه چې د یوې درختې نوم دی چې نمونه یې په مځکه کې هم سته چې د بیري درخته یې بولي، او بېره یې مېوه ده چې دا درختي په هندوستان کې د بېري دي او د پاکستان په ځینو ځایو لکه سند او پنجاب کې هم سته، والی هذه الشجرة اشیر في قوله تعالی "اذ یغشی السدرة مایغشی آه" چې پر دې درختي انوار رنګارنګ توی سوه.

درویش وایي: چې منتهی یې په دې بولي چې علم او پرواز د ملکو تر درختي پورې دی وبس او جبرئیل تر دغه درختي پورې د علیه الصلوة والسلام ملګری ؤ او بیا رفرف پیدا سو چې پر هغه علیه الصلوة والسلام کښېنستی او تر لامکان پورې ولاړ، ودې ته سعدي شیرازي قدس سره په دې بیتو کې اشاره کړې ده او وایي:

چنان گرم در تیه قربت براند ..... که در سدره جبرئیل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بیت الحرام ..... که ای حامل وحی برتر خرام
بگفتا پرا تر مجالم نماند ..... بماندم که نیروی بالم بماند
اگر یک سر موی برتر پرم ..... فروغ تجلی بسوزد پرم

علیه الصلوة والسلام وایي چې وروسته ژه په پردو کې د نور داخل کړه سوم چې اوویا زره پردې دي قطع کړې آه، او په دې سفر کې علیه الصلوة والسلام لوی او کوچني ستوري ولیدل او ملائکه صف صف ودرېدلې او جنت او دوزخ یې ولیدی الی غیر ذالک من عجائب ملکوت السموات او په هر اسمان کې د یو نبي سره د انبیاٗ علیهم السلام ملاقات کړی دی کما صحح في البخاري وغیره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وسيئاتي تفصيله ان شاء الله تعالى، ومن اعجب ما رئ ما نقل روح المعاني عن ابن عباس رضي الله عنهما قال انه عليه الصلوة والسلام رئ في ليلة المعراج في مملكته جلت قدرته خلقًا كهيئة الرجال على خيل بلق (پر كمرو اسانو سپاره) شاكي السلاح" چي په سلاح د جنگ ټوله مسلح وه، جگ جگ چي د هر يوه زر كاله مسافت و الفرس كذالك يوپه بل پرله پسي وه چي نه يې اول معلومېدی اونه يې اخير، نو عليه الصلوة والسلام وجبرئيل ته وويل، من هؤلاء؟ جبرئيل ورته وويل چي ته نه دی اوربدی دا قول د خدای ﷻ "وما يعلم جنود ربك الاهو" جبرئيل ورته زياته كړه چي زه همېشه مځكي ته ځم او بيرته اسمانو ته راځم دغه مسلح فوج روان دی، نو زه نه پوهېږم چي له كومې خوا راځي او چېرې ځي.

نكته: سوال او پوښتنه دا پيدا كېږي چي عليه الصلوة والسلام ولي اول بيت المقدس ته بوتلل سو، وروسته وه اسمانو ته اولاً له مكې مكرمې څخه د څه حكمت له كبله پورته نه ولاړی؟

ځواب: سبب او حكمت دا وو چي تدريجًا عليه الصلوة والسلام شرف ورته حاصل سي يعني په زيارت سره د بيت المقدس، او امام وايي چي د انبياؤ عليهم السلام شرف كمامر ورته حاصل سي، او بعض مفسرين وايي چي سرزمين د بيت المقدس مځكه د محشر ده په ورځ د قيامت، نو عليه الصلوة والسلام چي خداى ﷻ بيت المقدس ته وروستی ددې لپاره چي هغه مځكه هم دده په قدم مبارك سره مشرفه سي ذهابًا وايابًا يعني په تگ او راتگ دواړو كي، او بعض مفسرين وايي چي هغه دروازه چي ملكي ځني راكښته كېږي او پورته كېږي پر مقابل د صخرة د بيت المقدس ده.

فائده: خداى پاك په آيت قبلي كي يعني "لنريه من آياتنا" كلمه د من چي دلالت پر بعضيت كوي راوړه له دې سببه چي ټوله آيات د قدرت الهي څو غير متناهي دي، نو د ټولو ليدل څو لاتكاد تقع، نو كه داسي ويل سوي واى "لنريه آياتنا" توهم د ټولو آياتو د ليدلو يې كېدی وقيل غير ذالك.

دروبش وايي: چي خبري دېري راځخه اوږدې سوې، نو راځئ نومورې پرانۍ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته د معراج د قصې ولاړ سو علی مافي صحیح کتب التفاسیر، علیه الصلوة والسلام د معراج په شپه په خوارۀ خوب بیده وۀ چې جبرئیل، میکائیل او اسرافیل علیهم السلام راغله او د هر یوه سره ډبرې ملکي ورسره وې، نو د خونې سر د ام هانې یې پورته کړی یعني خلاف المعتاد، جبرئیل په خپل وزر سره علیه الصلوة والسلام له خوبه بیدار کړی، علیه الصلوة والسلام وایي چې زه جبرئیل ته وروړلاړ سوم او ورته وه مي ویل چې اخي جبرئیل مالک؟ جبرئیل ورته وویل یا محمد زه خدای پاک راواستولم چې محمد علیه السلام راوله په ننه شپه کې او داسې کرامت دی چې وتاته یې درکړی دی چې تر اوسه یې هیڅ چا ته نه دی ورکړی او نه به یې له دې وروسته چا ته ورکړي، ته به د خدای عزوجل سره ملاقات وکړې او عجائب د قدرت الهي به وویني په خپلو سترګو، قال علیه الصلوة والسلام فتوضأت وصلیت رکعتین، نو جبرئیل دده مبارکه سینه وڅیرې کړه له ګرو څخه د نس تر پایه بلکې تر معدې پورې ای اشار جبرئیل الی ذالک فانشق.

پوه سه: چې دا شق چونکه خرق العادة وۀ نو نه په آلاتو د جراحي وۀ او نه په جریان د وینو وۀ او نه درد وۀ او نه تکلیف وۀ کما في العملیات الجراحیة من جانب الاطباء في زماننا هذا، او نه په نشه وۀ کما هو المعتاد الیوم، نو جبرئیل یو د زمرد و لګن راوړی او د علیه الصلوة والسلام زړه مبارک یې له خپل ځایه څخه راویستی درې واره یې د زمزم په اوبو پرې ولی او له زړه څخه یې بعضې وینې راوکښلې.

فائده: له دې څخه دا معلومه سوه چې د زمزم اوبه اشرفه تر ټولو اوبو دي حتی د جنت تر اوبو، ولي که داسې نه وای نو جبرئیل به له اوبه له جنته ورسره راوړي وای، بیا یې بل لګن د سرو زرو راوړی چې دک وۀ له ایمان او حکمت څخه هذا لفظ البخاري یعني لکه واوره داسې تک سپین شی پکښې وۀ چې د هغه استعمال په زړه کې سبب د زیاتوب د ایمان او تسلیم او حکمت ګرځیدی نو د زړه له وینو څخه خالي ځایونه یې په دک کړه.

تنبیه: ددې افرښن حکمت دا وۀ چې په سفر کې د معراج به علیه الصلوة والسلام عجائب د ملک او ملکوت وویني او د جناب سره د رب خپل به قاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قوسین وگرځي، نو هر زړه ددې شیانو د ادراک او لیدلو متحمل نسي
گرځېدای، نو له دې سببه په زړه کې د علیه الصلوة والسلام په ډکولو د دوهم
لګن د شي ډېر قوت پیدا سو چې قابل د رؤیت د جلال او جمال د خدای ﷻ
وگرځېدی. او وروسته جبرئیل بیرته زړه و خپل ځای ته ورساوه او پر ځیرې
سوې ځای یې گوته تېره کړه نس او ځیگر مبارک یې سره ملتئم سوه وما روی
عن بعض الصحابة ﷺ انهم رؤا اثر المخیط في صدره علیه السلام هو ذالک الاثر من
مرور جبرئیل یده علی صدره علیه السلام.

تتمة شق الصدر: پوه سه! چې د علیه الصلوة والسلام ته شق الصدر د معراج
په شپه درېیم وار دی، اول شق الصدر یې په هغه وخت کې وُ چې دی په بنې
سعد یه قبیله کې وُ چې دده رضعي مور حلیمه سعدیه ﷺ په دغه قوم کې وه او د
علیه الصلوة والسلام عمر پینځه کاله وُ علی ماقاله ابن عباس ﷺ په دې وار
شق الصدر کې د علیه الصلوة والسلام له زړه مبارک ځخه یې توره وینه وکښل
چې دا وینه د انسان په زړه کې ځای د وسوسو د شیطان وراچوي له هم دې سببه
به علیه الصلوة والسلام لهو لعب او نور ساتېرې د هلکانو سره نه کاوه.

پوه سه: چې دا رنگه شرح الصدر خاصه ده د علیه الصلوة والسلام د نورو
انبیاوُ علیهم السلام سره خدای پاک داسي شرح الصدر نه دی کړی کما قال روح البیان

دروبش وایي: چې درې شرح الصدر وغسل القلب واخراج الدم منه خواصي
د علیه الصلوة والسلام دي کما لایخفی علی من شرح الصدر للتأمل في شرح
الصدر للنبي علیه السلام.

دروبش وایي: چې قصه ددې چې علیه الصلوة والسلام ولي دایي ته ورکړل
سوی وُ سره ددې چې دده مور بي بي آمنه هم ژوندۍ وه او د هغو عجائب چې
حلیمه او ددې خاندان په سبب د وجود ددې حلیمه په کور کې مشاهده کړې وې
ډېره اوږده ده، دوهم شق الصدر یې په وخت کې د مجئ الوحي و لیحمل قلبه
اعباء الرسالة یعني چې زړه یې قوي سي او درانه بارونه د رسالت برداشت کړي او
پر درې لوئ لوئ ازارو چې مشرکانو د مکې به ده ته ورکول صبر وکړي الی غیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذالک من جهاده في سبيل الله خصوصاً في غزوة احد كما مرت قصته في هذا التفسير. او دريم وار شق الصدر يې په ليلة المعراج کې ښکاره سوه كما مرت عنقريب وقد ذكرنا حكمت الله ﷻ في هذه النوبة من شق الصدر فتذكر وتدبر. او د معراج په شپه جبرئيل عليه السلام يوه دابه چې فوق الحمار او دون البغل وه يعنې په جسم کې د خان سره راوستلې وه له جنت څخه چې براق بضم الباء يا يې له دې سببه براق باله چې سپينه دابه وه دوه پره پرې ښه بدله. او يا په سبب د سرعت د تګ دده لکه پهلو د وريځې په وخت کې كما قال الجامي رحمه الله:

پيچ راه عرشت كردم اينک ..... براق برق سير اوردم اينک

په حديث شريف کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وايي "هارئيت دابه احسن منها آه" نو جبرئيل يې ملتو ونيول او ميكائيل يې ركيب ټينګ کړی او اسرافيل ترشا ورته ولاړ وقال عليه الصلوة والسلام فركبتها. جامي وايي:

ازان دولت سراچون خواجه دين ..... خرامان شد بعزم خانه زين
شد از سيو حيان گردون صدده ..... كه سبحان الذي اسرى بعبده

دروېش وايي: چې په دې کې اختلاف دی چې جبرئيل ورسره سپور سو او که څرنګه، صاحب المنتقي وايي والظاهر عندي انه لم يركب لانه عليه الصلوة والسلام بشر في الاسرا انتهى. دروېش وايي چې جبرئيل سپرهدلو ته څه ضرورت لري.

دروېش وايي: چې په لاره کې چې عليه الصلوة والسلام بيت المقدس ته رسېدی څه عجائب چې عليه الصلوة والسلام وليدل ما ملتوي كرل لعدم الاعتماد على اسنادها. ايلياء ته چې عليه الصلوة والسلام ورسېدی چې د شام په سرزمين کې ده او مدينة القدس يې بولي په ژرګونو ملکې دده استقبال ته منتظر وې بيا چې عليه الصلوة والسلام و مسجد ته د بيت المقدس ورغلی له براق څخه پياده سو د مسجد په دروازه کې لويه ډبره پرته وه جبرئيل لاس په چنګ کړی الغه غوندې شی يې خلي جوړ کړی او براق يې پورې وتاړه براق ته که څه هم د تړولو ضرورت نه ولکن بيا هم جبرئيل د عالم اسباب له لارې دا کار وکړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بل ددې لپاره چې یوه معجزه او د اسرا د علیه الصلوة والسلام یو دلیل وګرځي کما سیئاتي في حدیث ابی سفیان ﷺ وهو هذا.

درویش وایي: چې صحیح کتابونه د احادیثو وایي لکه بخاري او مسلم وغیرهما چې علیه الصلوة والسلام چې د مدیني منورې د شاوخوا یهودانو له جهاد څخه فارغه سو. نو د اطرافو بادشاهانو دعوت د اسلام د دین د مکاتبو یعنې په خطونو استولو یې لاس پورې کړی. نو له هغو خطو څخه یې یو کسرى ته د فارس نوشته کړی خو هغه مکتوب د علیه الصلوة والسلام په بیباکۍ سره ټوک ټوک کړی. علیه الصلوة والسلام ته چې دا حال ورسېدی زړه یې له ګورمه او غمه ډک سو او داسې بښېرا یې وکړه "اللهم مزقهم کل ممزق" خدایه ته ټوک ټوک کړې حکومت د فارسیانو. نو په لږ زمانه کې بیاچې د فارسیانو او د کسرى جانې له لاس څخه ولاړه چې قصه یې دېره اوږده ده، او یو خط یې نجاشي ته د حبشې نوشته کړی او بل خط یې د قصیر روم ته نوشته کړی. ابو سفیان چې په هغه وخت کې په اسلام نه و مشرف سوی. وایي چې زمونږ یوه قافله روم ته یعنې د هرقل چې د روم بادشاه و دار الحکومت ته ورسېدله مونږ په یو ځای کې اوسېدلو چې د هرقل فوجیان راغلل مونږ یې دربار ته ورووړلو لپاره د معلومات د احوالو د علیه الصلوة والسلام مونږ چې ورغلو هرقل وویل چې د دغه مدعي د نبوت په مکه کې څوک په تاسې کې په نسب کې وهغه ته نژدې دی، ما ورته وویل زه ورنژدې یم، نو زه یې و ځان ته نژدې کښېنولم. او زما ملګري یې زما و شاته کښېنول. نو یې د علیه الصلوة والسلام په باره کې زما څخه د هرې پوښتنې وکړې.

درویش وایي: چې د هرقل سوالونه او ځوابونه د ابو سفیان په بخاري او مسلم کې مفصل ذکر سوي دي، هرقل پوښتنه وکړه چې دغه مدعي د نبوت درواغ ویله بیله دې دعوې د نبوت؟ ما ورته وویل چې دغه یوه خبره خو یې کړې وه چې زه له حرم مکې څخه رهي سوم د شپې او بیت المقدس چې ستاسې معبد دی په دغه شپه کې ورسېدم او بیرته حرم مکې ته راغلم په دغه شپه کې. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه خو وایي که یې ته درواغ ښولې او که رښتیا مونږ خو یې درواغ ښولوا راوي وایي چې د هرقل قیصر روم په مجلس کې یو بطریق ناست وو چې پخوانی خادم د بیت المقدس وو هغه بطریق وویل چې هغه شپه چې د عربو نبي وایي چې زه بیت المقدس ته ورغلی یم ماته معلومه ده، هرقل ورته وویل ماعلمک بها؟ ته په هغه څرنګه خبر یې؟ بطریق ورته وویل چې زه په مسجد اقصی کې وم او هیڅ شپه نه ښه پدم تر څو مې د مسجد اقصی ټولې دروازې نه وای ټنډي کړې. نو په دغه شپه چې دوی لیلة المعراج د نبي عربي بیانوي ماټولې دروازې وترلې یو دروازه وه چې هر څه کوشش مې وکړی نه مې سوه ترلای وهو الباب الفلاني. نو ما مرسته وغوښتله د کارکوونکو چې دلته حاضر وه نو په ټولو مو هم قدرت د ترلو نه کړی پیدا. نو مونږ وویل چې شاید د دروازې دېوال پر راکښته سوی وي، نو اتفاق پر دې سو چې سبا به یو بنا او نجار راولو چې وه یې ګوري. بطریق زیاته کړه چې سهار چې ورغلم دروازه چې مې پوري وهل ښې عذره او ښې مانع وترل سوله دباندې چې ورووتلم هغه لویه ډبره سوری سوې ده یعني پر داسې ډول لکه یوه دابه چې پوري ترل کېږي. نو زه پوه سوم چې دا دروازه چې نه ترل کېدل او دا ډبره چې سوری ده دا د نبي لپاره سوی دی، ولې په علم قدیم کې ما دا لیدلي وه چې یو نبي له بیت المقدس څخه معراج ته ځي، نو مې ملګرو ته وویل چې دروازه چې نه ترل کېدله د یو نبي لپاره خلاصه ولاړه وه چې دا نبي برابر شپه له بیت المقدس څخه اسمان ته تللی دی.

پوښتنه: دروازه که بنده وای خو هم جبرئیل خلاصولای سوای، او براق که نه وای ترل سوی، نو خو هم پر بله خرانه تلی. نو څه فائده ده په دې کې چې دروازه خلاصه ولاړه وه او براق په ډبره پورې ترل سوی وو؟

ځواب: دا دوه کاره چې خدای ﷻ وکړه د معجزې د علیه الصلوة والسلام او هم له دې کبله بطریق ګواهي ورکړه د هرقل قیصر روم په مخ کې چې دا قصه چې ابو سفیان تاته وکړه چې مونږ دا اسرا درواغ ښولو هغه ښې حقیقته خبره ده پلکې دا قصه رښتیا وه او دا قصه به د تاریخ په پاڼو کې تل پاته وي. په حدیث شریف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وایي ما دوه رکعته نفل و انبیا علیهم السلام ته ورکړل وې ړي تندي پر ما غلبه وکړه جبرئیل چې مي خبر کړی هغه یو لوښی د شیدو او بل د شرابو راته راوړی وه یې ویل هر یو چې خوښوې، نو ما په توفیق د خدای ﷻ د شیدو څیښل غوره کړه او یو څه شیدې په دې لوښي کې پاته سوې او زما عطش دفع سو، جبرئیل راته وویل اصبت الفطرة" ته ورسېدلې و فطرت انساني ته چې انسان عمل او حلم او حکمت ولري په شیدو کې دا ډې سره جمع دي، جبرئیل وویل که دې شیدې ته ولې څیښلې وای "ماغوت من امتک احد" علیه الصلوة والسلام ورته وویل باقي شیدې راکړه چې زه یې اوس وڅیښم، جبرئیل ورته وویل قضی الامر والله ما اراد لحکمة باهرة.

فائده: صخره د بیت المقدس د عجائبو د قدرت د خدای ﷻ جلت قدرته ده چې دا لویه ډبره ده په هیڅ طرف کې د مځکې سره تماس نه لري بلکې په هوا ولاړه ده، وروسته جبرئیل راته وویل چې درولاړ سه چې اسمانو ته وخېژو، زه حیران سوم چې څرنګه به وخېژو، جبرئیل یوه زینه راوړل چې یو سر یې پر صخره د بیت المقدس تکیه وه او بل سر یې په اسمان کې وو چې زینې یې د سرو زرو وې او اوږده لرګي یې د سپینو زرو وه چې ملغلرې او یاقوت پورې خړبدلې، روی البخاري وغیره بالفاظ متقاربة، قال علیه الصلوة والسلام ثم انتهیت الی السما الدنیا فاخذ جبرئیل بعضدي" او دروازه یې وټکول، وقال افتح الباب دروازه خلاصه کړه (دا طلب د فتح دې ډې سپیره د خازن السما وکړی چې انسان دده سره ملګری وُ که جبرئیل یوازې وای طلب د فتح ته به ضرورت نه وای) قال الحارث (وویل ساتونکي د دروازې) من انت؟ قال جبرئیل! قال ومن معک؟ څوک درسره دي (ولي چې حارث یو بل شخص د جبرئیل سره ولیدی پرځندی یې نه) قال محمد علیه السلام قال اوقد بعث محمد قال نعم حارس وویل چې آیا محمد مبعوث یعني نبي سوی دی؟ جبرئیل ورته وویل نعم (نو ددې پوښتنې معنا داده چې دا ملکه په ولادت د علیه الصلوة والسلام خبره وه او په رسالت یې نه وه خبره) قال الحمد لله، وفتح الباب، او موږ داخل سوو ملکې چې زه ولیدلم قال مرحبا بک یا محمد علیه السلام. ولنعم المجئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجیئک علیه السلام ما ورته وویل یعني جبرئیل ته چې دا څوک دی، جبرئیل وویل چې دا ملکه په نامه اسماعیل ده چې د اول اسمان خازن ده، زه ورځدې سوم او سلام مې ورته ووایه ده ځواب د سلام راکړی او مبارکي د بعثت او د معراج یې راکړه او زیاته یې کړه ابشر یامحمد فان الخیر کله فیک وفي امتک، نو ما حمد د خدای ﷻ ووایه علی ذالک، راوي وایي چې دا ملک هیڅ کله مخکې ته نه ده راغلې مګر د عزرائیل علیه السلام سره یه وخت کې د قبض د روح د علیه الصلوة والسلام راغلې ده. ثم انتهیت الی آدم فاذا هو کهیئة یوم خلقه الله یعني علی غایة الحسن والجمال، قال جبرئیل هذا ابوک آدم فسلم علیه نو زه ورځدې سوم او سلام مې ورته ووایه آدم وویل مرحبا بالابن الصالح والنبي الصالح.

فائده: في زیادة الجامع الصغیر چې رود نیل مصر د جنت څخه راوزي که څوک داسې تلاش وکړئ چې دی ډک راسې بلګونه د جنت به پکښې پیدا کړئ. قال رسول الله ﷺ ثم عرج الی السماء الثانیة فاستفتح جبرئیل قیل ومن معک، قال محمد قال او قد بعث الیه قال نعم ففتح الباب (یعني ورحب بي) فاذا انا بابني الخالة عیسی بن مریم ویحیی بن زکریا علیهما السلام یعني هر یو د بل د خاله زوی ؤ فرحبابي ودعوالي بخیر.

پوښتنه: دوی دوه په څه مناسبت په یوه اسمان کې وه؟

ځواب: یو سبب خو یې دا ؤ لکه آنفًا چې ذکر سوه چې دوی دوه د دوو خوندو زامن وه، او بل مناسبت یې هغه دی چې په تفسیر المناسبات کې وایي چې دوی دوه د یهودانو د کړاو سره مخامخ سوي وه، ولي چې د عیسی علیه السلام خو یهودانو تکذیب وکړی او ډهر آزار یې ور ورساوه او بالآخیر یې دده د قتل قصد وکړی څو چې خدای پاک اسمانو ته ځني بوتلی، واما یحیی علیه السلام فقتلوه.

فائده: آنحضرت ﷺ چې هجرت وکړی د دوهم امتحان سره مخامخ سو حتی چې د قتل پلان یې هم ورته سنجولی ؤ چې یوه واقعه چې تفصیل یې طویل دی چې علیه الصلوة والسلام د یو یهودي د سرای ورد دهوال ته ناست ؤ چې دې یهودي وه یو بل یهودي ته لویده ډبره په لاس ورکړې وه چې د بام د سره یې پر علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام باندي را ايله کړي، نو جبرئيل راغلی علیه الصلوة والسلام يې خبر کړی علیه الصلوة والسلام چاپک ولاړ سو او هغه ډبره پر مخکه ومښتل، او بياد يوې يهودي ښځي په ذريعې په غوښې کي يې زهر وراچولي وه، علیه الصلوة والسلام چې يوه ګوله وخوړله او صحابه کرامو دې څلور ګولې خوړلي وې چې جبرئيل و علیه الصلوة والسلام ته وويل چې په دې غوښو کي زهر دی بالامه خوړه، هغه ښځه چې علیه الصلوة والسلام راوغوښتل او ورته وه يې ويل چې په دې غوښو کي تا زهر ګډ کړي وه؟ هغې ومنل چې هو زهر مې په ګډ کړي وه ما ويل که نبي ؤ رښتيا زهر تاوان نه ورکوي او که نبي نه ؤله غمه به يې خلاص سو، علیه الصلوة والسلام و هغې ښځي ته هيڅ ونه ويل معافه يې کړه.

پوښتنه: جبرئيل د يوې ګولې خوړلو وروسته علیه الصلوة والسلام په زهرو خبر کړی خو دمخه به يې خبر کړی وای؟

ځواب: ملکي چې هر کار کوي په امر د خدای ﷻ يې کوي کما ورد في شانهم وهم بامره يعملون.

پوښتنه: د الله ﷻ په دې کي څه حکمت ؤ؟

ځواب: چونکه شهادت يو لوړ مقام ؤ، نو خدای ﷻ و علیه الصلوة والسلام ته مقام د شهادت د زهرو په ذريعه ورکړی.

سوال: علیه الصلوة والسلام خو د زهرو تر خوړلو څو کاله وروسته هم حيات (ژوندی) ؤ؟

ځواب: په حديث کي د بخاري وغيره راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام په خپل مرض موت کي وويل مازالت اکلة خيبر تعادني وهذا اوان قطعت ابهری" همېشه هغه ګوله غوښې چې ما په خيبر کي له زهرو ډکې خوړلي وې عود د ضرر يې کاوه اوس هغه وخت دی چې زما د زړه رګ يې پرې کړی حتی چې په احاديث صحيحه دو کي راغلي دي چې هر کال چې به د زهرو خوړلو هغه وخت راورسېدی علیه الصلوة والسلام به د وږو په منځ کي وينې کښلې، ولي د ابهر رګ له شا څخه راشروع کېږي په زړه پوري متصل کېږي او له هغو غوښو خوړلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه بشر بن البراً شهید سو. علیه الصلوة والسلام وایي "ثم عرج بنا الی السما الثالثة فاستفتح جبرئیل فقیل من هذا قال جبرئیل قیل ومن معک قال محمد قیل اوقد بعث الیه قال نعم. ففتح لنا فاذا انا بیوسف علیه السلام ومعه نفر من قومه واذا هو اعطی شطر الحسن (یعني نیمه حصه د حسن او بنائست د تولو بشریت) لکن بعضو مفسرینو له دي څخه علیه الصلوة والسلام استثنا کړی دی وکان نبینا املح وان کان یوسف ابیض. علیه الصلوة والسلام وایي چي یوسف علیه السلام وماته مرحبًا ووایه ودعا لي بخیر. په تفسیر المناسبات کي وایي چي د یوسف علیه السلام سره ملاقات د علیه الصلوة والسلام په دریم اسمان کي وسو مناسبت یې دادی دا اشاره ودریم حال ته د علیه الصلوة والسلام ده چي د یوسف علیه السلام د حال سره مشابهت لري، ولي چي یوسف علیه السلام چي عزیز مصر وگرځېدی او پر ورڼو چي دی یې وڅاه ته اچولی وُ بری یې پیدا کړی. نو داسي یې ورته وویل "لاتثریب علیکم الیوم" پر تاسي ملامتیا نسته نه ورځ دغه رنگه علیه الصلوة والسلام چي پر قریشو یې غلبه پیدا کړه په فتح کي د مکې او په عمومي خطبه کي یې وویل چي ستاسي څه خیال دی چي زه به ستاسي څه وکړم؟ هغو ورته وویل "اخ کریم وابن اخ کریم" مهربانه وروره مو یې او د مهربانه وروره زوی مو یې، علیه الصلوة والسلام ورته وویل "اقول لکم کما قال اخي یوسف، لاتثریب علیکم الیوم، قال علیه الصلوة والسلام ثم عرج بنا الی السماً الرابعة فاستفتح جبرئیل فقیل من هذا قال جبرئیل قیل من معک قال محمد قیل او قد بعث الیه قال نعم ففتح بنا فاذا انا بادریس علیه السلام" نو مرحبا یې راته وویل او دعاً د خیر یې راته وکړه، خدای پاک دده په حق کي وایي "ورفعناه مکانًا علیًا" ای في السماً الرابعة حال حیاته.

سوال: بعض محدثین وایي چي ادریس علیه السلام په جنت کي دی؟

ځواب: هغه بعض چي وایي چي دی په جنت کي دی هغه د سماً رابعه سره منافي نه دی، ولي عین ممکنه ده چي له جنته دي راغلی وي سماً رابعه ته لپاره د استقبال د علیه الصلوة والسلام، بعض راویان وایي چي ادریس علیه السلام له مصره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه اسمان ته بوتله سو هغه وخت چې دی له مصره وتلی او په توله نړۍ کې
ګرځېدلی ؤ او خلګو ته يې په دو اوويا (۷۲) ژبو دعوت ورکړی ؤ "خاطب کل
قوم بلغتهم" بيرته چې مصر ته راغلی پورته کړل سو الی السماً الرابعة. اود
پورته کېدلو په سبب کې اختلاف دی، په تفسير المناسبات کې وايي چې
مناسبت د ملاقات د عليه الصلوة والسلام د ادريس عليه السلام سره په سماً رابعه کې
چې خداى پاک مکانًا عليًا بللی دی دادی چې ادريس عليه السلام اول سړی دی چې
خداى پاک ته خط بالقلم ښوولی ؤ، نو دا اشاره ده و حالت رابعه ته د عليه
الصلوة والسلام چې ده مبارک چې د مکې له فتح څخه او د خيبر د فتح او بني
النضير او بني القريضة د فتح چې دا ټوله د يهودانو مرکزونه او ځايونه وه فارغ
سو، نو د اطرافو شاهانو ته يې د خطو په ذريعه تبليغ د دين شروع کړی لکه
نجاشي د حبشه ؤ چې نوم يې اصحمة ؤ. او د روم قيصر ته چې نوم يې هرقل ؤ او
د فارس کسری ته چې نوم يې پرويز ؤ.

دروښ وايي: چې دمخه مونږ بعض حالات ددغو خطو ذکر کړه عنقريب،

قال الراوي قال رسول الله ثم عرج بنا الى السماً الخامسة فاستفتح جبرئيل قيل
من انت قال جبرئيل قيل ومن معک قال محمد قيل او قد بعث اليه قال نعم ففتح لنا
فاذا انا بهارون عليه السلام مرحب بي ودعالي بخير. او د هارون عليه السلام ويره نيمه توره او نيمه
سپينه وه او ويره يې تقريباً تر نامه پورې رسېدل. او بعض له قوم څخه دده يعنې بني
اسرائيل ورسره وه اوده قصې ورته کولې. قديم تاريخ د بني اسرائيل وايي چې
هارون عليه السلام په قوم کې ډېر محبوب ؤ او له دې سببه چې په هارون عليه السلام کې لين او
نرمي ډېره وه تر موسى عليه السلام، په تفسير المناسبات کې وايي چې ددې ملاقات د
عليه الصلوة والسلام هارون عليه السلام په پينځم اسمان کې ؤ سر دادی چې عليه الصلوة
والسلام وروسته تر دې چې قريشو د مکې بالخصوص او د ټولو عربو بالعموم
مبغوض ؤ دومره يې محبوب سو لکه هارون په خپل قوم کې، وهب بن منبه رح وايي
چې ما يو اوويا کتابونه ليدلي دي چې خداى پاک لم يعط جميع الناس من بدء الدنيا
الى انقضائها من العقل في جنب عقله صلى الله عليه وسلم الا كحبة بين رمال الدنيا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي تواريخ غير اسلامي چي له انصافه څخه کار اخستی وي او تعصب نه لري که څه هم نبوت د علیه الصلوة والسلام نه منې لکن په دې خبره اقرار کوي چي لوی عقل لرونکی په نوع کي د بشر محمد ﷺ دی.

پوه سه: چي د کامل عقل د علیه الصلوة والسلام او د نبه تدبیر دده دا نتیجه ورکړل چي عرب چي لکه وحوش غوندي وه داسي يې تربیه کړل چي اخیر الامر دوی تولـه یعنـي العرب پر ده مبارک سره جمع سول، حتی چي علیه الصلوة والسلام محبوب ددوی وگرځېدی تر خپل اهل او تر پلرو او تر زامنو او تر ماینو او خپل محبوب وطن مکه دده د رضا لپاره پرېښوله. او د علیه الصلوة والسلام په فوج کي د خپلو زامنو چي کافران به وه او د خپل پلرو چي کافران به وه هکذا الاخوة چي کافران به وه او د عزیزانو سره چي کافران به وه جنگونه کول او چي ایمان بې نه راوړی هغه بې قتل کاوه.

دروښ وايي: چي دا تولـه مذکوره اوضاع د عربو چي د علیه الصلوة والسلام سره يې کوله نتیجه د صبر د علیه الصلوة والسلام وه پر ازار ددوی وده ته داسي ازارونه چي طاقت بشري توان د صبر پر هغو نه درلودی. او داغه رنگه دا مذکوره اتباع د عربو په ډله ډله دده مبارک نتیجه د حسن تدبیر او د عقل کامل ددده وه، قال رسول الله ﷺ ثم عرج بنا الی السماء السادسة فاستفتح جبرئیل قیل من هذا قال جبرئیل قیل ومن معک قال محمد ﷺ قیل اوقد بعث الیه قال نعم ففتح لنا فاذا انا بموسی ﷺ فرحب بي ودعالي بخیر، علیه الصلوة والسلام وایي چي موسی ﷺ غنم رنگه جگ کثیر الشعر سړی وو واذا غضب یخرج شعر راسه من قلنسوته.

دروښ وايي: چي دده د غضب یوه واقعه چي بخاري او نورو محدثینو هم راوړې ده چي دی چي بني اسرائیلو متهم په چوره کړی، ولي چي دی لـځ نه لمبېدی او بني اسرائیل لـځ لغر لمبېدل نو ددې تهمت د دفع لپاره خدای ﷻ داسي وکړه چي یوه ورځ موسی ﷺ په واله کي چي په دې وخت کي هیڅ څوک نه وه لـځ و ولي ته د غسل لپاره ولوېدی او تولـه کالي پر یوه ډبره چي هم دالته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موجوده وه کښېښوول دېري سره د کالو ميدان کړل دی مجبور لځ پسې راووتی او نارې يې وهلې ځوبي حجر ځوبي حجر، زما کالي راکړه اې دېرې زما کالې راکړه اې دېرې، خير خو دېره روانه وه سره د کالو د موسی عليه السلام چې يوه ډوه مجلسه تېره سوه او بنې اسرائيلو ورته وکتل چې موسی عليه السلام چوره نه ډ باره دېره ودرېدل موسی عليه السلام کالي واغوستل. نو له ډېره غضبه څخه ده دېره په لکړه شپږ اووه ضربه ورکړه او سره ددې چې په دېره کې خو عقل نه ډ چې ده ادب ورکولای. عليه الصلوة والسلام وايي چې تر موسی عليه السلام تېر سوم ده وژړل چا ورته وويل چې ولي ژاړې ده ورته وويل چې يو غلام چې تر ما وروسته خدای پاک نبي کړی چې جنت ته دده امت ډېر زما تر امت داخلېږي، شراح د احاديثو وايي چې د غلام اطلاق پر عليه الصلوة والسلام دده د سپکاوي لپاره نه دی حاشا لموسی عليه السلام من ذالک، بلکې په معنی ددې دی چې د خدای ﷻ منت او احسان دده سره ډېر دی. ولي چې عليه الصلوة والسلام سره ددې چې طويل عبادت د خدای ﷻ يې نه ؤ کړی خدای پاک په دغه فضيلت د نبوت سره مخصوص کړی او دده د امت جنتيان يې زما د امت تر جنتيانو ډېر کړه.

پوښتنه: دا به حسد د موسی عليه السلام له خوا نه وي؟

ځواب: يا! په دې خبره کې د موسی عليه السلام صرف اظهار د شفقت ؤ پر خپل امت باندې، ولي چې حسد ګناه کبيره ده او انبيا عليهم السلام له ګناه کبائرو څخه معصوم بل عن الصغائر ايضاً.

فائده: که تحقيق د عصمت د انبيا عليهم السلام د چا په کار وي. نو د دروېش يوه رساله په نامه د "کشف الغطا عن عصمة الانبيا" چې ددې تفسير تر تصنيف څلوېښت کاله مخکې ما تصنيف کړې وه او د تولو علماؤ د هغه سنې او د حضراتو د هرات امضا ګاني هم پر سته. او چهاپ هم سوه او اوس هم شايد په بعضو کتب خانو کې شايد وي هغه رساله دي دستياب کړي او دا دقيق مسئله چې بعضې ملايانو د هغه وخت او د اوس وخت ددوی له عصمت څخه منکر دي ښه و ځان ته معلوم کړی او توله رساله دروېش په حواله د معتبرو کتابو نوشته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي ده ومن الله التوفيق والسداد.

فائده: موسی علیه السلام وویل چې د محمد علیه السلام امتیان به زما تر امتیانو دېر جنت ته ځي لکن لله الحمد والمنة چې په حدیث شریف کې چې بخاري یې هم روایت کړی دی امتیان د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به تر ټولو امتیانو د ټولو انبیا علیهم السلام په جنت کې دېر وي، ولې چې په حدیث کې د بخاري راغلي دي چې د جنتیانو دوه ثلثه به امت زما وي، ددې توضیح داده چې ټوله جنتیان په ورځ د قیامت یو سل اوشل (۱۲۰) صفه وي. اتیا (۸۰) صفه به امت د علیه الصلوة والسلام وي او څلوېښت (۴۰) صفه به امتیان د ټولو انبیا علیهم السلام وي. دا حدیث په بخاري کې په طول سره موجود دی ما یې مختصر علی قدر الحاجة بیان وکړی،

دروېش وایي: چې تفسیر المناسبات وایي چې په ملاقات کې د علیه الصلوة والسلام د موسی علیه السلام سره په شپږم اسمان کې اشاره وداسې حال ته د علیه الصلوة والسلام ده چې مشابه د حال سره د موسی علیه السلام دی، ولې چې موسی علیه السلام چې خدای پاک امر کړی په غزا د شام چې هوري جبابره چې یو ظالم قوم آباد وه، نو خدای ﷻ پر هغو فتح ورکړل، او دغه رنګه فرعون چې غرق سو سره د ټوله قوم قبط بني اسرائیل بیرته خپلو کورو ته ورغله چې دوی ځني وتلي وه، او دغه رنګه علیه الصلوة والسلام د تبوک غزا وکړه چې د شام له مربوطاتو څخه دی او دغه ځای پر آمر بادشاه چې دومة الجندل یې نوم و فتح پیدا کړه او دومة الجندل یې بندي کړی حتی چې بیا یې صلح پر جزیه ورسره وکړه، او دغه رنګه مکه مکرمه یې فتح کړه او اصحاب کرام رضی الله عنهم د علیه الصلوة والسلام و هغه ښار ته ورغله چې دوی جبراً ځني ایستل سوي وه انتهی، قال علیه الصلوة والسلام ثم عرج بنا الی السماء السابعة فاستفتح جبرئیل قیل من هذا قال جبرئیل قیل من معک قال محمد قیل او قد بعث الیه قال نعم ففتح فاذا انا بابراهیم علیه السلام، قال جبرئیل هذا ابوک ابراهیم فسلم علیه فسلمت علیه فرد السلام قال مرحبًا بالابن الصالح والنبي الصالح، قال الامام التورپشتي رح چې علیه الصلوة والسلام ټوله انبیا علیهم السلام چې په اسمانو کې یې ولیدل کما مر ذکرهم جبرئیل به علیه الصلوة والسلام ته امر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکاوه چې دا فلانی نبي دی سلام ورته ووايه. عليه الصلوة والسلام چې به سلام ورته ووايه هغه به رد سلام دده وکړی او دعا د خير بې ورته وکړه. نو که به عليه الصلوة والسلام د هغه نبي په نسل کې نه وُ لکه موسی عيسی عليهما السلام نو هغه ځواب داسې ورکاوه مرحبًا بالاخ الصالح والنبي الصالح او که بې عليه الصلوة والسلام په نسل کې د هغه وُ لکه آدم او ابراهيم عليهما السلام هغه به داسې ځواب ورکاوه مرحبًا بالابن الصالح والنبي الصالح.

پوښتنه: عليه الصلوة والسلام خو افضل الانبيا دی، نو جبرئيل ولې عليه الصلوة والسلام امر کاوه چې ته سلام ورواچوه؟

ځواب: عليه الصلوة والسلام په حکم کې د قائم وُ او انبيا کرام عليهم السلام په حکم کې د قاعد وه. نو مسئله شرعي داده چې قائم به و قاعد ته سلام اچوي.

دروښ وايي: چې دا قانون شرعي په اوسنی زمانه کې خلګو لغوه کړی دی ولې نر چې کور ته ورسي که يې ماينه وي او که بله ښځه وي نر سلام نه وراچوي بلکې ښځه به ولاړ ږوي او راغلي نر ته به سلام وراچوي.

پوښتنه: دغه انبيا کرام عليهم السلام چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په اسمانو کې ملاقات ورسره وکړی. آيا دوی په دنياوي صورتونو کې خدای ﷻ ورته مشکل کړي وه البته عيسی عليه السلام يې په دنياوي صورتو کې وليدی، علما وايي چې دوه کسان په اسمانو کې پر خپل صورت دنياوي باندې ژوندي دي يو عيسی او بل ادريس عليهما السلام او دوه کسه په مځکه کې ژوندي دي يو خضر عليه السلام او بل ابليس عليه اللعنة پر خپلو صورتو تر نفخ الصور پورې پاته دي. عليه الصلوة والسلام وايي چې ابراهيم عليه السلام ګډوپښتی سړی وُ چې شايد بيت المعمور ته لګولې وه او پرچوکی ناست وُ.

پوښته: چې بيت المعمور له عقيقو ځخه جوړ کړل سوی دی يعنې په قدرت د لايزال خدای پر برابر د کعبې شريفې که بيت المعمور له اسمانه ځخه راکښته کړل سې پر بيت الله شريفې به واقع سې.

فائده: بيت المعمور ته له هغه وخته چې خدای ﷻ دا ابنا کړې ده هره ورځ اويا زره ملکې د عبادت لپاره ورځي پر يوه دروازه ورننوځي او پر بله دروازه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځني وځي. په بعضې روایاتو کې راغلي دي چې هغه ملکي چې اوله ورځ و بیت المعمور ته داخلي سوې تر اوسه دوهم وار نوبت نه دی ور رسېدلی.

دروبش وایي: چې ډېر والی د ملکو دي هر سړی له دغه آیت څخه وپهېږي "ولا یعلم جنود ربک الا هو"

فائده: امام سهلي رح وایي چې په صحیح روایت کې دا ثابته سوې ده چې اطفال د مؤمنانو او د کافرانو په کفالت کې د ابراهیم علیه السلام دي، او په حدیث کې د معراج راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام چې دا کوڅیان ولیدل د ابراهیم علیه السلام سره، نو د جبرئیل څخه یې بازخواست وکړی چې دا اطفال څوک دي، جبرئیل ورته وویل چې دا اطفال د مؤمنانو دي چې قبل البلوغ مړه سوي دي، علیه الصلوة والسلام ورته وویل و اطفال الکافرین یعني هغه هم په دغو کې شامل دي؟ قال جبرئیل و اطفال المشرکین والکافرین یعني په دغو اطفالو کې شامل دي. په یو بل حدیث کې راغلي دي چې اطفال د کافرانو خادمان د اهل جنت دي.

روایت: راوي وایي چې ابراهیم علیه السلام آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته وویل چې زما له خوا څخه ستا امت ته زما سلام ووایه او دا ورته ووایه چې مځکه د جنت ډېري ښې خواري یې دي او اوبه یې شرینې دي. لکن که مبوه داره درختي څوک پکښې ډېروي هغه د دغو کلماتو څخه ډېروي "سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر" کما قال المولی الجامي قدس سره:

یاد کن آنکه در شب اسرا ..... یا حبیب خدا خلیل خدا
گفت گوی ازمن ای رسول کرام ..... امت خویش را از بعد سلام
که بود پاک وخوش زمین بهشت ..... لیک آنجا کسی درخت نه کشت
خاک او پاک وطیب افتاده ..... لیک از درختها ساده
غرس اشجار آن بسعی جمیل ..... بسمله، حمدله است پس تهلیل
هست تکبیر هم ازان اشجار ..... خوش کسی کش چنین نیارد کار
باغ جنات تحتها الانهار ..... سبز و خورم شود ازان اشجار

دروبش وایي: چې ددې روایت د حدیث او د جامي قدس سره د ابیاتو دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنا نه ده چي جنت چي خداى پاک پيدا کړى دى هيڅ درخته نسته پکښې د تسبيح تهليل، تحميد او تکبير څخه پيدا کېږي، ولي چي دا معنى د احديث قدسي څخه مخالفه ده "اعددت لعبادى الصالحين في الجنة مالاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر" بلکې معنا يې داده چي په تسبيح، تهليل، تحميد او تکبير سره نوري نوي درختي په خالي ځايو کي رب ﷻ پيدا کوي. په تفسير المناسبات کي وايي چي په ملاقات د رسول کريم ﷺ د خليل الله ابراهيم عليه السلام دوه حکمته دي (۱) ابرهيم عليه السلام چونکه عليه الصلوة والسلام مستند و بيت المعمور ته وليدى او بيت المعمور پر برابر د کعبې مبارکې دى کمامر آنفًا دغه رنګه ابراهيم عليه السلام چي د کعبې مبارکې خونه جوړوله اذن في الناس بالحج والعمرة (۲) حکمت دادى چي اخيري احوال د نبي عليه السلام دا وُچي د حجة الوداع لپاره حج ته راغلى تخمينًا اوويا زره مسلمانان او اصحاب کرام ﷺ وربسره ملګري وه.

فائده: رئيس المعبرين في عصره ابن سيرين وايي چي که چا ابراهيم عليه السلام په خوب وليدى دا د حج زيري دى لانه الذي رفع قواعد البيت، کريمه "واذ يرفع ابراهيم القواعد من البيت واسمٰعيل الآية" عليه الصلوة والسلام وايي چي وروسته زه جبرئيل بوتلم و سدرة المنتهى ته چي دا يوه درخته ده تر اووم اسمان لوړه چي تر دغې درختي پورې ملکي عملونه رسوي د صالح بندګانو د محکمې او تر دې درختې پورې نازليږي احکام عرشية والانوار الرحمانية.

په يوه روايت کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام امامت ورکړى د سدرة المنتهى سره وملائکو ته د اسمانو په وتروکي، نو عليه الصلوة والسلام امام الانبيا سو په بيت المقدس کي کمامر او امام الملائکه سو په سدرة المنتهى کي فعلم فضله بذالک على اهل الارض واهل السموات، په صحيح روايت کي د بخاري وغيره راغلي دي چي د سدرة المنتهى لاندي دوې پټې ويالې تېرېدلې او په جنت کي غاښېدلې بعد خروجها من اصل الشجرة چي يوه والە په نامه د کوثر وه او بله په نامه د نهر الرحمة ياسلسبيل ده، او دوې ويالې بنکاره بهېدلې چي تر جنت به تېرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوې غائبېدلې چې یوه رود نیل نهر المصر ده او یوه فرات چې نهر الکوفة ده. او علیه الصلوة والسلام د جنت معاینه هم وکړه چې په هغه کې یې د خدای ﷻ قدرت عجائب ولیدل چې تفصیل یې دېر د طوله سره مخامخ کېږي لکن مالایدرک کله لایترک کله. لکن مشت نونه خروار ګڼلې انه. علیه الصلوة والسلام فاذا فیها حبایز اللؤلؤ (یعني د ملغلرو خیمې) واذا ترابها المسک (یعني د خاورو پر ځای مشک پکښې اوروه) ورمانها کالدلا (او انار یې لکه سولغې دوندې غټ وه) وطیرها کالبخت "ماري اوښان" او علیه الصلوة والسلام کوثر ته ورغلی اوبه یې ځندي وځیښلې "فاذا هو احلي من العسل واشد رائحة من المسک" پر سدرة المنتهی جبرئیل ځنې پاته سو کمامر.

پوه سه: چې امام النووي وایي چې راجح عند اکثر العلماً انه علیه الصلوة والسلام رئی ربه بعین رأسه انتهی، وسمع رسول الله ﷺ کلام الرب ﷻ من غیر کیفیة کما سمعه موسی علیه السلام في الطور من کل جانب قال الله تعالی کما في سورة طٰه "یاموسی انې اناربک فاخلع نعلیک انک بالوادي المقدس طوی" الی اخیر الآیات کما سیأتي تفسیرها. قال بعض المحققین:

کلام سرمدی بی نقل بشنید ..... خداوند جهانرا بی جهت دید
بدید آنچه زحد دیدن برون بود ..... مپرس اما زکیفیت که چون بود

دروښ وایي: چې په حدیث کې د بخاري وغیره راغلي دي قال علیه الصلوة والسلام فرض الله علي خمسین صلوة في کل یوم ولیلة" بعض علماً وایي چې هر لمونځ دوه دوه رکعته وو. ددې تائید هغه مسئله فقیه کوي که چا وویل بطریق النذر علي صلوة یلزمه الرکعتان. قال علیه السلام زه پر ابراهیم علیه السلام راکښته سوم یعني په اووم اسمان کې، نو ماته یې هیڅ ونه ویل. بیا راکښته سوم پر موسی علیه السلام یعني په شپږم اسمان کې، نو موسی علیه السلام راته وویل چې څه شی فرض کړه خدای پاک ستا پر امت؟ ما ورته وویل پینځوس لمونځونه په شپه او ورځ کې. موسی علیه السلام راته وویل بیرته ورسه وخدای ﷻ ته سوال د تخفیف وکړه. ولې چې ستا امت د پینځوسو لمونځو په شپه او ورځ کې طاقت نه لري، ما تجربه کړي بني اسرائیل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترتا دمخه وعالجتهم اشد المعالجة. عليه الصلوة والسلام وايي ما بيرته ږغږ
وکړه و خدای ﷻ يعني هغه ځای ته چې ما دده سره مناجات کړي وه يعني سدرة
المنتهى، نو پر سجده پرېوتم خدای ﷻ ته او وه مي ويل يا رب خفف عن امتي.
يعني دا پينځوس لمونځونه څه سپک کړه نو خدای پاک پينځه لمونځونه راکم
کړه، يعني پينځه ځلو پښت پاته سوه، بيا زه موسی عليه السلام ته راغلم چې خدای پاک
زما د امت پينځه لمونځونه کم کړه، موسی عليه السلام وويل چې دا هم زيات دي ستا امت
يې طاقت نه لري بيرته ورسه خدای پاک ته سوال د تخفيف وکړه. عليه الصلوة
والسلام وايي چې وار وار تر موسی عليه السلام او تر خدای پاک پوري تلم او راتلم او
خدای پاک پينځه پينځه لمونځونه کمول په اخير کې چې لمونځونه پر پينځه
ودرېدل، موسی عليه السلام راته وويل ورسه نور سوال د تخفيف ځني وکړه، ما ورته
وويل چې ډېر وارونه خدای پاک ته ورغلم بالا شرمېږم د خدای پاک څخه لکن پر
دغه پينځه لمونځو قائم يم او تسليم يم چې زه راتېر سوم تر موسی عليه السلام ه
خدای ﷻ له خواندا وسوه يا محمد امضيت فريضتي وخففت عن امتي. ما خپل
فرض لمونځونه پوره کړه يعني پينځوس او تخفيف د بندګانو سره مي هم وکړه
يعني صورتا که څه هم لمونځونه پينځه سوه لکن په حقيقت کې پينځوس دي لان
الحسنة يعشر امثالها، کريمه "من جا بالحسنة فله عشر امثالها" په حديث صحيح
کې راغلي دي چې که چا قصد د يو ښه کار وکړی لکن د مانع په سبب يې ونه کړی
يوه حسنه ورته نوشته کېږي او که يې وکړي لس ورته نوشته کېږي او که چا د يو
بد کار قصد وکړی او وه يې نه کړی لم يکتب له شئ او که يې هغه بد کار يې وکړی
يوه سيئه ورته نوشته کېږي، له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې په اول
وار لمونځونه پينځوس وه او غسل د جنابت اووه وه او غسل الثوب من النجاسة هم
اووه واره وه. نو عليه الصلوة والسلام په کراتو سوال د تخفيف کاوه حتی چې
فرضي لمونځونه پينځه سوه او فرض غسل الجنابة او فرضي پرېوله د جامې يو يو
وار سوه. او په حديث صحيح کې راغلي دي چې تاسي د پېر درود واياست پر
موسی عليه السلام ولي چې ما مهربانه زما پر امت څوک نه دی لېدلی بالا تر موسی عليه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي چي علیه الصلوة والسلام یأمر الناس بالصلوة علی موسی علیه السلام.

سوال: دا تخفیف د لمونځو او د نورو عملو کمامر خو نسخ د قبل البلاغ او اهل السنة والمعتزلة په اتفاق وایي چي نسخ قبل البلاغ نه ده روا؟

ځواب: بلاغ خو د علیه الصلوة والسلام ته وسو لانه کلف بذالک ثم نسخ، او دا نسخ نسبت د علیه الصلوة والسلام ته نسخ په حق د امت هم ده ولي چي قانون شرعي دادی چي هغه څه من الامر والنهي چي په حق کي د هر نبي ثابتي سي هغه په حق کي د امت هم دي مگر نه په دلیل سره ثابت سي خصوصیت د نبي په هغهٔ کار مثلاً نکاح د زائد تر څلورو پنځو امت ته د علیه الصلوة والسلام ناروا دی او علیه الصلوة والسلام تر نهه پوري روا سوه.

درویش وایي: چي روح البیان له انس ﷺ څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام وویل چي ما په لیلة الاسرا کي تر عرش لاندي اوویا ښارونه ولیدل هر ښار یې لکه ستاسي دنیا اوویا واړه چي گرده دکه له ملکو څخه چي تسبیح د خدای ﷻ یې ویل او تقدیس د خدای ﷻ هم او ټولو په دا ویل اللهم اغفر لمن شهد الجمعة (ای صلوتها) الله اغفر لمن اغستل یوم الجمعة (ای لصلواتها) او په دغه حدیث کي هم دا زیاته سوې ده چي پر دروازې د جنت لیکلي وه الصدقة بعشر امثالها "چي د خیرات ثواب یې په لس مثله دی" والقرض بثمانیة عشر" او قرض ثواب یو په اتلس دی جبرئیل ته ما وویل چي د قرض ثواب ولي تر صدقه دهر دی، جبرئیل راته وویل چي دهر ځله سائل د صدقې سوال پهله ضرورته کوي حتی چي دی غني وي لاهم سوال کوي کالرجال المعتادین بالسوال، او قرض غوښتونکی قرض له چا څخه نه غواړي پهله ضرورته اوښهی، او په بل حدیث کي راغلي دي چي ماولیدی رضوان ﷺ چي عشره جنتو دی، نو ده چي زه ولیدم خوشاله سو او ماته یې مرحبا وویل او زه یې جنت ته داخل کړم او په ما یې ولیدل عجائب د قصورو او مهود جنت چي خدای ﷻ یې د خپلو دوستانو سره وعده کړې ده مالا عین رئت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر "وقد ورد ذالک في الحدیث القدسي ایضاً" الی اخیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحديث او عرض كړه سو پر ما باندي اور يعني جهنم آه.

دروښ وايي: چي له حديث څخه د معراج دا معلومه سوه چي جنت او دوزخ مخلوق دی اوس هم كماهو مذهب اهل السنة والجماعة خلافاً للمعتزلة.

دروښ وايي: چي د عليه الصلوة والسلام سفر بالخير تمام ته ورسېدی او له اسمان څخه پر بيت المقدس راكښته سو او له هغه ځای څخه بيرته پر براق حرم مكي ته د كعبې مباركې حطيم ته او يا بيت ته د ام هاني بنت ابي طالب راورسېدی كمامر. او دا ټوله سفر مبارک ددہ مبارک عليه السلام په درې يا په څلور ساعته كې پای ته ورسېدی والله على كل شيئ من العجائب قدير.

دروښ وايي: چي قصه د معراج نبوي ﷺ كما سمعت تر عقولو د عوامو بلكې د غير الخواص من اهل الله تر عقولو هم لوړه ده لكن لابد من التصديق بذالک وتفويض الامر الى قدرة الله عزوجل. شعر:

راه زاندازه برون ر فته ..... پی نتوان برد كه چون رفته
عقل درين واقعه حاشاكند ..... عقل نه حسًا نه تمناكند

راويان د قصې د معراج نبوي وايي چي عليه الصلوة والسلام دام هاني كور ته راغلی دا واقعه غريبه د معراج يې ام هاني ته وكړه او عليه الصلوة والسلام دې ته وويل چي زه دا قصه قريش ته هم كوم، اما هاني ورته وويل چي زه د خدای جل جلاله روي تاته شفيع كوم اې زما داكا زويه چي دا قصه قريش ته هرگز مه كوه چي هغه كسان چي پر تا يې ايمان راوړی هغه به منكر سي يعني ستا دين به پرېږدي چي سهار څانښت سو عليه الصلوة والسلام د ام هاني له كور څخه حرم شريف ته وتی بيا ام هاني تر پټو تينګ كړی چي دا قصه چاته ونه كړې عليه الصلوة والسلام پټو څنې كش كړی ددې د لاس څخه يې وكښی او حرم ته ورغلی په حطيم شريف كې دغه نفر ناست وه مطعم بن عدي ابو جهل بن هشام فرعون هذه الامة الوليد بن المغيرة.

دروښ وايي: چي په بل روايت كې داسي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام چي حرم شريف ته ورغلی او په دې پوهېدی چي زه كه بيان كړم قصه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معراج قريش به مي تكذيب كوي اودا يې هم په طاقت نه وه چې داد خداى ﷻ عظيم قدرت د اسرا پټ كړي، نو فكر جن او حزين ناست و، نو عدوالله ابوجهل فرعون هذه الامة له يوې خوا څخه د حرم ته راغلى او عليه الصلوة والسلام ته كنبښتى نو چې عليه الصلوة والسلام يې حزين وليدى له پسخنده يې ورته وويل چې نوې خبره خو نه ده پېښه سوې، آنحضرت ﷺ ورته وويل چې هو پېښه سوې ده برائي شپه زه بوتله سوم يعني خداى ﷻ بوتلم، ابوجهل ورته وويل چېرې يې بوتلې؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل بيت المقدس ته يې بوتلم، ابوجهل ورته وويل چې سهار بيرته ته زمونږ حرم ته راغلې؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل هوا ابوجهل ورته وويل چې زه ستا قوم راتول نه كړم چې ته دوى ته هم دا قصه وكړې لكه ماته چې دي وكړه، قال عليه السلام نعم راتول يې كړه زه به قصه ورته وكړم، ابو جهل نارې كړې يا معشر كعب بن لوئ خلگ دباندې تر حرم ناست وه ټوله په ناره د ابو جهل حرم ته راغله، ابوجهل و عليه الصلوة والسلام ته وويل حدث قومک بماحدثتني" ته قوم ته بيان كړه هغه قصه چې ماته دي بيان كړه عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې زه بوتله سوم، خلگو ورته وويل چېرې؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل الى بيت المقدس، نو خداى پاک ماته راجمع كړه انبيا عليهم السلام او ما دوه ركعته لمونځ وركړې او خبرې يې ورسره وكړې، قريشو سره نارې كړې او بعضو به چک چکې سره كولې او بعضو به لاسونه پر سر كنبښنول د ډېرې خندا د لاسه او يا له تعجب او انكاره څخه دوى ورته وويل چې مونږ پر اوښانو پښې بنوروو يوه مياشت د دې خوا تر بيت المقدس پورې او يوه مياشت د هغې خوا تر حرم مكي پورې او ته وايې چې زه په يوه شپه كې هم ولاړم او هم راغلم او زمونږ دې قسم وي په لات او عزى سره چې مونږ ستا تصديق په دغه قصه كې نه كوو، بلكې بعضې مسلمانان په اورېدلو سره د دغسې قصې مرتد سوه نعوذ بالله من الارتداد، راوي وايي چې بعض خلگو يعني د دغې قصې د اورېدلو سره د ابوبكر ﷺ وخوا ته په اميد دې چې دى به هم منكر سي او مرتد سي ولاړه ابوبكر ﷺ ته يې وويل چې ستا صاحب يعني محمد ﷺ خو نن د عقل خلاف او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د نه منلو ورِ قصه وکړه، ابوبکر ﷺ وويل که يې چېرې ويلي وي فقد صدق نو رشتيا ده، هغو خلګو ورته وويل چې په دې د منلو ورِ نه قصې کې دي هم ده، تصديق وکړي، ابوبکر ﷺ وويل چې تر دې قصې په ډېرو بعيدو قصو کې ما ده، تصديق کړی وَ او هم يې کوم، هغه دا چې دی وايي ما ته خبر له اسمان څخه سهار او مابنام رائي يعني الوحي.

دروښ وايي: چې هم دا سبب وګرځېدی چې ابوبکر ﷺ ته لقب د صديق ورکړل سو يعني د خدای ﷻ له خوا څخه ومعنى الصديق الكثير الصدق فهو للمبالغة في الصدق، او علي پر دې قسم اخستی بالله چې دا نوم د صديق د خدای ﷻ له خوا نازل سوی دی دا نوم د خلګو له خوا څخه نه دی، راوي وايي چې بعض ددې حاضرو کافرانو بيت المقدس ليدلی وَ، نو هغو و عليه الصلوة والسلام ته وويل چې د بيت المقدس د مسجد څو دروازې وې او محراب يې کومه خوا ته وَ مثلاً او نوري نښانې يې د عليه الصلوة والسلام څخه طلب کړې ددوی غرض دا وَ چې د عليه الصلوة والسلام کذب معلوم کړي، ولې چې ددوی خو سل په سله کې دا يقين وَ چې عليه الصلوة والسلام بيت المقدس ليدلی نه دی، قال عليه الصلوة والسلام فكربت كرباً شديداً لم اكرب مثله قط فانهم سئلوني عن اشيا لم اثبتها وكنت دخلته ليلاً وخرجت منه ليلاً.

ترجمه: عليه الصلوة والسلام وويل چې ددې پوښتنې څخه ددوی غمجن سوم چې دومره زه هيڅ وخت نه وم غمجن سوی ولې چې دوی د داسې شيانو پوښتنه زما څخه وکړه چې زما په دماغ کې مانه وه محکم کړې بلکې زه د شپې ورغلم او د شپې بيرته ځنې ووتم يعني ما خو يې دروازې حساب نه کړې او نه محراب، عليه الصلوة والسلام وايي چې زه په حطيم کې واريدم خدای ﷻ ماته بيت المقدس کشف کړی يعني په ستر ګو مې ورته کتل او هغه نښانې چې کفارو غوښتې وې ورته ومې ويلې.

دروښ وايي: ومثل هذا الكشف انموذج من قدرته تعالى، کفارو ورته وويل چې نښانې خو دې رشتيا دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: مشرکانو ولي دا پوښتنه نه ځني وکړه چې په اسمان کې دي څه شی ولیده؟

ځواب: مشرکانو ته خو د اسمان د شیانو علم نه وو چې دوی له علیه الصلوة والسلام صدق او کذب په معلوم کړی وای کذا في المواهب الدیئیة یعنې په پښتو ژباړه، وروسته کافرانو علیه الصلوة والسلام ته وویل چې بل څه دلیل لرې پر دغه قصه چې تا موږ ته وکړه چې تر اوسه نه موږ اورېدلې ده او نه یې موږ ممکنه بولو، ددوی دا خیال او ګمان پیدا سو چې شاید بیان د احوالو د مسجد اقصی په محمد ﷺ د بل چا څه اورېدلی وي. نو راسئ ده ته دا ووایاست چې ته بیت المقدس ته تلې او بیا بیرته راتلې په لار کې دي څه ولیدل چې ستا د صدق دلیل واضح وګرځي. علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې د لارې په اوږدو کې زه ددې خوا تلم قافله د بني فلان (چې علیه الصلوة والسلام یې نوم واخستی او په تفاسیرو کې صرف بني فلان راغلی دی) په وادي کدا کې چې په روحا کې واقع ده چې دا د یو ځای نوم دی نژدې و مدینې ته چې په منځ کې ددې ځای او مدینې د دوو شپو لار ده "قد اضلوا ناقة" یعنې دا په هغه وخت کې چې زه متوجه او داهب د بیت المقدس پر لور وم دوی اړولي وه زه چې ور ورسېدم دوی بیده وه او یو کتموری د اوبو دک هلته پروت ؤ هغه اوبه مې وڅیښلې بیا چې قافله راسې تاسې پوښتنه ځنې وکړئ چې ستاسې ناقه پر کوم ځای درڅخه ورکه سوې وه او د کتوري اوبه مو چا څیښلې وې.

پوښتنه: علیه الصلوة والسلام ولي بې اجازې دا اوبه وڅیښلې؟

ځواب: په عربو کې دا عادت ؤ چې اوبه او شیدې هر محتاج ته یې د څیښلو اجازه سته، بیا مشرکانو ورته وویل چې زموږ د قافلې خبر راکړه علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې زه چې راتلم دا په تنعیم کې وه چې مکې ته یو قریب ځای دی چې حاجیان له دغه ځای څخه د عمرې احرام تړي، او علیه الصلوة والسلام یې د اوښانو عدد هم ورته بیان کړی. او دا یې هم ورته وویل چې ستاسې قافله به د لمر ختلو سره مکې ته راورسېږي چې د قافلې اول اوښ به یو ابلک "کمر" اوښ وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او پر هغه به دوه جواله باندي وي يو تور او بل برقا يعني سپين او تور سره گډ، خلگو نژدې غره ته ميدان کړه يوه وويل چې الشمس اشرقت هغه بل ناري چې هذا والله القافلة قد اقبلت چې په مخ کې يې ابلک "کمر" اوښ دی.

دروښ وايي: چې هغه کسان چې دمخه مرتد سوي وه کمامر په قول، راوي هغو ټولو بيرته ايمان راوړی او توبه يې وکښل او مشرکان پر خپل شرک ثابت قدمه وه او دا يې ويل چې دا ټوله سحر دی.

دروښ وايي: چې عجيبه عقلونه وه د اهل شرک چې په دې ننباني بيانولو کې او د هغو په رشتيا کېدو کې څه د سحر ګنجائش سته لکن حق القول من يضلل الله فما له من هاد صدق الله العظيم.

د معراج د قصې راويان وايي چې تر ليلة الاسرا وروسته هغه وخت چې لمر زوال وکړی جبرئيل عليه السلام راغلی و عليه الصلوة والسلام ته يې لمونځ ورکړی يعني جبرئيل امام سو او عليه الصلوة والسلام اقتدا پسې وکړه، د جبرئيل دا راتګ لپاره د تعليم د اوقاتو د لمونځو او هيئات د لمونځو او تعداد د رکعتونو د لمونځو ؤ.

سوال: جبرئيل عليه السلام خو په دې لمونځو کې متنفل ؤ او عليه الصلوة والسلام خو مفترض ؤ، او علما وايي چې اقتدا د مفترض په متنفل پسې نه ده روا؟

ځواب: چونکه جبرئيل دا دوې ورځې په لمونځو سره له جانبه د ځداى جل جلاله مأمور ؤ نو دغه دغه د دوو ورځو لمونځونه پر جبرئيل هم فرض وه.

سوال: عليه الصلوة والسلام خو تر جبرئيل عليه السلام افضل ؤ، نو جبرئيل عليه السلام څرنګه امام ګرځېدی؟

ځواب: دمخه موږ وويل چې جبرئيل لپاره د تعليم راغلی ؤ، نو ځکه دی امام او عليه الصلوة والسلام مقتدي سو، نو جبرئيل عليه السلام څلور رکعته لمونځ وکړی او پر دې لمانځه يې د ظهر نوم کښېښو ددې سببه چې دا لمونځ قيام د ظهيري ؤ اى شدة الحر.

دروښ وايي: چې دغه بيان مذکور د امامت او سوال او جواب موافق دی د حديث سره د بخاري او د حواشيو سره د بخاري، او روح البيان داسې بيان کړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی چي جبرئیل اول و علیه الصلوة والسلام ته لمونځ ورکړی ثم صح یعني ناره یې وکړه باصحابه الصلوة جامعة نو اصحاب سره جمع سول فصلی النبي ﷺ باصحابه رضی الله عنهم انتهی له دې څه داسي فهمیږي چي ماپښین لمونځ علیه الصلوة والسلام دوه واره وګذاره مرةً مقتدیاً بجبرئیل علیه السلام ومرةً اماماً لاصحابه والله اعلم بالصواب، وقد صرح صاحب روح البیان بما قلت حیث قال فصلوته علیه السلام بالناس کان بعد صلوته مع جبرئیل علیه السلام انتهی.

پوښتنه: ولي یې ابتداً د سهار د لمانځه څخه نه وکړه او سره ددې چي اول لمونځ د اسراً د شپې وروسته خو د سهار لمونځ و؟

ځواب: د سهار د لمانځه کول خو پر علیه الصلوة والسلام هغه وخت فرض ګرځېدی چي دی یې په هیئت پوه سوی وای، په صبح کي خو علیه الصلوة والسلام په کیفیت نه وۀ خبر لمامر ان جبرئیل نزل بعد ما زالت الشمس بامره تعالی. والحاصل جبرئیل علیه السلام په یوه شبانه روز کي پینځه لمونځونه په اول اول وخت کي ورکړه او په دویم شبانه روز کي یې په اخیر اخیر وخت کي ادا کړل. او امامة د جبرئیل علیه السلام په نزد د باب الکعبة المشرقة وۀ، وروسته تر دوو وروځو جبرئیل علیه السلام و نبي کریم ﷺ ته وویل "یا محمد علیه السلام هذا وقتک ووقت الانبیاً قبلک والوقت مابین الوقتین" دا چي تاولیدی وخت دی د لمونځو ستا او ستا د امت د لمونځو لان الامة تبع له، او وخت د ټولو انبیاؤ چي ترتا دمخه تېر سوي دي، او ټوله وخت د ټولو لمونځو په منځ کي د ددغو وختو دی چي اول او اخیر دي یعني کما رئیت وعلمت.

پوښتنه: جبرئیل علیه السلام ورته وویل چي دغه وختونه ستا د لمونځو او د ټولو انبیاؤ د لمونځو وختونه دي، نو پوښتنه داده چي دا پینځه لمونځونه خو له خواصو څخه د علیه الصلوة والسلام او دده د امت دي، او بل نبي په مجموع د دغو پینځو لمونځونه دي مکلف سوي بالاجماع فکیف یصح قول جبرئیل و وقت الانبیا علیهم السلام؟

ځواب: د جبرئیل علیه السلام د قول معنی داده چي هذا الوقت المحدود بین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الطرفين مثل وقت الانبيا قبلک فانه کان ايضًا محدوداً بين الطرفين اى الاول والآخر وان کان لبعض الانبيا صلوة واحدة ولبعضهم اثنان منها. والخاصة لهذه الامة هي مجموع الخمسة بالکيفية المذکورة فافهم.

دروښ وايي: چې د سيدتنا ام المؤمنين عائشة رضي الله عنها څخه روايت دی چې پينځه سره لمونځونه دوه دوه رکعته وه په ابتدا کې يعني تر اسرا وروسته بعض راويان وايي چې تر هجرت وروسته يوه مياشت. بعض راويان وايي چې وروسته تر هجرت لس ورځې په لمونځو کې د اقامت په ماښښين او مازديگر او ماښتن کې دوه دوه رکعته زيات سوه الا ظهر يوم الجمعة چې هغه دوه رکعته پاته سوه يعني چې د جمعې په ورځ يې په جماعت سره په جامع مسجد کې کوي او که په قرا يا کليو کې وي او يا په بنار کې لکن د جمعې لمونځ د جامع مسجد څخه پاته سو! د هغو خلګو لپاره د ماښښين لمونځ څلور رکعته دی، او د سهار لمونځ پر هغه دوه رکعته پاته سو لطول القرائة او د مابنام په لمانځه کې يو رکعت بالا سو چې درې سو، دا خو حال د مقيم وؤ، او د مسافر لپاره څلور رکعتې لمونځونه يعني ظهر، عصر والعشا پر حال سابق پاته سوه يعنې دوه دوه او مغرب پر خپل حال دی مسافر لره هم.

سوال: د خدای ﷻ حکمت څه دی چې پينځه لمونځونه يې د عليه الصلوة والسلام پر امت فرض کړه؟

ځواب: چونکه هغه حواس انساني چې له هغو څخه ګنهونه صغائر يا کبائر صادريږي په اغلبو انسانانو کې پينځه دي يعنې سمع، بصر، يد: رجل او لمس، نو لمونځونه هم پينځه سوه تاچې د هغو ګنهو چې د دغو حواسو چې پينځه وه هغه په برکت د دغو لمونځو محوه وګرځي.

دروښ وايي: چې ګيد د اغلب احتراز دی له ګونګي څخه.

سوال: د بعضې بلکې له تولو حواسو څخه ګاهي ګاهي ګناه کبيره هم صادريږي کالبهتان والغيبة مثلاً له ژبې څخه او سمع د قبول پر وول د بهتان او غيبت د ژبې له حاسه څخه د سمع، او غلا کول يا سړی ناحقه وژل د لاسو او پښو څخه وعلى هذا فقس، او علماً وايي چې کبائر ګنهونه خاص په توبه سره محوه کيږي ليس الا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا محوه حال دی د کامل انسان یعني کامل مسلمان خو ګناه ګبائر نه کوي غاية حاله الصغيرة وهي تمحوها الصلوة الخمس.

دروېش وايي: چې په هغه حديث صحيح کې چې عليه الصلوة والسلام مخاطبًا لاصحابه وايي "ارئيتم (تاسي خبر راکړئ) لو کان بباب احدکم نهرٌ يغتسل منه في اليوم و الليلة خمس مرات (که چېرې په دروازه کې د يوه ستاسي وياله وي، چې دی غسل کوي له هغې وياليې څخه په شبانه روز کې پينځه واره) اکان يبقى ذالک من درنه شيئًا (آيا پرې به ېدي داغه پينځه واره غسل دده له خيرو څخه يو شی) قالوا يا رسول الله ﷺ (اصحابو ورته وويل يا يعني خيره يې نه پاتېږي) قال عليه السلام فذالک مثل الصلوة الخمس يمحوالله بهن الخطايا انتهى" و هغه ما قلنا في حكمة الصلوة الخمس اشاره ده.

دروېش وايي: چې له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، دا وايي چې "فقد رسول الله ﷺ لکن اسری بروحه" بيا يې وروسته يو اوږد حديث له انس بن مالک رضي الله عنه څخه د بخاري رانقل کړی دی چې هغه حديث هم پر دې دلالت کوي چې اسراً په حال کې د خوب وه؟

ځواب: حديث د عائشې رضي الله عنها خبر واحد دی والاجماع قد انعقد على ان الاسراً المذکور في القرآن کان بجسده وروحه وقد ذکرنا تفصيله والکلام في اسناد الحديث المذکور الى عائشة رضي الله عنها ويدل على ان في اسناده شيئ ان الاسراً کان قبل الهجرة فتدبر،

دروېش وايي: چې بعضي مفسرينو توجيه د قول د سيدتنا عائشة رضي الله عنها داسي بيان کړې ده چې دا بيان د هغه وخت د اسراً کوي چې دا په مدينه کې وه بعد الهجرة و عليه الصلوة والسلام ته ورواده سوې وه، او هغه معراج لکه دا چې وايي په يوازې روح سره وه او هغه اسراً چې په روح او جسد دواړو سره وه کما وقع عليه اجماع السلف والخلف هغه قبل الهجرة په مکه مکرمه کې واقع سوې ده فلا منافات بينهما مع قطع النظر عن حال الاسناد.

دروېش وايي: چې دا ځواب د قول سره د شيخ اکبر محي الدين ابن عربي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قدس سره موافق دی چې هغه وایي چې معراج د علیه الصلوة والسلام څلور دپرش واره واقع سوی دی، یو وار په روح او جسد دواړو سره وهو المراد ههنا یعني في قوله تعالى "سبحان الذي اسرى بعبده الآية" او نور ټوله معراجونه د علیه الصلوة والسلام په روح سره وه یعني في حالة النوم.

دروېش وایي: چې هغه حدیث چې بخاري په طول سره راوړی دی او مسلم مختصر راوړی دی په تفسیر کې ددغه آیت "سبحان الذین اسرى الآية" چې هغه صریح دی په دې کې چې دا اسرا د خوب په حالت کې وۀ کما یظهر من مطالعة البخاري ومسلم او مورِد دمخه اجماع پردې رانقل کړه چې دا اسرا په روح او جسد دواړو وه او په حالت کې د یقظه وه، نو ددغه طویل حدیث د بخاري او مختصر د مسلم ځواب به څه وۀ؟

ځواب: بغوي رح وایي چې زمورِ شیخ او استاذ رحمه الله وایي چې بعض اهل حدیث وایي چې مورِ نه دی پیدا کړی یو حدیث په کتاب کې د محمد بن اسماعیل البخاري رحمه الله او په کتاب کې د مسلم رحمه الله چې ځای د تنقید دي وګرځي مګر نه دغه حدیث مطول في البخاري او مختصر په مسلم کې الذي یدل علی ان الاسرا في المنام او پرې یې پر شریک بن عبدالله چې راوي ددې حدیث دی واچول، یعني چې دا روایت د شریک منکر دی، او بغوي رح بل ځواب د خپل شیخ الامام څخه هم رانقل کړی دی، دروېش وایي چې زه نه په پوهېږم والله اعلم بالصواب.

دروېش وایي: چې شاید مطالعه کونکي ددې تفسیر به وایي چې تا څومره تفسیر ددې آیت "سبحان الذي آه" اوږد کړی؟ جواباً وایم چې معراج په بل نامه اسرا له مهماتو څخه د معجزو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم وه، او پرته تر دغه آیت بل ځای په قرآن مجید کې نه ده ذکر سوې، نو مجبوراً لخدمة القرآن العزیز ولاثبات هذه المعجزة العظمى لرسوله الکریم صلی الله علیه وسلم دومره تطویل او اطناب مې وکړی او تاسي دمخه واورېدل چې په دغه اسرا کې اختلاف هم ډېر وۀ چې په حال کې د یقظه وۀ او که د خوب وۀ عزیزانو مطال کونکو د تفسیر ایوبي دروېش لکه راوړی بیان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغونه تقریباً په تفاسیرو کې لیدلی دی خصوصاً په روح البیان کې هغه مې نه کړی رانقل له سببه د عدم الاعتماد علی النقل المذکور في التفاسیر او یا له جهته څخه ددې چې زه نه پوهیدم دادی عذر د اطناب في تفسیر الآیة المذکورة.

إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿١﴾

په تحقیق خدای ﷻ اوریدونکی دی دا قول د علیه الصلوة والسلام یعني یعلمه اقواله او لیدونکی دی د افعالو د علیه الصلوة والسلام ولو في ظلمة اللیل.

پوه سه: چې مراد له سماع او ابصارو څخه سماع په حاسة د سمع نه ده. او داغه رنګه د لیدلو مراد لیدل په حاسة البصر نه ده لان تینګ الخاصتین تقتضیان الجسمیة وهو تعالی منزه عن الجسمیة بل المراد بالسمع العلم بالمسموعات والبصر العلم بالمبصرات وقیل هما صفات غیر العلم قائمتان بذاته تعالی یتعلق صفة السمع بالمسموعات وصفة البصر بالمبصرات.

پوه سه: چې په دې آیت کې اشاره ودې ته ده چې دا اسرا لپاره د پورته والي د منزله د علیه الصلوة والسلام او لپاره د اعزاز د علیه الصلوة والسلام والا فالاحاطة باقواله وافعاله علیه السلام حاصلة تعالی بلا حاجة الی الاحضار في جنابه تعالی.

وَءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِى وَكِيلًا ﴿٢﴾

او موږ ورکړی موسی علیه السلام ته کتاب یعني تورات او ګرځولی موږ موسی یا تورات لارښوونکی د اولاد د اسرائیل یعني یعقوب چې مه اخلئ ماسوا له ما څخه وکیل یعني رب چې تاسي خپل کارونه و هغه ته ورسپارئ ماسوا له ما څخه.

دروښ وایي: چې اصل د "الا" ان لا دی، نو روح المعاني وایي چې ان مفسره دی په معنی د ای، او ابو البقا او مظهري تبعاً له وایي چې د ان مفسره د هغه فعل دی چې کتاب دلالت پر کوي تقدیره کتبنا الیهم ان لا تتخذوا الخ. او بعض مفسرین وایي چې کتاب متضمن معنی لره د قول دی نو ان تفسیر د قول دی. ای قلنا لهم لاتتخذوا الخ، او یا مقدر به حرف سره دي والتقدیر لان لاتتخذوا آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ﴿٣﴾

منصوب دی په حذف د حرف ندا ای یا ذریة، اې اولاد د هغه چا چې بار کړې مور دوی سره د نوح علیه السلام یعنې په کښتۍ کې، نو هغه ته مو نجات ورکړی له غرق ځخه، په تحقیق وُ نوح علیه السلام شکر کوونکی بنده.

پوه سه: چې "شکور" صیغه د مبالغې ده ای کثیراً شکراً.

پوه سه: چې په دې کې تذکیر دی د انعام د خدای ﷻ پر بنې اسرائیلو باندې په نجات ورکولو سره د نیکه ګانو ددوی له غرق ځخه په واسطه د رکوب د نیکه ګانو ددوی سره د نوح علیه السلام په کښتۍ کې.

دروښ وایي: چې په صحیح حدیث کې چې روایت یې ابن مردویة له ابي فاطمه ځخه کړی دی چې نبي علیه السلام وویل چې نوح علیه السلام به چې یو کار کاوه که لوی وای که کوچنی دا ټول "بسم الله والحمدلله" فسماه عبداً شکوراً، او طبراني د سعد بن مسعود الصحابي رضي الله عنه ځخه روایت کړی دی چې نوح علیه السلام چې خدای پاک عبداً شکوراً وبالله له دې سببه چې ده به خوراک وکړی یا به یې اوبه وڅښلې یا به یې کالي واغوستل. یا به یې نور ورته کارونه وکړه، نو د خدای پاک حمد به یې وایه.

فائده: په ذکر د حال د نوح علیه السلام خبرتیا ده د بنې اسرائیلو چې تاسي خو هم د نوح علیه السلام له اولاده ځخه یاست باید چې کړه وړه ستاسي د نوح علیه السلام وای یعنې الحمدلله والشکر علی نعمه تعالی.

وَقَضَيْنَا إِلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْكِتَابِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ

حکم قطعي او وجي مبرم کړي دي مور و اولاد ته د اسرائیل چې یعقوب یې نوم دی او اسرائیل یې لقب دی چې معنی یې عبدالله په عربي ژبه کې ده په تورات کې، تاسي به فساد کوئ په مځکه کې دوه واره یعنې ارض الشام، او ابن عباس او قتاده رضي الله عنهما وایي چې "الی" په آیت کې په معنی د "علی" ده ومعنی الآیة قضینا (بالمعنی المذکور آنفًا) پر بنې اسرائیلو في الکتاب ای اللوح المحفوظ،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او "لتفسدن" جواب دی د "قضينا" لان القضاء المقطوع جاري مجرى القسم ده، او یا جواب دی د قسم محذوف ای والله لتفسدن.

سوال: افساد خو مذکر دی، نو مرتین په تانیث څرنګه راغلی؟

ځواب: په تأویل د افساد په افسادة سره.

پوه سه: چې اول افساد د بني اسرائیلو مخالفت وو د احکامو د تورات او محرمات یې بې پېښره کول او قتل د شعیب بن امضیا علیه السلام وو. او دوهم افساد یې قتل د زکریا او دده د زوی یحیي علیهما السلام او اراده د قتل د عیسی علیه السلام وه، او بعض مفسران وایي اول یې قتل د زکریا علیه السلام و. او دوهم یې قتل د یحیی علیه السلام او قصد د قتل د عیسی علیهما السلام وو.

وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ۝

او تاسي به کبر کوی د طاعته څخه د خدای ﷻ او د ظلم پر انبیاؤ علیهم السلام.

پوښتنه: انزال او وحي خو موسی علیه السلام ته کېدې نو ګرده بني اسرائیل یې څرنګه مخاطب کړه؟

ځواب: وحي و موسی علیه السلام ته وحي دي ودوی ته "لانهم مخاطبون بما انزل الی موسی لانه نبیهم"

فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ أُولَاهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَا

چې راسي یعني ورسېږي وخت د عقاب د اول وار. موږ به مسلط پر تاسي کړو بعض بندګان زمونږ

بعض مفسرین وایي چې اول د بندګانو ستجاریب ومن اهل نینوی والیه ذهب سعید بن جبیر رحمه الله، او قتاده رحمه الله وایي چې مراد جالوت وجنوده ذي الذي قتله داود علیه السلام او ابن اسحاق وایي چې مراد بخت نصر البابلي دی بغوي رحمه الله وایي "وهو الاظهر.

أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ

چې درکونکی به وي د جنګ او قوة سخت

سوال: مسلط پر بني اسرائیلو هر څوک چې وو هغه خو کافر وو، نو اضافت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ وځان ته څه رنګه وکي "حيث قال عباداً لنا؟

ځواب: دا اضافت او نسبت د پاره د تشريف د مضاف نه دی بلکه دا نسبت په اعتبار د دې دي چې دغه عباد مظهر ده اسم الٰهي ای " المنتقم والمذل دی.

پوه سه: چې بخت نصر د مجوس څخه د بابل وٗ او بخت معنا ابن او نصر د يو بت نوم دی چې دا هلک د هغه بت سره چا اېښی وٗ يعني ارموني وٗ پلار يې نه وو معلوم، نو ځکه يې د نصر بت زوی وبالله.

فَجَاسُوا خِلٰلَ الدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ۝

نو دوی يعني هغه دښمنان ستاسي به يرغل راوړي گرځي به ستاسي د کورو په مابين کي (يعني ستاسي طلب به کوي چې قتل مو کړي) او دا وعده د عقاب ستاسي يوه وعده د جانبه څخه د خدای ﷻ ده چې خامخا به کېږي.

ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ

وروسته رد کړه مو ډ تاسي ته يا بني اسرائيل غلبه پر هغو کسانو چې تاسي يې خلال الديار کي قتل کولاست. بيضاوي رحمه الله وايې چې دا کرة او غلبه د بني اسرائيلو په دې دول منځ ته راغله چې د بهمن د اسفند يار زوی چې سلطنت د نېکه کشتاسف بن لهراسف په لاس ورغلی په زړه کي شفقت پر بني اسرائيلو پيدا سو، نو بهمن د بني اسرائيلو تول بنديان رها کړه او دانيال يې پر دوی حاکم کړی، او هغه کسان چې په بيت المقدس کي موجود وه " من اتباع بخت نصر پر هغو په قتال غالب سوه او بعض مفسران وايي چې داوٗد عليه السلام پر جالوت چې د اتباعو د بخت نصر ملک وو مسلط کړی او جالوت يې قتل کړی.

وَأَمْدَدْنَاكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ۝

او مدد مرسته مو ډ وکړه د تاسي سره په مالو يعني اغنيا وگرځېدلاست او په زامنو سره (بنات خدای ﷻ نه کړی ذکر د دې سببه چې مخ ته د دښمن بنين در ېږي لا البنات) او مو ډ تاسي وگرځولاست ډېر نفر درلو دونکي.

پوه سه: چې نفير جمع د نفر ده لکه عبيد جمع د عبد ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: نفر په اصطلاح کي هغه قوم ته وایي چي سره جمع سي د پاره د تګ و دښمن ته والمعنی هغنا چي تاسي موږ د پر کړاست چي د دښمن د مقابلې توان او طاقت مو درکړي.

إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ

که تاسي ښه کار وکړی یعني طاعت د خدای ﷻ او ځانونه منع کړئ د معاصي وځخه دا هغه کار د ځانو د نفعې لپاره به وکړئ (ولي ثواب یې تاسو ته درکول کېږي او خدای ﷻ ستاسي د طاعت ځخه غني دی کریمه" والله الغني وانتم الفقرا) او که تاسي بد کارونه وکړئ لکه "فساد فی ارض الله" نو ضرر یې وتاسي ته راجع دی "فی الدنیا والآخرة"

پوښتنه: د ضرر د رسېدو لپاره خو علیها یعني صلة د ضرر علی دی نو د څه حکمت الٰهي لپاره کلمه د لام ذکر سول؟

ځواب: لپاره د مناسبت دد "لانفسکم"

فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ

چي راسي وخت د عقوبت آخیره

پوه سه: چي کلمه د لام متعلق په محذوف پورې دی ولم یذکره لدلالة ماسبق علیه ای "بعثناهم"

ترجمه: چي در بد کړي موخان ستاسي یعني چي اثار د غم به ستاسي په ځانو کي معلوم پرې.

دروښ وایي: چي دا علامه د شدت د مسائلة او غم ده.

وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا ﴿٧﴾

معطوف دی پر "لیسوؤا" باندي والمعنی او چي دوی یعني ستاسي دښمنان داخل سي ومسجد ته بیت المقدس واطرافه په داسي شان او شوکت لکه چي اول وار داخل سوې وه، او چي هلاک کړي هغه ځایونه چي بني اسرائیلو غلبه پر کړې وه.

دروښ وایي: چي د دې ایتو په واقعاتو کي لوی اختلاف دی، نو زه به د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوو معتبرو تفسيرو قولونه رانقل کړم، نوره فيصله دي په خپله علما وکړي يو تفسير حسيني چې تصنيف د حسين الکاشفي رحمه الله دی چې په هرات کې يې مزار دی او دا تفسير ډير قديم دی تر مظهري رح او روح البيان او روح المعاني وغيرهما مقدم دی لکن په فارسي لغت دی چونکه د اکثرو د پښتو ملا يانو او طالبانو د فارسي ژبې سره علاقه نسته، نو ځکه دا د تفسير عزيز څوک نه هديه کوي، او بل تفسير بغوي دی چې د محمد بن اسحاق رح چې د مغازي واو د سيرت نبوي ﷺ کامل تاريخ دان دی او لوی پوهان دی" والتوفيق من الله ﷻ دا قصه را نقل کړم.

دروېش وايي: چې چونکه بيان د دفعه اول او د دفعه ثاني په مختصره ډول حسين کاشفي رح راوړی دی او په بعض ځايو کې د ده بيان د بيان سره د ابن اسحاق موافقت لري اول به د تفسير حسيني د ده فصيح خوږه ژبه فارسي يې رانقل کړم ولي چې اکثر پښتانه په فارسي ژبه پوهېږي ولي چې فارسي د ايران ټوله وګړي په پوهېږي ولي فارسي يې ابائي ژبه ده او دغه رنګه په افغانستان کې شمالي برخه په ښه ډول په پوهېږي پاته وګړي د جنوبي افغانستان ماسوی د پښتو څخه په فارسي ژبه ښه پوهېږي پښتانه په خپله ملامت دي ولي فارسي نه زده کوي چې پنج کتاب ګلستان او بوستان سعدي شيرازي او ديوان حافظ هم وايې او مثنوي تر يو ځايه پر يو عالم متبحر فارسي دان ووايې مکالمه په فارسي که يې نه سي زده اما په فارسي عبارات په کتابو د لغتو يا د فارسي تفاسيرو لکه تفسير حسيني ډير ښه پوهېدای سي او دغه کتابونه فارسي چې ما بيان کړه تر يوه کال په کم وخت کې ښه زده کولای سي علما وايې چې افصح د ژبو وروسته تر عربي فارسي ژبه ده، نو زما خو ټولو طالبانو پښتنو ته دا وصيت دی چې مذکوره فارسي کتابونه پر يو فارسي دان متبحر عالم ووايې تا چې ټولو فارسي تفسيرو ته لار سمه سي او د لغت کتابونه چې ترجمه د عربي الفاظو په فارسي کوي لار به يې همواره سي.

دا دی اوس د حسيني کاشفي ه بلاغت ډک الفاظ واوري (درين قصه اختلاف بسيار است وهر مفسري نقل که باو رسيده ايراد نموده، وقول اصح واشهر که در

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مختار القصص والسير وغير آن از كتبي كه در اخبار انبيأ عليهم السلام نوشته چنانست چون سلطنت بني اسرائيل در ولايت شام وبيت المقدس بصُدَيقه (بضم الصاد وفتح الدال وسكون الياً وفتح القاف وفي آخره هأ) رسيد از اولاد سلما" و او مرد ضعيف الحال واعرج بوده ملوک اطراف طمع در ولايت ايليا بسته متوجه ان شدند" اول سنجاريب ملک موصل بيامد ومتعاقب او سلما بادشاه از زربايجان رسيد وهر دو تلاش قبضه بيت المقدس نمود بايكديگر محاربه اغاز نمودند ، آتش قتال ميان ايشان اشتعال پذيرفت ودرياي مبارزت از صرر مخاصمت بموج در آمد ، سپهداران سپه درهم فگندند ، صداى مرگ درعالم فگندند . زپيكان عالمي را ژاله بگرفت ، زخون روى زمين را لاله بگرفت ، عاقبت سطوت آلهي ظهور نموده هر دو لشكر از يک ديگر مهزم گشتند وغنيمت ايشان بدست بني اسرائيل افتاد ، ديگر باره بادشاه روم وملک صقاليه وسلطان اندلس هر يک بالشكر كرار جرار همه تيغزن ونيزه گذار در بيت المقدس جمع شدند ، وچون رتبه شركت سلطنت بر نتابد ايشان نيز آغاز نزاع گردند ، بلشكر ارايي وتبرد آزمايي قيام و اهتمام نمودند در افتادند همچون شير غران ، بگرز ونيزه وشمشير بران ، بنو اسرائيل دعايي ، "اللهم اشغل الظالمين بالظاليمن واخرجنا من بينهم سالمين غانمين آغاز كردند ، ونكبت ونكباى غبار ادبار بردیده آن خاكساران پاشيد ، هزيمت را غنميت دانست دلهاى شان بر فرار قرار گرفت از يكديگر گريزان شدند ، اموال ايشان بدست بني اسراييل افتاد چون غنائم پنج لشكر عظيم در حوزه تصرف اوردند" بحكم كريمه ، ان الانسان ليطغى اراه ستغنى ، سر تجبر از گريبان عصيان بر اورده ودست تغلب از استين طغيان بيرون كرده حكم تورات را بر طرف نهادند ، هر چند ارميا پيغمبر ايشان پنداد وگفت هر انچه در تورات مقرر شده آن كنيد واين فساد مكنيد و در معرض سخت آلهي مبائيد نشنيدند ، حق سبحانه تعالى بخت نصر مجوسي كه كاتب سنجاريب بود وبعد از فوت او بحكم ووصيت سنجاريب ملک باو رسيد بر ايشان يعني بر بني اسرائيل گماشت تا بيامد وبا ايشان حرب كرده غالب آمد ومسجد بيت المقدس ويران ساخت تورات را بسوخت وهفتاد هزار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کسان بني اسرائیل غلام وبنده گرفت واین عقوبت اول بود، بعد ازان کورش همداني که زني از بني اسرائیل در نکاح او بوده ازین حال خبر یافت مال بسیار گرفت وسه هزار (۳۰۰۰) بنا وسائر عمله باخود اورد وسي سال بعمارت بیت المقدس وولایت ایلیا اشتغال نمود تا بحال اول در آمد. ودیگر بار بني اسرائیل خوش وقت شدند واموال و اولاد ایشان رو بازدیا نهادند، باز سودای مخالفت از نهاد ایشان سر زد ویحیٰی معصوم بقتل رسانیدند وقصد قتل عیسیٰ علیه السلام کردند عقوبت دوم در رسید وطرطوس رومی بر ایشان غلبه کرده دیگر بار مسجد بیت المقدس خراب ومنهدم نمودند" و اندوختهای ایشان بغارت بردند کما قال الله تعالی " فاذاجا آه" داؤ عبارت د تفسیر حسیني.

دروښ وایي: چي بغوي رح چي د محمد بن اسحاق څخه نقل کړی دی د دې دوو قصو هغه ډېر طویل بیان او په عربي ژبه دی زه به کوشش وکړم چي هغه عبارت چي ترجمه یې فی الجمله اسانه وي هغه به عربي عبارت ذکر کوم او که یې ترجمه ګرانه وه د هغه عبارت به پښتو ترجمه کوم.

قال البغوي قال محمد بن اسحاق کانت بنو اسرائیل فیهم الاحداث والذنوب (نوي کارونه او ګناهونه) وکان الله في ذالک متجاوزا عنهم محسنا الیهم (او خدای وو چي د دغو بد کار دوی ته عفو کوله او احسان یې ورسره کاوه) وکان اول ما نزل بهم بسبب ذنوبهم ان ملکا منهم کان یدعیٰ صدیقه (یو باچا د دوی چي په نامه د صدیقه بلل کېدی په ضمه د صاد او فتح د دال او قاف) وکان الله تعالی اذا ملک الملک علیهم بعث معه نبیا یسدده ویرشده (او عادت د خدای ﷻ دا وو چي یو نوی بادشاه د دوی مقرر سو د هغه سره به یې نبي هم را استاوه چي هغه نبي وبادشاه لارښونه وکړي او پر سمه لار یې روان کړي) لا ینزل علیهم الکتب انما یؤمران باتباع التورات والاحکام التي فیها (پر هغو نبیانو کتابونه نه نازلېده بلکه مکلف په اتباع د توراة او د احکامو د تورات) فلما ملک ذالک الملک (یعني صدیقه) بعث الله معه شعینا ابن امضیا وذالک قبل مبعث زکریا ویحیٰی وعیسیٰ علیهم السلام (د صدیقه په وخت کي خدای په نبوة را واستاوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شيعا) وشعيا هو الذي بشر بعيسى ومحمد عليهما السلام (او شعيا هغه څوک چې زېرى د نبوة د عيسىٰ او محمد عليهما السلام يې بني اسرائيلو ته وکړى) فملک ذالک الملک بني اسرائيل وبيت المقدس زمانًا فلما طال علی بني اسرائيل الزمان والعيش "نو يې اثر د هغه آيت" ان الانسان ليطغىٰ ان راٰه استغنىٰ" ښېرته دوى نافرماني د تروات او رنګارنګ ګنهونه يې او د شيعا بن امضيا عليه السلام وخبرو او وعظ ته يې اهميت نه ورکاوه. نو دخداى ﷻ د عذاب وخت ورسېدى، نو سنجاريب چې بادشاه د بابل وُ چې شپږ لکه سپاه ورسره راهي سو او د بيت المقدس په شاوخوا واړول او صديقه په دغه وخت کې مريض سو پر پلنګ يې يو دانه پيدا سوې وه، نو شعيا عليه السلام ورغلى صديقه ته وويل " يا ملک بني اسرائيل ان سنجاريب ملک بابل قد نزل بک هو وجنوده بستمائة الف راية (بيرغ) او بني اسرائيل دپر وبپرېده او سره متفرق سوه، نو پر صديقه دا خبره ډېره درنه سوه، نو صديقه وشعيا عليه السلام ته وويل يا نبي الله تاته وحي نه دي راغلي د جانب څخه د خداى ﷻ چې ماته خبر راکړې چې زموږ او د سنجاريب او د لښکر د ده تر مابين به خداى جل شانه څه فيصله وکړي شعيا عليه السلام ورته وويل چې وحي ماته نه دي راغلي لږ وخت وروسته شعيا عليه السلام ته خداى پاک وحي راستولې چې ورسه ملک ته د بني اسرائيلو ووايه چې وصيت وکړه او پر خپل ځاى يو بل څوک ستا د اهل بيت څخه خليفه وګرځوه، نو شعيا ملک بني اسرائيل صديقه ته ورغلى او د وحي مضمون يې ورته بيان کړى چې ته مرې خليفه وټاکه دا خبر چې صديقه د شعيا څخه واورېدى نور يې غم زيات سو او مخ پر قبله سو دوه رکعته نفل يې وکړه او په زاريو او بغارو سو و خداى ته په مخلص زړه او داسي يې وويل " اللهم رب الارباب واله الآلهة (اى مالک د خدايانو باطله وُ چې مراد ځنډي بتان دي) يا قدوس المتقدس يا رحمن يا رحيم يا رؤف الذي لا تاخذه سنة ولا نوم اذكرني بعملي وحسن قضائي على بني اسرائيل وذالک كله منک وانت اعلم به مني سري وعلانيتي لک وكان صديقه رجلا صالحا فاستجاب الرحمان دعائه.

پوه سه: چې صديقه چې حسن ثنا د خداى ﷻ وويل "اذكرني آه" د ذكر څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مراد يې کومک دی پر سنجاريب او لښکر د ده او دا چې وويل "بعملي وحسن قضائي علی بني اسرائيل" په دې کې مقصد دا دی چې حسن القضا چې د عملي عطف تفسير دی د خدای ﷻ ته شفيع ګرځول "لان من حسن عمله مع عباد الله يحسن الله اليه" او په دې قول کې وذالک کله "منک" يعني بتوفيقک ايای دفع د انانيت وګان ته وکړه، نو د دې سببه چې صديقه غرض دعا وه د کومک پر سنجاريب وعسکره په جواب کې دا عبارت وويل سو فاستجاب الرحمن دعائه "فافهم" وروسته خدای ﷻ وحي وکړې و شعيا عليه السلام ته چې خبر ورکړه صديقه ته چې د ده خواست خدای ﷻ قبول کړی او رحم يې پر وکړی او ورته ووايه چې خدای ﷻ عمر د ده (۱۵) کاله نور اوږد کړی، او د سنجاريب څخه مې دی خلاص کړی، نو شعيا عليه السلام ورته راغلی او د رب ﷻ پيغام يې صديقه ته ورساوه نو د دې پيغام الهي په رسولو سره د صديقه څخه بهره د زړه څخه ووتل او پر سجده وخدای ته پرېوتی او داسي يې وويل "يا الهي والهي ابائي لک سجدت وکرمت وعزمت انت الذي تعطي الملک من تشا وتنزع الملک ممن تشا وتعز من تشا وتذل من تشا عالم الغيب والشهادة انت الاول والآخر والظاهر والباطن انت ترحم وتستجيب دعوة المضطرين انت الله الذي اجبت دعوتي ورحمت تضرعي فلما رفع راسه" چې سر يې د سجدې څخه را پورته کړی شعيا ته خدای ﷻ وحي وکړې چې ملک صديقه ته ووايه چې يومربي د مريانو څخه خپل ته ووايه چې د انځر اوبه دي راوړي مالښام دي په تپ يا دانه پورې ومومې نو چې سحار کېږي جوړ به وي د هم داغسي وکړه او خدای شافي الامراض هم شفا ورکړه.

دروښ وايي: چې د هغه نورو الفاظو عربيه وو ترجمې ته ضرورت نسته "لمن له ادنی المام بلسان العرب" وروسته ملک صديقه وشعيا عليه السلام ته وويل چې ته د خدای جلت قدرته سوال وکړه چې زمونږ او د سنجاريب به څه سر ګذشت وي په آينده کې يعني جنګ به سره کوو که څه رنګه؟ خدای جل سلطانه وشعيا ته وحي وکړې چې ملک صديقه ته ووايه چې ستاسي د دښمن چاره زه کوم او تاسي د دې لوی دښمنه څخه خلاصه وم او دا دښمن ستاسي ژر دی چې صباح ته به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هلاک سي او تولـه لښکر د ده به هلاک سي يو سنجاريب او پنځه کسـه کاتبان د ده به ژوندي پاته سي چي صباح ورځ سوه يو سړي په زوره نعري وهلې د ښار په دروازه کي "يا ملک بني اسرائيل ان الله قد کفاک عذرک فاخرج" د سنجاريب لـوی فـوج تولـه مړه پراتـه دي، نـو ملک بني اسرائيل صديقه چي راووتـی پـه سنجاريب پسي په مړو کي وکتل نه يې کی پيدا، نو ملک خلګ واستول پـه طلب کي د سنجاريب هغه خلګو سنجاريب او د ده (۵) کسه کاتبان پـه يـوه غار کـي د غره چي يو يې د کاتبانو بخت نصر ؤ. تولـه يې پـه يـوه تناو سره ترلي ملک صديقه ته راوستل.

يوښتنه: په سر کي د قصې داسي وويل سول چي د سنجاريب شپږ لکه فـوج ؤ نو دا چي تولـه پـه يـوه وار مړه او صرف شپږ (٦) کسـه ده مرګـه ځخـه وسـاتل سوله، نو دا دونه مړي يې څه په وکړه ملک د بني اسرائيلو؟

ځواب: بعض مفسـرين وايـي چـي ملک بني اسرائيل لـوی لـوی کنـدي ورتـه وکښلې او هغو کندو ته يې دا دست کړي جمعه واچول.

دروېش وايي: چي دا جواب د هغه قصې سره ده بدر سـمون خوري يعنـي پـه بدر کي چي اويا کسـه په شمول د فرعون الامة ابو جهل مردار سول عليـه الصلوة والسلام حکم وکړی چي دا تولـه مړي دي په سو ځا کي چي په بدر کـي وو يعنـي د اوبو ځا نه وو وغورځوي او خاوري دي پر واچوي چي دا قصـه پـه بخـاري او مسـلم او نـورو کتـابو د احاديث مبارکـه وو کـي بلتفصـيل ذکر سـوې ده، راسئ بهرتـه قصې ته د ملک بني اسرائلو ستون سو راوي وايې چي صديقه ملک بني اسرائل چي دا شپږ (٦) کسه په يوه تناو ترلي ولېدل پر سجده پرېوتی " من حين طلعت الشمس الى اول وقت العصر شکرا لله جل سلطانه" د سجدې ځخـه چـي سر را پورته کړی سنجاريب ته يې وويل "کيف ترى فعل ربنا بکم" ايا تاسي يې نه کړاست بحوله وقدرته " ونحن وانتم غافلون" يعني نه مړ قبلا خبر ؤ او نه تاسي چي قادر متعال به تاسي په يوه شپه د مرګ وکندي ته سپاري، سنجاريب ورتـه وويل چي مړ ته راغلی ؤ خبر د رب ستا او کومک د خداى ستاسي د تاسي سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او رحم د خدای چې پر تاسې يې کوي د مخه تر دې چې زه راوتلم لپاره د جنګ ستاسې "فلم اطع مرشداً" ماد لاربنود په خوله ونه کړه.

دروېش وايي: چې سنجاريب قصد وکړی د جنګ د نبي اسرائيلو او يرغل پر بيت المقدس د ده کهانو دې منع کړی چې دا قصد پرېږده هزيمت دي په برخ کېږي د دهغو خبره ونه منل.

سوال: کاهنان چې کافران وه دا غيب کار ودوی ته څه رنګه معلوم وؤ؟

ځواب: په هغو زمانو کې استراق السمع و القائه الی الکهان جاري وه په زمانه کس د عيسی عليه السلام لږ بند بز پر ولګېدی د خدای ﷻ وروسته تر بعث د عليه السلام پوره بند بز پر ولګېدی "کما جاً فی الاحاديث الصحيحة" سنجاريب ورته زياته کړه چې زه په دې بد بختي کې نه يم اچولی مګر خپل قلة عقل "ولو سمعت" که ما قول د مرشد قبول کړی وای او يا مې لږ عقل درلودای ستاسې د غزا نيت به مې نه وای کړی، نو صديقه ورته وويل چې ته او ستا پنځه کسه کاتبان خدای ﷻ د دې لپاره ژوندي نه پاتې پرې اېښې چې تاسې پر خدای قدر درلودی بلکه د دې لپاره يې ژوندي پرېښولاست "لتزداد الشقوة في الدنيا وعذابا في الاخرة" او د دې لپاره چې تاسې به خبر کړي په قدرت د خدای او په "مارئتم" سره " من ورائکم بفضل ربنا بکم" نو تاسې به وېرې وي خپل وګړي د اينده ورته قصد کولو څخه او که دا حکمت نه وای ما به تاسې وژلي وای صديقه ورته وويل چې ستا او د "من معک" وينه تويول اهون دی علی الله "من دم قراد" (يعني منګور) وروسته ملک بني اسرائيل امر صادر کړی و خپلو اميرانو ته چې د دې (٦٠) کسانو په غاړو کې دست جمعي رسی ورواچوئ (٧٠) اويا ورځې د بيت المقدس او د ايليا په بازار او کڅو کې ګرځوي دوې اربشني دوډی فی نفر ورکوي، نو سنجاريب و ملک بني اسرائيل ته وويل "القتل خير لنا مما تفعل بنا" يعني چې رسی په غاړه مو په بازارو کې ګرځوي، يعني مرګ خو يو ګړی وي او دا چې ته يې د موږ سره کوې هره ورځ مرګ دی، نو صديقه دوی وبندي خانې ته د قتل واستول، يعني هوري يې مړه کې، نو خدای پاک وحي وکړې وشعيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النبي ﷺ ته چې صدیقه ته ووایې چې سنجاریب او ملګري د ده مه قتل کوه، تا چې دوی ژوندي ورسي خپل وطن بابل ته او او نور خلګ وبهروي د هغه کاره څخه چې ده وکړی، یعنې یرغل پر بیت المقدس او بنې اسرائیلو باندې او بنه عزت او اکرام یې وکړه او دوی تر خپل وطن پورې ورسوه، شعیا علیه السلام چې امر الهي صدیقه ته ورساوه صدیقه هم هغسې وکړه خیر خو سنجاریب او نور (۵) کسه کاتبان بابل ته ورسېده هوري خلګ پر راجمع سوه حالات یې ځندي وپوښتل سنجاریب ټوله ماجری هغو ته بیان کړه، نو کاهنانو د ده وده ته وویل یا ملک بابل مور ته قصې او خبرونه د رب د بنې اسرائیل او حال د نبي د دوی نه ورو بیان کړی یعنې د مخه تر خروج ستا د بابل څخه په قصد د جنګ د بنې اسرائیل چې نبي د دوی یعنې شعیا د دوی ژوندی ورسره دی تا زمور خبره ونه منل او دوی سنجاریب ته وویل چې دا سې یو امت دی چې د خدای ملګري دي او د وحي دروازه ورته خلاصه ده، یعنې د نبي په وجود سره، نو هېڅ ځوک توان او طاقت د جنګ د دوی نه لري.

تفریع: ورتله د سنجاریب د پاره د جنګ بنې اسرائیل ته صرف او صرف یو پیرول د دوی وه "ثم کفاهم الله من قتاله اظهار لقدرته الباهرة" خیر سنجاریب (۷) کاله ژوندی وُچې مړ کېدی د زوی زوی بخت نصر یې قائم مقامه ملک د اهل بابل وټاکی او سنجاریب مړ سو.

دروښ وایي: چې په قصه کې د محمد بن اسحاق خو بخت لمسی د لمسي د سنجاریب ذکر سوی دی لکن نور اهل تاریخ وایي کما مر سابقا چې بخت نصر ارمونی وُ چې اصل یې بوخت چې په ده زوی دی او نصر د بت نوم دی چې دا هلک وهغه بت ته زانیه مور اپنې وُ، نو معنی یې دا ده چې زوی د نصر هغه وایي چې بخت نصر معتمد کاتب وُ د سنجاریب نو ځکه قائم مقام خپل یې وټاکی، واللہ اعلم بالصواب، (۱۷) کاله د پادشاهی د بخت نصر پوره سوه او ملک محترم د بنې اسرائیلو صدیقه داعي الاجل ته لبیک ووایه وفات سو "انا لله وانا الیه راجعون" او په بنې اسرائیلو کې پر مملک جنګ او جدل پیدا سو او یو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بله سره وژل او شیعا علیه السلام ژوندی وو هر څه نصیحت چې به یې دوی ته وکړی دوی هغه نه مانه. نو شیعا علیه السلام یو جامع بلیغ نصیحت وکړی بني اسرائیلو ته شعیا علیه السلام چې د نصیحت څخه فارغه سو دوی حمله پر کول چې مړ یې کړي شیعا علیه السلام ځندي وتښتېدی په لار کې یوه درخته وه هغه پر مابین سره دوه ځایه سوه او شعیا په ننوتی شیطان یې یو توکر د کالو د شعیا پرې کړی، نو بني اسرائیل چې د ده د قتل لپاره پسې روان وه شعیا ځندي ورک سو شیطان د سرې په بڼه دوی ته وویل چې شعیا په دغه درخته ننوتی دا یې د کالو ټبانه ده نو بني اسرائیلو اره راوړه درخته یې پر مابین وربېل او شعیا علیه السلام هم ورسره پر میانځ دوه ځایه سو. انا لله وانا الیه راجعون.

وروسته خدای ﷻ یو سړی د دوی د قوم څخه چې نوم یې ناشیة بن ناموس خلیفه او ملک وټاکی.

دروښ وایي: چې معنی د ټاکلو د خدای داده چې د دوی په زړو کې اتفاق پر دغه خلیفه او ملک وروڅاوه، نو هغه خلیفه سو او خدای ﷻ ارمیا بن حلیقاد سبط څخه د هارون بن عمران اخي موسی علیه السلام نبي وټاکی تا چې ملک ناشیة ته لار وربښيې او په وحي سره یې پر لار برابره وي.

دروښ وایي: چې مظهري رح د ابن اسحاق څخه دا روایت چې ارمیا د خضر اصلي نوم دی آه دا عجبه خبره ده که ابن اسحاق ته نسبت د مظهري صحیح او که نه دا خبره ده نصه څخه د قرآن مخالفه ده. ولي چې خضر خو هغه سړی دی چې موسی علیه السلام یې طالب د ملاقات سو او څو زمانه ورسره وُ بیا ځندي جلا سو "کما نطق به القرآن" او دا موجوده واقعات خو وروسته د موسی علیه السلام تر وفات پېښې سوي دي، نو داسې خبري راوړه په تفسیر کې ناوړه او نازیبا دي فتدبر.

راویان وایي چې بیا نوي کارونه په بني اسرائیلو کې رونما سوه او د معاصي پر اوښانو سپاره او محارم د خدای یې تر پښو لاندي کړه، نو ارمیا علیه السلام ته خدای پاک وحي وکړې چې ورسه قوم ته دي یعني بني اسرائیلو ته نو دوی ته بیان که ما امرک به او زما سابق نعمتونه ورته بیان کړه او دوی ته خپل معاصي او نوي کارونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ور وښيه ارميا عليه السلام وويل ۲رب اني ضعيف ان لم تقويني (كه ته قوت نكړي را) عاجز ان لم تبلغني (عاجزيم كه ته ښونه راته ونه كړې) مخذول ان لم تنصرني (زه د خلګو د مقابلې څخه ښوبدلی يم كه كومک راسره ونه كړې)

خداى پاک ورته وويل چې ته نه يې خبر چې كارونه زما د مشية او ارادې څخه پيدا كېږي او زړونه او ژبې زما په قدرت كې دي ۲اقلبها كيف شئت اني معک لم يصل اليک شيئ معى (زه ستا سره يم يعني بالعون والنصرة نه رسېږي يعني من الضرر چې زه معاون يم، نو ارميا عليه السلام په مابين كې د قوم ودرېدى او حيران ۋ چې زه څه ووايم، نو خداى ﷻ الهام ورته وكړى فى الحال خطبة بليغه" چې ارميا عليه السلام بيان كړى قوم ته ثوابونه د طاعت د خداى ﷻ او عذابونه د معصيت د خداى په اخره خطبې كې ارميا د طرف څخه د خداى ﷻ وويل يعني خداى ﷻ :اني حلفت بعزتي (ما قسم اخستى دى په جپل عزت سره) لا قيضن لهم فتنة (زه به قضى كوم دوى لره يعني بني اسرائيلو لره په يوه فتنه سره) يتحير فيها الحليم (چې حيران به گرځي په هغه فتنه كې برد بار عاقل سړى) ولا سلطن عليهم جبار اقاسيا (هر آينه زه به مسلطوم پر دوى يو لوى ظالم چې سخت زړه به وي) البسه الهيبة وانزع من قلبه الرحمة (چې په هغه كالي د هيبت واغوندم پر بني اسرائيلو او زه به باسم د زړه څخه د هغه رحمت او زړه سوى پر دوى) يتبعه عسكر مثل سواد الليل المظلم (او د هغه سره ورسره لښكر لكه تاريكه د تاريكي شپې يعني لكه تاريكه ده شپې تاريكي چې سپوږمى نه وي پكښې توله خلګ په لفيټ كې نسي د غه رنګه به د هغه فوج توله بني اسرائيل په احاطه كې نسي) ثم اوحى الى ارميا اني مهلک بني اسرائيل باهل بابل تسلط عليهم بخت نصر البابلي (هغه ۋ چې بخت نصر په شپږ لكه عسكرو پر دوى حمله وكړه وبيت المقدس ته داخل سو او شام يې هم تر پښو لاندې كړى او د بني اسرائيلو قتل عام يې شروع كړى حتى قريب الفنا يې كړه او بيت المقدس يې لوټې لوټې كړى او خپل لښكر ته يې امر وركړى چې هر يو دې خپل د سفر بخل څولى د خاروند كه كړي په بيت المقدس كې ډې وغورځوي او تورات يې په اور وسوي، او بيا يې امر وكړى چې په بيت المقدس كې هر څه وگړي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بني اسرائيلو چي وي تر لويه تر كشني تر نر او بنځي ټوله دي راجمع كړه سي،

عسكر د بخت نصر هم د ده د امر سره موافق هغسي وكړه او بخت نصر اويا زره نا بالغه هلكان د بني اسرائيلو جلا كړه نو چي غنيمتونه د لښكر د ده جمع سول او ده اراده د تقسيم وكړه هغه بادشاهان چي د بخت نصر سره ملګري وه هغو ورته وويل "ايها الملك الغنائم كلها لك واقسم بيننا الغلمان" نو بخت نصر هم هغه اويا زره غلمان پر دغو بادشاهانو چي د ده سره په جنګ ملګري وه يې وېشل هر سړي ته څلور هلكان ورسېده، او بخت نصر بني اسرائيل باقي درې حصې كړه يوه حصه شام ته واستول، او يوه حصه او مريان يې د ځان سره بوتله چي په هغو كي ناشية بن اموص ملك بني اسرائيل هم وُ او يوه حصه يې قتل كړه نو بارە بابل ته ستا نه سو راوي وايي چي دا واقعه اولى وه "التي انزل على بني اسرائيل بسبب ظلمهم وعصيانهم كما قال الله عز وجل.

فاذا جاء وعد اولهما بعثنا عليهم عبادا لنا اولي بأس شديد" يعني بخت نصر ومن معه من العساكر والملوك" او بخت نصر خپل بادشاهي پر مخ بيول. راوي وايي چي اهل بابل وبخت نصر ته شكايت وكړى چي بنائسته هلكان د بني اسرائيلو چي زموږ په غوبنتنه تا موږ ته راكړه كما مر هغه چي زموږ كورو ته راغلي دي زموږ بنځو مخ واړاوه او د دې اسرائيليانو سره عشق بازي كوي دا هلكان يا زموږ څخه وباسه او يا يې قتل كړه بخت نصر ورته وويل چي تاسي پوهېږئ او دوى كه يې شړي كه يې قتل كوي، خلګو هغه اسرائيليان له كورو څخه لاس تړلي راويستل د قتل و ځاى ته، هغو و خداى ﷻ ته بغاري كړې، چي موږ د بل يعني زموږ د پلرو د ګنهو په سبب قتل كېږو، بشاري هاتفي ږغ ورته راغلى چي زه بيرته تاسي ژوندي كوم، خو خير اهل بابل هغه اسرائيليان چي ددوى په كورو كي وه هر څو زره چي وه قتل يې كړه مګر نه هغه اسرائيليان چي بخت نصر د خپل ديار په كورو كي پرې اينبي وه چي دانيال، حنانيا، عزرايا او عيتائيل وه. راوي وايي چي څه وخت چي د بخت نصر وخت د هلاک خداى پاک رانژدې كړى، نو يوه ورځ ددغو مذكوره اسرائيليانو څخه يې پوښتنه وكړه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه د بيت المقدس په نامه خونه چې ما خرابه کړه او دغه کسان چې ما هوري په قتل ورسول، تاسي ددې بيت اوددې خلګو حال ماته بيان کړي؟

هغو ورته وويل چې دا بيت الله وه او مقتولين د خداى ﷻ دوستان او اهل الله وه له اولادو څخه د انبيا کرامو عليهم السلام وه، لکن چې دوی او قوم زمور ظلم شروع کړی او د انبيا لاريې پرېښول او د تورات احکام يې پست پشت وغورځول، نو ددوی د ګنهو په سبب خداى ﷻ ته پر مسلط کړې او چې ودې کړه هغه دې وکړه يعني "القتل والغارة والسبي" او ددوی خداى ﷻ ودوی ته عزت او کرامت ورکړی وُ چې هغه خداى مالک د اسمانو او مځکې دی، نو يې خپل نعمت چې صحت او عافيت او کثرة الاموال والبنين وه څنډې واخستل يعني ته يې پر مسلط کړې، د بخت نصر جاهل دا خيال سو چې په اسمانو کې يو بادشاه سته چې دا کارونه کوي، نو بخت نصر دده په لاس کې نامورو کسانو ته وويل چې زما خو د مځکې سلطنت په لاس راغلی تاسي دا راته ووايئ چې زه به څرنګه اسمان ته وخېژم چې د اسمان د سلطان سره جنګ وکړم او په قتل يې ورسوم؟ هغو ورته وويل چې د اسمان ختل د چا له وسه نه ده پوره او خصوصاً د رب السموات سره جنګ کول د امکان له دائرې څخه وتلی کار دی، بخت نصر ورته وويل چې يا به ماته دغه لار رابنيايست يا موږ به وژنم، نو هغو ټولو کسانو خداى ﷻ ته بخاري کړې او تضرع يې وکړه "فبعث الله بقدرته بعوضة" يوه غوماشه چې د بخت نصر په پزه ننوتل او د سر و مغزو ته ددې يې ځان ورساوه، کرار کرار يې ددې په مغزو خپل نېښ جګاوه بخت نصر نه خوب کولای سوای او نه ارام، او سر يې له دېوالې دېوالې واهه سر يې دوه ځايه سو خلګو چې وکتل هغه غوماشه يې په مغزو اخته وه "ليرى الله قدرته ويحى الله من بقى من بنى اسرائيل فردهم الله الى الشام، خلګ وايي دروېش يې ذمه وار نه دی چې هغه دمخه چې وژل سوي وه هغه کسان هم خداى ﷻ ور ژوندي کړه.

پوه سه: چې امام حافظ محدث مظهري رحمه الله وايي چې هغه دمخه چې باقيمانده وروسته تر هلاک د بخت نصر وشام ته داخل سوه هيڅ د خداى ﷻ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احکامو څخه نه وه ورته معلوم. او تورات د بخت نصر په حمله کي سوځل سوی و او عزیر علیه السلام بخت نصر د مریانو په توګه بابل ته بیولی و، نو هغه هم شام ته راغلی او پر حالت زار به یې د سبایاوو شپه او ورځ ژړل او له خلګو څخه به ځلا ناست و، یوه ورځ یو سړی راغلی عزیر علیه السلام ته یې وویل "مایبکیک یاعزیر؟" ده ورته وویل چې پر کتاب الله تورات باندې ژاړم چې زموږ په منځ کي اوس نسته او زموږ د دنیا او د آخرت اصلاح په تورات پورې مربوط وه، هغه سړي ورته وویل چې ستا خوښه ده چې تورات ستا په سینې او زړه کي قرار ونیسي ده ورته وویل نعم، هغه سړي ورته وویل چې ته ولاړ سه روژه ونیسه او غسل وکړه او پاک کالي واغونده بله ورځ دغه ځای ته راسه. عزیر علیه السلام ولاړ هغه سي یې وکړه بله ورځ چې هغه ځای ته راغلی هغه سړی هم راغلی یو لوښی ورسره وو، او په هغه لوښي کي اوبه وې چې دا سړی په حقیقت کي ملکه وه. هغه اوبه چې یې په عزیر علیه السلام وڅیښلې په قدرت د خدای ﷻ تورات مکمل دده په سینه کي ضبط سو، نو عزیر علیه السلام بني اسرائیلو ته راغلی او تورات "عن ظهر قلب" یې دوئ ته ووایه. نو بني اسرائیلو زیات محبت دده سره کاوه، او احکام د تورات بې ځندي زده کول، څو عمر وروسته عزیر علیه السلام وفات سو، انتهی قول المظهري په پښتو ژباړه.

دروښ وایي: چې مظهري رح دا قصه په نهایت اختصار سره د عزیر علیه السلام د حال بیان کړې ده. ده هغه آیتونه پرې اښې دي چې د عزیر علیه السلام په شان کي نازل سوي دي، چې دی چې بیت المقدس ته راغلی پر خره سپور وو، او د ابو مشکولا ورسره وه، او یوه بغل ځولی هم ورسره وه، او تخریب شده حال د بیت المقدس او لوتې لوتې یې ولېدل داسي وویل "انی یحي هذه الله بعد موتها" څه رنګه به خدای آباده کړي دا قریه پس له موت یعني له خراب څخه او دا خبره ده له جهته څخه د شک په قدرت کي د خدای ﷻ نه وه. بلکه د تعجب عادي د لاري او ده خر په یو ځای کي وتاړه او د خرابي قریه درختو مېوه لکه اینځر انګور پاڅه وه، نو څه اینځر یې وخوړل او څو دانې د اینځر یې په توکرۍ یا بغل ځولی کي واچول او څه انګور یې وخوړل او نور یې اوبه کړه په مشکولا کې واچول او دی د آرام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره یو ځای پېښه سو "قال الله فاماته مائة عام ثم بعثه" نو خدای ﷻ دی مړ کړی سل (۱۰۰) کاله وروسته یې بیرته ژوندی کړی لپاره د اظهار د قدرت عظیم خپل جواباً لقوله "انی یحی هذه الله بعد موتها" که څه هم هغه د عزیر د شک لپاره نه وه بلکه د تعجب د لاري خدای ﷻ به په اعجب تر هغه جواب ورکړی، نو دی د مرګ له اوږده خوبه سل کاله وروسته راویښ ارسو، یعنې خدای ژوند ی کړی، قال الله "کم لبثت قال یو مًا او بعض یوم "خدای ورته وویل "کم څو درنګ. ولته کړی عزیر علیه السلام ورته وویل یوه ورځ یا بعض د ورځې قال الله " بل لبث مائة عام" قال الله "فانظر الی طعامک" یعنې اینځر "و شرابک" یعنې و لنګ وروګوره لم یتسنه" چې هیڅ تغیر یې په دا سل کاله کې نه وکړی تازه په تازه یې راته وده و ده د خره غوښې او پوستوکې تولې خاورې سوې وه، صرف سپین هډوکې یې پراته وه، قال الله "وانظر الی حمارک (او خره ته دې وګوره) کیف ننشرها ثم نکسوها لحمًا (چې خره رنګه به یې مړ هډوکې سره یو ځای کړو، او بیا به په واغوندو غوښې قال الله تعالی "فلما تبین له ذالک قال اعلم ان الله علی کل شئ قدیر" عزیر علیه السلام ته چې دا عجائب د قدرت معلوم سوه وه یې ویل چې زما یقین سو چې خدای ﷻ پر هر شي قادر دی "ومنها احیاً هذه القریة بعد موتها".

دروېش وایي: چې دا بیان د اختصار د مظهري ؒ دی په قصه کې د عزیر علیه السلام او دا قصه نوره هم پسې اوږده ده کما بین في موضع آخر.

دروېش وایي: چې امام مظهري په خپل اوږد بیان کې یو ځوب د بخت نصر هم راوړی دی چې هغه له عقل او نقل دوارو څخه بعید دی او سره ددې چې مظهري په صفحه (۴۰۵) کې ویلي دي "قال البغوي قال محمد بن اسحاق ؒ والله اعلم بحقیقة الحال.

دروېش وایي: چې اوس بیرته د بني اسرائیلو د پاته قصې پر لور، څه وخت چې عزیر علیه السلام وفات سو بني اسرائیلو بیرته خپل احداث د دین او د تورات څخه خلاف پر کار واچول، خدای ﷻ خپل احسان له دوی څخه ونه سپماوه او رسول یې یو په بل پسې ورته راواستول، نو دوی د نبیانو د یوې ډلې تکذیب کاوه او بلله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دله يې وژل حتى چې په اخير کې زکريا، يحيى او عيسى عليهم السلام يې په نوبت سره راواستول او دا درې نبيان له آل څخه د داؤد عليه السلام وه. بعض راويان وايي چې زکريا عليه السلام په خدايي مرګ مړ سو ځوک وايي دوی قتل کړی، خير يحيى عليه السلام خو يقيناً دوی شهيد کړی او د عيسى عليه السلام د قتل بندوبست يې هم کړی و خو هغه خدای ﷻ اسمانو ته ځندي پورته کړی چې قصه يې اوږده ده، په دې مکافات کې خدای ﷻ پر دوی بل باچا د بابل پر مسلط کړی چې نوم يې خردوش و، نو دې باچا اهل بابل د ځانه سره راوستل او شام ته داخل سو او بني اسرائيل يې له پښو واچول مغلوب يې کړه او خردوش خپل يو غټ قومندان فوجي چې نوم يې يورذاذان و چې پر فيل به سپرېدی. هغه ته يې وويل چې ما قسم کړی دی که ما پر بني اسرائيلو غلبه وکړه زه به دوی تر هغو پوري وژنم چې وينې ددوی زما د لښکر په منځ کې بهېږي الا ان لااجد احداً اقتله. نو فوجي قومندان ته يې د بني اسرائيلو د قتل عام امر ورکړی تر څو چې وينې يې د لښکر په منځ بهېږي. راوي وايي چې قومندان مذکور بيت المقدس ته ورغلی يو ځای يې وليدی چې په هغه ځای کې به بني اسرائيلو د خيرات حيوانات ذبح کول. نو په هغه ځای کې قومندان مذکور وليدل چې له منځکې څخه د وينو چينه راوځي، نو قومندان ورته وويل چې يا بني اسرائيل ما شان هذا الدم؟ يعني دا څرنګه وينې له منځکې راوځي؟ دوی ووېل چې د خيرات د يوه حيوان وينه ده چې خدای ﷻ زمونږ څخه نه کړی قبول او دوی ورته زياته کړه چې مونږ اته سوه (٨٠٠) کاله کېږي چې پر دغه ځای حيواني خيراتونه کوو تولې خدای قبول کړه دغه يو يې نه دی قبول کړی. قومندان مذکور ورته وويل چې رشتيا مو نه دي راته ويلي، دوی ورته وويل که اوله زمانه زمونږ وای دا خيرات به هم راځځه قبول سوی وای لکن زمونږ بادشاهي او نبوت او وحي قطع سوې "ولذالک لم يقبل منا" بيا قومندان ورته وويل چې رشتيا مو نه دي راته ويلي، دوی ورته وويل چې داغه رشتيا ده، نو قومندان مذکور اووه سوه اوويا (٧٧٠) کسه د دغه وينو پر ځای قتل کړه وينه نه ودرېدل، قومندان مذکور بيا اووه سوه (٧٠٠) ځوانان ددوی راوستل او پر هغه ځای يې قتل کړه وينه ونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درېدل اخير قومندان مذكور ورته وويل چې رشتيا راته ونه واياست ترڅرو او تر ښځو پورې دومره سړي والله كه درپرېږدم چې اور پوه كړي "فلما رؤا الجهد اى عزم قومندان وشدة القتل" نو يې رشتيا ورته وويل، چې زمونږ يو نبي ؤ چې مونږ يې له دېرو منهياتو څخه منع كولو او د خداى ﷻ د عذاب الدنيا والآخرة بيان يې راته كاوه مونږ يې تصديق نه كاوه اخير مو قتل كړى، قومندان ورته وويل چې نوم يې څه ؤ؟ دوى ورته وويل چې نوم يې يحيى ؤ دده د قتل را ايسته چې مونږ دى دلته پر دغه ځاى قتل كړى وينه جاري ده، قومندان مذكور ورته وويل چې اوس مو رشتيا راته وويل، نو يبورذاذان پر سجده پرېوتى او بني اسرائيلو ته يې وويل چې دروازې د بيت المقدس وتړئ او د خردوش فوج وباسئ، نو دى او بني اسرائيل سره پاته سوه او ده وويل يا يحيى بن زكريا قد علم ربي وربك ما اصاب قومك من اجلك" يعني ستا د قتل له سببه، او داغه رنگه خداى خبر دى قه ماقتل منهم فاهدر باذن ربك، نو وينه ودروه په اجازه د خداى ﷻ دمخه تردې چې ستا له قوم څخه هيڅ څوك نه پاتېږي، نو وينه ودرېدل باذن الله تعالى او يبورذاذان قتل د بني اسرائيل متوقف كړى، او قومندان مذكور داسې وويل "آمنت بما آمنت به بنو اسرائيل وايقنت انه لارب غيره" او بني اسرائيلو ته يې وويل چې خردوش ماته امر راكړى دى چې بني اسرائيل تر هغو پورې وژنه چې وينې ددوى د عسكرو په منځ وبهېږي او زه نه سم كولاى چې دده نافرماني وكړم ولې چې ما في الحال وژني، نو ده بني اسرائيل امر كړه چې يو خندق وكني او خپل تولە مالونه كه غوايي وي كه آسان وي كه پسون: بزې، خره او غاطري وي په دې خندق كې ذبح كړي او په ګډه به خداى ﷻ ته عجز وكړو چې يو څه باران پر دغو وينو وه اوروي تاچې دغه وينې د خردوش تر عسكرو پورې ورسېږي، دوى هغسې وكړه او وينه د خردوش تر عسكرو پورې ورسېدله، ملك خردوش خپل قومندان ته امر وكړى چې د بني اسرائيلو قتل بس كړه دده دا ګمان ؤ چې دا تولې سړې اوبه د بني اسرائيلو وينې دي، ثم انصرف خردوش الى بابل او بني اسرائيل تقريبًا و فنا ته نژدې سوه، راوي وايي چې دويم او اخيرې عذاب د خداى ﷻ دى چې پر بني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرائيلو نازل كړى وهو معنى قوله تعالى "لتفسدن في الارض مرتين" اول وار تسلط د بخت نصر او دده د فوج ؤ او دويم وار تسلط د خردوش او دده د لښكرو، دا دويمه پيښه تر اولي ډېره بالا وه، وروسته د بني اسرائيلو بيرغ ختم سو او سلطنت پر دوى وه روميانو او يونانيانو ته په لاس ورغلى، لكن په بيت المقدس كي او په نواحيو كي ددوى رياست ؤ لكن نه وجه بادشاهي "وكانوا في نعمة من الله" تر څو چې بيا يې احداث شروع كړه او د تورات احكام يې پښت پشت وگرځول بيا خداى ﷻ طيطوس بن اسيانوس رومي پر مسلط كړى، نو ددوى ښارونه يې تولـه ورمنهدم كړه او دوى يې وشړل او بيت المقدس داغسې خراب پاته ؤ او د بني اسرائيلو لـه لاس څخـه رياست او بادشاهي تولـه ولاړه او پر دوى جزيه ولگول سوه، حتى چې عمر بن الخطاب ﷺ او مسلمانانو د هغـه وخت بنا د بيت المقدس په اعلى پيمانه تكميل ته ورسول.

پوښتنه: طغيان د بني اسرائيلو او يرغل پر دوى خو په بخت نصر او خردوش سره ختم سوه، نو حمله پر دوى د طيطوس رومي او منهدم كول د بيت المقدس كومه مرة ده؟

ځواب: خداى ﷻ وايي "وان عدتم عدنا" دا حمله د طيطوس رومي په دغه آيت كي داخله ده، والله اعلم، بغوي ؒ وايي چا چې دا روايت كړى دى چې بخت نصر د بني اسرائيلو سره جنگ هغـه وخت كړى دى چې دوى يحيى بن زكريا عليه السلام قتل كړى، غلط روايت دى په نېز د اهل د علم سيرت، بلكې علماء د علم سيرت متفق دي پر دې باندې چې بخت نصر چې غزا وكړه د بني اسرائيلو سره هغه وخت ؤ چې دوى شعيا عليه السلام په وخت د سلطنت د ارميا او له وخت څخه د ارميا او د تخريب د بيت المقدس تر مولد پورې د يحيى عليه السلام څلور سوه يو شپېته (٤٦١) كاله فاصله وه.

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ۘ

شايد خداى ستاسي "يا بني اسرائيل" وروسته تر دې عذابونو پر تاسي دي رحم وكړي "يعني كه مو ايمان راوړى بمحمد ﷺ او عملونه مو خپل وكړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باتباع احكام القرآن" او كه تاسي عود وكړي و معصيت ته او مخالفة الرسول" مړ به هم وگرځو انتقام ته ستاسي.

دروښ وايي: چې خداى ﷻ رحم وكړي پر هغو كسانو چې ايمان يې راوړي پر عليه الصلوة والسلام لكه عبد الله بن سلام او دده د اكا زامن ﷺ وكعب الاحبار من اليهود والنجاشي ﷺ من الحبشة چې نوم يې اصحمة وٴ. او نجاشي په اصطلاح د حبشې و هر باچا ته وايي "وغيرهم من المؤمنين، او خداى ﷻ په بل ځاى كې د قرآن عزيز ددوى صفت كړى دى بقوله تعالى "من اهل الكتاب امة قائمة يتلون آيات الله انآء الليل وهم يسجدون" او په بل ځاى كې بقوله تعالى "واذا سمعوا ما انزل اليهم ترى اعينهم تفيض من الدمع" بنو قريضه او بني النضير او يهودان د خيبر او د فدك په مخاصمت د عليه الصلوة والسلام يې لاس پورې كړى او دده مبارک د قتل اراده يې وكړه او جنگونه يې ورسره شروع كړه او په عليه الصلوة والسلام يې جادو وكړى او په خيبر كې دده په خوړو كې يې زهر ور اچولي وه، نو خداى ﷻ عود و انتقام ته ددوى وكړى چې بني قريضه ټوله په قتل ورسول سوه "بايدي المؤمنين" او بنو النضير يې جلا وطنه كړه او پر دوى يې جزيه مقرره كړه.

وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ۝

او موږ گرځولى دى دوزخ د كفارو لپاره.

پوه سه: "حصير" محبس يا بندي خانې ته وايي. يعني په قيامت كې د كفارو دوزخ ابدي بندي خانه ده چې هيڅ وخت نه سي خلاصيدى وتلاى. او "حصير" بوريا ته هم وايي چې خلگ يې اواړه كړي او پر كښېني. والمعنى دوزخ ددوى لپاره بساط مفروش دى.

اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ اَقْوَمُ

په تحقيق دا قرآن منزل ښوونه يعني ټوله انس او جن ته ده.

پوه سه: چې د "التي" موصوف طريقه ده يعني هغه لاري ته چې تر ټولو لاروِ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سمه او سيده ده يعني دين الاسلام. او دا احتمال سته چي موصوف د التي دي كلمة وي يعني هغه كلمې ته چي اعدل الكلمات ده يعني "لا اله الا الله محمد رسول الله"

وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا كَبِيرًا ۙ﴿٩﴾

او دا قرآن زېرى كوي (عطف دى پر يهدي) مؤمنانو ته هغه مؤمنان چي اعمال صالحه كوي په دې سره چي دوى لره يعني د آخرت ثواب سته لوى چي جنت دى.

دروبش وايي: چي اجر يې په كبير سره موصوف كړى "الان الجنة فيها ما لاعين رئت ولا اذن سمعت ولاخطر على قلب بشر رزقنا الله تعالى واياكم هذه النعمة العظمى بمحض فضله.

وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٠﴾

پوه سه: چي ددې آيت سره "يخبر" محذوف سته، نو عطف دى پر مبشر باندې يعني دا قرآن خبر وركوي و هغو كسانو ته چي ايمان نه لري پر ورځ د آخرت يعني له بعث بعد الموت څخه منكر وي په دې سره چي مونږ اراسته كړى ددوى لپاره عذاب درد ورکونكى.

فائده: "اليم" كه څه هم فعيل لپاره د مجرد دى لكن دلته يې معنا د مفعل دى چي اسم فاعل له بابه د افعال دى. او بعض مفسران وايي چي فعيل په معنى د فاعل له بابه د مجرد دى يعني درد كونكى "والتوصيف به جار على المبالغة مثل ظل ظليل، وليل لئيل".

دروبش وايي: چي دا دوه تاويله جاري دي په قوله قرآن كريم كي چي توصيف د عذاب وسي په اليم سره "فلا تغفل واكتبهما على قرطاس العقل بمداد الحفظ.

پوه سه: چي مفسرين وايي چي قرآن د اسم الله الهادي مظهر دى، او قرآن كتاب الله الصامت دى، او رسول كريم ﷺ كتاب الله الناطق دى، له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى "اذ ارتم العلم فآثروا القرآن فان فيه علم الاولين والآخرين" ترجمه: كه تاسي علم غواړئ نو مختاره كړئ قرآن، يعني قرآن زده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړئ په تحقیق سره، ولي چې په قرآن کې علم د اولینو او اخرینو دی.

دروېش لفظ د تحقیق ووایه چې بعض ملایان د عصر حاضر د تولـه قرآن ترجمه په څلوېښت ورځې کې کوي "ولهذا نسب الامام الاعظم ابي حنیفة رحمه الله:

جمیع العلم في القرآن لکن ..... تقاصرت عنه افهام الرجال

او ابن مبارک رح په مدح کې د امام اعظم رحمه الله یوه قصیده ویلې ده چې په طور د نمونه مشت خروار دا یو بیت واورئ:

فما بالمشرقین له نظیر ..... ولا بالمغربین ولا بکوفة

وروسته تر هغه بیت

لقد زان البلاد ومن علیها ..... امام المسلمین ابو حنیفة رح

وانما نقلت هذا علی زعم انف الوهابیة وغیرهم.

حکایت: بعض اهل الله عارفان وایې چې په قرآن کریم کې به داسې آیت پیدا کړم چې د هغه حدیث نبوي ﷺ تائید په وسې چې علیه الصلوة والسلام فرمایلي دي "یخرج روح المؤمن من جسده کما یخرج الشعر من العجین" وځي روح د مؤمن د ده د بند څخه یعني په وخت کې د قبض د روح لکه چې یو وېښته چې وزي د څمیرو اوږو څخه یعني لکه وېښته چې سړی د خمیر اوږو څخه کاږي هغه ډېر په اسانۍ سره کښل کېږي دارنګه روح د مؤمن د جسد څخه د ده په اسانۍ سره وزي، عارف رحمه الله وایې چې قرآن مبارک مې په ډېر غور سره ختم لکن تائید د حدیث مذکور مې نه کې پکښې پیدا دی وایې چې مانبام ما علیه الصلوة والسلام په خوب ولېدی ما ورته وویل یا رسول الله خدای جل شانه په قرآن کریم کې فرمایلي دي "ولا رطب ولا یابس الا في کتاب مبین" او ما مؤید د حدیث مذکور په قرآن کریم کې نه کړی پیدا فقال علیه السلام "قد اطلبه في سورة یوسف" دی وایې چې زه چې د خوبه را بیدا سوم سورة یوسف مې قرائت کې هغه د حدیث شریف تائید مې په دغه آیت کې پیدا کې "فَلَمَّا رَأَيْنَهُۥٓ أَكْبَرْنَهُۥ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ"

ترجمه: چې هغه بنځې چې پر زلیخا په محبت د یوسف چې د دې مریې وې غیبت کاوه، نو دې هغه ته ولې میلمنې کړې او مالټې یا نارنج چې په چاکو پوستېږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د دوی هرې یوې په لاس یې تېره چاړه ورکړه یوسف علیه السلام یې پرې راواېستی دوی د یوسف علیه السلام جمال ته کتل سترګې یې په ده کې سوې چرې یې پر خپلو لاسو تېرولې د نارنج په ځای کې او د قطع الید په خوږوالي نه پوهېدلې، نو دا فکر ما وکړی چې جمال د یوسف علیه السلام دوی دونه بېهوښه کړې چې د قطع الید په درد نه پوهېدلې، نو چې څه رنګه ملکي د زلیخا نه وخت کې ده ته درختي د جنت او ځای د ده په جنت کې وربښکاره کړي او نعیم د جنت او حوري غلمان په ووېنې، نو مؤمن په الم د قبض څه به په پوه سي.

دروښ وايي: چې د دې حکایت څخه دا معلومه سوه چې د قرآن وظیفه دې سړی په کامل فکر او تدبر سره کوي ځکه چې علیه الصلوة والسلام نهي کړې دي د ختم د قرآن په کم تر دریو ورځې.

وَيَدْعُ الْإِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهُ بِالْخَيْرِ ۖ

او خواست کوي انسان یعني بنرا کوي چې د ده پاره شر وي ځان ته د غضب په وخت کې مثلاً داسې وایي خدایه ما په سترګو روند کې چې زه بیا دا اهل او عیال نه وینم یا اهل ته چې بنرا کوي چې درد ورسي زوی ته وایي په سترګو روند سې یا کور دې خراب سه، لکه دعا بالخیر یعني په جد سره مثلا "ربنا آتنا في الدنیا حسنة وفي الاخرة حسنة وقنا عذاب النار" الی غیر ذالک من الادعیة الحسنة، لکن خدای جل سلطانه د ده په حال خبر دی چې دی په دعا د شر راضي نه دی بلکه غضب یې باعث د دغه دعا شر ګرځېدلی ؤ، نو یې دعا د شر نه قبلوي.

پوه سه: چې واو د "یدع" چې په لفظ کې حذف کې په سبب د التقا د دوو ساکنو چې یو واو او بل لام د الانسان یې د خط څخه حذف کړی که څه هم قیاس ده خط نه دی لکن خلاف القیاس یې حذف کړي لمتابعة خط المصحف العثماني. یعني د انسان دا عادت دی چې ډېر درد ورسي وځان ته بنرا کوي او فرزند او ماینې ته هم بنرا کوي.

وَكَانَ الْإِنْسَانُ عَجُولًا ﴿١١﴾

او دی انسان تلواري چې هر څه پرې زړه ورغله هغه په خوله وایي او په عاقبت کې فکر نه وي. چې ما چې زوی ته وویل په سترګو روند سې مثلا دا دعا که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قبول سي عاقبت به يې څه وي، ابن جرير د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې مراد د انسان څخه آدم عليه السلام دی ولې د ده روح چې تر نامه پورې دی ولاړ دی باره غوڅار سو ولې چې روح يې تر نصف اسفل پورې نه ورسېدلی، او بعض مفسرين وايي چې مراد د انسان څخه کافر دی او مراد د دعا څخه يې دعا بالعذاب ده استهزاً لکه دا قول د نضر بن الحارث "ان كان هذا (يعني دين الاسلام) هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة من السماء" ولې چې دا حق خو موږ نه منو نو ته د خپل را استولي حق مکافات د موږ څخه واخله "فضرب عنقه يوم بدر صبراً" يعني نه په جنګ کې بلکه ژوندي مسلمانانو ونيوی او عليه السلام د ضرب العنق امر ورکړی. علماً دين وايي چې تعجيل اول وار ابليس کړی دی چې خداى جلت حکمته دی مامور کی په سجده و آدم عليه السلام ته بالفور پهله فکر وهلو د خداى عزوجل په حکمت کې جواب ورکړی "انا خير منه" ابى واستكبر وكان من الكافرين" مګر په شپږ ځايه کې تعجيل واجب يا مستحب دی (١) د لمانځه کول چې وقت يې داخل سي يعنى الوقت المستحب (٢) ودفن الميت اذا حضر يعني داسي به وايې چې فلانی نه دی راغلی يا زوی يې مثلاً د قندهاره را روان دی چې هغه راسي بيا به يې دفن کړو (٣) نکاح د بکرې بښځې چې مرانې ته ورسېږي بالحيض اوالسن يعني "اذا وجد الكفو" داسي به نه وايې چې په دې لکه روپۍ يې ورکوم يا دوئه مقدار روپۍ زه خورم او دوئه روپۍ په لور خرڅوم (٤) ادا کول د پور دی چې مدت يې پوره سي يعني دا به نه ورته وايې صبا راسه ميا شت بعد راسه چې دې ته امهال وايې (٥) ژر ډوډۍ ورکول مېلمه ته چې ستا کورته راسي يعني که څه هم ستا عادت دا وي چې ته ډوډۍ يې (١٢) بجو مثلاً د شپې خورې لکن مېلمه چې راسي دمښې ډوډۍ تياره وه او مړوه يې ولې چې ته څه خبر يې چې دی به وړی وي (٦) تعجيل د توبې چې گناه در څخه وسي. قال الشاعر الفارسي رحمه الله.

تو به بکن امروز تو هر گز مگو فردا کنم
شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي واقدي ؒ په مغازي ؤ د مولى (يعني مريي) د عائشة ؓ او مولى د مذکوره عائشة ؓ داسي يو روايت کړى دى په شان نزول کي د دې آيت چي يوه ورځ يو بندي (کافر) راوستى کورته او ماته يې وويل چي فکر پر کوه چي ونه تښتي دا وايي چي يو د ښځه راغله زه د هغې په مجلس اخته سوم بندي ده فهم څخه ووتى او هغه بندي تښتېدلى ؤ ؑ چي وروسته کورته راغلى او د بندي پوښتنه يې وکړه ما ورته وويل خبره نه يم زه ځندي غافله وم نو دى وتلى دى، نو ؑ په دې الفاظو ښيرا راته وکړه "قطع الله يدک" او فوراً باندي ووتى او نعره يې وکړه چي فلانى بندي تښتېدلى دى خلګو ته يې وويل چي چابک پسي وګورئ او پيدا يې کړئ خپر بندي خو خلګو پيدا کړى، بيا چي مانښام ؑ زما خوني ته راغلى ما لاس کړاوه ده راته وويل چي څه کوې ما ورته وويل چي د ښيرا څخه بېربېږم چي کله به مي لاس قطع سي، نو ؑ دوارې لاس د دعا لپاره پورته کړه او داسي يې وويل "اني بشر اسف واغضب (عطف تفسير دى) كما يغضب البشر فأيما مؤمن او مؤمنة دعوت عليه بدعوة، چي زه ښيرا ورته وکړم كما يدل عليه لفظه علي "لانها للضرر كما ان لفظه لام يدل على دعا الخير كما في قوله دعوت له" فاجعلها له زكوة ورحمة (وګرځوي هغه زما ښيرا د هغه د پاره پاکي د ګناه څخه او رحمت، والله اعلم بمراده في كتابه.

دروښ وايي: چي ناقل دى صاحب د جرح او تعديل نه دى.

وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ

او ګرځولي دي موږ شپه او ورځ دوي علامې د قدرت چي پر يوه نسق روانې دى كه څه هم كال په كال مياشت په مياشت د خپل اسلوب څخه تغير كول ممكن وه.

پوه سه: چي اضافت د آيت وليل ته بيا نيه ده الآية التي هي الليل والمعنى "وجعلنا الليل مظلمة" تاريكه.

سوال: شپه چي تر له شپه سپوږمى تابان وي خو مظلمة نه وي؟

جواب: كه څه هم سپوږمى وي لكن محكمه خو دونه نه سي روښانه كولاى لكه ورځ كما هو ظاهر "للدواب ايضا"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً

او موږ کړځولې ده آیت چې ورځ ده (فالاضافة ایضا بیانیة) روښانه کړ څه هم عامه ورځ وي، او یا معنی دا ده "مبصرة للناس للکسب والتجارة والاجرة لعموم الناس فلا یرد ما یتوهم فافهم"

پوښتنه: په بل ځای کې د قرآن کریم خدای ﷻ داسې ویلې دي "وجعلنا ابن مریم وامه آیة" یعنې لفظ د آیة یې مفرد راوړی دی او دلته یې تثنیه راوړه حکمت یې څه دی؟

ځواب: لیل او نهار خو سره ضد دي او عیسیٰ او مور د ده خو سره ضد نه وه، او دا هم سبب کېدای سي چې عیسیٰ علیه السلام او مور د ده په یوه وخت کې سره جمع وه "بخلاف اللیل والنهار لانهما لا یجتمعان ابداً".

لِتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ

چې تاسې ذلب کې فضلاً د خدای ﷻ

دروښ وایي: چې دا فائده مشترکه ده لیل او د نهار. نو د فضل څخه مراد استراحت دی د شپې او ځان فارغه کول دي و لمانځه ده تهجد ته چې افضل د نوافلو لمنځو دی "لعدم دخل الریاً والسمعة فیها اللهم الا ان یضم الیها المتهجد باللیل الریاً والسمعة بالقول" لکه چې ووایې چې د شپې داسې وختې را وښې سوم یا اوږد رکعت نفل مې د شپې وکړی او غیر ذالک او د ورځې فضل علاوه پر لمنځو د ورځې طلب دی معاش او نفقه د عیال "بالتجارة المختلفة النوع والاجرة وغیرها.

وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۭ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ۝

دا هم فائده مشترکه ده چې تاسې پوه سئ په سبب د اختلاف اللیل والنهار په عدد د کلو چې یو قمري حساب دی چې په هغه پورې امور دینیه مربوط لکه روژه او حج وغیر ذالک او په شمسي حساب پورې "پسرلی او دوبی" او مني مربوط دي او ژمی هم چې د دغه فصلو په پیژندلو امور د دنیا لکه کښت کرل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اورپبل الی غیر ذالک اړه لري" او هغه کسان چې په شمسي حساب نه پوهيږي لکه مالداران او عوام د پښتنو او د عربو هغه بيا د پېرونې او د ستورو د حساب څخه کار اخلي يا د قمري مياشتو څخه او مراد د حساب څخه مطالق حساب دی که د هفتو وي که د مياشتو او که وعده د پورې وي او هر شی د امورو څخه د دين او د دنيا چې انسان ورته محتاجه وي موږ يې تفصيل کړی په قرآن کې تفصيل شافي او کافي او بيان واضح.

فائده: يوه سنه چې سنه شمسي عبارت ده د رسيدو څخه د لمر و هغه تقطې ته چې د هغه نقل سوی لکه په اوسني عرف کې اول د حمل، او سنه شمسي درې سوه او پينځه شپيته ورځې او يوه ربع اليوم، او سنه قمري (۱۲) مياشتي قمري ده چې مدت يې درې سوه او څلور پنځوس ورځې او دريم د ورځې ده کذا في کتب الرياضي.

وَكُلَّ إِنسَانٍ أَلْزَمْنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِى عُنُقِهِۦ

پوه سه: چې لفظ د کل منصوب دی علی شريطة التفسير کذا في کتب النحو، ابن عباس ﷺ يې تفسير داسې کړی دی چې مراد د طائر څخه عمل د انسان دی وما قدر عليه لازم د ده سره دی چې د ده سره دی د ده سره به ورسره وي تر څو چې د ده حساب کول کيږي، او حسن وايي چې يمنه و شومه.

دروېش وايي: چې د دې درو (۳) تفسيرو مرجع ويوه شي ته ده.

فائده: د انسان څخه مراد انسان مکلف دی که مؤمن وي که کافر، که نر وي که ښځه که عالم او که امي، که باچا وي که رعيت، که حر وي او که مريی.

فائده: طائر په اصل کې مرغه ته وايي د عمله د انسان څخه تعبير په طائر سره وسو د دې سببه گويا د عمله د ده چې مکلف اختيار سره کړی وي يو مرغه دی چې د ځالگی څخه د غيب او د قدر آلهي را الوتی دی.

فائده: عنق غاړې ته وايي چونکه ځای د بنائست غاړه ده په غاړگی او په اميل وغيره سره چې عبارت د نېک عمل څخه دی، او د غه رنگه ځای د بد نامی غاړه ده چې په غاړه کې د انسان تناو چې عمل يې بولي اچول کيږي چې عبارت د بد عمل څخه دی، نو هم د دې سببه په اعضاؤ کې د انسان غاړه مختاره کړه،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والحاصل چي بنه عمل او بد عمل لکه غاړکی یا طوق د ده سره لازم "لا ینفک عنه الی یوم الحساب" نو د دې آیت الفاظ مبني پر مجاز او استعاره دي.

بیت: که هر نیک وبد که از من آید ..... قلاده وغل در گردن آید

په کشاف کي وایي چي دا تعبیرات بنا دي پر اصطلاح د عربو د جاهلیت چي دوی به د یو سفر یا تجارت اراده وکړه فال به یې په مرغه سره کاوه چي دا مرغه دوی زجر باله، نو دوی به مرغه د خپله ځای څخه زجر کړی. نو که دا مرغه به د چپه لاس د خوا د زاجر د راسته لاس وخواته تېر سو. نو دوی په دې نیک فالي کوله اوودې ته دوی سانح وایه. او که راسته لاس د خوا به و چپه لاس وخواته تېر سو دوی بد فالي په کوله او دې ته یې بارح وایه. فلما نسبوا الخیر والشر الی الطائر استیر استعارة تصریحة لقدره تعالی وعمل العبد لانه سبب الخیر والشر"

دروښ وایي: چي دا تفسیر د کشاف د روح المعاني، او تفسیر مظهري او بیضاوي غوره کړی دی او روح البیان هم په اختصار سره اشاره ورته کړې ده حاصل دا دی چي په دې آیت کي د استعارة او مجاز څخه چاره نسته او معنا چي مراد ده هغه ظاهر ده د تفسیره د ابن عباس رضي الله عنهما وغیره "من قدماء المفسرین کما ذکرناه، ومع هذا یقول الفقیر: الله جل سلطانه اعلم بمراده في کتابه. او تفسیر ددې آیت چي د فقیر له توان څخه کېدی.

وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ﴿۱۳﴾

او موږ په راوباسو هر انسان لپاره د حساب په ورځ د قیامت یعني چي ورځ د حساب او کتاب ده، یو کتاب یعني عملنامه چي حفظه کرامو په کښي ټوله خیر او شر ذره په ذره بېله نقصه او زیادته نوشته کړي وي. چي دا انسان دا کتاب ووینې او پیدا به یې کړي خلاص یعني چي انسان مړ سي عملنامه یې ملکې سره وپېچي یا په علیین کي یا په سجین کي یې جمع کړي او په ورځ د قیامت یې خلاصه و انسان ته ورکړي اما بیمینه و اما بشماله او خلف ظهره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِقْرَأْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿۱۴﴾

ووايه ته يعني ملكي به ورته ووايي "اقرأ آه" او يا به په عمل نامه كي دا نوشته وي كافي دى تا لره ستا ځان. نو بازائده ده والاصل كفى نفسك نحو كفى بالله الآية" ننه ورځ پر تا باندي من حيث الحساب نو حسيباً تميز دى له نسبت څخه د كفى ونفسك ته او على متعلق دى په حسيباً پوري، او حسيب يا په معنى د حاسب دى لكه صريم په معنى د صارم دى او يا په معنا د كافي دى.

سوال: دا عمل نامه او دا وينا څو نر او ښځي دواړو ته ده، نو دوه ځايه كاف د تذكير څرنگه راوړى؟

ځواب: نفس په معنى د شخص دى، شخص نر او ښځي دواړو ته شامل دى ولهذا حسيباً يې هم مذكر راوړى.

سوال: كه يو سړى خالص امي وى خط ويل يې نه وه زده هغه به څه كوي؟

ځواب: له قتاده څخه روايت دى چي په ورځ د قيامت امي نسته.

پوښتنه: څه حكمت الهي دى خداى پاك تفويض د حساب په خپله و بنده ته وكړى؟

ځواب: تاچي حجت پر ده لازم سي دده په اقرار سره يا نسبت د ظلم و ملكو ته ونه كړي، له عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چي ده به خلگو ته ويل "حاسبوا قبل ان تُحاسبوا" ابن اصبهاني له انس رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چي عليه الصلوة والسلام وويل چي يو سړي ته به كتاب منشور دده ورکړي، دى به ووايي اين حسناتي كذا وكذا چي ما يې عمل كړى وى او په صحيفه كي نسته. خداى پاك به ووايي ما محو كړى په سبب د غيبت ستا د خلگو يعني ستا له عمل نامې څخه محو سوى او ستا مغتاب صحيفې ته نقل سوى، بيهقي له انس رضي الله عنه څخه روايت كړى دى قال رسول الله صلى الله عليه وسلم چي عمل نامې تولې محفوظ دي تحت العرش چي ورځ د قيامت سي او يو باد به خداى پاك پيدا كړي چي تولې عمل نامې چاته په راسته او چاته په چپه لاس كي ورکړي، يو محقق شاعر وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تو نمیدانی حساب روز و شام..... پس حساب عمر چون گویی تمام
زین عملها می بر نه نهج صواب..... نیست جز شرمند گی روز حساب

تنبیه: د آیت فوق یعني "وکل انسان الزمناه الی ههنا" چي تاسي واورېدی او اختلاف د مفسرینو متقدمینو او متاخرینو هم تر نظر تېر سو او دده مجاز او استعارة په خلاصو دروازو کي هم داخل سو است، دا همه او ټوله د قرآن کریم معجزه ده او د فوق العادة بلاغت یوه نخښه ده، ولي چي په وخت کي د جاهلیت اوو نامورو شعراؤ یو په بل پرله پسي اووه قصیدې جوړې کړې لپاره د فوقیت خپل په بلاغت کي د هرې قصیدې د یو شاعر بل شاعر یې مقابله بالمثل وکړه حتی چي اووه ته ورسېدې او د قرآن مبارک ذ یوه سورت مقابله او اتیان بالمثل چا ونه کړی، او هغه اووه قصیدې په یو کتاب کي د ادب عربي سره جمع دي چي نوم یې سبع معلقات دی چي په بعضو مدارسو کي په نظام درسي دا کتاب اوس هم موجود او داخل دی امنا په هیڅ یو بیت کي دومره مغلقات او اختلافات او استعارات او مجازات نسته لکه په متلوه آیت کي چي مو واورېدله. وهذا نموذج من بلاغة القرآن الکریم الخارج من طوق البشر سورته فضلاً عن الکل مع کونه ناذلاً علی النبي العربي الامي ﷺ.

مَنِ اهْتَدٰی فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ لِنَفْسِهٖ

که څوک پر راه راست برابر عمل وکړي دا اهتداً ده د خپل ځان لپاره وکړه، ولي چي ثواب یې وده ته راجع دی او دده په اهداً بل څوک له عذاب څخه نه خلاصېږي، مصرعه: پسر نوح بابدان بنشست..... خانه نبو تش گم شد
یعني د نوح نبي علیه السلام په کمال اهتداً سره کنعان دده زوی له عذابه خلاص نه سو.

وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا یَضِلُّ عَلَیْهَا ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی ؕ

او که څوک د گمراهی پر لار روان سي یا د کفر یا معاصي نو ضرر د ضلال وده ته راجع دی دده ضلال و بل چا ته سرایت نه کوي (ولي چي ضلال د آذر دده زوی ابراهیم علیه السلام ته تجاوز ونه کړی، مصرعه: گل از خارست ابراهیم ز آذر) او نسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حمل کولای یو نفس ګناه کار ګناه د بل نفس.

پوښتنه: په حدیث صحیح کي راغلي دي چي که په اسلام کي یو سړی د یو بد کار قانون مروج کړی، نو ده لره ثواب د هغه قانون ستنه، او ثواب د هغه چا چي دده په بنه قانون سره عمل وکړي الی قوم القیامة بهله دې چي د هغو له ثوابو څخه یو شی کم کړي، او داغه رنګه که په اسلام کي یو چا بد قانون رواج کړی فله ورزه (نو ده لره عذاب د هغه قانون دی) ووزر من عمل بها الی یوم القیامة (او عذاب د هغه چا دی چي دده پر طریقه عمل وکړي) من غیر ان ینقص من اوزارهم شیئاً، نو له اولي برخي څخه د حدیث مذکور دا معلومه سوه چي د بل د اهتداء نفع وسړي ته رسېږي فکیف توجیه فانما یهتدی لنفسه، او د دوهمي برخي څخه د حدیث مذکور دا معلومه سوه چي د بل ګناه کاره بار پر اول ګناه کار لوېږي فکیف توجیه قوله فانما یضل علیها وتوجیه قوله ولاتزر وازرة؟

ځواب: په اوله برخه کي د حدیث چي واضع الطریقة الحسنة ثواب د من عمل بها رسېږي داخو دده خپل فعل ثواب دی چي وضع الطریقة ده نه د بل د فعل ثواب او په دویمه برخه کي د حدیث هم ورته جواب دی فتفکر تدرک.

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴿١٥﴾

موږ عذاب نه ورکوو چا ته تر هغو چي رسول ورواستوو، یعني دوی انکار ځني کوي، روح البیان ای وماصح وما استقامنا (نه ده صحیح او نه ده مستقیمه زمونږ له خوا) بل استحال في عادتنا المبنیة علی الحکم البالغة ان نعذب احداً من اهل الضلال والاوزار اکتفاءً بقضیة العقلي (بلکي محال ده په عادت کي زمونږ چي مبني دی پر لویو حکمتو او مصالح چي موږ دی په عذاب کولو څوک له اهل څخه د ضلال او کفر یا ګنهو والا په سبب د اکتفاء په حکم د عقل لکه معتزله چي وایي یهدیهم الی الحق ویردعهم عن الضلال ویقیم الحجة ویمهد الشرائع قطعاً للمعذرة والزام الحجة (چي دا رسول ودوی ته هدایت وکړي او دوی منع کړي له کفر څخه او حجت پر دوی قائم کړي او د احکام شرعیه وو تمهید او بیان ورته ونه کړي تاچي قطع د عذر ددوی وکړل سي یعني په ورځ د قیامت هلا بعثت الینا رسولاً

نتبعه، او پر دوی حجت د رسول د بعثت قائم سي) ثم قال وفيه دلالة على ان البعثة واجبة لا بمعنى الوجوب على الله بل بمعنى ان قضية الحكمة تقتضي ذالك لما فيه من الحكم والمصالح" په دې قول کې د خدای ﷻ دلالت پر دې دی چې بعثت د رسول واجب دی نه په دې معنی چې پر خدای ﷻ بعثت واجب دی ولې چې پر خدای ﷻ هیڅ شی نه دی واجب بلکې په دې معنی چې حکم د حکمت الهي دغه یعني بعثت الرسول غواړي، ولې چې حکمتونه سته او مصالح د بندګانو پکښې ټغښتي دي انتهى عبارة روح البيان مع الترجمة. امام مظهري وايي د رسول د استولو په فائده کې "يبين الحجج ويمهد الشرائع فيلزمهم الحجة آه وقدمر الترجمة لهذا القول" بيا مظهري ويلي دي چې شافعي ددې له کبله وايي چې په دې آیت کې دليل پر دې دی انه لاوجوب لشيئ قبل البعثة بالعقل نو هغه چا ته خدای پاک عذاب نه ورکوي يعني نه په دنيا او نه په آخرت کې چې دعوت نه وي ورسېدلی (لكه ياجوج او ماجوج وغيرهما) نه پر شرک او نه پر نورو ګناهو (لان العقل لغو عنده في ايجاب شيئ على العبد والدعوة لم يبلغه فهو معذور) او امام اعظم رحمه الله وايي چې حاکم خو خدای ﷻ دی "يعني بالوجوب والحرمة وغيرهما" لكن عقل قد يدرک بعض ماوجب عليه وهو ان للعالم خالقا واحدا منزها عن العيوب والنقائص كما قال الشاعر الفارسي:

گر انبیا هم نامدی فی شرع بودی درجهان
واجب شدی بر مؤمنان ایمان به خالق مقتدر

ولې چې وجود د خالق واحد مقتدر منزه عن العيوب والنقائص له دلائل جمة في الانفس والآفاق فمن له عقل سليم يدرک ذالک، قال السعدي الشيرازي :

برگ درختان سبز در نظر هوشیار .... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

له يو اعرابي څخه چا پوښتنه وکړه چې څه دليل سته پر وجود د خالق العالم؟ ده ورته وويل البعرة تدل على البعير واثار الاقدام على المسير فكيف لايدل هذا العالم الكبير على العالم الخبير، قال فهذه الامور غير متوقفة على الشرع والا لزم الدور لان الشرع يتوقف على هذه الامور، قال فيجب على الانسان هذه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الامور قبل بعثة الرسل ويعذب المشرک وان لم يبلغه الدعوة.

فائده: ددې مدعی دليل هغه حديث د بخاري او مسلم دی چې عليه الصلوة والسلام وويل چې خدای ﷻ ووايي "يعنې په ورځ د قيامت" يا آدم؟ فيقول لبيک وسعديک والخير کله بيديک" جلا کړه برخه د دوزخ "يعنې له خپل اولاد څخه" آدم عليه السلام ورته ووايي مابعث النار "څومره ده حصه او برخه د اور "خدای پاک ووايي چې په زر کې (۹۹۹) برخه د اور ده، صحابه کرامو ﷺ وويل اينا ذالک الواحد" يعنې چې له زرو څخه نهه سوه نهه نيوي جلاسي خو يو پاتېږي هغه واحد به نو څوک په موږ کې وي؟ ددوی خيال دا وُ چې له اهل اسلام څخه به له يوه زر څخه نهه سوه نهه نيوي د دوزخ برخه ده، نو ځکه يې ووېل اينا ذالک الواحد، عليه الصلوة والسلام ورته ووېل ابشروا "خوشاله اوسئ" چې ستاسي د يوه رجل په مقابل کې نهه سوه نهه نيوي د ياجوج او ماجوج يعنې هغه حصه د اور ده ستاسي په مقابل ده يوه سړي، وجه الاستدلال بهذا الحديث ان ياجوج وماجوج رجال وراء السد (ای سد الاسکندر) لم يبعث فيهم رسول ولم يبلغهم الدعوة فلولا التعذيب على الشرک قبل بعثة الرسول لما عذبت ياجوج وماجوج.

دروېش وايي: چې تر دې وروسته مظهري ؒ خبره په اوراقو اوږده کړې ده کما هو ديدنه، صاحب المدارک وايي ددې آيت په تفسير کې ما صح منا ان نعذب قومًا عذاب استيصال في الدنيا الا بعد ان نبعث اليهم رسولاً فنلزمهم الحجة انتهى، قال روح المعاني في تفسير هذه الآية وما كنا آه ای وماصح وما استقام منا بل استحال في سنتنا "ای عادتنا" المبنية على الحكم البالغة او ماكان في حكمنا الماضي "يعني في الامم الماضية" و قضائنا السابق "في اللوح المحفوظ" ان نعذب احداً بنوع من العذاب دنيويًا كان او اخرويًا" چې موږ دې په عذاب کوو يو څوک په يو قسم له عذاب څخه که د دنيا وي او که د اخرت وي.

دروېش وايي: چې له دې عبارت څخه د روح المعاني بنکاره ضعف د ما قال صاحب المدارک کمامر آنفًا چې ده عذاب مقيد کړی وُ په استيصال في الدنيا سره فافهم "على فعل شيئ او ترک شيئ (پر فعل د يو شي لکه عبادت د بتانو يا زنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغيرهما او يا پر ترک د يو شي لکه ايمان يا لمونځ وغيرهما) اصلياً کان او فرعياً (که اصلي وي دا فعل او ترک لکه ايمان او عبادة الاصنام اوکه فرعي وي لکه لمونځ او شراب خوري بعد الحرمة) حتى نبعث رسولاً يهدى الى الحق ويرد عن الضلال ويقيم الحجج ويمهد الشرائع وقد مر معنى هذه العبارة فتذكر.

دروېش وايي: چې ورومسته صاحب د روح المعان دهري اوږدې په اوراقو خبرې کړي دي او سوالونه او ځوابونه يې رانقل کړي دي پر نورو مفسرينو چې د هغو په نقل کې وه مطالعه کوونکو ته د تفسير ايوبي هيڅ فائده او گټه نسته، له هم دې سببه چې زه خپل د تفسير متعلمين په تشويش کې نه واقع کوم، هغه د روح المعاني نقض او ابرام او طويل بيان مې نه کړی رانقل.

تنبيه: حاسدان به وايي چې په هغه طويل بيان به نه پوهېدلې چې نه دې کړی رانقل؟

ځواب: په صحيح وجه په پوهېدلم لکن ستاکم عقل مراعات مې وکړی والله جل سلطانه اعلم بمراد عباده.

مسئله: حنيفيان وايي چې مشرک ته عذاب د شرک ورکول کېږي که عاقل بالغ ؤ قبل ان تبلغه الدعوة كما يدل عليه قوله تعالى "ان الله لايغفر ان يشرک به" فانه عام غير مقيد ببلوغ الدعوة كما لايخفى.

القول الفصيل: عدم تعذيب قبل بعثة الرسل مخصوص بالمعاصي كالزنى واللواطة وترک الصلوة والصوم مثلاً دون الشرک لقوله تعالى "ان الله لايغفر ان يشرک به ويغفر مادون ذالک لمن يشا" فتقدير ماكنا معذبين على المعاصي حتى نبعث رسولاً يبين لهم مايتقون. او بعض مفسرين وايي چې رسول دوه قسمه دی، يو رسول البشر دی كماهو المعلوم او يو رسول باطن دی چې عقل صحيح دی، ولي چې عقل هم د خدای ﷻ را استول سوی استازی دی چې بعض خبر او شر په ده سره پېژندل کېدای سي بدون رسول البشر لکه وجود د خالق للعالم وتوحيده وتنزيهه كمامر، نو هغه واجبات چې په ادراک کې د عقل کافي دي كالمذكور خدای ﷻ عذاب ورکوي و عقل ته د هغو پر ترک باندي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفریع: له دې ایت څخه دا معلومه سوه چې خدای ﷻ عذاب نه ورکوي و لهونیانو ته او و کوچنیانو ته چې دوی ته تبلیغ نه رسول البشر کړی وي او نه عقل کامل، که څه هم دا لهونیان او کوچنیان اولاد د مشرکانو وي، کریمه "ولاتذر وازرة وزر اخری" او بخاري له سمرة بن جندب ﷺ څخه په یوه حدیث طویل کې نقل کړی دی چې علیه الصلوة والسلام پر یو شیخ باندې تېرېدی چې تر درختې لاندې ناست وٶ، او دده شاوخوا کوچنیان ناست وه، نو جبرئیل و علیه الصلوة والسلام ته وویل "هذا ابراهیم علیه السلام وهولاء (یعني دغه اطفال) اولاد د مسلمانانو او مشرکانو دي. اصحابو کرامو ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته وویل "واولاد المشرکین؟ قال نعم و اولاد الشرکین.

پوه سه: چې طیالسي له حضرت انس ﷺ څخه روایت کړی دی چې له ده څخه چا پوښتنه وکړه د اطفال المشرکین په باره کې، انس ﷺ ورته وویل قال رسول الله ﷺ لمن یکن لهم سیئات فیکونوا من اهل النار (ولي چې دوی مکلف نه وي) ولم یکن لهم حسنات فیجازوا بها (چې دوی ته دي داسي ثوابونه ورکړي لکه د نوور جنتیانو، نو دوی خادمان د نورو جنتیانو دي، ومثل هذا اخرج ابن جریر عن سمرة او د ابن مسعود ﷺ څخه هم ورته روایت راغلی دی.

فائده: امام جلال الدین السیوطي ﷺ وایي چې اختلاف قدیماً وحدیثاً جاري دی په اطفالو کې د مشرکانو پر پینځه قوله (۱) اول دا چې دوی به په اور کې دي تبعاً لابویهم، او پر دې قول چې بعض علماؤ آحادیث راوړي هغه یوله ضعیف دي دلیل نسي کېدای (۲) دوی به په جنت کې وي (۳) یو قول دادی چې دوی به خادمانو د جنتیانو وي، مظهري وایي چې دا دوه قوله تعارض نه سره لري، ولي چې خادمان د اهل جنت خو به خود په جنت کې وي (۴) دا اطفال به په مشیت کې د خدای ﷻ وي لا یحکم علیهم بشیئ من الجنة والنار، دا قول منقول دی د حماد او ابن المبارک و ابن راهویه والشافعي او امام نسفي دا قول د ابو حنیفه روایت کړی دی رحمهم الله تعالی اجمعین مبنی ددې قول پر احتیاط د مظهري وایي چې صحیح داده چې دا حکم منسوخ دی پر دې ده دلائل راوړي دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۵) له دې څخه امتحان اختـــتل کېږي په ورځ د قیامت، مظهري وایي چې دا قول خامس له ضروریاتو څخه د دین خلاف دی، په دلیل د هغه حدیث چې روایت یې احمد، ابوداوود او حاکم رحمهم الله په سند صحیح سره له عائشې رضي الله عنها څخه کړی دی قالت قال رسول الله ﷺ رفع القلم عن ثلاثة، عن المجنون المغلوب على عقله حتى يبرء، وعن النائم حتى يستيقظ، وعن الصبي حتى يكبر (رسول الله ﷺ وایي چې د تکلیف الهي قلم پورته دی له درو کسانو څخه چې یو یې لېونی دی چې عقل یې مغلوب وي، یعني په شي یې سر نه خلاصېږي تر هغو پورې چې جوړېږي، او له بیده څخه تر هغو پورې چې ویښېږي، یعني که نائم په خوب کې کلمه د کفر وویل نه کافر کېږي، او د کوچني یعني نابالغ څخه قلم پورته دی تر څو چې لویېږي، وكذا روى عن علي وعمر رضي الله عنهما بسند صحيح، او قریب اللفظ و حدیث مذکورته چې روایت یې احمد، ابو داوود، نسائي، ابن ماجه او حاکم رحمهم الله د عائشې رضي الله عنها څخه روایت کړ دی چې حاکم یې سند صحیح ګڼلی دی راغلی دی، او داغه رنګه په صحیح حدیث کې راغلي دي چې که چا قصد د بد کار وکړی نه دی په ماخوذ چې عمل د هغه کار ونه کړي، نو څرنګه به ماخوذ سي چې نه قصد صحیح لري او نه په پوهېږي یعني مجنون او نائم او صبي، او آیت کریمه هم ددې تائید کوي لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ ۗ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ".

فائده: امت مرحومه پر دې خبره اجماع کړې ده چې موقوف علیه د تکلیف الهي عقل او بلوغ دي، او سیوطي وایي چې بعض علماً وایي چې اطفال د مشرکینو به په برزخ کې دي بین الجنة والنار او بعض وایي چې وروسته تر بعث خاورې کېږي پر دې دوو قولو هیڅ دلیل نقلي یا عقلي نسته.

فائده: اولاد د مسلمانانو اجماعاً په جنت کې ده وي وهذا تحقيق هذا المقام والعلم عند الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَآ أَرَدْنَآ أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا

هغه وخت چي موږ اراده وکړو چي هلاک کړو يوه قريه يعني اهل دقريې،

پوه سه: چي قريه په اصطلاح د قرآن وطن ته وايي که بلد او که بلاد وي او که کلی وي، نو موږ امر کوو هغه کسان چي جبابره او شتمن او سرداران د هغې قريې وي، پر ژبه د رسول ددوی کما قال قبل ذالک وما کنا معذبين حتى نبعث رسولاً، روح المعاني وايي هذا بيان لكيفية وقوع العذاب بعد البعثة يعني كما ذكر في السابقة.

پوه سه: چي مراد له ارادې څخه هغه اراده ازليه ده چي متعلق په وقوع پورې دي مراد وي په خپل وقت مقدر کې، ولي چي په منځ کې د شرط او د جزا مقارنة في الزمان شرط دی، والارادة الازلية لايقارنها الجزا وهو قوله ففسقوا، او نه مراد دی وجود د اراده بالفعل اذ لايتخلف عنها المراد بلکې مراد ترڅې والی دی د هلاک د قريې،

فَفَسَقُوا۟ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ فَدَمَّرْنَٰهَا تَدْمِيرًا ﴿١٦﴾

نو دوی فسق مختار کړی يعني طاعت د خدای ﷻ ته غاړه نه ايږدي او په خپل عصيان کې تمرد پر کار واچوي، "كما هو ديدن وعادة المترفين والجبارين" نو ثابت سي پر دوی هغه کلمه سابقه په راتګ سره د عذاب پر دوی، حسين كاشفي وايي: پس واجب شود بر اهل آن دو كلمه عذاب. كه سبقت گرفته درحكم ازلي موجب عقوبت شدند "فدمرناها تدميراً" نو موږ هلاک کړه دا قريه په اهلاک د اهل ددې بالاستيصال.

پوښتنه: سرکښي د خدای ﷻ له حکم څخه او د رسول له دعوت څخه خو مترفينو کړې وه يوازې نو عذاب د استيصال پر ټولو که مترفين وي او که غير ددوی خوار او غريب خلګ وه څرنګه مسلط سو؟

ځواب: خوار او غريب خو د مترفينو په متابعت هم کفر او عصيان کاوه او بل ځواب دا دی چي په حديث شريف کې چي بخاري له ام حبيبه بنت ابي سفيان زوجة النبي ﷺ. او هغې له زينب بنت جحش زوجة النبي ﷺ کړی دی چي عليه الصلوة والسلام ورغلی د زينب ﷺ حجرې ته او فزع وُ يعني اثار د ويرې يې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چهره مبارکه ښکاره وه، او علیه الصلوة والسلام داسي ویلـه "لا اله الا الله ویل للعرب من شر قدر اقترب (یو شر چي اوس نژدې سوی دی) فتح الیوم من ردم یاجوج وماجوج (چي خلاص سو نن دده لـه دهوال څخه د یاجوج او ماجوج چي اسکندر ذو القرنین جوړ کړی ؤ) مثل هذه وحلق باصبعیه الابهام والتي تلیها (دومره قدر چي علیه الصلوة والسلام خپله بټه گوته او ورته څرمه گوته سره حلقه کړه) نو زینب رضی الله عنها ورتـه وویل "یا رسول الله ﷺ انهلک وفینا الصالحون؟ قال علیه الصلوة والسلام نعم اذا کثر الخبث.

دروښ وایي: چي پر دغو الفاظو چي ما حدیث رانقل کړی یعني انهلک وفینا، بصیغة المتکلم په بخاري کي موجود دی، او په تفسیر مظهري کي ایهلک وفیها، بصیغة الغائب. شاید دا غلطي به د کاتب وي والا فالمظهري محدث جلیل، او روح المعاني هم دا حدیث په صیغه د متکلم راوړی دی.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ ؕ

کلمه د "کم" خبري مفید د کثرت ده یعني ډېر له قرونو څخه موږ هلاک کړي دي، او "من" من القرون بیان او تمیز د کم دی لما فیه من الابهام. وروسته تر نوح علی نبینا و علیه الصلوة والسلام لکه قوم عاد او ثمود وغیرهم.

پوه سه: چي راغب اصفهاني وایي چي قرن هغـه قوم تـه وایي چي په یوه زمانه سره جوت وي، او په قاموس کي وایي چي قرن کل امة هلکت فلم یبق احد او بعض مفسرین وایي چي قرن هغه خلګو تـه وای چي ولادت یې تقریبًا په یوه زمانه کي وي او انقضاً د قرن داده چي د هغو یو نفر ژوندی پاتـه نـه وي، او په مقدار کي د قرن لـوی اختلاف دی عبدالله بن ابي اوفی وایي چي یوسل شل (۱۲۰) کاله دی، او کلبي وایي چي اتیا کاله یې مده ده، او ابن سیرین وایي چي څلوېښت کاله ده. او په حدیث مرفوع کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ و یو چاته دعاً وکړه عِش قرنًا، نو هغه سړی سل کاله ژوندی پاتـه سو. او بعض وایي یوسل شل کاله ژوندی ؤ، حنیفیان په مدت کي د مفقود چي لـه کوره ورک وي درک یې نه وي معلوم نیوي کاله (۹۰) تاکلی دی، لکن صحیح روایت سل کاله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده یعنې دومره وخت د مفقود د عمر تېر سې که یې مال درلودی ورثه دې تقسیم کړي. او که یې مایئه درلوده هغې ته د بل مېړه نکاح روا ده.

پوه سه: چې له عجیبه وو څخه د اختلافاتو اختلاف دی په مدت کې د قرن لس کاله شل کاله دېرش کاله څلوېښت کاله پینځوس کاله شپېته کاله اوویا کاله اتیا کاله سل کاله یوسل شل کاله کذا في القاموس. واما قرن الصحابة ﷺ وقرن التابعین رحمهم الله، نو قرن د صحابه وو ﷺ دادی چې په حال کې د اسلام یې علیه الصلوة والسلام لیدلی وي رؤیة حقیقیةً او حکمیةً لکه عبدالله بن ام مکتوم چې په ستر گو ړوند وٴ طالت صحبته مع رسول الله ﷺ او قصر روی عنه الحدیث او لم یروی. او تابعي هغه څوک دی چې یو یا ډېر صحابه کرام ﷺ د رسول الله ﷺ یې لیدلي وي والتفصیل في شرح نخبة الفکر، وایضًا في مقدمة البخاري لاحمد علي السهارنپوري رحمه الله.

فائده: په دې آیت کې ببرول دي د کفارو د مکې.

پوښتنه: داسې نه وویل سول من بعد آدم لان نوحًا اول نبي چې قوم یې مبالغه په تکذیب کې دده وکړه مع طول مکثهم فیهم، او قوم دده اول قوم دی چې د خدای ﷻ د عقوبت عظمی گرځېدلی دی وهو الغرق بالطوفان لان نوحًا دعی علیهم بقوله "رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیاراً" الآیة.

ځواب: هغه دی چې تېر سو من قوله لان نوحًا آه.

پوښتنه: نوح علیه السلام سره د طول مکث او د رنج او تکلیف لیدلو د قوم، ولې په اخیر کې ده ښېرا د استیصال دوی ته وکړه؟

ځواب: له جهته د ناامیدی ددوی له ایمان څخه قال الله تعالی لا یؤمن قومک الا من آمن.

وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿١٧﴾

کافي دی تالره رب ستا، په ګنهو سره د بندګانو ددې، تنبیه" حرف جر متعلق دی په مابعد سره علی طریقة التنازع لخبیراً وبصیراً فیه، "خبیراً" خبر دی که څه هم پټ د ژړه ګنهونه وي "بصیراً" یعني لیدونکی دی ای عالم بظاهر ذنوبهم،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن سره د هغه به پر دوی پرده د ستر غورولې ده. امهالاً لا اهمالاً.

پوښتنه: خبیر څو متعلق دی په غیب سره وهو مافي صدورهم من العقائد الفاسدة والنیات الکاسدة. او بصیر متعلق بالمعاصي الظاهرة من اقوالهم وافعالهم، نو د حکمت لپاره خبیر پر بصیر دمخه راوړه سو؟

ځواب: متعلق د خبیر چې عقائد باطله دي او نیات فاسده دي سبب دی د معاصیو ظاهره وؤ.

فائده: په دې آیت کې اشاره ده ودې ته چې بعث د رسولانو او امر ونهي لپاره د تحصیل د علم الهي نه دی په معاصیو سره ددوی لانه تعالی عالم في الازل بها بلکې لپاره د الزام الحجة پر دوی وقطع اعذارهم یوم القیامة، لولاذالک لقالوا هلا ارسلت الینا رسولاً.

فائده: په دې آیت کې تهدید او بېروول دی د کفارو خصوصاً مشرکی مکة شرفها الله تعالی، یو محقق شاعر وایي:

مرد در کار ها چو کرد نظر ..... بهره اعتبار ازان برداشت
هرچه ازان سود مندبود گرفت ..... هر نا سود بود گذاشت

سعدي شیرازي وایي:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نگیرند دیگران زتو پند

علماء دین په یوه خوله وایي چې لوی عاقل سړی هغه دی چې له بلد څخه عبرت واخلي، لقمان حکیم ته چا وویل چې دا دومره پوهي تا له چا څخه زده کړه؟ ده ورته وویل چې له جاهلانو څخه! هغه ورته وویل چې څرنګه؟ لقمان ورته وویل چې جاهل چې به یو قول یا عمل وکړی او خلګو به بد پر وویل ما هغه قول یا عمل نه کاوه.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ

هغه څوک چې اراده لري د نعم د دنیا او عیش او استراحت دنیوي چې همت یې ټوله پر دې فاني نعمتو حصر کړي وي، ژر به ورکړو موږ وده ته په دنیا کې هغه شی چې زموږ اراده ورته وسي ټوله هغه چې دی یې تمنی لري یا بعض د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغو يعني زما اراده كارفرماده نه دده غوښتنه "لمن نريد" و هغه چاته چې زمونږ ورته اراده سي دا قيد بدل بعض دى د "له" ددې قيد فائده داده چې هر سړى تولـه متمنى دده نه ورکول کېږي.

دروښ وايي: چې وهذا شان الكافر كمايدل عليه مابعده.

ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا ﴿١٨﴾

وروسته گرځوو موږ ده لره يعني په اخيرت کي دوږخ چې دى به داخلېږي په اور کي د دوږخ په داسي حال کي چې بدوي اولېږي وي له رحمت څخه د خداى.

فائده: د اخيس الهمة خلگ دي په دې وله کي کفره داخل دي او هم رياکاره او هم مجاهدين لطلب الغنيمة او مهاجران د دنيا لپاره او هم اهل نفاق.

وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ

او څوک چې اراده لري د نعمتو د اخيرت من الجنة وحورها وقصورها ومرضات الله او دى کوشش کوي د اخرت لپاره هغه کوشش چې مناسب وي د طلب د آخرت سره چې اوامر د خداى ﷻ پر ځاى کوي او له منهياتو څخه د دين ځان ژغوري لابمجرد تمنى نعم الآخرة بدون العمل لها "وهو مؤمن" الواو للحال والمراد بالمؤمن الكامل لاشرک معه ولانفاق ولارياً والسمعة وذالک هو العمدة في طلب نعيم الآخرة.

دروښ وايي: چې دا خلگ عالي الهمة خلگ دي. مرزا غالب وايي:

همت بلند دار كه نيزد خدا و خلق ..... باشد باعتبار همت تو اعتبار تو

دا باران چې پر همه وو محکمو اوري ..... معتبر يې کړى ذات د کېميا ولي

فَأُولَٰئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا ﴿١٩﴾

دغه کسان چې دا درې شرطه پکښې وي من ارادة الآخرة والسعي الجميل لها والايمان د سعي ددوى مقبول عندالله فان الشكر اذا نسب الى الله ﷻ كان بمعنى حسن القبول عنده تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴿٢٠﴾

هر يو له دي دوو ډلو څخه، نو تنوين د "كلا" عوض له مضاف اليه څخه دى "نمد" موږ مرسته ورسره كوو مرةً بعد اخرى كمايدل عليه المضارع، دا ډله او دا ډله، دا دوه لفظه بدل كل دي د "كلا" له لفظ څخه "عطا" مصدر دى په معنى د مفعول اى المعطي د "ربك" د خداى ستا، كلمه د "من" متعلق ده په "نمد" پورې، او نه ده عطا د خداى ﷻ ممنوع له هيڅ چا څخه كه مؤمن وي او كه كافر، لكن في الدنيا تفضلاً من الله العزيز الحكيم، شيخ عارف سعدي قدس سره وايي:

ادیم زمین سفره عام اوست ..... برین خوان یغما چه دشمن چه دوست
پس پرده بیند عملهای بد ..... هم او پرده پوشد بآلای خود
وگر بر جفا پیشه بر تافتی ..... کی از دست قهرش آمان یافتی

وفي موضع آخر

ای کریمی که از خزانه غیب ..... گرو ترسا وظیفه خوردارى
دوستانرا کجا کنی محروم ..... تو که بادشمنان نظر دارى

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ

وګوره اى محمد (ﷺ) چې څرنګه بالا كړي دي موږ بعض خلګ پر بعضو نورو په رزق او جاه وجمال و مال ومنال كي يعني په دنيا كي.

پوه سه: چې كيف منصوب دى په فضلنا سره على كونه حالاً.

وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿٢١﴾

او هر آئينه آخرت او ورځ د قيامت لوده من حيث الدرجات او من حيث التفضيل، ولي چې د آخرت درجې په جنت كي يو تر بل بالا دي، او داغه رنګه دركات د دوزخ يو تر بل بالا دي، والله شمل علمه اعلم بذالك التفاوت في الآخرة.

آنانكه ذره وار بصورت محقر اند ..... فرد از خيال وناز بفروش ننگرند

وفي الحديث اكثر اهل الجنة البله اى العوام وعليون لذوى الالباب اى لاصحاب العقول والله اعلم المراد بهم العلماء العاملون كما في قوله عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام فضل العالم (اى بالمعنى المذكور) على العابد (اى الجاهل) كفضلي على ادنى كم، وفي رواية كفضل القمر ليلة البدر على سائر الكواكب، ابن عباس رضي الله عنه په تفسير كي دډې آيت "والذين اوتوا العلم درجات" وايي چې خداى جل جلاله عالم پر مؤمن (يعني امي كه څه هم عابد وي) اووه سوه درجې پورته كوي چې په منځ كي د هر دوو درجو لكه د اسمان او د مځكي تر منځ چې مسافت وي، په تفسير بحر العلوم كي وايي چې په حديث شريف كي راغلي دي تعلموا العلم فالله تعالى يبعث يوم القيامة الانبيآ ثم العلمآ ثم الشهدآ ثم سائر الخلق على درجاتهم" او په بل حديث كي راغلي دي چې په جنت كي يوه درجه سته چې هغې ته نه سي رسېدلاى مگر درې قسمه خلګ. امام عادل، و ذو رحم واصل، و ذو عيال صبور" او په صحيح حديث كي راغلي دي "اعد الله لعباده الصالحين ما لاعين رئت، ولا اذن سمعت، ولاخطر على قلب بشر، وروى ابن عبد البر في الاستيعاب عن الحسن چې يوه ډله له اشرافو څخه د قريشو په وخت كي د جاهليت په خلافت كي د عمر بن الخطاب رضي الله عنه دده دروازې ته ورغله يعني د يو كار لپاره، چې په هغه ډله كي سهيل بن عمرو القرشي وۀ چې يو له اشرافو څخه د جاهليت د وخت وۀ، او بل سفيان بن حرب وۀ چې لوى قومندان د جاهليت د وخت وۀ، او بعض نور مشائخ د قريشو، نو د عمر رضي الله عنه له خوا څخه اجازه د ورتلو صهيب، بلال حبشي او اهل بدر رضي الله عنهم ته ورکړل سوه او د عمر رضي الله عنه دغه كسان ډېر محبوب وه او ده ته وصيت ددغو كسانو په باره كي سوى وۀ يعني د عليه الصلوة والسلام له خوا، نو ابو سفيان رضي الله عنه وويل مارئيت كاليوم قط (يعني ما دغسي ورځ نه ده ليدلې لكه نن ورځ) انه ليؤذن لهولآ العبيد ونحن جلوس لا يلتفت الينا (شان دادى چې اجازه ورکړل كهرې دغو مريانو ته يعني چې پخوا مريان وه او موږ يعني اشراف د قريشو ناست يو موږ ته التفات نه كړل كهرې يعني د عمر له خوا څخه، نو سهيل چې ډېر هوښيار سړى وۀ په دوى كي "اني والله قد ارى الذي في وجوهكم (زه قسم په خداى دى چې په تحقيق زه وينم هغه شى چې په مخانو كي ستاسي معلومېږي يعني خوا مو بده سوه) فان كنتم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غضباناً فاغضبوا على انفسكم (كه تاسي ته درد درغلى وي، نو غضب پر خان وكړئ) دعى القوم ودعيتم فاسرعوا وابطأتم (توله قوم وبلل سو يعني و اسلام ته د عليه الصلوة والسلام، لخوا نو دوى يعني هؤلاء العبيد تلوار وكړى په قبول كي د اسلام وابطأتم (او تاسي تاخير وكړى په قبول كي د اسلام) وفي الكشاف هذا باب عمر ﷺ فكيف التفاوت في الآخرة ولئن حسدتم على باب عمر لما اعد الله لهم في الجنة اكبر انتهى.

وقد قال العلماء ان العطايا على ظهر البلايا وفي رواية على متن البلايا.

لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿٢٢﴾

ته منه گرځوه (خطاب و رسول الله ﷺ ته دى والمراد امته او لكل واحد من الناس اى لاتجعل ايها الانسان) سره له خدايه بل خداى (كه بت وي او كه ملكه وي او كه عيسى عليه السلام وي الى غير ذالك) ته به وگرځې يا ته به عاجزه سې، كما يقال قعد فلان عن الشيئ اذا عجز عنه "مذموماً" چې ملكې او مؤمنان به دې ذم كوي، څوك به هيڅ مرسته نه درسره كوي "دواړه لفظه پر صيغه د اسم مفعول دي.

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ؕ

او حكم جازم او قطعي كړى رب ستا يا محمد ﷺ (دا تفسير منقول دى له ابن عباس رضي الله عنهما او له قتاده او له ابن انس رحمه الله څخه) چې تاسي په عبادت نه كوئ مگر دده، او د مور او پلار سره به ښه كوئ "وبالوالدين" معطوف دى پر "لاتعبدوا" په حذف د عامل اى ان تحسنوا بالوالدين او يا عامل په "احسنوا" دى پر صيغه د امر، نو عطف يې پر لاتعبدوا په عطف د انشا پر انشا دى وان اختلف الانشا نهياً و امراً و ذالك جائز.

پوه سه: چې تر "ان" مدغمه في اللام دمخه يا مقدره ده، والتقدير بان لاتعبد آه، ولي چې عبادت غاية التعظيم او تذلل ته وايي كوضع الجبهة على الارض، نو نه ښايي دا عبادت مگر د هغه چا چې غايت عظمت لري او نهايت انعام كوي وهو الله ﷻ المعبود بالحق لاغيره خصوصاً بتان چې جمادات دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاعظمت لهم ولا انعام بشئ منهم.

دروښ وايي: چي امر د احسان د والدينو خداى ﷻ نهي سره د غير الله متصل راوړى لان الله هو المنعم الحقيقي والوالدين هما المنعم الظاهري لتعيش الاولاد فافهم. قال الامام الرازي رح في التفسير الكبير بر الوالدين افضل من الصلوة والصوم والحج والعمرة والجهاد في سبيل الله انتهى.

دروښ وايي: چي مراد له مذكوره عباداتو څخه نفلي مراد دي فتدبر.

الاعراب: په تفسير روح المعاني كي وايي كه چېرې وكتل سي و مفرد راوړلو ته د خطاب په وروسته كي يعني عندك. نو دلته تقدير د احسن بالافراد افضل دى تر "تحسنوا" يا "احسنوا" او كه معطوف عليه چي "لاتعبدوا" دى نظرو كړل سي، نو تقدير د "احسنوا يا تحسنوا" زيبا دى.

پوه سه: چي جار او مجرور يعني بالوالدين متعلق په فعل محذوف پورې دى اى فعل كان واليه ذهب الزمخشري في الكشاف، او زمخشري منع كړې تعلق د جار او مجرور په مصدر مذكور يعني احسانًا ولي چي مصدر ضعيف العمل دى معمول دده پر ده نسي دمخه كېداى، او واحدي دا ممنوع بولي يعني د زمخشري دليل چي تپر سو. او امام حلبي داسي فيصله كړې ده چي كه مصدر په تاويل د ان مع الفعل وي نو مذهب د زمخشري صحيح دى، او كه مصدر نائب د فعل محذوف وي نو قول د واحدي مقبول دى، ومع هذا دېر نحات ودې ته تللي دي چي كه معمول د مصدر چي ظرف وي، نو تقدم د معمول مطلقًا روا دى لتوسعهم في الظروف.

سوال: دلته څو معمول ظرف نه دى بلكې جار او مجرور دى؟

ځواب: جار او مجرور نحات وروده ظرف بولي. هذا تحقيق الاعراب.

پوښتنه: دا تحقيق به و عوامو ته د پښتنو بلكې و طالبانو ته بلكې هغه ملايانو ته چي تفسير د ټولو قرآن و طالبانو ته په يوه مياشت يا په څلو پښت ورځي كي كوي څه فائده وكړي؟

ځواب: زما له شخصي كسانو سره غرض نسته، زما غرض تفسير دى د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن معجز په تحقیق سره، سعدي وایي:

تو گوی آنچه دانی سخن سودمند ..... وگر هیچ کس را نیاید پسند

إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا

کاشفي میگوید اگر برسد نزدیک تو به بزرگ سالی وکبرسن یکی از ایشان یاهر دو ایشان یعنی بزیند تاپیر شوند و محتاج خدمت تو گردند.

ژباړه: که چیري ورسېږي په نېز ستا و ډېر عمر ته یعني سپین ژوی سي پلار او سپین سرې سي مور یو له دوی څخه یا دواړه یعني ژوندي وه تاچي کلاک سالي ورسېږي او ستا د خدمت محتاجه وګرځي.

پوه سه: چي روح البیان روح المعاني، مظهري بلکې ټوله مفسرین رحمهم الله وایي چي اصل د "اما" ان ما ؤ، او ان شرطیه دی ما زائده ده تاکید لپاره پر زیات سو، بیا یې نون په میم کي مدغم کړی کما هو القانون، اما سو، او له هم دې سببه صحیح سو الحاق د نون المؤکدة په فعل پوري یعني یبلغن. ولي که چېرې ان یوازي وای الحاق د نون ثقیله په فعل پوري په قانون نحوي نه دی روا یعني داسي نه دی روا، ان تکرمن زیداً په لحوق د نون ثقیله په فعل پوري.

پوه سه: "احدهما" معطوف علیه دی. او "کلاهما" عطف دی پر احدهما.

سوال: خدای پاک حال د کبر د والدینو ذکر کړی او سره ددې چي احسان د والدینو سره واجب دی علی العموم؟

ځواب: حال د کبر سن حال د حاجت دی علی الغالب وعند عدم حاجتها الاحسان الیها مندوب. او په حال کي د حاجت فرض دی کذا في الاسئلة المقحمة.

فائده: حمزه او کسائي "یبلغان" په ضمیر د تشبیه وایي، نو ضمیر راجع و والدینو ته دی، نو پر دې قرآئت "احدهما" سره د معطوفه چي "کلاهما" دی بدل دی له ضمیر څخه د تثنیه په "یبلغان" کي، او پر قرآئت د جمهورو قراؤ چي "یبلغن" مفرد وایي، نو "احدهما" او "کلاهما" فاعل د "یبلغن" دی.

دروښ وایي: چي روح المعاني په دې آیت کي په دې اړه اوږد قرائت بیان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی. او اختلاف د نحاتو او سوال وځواب يې بيان کړي دي چې تر راوړلو يې نه راوړل ددې تفسير ايوبي سره زېبا دی. ولي خاصو علماؤ ته هم چندان فائده نسته پکښې فضلاً عن العوام الطلبة.

فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا

ته مه وايه و دوی ته او نه هم و يوه ته ددوی کلمه د "أف" مظهري ؒ وايي چې دا کلمه د کراهته ده او صوت دی چې پر تفجر دلالت کوي. او بعض وايي چې اسم فعل دی په معنی د اتفجر دی انتهی. او روح البيان هم دغه دواړې معناوي ذکر کړي دي. په پښتو د تفجر معنی ده د زړه تنګي. او روح المعاني وايي چې دا کلمه اسم صوت دی ينبئ عن التفجر. او يا اسم فعل دی په معنی د اتفجر متکلم واحد دده چې زه دې غمجن کړم. يعني مور او پلار ته دا کلمه مه واياست ولي چې دوی زهير ېږي او روح المعاني وايي چې په دې کلمه کې تقريبًا څلوېښت (۴۰) لغته دي او په قراءات السبع کې درې متواتره او څلور شاذ راغلي دي ثم بين الكل "ولا تنهرهما" او منع کوه يې مه دوی دوه، چې پښتانه ترتل ورته وايي. يعني د زوی يې يو کار يا خبره نه وي خوښه او مور يا پلار يې وکړي ترتل دي نه ورکوي.

وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ۝

او ووايه ته دوی ته قول حسن او نرم ويل ورته کوه. يعني لکه په پښتو کې چې وايي مور جانې يا مورکی. او بابا يا اغا يا بابکه ومثل ذالک من كلمات الادب. او مجاهد ؒ وايي اذا بلغا عندک الكبر فلا تقذرهما ولا تقل لهما اف حين تميط عنهما الاذى. يعني غول او بولي يې ورپاکوئ. لکه دوی چې ته کوچنی وې دا غه کارونه يې له تا سره کول خصوصًا الام.

وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ

او کښته کړه مور او پلار ته جانب د ذلت (يعني تواضع) او عاجزي ورته کوه، نو اضافت د "جناح" و "ذل" ته اضافت دی د مشبه به و مشبه ته. او زوی امر کړئ په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کښته کولو سره، نو پر دې تقدیر مراد له "جناح" څخه جانب دی، او روح البیان وایي چې ذل استعارة بالکنایة ده یعني ذل او تواضع یې مشابه کړه د مرغه سره واثبت للذل الجناح یعني وزر. تخییلاً چې حاصل د معنی یې بیر ته تواضع لهما کړئ یعني مرغه چې له هوا څخه راکښته کېږي وزرونه کښته ایله کړي. او چې هوا ته الوځي وزرونه لوړ کړي. نو خفض الجناح فعل دی په تواضع کې، ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې د مور او پلار سره به داسي ژوند کوئ لکه یو مریی چې ضعیفه او بیماره او ذلیله وي او د باداریې ډېر سخت طبعیت وي او شوخ وي "من الرحمة" کلمه د من تعلیلي ده یعني له سببه د ډېر زړه سوي پر دوی ولي نه ورځ دوی وتاته محتاجه دي او ته په غایت کوچنیوالي دوی ته محتاج ئر او دوی خپل رحمت له تا څخه نه سپماوه، نو ته هم باید خپل رحمت له دوی څخه نه وسپموې.

مسائل حقوق الوالدین: (۱) په نامه دي مور او پلار نه یادوي الا عند الضرورة في غیابهما، ولي مخامخ یې نوم یادول ظلم دی او نهایت بې ادبي ده (۲) اواز به ددوی په اواز نه پوري کوي بلکې کرار کرار به خبري ورسره کوي الا که دوی کاڼه وه کرار خبري یې نه سوې اوربدلای (۳) د بل چا مور او پلار ته دي بنکنځل نه کوي تاچه هغه مکافاتاً دده و مور او پلار ته بنکنځل ونه کړي (۴) او په تریو تندي او په غضب دي مور او پلار ته نه ګوري، په صحیح حدیث کې راغلي دي "ما من ولد ینظر الی الوالد او الوالدة الا کان له بها حجة وعمرة" چا ورته وویل که څه زوی په ورځ کې زر واره ورته وګوري؟ علیه الصلوة والسلام وویل "وان نظر في الیوم مأة الف" (۵) له ابو الدرداء رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل "الوالد اوسط ابواب الجنة فحافظ ان شئت او ضع (رواه احمد والترمذي وابن ماجه والحاکم بسند صحیح" والد هغه بنسه او اعدله دروازه د جنت ده، نو مراعات یې وکړه او ودې یې ساته که یې خوښه وي یا یې ضائع کړه یعني د والد سره که احسان کوې او خدمت یې کوې او په ادب ګذاره ورسره کوې، نو دروازه د جنت دي وساتله وعلی العکس، نو دي ضائع کړه یعني له لاسه دي ووتله (٦) له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی عن النبي ﷺ رضا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله في رضا الوالد، وسخط الله في سخط الوالد (رواه الترمذي والحاكم)
ترجمه: راضي والى د خداى ﷻ په رضا كولو كي د والد دى او غضب د
خداى ﷻ په غضب كي د والد نغښتى دى (۷) بزار له ابن عمر هغه له ابي
سعيد الخدري ﷺ څخه روايت كړى دى چي قال قال رسول الله ﷺ لا يدخل
الجنة مثان (چي چاته يو شى وركړي او بيا احسان پر اچوي، يعني هر وخت د
خپل احسان ورته ذكر كوي) ولا عاق ولا مدمن خمر (او نه د مور يا پلار ياد
دواړو ازاري. يا د شراب خورى عادت لري (رواه النسائي والدارمي)

دروښ وايي: چي والله اعلم مراد په دې حديث كي دخول اولى دى لانه ليس
للمؤمن المحرومية من الجنة ابداً (۸) له ابو هريره ﷺ څخه روايت دى چي چي
رسول الله ﷺ وويل "رغم انف رجل ذكرت عنده فلم يصل علي" ترجمه: په خاورو
دي وي، كناية عن الذلة پزه د هغه چا چي زما نوم دده په نېژد ذكر سي او درود پر
ما ونه وايي "ورغم انف رجل" چي دا هم كنايه ده له ذلت څخه چي ميالشت د روژې
پر ده راسي او ده ته بخښنه ونه كړل سي، يعني اداب، فرائض، سنن او نور
عبادات پر ځاى نه كړي چي سبب د مغفرت الهي وګرځي "ورغم انف رجل ادرک
ابويه الكبر فلم يدخلاه الجنة" او پزه دې په خاورو وي د هغه سړي چي مور او پلار
يې كبر سن ته ورسېږي او دى جنت ته نه كړي ورداخل يعني دومره احسان او
خدمت يې ونه كړي چي ددوى په دعا ګوي سره دى جنت ته داخل نه سي (رواه
البغوي والترمذي والحاكم) او د مسلم او د احمد په روايت كي داسي راغلي دي
"رغم انفه ثم رغم انفه ثم رغم انفه قيل من يا رسول الله ﷺ قال من ادرک الكبر
عنده احد الوالدين او كلاهما ثم لم يدخل الجنة" (۹) له ابي امامه ﷺ څخه
روايت دى چي يو سړي له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه "ماحق الوالدين على
ولدهما؟ قال هما جنتك او نارك (رواه ابن ماجه) ترجمه: له عليه الصلوة والسلام
څخه چا پوښتنه وكړه چي څه دى حق د والدينو پر ولد د دوى، عليه الصلوة
والسلام ورته وويل چي مور او پلار ستا جنت دى يعني سبب دخول د جنت كه
احسان ورسره وكړي او خدمت يې وكړي، يا دوى ستا دوزخ دي يعني سبب د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دخول د دوزخ دي تالره كه يې ازار كړې او ښيراوي درته كوي.

دروښ وايي: چې په دمخه څو حديثو كې لفظ د والد يعني مذكر لفظ راغلى وؤ. نو په قرينه د وروسته حديثو چې آنفًا تېره سوه له والد څخه والله اعلم، مور او پلار دواړه مراد دي په تاويل د شخص والد يعني تذكير يې په سبب د تاويل بالشخص دى چې شخص لره او ښځې دواړو ته وايي (١٠) له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى ده وويل چې رسول الله ﷺ وويل "من اصبح لله مطيعًا في والديه اصبح له بابان مفتوحان من الجنة وان واحدًا فواحدًا ومن امسى عاصيًا لله في والديه اصبح له بابان مفتوحان من النار وان واحدًا فواحدًا قال رجل وان ظلماه؟ قال عليه السلام وان ظلماه وان ظلماه وان ظلماه"

دروښ وايي: چې په دې حديث كې والله اعلم بمراد رسوله ﷺ اصبح او امسى له افعال ناقصه وو څخه دى كما في كتاب الشمنة وغيره، نو بنا عليه ترجمه د حديث داده: كه څوك وگرځي فرمانبرداره د خداى ﷻ په باره كې د مور او پلار، وبه گرځي ده لره دوې دروازې خلاصې د جنت. او كه يو د مور او پلار وؤ نو يوه دروازه به ورته خلاصه سي، او كه څوك وگرځي "عاصيًا" نافرمانه د خداى ﷻ په باره كې د مور او پلار (نو امسى تفنن في العبارة) دى، ده ته به وگرځي دوې دروازې خلاصې د اور "وان واحدًا فواحدًا" يو سرې وعليه الصلوة والسلام ته وويل كه څه مور او پلار پر دوى ظلم كاوه؟ عليه الصلوة والسلام درې واره په ځواب كې ورته وويل وان ظلماه (١١) په صحيح حديث كې راغلي دي چې يو سړي له عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وكړه چې زه د كوم يوه سره د والدينو احسان وكړم؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل "امك" هغه سړي وويل بيا د چا سره؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل "امك" بيا هغه سړي داځه سوال وكړى، عليه الصلوة والسلام ورته وويل "امك" يعني درې واره سائل "ثم من" سره پوښتنه وكړه عليه الصلوة والسلام ځواب په "امك" سره وركړى. څلورمه وار چې هغه سړي سوال په "ثم من" سره وكړى عليه الصلوة والسلام ځواب وركړى "ثم اباك".

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې حدیث سر علما کرام داسې بیانوي چې د زوی پر مور دري تکلیفه راځي نهه میاشتې یا کم تر نهه د حمل تکلیف دی، دویم د وضع الحمل درد دونه او تکلیف دی. او دریهم د روزنې او پالنې او شپې ورځې سهاکول په وخت کې د ناجوړې د ولد، او پاک ساتل له مرداری څخه د ولد کما هو الظاهر لکل واحد الی غیر ذالک من تکالیف الاولاد علی امهاتهم (۱۲) وعن ابي بکر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ کل الذنوب یغفر الله منهما مایشاء الا عقوق الوالدین فانه یعجل لصاحبه (ای العذاب) في الحیوة قبل الممات؛

دروښ وايي: چې نور احادیث صحیحه په باره کې د احسان د مور او پلار سره او عقوق ددوی راغلي دي. که زه احصاء د ټولو وکړم اوراقي به نوري په بره کې ونسي (۱۳) تر دې اندازې په حقوق کې د والدینو دا مسئله فقهاؤ رحمهم الله راوړې ده، که سړی مسلمان وي او پلار یې مشرک وي. پلار زوی ته ووایي چې ما په شا کړه بت خانې ته مي بوزه چې زه د خپلو خدایانو عبادت وکړم. فقهاء وایي چې نه دې پښا کوي، ولې چې دا مرسته ده پر شرک باندې. او که پلار پخپله بت خانې د عبادت لپاره تللی وي چې راوتی زوی ته یې وویل چې ما په شا کړه کور ته مي ورسوه امتثال یې پر واجب دی.

دروښ وايي: چې دا د مشرک پلار حق دی، نو د مسلمان پلار حق ته تاسي اندازه ولګوئ.

حکایت: یو عالم وایي چې زما پلار چې هم عالم وؤ. او زما هم پلار او عم مي استاذ وؤ. وروسته تر مرینې دوه کاله تخمیناً ما په خوب ولیدی چې په قبر کې مریض دی، ما ورته وویل چې بابا ناروغه یې، ده راته وویل چې هو! ته ماته یوه دوا یا ګولی نه راوړې چې خدای پاک ما په جور کړي، زه چې له خوبه څخه بیدار شوم پوه شوم چې پلار تر دې دعا چې خدایه ما وبخښې او زما مور او پلار وبخښې مخصوص یو شی غواړي. نو مي خدای ﷻ ته خواست وکړی چې زما ټولې حسناتې که فرضي وي که نفلي او که قولي او که عملي او که مالي وي ما خپل پلار ته بخښلي دي که څه هم ماته یوازې سیئات راپاته سي، یو څو عمر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته مي بيا پلار په خوب وليدی په ښه لباس کي او په بدن تندرسته او خوشاله. عالم وايي چي ما پوښتنه ځني وکړه چي بابا څرنګه يي؟ ده راته وويل چي هغه دوا او ګولی چي تا ماته را استولي وې ډېري ښه راباندي ولګېدلي شکر دی اوس ډېر ښه يم خدای ﷻ دي تاته ثوابونه درکړي انتهی قول العالم.

وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِي صَغِيرًا ﴿٢٤﴾

يعني دعا کوه مور او پلار ته چي خدايه ته رحم وکړې زما پر والدينو يعني په آخرت کي چي باقي رحمت دی لکه دوی چي ماته په ډېر ښه رحمت تربيت راکاوه چي زه کوچنی وم او د حق او اسلام لار يي راوښوولم. بغوي رحمه الله وايي چي په دې آيت کي مراد دادی چي مور او پلار د سړي مؤمنان وي، بيضاوي وايي چي که د سړي مور او پلار کافران وي او ژوندي وي مذکوره دعا ورته روا ده لان من رحمته تعالى ان يهديهما الى الاسلام. او که پر کفر مړه وه دا دعا نه ده ورته روا لقوله تعالى "ماكان للنبي والذين آمنوا ان يستغفروا للمشركين ولو كانوا اولى قربى" الآية. په حديث شريف کي راغلي دي چي يو سړي و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او ورته وه يې ويل چي زما مور او پلار وداسي درجې ته د کبر سن رسېدلی، لکه دوی چي زما خدمت په غايت کوچنيوالي کي کاوه يعني زما مرداري به يې راپرېوله. او کالي به يې راپرېول الى غير ذالک، زه ددوی خدمت پر هغه اندازه کوم، نو ما ددوی حق پر ځای کړی؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل "لا" ولي دوی چي ستا خدمت او پالنه کوله ستا د حيوة او د بقا لپاره يې کوله. او ته چي ددوی پالنه او خدمت کوې د دوی د موت لپاره يعني چي دادي په خيال وي چي نن به مړه سي سبا به مړه سي.

رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ ۚ

رب ستاسي ښه خبر دی يعني تر تاسي چي ستاسي په زړو کي وي يعني البر الى الوالدين او اعتقاد پر دې چي پر تاسي واجب دی، يعني توقير او تعظيم د والدينو.

پوه سه: چي دا تهديد دی د اولاد ته چي په زړه کي يې د مور او پلار څخه بد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کښرۍ او پر درانه وي لکن د خلګو له شرمه څخه پر او احسان وربسره کوي چې دا هم په حقیقت کې عقوق دی، او دا هم معنا د آیت کېدای سي چې خدای ﷻ خبر دی په نیاتو متاسي، نو کله دا بر د والدینو احتساباً (یعنې چشم ساز داشتن وثواب ته) او د امتثال د امر الهي په بر کې د والدینو فاجره علی الله تعالی وان کان لغرض من اغراض الدنیا فهو علی مانوی.

مسئله: د مور پښې مچول لپاره د تواضع روا دي.

حکایت: استاذ ابو اسحٰق الاسفرائني رح ته یو سړی راغلی چې ته برایې شپه ما په خوب ولیدلې چې د ډیرې په وښتانو دي ملغلرې او جواهرات ځړېږي. ده وویل چې دا خوب دي رشتیا دی. زما عادت وُچې کور ته به ورغلم زما د مور خونه زما د عیال تر خونې په مخ کې وه، نو به یو ګړی له مور سره کښېنستم احوال پرسي به مې وکړه، ولي که زه د مور تر خونې او تر احوال پرسی دمخه د خپل عیال خونې ته تللی وای زه بېر ېدم چې د مور به ګله راځخه وسي. هر وخت چې به ادې مور په مجلس سترې سوه، دې به راته وویل چې زه بد بوم ځه خپل عیال ته ولاړ سه، نو ما به ورته وویل چې موري راسه چې پښې دي درمچ کړم، پښې به مې ورمچ کړې او خپل عیال ته به ولاړم، برایې شپه زه د مېلمنو سره وُخنډ ېدم چې کور ته راغلم مور مې بیده سوې وه، حیران سوم چې سنا دائمي وظیفه پاته سوه، لکه خوبه مې هم نسوای راوښولای، نو مې کرار کرار ډیره ددې د پښو په خاورو پوري ومښل، نو هغه دی چې تا خوب ولیدی کما ذکرت. نو زما یقین سو چې د مور د پښو خاوره زماد ډیرې جواهرات په نېژد خدای ﷻ دي.

مسئله: د مور او پلار خدمت به سړی په خپله کوي و بل ته به نه وایي چې دا کار وکړه، مثلاً مور یا پلار ده ته وویل چې اوبه راواخله زه تږې یم، زوی به بل چا ته نه وای چې دا اوبه ورته راواخله، ولي سړي ته داعار او پېغور نه دی چې د استاذ یاد مور او پلار او د مېلمانه خدمت په خپله وکړي بلکې دا کمال انسانیت دی.

مسئله: فقهاً رحمهم الله وایي چې پلار ته دي امامت نه ورکوي الا بامره وان کان الولد افقه من الاب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که د چا پلار جاهل وي او دی مثلاً عالم وي، نسب له پلار څخه بده نه بدلوي يعني چي زه د پلاني زوي يم يعني د غير د پلار نوم واخلي، ولي چي په حديث صحيح کي راغلي دي د دغسي چا په باره کي، فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين لا يقبل الله منه صرفاً ولا عدلاً يعني نه نفل او نه فرض، كذا في الاسرار المحمدية، وفي الحديث اذا ترک العبد الدعا للوالدين انقطع الرزق، وفي الحديث من زار قبر ابويه او احدهما كان باراً يعني في كل جمعة.

دروښ وايي: چي په اوسنی زمانه کي عادت غالبه دادی چي پلار يا مور چي د چا مړه سي يوه ورځ فاتحه خواني وي، دريمه ورځ ختم د قرآن مجيد پسي وکړي بالا نسيًا منسيًا يې وګرځوي، نه يې قبر ته ورځي الا في سنة مثلاً شيخ سعدي رحمه الله داسي وايي:

سالها بر تو بگذرد که گذر ..... نکنی سوی تربت پدرت
تو بجای پدر چه کردی خير ..... تا همان چشم داری از پسرت

امام ابو حامد محمد الغزالي په احيا العلوم کي وايي چي اکثره علما پر دې دي چي مراعات د ابوينو واجب دی په شبهاتو کي او په حرام صريح کي دې اطاعت نه کوي، ولي ترک د شبهاتو خو ورځ ده او د والدينو حق حتم او واجب دی،

مسئله: که ولد مراعات د حق د مور او پلار يا دواړو نسواى کولای چي دوی سره مرور وه او هر يوه د هغه بل په مراعات ناراضه کېدی، نو حکم دادی که چېرې د زوی سره د دواړو د نفقې توان نه وؤ، نو مور دي مقدمه کړي پر پلار په نفقه کي، ولي چي پر مور ډېرې خواری تېرې سوي دي د ولد يعني في الحمل والوضع وبعد الوضع كذا في فتح القريب.

دروښ وايي: چي په روح البيان او روح المعاني کي دا حديث په مختلفو عباراتو راغلی دی چي يوه ورځ يو ځوان و عليه الصلوة والسلام ته د پلار په باره کي شکايت وکړی چي دی زما له کور او له مال څخه زما بې اجازې شی وړي، عليه الصلوة والسلام يې پلار راوغوښتی، فاذا هو شيخ يتوكأ على العصا، نو دده د زوی شکايت يې ورته بيان کړی، د سپين ږيرې پلار مترګي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوښکو دکې سوې او داسې يې وويل چې دا زما زوی ضعیف وَ او زه قوي وم. دی فقیر وَ زه غنې وم یعنې په حال د طفولیت دده مال له خپل مال څخه لله ده څخه هیڅ شی نه سپماوه. اوس زه ضعیف یم او دی قوي، او زه فقیر یم دی غنې، نو دی ولې زما سره بخل کوي په خپل مال سره. نو علیه الصلوة والسلام د شیخ ضعیف پر وینا وژړل او داسې يې وویل، چې پر دا قصه د سپین ږیرې نه ډېرې اورېدلې او نه لوتې مګر پر وه يې ژړل، آخراً آنحضرت ﷺ داسې حکم صادر کړی "انت ومالک لابیک"

مسئله: پلار لره پکار ده چې د زوی سره دې سخت برتاؤ نه کوي، او نه دې نامناسبه ښکنځل او خبرې ورته کوي، تاچې زوی و عقوق ته مجبور نه سي، او بده ګذاره دې هم نه ورسره کوي وکذالک الام.

حکایت: له یو عارف څخه نقل راغلی دی چې زه یو زوی لرم دا د ډېرش کاله دا ډېرش کاله ما دی نه دی امر کړی (یعنې په دنیاوي امورو کې) په هیڅ شي سره د ښې ددې چې نباید دی به زما عصیان وکړي او عذاب به پر نازل سي.

إِنْ تَكُونُوا صٰلِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا ﴿٢٥﴾

یعنې که قصد کونکی ذ ثواب عند الله یاست په بر کې د والدینو (بغوي ؒ وایي چې پس له لږ تقصیره په هغه حقوق کې د والدینو چې پر تاسي لازم وَ) نو په تحقیق خدای ﷻ دی د توبه کونکو د معصیت په حقوق د والدینو بخښونکی د هغه معصیت دی، قال علیه الصلوة والسلام التائب من الذنب کمن لاذنب له" او دا هم احتمال سته چې دا آیت عام دی هر تائب لره من الذنب ویندرج فیه، هغه څوک چې په حقوق کې د والدینو لږ یا ډېر تقصیر ځنې سوی وي.

پوه سه: چې "اوابین" جمع د اواب ده چې هغه صیغه د مبالغې ده، نو ځکه يې سعید بن المسیب ؒ دا تفسیر کړی دی "الاواب هو الذي یذنب ذنبًا ثم یتوب ثم یذنب ذنبًا ثم یتوب ثم یذنب ذنبًا ثم یتوب" او سعید بن جبیر ؒ يې دا تفسیر کړی دی "هو الرجاع الی الخیر" ډېر رجوع کونکی د خیر و کار ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې ددې دوو تفسيرو مآل يو دی. په صحيح حديث کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل "رغم انفه" (پزه دې په خاورو وي دا کنايه ده له ذلت څخه) فقيل من يا رسول الله ﷺ؟ قال من ادرک والديه عند الکبر احدهما او کلاهما ثم لم يدخل الجنة" (چا وويل چې څوک يا رسول الله ﷺ رسول الله ﷺ وويل هغه څوک چې والدين يې يا يو له دوی څخه سپين ږيرتوب ته ورسېږي او هنوز دی و جنت ته داخل نه سي يعني په سبب د بر او احسان د دوی سره، روح المعاني وايي چې له اسکندر څخه چا پوښتنه وکړه چې پر تا باندې ستا د استاذ منت او احسان ډېر دی که ستا د پلار؟ ده په ځواب کې ورته وويل الاستاذ اعظم منةً علي من والدي. ولې چې استاذ ډېره خواري او محنتونه پر ځان وړي دي زما په تعليم کې حتی چې زه يې په نور د علم منور ګرځولی يم. واما الوالد فانه طلب تحصيل لذة الجماع لنفسه فاخرجني الى عالم الکون والفساد.

دروېش وايي: چې دا د اسکند خبره روح المعاني رد کړې ده. دی وايي چې موږ ومنل چې په اول الامر کې مطلوب د پلار لذة الجماع ؤ. خو دا غم خوري د والد چې ايصال د خير اتو و زوی ته کاوه او دفع د آفاتو يې له زوی څخه کوله له اول وخته د زوی د راتلو و عالم وجود ته بيا تر هغه وخته پورې چې پلار سن ته د کبر رسېدی يعني نسالخورده کېدی، دا ډېر لوی نعمت دی پر زوی تر تولو هغو خير اتو چې اسکندر ذکر کړي دي چې منت د استاذ تر منت د پلار ډېر دی. په تائيد کې د نظريې د آلوسي ؒ دا حديث کافي دی چې يو سړی له يمن څخه و عليه الصلوة والسلام ته راغلی د جهاد في سبيل الله لپاره. عليه الصلوة والسلام ورته وويل "هل لک احد باليمن؟ قال ابواى" عليه الصلوة والسلام ورته وويل هغو اجازه د جهاد درکړه؟ هغه ورته وويل يا! نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې ولاړ سه يمن ته له دوی څخه اجازه د جهاد وغواړه، ګنه يې اجازه درکړه فجاهد والا فبرهما. او په حديث کې د عبدالله بن عمرو ﷺ راغلي دي چې يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی د عليه الصلوة والسلام څخه يې اجازه د جهاد غوښتله عليه الصلوة والسلام ورته وويل "احي والداک؟ قال نعم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال ففيهما فجاهد، وفي رواية جئت ابايعك على الهجرة وتركت ابوی يبكيان عليه الصلوة والسلام ورته وويل ولاړ سه مور او پلار وخندوه يعني خوشاله يې کړه لکه دوی چې تا ژړولي دي يعني چې ستا په فراق دي غمجن کړي دي.

مسئله: که يو سړي مايئه درلوده او پر ګرانه هم وه او پلار دی امر کړي چې دا مايئه طلاقه کړه که څه هم پلار له دې کبله دی امر کړي چې مايئه يې بې لمانځه ده مثلاً. نو که زوی دده امتثال ونه کړی عاق خو نه دی لکن افضله داده چې طلاقه يې کړه امتثالاً لامر الوالد، په دليل د هغه حديث چې ابن حبان ؒ په خپل صحيح کې راوړی دی، چې يو سړی ابو الدرداء ؓ ته راغلی چې پلار يې ما طلاقه کړه، ابو الدرداء ؓ ورته وويل چې زه نه حکم درکوم چې نافرماني د پلار وکړه او نه هم دا ويلای سم چې مايئه طلاقه کړه لکن که ستا خوښه وي زه به هغه حديث درته بيان کړم چې ما د عليه الصلوة والسلام څخه اورېدلی دی چې ده مبارک وويل "الوالد اوسط ابواب الجنة (يعني پلار ميانه يا ښه دروازه د جنت ده) فحافظ على ذالک اودع (يا محافظت وکړه د هغې دروازې يا يې پرېږده او داغه رنګه سنن اربعه والا محدثين يعني نسائي، ابن ماجه، ابو داود، ابن حبان ؒ په خپل صحيح کې او ترمذي ؒ چې له اصحابو څخه د جرح او تعديل دی ددې حديث په باره کې ويلي دي "حسن صحيح" له ابن عمر ؓ څخه روايت دی چې زما مايئه وه چې دې ښه محبت مې هم ورسره درلودی او زما د پلار عمر ؓ بد ځني کېدل، ماته يې وويل چې طلاقه يې کړه ماته طلاقول، اخير زما پلار و عليه الصلوة والسلام ته ورغلی او دا موضوع يې ورته بيان کړه عليه الصلوة والسلام ماته وويل چې طلاقه يې کړه.

دروښ وايي: چې دا ؤ مختصر بيان په بيان کې د حقوق والدين.

وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ

او ورکړه و هغه چاته چې ستا سره قرابت لري حق د هغه يعني صلة الرحم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسره کوه او ښه ژوند ورسره کوه او احسان ورسره کوه په مال سره که دي له وسه پوره وه والا غبالقول الحسن والفعل الحسن.

دروښ وايي: چې چې د عمومي ذوی القربی سره مرسته او کومک خو مندوب بالاجماع دی، او اکثره مفسرین دا آیت پر عموم او پر ندب حمل کوي لکن امامنا الاعظم وهمامنا الافخم ابو حنیفه رحمه الله وايي چې واجبه ده هر ذي رحم یعني چې قرابت نسبي د سړي سره لري او محرم هم که یو نر فرض کړل سي او بله ښځه نکاح يې ابدي سره حرامه وي، نو په دې سره هغه قریب چې قرابت نسبي نه سره لري که څه هم نکاح يې ابدي سره ناروا وي کالخالة نکاح خو يې ابدي و خوريي ته حرامه ده لکن چې له جلا قوم څخه وي ذي رحم نه ده. او په محرم سره هغه نسبي قریبان خارج سوه چې نکاح يې ابدي حرامه نه وي لکه د اکا زامن او لونې. نو امام اعظم رحمه الله وايي چې نفقه د ذی رحم محرم پر غني قریب واجبه ده که دی صغیر او فقیر وي یعني د پلار میراث نه وو ور پاته سوی یا ښځه وي بالغه فقیره او یا نر وي شل یا روند وي لکن فقیران وي. ولي چې په دغه انفاق بقا ددوی د ژوند ده وهو اصل البر وصلة الرحم، او بغوي رح له علي بن الحسین رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې مراد په دې آیت کې اقارب د علیه الصلوة والسلام دي وکذا اخرج ابن ابي حاتم عن السدي رح، او طبراني او نورو رواتو له ابي سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې دا آیت چې نازل سو علیه الصلوة والسلام فاطمه رضي الله عنها راوغوښتل او د فدک محکه يې وهغې ته ورکړه، او ابن مردویه له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی ابن کثیر مفسر کبیر او روح المعاني وايي چې دا خبره مشکله ده، ولي له دې بیان څخه دا معلومیږي چې دا آیت مدني دی ولي چې فدک خو په وخت کې د هجرت علیه الصلوة والسلام فتح کړی، والمشهور ان هذه الآیة مکیة. او بل دلیل يې دا راوړی دی چې مشهور او معتمد علیه داده چې فاطمه رضي الله عنها علیه الصلوة والسلام ته ورغله چې فدک زما پر نامه کړه، علیه الصلوة والسلام د فاطمې رضي الله عنها دا خبره ونه منل کذا روي عن عمر بن عبد العزیز رحمه الله، او ومظهري وايي که دا واقعه صحیح وای، نو خلفا راشدینو څرنګه فدک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له فاطمي رضي الله عنها څخه ګرځاوه خصوصاً علي رضي الله عنه في خلافته.

دروېش وايي: چي مشهور داده چي فاطمه رضي الله عنها شپږ مياشتي وروسته تر عليه الصلوة والسلام وفات سوه، نو که دا صحيح وي نو فاطمي رضي الله عنها خو خلافت د خلفا راشدينو نه دی پيدا کړی الا ان يقال سلمنا وفاتها شپږ مياشتي وروسته لکن که فدک دي ته آنحضرت صلى الله عليه وسلم ورکړی واى نو خلفا راشدينو به د فاطمي رضي الله عنها ميراث خورو ته ورکړی واى يعني الحسن والحسين رضي الله عنهما چي ددي زامن وه. او علي رضي الله عنه چي ددي زوج ؤ او ربع ميراث دده حق ؤ!. والله اعلم بحقيقة الحال، په صحيح حديث کي راغلي دي "البر والصلة يطيلان الاعمار ويعمران الديار ويكثران الاموال" ترجمه: بر يعني ښه کول د اقرباؤ سره او وصله رحمي کول ددوی سره عمرونه ډيروي، او سرايونه د بر او صله کونکو اباد وي، او اموال ددوی ډير وي.

سوال: عمر د هر سړي خو مقدر دی په اجل معلوم سره، نو څه معنی د عمر ډيرولو په سبب د بر او صلة الرحم؟

ځواب: يوه قضاً مبرم او قطعي ده چي په لوح محفوظ کي نوشته ده په هغه کي خو تغيير، تبديل او زيادت او نقصان نه دی روا. والى هذا يشير قوله تعالى "يمحو الله مايشاً ويثبت وعنده ام الكتاب" حاصل دا چي په بر او صله سره عمرونه زياتيږي هغه د قضاً معلق عمرونه دي فتدبر حق التدبر.

وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ

او تاسي ورکوئ مسکين ته خپل حق که څه هم بيګانه وي، اهل لغت وايي چي "من لاشئ له يعني من المال" که څه هم دون النصاب وي، او فقير هغه دی چي ده لره مال وي لکن دون النصاب وقيل بالعكس، او د ابن السبيل لغوي معنی داده "زوی د لاري" يعني ملازم د لاري چي مراد څنې مسافر دی چي په وطن کي خو مال لري او في الحال ورسره نه وي چي منقطع عن المال وي، او په دې قسم کي منقطع الغزات هم داخل دي فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿۲۶﴾

او ته تر حق د انفاق المال تجاوز مه کوه چې مال په معصیت کې صرف کړې. لکه چې شراب په رانسې یا د زنا په اجرت کې ورکړې وامثال ذالک. مجاهد وایي چې که سړی ټوله مال په لاره کې د خدای ﷻ صرف کړي ماکان تبذیراً او که یو مد یعني د صاع څلورمه حصه په باطل کې صرف کړي تبذیر دی. له ابن مسعود ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه د تبذیر د تفسیر. ده ورته وویل انفاق المال في غیر حقه" او روح المعاني وایي چې دا هم تبذیر دی چې مال وغیر المستحق ته ورکوي لکه زکوٰة و اغنیاؤ ته چې حق د فقراؤ او مساکینو دی.

دروښ وایي: چې ددې یو ظاهره مثال دادی چې د اوسنۍ زمانې پیدا لاین په زرهاؤ زکاتونه و قاضیانو. یا رئیسانو ته د مملکت ورکوي. لکه قومندان، تهانیه دار او حزبي سرمایه داران چې بله ورځ دده کار پر مربوط وي. او یو مسکین چې ورسي په دوهره ځیګر خونې. یو پینځوس روپۍ ځني پیلي کړي.

مسئله: که د یو چا د مسجد امام غني ؤ او دی په خبر هم ؤ. نو په نیت د زکات روپۍ ورکول تبذیر دی کمامر من تفسیر روح المعاني. او که زکوٰة ورکونکی د امام مسجد په غنۍ نه ؤ خبر او زکوٰة یې ورکړې. نو غاړې د ملا امام بندي دي چې حرام مال یې واخستی. بیت:

واعظان کین جلوه در منبر ومحراب میکنند
چون بخلوت میروند آن کاری دیگر میکنند

حکایت: یو سړي په لار کې د خیر دپاره روپۍ مسرف کړې بل سړي ورته وویل لاخیر في السرف. هغه ورته وویل لاسرف في الخیر، سعدي وایي:

نه هر کس سزاوار باشد بمال ..... یکی مال خواهد یکی گوش مال

یعني چې غني زکوٰة غواړي د زکوٰة په عوض کې د غوږ پیچ ورکړه.

إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ ۖ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا ﴿۲۷﴾

په تحقیق سره مبذرین بالمعني المذکورة وروښه دي د شیطانانو، او ؤ شیطان د خپل رب فرمان نه قبلونکی ؤ چې آدم علیه السلام ته یې سجده نه وکړه. بعد ان امره الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالسجود له. له ورور ګلوی څخه مراد مثلیت دی په شرارت کي، بغوي وایي چې هر څوک چې د بل قوم سنت او طریقه خپل کړي عرب وایي هو اخوهم.

وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ

پوه سه: چې کلمه د "ان" په اما کې، ولې اصل د اما ان ما دی. ان شرطیه ده او کلمه د ما زائده ده. والمعنی که چېرې ته یا محمد (ﷺ) اعراض وکړې "عنهم" له دوی څخه یعني عن ذوی القربی والمساکین وابن السبیل کما یدل علیه سوق الآیة.

پوه سه: چې اعراض روي ګرځانې ته وایي او مراد معنی لغوي نه ده بلکې اعراض کنایه ده له عدم الانفاق څخه ده. او بغوي ؒ وایي چې دا آیت په شان کې د مهجع، بلال او صهیب ﷺ نازل سوی دی، او داغه رنګه سالم او خباب ﷺ چې دوی نهایت فقراً د مسلمانانو وه او د علیه الصلوة والسلام څخه یې غوښتنه چې د مایحتاج الیه کوله. او د علیه الصلوة والسلام سره به هغه شی نه وُچې دوی ته یې ورکړې یعني من المال والثیاب وغیر ذالک، نو علیه الصلوة والسلام به مخ واړاوه حیاً او خبري به یې بندي کړې "واما تعرضن آه".

ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴿٢٨﴾

لپاره د انتظار و رزق ته د خدای ﷻ، له جانبه څخه د رب ستا به امید وُچې پیدا به سي، نو بیا به یې دوی ته ورکړې، نو دوی ته وایي قول نرم چې خدای ﷻ به پرته رحم وکړي لکه تا چې رحم وکړی پر سائلانو چې په قول جمیل دي ورته وویل او غلظت دي په خبرو کي ورته ونه کړی کما هو عادة ابناء الزمان. او بغوي ؒ وایي چې وعده ورسره وکړه چې که ماته خدای ﷻ مال راکړی نو زه به یې پر تاسي قربان کړم. وهذا هو القول الجمیل په پښتو کي، او بعض مفسرین وایي چې "میسور" مصدر میمي دی، وهو الیسر یعني دعاً د یسر ورته وکړه مثل اغناکم الله ورزقنا الله وایاکم.

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ

مه ګرځوه ته خپل لاس تړلی د غاړې سره، کنایة عن البخل، او مه ګرځوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاس (ضمير راجع دى لاس ته چي مؤنث سماعي دى) خلاس په كامل خلاسېدو سره كناية عن اعطاً جميع ماعنده يعني توسط بين الافراط في العطا چي كل البسط ورته اشاره ده، او په منځ كي تفريط في العطا چي يدك مغلولة ورته اشاره ده محمود دى في جميع الامور كما قال العلماً.

فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾

ته به وگرځي ملامت اى عندالله وعند الناس په بخل سره فراخي د مال يا په اسراف سره "محسوراً" قتاده رح وايي پښېمانه على افراط منك في الفعلين، او يا معنا داده چي ته ملوم وگرځي په نېږد سوال كونكو بالامساك په بخل سره د سعت الرزق چي شى ورنه كړې، د محسور معنى داده چي لاشئ عندك، نو دا لف او نشر مرتب دى فتدبر.

دروښ وايي: چي په دې آيت كي عظيم اختلاف دى په منځ كي د مفسرينو، بيضاوي وايي چي دا دوه مثالونه دي لمنع البخل مع القدرة واسراف المبذر منع منهما ونهي عنهما وامر بالتوسط بينهما الذي هو الكرم انتهى، او روح المعاني په اول وار داسي تفسير كړى دى لكه بيضاوي حيث قال تمثيلان لمنع الشحيح (اى البخيل) واسراف المبذر (تفسير يې دمخه تېر سو) او دا دوه كسان يې باعثه كړه پر اقتصاد (مابينه روى) بين الافراط والتفريط وذالك هو الجود والكرم الممدوح اذ خير الامور اوسطها، احمد رح او نور له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كړى دى، قال قال رسول الله ﷺ ما عال من اقتصد "عيال نه درنېږي پر هغه چا چي ميانه روى كوي په انفاق د عيال، او بيهقي له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت كړى دى، دى وايي چي رسول الله ﷺ وويل الاقتصاد في النفقة نصف المعيشة" وروى عن انس رضي الله عنه مرفوعاً، التدبير نصف المعيشة (په انفاق كي فكر وهل نيمى د عيش دى) والتودد (محبت د خلگو د سرې سره) نصف العقل والهم نصف الهرم (يعني غم نيمى د سپين ږيرتوب دى، پښتانه وايي چي عمر مي ډېر نه دى خو غمونو زور كړم) وقلة العيال احد اليسارين (او لږ والى د عيال يو د دوو غناؤ څخه دى يعني يوه په مال ده دويمه په قلة العيال ده، علماً په يوه خوله وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي حسن التدبير مع العفاف (يعنه فكر وهل په انفاق كي سره د كف د حرامو څخه غوره دی خير من الغنى مع الاسراف. او ددې آيت په شان نزول كي سعيد بن منصور له سيار ابي الحكم څخه روايت كړی دی چي عليه الصلوة والسلام ته څه انواع د كالو (جامو) راغلي وه. چونكه عليه الصلوة والسلام معطي كريم و سمدلاسه يې هغه په منځ كي د حاضرينو مستحقينو وويشلې. وروسته چي نور مستحقين خبر سوه په اميد و عليه الصلوة والسلام ته راغله. خو پر ميدان شی من البز (يعني جامې) نه وُ پاته. نو دا آيت نازل سو. او روح البيان وايي چي قال اهل التفسير هما تمثيلان لمنع الشحيح (اى البخيل الحريص على المال) واعطا المسرف اى جميع ماعنده من المال زجراً لهما عنهما وامر بالتوسط بينهما كما مر في تفسير روح المعاني كما قال الشاعر المحقق في تفسير هذه الآية:

مبند از سرا مساک دست در گردن .... كه خصليتست نكوهيده عند اهل بهار
مكن بجانب اسراف نيزچندان ميل .... كه هرچه هست بيكدم كنی زدست رها
چو درميانه اين هر دوراه چندانی .... تفاوتست كه از آفتاب تا بسها
پس اختياروسط راه است درجميع امور .... بدان دليل كه خير الامور اوسطها

په تفسير كشاف للعلامة الزمخشري په روايت د جابر ﷺ وايي چي په ډې دوران كي زه ناستوم يعني په مسجد كي چي عليه الصلوة والسلام ته يو هلک راغلی، هلک وويل چي زما مور ستا څخه قميص غواړي. عليه الصلوة والسلام ورته وويل "من ساعة الى ساعة يظهر فعد الينا" (له يو ګړي څخه تر بل ګړي چي بنكاره كېږي بيا به راسې. نو كوچنی ولاړی مور ته يې څواب د آنحضرت ﷺ ووايه. هغې ورته وويل ورسه ورته ووايه چي زما مور وايي دغه قميص راكړه چي تا اغوستی دی، نو عليه الصلوة والسلام حجرې ته ولاړی او قميص مبارک يې سره وپېچی د كوچني په لاس يې وركړی او دی مبارک په يوه لنګ كي بې قميصه لاړ كښېنستی، بلال ﷺ اذان وكړی او د عليه الصلوة والسلام په انتظار خلګ په مسجد كي ناست وه، عليه الصلوة والسلام نه راووتی، نو دا آيت نازل سو.

دروښ وايي: چي دا حديث بغوي ؒ هم راوړی دی. خو دومره عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پکښې بالا دی ځشغل قلوب اصحابه فدخل علیه بعضهم فرثاه عریانا.

فائده: دې ښځي ولې دومره سپين ستر ګي د علیه الصلوة والسلام سره وکړه چې ستا اغوستی قمیص راکړه؟ ددې سوال جواب حسین کاشفي ؒ په تفسیر حسیني کې کړی دی چې زه به یې په پښتو درته بیان کړم، دی وایي چې یوه مسلمانه ښځه او بله یهودی ښځه په یو کور کې سره ناستې وې یهودی وویل چې موسی علیه السلام ډېر سخي ؤ چې تر ځان فاضل شی یې و سائل ته ورکاوه، مسلماني ښځي ورته وویل چې علیه الصلوة والسلام ډېر سخي دی حتی چې مایحتاج الیه هم له سائل څخه نه سپموي، نو ددې هغه کوچنی چې ورغلی چې وما مور وایي ماته قمیص راکړه او علیه الصلوة والسلام عذر ورته ووایه چې اوس ولاړ سه یو ګړی وروسته راسه. مور یې ورته وواستاوه چې ستا اغوستی قمیص راکړه، او علیه الصلوة والسلام هم ورکړی خپله لخ کښېنستی او مسلماني ښځي یهودی ملامته کړه، انتهی په پښتو ژباړه.

دروښ وایي: چې پر دې ټولو تفسیرو روح المعاني داسې سوال کړی دی چې دا سورت خو په نېږ د ټولو قراؤ مکي دی او دا تفسیرونه چې بیان سول له دې څخه خو دا فهمېږي چې دا مذکوره آیت مدني دی، روح المعاني زیاته کړې ده چې دا آیت هیڅ چا مستثنی له دې مکي سورت څخه نه دی ګرځولی او ددې سوال ځواب ما په هیڅ تفسیر کې سره د ډېر تلاشه نه کړی پیدا.

دروښ وایي: چې چونکه دغه احادیث مذکوره چې دلالت پر مدنیت ددې آیت کوي، ټولو مفسرینو په مختلفو اسانیدو روایت کړی دی او په منځ کې ددغو احادیثو جزوي اختلاف سته او سلسله د دغو احادیثو ټولو صحابه کرامو ﷺ ته رسول سوې ده، نو دا احادیث په درجه کې د شهرت دي نو کېدای سي چې دغه احادیث دي مخصص ددغه آیت سي په مدني والي سره که څه هم سورت مکي دی هذا ما خطر علی قلب هذا الفقیر في لیلة عید الضحی سنه (۱۴۲۹) هجري قمري والله اعلم بحقیقة الحال، ساعة (۸) تقریباً في حجرة داري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ

په تحقيق خداى ﷻ فراخه كوي و هغه چا ته رزق چې مشيت يې وسي د فراخي. د رزق چې تابع د حكمت الهي د خداى ﷻ ده، يعنې دا بسط او فراخي تاته يا محمد ﷺ مفوض نه ده چې ته غم د فراخي د رزق د چا وكړي "ويقدر" او تنگوي رزق على من يشا حسب ما يقتضيه حكمته، يعنې پر تا ملامتيا نسته كه ته بعض هغه شيان چې ته حاجت ورته لرې له چا څه منع كړې لكه هغه قميص چې تا حاجت ورته درلودى سائل ته دي نه واى وركړى.

إِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ۝

په تحقيق خداى ﷻ خبر دى په احوالو د بندګانو څپل يعنې په سر او علانيه ددوى، نو خداى ﷻ خبر دى په مصالحو ددوى فيرزقهم على حسب مصالحهم.

دروښ وايي: چې تفسير بحر العلوم له انس بن مالك ﷺ څخه يو حديث قدسي نقل كړى دى چې خداى پاك وايي چې زما د مؤمنانو بندګانو "من لايصلح ايمانه الا الغنى" كه يې زه فقير كړم دين به پر فاسد كړي "وان من عبادي المؤمنين من لايصلح ايمانه الا الفقر لو اغنيته لافسده ذالك، وان من عبادي المؤمنين من لايصلح ايمانه الا السقم اى المرض" كه يې زه كامل جوړ كړم لافسده ذالك قال الله تعالى زه تدبير د حال د څپلو بندګانو يعنې په غنا او فقر سره او په صحت او مرض سره كوم لعلمي بقلوبهم اني عليم خبير.

دروښ وايي: چې پر عاقل بنده لازمه ده تسليم و امر ته د خداى ﷻ او رضا په قضا د خداى ﷻ او صبر په امورو كې د قبض او شكر په ځايو كې د بسط او انفاق حسب الامكان.

پوه سه: چې مظهري وايي چې دا قول د خداى ﷻ وان الله يبسط آه دي تمهيد وي و دې قول ته د خداى ﷻ.

وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ۭ

"ولا تقتلوا اولادكم" روح البيان او روح المعاني دا خبره رد كړې ده، دوى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وایي که تمهید وای، نو باید فلاتقتلوا ویل سوي وای، معنی ددې آیت داده چې مه وژنئ اولاد ستاسي.

پوه سه: چې لفظ د ولد که څه عام دی نر او ښځي دواړو ته شامل دی لکن مراد ځني لونې دي بقرینة ان اهل الجاهلیة کانوا یفعلون قتل البنات او مراد له قتل څخه قتل بالوادي (یعني ژنده درگور کردن) کما کان عادة اهل الجاهلیة (خشیة املاق) له بهرې څخه د فقر خدای ﷻ د رزق کفالت وکړی په دې آیت سره.

نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ

موږ رزق ورکوو ستاسي لونو ته او تاسي نه هم رزق درکوو یعني د لونو رازق نه نه یې بلکې د خپل ځان رزاق هم نه یې، یعني غم روزی ایشان مخور که اورا جان دهد نان دهد. شیخ سعدي قدس سره وایي:

خداوندگاری که عبدی خرید ..... بدارد فکیف انکه عبد آفرید

یعني یو سړی چې مریی رانسي ساتي یې، نو څرنگه به وي هغه څوک چې عبد یه پیدا کړي ویعني حق جلا وعلا.

ترا نیست این تکیه بر کردگار ..... کی مملوک رابر خداوند گار

إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْأً كَبِيرًا ﴿٣١﴾

په تحقیق وژل د لونو گناه ده لویه. په حدیث کي د بخاري او مسلم راغلي دي عن ابن مسعود ﷺ دی وایي چې ما پوښتنه وکړه د علیه الصلوة والسلام څنه چې ای الذنب اعظم؟ قال علیه السلام ان تجعل لله ندا وهو خلقک (کومه گناه لویه ده، علیه الصلوة والسلام وویل چې ته خدای ﷻ ته شریک ووایه او په دلسي حال کي چې خدای ﷻ ته پیدا کړی یې) قلت ان ذالک لعظیم؟ (دا په حقه سره لویه گناه ده، بیا نو کومه گناه لویه ده؟) قال ان تقتل ولدک مخافة ان تطعم معک (چې ته ولد وژنې له بهرې ددې چې ژما سره به ډوډی خوري) قلت ثم ای قال علیه السلام ان تزنی حلیلة جارک (چې زنا کوې د ماینې سره د همسایه چې په دې کي زنی خو یوه کبیره گناه ده او تلف د حق د همسایه بله کبیره گناه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لله اول څخه ددې آیت "ولا تقتلوا اولادکم" تر هغه ځایه پورې "ملوماً مدحوراً" چې لس آیته ته رسیږي، خدای ﷻ لس اخلاق ذمیمه ذکر کړي دي چې باید په لس خویه حمیده سره بدل کړل سي د مذمو ماتو اول خوی بخل دی دویم يې طول امل دی والیهما اشار الله تعالی بقوله ولاتقتلوا اولادکم خشیة الانفاق فان البخل وطول الامل" دوی یعني مشرکان پر دې باعثه کړه چې اولاد يې وژل. اما البخل فظاهر، واما طول الامل، ددوی خیال دا وو چې زه به ژوندی یم اولاد به مې د هر سې نفقه به غواړي، خدای ﷻ يې دفع په سخا او توکل سره وکړه بقوله تعالی "نحن نرزقهم وایاکم فافهم"

مسئله: که څوک بخیل نه وي لکن د زهد او تقوی له لاري د هر فراخ خوارۍ یعني ورځې او غوښې مثلاً نه خوري، نو ده ته اجازه شرعاً سته چې اهل البیت دي هم وزهد او تقوی ته راغب کړي که هغو ورسره ومنل خو د هر ښه او که هغو لذیذ خوارۍ خوښول او دده دعوت يې نه قبلاوه، نو پر هغو دي تنګي نه راولي او فراخه رزق دي ورکوي من غیر التجاوز عن حدود الاعتدال الی الاسراف، او دی پوه سو خپل ځان يې.

وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى

او تاسي مه نژدې کېږئ د زنی ته.

پوه سه: چې زنی چې ګناه کبیره ده او بل نژدې والی دی د زنی ته چې مقدمات د زنی پر لار واچوي لکه مچه. نظر بالشهوة الی عضو من المرئة لایجوز له النظر الیه، یا يې لاس ورکښېکښل یا يې پر سینه لاس ایښودل الی غیر ذالک چې دا ټوله صغائر ګنهونه دي.

فائده: د زنی لفظ په قصر سره دی په مشهورو قرائاتو کې، او بعض يې په مد سره وایي "زناء" معنی يې یوه ده.

إِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿۳۲﴾

دا زنی چې ده فعلة قبیحة ظاهرة القبح، او بده ده زنی از روی لار.

پوه سه: چې "سبیلاً" تمیز دی له فاعل څخه د "سا" چې زنی ته راجع دی، او دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تميز محول دی له فاعله څخه يعني بئس سبيل الزنى. ولي چې په زنى کې قطع د نسب راځي او له دې امر فتنو سبب ګاهي وګرځي، په حديث کې د بريده ﷺ راغلي دي عن النبي ﷺ چې اووه اسمانونه او اووه مځکې لعنت وايي پر سپين ږيري زنى کار باندې، او له انس بن مالک ﷺ څخه روايت دی عن النبي ﷺ المقيم على الزنى (يعني دوام کونکی پر زنى کعابد صنم. رواه الخرابطي ؒ) وعن ابي هريرة ﷺ كما رواه ابو داؤد والترمذي والبيهقي والحاكم اذا زنى الرجل خرج منه الايمان كالظلة (سائيبان) نو چې له زنى څخه فارغ سي بيرته ايمان ورته راوګرځي، او بخاري او مسلم له ابي هريره ﷺ څخه روايت کړی دی "لايزنى الزاني حين يزنى وهو مؤمن (اى كامل الايمان) ولايسرق السارق حين يسرق وهو مؤمن ولايشرب الخمر حين يشربها هو مؤمن"

له بعضې اصحابو ﷺ څخه روايت دی "قال اياكم والزنى (دا تحذير دی) ولي په زنى کې شپږ خصلته ستد (۱) نقصان الرزق يعني په رزق کې برکت نه وي (۲) ونقصان العمر (۳) البغض في قلوب الناس، يعني په زنى که يې څوک هم نه وي خبر لکن بد يې ځني کيږي، دا دړې په دنيا کې دي. او دړې خصلته په اخرت کې دي (۱) فغضب الرب ﷻ (۲) شدة الحساب (۳) ودخول النار، او په حديث صحيح کې راغلي دي "العينان تزنيان. وهو النظر بالشهوة" واليدان تزنيان "يعني اللمس بالشهوة"

حکايت: په بصره کې يو سړی په مشکي سره مشهور ؤ يعني همېشه به يې د مشکو بوی تلی، دده څخه چې به چا پوښتنه د مشکو د بوی وکړه، ده به ورته ويل چې زه د هر بنائسته وم او د هر حيا ناکه وم. نو همېشه به په کور کې وم په سبب د حيا يا له خوفه څخه د فاجرانو نو. زما پلار ته خپلوانو وويل چې ستا زوی لکه نبځه په کور کې دی، او ته دنيادار سړی يې، نو دی چې په زيره سي په هيڅ بيع او شرا او کاروبار په نه پوهيږي، په بازار کې يو د پزازی دکان ولسه دی درسره کښېنوه چې د دنيا په معامله وپوهيږي او له ځان سره يې دکان ته بيا يې او بيرته يې د ځان سره راوله، خوف د فاجرانو به هم نه وي او دده به يوځه حيا هم کمه سي. پلار مې دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبره چې معقول وه وه يې منل. او زه يې په دکان کې له ځانه سره کښېښولم، يوه ورځ يو سپين سرې ښځه راغله او هر قيمتي توکران يې رانيول روپۍ يې هم ورکړې او زما پلار ته يې وويل چې زه سپين سرې يم دا غوټه نسم ورلاى، نو دا ستا زوى راسره کړه چې زما سره دا غوټه تر کوره پورې يوسي، پلار زه ورسره کړم سپين سرې دمخه زه په پسې يم، اخير يې زه لوى بنګلې ته وروستم غوټه په شا. او کور په يوه خونه کې يو پلنګ پروت وه هر بنائسته او قشنګ، او پر هغه پلنګ باندې يوه ډېره بنائسته ځوانه ښځه ناسته وه ما چې غوټه کښېښول هغې ښځې زه ځيګر ته کش کړم، ما ورته وويل الله، دې راته وويل هيڅ شى نسته، ما يو وخت ته پر خپل دکان ولېدې دباندې عاشقه سوم دا دومره کالي چې بوډى رانيول زما په روپو چې تا کور ته راولم، ما ئې په هر تکليف بنګله د نرو او ښځو څخه خالي کړه اوس تلاى نسې چې زما سره زنى ونه کړې، هر څه زارى چې مې ورته وکړې نه يې منلې، اخير ما ورته وويل چې بهځي اودس ماته نيولى يم، بيت الخلا راوښيه چې زه خپل ځان سپک کړم، نو به زنى درسره وکړم، بوډى بيت الخلا راوښوولە زه ورننوتم چکر مې په خپلو لاسو کې وواهه مخ او د ځيګر قميص مې په ولاړه چې راووتلم هغه بنائسته ښځې و بوډى ته وويل چې باسه يې دا ليونى دى، خير هغې دروازه را خلاصه کړه زه راووتم مخ او کالي مې په يو مسجد کې پرېښولە او وچ مې کړه، دکان ته راغلم پلار مې په هيڅ نه کړى خبر، ما بنسام چې پرېښو تلم يو بنائسته سړى مې په خوب وليدى چې زما پر مخ او بدن يې لاس راتېر کړى او دا يې راته وويل "اين انت من يوسف بن يعقوب عليه السلام" او ماته يې وويل چې تا ما پېژنې زه جبرئيل يم تا چې د خداى ﷻ له بېرې خپل مخ او کالي په مردار يو ولړل خداى ﷻ تاته داشرافت درکړى چې تر مرګه پورې به دې د مشکو بوى ولاړ بېږي، وهذا هو نتيجة الخشية من الله مع القدرة،

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ؕ

او تاسې مه وژنئ هغه نفس چې نر او ښځې دواړو ته شامل دى چې حرام کړى وې دا نفس يعنې قتل دده (لان التحريم وغيره من الاحكام صفات الافعال لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاعيان) كه مسلمان وي او كه اهل ذمه او كه معاهد وي (الا بالحق) استثناً مفرغ ده اى بسبب من الاسباب الا متلبساً بالحق. لكه رجم د زاني محصن او يا قصاصاً او يا باغي وي و حكومت اسلامي ته يا قاطع الطريق وي يا صحابه ﷺ ته بنكنځل او عيب پر وايي (لكه شيعه گان)

فائده: مرتد مما حرم الله نه دى لقوله تعالى "انما جزاً الذين يحاربون الله ورسوله ان يقتلوا آلاية نزل في المرتدين، وقال الله تعالى قاتلوا التي تبغي الآية" په روايت كي د بخاري او مسلم او ابو داؤد او ترمذي او نسائي د عبدالله بن مسعود ﷺ راغلي دي، ده وويل قال رسول الله ﷺ "لا يحل دم امرء مسلم يشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله الا باحدى ثلاث. الثيب الزاني" چي ماينه لري كه نر وٴاو يا مېړه لري كه ښځه وه بيا زنى وكړي "والنفس بالنفس" يا يو سړى بل مړ كړي عمداً، نو هغه قاتل قصاصاً وژل كېږي "والتارك لدينه المفارق للجماعة".

پوه سه: چي د مفارق الدين آه څخه مراد مرتد نه دى لانه ليس بامرء مسلم يشهد ان لا اله لا الله بلكې مراد څني هغه كسان دي چي په هوا نفسي كي غرق وي او له لوى جمعت څخه د مسلمانانو بر طرف وي كالروافض والخوارج وامثالها.

فائده: له ابن مسعود ﷺ څخه روايت دى چي عليه الصلوة والسلام وويل "اول ما يقضى يوم القيامة في الدماء (اول چي حكم الهي كېږي په ورځ د قيامت د ناحقه وينو په تويول كېدو) بخاري ومسلم عن براً بن عازب ﷺ ان رسول الله ﷺ قال لزوال الدنيا اهون على الله من قتل مؤمن بغير حق" د نړۍ دنيا خرابېدل سپک دى په نيزد د خداى ﷻ تر قتل د مسلمان بېله حقه) رواه ابن ماجه بسند حسن، او له بيهقي څخه روايت دى كه اهل د اسمانو او اهل د مځكي تولـه شريكان سي په قتل كي د مؤمن "يعني بغير حقه" لادخلهم النار، او نسائي حديث د بريده ﷺ رانقل كړى دى وايي چي قال رسول الله ﷺ قتل المؤمن اعظم عند الله من زوال الدنيا.

دروبش وايي: چي په صحاح سته وو كي او په نورو صحيح كتابو كي د احاديثو لكه صحيح د ابن حبان ؒ او صحيح د حاكم چي مستدرك يې نوم دى او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صحيح د بيهقي په باره كي د قاتل عمداً بغير الحق حديثونه ډير راغلي دي چې جمع كول به ډير مشكل وي. لكن مشت نمونه خروار دا نقل سوي حديثونه كافي دي، او تر ټولو دا آيت "ومن قتل مؤمناً متعمداً فجزائه جهنم خالداً فيها" كافي تهديد دى. لپاره د منع د قاتل له قتل عمد څخه كه څه هم له خلود څخه په آيت مذكوره كي تابيد نه دى مراد په نيزد زمور د اهل السنة والجماعة لكن غايت تشديد خو دى.

وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا

كه څوك ووژل سو مظلوم چې مستحق د قتل نه ؤ يعني عمداً ووژل سو چې هغه دې ګنهونه چې قتل يې روا كاوه په دې مقتول كه نه وه. نو په تحقيق مور ګرځولى دى ولي لره د مقتول يعني ورثته. او كه يې ورثه نه درلوده نو سلطان الوقت اه قدور السلطان ولي من لاولي له "سلطاناً" يعن تسلط او غلبه پر قاتل شرعاً كه د ولي خوښه وي قاتل دي قصاص كړي او كه يې خوښه وي عفوه دي ورته وكړي او كه يې خوښه وي ديت دي واخلي لكن په رضا د قاتل.

فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ؕ

نو ولي دي اسراف نه كوي په قتل كي د قاتل يعني تر حدود د شرعي دي تجاوز نه كوي، يعني سره د قصاصه پزه. غوږونه او نور اعضا څني پرې كړي چې په عربي يې مثلث بولي. او يا غير له قاتل څخه په اقرباؤ كي د قاتل قتل كړي كما كان في الجاهلية، حسين كاشفي رح په تفسير حسيني كي وايي: درجاهليت چون كس كشته شدى وارث مقتول قاتل نمى كشتى بلكه مهتر يعني سردار قبيله قاتل راميكشتى انتهى. او يا داسي اسراف چې دا هم په جاهليت كي رواج ؤ مقتول به ظلماً يو شريف سړى ؤ ورثه د مقتول به دده په ځاى دود كسان ووژل بلكې يو جماعت له قريبانو څخه د قاتل به يې وژل.

اِنَّهٗ كَانَ مَنْصُوْرًا ﴿۳۳﴾

په تحقيق دې ولي د مقتول ظلماً كومك ورسره كړل كېږي يعني شرع شريف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معاون ده چي ده ته يې اجازه د قتل د قاتل دده قريب، او امير د مسلمانانو يې هم کومکي دی چي ولي ته مقتول قاتل طوعاً وکرهاً په لاس ورکوي.

فائده: (۴) له خصالو مذکوره وو څخه غضب دی، ولي د هر غضب باعث د قتل بغير الحق ګرځي کما قال الله تعالى "ولا تقتلوا النفس التي حرم الله الا بالحق.

پوښتنه: د قاتل نفس عمداً توبه به څه وي؟

ځواب: په حديث کي د انس ﷺ راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام وويل "اما ان يقتل، واما ان يعفى عنه، واما ان يؤخذ منه الدية. فاي هذه الخصال فعل فهي له توبة" چي توبه د قاتل عمداً په دروشيانو کي ده، يا به وژل کېږي يعني قصاصاً، يا به عفوه ورته کېږي يعني مقتول د ولي له خوا. يا به ديت څخه اخستل کېږي.

دروښ وايي: چي د حديث معنى داده چي توبه د قاتل عمداً هغه سي نه ده لکه توبه د شرب الخمر او يا لواطة وغيرهما چي الندم هو التوبة.

وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ

او مه نژدې کېږئ ومال ته د يتيم فضلاً عن اکله. مګر نه په هغه خصلت سره چي احسن وي يعني چي نفع د يتيم پکښې وي چي محافظت د يتيم د مال يعني د يتيم په روپو مال رانيول او په ګټه يې ورکول ولو کان بالاجل لان الفقهاً جوزوا زيادة الثمن بسبب الاجل فافهم.

فائده: يتيم په انسانانو کي هغه دی چي پلار نه لري که يې څه هم مور ژوندی وي. او يتيم په حيواناتو کي هغه دی چي مور يې مړه وي که يې څه هم پلار ژوندی وي. او يتيم په جواهراتو کي هغه دی چي مثل ته لري کما يقولون هذه درة يتيمة يعني لا نظير لها.

پوښتنه: که د يتيم باغ يا مځکه پاته وه، نو به ولي د يتيم څه په کوي؟

ځواب: که ولي د يتيم غني وُ بلا اجرت دې ورروزي، او که فقير وُ په قدر د معتاد في الناس دي باغواني يا بزګري څنې اخلي تاچي ولي دده په باغ يا د مځکي په کښت ګرې اخته سي، نو د عيال نفقه حسب المعتاد دده په مال کي ده قاله الفقها رحمهم الله ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ

دا غايت د تصرف د ولي په مال کي د يتيم چي دی ورسيږي د زمانې ته د قوت عقلي چي د تصرف نافع او ضار فرق وکړای سي چي له اتلسو کالو څخه ئيزلې بيا تر دې پرشو کلو پورې باعتبار تفاوت عقول البتانې.

فائده: "اشد" مفرد دی لکن پر صيغه د جمع کانګ ولانظير لها کما في القاموس.

وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔوْلًا ﴿۳۴﴾

او تاسي وفا کوئ په وعده سره چي پر تاسي خدای ﷻ لازم کړي دي من تکاليفه او تاسي يې هم التزام کړی دی بقول لا اله الا الله. ويندرج فيه سنن النبي ﷺ لانه لاينطق بالهوى انما هو وحي يوحى" او تاسي يې التزام کړی دی بقولکم محمد رسول الله ﷺ. او داغه رنګه وفا کوئ په هغو وعدو سره چي ستاسي او د خلګو تر منځ وي، ويندرج فيه العقود كلها من البيع والاجارة، وغيرها "ان العهد كان مسؤلا" په تحقيق سره د عهد سوال کړل کېږي له جانبه څخه د خدای ﷻ او د خلګو.

وَاَوْفُوا الْكَيْلَ اِذَا كِلْتُمْ

تاسي وفا کوئ په پيمانه چي تاسي چا ته په پيمانه سره ورکوئ يعني په کمه پيمانه يې مه ورکوئ چي په عربي يې بخس بولي، دا په هغه شيانو کي دی چي په عرف کي د عربو په پيمانه ورکول کېږي لکه غنم، جوار، ورجي، خورما وغيرها.

دروښ وايي: چي که څه هم دا عادت په پښتنو کي نسته بلکي د دغو خوراکي موادو بيع او شرا او قرض وغيره تولې په ترازو سره کوي.

وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۭ

او وزن تلل کوئ په هغه ترازو سره چي سم وي يعني په سپرو او نورو من وغيره کي کمبود نه وي او دا په هغه شيانو کي دی چي وزني وي لکه سره زر سپين زر وسپنه وغيرها من الوزنيات، مجاهد ؒ وايي چي قسطاس لفظ رومي دی عربو يې استعمال په عربي ژبه کي کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ددې رومي لفظ استعمال به په قرآن به منافي د هغه آيت سره نه وي "انا انزلناه قرآنا عربيًا"؟

ځواب: يا! الان اللفظ للعجمي اذا استعمله العرب، او د عربي الفاظو احكام پر جاري كېږي من التعريف والتنكير صار عربيًا، او اكثره علماً وايي چې دا لفظ عربي دی ماخوذ دی له قسط څخه چې په معنی د عدل دی چې تراوز آله د عدل ده.

ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ۝

او دا كيل او وزن په صحيح طريقه خير دی يعني تاسي لره په دنيا كې، ولي په دې سره خلګ ستاسي سره معامله كولو ته رغبت كوي او ذكر جميل مو كوي او هغه از روی مآل يعني د خداى ﷻ عقاب او عذاب ستاسي څخه دفع كوي في يوم القيامة.

پوه سه: چې پېنځم د افعال مذمومه څخه چې اسراف دی چې خداى ﷻ نهي ځني وكړې بقوله فلا يسرف في القتل آه، او شپږم له افعال مذمومه څخه حرص د دنيا دی چې خداى پاك نهي ځني وكړې بقوله "ولا تقربوا مال اليتيم آه" ولي باعث پر تصرف په مال كې د يتيم حرص د دنيا دی او هغه بدل كړی په قناعت سره بقوله تعالى "الا بالتي هي احسن" او (۷) نقض العهد دی فبدله بقوله و اوفوا بالعهد ان العهد كان مسؤلاً. او (۸) د خصال مذمومه وو څخه خيانت دی فبدله الله بالامانة بقوله تعالى "واوفوا الكيل اذا كلتم الآية".

فوائد شتى: (۱) نوشيروان وايي چې څلور خويه بد دي، او دا څلور خويه په څلورو كسانو كې ډېر بد دي (۱) بخل په بادشاهانو كې (۲) درواغ په قاضيانو كې (۳) حدت يعني شدة الغضب په علماؤ كې (۴) والوقاحة، بې شرمي او بې حيايي په ښځو كې.

فائده: اسراف په شي كې بد دی. له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام تېرېدی سعد رضي الله عنه اودس تازه كاوه، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل "لاتسرف" هغه ورته وويل "افي الوضوء اسراف؟ قال نعم وان كنت على نهر جار".

فائده: يو پوه سړي ته يو چا وويل چې دا څه سر دی چې د سپين ږيرې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دنيا ډېر حرص وي تر ځوان؟ حکيم ورته وويل چې شيخ خو ډېر خوندونه د دنيا ځکلي دي چې ځوان هغه نه دي ليدلي، صائب وايي:

ریشه نخل کهن سال از جوان افزون تر است
پیشتر دل بستگی باشد مد نیا را

له سفيان ثوري رح څخه روايت دی "من باع الحرص بالقناعة فقد ظفر بالغنى"

دروېش وايي: چې په حريص د دنيا ګي به دا عيبونه خامخا وي، اول به د دروغ وايي خلګو ته به وايي چې زه ډېر مسکين يم عيال راپسې دي او سره ددې چې دی به في الواقع غني وي، دويم اضحيه به پر واجبه وي د خلګو له ببري چې بيا به ماته فقر نه راکوي نه يې ذبح کوي، دريم له خلګو څخه به زکوٰة غواړي او سره ددې چې ده ته به حرام وي په سبب د غنى، څلورم په هيڅ ذلت به نه شرمېږي خلګو ته به يې لمن د فقر همېشه خلاصه نيولې وي، داځو حريص دی چې غير مشهور په غنى سره وي، او حريص د دنيا په اغنياؤ کي دادی چې د دنيا په جمع کولو کي د حلال او حرام فرق نه کوي، او بيوع فاسده يې عادت وي، او زکوة براى نام په زړو کي يوه حصه و مسکينانو ته ورکوي، او نهه نيمي (۹۹) حصه قاضيانو او رئيسانو ته د حکومت او لوى لوى صاحب منصبانو ته ورکوي چې بله ورځ دده دنياوي کارونه پرې مربوط وي او نور ورته کارونه کوي، برين عقل ودانش بايد ګريست.

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ

او ته متابعت مه کوه (مشتق د قضا يقضوا څخه دی اذا تبع اثره) چې نه وي تا لره پر هغه علم، يا په حس سره يا په خبر صادق سره او يا دليل عقلي قوي چې په اصطلاح يې برهان بولي پر هغه.

پوه سه: چې په دغه آيت سره دليل هغه کسان واى چې عمل په دلائل ظنيه ود سره کوي مثل الخبر الواحد في الاحاديث وقياسات المجتهدين نه دي روا، والجواب عنه چې مراد په دې آيت له علم څخه اعتقاد راجح دی چې په اصطلاح يې ظن بولي چې سند لري که قطعي وي او که ظني، او لفظ د علم په دې معنا کي په کثرت سره مستعملېږي، او بعض علماؤ وايي چې علم په معنى د يقين خو دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن دا آیت مخصوص په عقائدو پورې دی چې په هغو کې نه خبر واحد او نه قیاس د مجتهد او نه تقلید کار فرما دی. او بعض علماً وایي چې ددې مراد دادی شاید دي په درواغو مه اډاکوئ چې یقین دي نه وي. او پاکو ښځو ته نسبت د زنی مه کوه په مجرد ظن تر څو چې یقین دي نه وي. او قتاده ؒ وایي چې داسي مه وایه چې ما ولیده او نه دي وي لیدلي. او داسي مه وایه چې ما واورېدل او نه دي وي اورېدلي. او یا زه پر دې خبره علم لرم او علم نه پرلرې. مظهري وایي چې عمل په احادیثو احادو سره چې شرائط معتبره په راویانو کې د حدیث پکښې وي او په قیاس صحیح سره د مجتهد او حکم په شهادت د دوو نرانو یا یو نر دوو ښځو دوا دی او ثابت دی په نصوصو قطعیه وو سره او په اجماع د امت مرحومه.

دروښ وایي: چې مانع د عمل په قیاس د مجتهد یا په خبر واحد اهل ظواهر الحدیث او سلفیان . او وهابیان او پنج پیریان دي. زه وایم چې دوی له تقلید څخه ځرنګه انکار کوي او ائمه اربعه رحمهم الله ته ډېر د سپکاوي الفاظ استعمالوي. او په حقیقت کې دوی هم مقلدان یا د ابن تیمیه او یا د محمد بن عبدالوهاب دي چې تر خیر القرون الثلثة په سوو کلونه وروسته پیدا سوي دي. او ابو حنیفه او مالک بن انس او احمد بن حنبل رحمهم الله په خیر القرون کې داخل دي.

دروښ وایي: چې دلیل د قبول د خبر واحد یعني په خیر القرون و درجې ته د شهرت یا تواتر نه وي رسېدلي دا قول د رب جلیل دی "لولا نفر من کل فرقة (ولي نه وزي په طلب د علم پسي له هر لوی قوم څخه) طائفة لیتفقهوا في الدین ولینذروا قومهم اذا رجعوا الیهم الآیة" یوه کوچنۍ ډلګۍ چې فقاهت او پوهنه حاصله کړي دغه کوچنۍ ډلګۍ په دین کې یعني احکام او احادیث نبویه وغیرها. او تا چه وبېروي دغه ډله چې په دوران کې د سفر په طلب د علم کې دین زده کړي و قوم ته خپل یعني چې پر کور ناست ؤ لپاره د معیشت دنیاوي چې چاره یې نه ځني درلوده هغه وخت چې هغه ډله چې علم دین حاصل کړي و خپل قوم ته رجوع وکړي، دا وه پښتو ژباړه د آیت مذکوره.

پوښتنه: دا څرنګه دلیل دی د قبول د خبر واحد بالمعنی المذکور آنفاً؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په دې آیت کې طائفه راغلې ده لفظ د طائفه له درو څخه نیولې پر هر څو کسانو یې اطلاق روا دی، او مورږ پوهیږو چې د درو یا څلورو یا پینځو حتی تر لسو کسانو پورې شهرت او تواتر نه پیدا کیږي، نو که خبر واحد بالمعنی المذکور حجت نه وای نو ددې عبارت قرآني "ولینذروا" به څه وجه وای فتامل. او دلیل د عمل بالقیاس دا آیت مبارک دی "فاعتبروا یا اولی الابصار" ولې د اعتبار معنی فقهاؤ وایي چې پر اصل مورد د آیت یا د حدیث بل شی چې په هغه نص نه وي معتبر او قیاس کړي، ومزید التفصیل في الآیتین المذکورتین في کتب اصول الفقه. او د شهادت د قبلېدلو دلیل دا آیت دی "فاستشهدوا شهیدین من رجالکم الآیة".

سوال: دا تفاسیر د اصولو الفقه خو طوائف مذکوره نه منې، ولې چې دوی فقه یا اصول الفقه نه منې، نو ددوی تفسیرونه به څرنګه ومنې؟

ځواب: زما مقصد هم ددوی قناعت نه دی بلکې ددوی د ګمراه کنن سوالو څخه مقلدین ساتم والله اعلم، او بل جواب د قبول د خبر واحد بالمعنی المذکور دادی چې په تواتر دا ثابته ده چې علیه الصلوة والسلام احاد د صحابه رضي الله عنهم استول لپاره د تبلیغ د احکامو د دین د اسلام، نو خو دا معلومه سوه چې اتباع د دغو آحادو صحابه رضي الله عنهم کافي ده او پر خلګو یې متابعت لازم دی.

دروېش وایي: چې تر تولو د تعجب خبره داده چې ګاهي په احادیث مبارکه وو کې تعارض راسي، نو دا تعارض به اصحاب ظواهر الحدیث په څه شي دفع کوي، نو خو دوی مجبور دي په نقل د قول اماماً نو ددوی بې رفع کوي نو خو دوی هم مقلدین سوه.

إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾

په تحقیق چې سمع یعني قوت سامعه والبصر قوت باصره او زړه تولې د دغو اعضاؤ او قوی څخه دی عنه سوال کرده شده في الآخرة، روح البیان د سمع ترجمه په ګوښ سره کړې ده چې په پښتو یې غوږ بولي، او د بصر ترجمه یې په چشم سره کړې ده چې په پښتو یې سترګې بولي او معنی د فواد یې په دل سره کړې ده چې زړه دی. او د کل ترجمه یې داسې کړې ده "کل واحد من هذه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجوارح" حاصل دادی چي د سمع او بصر څخه معنی مصدري نه ده مراد یا قوت سامعه، کما قلنا اولاً یا اعضاً مذکوره یعني غوږونه، سترګې او له فواد څخه هم یا قوت دراکه في القلب مراد دی یا خو دي جارحه د زړه ده والله اعلم.

سوال: اولئک لپاره د ذوی العقول مستعملېږي او دا قوي او اعضاً خو ذوی العقول نه دي؟

ځواب: چونکه سوال ځني کېږي نو نازل منزله العقلا یې وګرځول، او روح المعاني د کل داسي ترجمه کړې ده ای کل من هذه الاعضاً.

دروښي وایي: چي مظهري وایي چي ضمیر د عنه ومصدر ته د لاتقف چي ققو راجع دی د "ان" وفیه تکلف وخلاف الظاهر وخلاف جمیع المفسرین کمامر، والظاهر ضمیر د عنه وکل ته راجع دی. روح البیان وایي کان عنه ای عن نفس تلک الاعضاً او عما فعل به صاحبه یعني از ایشان خواهد پرسید که صاحب شما باشما چه معامله کرده، از سمع سوال کنند چه شنیدی واز چشم پرسند که چه دیدی وچرا دیدی. واز دل پرسند که چه دانستی وچرا دانستی انتهی. تفسیر روح البیان بعبارته.

پوه سه: چي دا قول ولا تقف آه اشاره ده و نهم ته د خصال مذمومه وو وهو الظلم وهو وضع الشئ في غیر موضعه. فیبدل الله تعالی بقوله ان السمع والبصر والفواد کل ذالک کان فیه مسؤلاً. نو ظلم د سمع استعمال دی د سمع په اوریدلو کي د غیبت والبهتان واللغو والرفث والقذف والملاهي، یعني ساز او ناروا غزل. والفواحش وعدله استعماله في استماع القرآن والاحادیث والمواعظ والامر بالمعروف والنهي عن المنکر والنصیحة والعلوم والقول الحق.. بیت:

گذرگاه قرآن وپند است گوش ..... به بهتان وباطل شنیدن مه کوش

وظلم البصر النظر الی المحرمات والشهوات، او یا کتل و ما فوق ته په دنیا کي اویا کم تر ده په دین کي و الی متاع الدنیا وزینتها، وعدل البصر النظر في القرآن والنظر في کتب العلوم الشرعیة، او نظر و مخ ته د علماً او صلحاؤ الی اثار رحمة الله کیف یحی الارض بعد موتها..... بیت:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دو چشم ازپی صنع باری نکوست.... نه عیب کسان را فرو گیر ودوست

له حضرت عثمان رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما درواغ نه دي ویلي له هغه وخته څخه چې اسلام مي راوړی دی او ما نه دی مسه کړی په خپل رسته لاس فرج له هغه وخته څخه چې ما په رسته لاس بیعت د رسول الله ﷺ سره کړی دی او نه مي ګنډنه او اومه پیاز خوړلي دي چې ما قرآن ویلی دی "وظلم الفؤاد" البغض والحسد وحب الدنیا. والتعلق بما سوی الله. وعدله تصفیته من الاوصاف الذمیمة المذکورة وغیرها. او بنائسته کول دي د زړه په اضداد و د صفاتو ذمیمه وو.

پوښتنه: دا قوی او اعضا څو قابل د سوال نه دی کما هو الظاهر؟

ځواب: روح المعاني ددې سوال و جواب ته په دې عبارت سره اشاره کړې ده کل الضمائر راجعة لکل. ای کان کل من ذالک مسؤلاً عن نفسه فیقال له هل استعملک صاحبک فیما خلقت له املاً یعني ته د هغه شي لپاره چې خدای تعالی ته د هغه لپاره پیدا کړی یې صاحب ستا ته په هغو شیانو کې استعمال کړی یې او که نه وذالک بعد جعله یعني بقدرة الله اهلاً للخطاب والسؤال، دا ځواب له سوال څخه دی فافهم.

پوه سه: چې عنه متعلق دی په مسؤلاً پورې والتقدیر کل اولئک مسئول عنه قدم لرعایة الفواصل.

پوښتنه: د مورزاده ړانده یا د مورزاده کانه یا د مجنون اصلي څخه ددوی د سمع او بصر او فؤاد سوال به څرنګه کېږي؟

ځواب: هغه مفسرین چې تفسیر د سمع یې په قوت سامعه سره کړی دی او د بصر یې په قوت باصره سره او د فؤاد یې په قوت دراکه سره کړی دی دا سوال وارد نه دی کما لایخفی، او هغه مفسرین چې تفسیر په غوږ او سترګو او زړه سره کړی دی که څه ظاهراً دا سوال پر وارد دی لکن هغه ویلای سي چې بناء د تفسیر پر اکثر اغلب ده او مذکوره کسان نادر دي والنادر کالعدم.

وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا

او ته مه ګرځه ایها المخاطب په مځکه کې په مرحاً سره، مرح چونکه مصدر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی ځکه مفسرین یې په ذا مرح سره کوي، مرح کبر او اختیال ته وایي.

پوه سه: چې "مرحًا" حال دی له فاعل څخه د لاتمش.

إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴿۳۷﴾

تعلیل للنهي ته نسبې څیرلای مځکه چې پښې د مځکې وهې د تکبر له کبله او ته نسبې رسېدلای چې سر دې په هوا نیولی دی له کبره او له خیاله و غرو ته په جګوالۍ. یعنې راتګ د متکبر سړي چې پښې د مځکې وهي او سره یې په هوا نیولی وي صرف دده خر ګړي ده "لاتفید شیئًا" له عیاش المجاشعي رضي الله عنه څخه روایت دی ان رسول الله ﷺ قال انې اوحيَ الیَ ان تواضعوا حتی لایفخر احد علی احد ولایبغی احد علی احد. رواه مسلم"

دروښ وایي: چې کافي ده په قبح کې دا چې اول من صدر عنه الکبر هو ابلیس حین لم یسجد لآدم علیه السلام بامره تعالی وقال انا خیر منه... بیت:

تکبر عزازیل را خوار کرد ..... بزندان لعنت گرفتار کرد

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل "لایدخل الجنة من کان في قلبه مثقال ذرة من کبر" چا پوښتنه وکړه چې د هر چا دا خوښه ده چې ښه کالي او ښې چوتي دې وي. علیه الصلوة والسلام ورته وویل "هذا جمال والله یحب الجمال. والکبر بطر الحق" حق ته غاړه نه ایښوول "وغمط الناس" او خلګ ترځان حقیر ګڼل، او کما قال علیه السلام رواه مسلم .... بیت:

تواضع کند هوشمندی گزین ..... نهد شاخ پر میوه سر بر زمین

له سلمه بن الاکوع رضي الله عنه څخه روایت دی ده وویل قال رسول الله ﷺ لایزال الرجل یذهب بنفسه حتی یکتب في الجبارین فیصیبه ما اصابهم. رواه الترمذي"

دروښ وایي: چې کبر (۱۰) بد خوی دی د لسو ذمیمه خیو څخه فبدله الله بالتواضع بقوله انک لن تخرق الجبال الآیة ..... ابیات:

زخاک آفریدت خداوند پاک ..... پس ای بنده افتادگی کن چوخاک
تکبر زدانا بود ناپسند ..... غریب این معنی از هوشمند
کسی را که خصلت تکبر بود ..... سرش پر غرور از تصور بود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وفي الحديث "من تعظم في نفسه واختال في مشيته" كه څوک ځان لوی بولي په خپل زړه کي، او خيال کوي په تګ کي "لقى الله وهو عليه غضبان" د خدای ﷻ سره به ملاقي سي په ورځ د قيامت چي هغه به وده ته په غضب وي .. بيت:

تكبر بود عادت جاهلان ..... تكبر نيايد ز صاحب دلان

وعن عمرو بن سعيب ﷺ عن ابيه عن جده عن رسول الله ﷺ يحشر المتكبرون امثال الذر في صورة الرجال يوم القيامة يغشاهم الذل الى اخير الحديث" او له امير المؤمنين عمر ﷺ څخه روايت دی چي ده پر منبر نبوي ﷺ وويل "يا ايها الناس فاني سمعت رسول الله ﷺ يقول من تواضع لله رفعه الله فهو في نفسه صغير وفي اعين الناس كبير" که چا تواضع او کم نفسي وکړه لپاره د خدای ﷻ، نو دی به پورته کړي خدای ﷻ، دی به په خپل زړه کي ځان خوار او عاجزه بولي، مګر د خلګو په سترګو کي به دی محترم او معزز سړی وي "ومن تكبر وضعه الله فهو في اعين الناس وفي نفسه كبير حتى لهو اهون عليهم من كلب او خنزير" او څوک چي کبر کوي خدای ﷻ بې کښته کړي يعني خوار صغير او ذليل بې وګړوي، نو دی به په سترګو کي د خلګو حقير وي او دی په زړه کي ځان ډېر لوی شخصيت بولي حتى دی سپک وي پر خلګو تر سپي يا تر سرکوزي.... ابيات في التواضع:

دلا گر تواضع كنى اختيار ..... شود خلق دنيا ترا دوست دار
تواضع زيادت كند جاه را ..... كه از مهر پر تو بود ماه را
تواضع كند مرد را سرفراز ..... تواضع بود سروران را طراز[1]
تواضع بود حرمت افزائي تو ..... كند در بهشت برين جاى تو

ابيات درباب تكبر:

تكبر مكن زينهار اى پسر ..... كه روزى ز دستش درآيي بسر
چو دانى تكبر چرا ميكنى ..... خطا ميكنى و خطا ميكنى
تكب ز دانا نا بود ناپسند ..... غريب ايد اين معنى از هوشمند

[1] يعني د سردارانو زيور دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له اسما بنت ابوبکر رضي الله عنه څخه روايت دی دا وايي سمعت رسول الله ﷺ يقول بئس العبد عبد تخيل واختال ونسي الكبر المتعال الحديث.

كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ﴿۳۸﴾

پوه سه: چي "سيئة" په رفع سره قرائت دی د کوفي قراؤ، كما في المصاحف المطبوعة، نو دا اسم د کان دی خبر يې ما بعد دی، او ذالک اشاره ده د خصال مذکورو ووته من قوله تعالى "ولا تجعل مع الله الهًا آخر" الى اخير الخصال العشرة په تاويل د کل واحد. او ضمير د سيئه راجع و کل ته دی، وجه د اضافت د سيئ و کل ته داده چي په دغو خصالو کي منهي عنها يې بد دی "فان من الاشيا المذكورة منهي عنها ومامور بها" ترجمه: تولـه دغه شيان چي ذکر سول هغه چي سيئه دي هغه په نيز د رب ستا مکروه دي مراد له مکروه څخه مبغوض دی.

ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰۤى اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ

پوه سه: چي مظهري تفسير د "ذالک" داسي کړی دی ای الاحكام المتقدمة. وفيه ان المناسب ح ء لفظ تلک. او روح البيان يې تفسير داسي کړی دی "ای الذي تقدم من الاحكام والتكاليف المفصلة فراعى تذكير ذالک" او روح المعاني يې دا تفسير کړی دی ای المتقدم في التكاليف المفصلة. نو د رعايت د تذکير د "ذالک" کړی دی. او توجيه د قول د مظهري داده ای کل واحد من الاحكام المتقدمة.

پوه سه: چي حكمت علم الشرائع ته وايي او هغه دوه قسمه دی، يو حكمت نظري بولي چي مقصود اعلى او عمده يې معرفت دی د معبود بالحق دی په وحدانيت او په ستايلو په صفاتو د جلال او جمال، او بل حكمت عملي دی چي پورځندل او ژده کړه د اعمال صالحه وو ده للعمل بها، او دا هم احتمال سته چي مراد من الحكمة دي داوي الاحكام المحكمة التي لايتطرق اليها الفساد والاتيان بالمثل. او په قاموس کي وايي چي حكمة بالكسر العدل. والعلم والحلم والعقل والنبوة والقرآن. مظهري مختاره کړې ده چي مراد څني علم نافع دی.

دروښ وايي: چي علم نافع شامل دی د حكمت نظري او عملي دواړو ته كمامر آنفًا فتأمل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِىْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۳۹﴾

او ته مه گرځوه سره د خدای ﷻ سره معبود بل. که بتان وي او که ملائکه وي که عیسی علیه السلام وي (والمراد لاتعبد غیره تعالی والمخاطب ههنا هو نفس انسان) ته یې واچول سې په دوزخ کې په داسې حال کې چې ته ایها الانسان پر ځان ملامتیا وایه. او خدای ﷻ به دې هم ملامت او خاسر بولي والخلائق کلها. او ته به ترتیلی یې له رحمت عامه څخه د خدای ﷻ.

پوښتنه: دا توحید خو دمخه هم تېر سو "لاتجعل مع الله الهًا آخر آه" نو د تکرار فائده یې څه ده؟

ځواب: فائده د تکرار تنبیه ده پر دې چې توحید د خدای ﷻ اصل الاصول دی او شرط د صحت د ټولو اعمالو ظاهره وباطنه وَ مالیه وجسدیه وَ دی او پرته یې هم د ټولو اعمالو دی. ولې هغه څوک چې یو کار کوي یا یې پرېږدي لغیر وجه الله سعي یې ضائع ده. او که مؤمن وي ریاء یې کوي که د خدای ﷻ بخښلې نه وي ځای یې دوزخ دی. نتیجة. علم التوحید علم مقصود لذاته دی او نور علوم شرعیه مقصود لپاره د عمل دي.

اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ

آیا تاسي مختاره کوئ خدای ﷻ.

پوه سه: چې دا خطاب دی و هغه مشرکینو ته چې وایي ملکي د خدای ﷻ لونې دي او د هغو عبادت کوئ. او دوی وایي چې خدای ﷻ د پېرانو د سردارانو لونې په نکاح کړي دي. او ملکي ټولې لونې یې پیدا سوي دي.

پوه سه: پوه سه چې استفهام لپاره د انکار دی. یعني داغسې نه دی بلکې خدای ﷻ منزه دی له ولد څخه که نر وي او که ښځه لعدم المجانسته والمناسبته بین واجب الوجود والممکن بلکې عباد مکرمون او مخلوق د خدای ﷻ دي.

فائده: حروف عاطفه که واو. فا او که ثم وي چې وروسته تر همزه استفهام راسي چې مقتضی د صدارت د کلام کوي معطوف دي پر محذوف باندې چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هر ځای کي هغه مقدر مناسب د مقام سره مقدر ږدي. والتقدير فاصفكم بالبنين واتخذكم "ربكم" بما هو الصفوة من الاولا ای "بالبنين" چي د هر انسان خصوصاً العرب والمشركين تر لونږو زامن خوښ دي "واتخذ" لپاره د ځان اخس الاولاد عندكم "من الملائكة اناثاً" له ملکو ځخه لوني او دا تقسيم خلاف د انصاف دی او ستاسي د عادت کريمه "الكم الذكر وله الانثى تلك اذاً قسمة ضيزى"

إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

تاسي وایاست په حق کي د سبحانه ځدای ﷻ لوی قول يعني په قباحت کي، ولي نسبت د اولاد و ځدای ﷻ ته بد ترين د اقوالو دي او تشبيه د ځدای د حيواناتو سره ده.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِيَذَّكَّرُوا وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾

والله په تحقيق سره بيان کړي ده دغه خبر په ډيرو آياتو کي د قرآن په قسم قسم عباراتو سره چي ځدای ﷻ منزه له اولاد ځخه دی. او يا معنی داده چي په قرآن کي موږ بيان کړي دي عبرتونه، احکام، امثال او دلائل د توحيد او د تنزيه من التشبيه وغير ذالک مما لايليق بشانه تعالى "ليذكروا" چي دوی پند واخلي او نسبت د داسي شيانو و ځدای ﷻ ته نه وکړي چي د شان عظيم سره د ځدای ﷻ مناسب نه وي بلکي محال وي. او دوی يعني مشرکينو ته دی زيات دا مکرر بيان د قرآن هيڅ شي فائده ونه کړه مګر نه نفرت او لېرې والی له حق ځخه او اختيار د باطل کالغذاً الجيد اللذيذ لايزيد للمريض الا شدة المرض.

قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّابْتَغَوْا إِلَىٰ ذِي الْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

وډايه يا محمد (ﷺ) و مشرکانو ته د مکي چي له توحيد ځخه د ځدای ﷻ منکر دي. که وای سره د ځدايه ځدايان لکه مشرکين چي وايي چي زمونږ بتان د ځدای ﷻ سره په استحقاق د عبادت شريکان دي، "اذاً" ظرف دی وروسته لپاره چي لا ابتغوا دی يعني اذا كان كذالک لکه تاسي چي وايست، نو دې ځدايانو به غوښتي واى و خالق ته د عرش لاړ يعني مقابلةً لکه د بادشاهانو چي عادت دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متل: خلګ وایي مثل فقیران په یوه تلتک کي ځایږي او دوه لوی باچهان په یوه لوی مملکت کي نه سره ځایږي.

دروښ وایي: چي دا آیت دلیل د برهان تمانع اشاره ده لکه په بل آیت چي هم راغلی دی "لو کان فیهما" (ای التصرف في الارض والسما) الهة الا الله لفسدتا (د ځکي او اسمانو نظام به خراب سوی وای) پوره بیان د برهان تمانع په کتابو کي د علم کلام دی لکن دلته مجملاً دا قدر ویل کپدای چي که متصرف د ځکي او اسمانو کم عدد دوه خدایان وای، نو ددوی تر منځ اختلاف خو ممکن دی، نو که دوی په جنګ سره بخت سوي وای یا به دواړه عاجزه سوي وای یا یو وهو مناف للالوهیة فافهم.

سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿۴۳﴾

پاک دی خدای ﷻ له تمانع څخه د بل خدای او له عجزه څخه. او بلند دی خدای ﷻ له هغه شي څخه چي مشرکین یې وایي من ان الاصنام شرکاً لله تعالی په لویه بلندي سره چي امکان یې نسته. امام دینوري رحمه الله په تفسیر کي ددې قول د خدای ﷻ "وجنبني وبني ان نعبد الاصنام" وایي چي د مشرکانو اصنام خو معلوم دي لکن علاوه تر هغو نور هم اصنام سته "منهم من صنمه نفسه" چي بت یې خپل نفس وي یعني د نفس په خواهشاتو کي لکه زنی، لواطت، شرب الخمر وغیرها اطاعت د خدای ﷻ پرېږدي کما اشیر الیه في قوله تعالی "ارئیت من اتخذ الهة هواه" ومنهم من صنمه زوجته" یعني په محبت کي د ماینې اطاعت د خدای ﷻ پرېږدي مثلاً خدای ﷻ زامن امر کړي دي په اطاعت د مور او پلار لکن د بعضې ښځو او ماینو د مهرې مور او پلار نه وي خوښ، نو دی ددې په اطاعت مور او پلار له ځانه وشړي او په کور کي یې نه پرېږدي کما یشهد به التجربة. "ومنهم من صنمه تجارته" مثلاً خدای ﷻ تاجران منع کړي دي له خیانت او له بیوع فاسده وو ځخه، او له سود اخستلو څخه وغیرها من الامور الممنوعة في التجارة لکن بعض تجاران د خپل تجارت د پرمخ بیولو لپاره د حلال او حرام فرق نه کوي. مثنوي:

ای تو بنده این جهان محبوس جان ... چند گویی خویش را خواجه جهان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدمت دیگر کنی هر صبح و شام... و انگهی گویی که من حق را غلام
بنده حق در درستش باشد مقیم... باخلوص و اعتقاد مستقیم

تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ

تنزیه او پاکي وایي خدای (ﷻ) لره اسمانونه او مځکه او هغه څوک چې په اسمانو کې وي کې ذوی العقول وي لکه ملکي په اسمانو کې او که غیر ذوی العقول وي لکه ستوري، او په مځکه کې بیا که ذوی العقول وي لکه انسانان او که غیر ذوی العقول وي لکه نباتات جمادات.

سوال: کلمه د "من" خو نحات وایي چې په ذوی العقول پورې خاصه ده، نو غیر ذوی العقول ته یې شمول څرنګه صحیح دی؟

ځواب: تسبیح چې خدای ﷻ ته لو ته ثابته کړه چې په ظاهره خاص په ذوی العقول پورې ده، نو ته وله ګویا بل حقیقةً په دربار کې د خدای ﷻ ذوی العقول دي فافهم.

وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ ؕ

او نسته یو شی له شیانو څخه مګر تسبیح او تنزیه وایي د خدای ﷻ عما لایلیق بجلال ذاته وکمال صفاته متلبساً بحمده، یعني سبحان الله وبحمده، لکن تاسي په تسبیح د هر شي نه پوهیږئ، ولي تاسي لره یو سمع د ظاهر سته سمع د باطن نه لرئ لکه اهل الله چې یې لري.

دروښ وایي: چې علماً د ظاهر تفسیر ددې آیت داسې کوي لکه چې روح المعاني وایي والمراد بالتسبیح الدلالة بلسان الحال ای تدل بامکانها وحدوثها دلالةً واضحةً علی وجوب وجوده تعالی ووحدته وقدرته وتنزهه من لوازم الحدوث والامکان آه، او علماً د باطن وایي لکه شیخ علي السمرقندي قدس سره في تفسیره بحر العلوم حیث قال وذهب السلف الصالح ان التسبیح في الآیة في المحلین محمو علی الحقیقة ای التسبیح بالقول، او زمخشري او بیضاوي او ابو السعود ومن یلیهم من العلماً الظاهر له تسبیح څخه في الموضعین تسبیح حالي مراد بولي او صاحب د روح البیان او مظهري لکه صاحب د بحر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العلوم له تسبيح څخه په دواړه ځايه کي تسبيح قولي مراد بولي.

دروېش وايي: چې په صحيح حديث کي د بخاري وغيره راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام دمخه تر منبر نبوي يوه وچ لرګي ته د خورما تکيه کوله. چې منبر جوړ شو، عليه الصلوة والسلام پر منبر کښېنستی، نو هغه وچ لرګي ځګېروی شروع کړی پر فراق د عليه الصلوة والسلام، راوي وايي "حتى يكاد ان ينشق" عليه الصلوة والسلام بيرته له منبر څخه ورته راغلی لاس مبارک يې پر کښېښو حتى چې کرار کرار لرګی ساکت کېدی، راوي وايي "كالصبي الذي يسكت" اخير يې ژړا بس کړه، وفي المثنوي:

استن حنانه از هجر رسول ..... نعره میزد همچو ارباب عقول
گفت پیغمبر چه خواهی ای ستون ..... گفت جانم از فراقت گشت خون

وفي رواية البخاري عن عبدالله ابن مسعود ﷺ قال كنا نعد الايات بركة اى المعجزات النبوية وانتم تعدونها تخويفًا كنا مع النبي ﷺ في سفر فقل الما فقال اطلبوا فضلة، يعني د چا سره که بالا اوبه وي فجاؤا باناً فيه ما فادخل يعني رسول الله ﷺ" او بيا يې وويل چې راځئ مبارکو اوبو ته "والبركة من الله" راوي وايي چې ما وليدلې اوبه د ګوتو په منځ کي د رسول الله ﷺ راوتلې، راوي د حديث وايي چې موږ اورېدل تسبيح د طعام په هغه وخت کي چې موږ به خوړله، او مجاهد وايي چې تولې شيان که حي وي او که جماد وي تسبيح د خداى ﷻ وايي. او تسبيح "سبحان الله وبحمده" ده، او ابراهيم نخعي وايي چې نسته يو شی که جماد وي او که حی الا يسبح بحمده، وايضًا قال الله تعالى في شان داؤد عليه السلام "يا جبال اوبي معه والطير" او طبراني له ابن مسعود ﷺ څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام ووېل چې يو غر و بل غره ته ناره کوي چې "هل مربک رجل ذكر الله" چې هغه غر ورته وايي نعم، هغه بل غر خوشاله سي، مظهري وايي چې په لسان حال تسبيح کمامر خو مسلم ده، نو پر يوه قسم تسبيح حصر کول يعني لسان الحال تقصير دی، او په صحيح حديث کي راغلي دي عليه الصلوة والسلام وايي چې زه هغه ډبره پېژنم په مکه کي چې زه به تېرېدم دې به السلام عليكم راته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ووایه دمخه تر دې چې زه نبي سوی وم. اوس یې هم پېژنم، او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی في قوله تعالی "انا سخرنا معه الجبال (ای لد اوود علیه السلام) یسبحن بالعشي والاشراق" ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې داوود علیه السلام چې به تسبیح شروع کړه غرونو به ځواب د تسبیح ورکاوه، وفي الحدیث "ما اصطید صید في البحر ولاطائر یطیر الا بما یضیع من تسبیح الله کما في تفسیر المدارک" ترجمه: نه ښکاره کول کهرې یو صید په دریاب کې لکه ماهیان او نه هم مرغه چې الوزي مګر نه په سبب د ضائع والي د تسبیح د خدای ﷻ.

مسئله: په باب کې د جنائز د خلاصة الفتوی راغلي دي چې مکروه دی پرېکول د درختي یا د وښو چې لانده وي له قبره څخه د میت بېله حاجته لانه یسبح فینتفع به المیت.

دروښ وایي: چې هم دا سبب دی چې د هر خلګ د خپلو اقاربو مړو وسرو ته شنغریان شنه کوي، ولي شنغزی خو محدوده زمانه اوبه غواړي چې دده ربنې و اوبو ته ورسېږي بیا تر ابده اوبه نه غواړي.

فائده: په فتح القریب کې راغلي دي چې برکت په تسبیح سره د نباتاتو مړي ته فائده رسېږي، فالقرآن الذي هو اشرف الاذکار اولی بحصول البرکة والنفع خصوصًا اذا کان من رجل صالح. ولهذا استحب العلماء قرائة القرآن عند القبر.

چون بخاکم بگذری دامن کشان ..... از سر اخلاص الحمد بخوان

وعن ابي ذر رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ حبس في مکان معه ابوبکر وعمر وعثمان رضي الله عنهم، نو علیه الصلوة والسلام اوزه دانې شیګي راواخیستې په خپل مبارک لاس کې یې ونیولې، هغو شګو تسبیح شروع کړه حتی چې دوی واورېدله تسبیح ددې شیګو لکه د مچ مچی اواز، بیا علیه الصلوة والسلام هغه شیګي کنبښولې هغو تسبیح قطع کړه، بیا یې په لاس کې د ابوبکر رضي الله عنه کنبښولې بیا یې تسبیح شروع کړې، بیا یې په لاس کې د عمر رضي الله عنه او بیا یې په لاس کې د عثمان رضي الله عنه هم هغسې د شیګو تسبیح جاري وه، وهذا من باهر معجزاته ﷺ.

دروښ وایي: چې حکایات د اولیا الله د امت مرحومه په اورېدلو کې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تسبيح د جماداتو نباتاتو بېخي ډېر دي، نو چونکه وهابيان او خوارج او مجسمه دي حکاياتو ته غوږ نه نسي بلکي پر خاندي، له دي کبله هغه حکايات دروېښ صرف نظر کړه چي دغه ډلې بيا زما دوستانو ته پېغور ورکوي چي متاسي شيخ په تفسير کي خرافات ليکلي وه، ولي چي دغه ډلي پر امام المسلمين ابو حنيفه رحمه الله باندي تنقيد کوي، نو عبيد الله چي د امام اعظم رحمه الله د صف النعال په ډله کي دی څوک دی.

اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۴﴾

په تحقيق خدای ﷻ لوی حلم والا دی چي ژر عقوبت ستاسي پر شرک نه درکوي ايها المشرکين "غفورا" لمن تاب منکم من الشرک. وقال لا اله الا الله بالصدق والاخلاص بدون النفاق.

وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُوْرًا ﴿۴۵﴾

او چي ته يا محمد (ﷺ) تلاوت کوې د قرآن (ای علی مشرکی مکة) موږ ګرځوو په منځ کي ستا او د هغو کسانو چي ايمان نه لري پر آخرت (يعني بعث بعد الموت) يوه معنوي او باطني پرده چي ددوی زړونه له فهم څخه د ماقرئت عليهم منع کړي او نفع هم نه پر اخلي، چي دا حجاب پټ دی له سترګو څخه معنی چي پر دې حجاب سربېره بل حجاب دی، چي دوی په قرآن نه پوهېږي فهم تدبر وقبول، او په دې هم نه پوهېږي چي موږ نه پوهېږو (يعني پر خپل جهل هم علم نه لري چي دې ته جهل مرکب وايي) کما قال الشاعر:

آن کس که نداند و بداند که بداند .... در جهل مرکب ابد الدهر بماند
وآن کس که نداند وبداند که نداند .... او اسپ خود از گنبدفيروزه جهاند

چي دې ته جهل بسيط وايي ددې پوهېدل اسانه دي لانه يعلم جهله فيطلب دفعه، او بعض اهل التفسير وايي چي مستور په آيت کي په معنی د ساتر دی کما في قوله تعالی "کان وعده مأتيا" ای آتيا او محي السنة البغوي وايي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انه روي عن سعيد بن جبير ﷺ چي څه وخت چي دا آيت نازل سو "تبت يدا ابي لهب و تب" الى ان "وامرئته حمالة الحطب آه" نو ماينه د ابي لهب چي جميله يې نوم وو راغله او ډبره ورسره وه او په حرم شريف کي نبي عليه السلام له ابوبکر صديق ﷺ سره ناست وو، د ابو لهب ماينې عليه الصلوة والسلام نه ليدی او ابوبکر ﷺ يې وليدی، نو ابوبکر ﷺ ته يې وويل اين صاحبک، ماته رسېدلې ده چي ده زما او زما د مېرو هجو کړې ده (تعني بد يې راباندې ويلي دي كما هو مضمون السورة المذكورة) ابوبکر ﷺ ورته وويل والله ماينطق بالشعر ولابقوله (يعني دغه سورت چي ستاسي هجو پکښې ده نه شعر دی او نه د عليه الصلوة والسلام خپل قول دی، بلکې دا وحي اسماني دي يعني خدای ﷻ ستاسي هجو نازله کړې ده) نو دا بيرته رهي سوه او وه يې ويل چي ما دغه ډبره را اخستې وه چي دده سر به ورمات کړم، دا چي ولاړه نو ابوبکر ﷺ و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي دې ته نه ليدلې قال عليه السلام لا زما او ددې ترمنځ ملک ولاړه وه ترڅو چي دا روانېدل زه يې له دې څخه پټ کړی وم.

پوښتنه: همېشه به کفارو عليه الصلوة والسلام په وخت کي د قرائت القرآن نه ليدی؟

ځواب: دا يوه واقعه وه نور وختونه همېشه په وخت کي د تلاوت القرآن او وعظ به کفارو عليه الصلوة والسلام ليدی.

وَّجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ

او موږ ګرځولي وې پر زړو ددوی پردې چي ادارک د حق او قبول د حق يې نه کاوه "ان يفقهوه" ای کراهة ان يفقهوه، او په غوږو کي ددوی کنوالی دی يمنعهم عن سماع القرآن سماع قبول.

سوال: چي خدای ﷻ داسي او داسي کړي وه نو دوی په ايمان نه راوړلو کي معذور نه وه او که څرنګه؟

ځواب: روح المعاني او روح البيان دواړه وايي چي د روح المعاني عبارت دادی وهذه كما قال بعض المحققين تمثيلات معربة (ای مظهرة) عن كمال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جهلهم بشؤن النبي ﷺ (چې دوی کامل جاهلان وه په حالاتو او کمالاتو د علیه الصلوة والسلام) وفرط تبو قلوبهم عن فهم القرآن الکریم المعجز (او د هر لیرې دي زړونه ددوی له فهم څخه د قرآن. نو گویا ددوی پر زړو اکنه دي چې مانع له فهم څخه د قرآن دی حق فهمه) ومنع اسماعهم له (او بد وړو غوږو د دوی له اورېدلو څخه د قرآن. نو گوا ددوی غوږونه کانه دي) جیئ بها بیانًا لعدم فقههم فصح المقال (رانگ وکړه سو په دې مثالو سره دده د بیان د نه پوهېدلو ددوی په فصیح د خبرو چې قرآن عزیز دی) او په اخیر کې روح المعاني ویلي دي چې حمل پر تمثیلاتو پر هغه تقدیر دي چې په ماقبل کې مراد له تسبیح څخه تسبیح حالي وي. وعلی جعله لفظیًا لایحسن حملها علی التمثیلات انتهی.

دروښ وایي: چې موږ حمل د تسبیح پر تسبیح لفظي قولي په کامل تحقیق او تفصیل سره وځېرل کمامر عنقریب. نو په قرار د اقرار د روح المعاني باید دلته هم د "اکنة" او "وقر" څخه معنی حقیقي مراد وي لکن دا "اکنة" او "وقر" د سوء اختیار ددوی کفر او شرک لره.

سوال: قرآن مبارک خو عربي دی دوی په پوهېدلنه. او دوی کانه هم نه وه. کریمه "اذ یستمعون لک" نو ظاهري کنان پر زړو ددوی او ظاهري صمم پر غوږو ددوی به څرنگه صحیح کېږي.

ځواب: فهم د ظاهر عباراتو د قرآن او اورېدل د ظاهر الفاظو د قرآن منافي دهٔ کنان ظاهري او د صمم ظاهري سره منافات نه لري کما لا یخفی علی من تأمل جداً وهذا مقام وعر یحتاج الی تأمل دقیق.

وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ

او چې ته ذکر کړې "ربک" په قرآن کې یوازې یعني ددوی آلهه نه کړې ورسره ذکر ای تقولوا لا اله الا الله.

پوه سه: چې وحده مصدر دی په ځای کې د حال راغلی دی. اصله توحده وحده بمعنی واحداً ای منفرداً نو هغه فعل یې حذف کړی چې اصلاً حال ؤ او مصدر یې په ځای کې ور وه دراوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَّوْا عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾

او ګرځي کافران تر شا چې تښتي له اورېدلو څخه د توحيد او نفرت يې ځني کېږي، نو "نفوراً" مفعول له دی، او يا "نفوراً" په معنی د تولیه دی، نو مفعول مطلق دی او يا نفور جمع دنافرده، نو بيا منصوب علی الحالية دی.

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ

مورِ خبر يو په هغه طريقه چې قرآن دوی په هغه طريقه اوري چې دوی لپاره د استهزا په تا (يعني عليه الصلوة والسلام) او په قرآن سره غوږ درته نه نيولی دی.

پوه سه: چې "اذ" ظرف دی اعلم. والمعنی هغه وخت چې ته وايه او دوی ستا و قرائت ته غوږ نيولی وي، او هغه وخت چې دوی په خپل منځ کې خبرې سره کوي ستا په باره کې.

پوه سه: چې نجوٰی مصدر دی په تقدير د ذو خبر دی د "هم".

سوال: "هم" جمع دی او "نجوٰی" مفرد دی؟

ځواب: چونکه "نجوٰی" په اصل کې مصدر دی، په مصدر کې جمع او مفرد برابر دي، او بعض مفسرين وايي چې "نجوٰی" جمع د نجي ده. فلا يرد السوال المذکور، په يوه روايت کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام چې به قرآن وايه دوه کسه د بني عبد الدار به يې راسته بغل ته ودرېدل او دوه پر چپه بخل. نو به يې چکچکي او شېپلکی او غزلي ويلې تا چې پر عليه الصلوة والسلام قرائت ګډوډ کړي.

دروېش وايي: چې زمونږ د زمانې په ملايانو کې څوک مخامخ پسخند روهي بيا به هيڅ کله نصيحت ونه کړي.

إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾

هغه وخت چې وايي ظالمان يعني وليد بن المغيرة واصحابه او نورو خلګو ته، تاسي متابعت نه کوئ يعني مسلمانانو ته وايي يا کافرانو ته وايي علی الفرض والتقدير، يعني که يې تاسي فرضاً متابعت وکړئ مګر د هغه سړي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سحر په کړه سوی دی او عقل يې زائل سوی دی. او مجاهد ؒ وايي چې د مسحور معنی مخدوع ده يعني يو چا خطا يستلی وي. او بعض يې ترجمه پد مصروف عن الحق سره کوي والمآل واحد.

اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۝

وګوره يا محمد (ﷺ) څرنګه بيانوي کفار مکه ستا د امثال يعنې بعض دي شاعر بولي، بعض دي ساحر بولي، بعض دي لېونی بولي بعض دي کاهن بولي او بعض دي مسحور بولي او بعض دي مفتر بولي، نو له دوی څخه لار ورکه سوه چې پر تا يې دالسي نومان کښېښول چې ته يې مصداق نه يې. اونه ستا وړ دي، نو دوی طاقت نه لري چې لاري ته د حق دي ورسېږي او يا لاري دې د طعن او عيب په تاکي پيدا کړي... بيت:

هر که تعظيم حق کند دائم ..... شود ازدل بامر او قائم

وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ۝

او وويل مشرکانو د مکې په مقابل کې د تبليغ د عليه الصلوة والسلام دوی ته بالبعث بعد الموت والثواب والعقاب على الايمان والاشراک. آيا چې موږ سو يعنې وروسته تر مرګ خالي هډوکي يعنې غوښې مو خاوري سې يا چينجيان يې وخوري او هډوکي مو هم توته توته سي. او مجاهد ؒ وايي چې يعنې خاوري سو. آيا موږ به بيا ژوندي کړه کېږو نوی مخلوق يعنې کما کنا في الدنيا والاستفهام للانکار.

پوه سه: چې بعض مفسرين وايي چې نصب د خلقًا بناً پر مصدريت دی يعنې مفعول مطلق د مبعوثون من غير لفظه کما في قعدت جلوسًا او ما چې اول ترجمه وکړه بناً پر دې وه چې خلق په معنی د مخلوق دی او منصوب على الحالية دی.

قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً اَوْ حَدِيْدًا ۝ اَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِيْ صُدُوْرِكُمْ ۚ

ته ووايه په ځواب کې د دوی چې تاسي د عظام رفات بيا ژوندي کېدل بعيد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولئ او سره ددې چې دغه هلډوکي په حیوة الدنیا کې تازه او ژوندي وه تاسي تر دې بعید عن الحیوة شیان سئ لکه ډبرې یا وسپنه چې له حیوة څخه بېخي لېرې دي او یا بل مخلوق لکه مس وغیره، یعني هغه شیان چې ستاسي په زړو کې حیوة ناممکن معلومېږي، لکن بیا هم به مو خدای ﷻ ژوندي کوي، ولي چې قدرت د خدای ﷻ قاصر نه دی له هیڅ ممکن شي څخه او احیاً د اجسامو هر جسم چې وي که عظام رفات وي او که وسپنه وي او که ډبره وي که غر او که له ممکناتو څخه وي.

پوښتنه: دا امر چې "کونوا حجارة آه" دا څو تکلیف بالمحال دی وهو لایجوز شرعاً؟

ځواب: دا څو امر تکلیف او الزام نه دی بلکې امر تقدیر والفرض دی ای افرضوا انفسکم کذا او کذا او کذا ومجرد الفرض ممکن کما في قولهم ان کان زید حماراً فهو ناهق.

فَسَيَقُولُونَ مَنْ يُعِيدُنَا ۖ قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ

ژر دی چې دوی به درته ووایي چې څوک به مورږ ژوند ته راګرځوي؟ ته ورته ووایه (یا محمد ﷺ) چې هغه څوک چې تاسي یې پیدا کړي واست اول وار یعني د مور په رحم کې بیا په دنیا کې.

فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ

نو ژر دی چې دوی به درته وښوروي سرونه خپل (یعني تعجباً او استهزاءً) او دا به درته ووایي چې کله دی یعني بعث بعد الموت یعني نېټه یې راوښیه.

قُلْ عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ قَرِيبًا ﴿٥١﴾

ته ورته ووایه چې ښایي ژوند بعد الموت دي نژدې وي، یا له دې سببه چې هر راتلونکی شی نژدې دی وانما البعید هو الماضي، او یا معنا داده چې شاید نژدې به وي تر ابتداً د خالق العالم.

پوه سه: چې قریباً منصوب دی خبر د عسی دی، او یا له دې سببه چې څوک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مړسي فقد قامت قيامته، ولي انسان چي مړ سي نو د قيامت کبرى نخښې او نښاني به وويني لانه يرى الجنة والنار كما جاً في الحديث الصحيح. او ملکي به هم وويني يعني نکير او منکر چي په قبر کي له مړي څخه سوال کوي "من ربک ومن نبيک وما دينک كما جاً في الحديث الصحيح. او مړي تر مرګ وروسته پر هيڅ عمل قدرت نه لري، لکه د قيامت کبرى په ورځ او پر عمل يې که کفر ؤ او که اسلام، که طاعت ؤ او که عصيان مهر ولګول سي فيقوم يوم القيامة على ما مات عليه فطوبى لمن كان خاتمته بخير ..... بيت:

عبيد را خاتمه بالخير گردان ..... بحق مصطفى وچاريارا ن (ﷺ)

ابوبكر الواسطي رح وايي چي بادشاه ګاني دري دي (۱) بادشاهي د ژوند ده چي ژوند تولـه په طاعت کي د خداى ﷻ تېر کړي (۲) بادشاهي د عند الموت چي روح يې په شهادت ده لا اله الا الله له بدن څخه رخصت واخلي (۳) بادشاهي د يوم الحشر والقيامة، هغه دا چي زېرى کونکى ورته راسي په جنت سره عند بعثه، او پاته کافر او عاصي چي بې توبې مړ سي بهرونکي د اور ورته راځي يا ابداً لکه کافر او الى ماشاً الله که مؤمن عاصي ؤ.

فائده: خداى ﷻ و عليه الصلوة والسلام ته په خواب کي د کفارو داسي وويل قل عسى ان يكون قريبًا لان تعين يوم البعث لاعلم به لا لانبياً عليهم السلام ولا للملائكة المقربين كما جاً في الاحاديث الصحيحة المروية بالروايات المرفوعة.

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ

هغه ورځ چي خداى ﷻ وغواړي تاسي يعني لپاره د ژوند له قبرو څخه پر ژبه د اسرافيل عليه السلام وهو النفخة الثانية، نو تاسي بلا مهلته قبلونه د خداى ﷻ د دعوت يعني ژوندي به سئ تولـه په قدرت د خداى ﷻ. حسين كاشفي وايي: بخوانند شمارا اسرافيل درنفخه ثانيه بجهت قيام از قبور پس شما اجابت كنيد اسرافيل را.

اعراب: لفظ د "يوم" بدل دى له قريباً څخه، او يا منصوب دى په اذكر مقدر سره.

پوه سه: چي مقصود ددې دعوت څخه احضار د خلګو دى د حساب لپاره.

پوه سه: چي "بحمده" حال دى لـه فاعلـه څخه د "تستعجبون" اى متلبسين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بحمده يعني حمد د خداى ﷻ به وايي پر كمال قدرت دده او اقرار په كوي په دې سره چې خالق او پاځوونكى زمونږ خداى ﷻ دى لكن كافرانو ته به په دې وخت كې حمد ويل او اقرار كول فائده نه كوي. او بعض مفسرين وايي چې دا خطاب د "يدعوكم" د مؤمنانو سره دى، فانهم يبعثون حامدين لله، بخلاف الكافرين ولي دوى چې بعث سي دا ناري وهي "يا ويلنا من بعثنا من مرقدنا؟" ملكي ورته ووايي "هذا ما وعد الرحمن وصدق المرسلون" يا دا ناري وهي "يا حسرتي على ما فرطت في جنب الله"، ختلي په خپل كتاب دبياج كې وايي په روايت د ابن عباس ﷺ عن النبي ﷺ قال اخبرني جبرئيل ان لا اله الا الله انس للمسلم عند موته وفي قبره وحين يخرج من قبره يا محمد لو تراهم حين يقومون من قبورهم ينفضون رؤسهم (پاكوي سرونه له خاورو څخه) يقول هذا اى المؤمن لا اله الا الله والحمد لله، نو مخان يې سپين سي. وهذا اى الكافر ينادي ياحسرتي على ماقرطت في جنب الله مسودة وجوههم.

دروښ وايي: چې روح المعاني او مظهري دواړو له طبراني او ترمذي څخه هغه له ابن عمر ﷺ څخه روايت كړى دى چې رسول الله وويل "ليس على اهل لا اله الا الله وحشة في الموت ولا في القبور ولا عند النشور (اى البعث بعد الموت) كاني انظر اليهم عند الصيحة (اى النفخة الثانية لاسرافيل) ينفضون رؤسهم من التراب (پاكوي خپل سرونه له خاورو څخه) يقولون الحمدلله الذي اذهب عنا الحزن (اى الغم والدهشة والخوف).

پوښتنه: په حديث شريف كې محمد رسول الله ﷺ نه ووايه؟

ځواب: لا اله الا الله خو مشترکه كلمه ده، نو د حديث معنى داده چې پر مؤمن د هيڅ امت باندې چې اهل د لا اله الا الله ټوله دي په دې درې ځايه كې وحشت نسته، والله اعلم بمراد رسوله ﷺ.

وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾

او تاسي دا گمان كوئ چې موږ درنگ نه دى كړى په دنيا كې يا په قبرو كې مگر لږ زمانه، ولي چې دوى هول د محشر د خپله مكثه في الدنيا يا د قبرو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غافله کړي، قتاده ؒ وايي چې دوی حقیر او قلیل وبولي مدت د دنیا په مقابل کې د زمانې د قیامت چې خمسون الف سنه ده.

فائده: کلبي ؒ وايي چې مشرکانو د مکې به مسلمانان ډېر ازارول او تکلیفونه به يې قولاً او فعلاً ور رسول، نو دوی و آنحضرت ﷺ ته د شکایت وکړی، فانزل الله ﷻ هذه الآية:

وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ

ووایه ته (یامحمد ﷺ) "لعبادي" الاضافة تشریف المضاف" زما و بندګانو ته چې مراد ځنې مؤمنان دي، چې تاسي وایاست هغه کلمه چې احسن د کلماتو وي چې مراد ځنې دعوت دی واسلام ته او قول ته د لا اله الا الله په نرمۍ سره اود کفارو سره دلائل وایاست او اظهار د خیر خواهۍ ورته کوئ ښه خشونته او ځیروالي، او تاسي ددوی د بهو قوفۍ مقابله په ورته خبرو مه کوئ لعلهم یهتدون، او حسن وایي چې داسي دي په مقابل کې د ازار ددوی وایي یهدیکد الله، خدای ﷻ دي هدایت درته وکړي، قال وهذا قبل الامر بالقتال والجهاد معهم بالسیف، او بعض مفسرین وایي چې عمر بن الخطاب ؓ ته بعضې کافرانو ښکنځل وکړه، نو دی خدای ﷻ په عفوه سره مأمور کړی.

دروښ وایي: چې شان نزول د آیت هر څه چې دی لکن دا خبره منل سوې خبره ده عند الکل چې مسلمانان دي په ښه منځ کې د رفق او نرمۍ څخه کار واخلي که څه هم جزا سیئة سیئة بمثلها وارد دی، وان تعفوا هو اقرب للتقوی هم راغلي دي.

اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ۝

په تحقیق شیطان ایقاع د فساد او نزاع کوي په منځ کې د بندګانو د خدای ﷻ یعني داسي قول یا فعل دي نه کوي بندګان د خدای ﷻ چې شیطان ته لار د افساد پرانیزي، په تحقیق شیطان د انسان دښمن او ظاهر العداوة دی د هغه وخته څخه چې دده ځخه يې کالي د نور وکښل په سبب د انکار له امر څخه د خدای ﷻ چې دی امر کړل سو د ملکو په لوی جماعت کې په سجده و آدم علیه السلام ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ ۚ إِنْ يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِنْ يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ

خداى ستاسي په تاسي ښه خبر دى، كه د خداى ﷻ مشيت مي پر تاسي به رحم وكړي يعني توفيق د ايمان به درکړي چي سبب د رحم په وګرځي تاسي لره، او كه يې اراده سي تاسي به په عذاب كړي په اخرت كي يعني مړه به مو كړي پر شرک باندي، نو به ياست په عذاب په اخرت كي، دا وه ترجمه د ابن جريج او بعض مفسرين وايي چي دا آيت تفسير د د التي هي احسن دى، او په منځ كي جمله معترضه ده يعني ان الشيطان آه والمعنى على هذا چي تاسي وواياست كافرانو دغه خبره "ربكم اعلم آه" يا مثل ددې چي ښه كلمه وي چي د كافرانو وينه په جوش رانسي او سبب د قتل وٴ قتال ونه ګرځي او ښكنځل مه ورته كوئ، او تصريح په دې مه ورته كوئ چي تاسي دوزخيان ياست، ولي يو خو دا خبره باعث د شر ګرځي او بل داده چي خاتمه پټه ده او غيب د لا يعلمه الا الله، نو دا خبره د انصاف چي كافران واوري، امكان لري چي خپل په ګريبان به سر ننباسي او ايمان به راوړي، او كلبي ؒ وايي چي دا خطاب دى د خداى ﷻ له خوا و مؤمنانو ته د اهل مكې چي كافرانو به وېرې ربرول، والمعنى على هذا ان يشأ يرحمكم فينجيكم من اهل مكة وان يشأ يعذبكم، يعني كفار به پر تاسي مسلط كړي وهذا تاٴويل بعيد جداً فافهم.

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿٥٤﴾

او موږ نه يې استولى ته يا محمد (ﷺ) پر كفارو باندي وكيل چي ددوى امر او حال مي تاته سپارلى دى حتى چي ته په كفر ددوى غمجن كيږي. بلكې ته بشير يې د مؤمنانو لپاره، او بېرونكى يې د كافرانو لپاره نو ددوى سره مدارات او نرمى خبرې وكړئ او اصحاب دي امر كړه چي برداشت او تحمل ددوى دا اذيت دي كوي، حافظ شيرازي وايي:

اسايشى دو گيتى تفسير اين دو حرف است
با دوستان تلطف با دشمنان مدار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض علماً چي د انسان کامل ژوند دادی چي "باخدا بصدق (ای الاخلاق) وباخلق بانصاف، وبالنفس بقهر "ای الغلبة" وبازیر دستان بشفقت، وبابزرگان (یعني د مشرکانو خلګو سره) بحرمت، وبادوستان بنصیحت (یعني بخیر خواهی) وبادشمنان بمدارا (یعني غوره مالي) وبا علماً بتواضع، وبادرویشانو بسخا، وبا جاهلان بخاموشی (یعني کا یو جاهل بده خبره درته وکړه ورسره پسر کبره مه بلکي خاموش ورته وه اوسه.

وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ؕ

او ستا خدای ښه خبر دی تر نورو یعني که ملکي وي او که بشر وي په هغه سره چي په اسمانو کي دي من الملائکة، او په مځکه کي دي لکه انبیاً او اولیاً، او په تفصیل د احوالو او استعداداتو ددوی، نو خدای ﷻ مختاره کوي د نبوت لپاره یا د ولایت لپاره هغه څوک چي مستحق یې وي.

دروښ وایي: چي مفسرین ټوله وایي چي په دې آیت کي رد دی د قول د قریشو د مکې چي یتیم د ابو طالب یعني محمد ﷺ څرنګه خدای ﷻ غوره کړی د نبوت لپاره او سره ددې سرداران او سرمایه داران زمونږ موجود وه، نو څرنګه لځ او وږي کسان دده اصحاب سوه لکه صهیب او بلال او خباب وغیرهم ﷺ. او ذکر د "السمٰوات" په آیت کي ددې لپاره دی چي قریشو د مکې به ویل "لو لا انزل علینا الملائکة" او ذکر د "ارض" یې ددې لپاره وکړی چي دا قول د قریشو رد کړي "لولا نزل هذا القرآن علی رجل من القریتین عظیم" ولي نازل نه کړل سو دا قرآن پر یو سړي د دوو ښارو چي هغه سړی عظیم القدر دی، ددوی مراد ولید بن المغیرة وٶ په مکه کي غټ سرمایه دار وٶ، او عروة بن مسعود ثقفي په طائف کي، او بعض مفسرینو نور کسان ذکر کړي دي،

وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعْضٍ

والله په تحقیق سره ما تفصیل ورکړی دی بعض انبیاؤ ته پر بعضو باندې په فضائلو کي د نفس او تبري کي د علائق جسمانیه وو څخه لابکثرة الاموال والاولاد ونحو ذالک، قتاده په تفسیر کي ددې آیت وایي "اتخذ الله ابراهیم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خليلاً وكلم موسى تكليماً وكلم عيسى في المهد صبياً وآتاه الكتاب والحكمة وعلمه التوراة والانجيل وايده بروح القدس (لكه دا ټوله په نورو آياتو سره د قرآن ثابت دی) وآتى سليمان ملكاً لاينبغي لاحد من بعده يعني سخر له الجن والانس والشياطين" هذا ما ذكره المظهري في تفسيره.

دروښ وايي: چې دا خبره د مظهري چې ده په متابعت د بيضاوي او د ابو السعود کړې ده، روح البيان وايي وهو خطأ لان تفاضلهم في ذالک انما هو على من عداهم من افراد الامة لا على اخوانهم من الانبياء. روح البيان وايي چې علائق جسمانية او روحية په انبيا عليهم السلام هيڅ نه دي لمنافاتها الوصول الى الله تعالى وروسته روح البيان ويلي دي. فالوجه في التفضيل انما هو بالكتاب والرسالة والخلة والتكليم والمعراج ورؤية الله تعالى والشفاعة ونحو ذالک قال الله تعالى في موضع آخر من كتابه "تلک الرسل فضلنا بعضهم على بعض منهم من كلم الله الآية والقرآن يفسر بعضه بعضاً".

وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿۵۵﴾

موږ ورکړی وو داوٗد (عليه السلام) ته زبور. چې دده کتاب وو. يعني فضيلت د داوٗد عليه السلام په سبب د کتاب دی لابما اوتي بسعة الملک وكثرة الاموال.

پوه سه: چې په دې آيت کې رد دی پر کفارو د مکې چې هغه له فضل څخه د عليه الصلوة والسلام منکر وه په دې سبب چې عليه الصلوة والسلام نه سلطنت لري لکه داوٗد و ابنه سليمان عليهما السلام. نه د هر اموال او اولاد لري لکه نورو انبياؤ چې درلودل، حاصل د رد يې دادی چې دا شيان اسباب د فضيلت نه دي بلکې اسباب د فضيلت نور دي او په دې آيت کې هم اشاره د فضل د عليه الصلوة والسلام پر داوٗد عليه السلام لکه فضل د قرآن مجيد پر زبور باندې، ولي قرآن مبارک مشتمل دی پر حلال او حرام او تحميد او تبجيل د خداى جل جلاله او پر قصصو او امثالو وغير ذالک، او زبور شريف يوونيم سل (۱۵۰) سورته وو ټوله سورتونه يې دعا، تحميد او ثنا على الله جل جلاله وه ليس فيها حلال ولا حرام ولا فرائض ولا حدود كذا قال البغوي، او په زبور کې د عليه الصلوة والسلام ذکر هم وو، بلکې د تواريخو قديمه په پاڼو کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلي دي چي نعت د نبي عليه السلام او دده د امت مرحومه ذکر په ټولو کتبو قديمه اسمانيه وو کي راغلی دی، وکفی به فضلاً لنبينا ﷺ. يو شاعر وايي:

ای وصف تو در کتاب موسی ..... وی نعت تو د ر زبور داؤد

په جامع الاصول کي چي يو کتاب جليل دی چي د صحاح سته ټوله احاديث پکښي جمع دي په حذف سره د مکررو احاديثو او مشترک حديثونه يې يو وار راوړي دي چي پر څو جلدو مشتمل دی که څوک دغه جامع الاصول په ښه غور او تحقيق زده کړي د ټوله صحاح سته به يې کافي وي. راغلي دي په روايت د زهري رح له ابن عباس رضي الله عنهما څخه چي يوه ورځ اصحاب د رسول الله ﷺ په مسجد نبوي کي ناست وه خبري يې سره کولې په انتظار د راوتلو د عليه الصلوة والسلام او خبري ددوی دا وې، يوه ويل "ماذا عجبًا ان الله اتخذ ابراهيم خليلاً" او بل وويل "ما اذا اعجب من کلام موسی کلمه الله" او بل وويل "ماذا اعجب من جعل عيسی کلمة الله وروحه" او بل وويل "ماذا اعجب من آدم اصطفاه الله" عليه الصلوة والسلام راغلی او سلام يې ووايه و اصحابو ته او وه يې ويل چي ما ستاسي خبري واورېدلې او ددوی د خبرو تائيد يې وکړی چي بېشکه ابراهيم خليل الله ؤ، او بېشکه چي موسی کليم الله ؤ او بېشکه چي عيسی روح الله او کلمة الله ؤ، او بېشکه چي آدم صفي الله ؤ "الا وانا حبيب الله ولا فخر وانا حامل لواء الحمد ولا فخر، وانا اکرم الاولين والآخرين علی الله ولا فخر، وانا اول من يحرک حلقة الجنة فيفتح الله فادخلها ومعي فقراء المهاجرين ولا فخر" وفي حديث اورده بحر العلوم في تفسيره چي عليه الصلوة والسلام وويل "ان الله اختارني علی الانبياء واختار اصحابي ﷺ علی جميع العالمين سوی النبيين والمرسلين واختار من اصحابي اربعةً ابابکر وعمر وعثمان و علي ﷺ.

دروښ وايي: چي په دغه ترتيب ذکر کولو د نبي عليه السلام دوی لره اشاره ده ترتيب د خلافت ددوی والله اعلم ... جامي رح وايي:

خدا بر سروران سرداريش داد ..... ز خيل انبياء سالاريش داد

دروښ وايي: چي فضائل د عليه الصلوة والسلام بېخي د هر ډي حتی چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متبحر علماؤ په بیان کي د فضائلو مصنفات تصنیف کړي دي من جملتها (۱) چې دی خدای ﷻ خاتم النبیین ګرځولی دی (۲) امت دده یې خیر الامم ګرځولي دي (۳) قرآن یې دده کتاب ګرځولی دی چې اقل حجمًا دی او اکثر علمًا دی (۴) په خپله قرآن معجزه باقیه ده د علیه الصلوة والسلام کر الاژمان و مر الدهور ، کریمه "ان کنتم في ریب الآیة" (۵) او د معراج په شپه، ثم دلی فتدلی فکان قاب قوسین او ادنی، لویو درجو ته رسولي دي الی غیر ذالک.

دفتر تمام ګشت وبه پایان رسید عمر . ما همچنان دراول وصف تو مانده ایم

سوال: "زبورا" دلته نکره راغلی دی او په صورت انبیا کي یې معرفه راوړی دی یعني قوله تعالی "ولقد کتبنا في الزبور" وجه یې څه ده؟

ځواب: روح البیان وایي چې معرفه او نکره سره یو دي لکه عباس او العباس انتهی، او مظهري هم ورته توجیه کړې ده. بخاري او نورو کتابو لکه عبدالرزاق، ابن ابي شیبة، النسائي، الطبراني او نور جماعت هم له بن مسعود ﷺ څخه روایت راوړی دی چې بعض ځلګ وه د انسانانو چې د جنیاتو عبادت یې کاوه، هغو جنیاتو ایمان راوړی او هغه انسانان په هغه عبادت د هغو کما کان یخت وه، فانزل الله تعالی هذه الآیات.

دروبش وایي: چې داشان نزول خو مظهري بیان کړی دی لکن روح البیان ترجمه د آیت داسي کړې چې دا آیت په مشرکینو کي د مکې نازل سوی دی،

قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا ﴿٥٦﴾

ووایاست اې مشرکینو د مکې هغه شیان چې ستاسي ګمان ؤ چې دا آلهه دي "من دونه" ای متجاوزین الله "فلا یملکون" ددوی په طاقت نه ده پوره کشف کول د ضرر لکه مرض، فقر او قحط دي چې له تاسي څخه دفع کړي، نه دا چې وه بل چاته نقل ستاسي د ضرو کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ

ای یدعوهم المشرکون آلهة او عبادت یې کوئ یعني من الجن، ولي دوی یعني الجن غواړي و خدای ته ددوی قربت او نژدېوالی په طاعت سره، ولي چې ایمان یې راوړی پر علیه الصلوة والسلام "فالوسیلة الی الله تعالی مراعات سبیله ای الله بالعلم والعمل" او مراعات د احکام د شریعت.

دروښ وایي: چې دا ترجمه موافق د حدیث سره د بخاري، عبدالرزاق، ابن ابي شیبه، طبراني، نسائي او د نورو محدثینو رحمهم الله ده چې له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه یې روایت کړی ؤ او د رائي سره د مظهري ؒ، لکن د روح البیان ترجمه ډېره مشکله ده. ولي ده خو داسي وویل "بخوانید ای مشرکان مکه" مشرکانو د مکې خو عبادت د بتانو کاوه، وروسته روح البیان د "من دونه" په تفسیر کې ویلي دي "کالملائکة والمسیح وامه وعزیر" نو سوال دادی چې کفارو د مکې کله عیسی او مور ده او عزیر خدایان بلل، البته یو قوم د عربو د مکې د خزاعه په نامه کما رواه البیهقي، او په روایت کې د ابن جریر داسي راغلي دي کان قبائل من العرب یعبدون صنفاً من الملائکة یقال لهم الجن ویقولون هم بناته سبحانه وتعالی، بلکې مسیح او موردده خو بعض نصاری وو خدایان بلل، او عزیر علیه السلام خو یهودانو خدای باله، القول الفصیل.

دروښ وایي: چې په ترجمه کې د روح البیان دا خو صحیح ده چې مشرکان د مکې په ادعوا سره مخاطب دي ولي مشرکان د مکې یعني خزاعه د ملکو عبادت کاوه، او نورو مشرکانو د مکې د بتانو عبادت کاوه.

سوال: دا قول د خدای جل جلاله "یبتغون الی ربهم الوسیلة" د ملکو په باره کې خو به صحیح سي، لکن بتان خو جمادات وه د هغو په باره کې دا آیت څرنګه به تطبیق سي؟

ځواب: په دې آیت کې تغلیب دی د ذوی العقول چې ملائکه دي پر غیر ذوی العقول چې بتان دي، دا وه سعي د فقیر په تصحیح کې د قول او د تفسیر د روح البیان، لکن له جواب څخه د دمخه سوال چې فقیر ذکر کړی چې کفار د مکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کله اه، دروښ عاجزه دی، والله اعلم بمراد عباده. لکن باید علما تفسیر د روح المعاني په غور مطالعه کړي.

پوه سه: چې "ایهم اقرب" بدل من واو یبتغون، والمعنی غواړي هغه څوک ددوی چې اقرب و خدای ﷻ ته وسیله و خدای ﷻ ته وګرځوي فکیف حال غیر الاقرب منهم کذا قال الزجاج رح او بعض مفسرین وایي چې دوی طلب کوي د اقرب الی الله او په هغه توسل و خدای ﷻ ته کوي، او بعض مفسرین وایي چې "یبتغون" متضمن معنی لرد د حرص دی، والمعنی دوی حرص کوي چې څوک به ځان نژدې کړي و خدای ﷻ ته یعني بالطاعة و ازدیاد الخیر.

وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴿٥٧﴾

او امید کوي دا کسان چې تاسي به آلهه بولي لکه ملائکه د خدای ﷻ ورحمت ته او ببر ېږي د خدای ﷻ له عذاب څخه فکیف تزعمونها انها آلهة لان الآلهة مستغني من غیر ولا یخاف العقاب، په تحقیق عذاب د رب ستا لائق ددې دی چې هر څوک ځني وببر ېږي که نبي مرسل وي او که ملائکه وي، بغوي رح وایي چې مشرکینو ته د مکې سخته قحط سالي راغله تر دې اندازې چې مردار شیان به یې خوړله، اخیر مجبوره سوه و علیه الصلوة والسلام ته یې استغاثه وکړه تاچې د دفع د قحط په باره کې دوی ته دعا وکړي فانزل الله تعالی "قل (ای للمشرکین) ادعوا الذین انها آلهة من دون الله فلا یملکون کشف الضر عنکم" الی اخیر الآیة.

دروښ وایي: چې پر عاقل سړي لازمه ده چې اغترار (یعني د چا په خبرو خطا نه وزي) ویحذر من بطش القهار "پوهان وایي چې د هر غم سړی له دوه څخه منع کوي او بېره د خدای ﷻ سړی له ګناه څخه منع کوي، او امید و خدای ﷻ ته سړی پر عبادت باعثه کوي او پیادول د مرګ سړی له فضولو کارو څخه منع کوي.

فائده: خوف او رجا باید د خدای ﷻ څخه وي لان المعبود بالحق هو المفیض للخیر والجود، واما الانبیا علیهم السلام و الاولیا الکمل رحمهم الله فوسائط بین المعبود بالحق والخلق فیجب علی الخلق اطاعتهم والاقتدا باقوالهم وافعالهم من حیث نبوتهم و وراثتهم، ولي لور بام ته چې سړی مثلاً خبرې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غالب الاسباب كي خينه غواړي ... مثنوي:

از انس فرزند مالک امده است ..... که بمهماني او شخصی شده است
او حکایت کرد کزبعد طعام ..... دید انس دستار خوانرا زرد فام
چرک و آلوده گفت ای خادمه ..... اندر افگن در تنور یکد مه
در تنور پرز آتش در فگند ..... آن دستار خوان راهوشمند
(ای شخص هوشیار که انس بود که خادم بامر وی دستار خوار درتنور فگند)
بعدز یکساعت در آورد از تنور ..... پاک و سپید ازان اوساخ دور
قوم گفتند ای صحابی عزیز ..... چون نه سوزید ومنقی گشت نیز
گفت زانکه مصطفی دست ودهان ..... بس بمالید اندرین دستارخوان
چون جمادی را چنین تشریف داد ..... جان عاشق راچه خواهد کشاد

حکایت: دربیان خوف کاملان از هول یوم القیام. له عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي بخاري او نورو کتابو راوړی دی چي څه وخت چي ابو لؤلؤ مجوسي چي د مغیره رضی الله عنه مریی وُ د سهار په لمانځه کي چي عمر رضی الله عنه تکبیر افتتاح ووایه دغه مریي ملعون په دو روخه چاړه یعني په خنجر یې په ټن کي ووانه. عمر رضی الله عنه وویل اکلني الکلب، دستي عبدالرحمن رضی الله عنه و محراب ته کش کړی او دی غځار سو مریي میدان کړه چي ځان وباسي هر چا چي به ټینګ کړی هغه به یې هم په خنجر ووانه غوځار به یې کړی دیارلس کسه یې نور زخميان کړه اخیر یوه صحابي چي چپنه یې اغوستې وه پر مریي واچول مریی یې ټینګ کړی، مریی چي په ځان پوه سوچي نه سې تلای په هغه خنجر یې خودکشي وکړه. عبدالرحمن رضی الله عنه په مختصر قرائت سره د سهار لمونځ ادا کړی، وروسته صحابه کرام رضی الله عنهم را ټول سوه عمر رضی الله عنه وویل چي زه چا په چاړه ووهلم، خلګو د مجوسي مریي نوم ورواخستی، عمر رضی الله عنه وویل چي حمد دي وي و خدای رضی الله عنه ته یعني الحمدلله یې وویل چي زما د قتل په سبب یو مسلمان دوزخ ته نه ولاړی، نو صحابه کرامو رضی الله عنهم حضرت عمر رضی الله عنه کور ته راوړی، خیر قصه نوره هم اوږده ده لکن د مقصد ځای ته به راسو، عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ورته وویل یا امیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المؤمنين "اسلمت حين كفر الناس وشاهدت مع رسول الله ﷺ (يعني په غزواتو كي د عليه الصلوة والسلام سره شامل سوى يې) حين خذله الناس وتوفى رسول الله ﷺ وهو عنك راض) او ستا په خلافت كي دوه كسه ستا مخالف نه وه. او اخيراً به شهيد مړ سي، امير المؤمنين عمر ﷺ ورته وويل "المغرور من غرر ثمره" خطاوتلى هغه سړى چې تاسي يې خطاباسئ يعني پر ورځ د قيامت دلاوره كوئ يعني عبدالله بن عباس ﷺ ده ته هغه مذكوره خبرې وكړې، عمر ﷺ وويل چې والله يعني زما دي قسم په خداى وي چې دا ټوله جائداد ونه او اموال چې لمر پر راخېژي زما سي زه به يې فديه ور كړځوم د هول د ورځي د قيامت.

دروښ وايي: چې دا ده بېړه د كاملانو او د خداى ﷻ د لوى دوستانو، نو خوف ما وشما چه خواهد بود.

﴿وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا﴾

او نسته يو وطن له وطنو څخه مگر موږ يې هلاكوو هغه قريه يعني خرابوو يې، او اهل د هغې قريې هم هلاكوو دمخه تر ورځي د قيامت، او يا عذاب وركوو يعني اهل د هغې ته چې كافران وي عذاب سخت، يعني په دې دنيا لكه فرعون او قبط يا نمرود وغيرهما. له ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چې زنى او سود خورې چې په يو وطن كې وېره سي خداى ﷻ يې امر د هلاك كوي بلى عذاب كان.

﴿كَانَ ذَٰلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا﴾

دا مذكوره په آيت سابقه په كتاب يعني اللوح المحفوظ من التغيير والتبديل سوي، طبراني او حاكم له ابن عباس او ابن زبير ﷺ څخه روايت كړى دى "اول ما خلق الله القلم فقال له اكتب قال يعني القلم ما اكتب قال يعني الله ﷻ اكتب القدر يعني مقدورات فكتب يعني القلم ما كان وما هو كائن الى الابد.

دروښ وايي: چې گڼ شمېر محدثين له ابن عباس او ابن الزبير ﷺ څخه روايت كړى دى چې اهل مكه د عليه الصلوة والسلام څخه سوال وكړى چې د صفا غر دي سره زر سي (يعني ستا په غوښتنه ستا له خداى څخه كه رسول بالحق د خداى يې)، او موږ ته زمونږ قديم مړي ژوندي كړه لكه قصى بن كلاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مورږ ستا د رسالت پوښتنه له هغه څخه وکړو او دا غرونه د مکې ګوښه کړه او په مکه کې لويه ويالې وبهيږه چې مورږ کښتونه وکړو ونحو ذالک من السوالات المقترحة، نو رسول الله ﷺ ته خدای ﷻ وحي راواستولې که ته غواړې چې نه مهلت ورکړه فعلت، او که ستا خوښه وي زه به دوی ته ما سئلوا ورکړم، نو بيا که دوی ايمان نه راوړی اهلکتهم کما اهلکت من کان قبلهم يعني بعذاب الاستيصال، فقال النبي ﷺ بلکې مهلت ورکړه، فانزل الله ﷻ.

وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ

مورږ نه منع کړې "يعني له علاماتو څخه د صدق چې اهل مکه يې ستا څخه غوښتنه وکړه" مګر دې خبرې چې تکذيب کړی ؤ په آياتو مقترحه وو سره يعني نو عذاب استيصال ما ورکړی لکه ثمودیان چې د صالح عليه السلام ناقة وغوښل او بيا يې هم ايمان رانه وړی، نو عذاب د استيصال پر نازل شو.

پوه سه: چې "ان" مع الفعل مفعول ثاني د "منعنا" دی.

فائده: استثنی په محل کې د رفع ده په "منعنا" سره يعني کفار مکه هم د هغو اولون مثل دي په سرتمبۍ کې او په عادت کې، نو که ځه آيات مسئوله ددوی ورکړم دوی هم ايمان نه راوړي، او د مسئوله آياتو تکذيب لکه مخني کافرانو چې هم دغسې وکړه، نو کفار مکه به هم هلاک کړم بالاستيصال لان من سنتنا في الامم اذ سئالوا ثم لم يؤمنوا بها بعد ارسال الآيات ان نهلکهم ولا نمهلهم، وقد حکمنا بانه هذه الامة نمهلهم لحکم و مصالح، وروسته خدای ﷻ ذکر کړه بعض الامم المهلکة په سبب د تکذيب د آياتو مسئولو ددوی، فقال عز من قائل "وآتينا ثمود الناقة بسوالهم عن صالح عليه السلام".

وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ؕ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ؕ

"مبصرة" يعني آية بينة چې په ستر ګو دوی وليدل، دوی ظلم وکړی په هغه ناقه (يعني ايمان يې نه راوړی حتی چې هغه ناقه يې قتل هم کړه، نو خدای ﷻ په استيصال هلاک کړه) او مورږ نه را استوو آيات مقترحه "والبا زائدة" مګر نه ده پيرول ددوی له نزول څخه د عذاب په دليزه توګه په دنيا کې. او يا معنی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آیت دا ده چې موږ نه را استوو هغه آیات او معجزات چې په غوښتنه د خلګو یعنې د کافرانو وي. بلکې صرف لپاره د اثبات د نبوت د علیه الصلوة والسلام وي مګر لپاره د تخویف په عذاب د آخرت فقط.

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِالنَّاسِ ۚ

یعنې "اذکر" په یاد کړه و خلګو ته هغه چې موږ وکړې وتاته چې په تحقیق سره خدای احاطه کړې پر خلګو یعنې ذاتًا لانه واجب الوجود والناس ممکنات وقدرة او له جهته د قدرت عامه لانه علی کل شیئ شأ قدیر لا مانع له تعالی بخلاف الناس، ددې مطلب دادی چې ته په چاباک مه کوه بلکې اعلان ته د ما ارسلت من التوحید دوام ورکړه، او بعض مفسرین وایي چې د آیت معنا داده چې خدای ﷻ احاطه کړې پر قریشو یعنې اهلکهم. نو دا زېرې دی پر علینه الصلوة والسلام په واقعه کې د بدر چې اوویا تنه په شمول د ابوجهل پکښې مړه سوه او اوویا کسه یې ژوندي بندي کړه سوه.

پوښتنه: واقعه د بدر خو هنوز نه وه واقع سوې. نو تعبیر په ماضي څرنګه ځنې وسو؟

ځواب: من تیقن وقوعه مثل قد قامت القیامة. وامثال في القرآن کثیر، ابو یعلی دالم هاني ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام په شپه د معراج و اسمانو ته، بلکې تر سدرة المنتهی بلکې تر مقام د قوسین بوتلل سو، نو علیه الصلوة والسلام خپل د سفر ملکوتي و قریشو ته بیانـاوه او دوی پر خندل او پسخند یې په واهه، بیا دوی د بیت المقدس د مسجد احوال ځنې وپوښتل، علیه الصلوة والسلام ورته بیان کړه، او بیا یې د خپلې قافلې حال ځنې وپوښتی علیه الصلوة والسلام ورته بیان کړی، فقا الولید بن مغیرة هذا ساحر.

دروښ وایي: چې د معراج قصه په نهایته تفصیل سره په دې تفسیر کې لقوله تعالی "سبحان الذي اسری بعده آه" فقیر بیان کړې ده. د ولید بن مغیره په ځواب کې خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ

مورِ نه ده ګرځولې هغه يعني د ويښو ليدل چې روح او جسد دواړه سره ملګري وه په شپه کې د معراج مګر فتنه لپاره د خلګو حيث انکرها کفار قريش. بلکې بعض مسلمانان ددې قصې په اورېدلو سره مرتد شوه.

دروښ وايي: چې ددې تولې قصې راګرځولو ته ضرورت نسته که څه هم مظهري بيا ذکر د هغې قصې او اختلافات يې بيان کړي دي فقير وايي چې من نه انکار ميکنم ونه اين کار ميکنم. مصرعه: وللناس فيما يعشقون مذاهب.

دروښ وايي: چې مظهري د هر حديثونه ددې آيت په تفسير کې په مختلفو رواياتو او و مختلفو کتابو ته په حواله راوړي دي او په اخير کې يې دا ويلي دي واسانيد هذه الاحاديث ضعيفة، فقير وايي چې په نقل کې يې څه فائده؟ البته بعض امامان که دا احاديث دده د کتاب واوري هغه خو يې د ضعف په قصه کې نه دي شايد پر منبر او محراب کې به يې بيانوي او وايي به امام مظهري داسي احاديث راوړي دي.

وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي الْقُرْاٰنِ ؕ

"والشجرة آه" عطف دی پر "رؤيا" يعني ماجعلنا الشجرة الملعونة چې د زقوم د درختي په نامه يادېږي يعني "الا فتنة للناس" بغوي وايي چې د شجرة الزقوم د فتنې والي وجهي دوې دي، اول ابوجهل فرعون هذه الامة چې ابن ابي کبشه (چې مراد ددې ملعون رسول الله ﷺ و) تاسي بېروي په داسي اور چې په ډېرو بلېږي او بيا دا هم وايي چې په دې اور کې درخته سته، او خلګو ته يې ويل چې تاسي خو واياست چې درخته خو اور سوځي، نو دی بيوقوف نه پوهېږي چې خداى ﷻ پر دې قادر دی چې د سمندل (چې يو حيوان دی) پوستکي په اور نه سوځي، او پر دې هم قادر دی چې د شتر مرغ پر کلمو چې سکروتې تېروي هغه خداى ﷻ د سونګه څخه ساتلي دي، نو پر دې هم قادر دی چې شنه درخته دي په اور کې له سوځېدلو وساتي، په مدارک کې وايي چې سمندل د يو حيوان نوم دی چې د ترکانو په وطنو کې نشو ونما کوي، او ترکان د هغه د پوستکي څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاس وچبدلو دسملان جوړوي او چې خيرن سي په اور کې يې واچوي خيره يې ولاړه سي او دسمال صاف و شفاف سي، په قاموس کې وايي چې سمندل يو مرغه دی په ديارو کې د هند چې په اور نه سوځي، والله اعلم.

او دويمه وجه يې داد چې ابن الزبعري چې يو کافر وُ په مکه مکرمه کې، هغه وويل چې محمد (ﷺ) موږ بېروي په زقوم سره او موږ زقوم نه پېژنو بېله پيروي او خورما. نو ابو جهل دده په تائيد کې وويل "ياجارية تعال" (دلته راسه) نو يې ورته وويل "زقيمينا" يعني پيروی او خورما ورته راوړه، نو ابو جهل وويل "تزقموا" زقوم وخورئ "فان هذا مايتخوفكم به محمد" نو د ابن الزبعري او ابو جهل په رد کې خدای ﷻ دا آيت نازل کړی "ان شجرة الزقوم طعام الاثيم"

فائده: توصيف د شجرة الزقوم په ملعونې سره په اعتبار د وصف د اکل دی وهذا التوصيف على المجاز مبالغة، او يا په دې سبب دی چې شجرة الزقوم په اخرينه حصه کې د دوزخ ده او هغه ځای له رحمت څخه ډېر لېرې دی، چې زقوم ترڅه او مکروه درڅخه ده، اصطلاح د عربو او پښتنو يو دول ده، پښتانه وايي "زقوم دي سه" او عرب هر طعام چې ضررمند وي وايي "ضار ملعون"

وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَانًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾

او موږ بېروو دوی يعني کفار مکه په قسم قسم تخويفنو سره يعني في القرآن، نو نه زياتوو موږ ودوی ته مګر سرکښي لويه، چې لا کفر او انکار ته د قرآن او عليه الصلوة والسلام دوام ورکوي،

حکايت: امام مزني رح وايي چې زه د خپل استاذ الامام الشافعي رضي الله عنه چې دی مريض وُ پوښتنې ته يې ورغلم، نو مې ورته وويل كيف اصبحت يا استاذي (چې د امام شافعي رح دغه مرض موت وُ) ده راته وويل "اصبحت من الدنيا راحلاً ولاخواني مفارقاً (له دنيا کوچ کوونکی او له دوستانو څخه جلا کېدونکی) "ولعملي ملاقياً. ولكاس المنية شارباً" د خپل عمل سره ملاقات کوونکی او ګلاس د مرګ څيښوونکی "وعلى الله وارداً فما ادري اروحي في الجنة ام الى النار" و خدای ﷻ ته ورځم، زه نه يم خبر چې زما روح به د جنت و خواته ولاړه سي او که به اور ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا خوف او حال ؤ د لوی امام الامة، نو زمونږ وارو خلګو به څه حال وي او څه به مو سر انجام وي، مولی روم په مثنوي کې وايي:

لاتخافوا هست نزل خائفان ..... هست درخور ازبرائ خائفان

يعني مهماني له خدای ﷻ څخه د ببرېدونکو خلګو ده، لاتخافوا د خائفانو لائقه ده.

هرکه ترسد مراورا ایمن کند ..... مردل ترسنده راساکن کند

آنکه خوفش نیست چون گویی مترس

درس چه دهی نیست او محتاج درس

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ ۖ

قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾

په یاد کړه (یعني خلګو ته) چې وویل موږ و ملکو ته چې سجده وکړه آدم ته (ای سجده د تحیه چې صرف سر کښته کول وه کما في الامم السابقة مثل تحیة اخوة یوسف علیه السلام له، او یا سجده متعارفه وکړئ و خدای ﷻ ته آدم علیه السلام به صرف په مثل د قبلې دي وي، لکه موږ چې سجده و خدای ﷻ ته کوو قبله مو کعبه ده) نو سجده وکړه ټولو ملکو (لکه په بل ځای کې د قرآن مجید چې راځي "فسجد الملائکة کلهم اجمعون" مګر نه ابلیس) قال (دا جمله مستأنفه ده یعني ده څه عذر ووایه، آیا زه به سجده کوم و هغه چا ته چې پیدا کړی تا طیناً "ای من طین والهمزة للانکار لا من عدم السجدة بل لاستقباح امره تعالی بالسجود لآدم)

اعراب: "طیناً" یا منصوب دی په نزع د حرف جر ای من طین او یا تمیز دی وعلی ای وجه اشارة وعلت ته د انکار دده، بغوي ؒ وایي چې سعید بن جبیر ؒ له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی دی چې خدای ﷻ عزرائیل علیه السلام راواستاوه چې له ټولې مځکې څخه که تروه وي او که خوږه خاوره راټوله کړه فخلق منه آدم فمن خلقه من العذب فهو سعید که څه هم مور او پلار یې دواړه کافران وي ومن خلقه من الملح فهو شقي وان کان نبیین انتهی، وروی احمد والترمذي و ابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داؤد والحاكم والبيهقي عن ابي موسى الاشعري ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول ان الله خلق آدم من قبضة قبضها "اى قبض الملك وهو عزرائيل بامره تعالى" من جميع الارض، نو بنو آدم من قدر الارض پر اندازه د مځكي د رنګو راغله، منهم الاحمر ومنهم الابيض والاسود وبين ذالك (يعني غنم رنګه) والحزن والسهل (يعني سخت مزاجه او سهل طبعيته) وخبيث وطيب.

فائده: علت د انكار د ابليس چې ده خپل اصل عنصر ته او د آدم عليه السلام اصل عنصر وكتل كما جا في آية اخرى "خلقني من نار وخلقته من طين" يعني زما عنصر چې اور دى مضئ دى د آدم تر عنصر چې خاوره ده مظلم بالا دى فكيف اسجد له.

قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ

"قال" وويل ابليس بعد ما طرد وبعد عن جنابه.

پوه سه: چې كاف حرف خطاب دى لپاره د تاكيد د خطاب اول نو محل د اعراب نه لري "هذا الذي كرمت علي" دغه شخص چې آدم دى چې تا دته تكريم وركړى پر ما باندې يعني چې په سجده دده دي مأمور كړم.

پوه سه: چې هذا مفعول اول دى د "رئيت" او موصول يعني سره د صله چې الذي كرمت دى صفت د هذا دى او مفعول ثاني يې محذوف دى لدلالة الصلة عليه يعني كرمت علي والمعنى هذا الذي كرمته علي وتأمرني بالسجود له، لم كرمته علي وهذا هو المفعول الثاني المحذوف فافهم.

لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾

كه ما ته دي مهلت راكړى او مړ دي نه كړم. تر ورځې پورې د قيامت، چناچه موعود است، زه به غلبه وكړم پر اولاد دده قوي غلبه. كما في آية اخرى فبعزتك لاغوينكم اجمعين الآية، مګر نه لږ كسان وهم المخلصون چې خداى ﷻ په هغه آيت كې استثنا كړي دي ان عبادي ليس لك عليهم سلطان.

پوه سه: چې "لئن آه" كلام مبتدأ دى يعني مستقل، او لام موطئه د قسم محذوف دى اى والله، او "ان" شرطيه دى، او جواب يې "لاحتنكن" دى.

قراءت: هغه يا چې په "اخرتني" كې په اصل كې وه، ابن كثير په ځاى كې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وصل او وقف ثابته پريږدي، او نافع په حال کي د وصل فقط ثابت پريږدي، او نور قرأ سبعه يې ده دواړه حاله کي حذف کوي او کسره د نون پر دليل ښولي وهو المتعارف في المصاحف المطبوعة.

سوال: شيطان خو په غيبو نه وٗ خبر، نو دا خبره ده څرنګه وکړه "لاحتنكن آه؟

ځواب: بيضاوي ؒ وايي چي ابليس له هغه قول ځخه د ملکو چي خداى ﷻ دوى ته وويل اني جاعل في الارض خليفة، ملکو په جواب کي وويل اتجعل فيها من يفسد فيها ويسفک الدماً الآية" دا وفهمول چي په اولاد کي د آدم ستا همنوا ستة، يا له دې ځخه پوه سو چي خلقت د آدميان له وهم، غضب او شهوت سره ملګرى دى، نو په قوت وهميه ددوى عقائدو ته ستا لار سته او په قوت غضبي سره قتل او قتال ته ستا لار پيدا کړي او په قوت شهويه سره د زنى او لواطت ته ستا لار خلاصه ده.

قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿۶۳﴾

"قال اذهب" په روح المعاني کي وايي چي مراد له ذهاب ځخه ضد المجئ نه دى، بلکې مراد د ابليس تخليه ده وما سولت له نفسه، په پښتو کي يې مثال دا دى چي يو سړى و خپل مخالف ته ووايي ولاړ سه هر څه چي دي په وسه پوره وي کوه يې، نو هر څوک چي متابعت ستا وکړي له اولاد ځخه د آدم (يعني في الكفر والعصيان) نو په تحقيق دوزخ جزا ده ستا او ستا د اتباعو، داسي جزاً هم ډېره ده او هم کامله ده.

پوښته: د بعض جاهلانو دا وينا ده چي خداى ﷻ ولي اجازه ورکړه د اغواً د اولاد آدم و ابليس ته؟

ځواب: ددې لپاره چي مخلص او منکر سره جلا کړي فالشيطان هو الامتحان فافهم، لکه ودې ته چي خداى ﷻ اشاره کړې ده په دې آيت کي "لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعين" او په دې آيت کي وسوء اختيار د ابليس بيان کړي دي.

پوه سه: چي "جزاً" مفعول مطلق ده د فعل محذوف اى يجزى جزاءً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ

"واستفزز" يعني سپک استعمال کړه او استخفاف يې وکړه (په قاموس کې وايي استفزه استخفه، واخرجه من داره نو معنی د استفزاز استخفاف دی) چې ستا په طاقت پوره وي استفزاز يې "منهم" ای من ذرية آدم "بصوتک" ابن عباس رضي الله عنه وايي چې اولاد د آدم راوبولې و معصيت ته، علماً وايي چې هر بلونکی د معصيت ته د خدای ﷻ هغه د ابليس له لښکر څخه دی، او مجاهد وايي چې مراد له صوت څخه د شيطان ربابونه او سرندې او سرود دي.

وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ

او راجلب کړه يعني راجمع کړه (باب يې جلب يجلب دی، په قاموس کې وايي جلبه يجلبه ساقه من موضع الی آخر)

دروېش وايي: چې لکه پخوا په افغانستان کې يې جلب له خلګو څخه غوښتی يعني نفر به يې څنې غوښتل چې د يوه وطن دا به يې بل وطن ته استول په داخل کې د افغانستان، روح المعاني وايي چې اوامر چې په دې آيت کې ذکر سوي دي لپاره د تهديد دي د ابليس لاحقيقة الامر لان الله لا يأمر بالفحشا "بخيلک ورجلک" يعني سپاره او پياده، اهل تفسير وايي چې هر سپور او پياده چې په معاصيو کې وي هغه له لښکر څخه د ابليس دی، او بيضاوي وايي چې دا احتمال سته چې دا دي مثال وي د تسلط د ابليس پر هغو کسانو چې دی ګمراه کوي انسان، لکه يو سړی پر يو قوم تجاوز او حمله وکړي.

وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ وَعِدْهُمْ

او ته ورسره شريک سه په مالو يعني په کسب کې د اموال بالتجارة وغيرها يعني دوی باعشه کوه په جمع کې د اموالو من الحرام وصرفها في الحرام كذا قال مجاهد، حسن، سعيد بن الجبير رضي الله عنهم او عطاء وايي چې مراد سود دی چې په مشرکينو کې رواج و، او داغه رنګه مشرکانو به حرام ګانه من البحيرة والسائبة والوصيلة والحام وقد مر تفسيرها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"والاولاد" او ورسره شريک اوسه په اولاد کي. يعني چي اولادونه ددوی پر نارو کارو مسلط کړي، او ته يا ابليس و دوی ته باطلي وعدې کوه، مثلاً حشر نشته، او که وو بتان بيا ستاسي شفاعت کوي، او مشرکانو ته وايه چي د پلرو او نيکه گانو دين پريږدئ؟ ويا ورته وايه چي لاجنة ولا نار، او اهل معاصيو ته وايه چي توبه به وروسته وکاږي. ابن عباس رضي الله عنه وايي چي دا هغه عادت د بعضو قريشو ته اشاره ده چي لونې به ژوندۍ ښخولې چي مؤده يې بولي، او مجاهد او ضحاک وايي چي اولاد الزنى، او د ابن عباس رضي الله عنه په بل روايت کي راغلي دي چي پر اولادو د "عبد الحارث" (چي حارث د شيطان نوم دی) يا عبد الشمس يا عبد العزى يا عبد الدار يا عبد المناف وغيرها نومان ايښودل دی.

دروښ وايي: چي د شراکت في الاولاد څخه مراد هغه دی چي دمخه تېر سو يا دادی چي د اولاد د نفقې په برابرولو کي نه له حرام څخه او نه له غلا څخه او نه له اخذ څخه د زکوة د خلګو مع الغنى. او نه له سوال او فقر څخه مع الحرمة مخ اړوي. ددې مثالونه په اوسنۍ زمانه کي بېخي ډېر او تر حساب تېر دي.

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۶۴﴾

دا جمله معترضه ده لپاره د بيان مواعيد د ابليس ده. او وعده نه کوي شيطان د خپل اتباعو سره، مګر نه د غولېدلو لپاره چي باطل ورته داسي ښکاره کړي لکه حق، بغوي روايت کړی دی چي آدم عليه السلام خداى جل جلاله ته وويل چي ابليس دي زما پر اولاد مسلط کړی او زما اولاد د ابليس د مقابلې طاقت نه لري مګر نه په تا سره، خداى پاک ورته وويل چي ستا هر اولاد چي پيدا کېږي ثم وثم زه به د يوې حسنې ثواب په لس مثله ورکوم الى سبع مائة الى ماشئت، قال آدم رب زدني، قال الله تعالى التوبة معروضة مادام الروح في الجسد قال رب زدني قال الله تعالى "ياعبادي الذين اسرفوا على انفسهم لاتقنطوا من رحمة الله ان الله يغفر الذنوب جميعاً الآية.

اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ۚ وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ﴿۶۵﴾

زما خاص بندګان او مخلص بندګان، والاضافة للتعظيم "ليس لک عليهم" اى على اغوائهم "سلطان" قدرت چي ګمراه دې کړي. او کافي دی رب ستا يا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابليس وكيل د هغو كسانو چې پر ما توكل كوي او ستا له اغوا ځخه پناه غواړي په ما سره، يعني اعوذ بالله من الشيطان الرجيم. او خپل كارونه ماته سپاري زه به يې له تا ځخه ساتم.

تبصره: شيطان خو د خداى ﷻ له درباره ځخه وشړل سو او د جنتو له مځكې ځخه راټيله سو، نو دا سوال او ځواب د خداى پاك او دده ملعون تر منځ ځرنګه جاري وه. او سره ددې چې خبري د خداى ﷻ خو نعمت عظمى دى؟

ځواب: بعض علماً وايي چې د خداى ﷻ د خوا خبري په وساطت د ملكې وي. او بعض علماً وايي چې يو خبري د رحمت دي لكه د موسى عليه السلام سره په طور كې. او يا د رسول الله ﷺ سره فوق السموات السبع په لامكان كې خداى ﷻ وكړې. او بل خبري د غضب او تهديد دي. هغه بالذات امكان پزېر دي. د مثال په توګه يو بادشاه چې له وزير ځخه راضي وي له هغه سره خبري د رحمت كوي، او د بل وزير سره چې سلطان ورته په غضب وي او ناراض وي. نو دده سره بالذات په دېر غضب او درشتي خبري ورسره كوي. نو دا خبري د سلطان ددې وزير لپاره خو نعمت نه دى بلكې نقمت دى. نو داغه ږنګه د شيطان سره خبري د خداى ﷻ بالذات نعمت نه دي بلكې نقمت دى. فافهم واكتب هذا على قرطاس الاذهن بمداد الذهب فانه من خواص هذا التفسير وقل من نبه على هذا والله الموفق والمعين. والحمد لله رب العالمين.

دروېش وايي: چې په راتلونكي آيت كې خداى ﷻ خپل د قدرت او د وحدت دلائل خلكو ته بيانوي.

رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ ۚ

ستاسي خداى ﷻ هغه ذات دى، چې جاري او روانه يې كړه كښتى په دريا ب كې. چې تاسي طلب وكړئ په واسطه د كښتيو ږېځ او رزق يعني د تجارت په واسطه.

پوه سه: چې "ربكم" مبتدأ ده او "الذي" خبر دى په حذف د ضمير فصل اى هو الذي كما هو القانون. له "فلك" ځخه دېري كښتى مراد دي. علماً وايي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لفظ د "فلک" هم مفرد دی او هم جمع دی فرق يې يا په صفت کېږي يعني که يې صفت مذکر وي، نو لفظ د فلک مفرد دی. او که يې صفت مؤنث وي، نو لفظ د فلک جمع دی. وهكذا بالضمير الراجع اليه في التذكير والتانيث او يا په قرينه دمقام لکه په مانحن فيه کي، ولي خدای ﷻ په مقام د امتنان دا بيان د کښتی راوړی دی يعني پر تولو بندګانو دا سبب دی چي توله مفسران يې ترجمه په "سفن" سره کوي چي جمع دی.

إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٦٦﴾

په تحقيق خدای ﷻ پر تاسي مهربانه دی، ولي تاسي ته يې اسباب د ما تحتاجون اليه برابر کړي لکه کښتی په ما نحن فيه کي وغيرها من اسباب الرزق والعيش لکه تجارت په وچه کي كما هو الظاهر.

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ۖ

او تاسي ته ورسېږي يو ضرر په درياب کي لکه خوف د غرق د کښتی په سبب د طوفان ستاسي له دماغو څخه ووزي هغه شيان چي تاسي يې عبادت کاوه او خدايان مو بلل مګر نه يو خدای ﷻ مو په ياد وي. يعني فقط او فقط خدای ﷻ ته زاری کوئ په دفع کي د ضرر يعني د بت نوم پر خوله نه راوړئ، حتی چي تاريخ قديم وايي چي مشرکانو چي به سفر د بحر کاوه يو خدای به يې له ځان سره واخستی هر وخت چي به درياب په ځپو راغلی هغه خدای به يې درياب ته وغورځاوه.

فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾

نو هغه وخت چي مو په نجات درکړو وتاسي ته له غرق څخه و مخکي ته، نو تاسي روی ګرداني کوئ له توحيد څخه. او دی انسان ای الکافر ناشکره د نعمتو د خدای ﷻ (دا جمله يعني وكان الانسان آه په مقام کي د علت د اعراض ده).

أَفَأَمِنتُمْ

آيا تاسي په امن کي ياست.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی او کلمه د فا عطف ده پر مقدر باندې والتقدیر "انجوتم من الغرق فامنتم آه" نو ځکه تاسې اعراض وکړی د ځوښه ښایي تاسې لره ولې هغه څوک چې قادر وې پر اغراق په دریاب کې هغه قدرت لري.

أَنْ يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا

چې واړوي دې یو جانب د مځکې او تاسې هم پر هغه جانب یاست یعنې پر قوم د لوط علیه السلام چې دې ته په عربي خسف وایي، او یا راواستوي پر تاسې تند باد چې کوچنۍ کوچنۍ شیګې پر تاسې لکه باران وه اوري او تاسې په هلاک کړي (د دبرو باران پر قوم لوط ؤ) لان کل من البحر والبر والهوا وغیر ذالک جند الله.

ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ وَكِيلًا ۝

بیا به تاسې نه مومئ یو ساتونکی چې له عذاب څخه د خدای ﷻ مو خلاص کړي، الا لامرد لقضائه تعالی.

أَمْ أَمِنْتُمْ أَنْ يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ

آیا تاسې بېغمه یاست له دې څخه چې خدای ﷻ به تاسې وړولې دریاب ته بل وار یعنې وروسته تر دې چې دمخه وار یې په سلامت و مځکې ته راوستلاست یعنې داسې اسباب یې خدای ﷻ پیدا کړي دي چې تاسې مجبوره کړي یاست د دریاب و سفر ته.

سوال: دا سفر په دریاب کې خو ددوی په اختیار دی، نو ولې یې نسبت و خدای ﷻ نه وکړی؟

خواب: سفر د بحر خو ددوی اختیاري کار دی، لکن اسباب د مجبورۍ ددوی د سفر ځنې د دریاب ددوی په خلق د خدای ﷻ دی.

فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِنَ الرِّيحِ

خدای ﷻ به راواستوي پر تاسې په داسې حال کې چې تاسې په دریاب کې یاست، یو تند باد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "قصف" ماتېدلو ته وايي. نو دا هغه باد دی چې پر هرشي چې ورسي ماتوي يې.

سوال: ریح خو مؤنث سماعي دی. نو قاصف چې صفت د ریح دی، څرنګه مذکر راوړل سو؟

ځواب: چونکه ریح په مقابل کي نر نه لري، نو لکه حائض چې صفت خاصه د ښځې دی مذکر یعني ببله تا يې راوړی کذا في تفسير الكواشي.

فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ

نو تاسي به غرق کړي یعني کښتی به مو ماته سي تاسي به غرق سئ. په سبب د کفر ستاسي یعني و خدای ﷻ ته شریک ویل، چې اول وار له دریاب څخه سلامت راووتلاست. او د هغه نعمت د انجا شکر مو نه کړی پر خای. کریمه "لئن شکرتم لازیدنکم".

ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا ﴿۶۹﴾

وروسته تر غرق به تاسي نه کړئ پیدا پر موږ باندي په دغه غرق کولو کي، په قاموس کي وايي چې "تبیع" پر وزن د امیر دی معنی يې ستاسي د مرني طلب کونکی چې په عربي يې ثائر بولي، او په پښتو يې کسات اخستونکی بولي.

درین ره دائماً ثابت قدم باش ..... بر و از ره زن غم بی الم باش
ز بازار تو جه رو مگردان ..... همه سودي گد خواهی اندرین دان

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ

لام موطئه د قسم محذوف دی. والله چې عزت او شرافت ورکړی دی موږ د اولاد ته د آدم علیه السلام (نو مراد د بني آدم مطلق اولاد د آدم دي من الذكور والاناث) په بنه صورت سره او په مزاج معتدل سره په منځ کي د افرادو د حیوان مشترک بین الکل دی، او په بنه قدوقامت سره او تمیز بین الحق والباطل بالعقل المميز او افهام د بل په نطق فصیح سره او په اشارات سره او په خط او کتاب سره. او هدایت و اسبابو ته د معاش من الكسب والتجارة. او د لاړ پیدا کولو وعیش ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخره بالاهتداء. او په تسلط او غلبه سره على جميع مافي الارض من الحيوانات بتسخير الرب الجليل لها لاولاد آدم، او قدرت مو ورکړی دی پر صناعات عجيبه من الخياطة والحياكة وبناء الدور والقصور وصنعة السيارات والطيارات وآلات الحرب من السيوف وغير ذالک من الآلات الجديدة. او بل خورک کوي په لاس ورلو و خولې ته. بخلاف سائر الحيوانات والعشق الحقيقي والمعرفة، والوحي الى الانبياء عليهم السلام منهم او هدايت و مراتبو ته د قرب الى الله عزوجل.

دروښ وايي: چې بعض تکريم د اولاد آدم عام دی فاسق او فاجر او مؤمن او کافر ته او بعض خاص په مؤمنانو سره دي فتفكر فيما بينا. او تر ټولو لوړ کرامت د بني آدم دا دی چې سيد البشر محمد المصطفى صلى الله عليه وسلم ددوی له نوع څخه دی قاله محمد بن کعب. يو شاعر په شان کې د آنحضرت صلى الله عليه وسلم وايي:

ای شرف دوره آدم بتو ..... روشنی دیده عالم بتو

کیست درین خانه که خیل تو نیست

کیست برین خوان که طفیل تو نیست

از تو صلای بالست آمده ..... نیست بمهمانی هست آمده

يعني اول جواب الست بر کم، نو داده يعني بلى.

وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ

"في البر" على الدواب "والبحر" على السفن. يعني نه په مځکه کې خسف کېږي او نه په بحر کې غرقېږي الا ماشاء وندر، او په رزق ورکړي موږ دوی ته خوندور خوراکي شيان او مشروبات لذيذه كما لا يخفى.

وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ۝۷۰

او تفضيل او کرامت مو ورکړی دی دوی ته پر ډېرو ډهغو شيانو چې پيدا کړي دي موږ تفضيلاً مطلق دی.

دروښ وايي: چې په دې تفضيل د بني آدم پر ډېر مخلوق د خدای جل جلاله قديماً و حديثاً عظيم اختلاف دی، حسين کاشفي رح په تفسير حسيني کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي: علما در تفضيل بشر مباحث دور ودراز است. آنكه جمهور اهل سنت بر آنند اين است، كه رسل نبي آدم افضل تر اند از رسل ملائكه كجبرئيل و ميكائيل وغيرهما، ورسل ملائكه افضل اند از اولياً بني آدم، واولياً شريفتر اند از اولياً ملائكه، وصلحاً اهل ايمان افضل تر اند بر عوام ملائكه، وعوام ملائكه افضل تراند بر فساق اهل ايمان انتهى. اوروح المعاني وايي: ان مسئلة التفضيل مختلف فيها بين اهل السنة، او ابن عباس رضي الله عنه وايي چي ملائكه مطلقاً افضل دي، او مختار د زجاج رحمه الله لكه واحدي رحمه الله چي په بسيط كي راوړي دي، او بعض علماً تفضيل كوي، او وايي چي رسل د بشر افضل دي مطلقاً يعني تر تولو ملائكه وو، وروسته بيا رسل د ملايكه وو افضل دي پر توله بشر ماسوى د رسولانو د بشر او د ملكو، وروسته عموم الملائكه افضل دي تر عموم د بشر، په اخير كي ده ويلي دي وهذا ما عليه اصحاب الامام ابو حنيفة رحمه الله وكثير من الشافعية رحمهم الله والاشعرية، او په بحر العلوم كي وايي چي دا آيت پر دي دلالت كوي چي بني آدم مفضل دي پر ډېرو، او قليل پر دوى افضل دى چي آدم عليه السلام او حوا رضي الله عنها چي ددوى پلار او مور دي، لما فيهما من فضل الاصالة يعني چي دوى دوه اصول دي د تولو انسانانو انتهى.

دروبش وايي: چي هذا سهو لان المراد في الآية ليس تفضل بعض الناس على بعض، لان قوله على كثير ممن خلقنا آه عام يشمل الجن والملائكة المقربين وغيرهم فيجب التفضيل كما هو مذهب ابي حنيفة رحمه الله كمامر آنفاً.

وتفصيل هذه الآية: چي فضل په لغت كي زيادت ته وايي، دلته مراد څني زيادت دى په ثواب كي او په مراتبو كي قرب الى الله تعالى، نو ضمير د هم في فضلنا هم راجع دى و بني آدم ته په اعتبار د بعضو افرادو چي مؤمنان دي، كما في قوله تعالى "والمطلقات يتربصن بانفسهن ثلثة قروء" (طلاق كړل سوي ښځي دي انتظار كوي په خپلو ځانو يعني له نكاح څخه د بل مېړه دري حيضه) نو په دې كي خو هغه مطلقات هم داخلي دي كه په طلاق ثلاثاً وي او كه په طلاق رجعي سره وي، "وبعولتهن احق بردهن" او مړونه ددوى حقدار دي په رد سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی یعنې چې رجوع ورته وکړي بیرته یې ماینه کړي، نو دغه ضمیر "بعولتهن" خو راجع دی و مطلقاتو ته لکن په اعتبار د بعض افرادو چې طلاق یې رجعي وي، ولي مطلقه ثلاثا ته خو رجوع نسي کولای فافهم. بلکې نکاح جدید او جماع او بیرته طلاق او عدة غواړي.

پوښتنه: ضمیر د هم چې په "فضلنهم" کې دی چې راجع و مؤمنانو ته سي، نو علی کثیراً څرنګه صحیح کېږي، ولي چې کفارو خو تر مسلمانانو ډېر دي او مؤمنان خو لږ دي؟

ځواب: کفار اګرچه په عدد د نفوسو ډېر دي لکن چونکه انحس د خلق الله دي و ابغضهم الی الله دي او اخبث د بني آدم دي لکه په دې آیت کې چې خدای پاک فرمایي "و اولئک هم شر البریة" نو دوی ګویا تر مسلمانانو لږ دي.

سوال: له دې آیت څخه خو داسې فهمېږي چې فضل د مؤمنانو پر ډېر د مخلوق د خدای ﷻ دی، پر ټولو مخلوقاتو نه دی افضل. نو دا مسئله خو خلاف مذهب حنیفیه ؒ او د اکثره شافعیه ؒ وو ده کمامر سابقاً؟

ځواب: بعض قوم وایي چې مؤمنان تر ملکو نه دي افضل وهذا ایضاً خلاف المذهب لاهل السنة والجماعة کمامر آنفاً. او کلبي ؒ وایي چې مؤمنان افضل دي تر ټولو خلګو مګر نه پر یوه طائفه چې له هغو څخه جبرئیل، میکائیل، اسرافیل او ملک الموت هم دی چې خواص د ملکو دي، وفیه بحث لان خواص المؤمنین یعني الانبیاً والرسل علیهم السلام تر دغو ملکو هم افضل دي کما هو مذهب اهل السنة والجماعة. او بعض مفسرین وایي چې مؤمنان افضل دي تر ټولو مخلوق حتی تر ټولو ملګو هم افضل دي، او په آیت کې کثیر په معنی د کل دی، وفیه ایضاً بحث لان فساق المؤمنین لیسوا افضل من الملائکة کلهم. وایضاً جعل الکثیر بمعنی الکل مجاز نادر جداً.

دروښ وایي: چې فقیر تفسیر ددې آیت او مسئله د تفضیل د بني آدم حسب الطاقة په پوره تفصیل سره وځېرله او بیان مې کړه، لکن مختاره د فقیر هغه مذهب دی چې د اکثره اهل السنة خصوصاً مذهب امام الائمة ابو حنیفه ؒ و اکثر الشافعیة ؒ دی، چناچه ورانديې قریب فقیر ذکر کړه .... بیت عربي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ومن مذهبي حب الديار لاهلها ..... وللناس فيما يعشقون مذهب

دا باران چې پر همه ؤ مخکو اوري ..... مشرف کړی ذات د کېمیاولي

يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ ۚ

هغه ورځ خلګو ته ذکر کړه چې موږ رابولو (تو "يوم" منصوب دی په "اذکر" مقدر سره کما جا في القرآن العزيز كثيراً) "بامامهم" مجاهد او قتاده ؒ وايي چې مراد نبي د هر قوم دی مثلاً يا امة موسى عليه السلام يا امة عيسى عليه السلام يا امة محمد ﷺ او ابو صالح او ضحاک ؒ وايي چې مراد له امام څخه هغه کتاب دی چې هر قوم ته نازل سوی دی، له حضرت علي څخه روايت دی دده وويل قال رسول الله ﷺ يدعى قوم بامامهم وكتاب ربهم (تو كتاب ربهم عطف تفسير دی د امام لهم) او سعيد بن جبير د ابن عباس ﷺ روايت کړی دی "بامام زمانهم الذي دعاهم الى ضلالة وهداية كما قال الله تعالى "وجعلناهم ائمة يهدون بامرنا وفي موضع آخر وجعلناهم آئمة يدعون الى النار" او سعيد بن المسيب ؒ وايي چې امام هغه څوک دی چې قوم و ده ته رجوع وکړي په خير او په شر کې، او ابو العالية والحسن ؒ وايي چې مراد له امام څخه اعمال ددوی دي في الدنيا من الخير والشر، د مثال په توګه "يا من اشركوا يا من امنوا، يا اهل الصلوة والصيام مثلاً يا اهل الزنى وشرب الخمر مثلاً" او بعض مفسرين واي چې مراد له امام څخه عمل نامې ددوی دي، ويسمى الكتاب اماماً كما في قوله تعالى "وكل شيئ احصيناه في امام مبين اى اللوح المحفوظ" او محمد بن كعب ؒ وايي "بامهاتهم" يعني د مور په نامه (ئو امام جمع د ام ده لكن خفاف جمع د خف)

دروښ وايي: چې د مور په نامه بللو کې حکمت الهي دادی چې يو تعظيم د عيسى عليه السلام دی چې ده څو پلار نه درلودی، او بل اظهار د شرف د حسن او حسين ﷺ چې مور يې خاتون الجنة بنت نبي الشفاعة محمد رسول الله ﷺ يعني فاطمة الزهرا ﷺ ده، او بل حکمت دادی چې اولاد د زنی رسوا نه سي.

تنبيه: قوله "امامهم" حال دی له كل اناس څخه، والمعنى مختلطين بامامهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای بمن ایتموابه من نبي او کتاب او رئيس في الخير والشر او حاملين کتب اعمالهم علی الاختلاف في تفسير الامام.

دروښ وايي: چې صاحب د روح المعاني پر دې توجيه اخير باندې شديد انکار کړی دی، ان شئت فارجع اليه. او روح البيان او مظهري دا توجيه په ډېر شوق سره مختاره کړې "وعندي ان هذا التوجيه صحيح بلا ريبة". او روح البيان په دې باره کې حديث د تلقين الميت وقت وضعه في القبر هم رانقل کړي دي يعني چې تلقين الميت دي د مور په نامه سره کوي. او روح البيان نسبت ددغه حديث و امام سخاوي ته کړی دی چې په مقاصد حسنه کې يې راوړي دي او سندونه يې هم صحيح ګڼلي دي، او تفسير بحر العلوم هم دا توجيه تائيد کړې ده. او امام قرطبي هم په تذکرة داغه توجيه مختاره کړې ده. فقير وايي چې په مقابل کې د هوﻻ الاعلام وکلام ته د روح المعاني بايد د تحسين نظر ونه کړل سي والله اعلم.

فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَأُولَٰئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَابَهُمْ

هغه څوک چې راوبلل سول، چې ورکړه سي عمل نامه دووی په رسته لاس چې سعداً او نيک عمل وي. نو دغه کسان قرائت کوي خپل عمل نامه يعنې په قرائت ظاهره چې نور خلګ يې هم واوري، او په خپلو حسناتو چې په عمل نامه کې وي ډېر خوشاله وي.

پوه سه: چې ورکول د عمل نامې په رسته لاس لپاره د اعزاز د صاحب الکتاب دی او ضمناً بشارت او زېری هم دی.

پوه سه: چې اسم اشاره او دوه ضميره يې جمع راوړه په اعتبار د معنی د "من" ولې د "من" اطلاق پر مفرد او جمع دواړو روا دی. وانما قلنا هذا لان السعداً کثيرون جداً.

پوښتنه: د اشقيا ذکر يې ونه کړی که څه هم هغه خو خپلې عمل نامې ويلای سي؟

ځواب: هو! لکن دوی يې په قرائت ظاهره سره نسي ويلای خوفاً وحياءً او د خوشالی شی نه وينې په عمل نامه کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿۷۱﴾

او پر دوی ظلم نه کول کېږي د فتیل په اندازه. یعني چې یا دې حسنات دهر وي او په عمل نامه کې یې لږ نوشته وي، او یا سیئات ناحقه پکښې نوشته وي.

پوه سه: چې فتیل ضرب مثل دی په قلت او حقارت کې. او لغوي معنا یې یا هغه خیره ده په منځ کې د دوو ګوتو، او یا هغه تار دی چې د خورما د منډکې په غار رنګه ځای کې وي.

فائده: فتیلاً منصوب دی او مفعول مطلق دی. والتقدیر فلا یظلمون ظلماً قدر فتیل (نو دا سوال نه وارد ېږي چې فتیل خو نه په لفظ کې او نه په معنی کې د ظلم سره یو شی دی، یعني نه داسې دی لکه ضربت ضرباً او نه داسې دی لکه قعدت جلوساً)

پوه سه: چې مظهري وایي چې د هغو کسانو حال یې نه کړی ذکر چې کافران دي. اکتفاءً په وروسته آیت سره وکړه یعني ومن کان آه کما سیئاتي.

دروېش وایي: چې حاصل د کلام دادی چې کاملانو د مسلمانانو یعني اولیا الله الکرام دي عمل نامه په راسته لاس ورکول کېږي تبشیراً، او د فاسقانو د مؤمنانو عمل نامه په چپه لاس ورکول کېږي. لکن دوی که څه هم ویلای سي له خجالت څخه ظاهراً یې نه وایي بلکې وایي "یالیتني لم اوت کتابیه ولم ادري ما حسابیه، او د کفارو عمل نامه وراً ظهره ورکول کېږي یعني خپل چپه لاس یې تر ځیګر وباسي عمل نامه یې د شا د خوا ورکړي کما جاً في موضع آخر من القرآن لکن دلته هغه هم نه کړه لدلالة الآیة کمامر.

وَمَنْ كَانَ فِي هَٰذِهِ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿۷۲﴾

څوک چې په دې دنیا کې ړوند وي (یعني په ړوند والي د زړه چې کافران دي چې په زړو یې دلائل د توحید نه لیدله او لار د حق یې په حق سره نه پېژندل) نو دی به په اخرت کې ړوند وي، یعني نجات من عذاب الله به نه وینې لان عمی الدنیا موجب لعمي الآخرة فالکافر لا یهتدي الی الجنة. او دېر به ګمراه وي تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعمی د دنیا لزوال الاستعداد وتعطل الاسباب یعني د دنیا ظاهري ږوند په لګړه لار پیدا کولای سي. یا معنی داده چي کافر په دنیا کي خو استعداد د قبول د حق یې باقي ؤ او په اخرت کي هغه هم ځني سلب سي او په دنیا کي مهلت ورکړه سوی ؤ. او په اخرت مهلت نسته او که یې په دنیا کي توبه له کفره څخه کښلې وای قبلېدله او په اخیرت کي توبه نه قبلېږي.

سوال: نحات وایي چي شرط د بنا د اسم تفضیل دا دی چي لون او عیب به نه وي او عمی خو عیب دی. نو څرنګه اسم تفضیل ځني جوړ سو یعني اعمی؟

ځواب: مانع د بناً د اسم تفضیل عیب ظاهري دی دلته خو مراد د عمي القلب ؤ. نو د اعمی مثال په دې ځای کي چي عمي القلب ځني مراد ده لکه احمق اجهل ابله چي هغه هم عیوب باطنه قلبیه دي نحات یې روا بولي.

دروښ وایي: چي محدثینو له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسي روایت نقل کړی دی چي امیه بن خلف او ابو جهل بن هشام، او بعض نور کسان د قریشو مشران رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله. او داسي یې ورته وویل چي ته راسه زمونږ خدایان مسح کړه مونږ به ستا په دین کي داخل سو. او د علیه الصلوة والسلام د قریشو ایمان ته ډېر میل ؤ.

دروښ وایي: چي دا شان نزول مظهري رح ذکر کړی دی او تفسیر کواشي داسي شان نزول ذکر کړی دی چي مشرکانو د مکې د علیه السلام څخه دا مطالبه وکړه چي ته په ځای کي د آیت د عذاب ستا په قرآن کي آیت رحمت کښېږده. او زمونږ آلهة مسح کوه په وخت کي د مسح د حجر اسود. او ضفاً مساکین لکه بلال صهیب رضي الله عنهما وغیرهما د خپل مجلسه ولاړه وه چي مونږ درسو. او دوی طمع ورکړه و علیه السلام ته د ایمان راوړو. او علیه السلام د قریشو د ایمان راوړو ډېر محب ؤ. نو دا آیت نازل سو.

وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ

ان مخففه د مثقل دی اسم ضمیر شان محذوف دی یعني شان دا دی نژدې ده چي کفار د مکې دي تا په فتنه کي واچوي د هغه قرآن څخه چي وحي کړي مونږ وتاته یعني که ته هغه مطالبې د دوی ومنې چي په شان کي د آیت تیري سوې، چي ته افتراً ووایې پر مونږ باندي غیر د "ما اوحینا الیک".

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٧٦﴾

يعني كه ته داغسي وكړي نو دوی به تا وګرځوي خپل دوست او موافق.

وَلَوْلَا أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾

او که نه وای موږ تینګ کړی ته پر دین حق، یعنې د دوی خبرې دې ونه منلې، په تحقیق نژدې وه چې تا به میل کړی وای، وه کفارو ته د مکې یعنې په منلو کې د مطالبو د دوی "شیئا" قلیلاً" یو لږ رکون.

دروښ وایي: چې سره د دې چې کفارو د مکې ډېر چمونه او حیلې وکړې په خطا یستلو کې د علیه السلام او سره د سخت حرص د علیه السلام پر اسلام د دوی، لږ رکون په تاکې پیدا سوی وای که تثبیت زموږ نه وای لکن زموږ عصمت ستا جلو ګیرې وکړه چې لږ میل وکفارو ته په تاکې نه سو پیدا "فضلا عن الکثیر" وفضلا عن نفس الرکون في الواقع" او دا ایت دلیل د دې ده کمال استقامت او د صلاح په استعداد کې د علیه السلام "بحیث لو لا تدارکه التثبیت من الله والعصمة فرضًا لاقترب من المیلان الی المعصیة الا قلیلا وقلیل الاقتراب الی المعصیة لا یقتضي الوقوع فیها فکیف اذا ادرکته العصمة ومنعته من قلیل الاقتراب من الرکون فضلا عن کثیر الاقتراب وشتان بین الاقتراب الی الرکون وبین نفس الرکون فالآیة صریح انه صل الله علیه وسلم هامّ باجابتهم مع فوق الداعي "والله اعلم.

إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ

که تا لږ میل کړی وای موږ به په تا څکلی وای عذاب د دنیا او د آخرت مضاعف د هغه عذاب چې بل چا ته مي ورکولای، ولې خطاً د لوړ رتبه سړي لویه وي تر عذاب د کښته رتبه چا.

پوه سه: چې اصل کلام داسي وو "عذابا ضعفا فی الحیوة وعذابا ضعفا فی الممات ثم حذف الموصوف" چې عذابا وو واقیم الصفة مقامه چې "ضعفًا" دی بیا یې د صفت اضافت و هغه شي ته وکړی چې موصوف یې ورته مضاف کړی ای الحیوة والممات فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

پيا به نه واى پيدا كړى تا پر موږ كومك كونكى چې زموږ عذاب دې له ځنه لېرې كړى واى.

دروښ وايي: چې په بعضې الفاظو كې د شان نزول د اسې الفاظ راغلي دي چې د عليه الصلوة والسلام په زړه كې في الجملة ميل پيدا سو ددوى و مطالبو ته. روح المعاني وايي چې وفي بعضها اى په بعض حديثو كې شان نزول ددې آيت مالا يصح نسبته الى الرسول ﷺ چې د نسبت د هغه و رسول الله ﷺ ته نه دى صحيح. يعنې دده مبارک په زړه كې ميل پيدا سو ددوى و مطالبو ته، وذالک يدل على الوضع، دا نسبت پر دې دلالت كوي چې هغه حديث چې داغه الفاظ پكښې وي موضوعي دى، والتفسير لايتوقف على شيئ من ذالک. او تفسير د قرآن پر موضوعي حديثو توقف نه لري انتهى قول روح المعاني.

وَإِنْ كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ الْأَرْضِ

او شان دادى چې قريب ده چې كفار مكه دي چابک تا وباسي له مځكي ځخه،

پوه سه: چې "ان" مخففه دى له مشدد ځخه، او اسم ضمير شان محذوف دى والاصل انه "من الارض اى مكة".

سوال: څه قرينه ده چې ان مخففه د مثقل دى، او نافيه نه دى؟

ځواب: وروسته لام يې قرينه ده چې په خبر كې د نافيه لام نه راځي.

پوه سه: چې مظهري تفسير د ارض په مدينه سره كړى دى.

دروښ وايي: چې دا تفسير د سياق سره د آيت او د هغو احاديثو ځخه چې په شان نزول كې د آيت مظهري په خپله هم راوړى دى. د هر مخالف او منافي دى. فحق القول ان لكل علم هفوة ولكل صارم نبوة، والصحيح ما قال صاحب روح المعاني اى ارض مكة. او مجاهد او قتاده وايي الارض ارض مكة والآية مكية يعنې مشركين د مكې په دې كوشش كې وه چې عليه الصلوة والسلام په يوه او په بله بهانه له مځكي ځخه وباسي. لكن په دې كوشش كې خداى ﷻ دوى ناكام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه، وروسته خدای ﷻ علیه الصلوة والسلام ته د هجرت امر ورکړی چې په رضا له مکې څخه ووزه او مدینې ته ولاړ سه. محي السنة بغوي ؒ وایي چې تفسیر د ارض په مکه سره الیق دی لان ماقبلها خبر عن حال اهل مکة والآیة مکیة.

دروښ وایي: چې مظهري دلته یو بل احتمال ابعد جداً ددې آیت په ترجمه کې راوړی دی، قال قیل العرب کلهم ارادوا ان یستفزوا رسول الله ﷺ من ارض العرب کلها باجتماعهم الظاهر به علیه السلام فمنع الله ﷻ رسول الله ﷺ ولم ینالوا منه ما املوا انتهی.

لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٧٦﴾

او کله دوی تا وباسي له مځکې څخه کذا قال روح المعاني وروح البیان دوی به درنګ یعني ژوند ونه کړي په مکه کې تر تا وروسته مګر نه لږ زمانه. ولې چې ددوی یعني د کفارو د مکې اوویا (۷۰) کسه په شمول د ابو جهل فرعون هذه الامة مخور کسان او رئیسان د مکې په بدر کې بعد الهجرة ووژل سوه.

پوښتنه: خدای ﷻ "لا یلبثون" په صیغه د جمع راوړی چې تولـه اهل مکه ځنې مراد دي او په بدر کې څو محدود اوویا کسه ووژل سوه وبقی في مکة کثیرون من اهل مکة؟

ځواب: روح المعاني وایي چې چونکه وژل سوي کسان په بدر کې څو صنادید د اهل مکه وه، نو ددوی وژل لکه وژل د تولـه اهل مکه دي، وانت تعلم ان معظم الشیئ یقام مقام کله انتهی.

فائده: دا زمان قلیل چې په قرآن کریم کې ذکر سوه په روایت د ابن ابي حاتم له سدي څخه اتلس (۱۸) میاشتې وې.

دروښ وایي: چې دا تفصیل او بیان چې فقیر وکړی موافق ددې سره دی چې دا سورت او دا آیت مکي دی، او مظهري داسي تفسیر د "الا قلیلاً" کړی دی، قیل وکان کذالک فان یهود المدینة قتل منهم بنو قریظة واجلی یهود خیبر في خلافة عمر ﷺ وقتل مشرکوا مکة بعد خروج النبي ﷺ یوم بدر (ای رؤسائهم) کما مر انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې مظهري په تفسير کې يهود د مدينې راوړه، او قتل د قريشو په بدر کې داخو وروسته تر هجرت وه، نو دده په نيز دا آيت مدني دی وقد مر من قبل تفسير المظهري رح "الارض" بالمدينة ايضًا، والله اعلم بمراد عباده.

سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ﴿۷۷﴾

طريقه د هغه رسولانو لپاره ده چې را استولي موږ تر تا دمخه يا محمد (ﷺ) د رسولانو څخه زمونږ هغه طريقه او سنت، او عادت د خدای ﷻ دادی چې هر قوم چې خپل نبي او رسول له منځه وباسي هغه به هلاکېږي، يعني كما يدل تواريخ الرسل من قبلك.

بوه سه: چې "سنة" لفظ منصوب على انه مفعول لفعل محذوف اى سن الله ذالك سنة.

سوال: دا سنت او عادت خو د خدای ﷻ ؤ او دی، نو "سنة" يې د رسل ته ولې مضاف کړی؟

خواب: له دې سببه چې دا عادت د رسولانو د خدای ﷻ منظور کړی دی، او هر گز به نه کړې پيدا ته د سنت قديمه زمونږ تغيير او تبديل.

فائده: د خدای ﷻ له دوستانو څخه لکه انبيا عليهم السلام بايد عاقل سړی دېر پېژندي تر دښمنانو خپل، بعض اهل الله وايي "اهرب عن خير الناس اكثر مما تهرب عن شرهم" ته ځان ساته له خير څخه د خلگو دېر تر هغه چې ځان ساتي له شر څخه د خلگو "فان خيرهم يصيبك في قلبك وشرهم يصيبك في جسدك" ولې خير الناس دی په زړه کې تاثير کوي او شر الناس دی په بدن کې. او هغه دښمن چې تا و خدای ﷻ ته راجع کوي. يعني له خدای ﷻ څخه دده له شره خلاصون غواړي، افضل دی تر هغه دوست چې تا له خدای ﷻ غافله گرځوي يعني په لهو ولعب او باندار دې اخته کوي، او هر مرض: مصيبت، فقر وغيرها چې پر تاسې هغه يوه دُره د خدای ﷻ تا و خدای ﷻ ته متوجه کوي او حقيقت توحيد ته دې کشوي، فهو نعمة ولذة في صورة الم ومصيبة. حافظ شيرازي رح وايي:

بدر و صاف تراحکم نيست دم درکش ..... که هرچه ساقی ما کرد عين الطافيست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ

کلمه د لام لپاره د وقت ده، والمعنی صل وقت زوال الشمس من غایة الارتفاع.

پوه سه: چي دا لمونځ د ماپښین دی، او دا هم مذهب د ابن عباس، ابن عمر او جابر رضي الله عنهم دی او مذهب دی د قتاده، عطا، مجاهد، حسن او اکثر تابعینو رحمهم الله او پر دې دلالت کوي هغه حدیث چي بیهقي روایت کړی دی له حدیث څخه د ابي مسعود الانصاري رضي الله عنه من قول رسول الله صلی الله علیه وسلم "اتاني جبرئیل لدلوک ای حین زالت الشمس فصلی بي الظهر الی اخیر الحدیث".

دروښ وایي: چي ترجمه د "دلوک" په زوال سره اولی ده تر ماښیناتي قریباً معنًی یو په سبب ددې چي ترجمه د "دلوک" په زوال سره بهخي د پرو مفسرینو کمامر کړې ده او بل پر تقدیر د حمل پر زوال دا آیت جامع د پینځو سرو لمونځو گرځي کما سیناتي ان شاء الله تعالی.

فائده: زوال ته ولي "دلوک" وایي؟ له دې سببه چي په دغه وخت کي چي سړی لمر ته وگوري شعاع د لمر دده پر سترگو ظلمة راولي، نو باره سترگي موږي چي شعاع د لمر څنې بوزي، او بعض مفسرین وایي چي معنی د "دلوک" په آیت غروب د لمر دی، بغوي وایي چي د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي معنی د دلوک غروب ده، او دې ته ابراهیم نخعي او مقاتل بن حبان او ضحاک او سدي رحمهم الله هم تللي دي، او دا معنی قاموس هم کړې ده، قال دلکت الشمس دلوکًا غربت.

فائده: اصل معنی د "دلوک" میل دی، نو لمر په وخت کي د زوال میل کوي له غایة ارتفاع څخه و انحطاط ته او په وخت کي د غروب میل کوي الی انیکون تحت الارض، باعتبار مغارب الآفاق المائلة.

إِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ

بیا تر غروبه پوري د شفق د شپې، الی امتلاء ظلمة اللیل، په قاموس کي وایي چي الغسق ظلمة اول اللیل، او "الغاسق" وسپوږمی ته وایي تر اولو دره شپو پوري، نو په دې آیت پر صحیح یعني چي د "دلوک الشمس" ترجمه په زوال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره وسي، څلور لمونځونه راغله ماپښين، مازديګر، مانښام، ماخستن او د سهار لمونځ په وروسته آيت کې داخل دی.

فائده: قرآن وايي چې قرآن الفجر چې منصوب دی په دې سبب چې عطف دی پر صلوة، والمعنى اقم قرآن الفجر، او نحات د بصرې وايي، چې قرآن الفجر منصوب دی على على الاغراء، والتقدير و عليک قرآن الفجر، معنى اغرا باعثه کول دی، كما في كتب النحو، او بعض مفسرين وايي چې منصوب دی په اقرأ سره چې محذوف دی والتقدير اقرأ قرآن الفجر والمعنى اقرأ القرآن في صلوة الفجر، دروېش وايي چې دا احتمال بعيد دی لكثر المحذوفات فتدبر.

إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا ﴿٧٨﴾

په تحقيق د سهار لمانځه ته ملکي د شپې او د ورځې دواړې حاضريږي، له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې لمونځ د سړي په جماعت سره افضل دی تر يوازې لمانځه پينځه ويشت (۲۵) درجې وفي رواية (۲۷) درجې، ويجتمع ملائكة الليل وملائكة النهار في صلوة الفجر، ابو هريره رضي الله عنه ووېل "اقرؤا ان شئتم" يعنې که ستاسي اجتماع ملائكة الليل والنهار خوښ وي، نو دا آيت وواياست "ان قرآن الفجر كان مشهودا" يعنې دغه يې دليل د اجتماع دی کامر، رواه البخاري وغيره.

پوه سه: له "قرآن الفجر" څخه د سهار لمونځ مراد دی، لان قرائة القرآن جزء منه، فهو من قبيل تسمية الكل باسم الجزء، لكه لمانځه ته چې رکوع او سجده هم وايي باعتبار الركنية فيها.

پوه سه: چې حفظه کرام د شپې تر سهاره تر لمانځه باقي وي چې د ورځې حفظه راځي بيا د شپې حفظه ځي اسمان ته او د ورځې دا پاتې ږي، نو حفظه د شپې په خپل دفتر کې ټوله احوال او اعمال د بنده جمع کړي وي، او د ورځې ملکي په خپل دفتر کې شروع په احوالو د ورځې کوي.

دروېش وايي: چې په صحيح حديثو کې راغلي دي چې ملائكة الليل والنهار د مازديګر له لمانځه کې هم سره جمع کېږي، نو د ورځې ملکي ځي، او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شيې ملکي پاتېږي، که څه هم صلوة العصر په مشهود سره نه دی موصوف سوی لان الوصف غير لازم.

فائده: دغه ملائکي د ورځي او د شپې معين ملکي دي چې د سړي سره همراه وي طول عمره، او که هرشبانه روز نوي نوي ملکي راځي، فيه اختلاف للعلماً والاشهر والاظهر هو الاول فافهم، ولا نطول الکلام بذکر الدلائل والنقض والابرام کما هو ديدن بعض المفسرين.

وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ﷺ

ای بعض الليل "فتهجد به" يعني فاترک النوم لان الهجود هو النوم او ضمير د به راجع دی و قرآن ته.

مسئله: که يو سړی بيده نه سي او له اول څخه د شپې مقدار معين خپل لمونځ وکړي دا تهجد نه بولي لان لفظ التهجد يدل على التکلف في ترک النوم، او دې سړي دغسي ونه کړه.

مسئله: د تهجد لمونځ نه مقدار معين د رکعتو لري او نه مقدار معين د قرائت لري بلکې ادنی يې څلور رکعته دی او اعلی يې دوولس (۱۲) رکعته دي البته علماً وايي چې که چېرې يو چا د تهجد لپاره مقدار معين و خت اينبی و مثلاً چې زه په هره شپه نيم ساعت مثلاً د تهجد لمونځ کوم. نو په رکعتو کې د لمانځه د تهجد دي لنډ لنډ سورتونه وايي تاچې په هغه نيم ساعت کې چې ده معين کړي دي ډېر رکعتونه او ډېرې سجدې ځای سي. او که سړي تعداد د رکعتو و ځان ته باګلی وَ مثلاً اته (۸) رکعته. نو دي لوی سورتونه په رکعتو کې وايي تاچې د ډېر وخت په بره کې ونسي. علماً وايي چې افضل د نوافلو صلوة التهجد دی.

مسئله: که د سړي پر ځان باور او اعتماد وَ يعنې په تجربه سره چې د تهجد لمانځه ته راويښېږم، نو دي وتر وځنډوي او د صلوة التهجد وروسته دې وکړي کما جا في الحديث النبوي "اجعلوا اخير صلاتکم بالليل وترا" او کما قال عليه السلام" او که سړي پر ځان باور د ويښېدلو نه درلودی، نو وتر دي په اول الليل کې وکړي لان الوتر واجب، چې ځني قضا نه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده مهمه: په درمختار کي په مناقبو کي د امام الائمة سراج الامة المرحومة النعمان ابي حنيفه رحمه الله راغلي دي چي ده څلويښت کاله د ماښستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوه. دا خبره وهابيانو او د ظواهر الآحاديث اتباع او پنځ پيريان او سلفيان د خندا وړ خبره بولي. او له حدود څخه يې د امکان وتلې خبره بولي. ولي امام اعظم خو مانيه درلوده. نو که د جماع ضرورت ورته پيښ سوی وای په دې مده طويله کي، نو بيا يې څرنګه د ماښستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوه. او داغه رنګه په دې مده طويله کي که د خوب غلبه پر ده راغلې وای، نو په خوب سره خو دده په مذهب کي اودس ماتېږي، نو بيا خو هم د ماښستن په اوداسه د سهار لمونځ وه نسو. الى غير ذالک من الاعذار في تلک المدة الطويلة دوی وايي چي دومره افراط او مدح بالباطل په شان کي د امام المذهب نه بنايي. ولي چي مدح شيبه بالذم ده؟

ځواب: اې بېچاره ګانو او نادانانو کاشکي تاسي يو ادنى فهم او فکر درلودای دا خبري به مو په حق د هغه چا چي پر صحيح مذهب له تابعينو څخه ؤ يعني په دويمه درجه کي د خير القرون ؤ نه کولای. قال رسول الله ﷺ "خير القرون قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم" او د هغه چا چي په مدح کي دده عبدالله بن المبارک رح چي ناموړی محدث دی داسي وايي:

لقد زان البلاد ومن عليها ..... امام المسلمين ابو حنيفة
فما بالمشرقين له نظير ..... ولا بالمغربين ولا بكوفة (الى اخر القصيدة)

تاسي ناپوهانو تر اوسه د ماښستن وخت نه دی پېژندلی او سره ددې چي د ماښستن په اجماع د امت مرحومه تر صبح صادقه پورې دی، نو امام اعظم رح د ماښستن فرض او سنت چي وګذارل يعني په وخت معتاد عند الناس کي وتر به يې پرېښول تاچي تر تهجد وروسته يې وګذاري کما هو المسنون چي په صحيح کي د بخاري راغلي دي چي اخير د لمانځه د شپې بايد وتر وي. نو امام اعظم رح د شپې خوب کاوه، او نور ضروريات به يې هم پر ځای کړه په ثلث اخير يا په سدس اخير کي چي په راويښ سو اودس به يې تازه کړی او د تهجد لمونځ هر څو رکعته چي به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وُ هغه به يې هم ادا کړی وتر به يې په پای کې وکړه هغه اودس به يې وُ د سهار لمونځ به يې په وکړی (۴۰) څلوېښت کاله يې دا عادت وُ، زه تاسي ته وايم چې تاسي يو خت د تهجد لمونځ کوئ؟ د کوم وخت نوم يادوئ؟ شک نسته چې هر سړی د تهجد د لمانځه سره د ماخستن وخت يادوئ.

تنبيه: بعض علماً د مذهب چې د سوال ځواب داسې ورکړی دی چې امام اعظم رح د ناستي په خوب ځان آموخته کړی وُ، پر داسې ډول چې فقهاً وايي چې د ناستي په خوب اودس نه ماتېږي، دا ځواب صحيح نه دی، ولي چې امام اعظم چې گرده شپه به په ناستي بيده وُ نور ضروريات يې څه وخت اجراً کول کمامر، او بله خبره داده چې په فتاوی هنديه کې وايي چې که يو سړي ځان د شپې په خوب په ناستي اموخته کړی وُ، د هغه اودس د ناستي په خوب ماتېږي.

سوال: داسې عادت خو بل څوک هم کولای سي چې تا د امام اعظم رح د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ وکړی فما فضيلة الامام ؟

ځواب: که دومره مده طويله يعني څلوېښت (۴۰) کاله وکړی او مجتهد هم وي او د خير القرون څخه وي هغه بېشکه د امام اعظم رحمه الله په درجه کې حسابل کېږي، والله اعلم.

دروېش وايي: چې فقير پوره مناقب د امام اعظم رح په شرح کې دابو المنتهى چې د عقائدو يو کتاب دی په پښتو ژبه ځېرلی دی او حواله يې و کتابو ته د تواريخو اسلاميه وو هم پکښې ده که څوک دا غواړي چې د امام اعظم رح په تولو مناقبو ځان خبر کړي هغه شرح د فقير دي مطالعه کړي چې ان شاء الله په مکتبة القرائت والتجويد کانسي روډ کې به اوس هم موجوده وي.

پوه سه: چې نفل په معنى د زيادت دی، ومعنى قوله تعالى "نافلة لک" فريضة زائدة على الصلوات الخمس، المفروضة على العموم خاصةً بک دون الامة، او مظهري رح وايي چې د تهجد لمونځ په ابتدا کې فرض وُ پر نبي عليه السلام او پر امتيانو هم فرض وُ او دليل يې سورت مزمل ويلی دی وروسته يې داسې عبارت ويلی دی فنزل التخفيف فصار الوجوب منسوخًا في حق الائمة بالصلوة الخمس آه. پر دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبارت دا سوال وارد دی چې فقها او اصولیین ټوله متفق پر دې دي چې ناسخ به تر منسوخ وروسته وي او سره ددې چې صلوة خمس پر امت دمخه هم فرض وه، نو څرنګه کېدای سي چې صلوة خمس چې متقدم وه ناسخ دي د فرضیت سي د صلوة تهجد له امت څخه، نعم د تهجد لمونځ لپاره د امت مستحب و له اول الامر څخه لقوله تعالی "فاقرؤا ما تیسر من القرآن" دا امر استحباب دی، مظهري ؒ وایي چې لکن په دې کې اختلاف دی چې فرضیت د تهجد په حق کې د نبي علیه السلام هم منسوخ سوه یا څرنګه؟ بعض علما وایي چې په حق کې د نبي علیه السلام یې وجوب پاتې دی، په دلیل د هغه حدیث چې د عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی "ان النبي ﷺ قال ثلث هن علي فریضة وهي سنة لکم (ای غیر فریضة) الوتر که څه هم پر امت واجب دی لکن فرض نه دی، والسواک وقیام اللیل (ای التهجد) نو پر دې تقدیر امر في قوله تعالی "فتهجد" لپاره د وجوب دی، نو د "نافلة لک" معنا داده "فریضة زائدة علی سائر الفرائض فرضها الله تعالی علیک" او بعض علما وایي چې فرضیت یې د علیه الصلوة والسلام څخه هم منسوخ سو.

دروښ وایي: چې روح المعاني او نورو مفسرانو دا قول صحیح بللی دی، ولي ددې عبارت "نافلة لک" پر استحباب دلالت کوي، ولي که پر علیه الصلوة والسلام واجب وای، نو عبارت باید داسي نافلة علیک، لان صلة الوجوب علی دون اللام.

سوال: استحباب د صلوة التهجد خو د ټوله امت لپاره پر ځای دی، نو تخصیص د علیه الصلوة والسلام یې ولي وکړی بقوله "نافلة لک"؟

سوال: تخصیص د علیه الصلوة والسلام یې له دې سببه وکړی چې نوافل د امت کفاره د ګناهو ددوی ده، او نبي علیه الصلوة والسلام چونکه له ګناهو څخه معصوم و لم یکن علیه ذنب، نو نوافل د عباداتو دده لپاره رفع د درجاتو ده وزیادت القرب الی الله عزوجل کذا قال المجاهد والحسن وابو امامة .

سوال: فما معنی قوله تعالی "قد غفر الله لک ماتقدم من ذنبک وما تاخر؟

ځواب: مراد په دې آیت ذلات وماهو من قبیل ترک الاولی دی، والدلیل علی کون صلوة التهجد نافلة في حق النبي ﷺ حدیث د مغیره رضي الله عنه دی چې ده وویل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي نبي عليه السلام به په قيام الليل کي په طول د قرائت دومره ډرېدی حتی چي پښې يې وپړسېدلې، نو يو چا ورته وويل چي ته ولي دومره تکليف پر ځان وړې وقد غفر الله لک ماتقدم من ذنبک وما تأخر عليه الصلوة والسلام په ځواب کي داسي ورته وويل "افلا اکون عبداً شکوراً؟" داسي يې نه ورته وويل انها فريضة علي خاصة" او دليل د عدم الفريضه د تهجد پر عليه الصلوة والسلام هغه حديث د ابن عمر رضي الله عنه چي بخاري او مسلم يې روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام به په سفر کي صلوة الليل يعني تهجد پر راحله کاوه حيث توجهت به يومي ايماءً الا الفرائض، يعني د فرض لمونځو لپاره به له دابې ځخه راکښته کېدی، نو که صلوة التهجد پر ده فرض وای، نو ولي يې پر دابه به اشاره سره کاوه.

فائده: د مظهري رح هغه خبره چي صلوة التهجد په ابتدا کي پر عليه الصلوة والسلام او پر امت دواړو فرض وٴ مخالف ده ددې قول سره د روح البيان په تفسير کي ددې آيت "نافلة لک" اى فريضة زائدة لک دون امتک آه: او روح المعاني هم ويلي دي اى فريضة زائدة على الصلوات خاصة دون الامة.

دروښ وايي: چي دا قول د مظهري رح چي د تهجد لمونځ ابتداءً پر عليه الصلوة والسلام او پر امت تولو آه، د منولو وړ نه ده، ولي چي د جمهورو مفسرينو له قول ځخه خلاف ده مع الايراد السابق على قوله ونسخ عن الامة بالصلوة الخمس آه كمامر عنقريب.

مسئله: د تهجد لمونځ د امت لپاره سنت دی، او مشهوره داده چي مستحب دی. والدليل على كونها سنة دادی چي عليه الصلوة والسلام مواظبت پر کړی في الحظر والسفر كمامر. او بل دليل هغه حديث د ابن مسعود رضي الله عنه دی، چي يو چا ذکر کړی يو سړی په نهز د عليه الصلوة والسلام چي تر سهاره بيده وٴ او د تهجد لمونځ يې نه کړی ادا، عليه الصلوة والسلام وويل ذاک رجل بال الشيطان في اذنه، رواه البخاري و مسلم.

فائده: "نافلةً" چي منصوب دی مفعول مطلق د فعل محذوف دی اى تتفضل نافلةً، او روح المعاني په وجه کي د نصب د نافلةً دوهي اوردې خبري کړي دي چي تر فهم د طالبانو بلکې د امامانو لوړي دي فلذا اعرضنا عنه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عَسٰۤى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿۷۹﴾

شاید خدای ﷻ به تا ورپاځوي یعني په ورځ د قیامت.

پوه سه: چې "مقامًا" منصوب دی په حذف سره د فعل دده، والتقدیر فیقمک مقامًا محمودًا، د محمود معنی داده چې حمد به یې وایي اولین او اخرین چې مقام د شفاعت عظمی دی.

پوه سه: چې خدای پاک لفظ د "عسی" ووایه چې لپاره د طمع دی والطمع للعبد من الله الکریم کالواجب، بغوي وایي چې ابو وائل له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "اتخذ الله ابراهیم خلیلاً وان صاحبکم (یعني ذاته الشریفة) خلیل الرحمن واکرم الخلق علی الله" بیا علیه الصلوة والسلام دا آیت ووایه "عسی ان یبعثک ربک مقامًا محمودًا" راوي د حدیث وویل چې پر عرش بې کښېنوی او عبدالله بن السلام ﷺ وایي پر کرسی به یې کښېنوی، لکن صحیح په نیز د مفسرینو او محدثینو داده چې مراد له مقام محمود څخه مقام د شفاعت دی چنانچه احمد، ابن ابي حاتم او ترمذي ؒ له ابي هریره ﷺ څخه روایت کړی دی عن النبي ﷺ چې ده مبارک ددغه آیت تفسیر داسي وکړی هو المقام الذي اشفع فیه لامتي.

دروښ وایي: چې جلال الدین السیوطي ؒ وایي چې علیه الصلوة والسلام به شفاعت دوه واره کوي یو شفاعت دی د اراحة په موقف کې او بله پلا شفاعت دی په جنت کې لپاره د اخراج د من بقی من المؤمنین في النار لاخراجهم منها، او بعض مفسرین دوې واره شفاعت وایي، یو وار په موقف کې للاراحة ومرة للاذن في دخول الجنة، ومرة للاخراج من النار، کما قال علیه الصلوة والسلام، ولي عند ربي ثلاث شفاعات وعد فیهن، والمقام المحمود الشفاعة وهي تعم کل شفاعة من الشفاعات الثلاث.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ په مبحث کې د شفاعت عظمی ضد ونقیض روایتونه راوړي دي چې جمع بې مشکله ده، لکن فقیر وایي چې علامه جلال الدین السیوطي ؒ وایي چې احادیث د شفاعت د علیه الصلوة والسلام متواترة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المعنىٰ دي لكن سره د تواتره خوارج او معتزله له شفاعت څخه منكر دي، دوي وايي چي اهل د كبائرو كنهو چي بې توبې مړ سي لاشفاعة لهم ولا يخرجون من النار ابداً، نو دا انكار ددوى انكار دى له امر متواتر څخه. ولي په شفاعت كي دومره د هر حديثونه راغلي دي چي معنى د هغو حد تواتر ته رسيږي.

دروېش وايي: چي تفصيل ددې عقائدو ددوى او د اهل السنة والجماعة په كتابو كي د علم العقائد والكلام دى.

پوه سه: چي ترمذي له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى كړى دى چي رسول الله ﷺ چي په مكه كي د ډېرو كړاوونو سره مخامخ وُ او خداى پاك امر كړى په هجرت سره د مدينې منورې ته، نو دا آيت نازل سو.

وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّ اَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ

"مدخل صدق" يعني المدينة المنورة "مخرج صدق" يعني مكه مكرمه. كذا قال الحسن وقتاده ؛ نو پر دې تقدير مدخل او مخرج چي منصوب دي يا ظرف دي يعني ځاى د دخول او ځاى د خروج او يا مفعول مطلق دى، نو پر دې تقدير مدخل او مخرج چي منصوب دى يا ظرف دى يعني ځاى د دخول او ځاى د خروج، او يا مفعول مطلق دى، نو پر دې تقدير مخرج او مدخل مصدر ميمي دي، يعني ادخلني المدينة ادخالاً مرضياً لا ارى فيه ما اكره، واخرجني من مكة اخراجاً مرضياً لا التفت بقلبي اليها، او ضحاك رح وايي چي اخرجني من مكة مخرج صدق، چي په امن كي يم د مشركينو له خوا څخه، وادخلني مكة ايضاً مدخل صدق چي ادخال مي د مكې ته په فتح سره وي، او مجاهد رح وايي ادخلني في امرك الذي ارسلتني من النبوة وتبليغ الاحكام واخرجني من الدنيا، په داسي ډول چي ما پر ځاى كړى وى هغه شى چي تا زه په امر كړى وم من تبليغ الدين المبين الى الناس، نو دا مخرج صدق دى. او بعض مفسران وايي وادخلني الجنة مخرج صدق واخرجني من الدنيا مخرج صدق، او قاضي بيضاوي وايي ادخلني في القبر ادخالاً مرضياً واخرجني من القبر عند البعث اخراجاً تلقى بالكرامة، وقيل معناه ادخلني في طاعتك واخرجني عن المعاصي، او بعض مفسرين وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مراد ادخال الغار یعني د جبل ثور غار چې علیه الصلوة والسلام او ابوبکر صدیق ﷺ پکښې پټ وه د هجرت په وخت کې، او اخراج دی په سلامتیا او کفار سره د پلټنه پسې ګرځېدله. او د غار تر خولې پلټن پل راوستی او کفارو ته دمکې یې وویل چې تر دغه ځایه پورې د دوو کسانو پلټنه راغلې دي نور نو نه پوهیږم چې اسمان ته ختلي دي او که په مځکه ننوتلي دي، ابوبکر ﷺ پټ و علیه الصلوة والسلام ته وویل که دوی کښېنې او دې غار ته وګوري خو ما او تا به وویني. آنحضرت ﷺ ورته وویل ما ظنک باثنین الله وثالثهما.

دروېش وایي: چې ټوله احتمالالت محتمل دي لکن الاحتمال الاول اولی والیق بالقبول یعني ما روی الترمذي عن ابن عباس ﷺ.

وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ۝

او ماته راکړې غلبه پر کفارو چې زما کومک سي. مجاهد ؒ وایي "حجة بینة" او حسن ؒ وایي "ملکًا قویًا" پر هغه چا چې زما دښمن وي او عزًا ظاهرًا اقیم به دینک. نو خدای پاک د جبرئیل علیه السلام په وحي خبر ورکړی چې بادشاهي له ملک ځخه د فارس او روم واخلم تاته بې درکړم. قتاده ؒ وایي چې نبي الله ﷺ په دې پوهېدی چې زما طاقت د امر نبوت په رسولو کې نسته بېله سلطان نصیر د خدای ﷻ. او خدای پاک داسي وعده هم ورکړه في آیة فان حزب الله هم الغالبون وفي اخری لیظهره علی الدین کله وفي اخری لیستخلفنهم في الارض.

وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۭ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ۝

او ته ووایه یا محمد (ﷺ) په وخت کې د دخول د مکې یعني په وخت کې د فتح د مکې چې راغلی حق یعني دین الاسلام او عبادة الله وحده. او القرآن، او ولاړی باطل او هلاک سو شرک وعبادة الاصنام. یقال زهق روحه اذا خرج؛ په تحقیق لائق د باطله سره داده چې لغوه او نابود سي. د ابن مسعود ﷺ روایت دی چې علیه الصلوة والسلام چې په کال د فتح د مکې حرم شریف ته داخل سو پر شاوخوا د بیت الله الشریف دري سوه شپېته (۳۶۰) بتان د مشرکانو ولاړ وه، نو علیه الصلوة والسلام به هر یو بت په یوه لکړه چې دده مبارک په لاس کې وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واړه به يې او ده مبارک به ویل "جاء الحق وزهق الباطل وما يبدأ الباطل وما يعيد" رواه البخاري و مسلم والترمذي والنسائي والطبراني والبيهقي وابن مردوية عن ابن عباس رضي الله عنهما، وفي رواية يو بت چې د خزاعه د قبيلې وا او د ژړو څخه جوړ سوی وُ فوق الكعبة الشريفة و عليه الصلوة والسلام وه علي رضي الله عنه ته وويل چې کعبې ته وخېژه او دا بت لاندې راوغورځوه، او په صحيح روايت کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام څو ورځې وروسته تر فتح مکې هورې پاته وُ چې عزم د تګ د مدينې يې وکړی عتاب بن اسيد رضي الله عنه يې پر اهل مکه باندې عامل او حاکم مقرر کړی، وقال انطلق فقد استعملتك على اهل الله. او عتاب رضي الله عنه دهر سخت ګير وُ پر بې دينه خلګو او نرم وُ پر مخلص مؤمن باندې، او ده داسې ويله که ما څوک د جماعت له لمانځه څخه مختلف ولیدی سر به يې په توره ورپرې کوم لانه لا يتخلف عن صلوة الجماعة الا منافق، نو اهل مکه شکايت وکړی و رسول الله صلى الله عليه وسلم ته چې تا عامل وګرځاوه پر اهل الله باندې عتاب بن اسيد رضي الله عنه چې يو صحرائي سړی او دهر سخت مزاجه دی. عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې ما خوب ولیدی چې عتاب بن اسيد د جنت دروازې ته ورغلی او د دروازې حلقه يې کلکه ور وتکول او دروازه ورخلاصه کړل سوه او دی ور ننوتی. يعني نو له دې سببه ما دی عامل اهل الله وټاکی. دا وُ تفصيل د قل جاء الحق الآية.

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ

او مورِ نازل ووُ "ماهو شفاء" چې هغه قرآن دی چې شفاء د امراض قلبيه وو من الشكوك والشبهات والامراض النفسانية كحب الشهوات والرزائل من الاعمال، او قرآن رحمت د خداى جل جلاله له خوا څخه و مؤمنانو ته. يعني چې ايمان پر قرآن لري. ولې قرآن و دوی ته امور دنياوية او امور دينيه او امور اخرويه ورښيي، نو دوی له قرآن څخه نفع کامله اخلي، او دغه مفسران ټوله وايي چې با کلمه د من تبعيضي ده، نو معنا د آيت داسې ده چې مورِ نازلوو بعض قرآن چې شفاء او رحمت دی للمؤمنين. نو پر دې تقدير له شفاء څخه شفاء د امراض بدنيه وو ده كما ورد في الحديث النبوي، سورة الفاتحة شفاء لكل داء (اى مرض).

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي فقير تولي خواصي د سورة الفاتحة قرائة و وکتابة او فوائد ددې مبارک په اول جلد کي زما د پښتو شرح قدوري په سليسه ژبه د پښتو سره د شرائطو سره جمع کړي دي، او د نور الايضاح په پښتو شرح کي مي هم راوړي دي.

په حديث شريف کي راغلي دي عليکم الشفائين القرآن والعسل، او په بل حديث کي راغلي دي "من لم يستشفي بالقرآن فلا شفا له"

حکايت: روح البيان او روح المعاني دواړه وايي چي د ابو القاسم القشيري قدس سره يو ولد مريض سو په سخت مرض سره چي دی له شفا څخه نا اميده سو. نو دی د هر خپه و. او د خدای ﷻ په جناب کي يې د هري دعاوي د شفا د ولد مرض وکړې ..... بيت:

چون فرو آيد بلا بی دافعی ..... جز تضرع نبود ديگر دافعی

د شپې يې خدای ﷻ په خوب وليدی، ده د زوی په باره کي خدای ﷻ ته تضرع وکړه خدای پاک ورته وويل چي ته آيات د شفا په قرآن کي سره جمع کړه او پر وه يې وايه او نوشته يې کړه او په اوبو يې پر بمينځه په وه يې څيښنه. استاذ چي راوينې سو دا شفا الهي غيبي يې ژر تر ژره عملي کړه، خدای ﷻ ولد ته صحت ورکړی.

پوه سه: چي آيات شفا په قرآن مجيد کي شپږ (٦) دي (١) ويشفی صدور قوم مؤمنين (٢) شفا لما في الصدور (٣) فيه شفا للناس (٤) وننزل ما من القرآن ماهو شفا ورحمة (٥) واذا مرضت فهو يشفين (٦) قل هو للذين امنوا هدی وشفا.

دروښ وايي: چي په قرآني سورتو او آياتو کي د شفا قوت يقين پر قرآن او قوي اعتقاد پر قول د عليه الصلوة والسلام شرط دی، تاج الدين السبکي ؒ وايي چي ما د هر مشائخ ليدلي دي چي دغه آيات الشفا و مريض ته د هر نوع ناجوړی چي وي ورليکي او په څيښي يې، وقال الشيخ التميمي ؒ في خواص القرآن اذا کتبت سورة الفاتحة په پاک لوښي کي او يا پر کاغذ او توري يې محوه کړي په پاکو اوبو کي او مريض مخ په پرېولي خدای ﷻ به يې جوړ کړي، او که دغه اوبه وڅيښي هغه څوک چي په زړه کي يې قلق او اضطراب يا شکوک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او شبهات وي يا يې زړه رېږدي چې خفقان يې بولي. يسكن باذن الله تعالى؛ و
كه دغه آيات په پاک لوښي کې نوشته کړي او يو اندازه ارغ ورواچوي او يو بليد
چې په شي يې سره نه خلاصېږي يا يې قوت حافظه کمزوره وي اووه ورځې
وڅيښي زالت بلادته وحفظ مايسمع باذن الله تعالى.

وَلَا يَزِيدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ۝

او نه زياتوي قرآن و ظالمانو ته يعني منكرانو ته د قرآن مګر لوی تاوان.
ولي د هغه هم تكذيب كوي.

دروښ وايي: چې عجيب حال دی چې قرآن مبارک هم دوا ده او هم دا او مرض
دی، قتاده رح وايي چې په مجلس کې د قرآن د سماع هيڅ څوک نه کښېنې مګر نه
په داسې حال کې چې ولاړ يې يا به يې ګټه کړې وي يا تاوان، خدای ﷻ د قرآن په
شان کې وايي "شفاء ورحمة للمؤمنين، ولا يزيد الظالمين الا خسارا"

وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ

چې احسان وکړو موږ پر يو انسان يعني په صحت او عافيت او په فراخی د
رزق وغيره ذالک من النعم الظاهرة والباطنة، نو دی روی ګرداني وکړي له شکر
څخه د هغه نعمت، او لهړي والی وکړي "بجانبه" يعني غاړه وپېچي لکه د عادت
د متكبرانو چې دی، ځان داسې واچوي لکه مستغني، کريمه "ان الانسان
ليطغى ان راه استغنى".

وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَـُٔوْسًا ۝

او چې و هغه انسان منعم عليه ته شر ورسېږي، کالمرض والفقر والذلت،
وګرځي نا اميده له رحمت څخه د خدای ﷻ.

دقيقه: د "انعام" اضافت او نسبت خدای ﷻ و ځان ته وکړی او له "شر" سره
يې لفظ د "مس" راوړی! سبب يې دادی چې د کريم يادار نعمتونه هر وخت جاري
وي که څه هم خدای ﷻ د نقمت په جلال کې وي، او شر يې صرف يو مس او لهړ
وي، کريمه "ان مع العسر يسرا ان مع العسر يسرا".

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په تنکیر کې "یسر" چې معنی یې دا ده چې اول یې غیر له ثاني څخه دی، او په تعریف کې د عسر چې ثاني عین اول دی فکر وواهه.

فائده: کان یؤسًا" صفت د جنس انسان دی په اعتبار د بعض افرادو دده، چې پر دغه صفت وي فلا یرد السؤال بقوله تعالی "واذا مسه الشر فذوا دعاً عریض لان هذا الوصف لبعض آخر.

قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ

بوه سه: چې تنوین د "کل" عوض دی له مضاف الیه څخه. والمعنا هر یو له خلگو څخه که شکور وي او که کفور که مطیع وي او که عاصي، عمل کوي پر خپل دول، ابن عباس رضی الله عنه وایي چې علی ناحیته ای جانبه الذي یمیل الیه من الهدایة والضلال، او حسن او قتاده رح وایي چې د "شاکلة" معنی نیت دی (یعني که د چا نیت و دنیا ته وي یعني په عمل کې یې صلاح د دنیا مقصد وي او که یې میل و آخرت ته وي یعني ینوي بعمله وجه الله وصلاح الآخرة) او مقاتل او فراء رح وایي علی طریقة جبل علیها، او قطیبي رح وایي چې علی طبیعته وخلیقته".

دروښ وایي: چې ددې تفاسیرو د "شاکلة" مآل یو دی، یعنې علی حسب استعداده الذي اودع الله فیه، کما في قول النبي صلی الله علیه وسلم کل میسر لما خلق له. حدیث متفق علیه من حدیث علي رضی الله عنه، او احمد رح له ابی الدرداء رضی الله عنه څخه روایت کړی دی "بینما نحن عند رسول الله صلی الله علیه وسلم نتذاکر ما یکون" (په دې دوران کې مورږد رسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس کې ناست وو او بحث مو په دې کاوه چې اینده به څه پیښیږي) "اذ قال النبي صلی الله علیه وسلم اذا سمعتم بجبل زال عن مکانه فصدقوه" (که تاسي واورېدله چې یو غر دي له خپل ځایه څخه زائل سو تصدیق یې وکړی یعني بحسب الامکان) "واذا سمعتم برجل تغیر عن خلقه فلا تصدقوا فانه یصیر الی جبل علیه" (او که هو واورېدله چې یو سړي تغیر د خپل اخلاقو څخه وکړی تصدیق یې مه کوئ، ولي چې هغه و ماخلق علیه ته راجع کېږي بالآخرة.

دروښ وایي: چې تولې عادي شیان د محرماتو پرېښوول کېږي، مثلاً د چرس څکولو عادت، د شراب خوری عادت، د هیروئینو عادت یا د خدای جل جلاله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بيره يې په زړه کې يې بيره پيدا سي، توبه وکاږي او يا يې په علاج د ډاکټرانو. لکن يو محرم عادت سته د هغه عادت څخه توبه کښل امکان نه لري نه يې د خدای ﷻ بيره په زړه کې پيدا کېږي او نه د ډاکټري علاج لري چې سړی سره د غنا چې په لکو روپی لري او سرايونه يې په بيع الوفا اخستي وي چې په فقر آموخته سو بيا فقر نه سي پرېښولای نه د خدای ﷻ له بېرې او نه د خلګو لد شرمه، نه اضحيه کوي او نه صدقه الفطر ورکوي سره ددې چې پر واجب هم وي. لکن بېرېږي چې که خلق خبر سوه فقر به نه راکوي.

فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ﴿٨٤﴾

نو ستا خدای ﷻ ښه علم لري پر هغه چا چې پر صحيح لار روان وي عقيدةً وعملاً چې خدای ﷻ ته يې ورسوي، او په هغه چا چې په لار کې يې کږوالی وي من حيث العقيدة او العمل يا لږ يا ډېر.

دروښ وايي: چې دا دويم قسم خدای ﷻ نه کړی ذکر په آيت کې "لانه علم من المذکور فافهم" هداک الله وهداني الله ﷻ".

تفريع: څوک چې ځان وويني په طاعت کې د خدای ﷻ او په خير او په شکر کې د خدای ﷻ، نو د خدای ﷻ وېر حمد وايي، او څوک چې ځان وويني په شر او فسق او په کفران کې د نعمتو د خدای ﷻ. نو خدای ﷻ ته دي رجوع وکړي په توبه او انابت او په عجز سره دمخه تر دې کار يې لاس نه وي وتلی ... بيت:

توپيش از عقوبت درعفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زيرچوب
خرمند طبعان و منت شناس ..... بدو زند نعمت بميخ سپاس
طريق بدست آرد صلحی بجوی ..... شفيعی بر انگيز وعذری بگوی
که يک لمحه صورت نبندد امان ..... چو پيمانه پر شد نبدور زمان

حسين کاشفي رح ميګويند: آورده اند که کفار عرب نضر بن الحارث او اوبی بن خلف او عقبه بن ابی معيط را بمدينه فرستادند تا از يهود يثرب يعني مدينه منوره استفسار حال پيغمبر عليه السلام نمايند چون فرستاده گان قريش مکه با ايشان ملاقات کردند، احوال پيغمبر عليه السلام باز گفتند، يهود متعجب شدند وگفتند ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صنادید عرب ما دانسته ایم که زمان ظهور پیغمبري نزدیکست و از سخنان شما رائحه احوال آن نبي استشمام میتوان کرد، شما بجهت ازمایش ازو به پرسید که طواف مشرق ومغرب که کرده، و احوال جوانانیکه درزمان پیشن گم شده اند چه گونه بود؟ (دروېش وایي: چي له اول څخه ددوی مراد ذو القرنین وو، او له دویم څخه یې مراد اصحاب کهف وه) وروح چیست اگر هرسه را جواب دهد یا هیچ کدام را جواب ندهد بدانید که پیغمبر نیست، و اگر دو را جواب دهد واز روح هیچ نگوید پیغمبر است، ایشان که بمکه آمدند، مجلس ساخته و از آنحضرت علیه السلام سوال کردند آن دو سوال را جواب داد و درباره روح این نازل شد.

وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ؕ

او ستا څخه پوښتنه کوي د روح په باره کي.

دروېش وایي: چي پر دې شان نزول دا آیت مکي دی، ولي سورة الاسرا کمامر مکي دی مگر نه اته (۸) آیته چي مدني دي یعني وان کادوا لیفتنونک الی اخیر ثمانیة الآیات، او مظهري ؒ ددې آیت په شان نزول کي داسي راوړي دي په روایت د بخاري د ابن مسعود ؓ څخه، ده وویل چي زه رهي وم د علیه الصلوة والسلام سره في حرث المدینة یعني د کښت په مځکه کي، نو د علیه الصلوة والسلام لکړه وه چي تکیه یې پر کوله "فمر علی نفر من الیهود فقال بعضهم لبعض سلوه عن الروح، وقال بعضهم لا تسألوه لئلا یجئ بشئ تکرهونه (یعني د یهودو څینې کسان ناست وه او سره وه یې ویل چي د علیه الصلوة والسلام څخه د روح په باره کي پوښتنه وکړئ او څین وویل یا پوښتنه مه کوئ. ددې څخه ددوی مراد دا وو چي هغه اصلي حال د روح بیان نه کړي لکه په تورات کي چي دي، چي هغه دده د نبوت دلیل وګرځي او تاسي دده نبوت بد بولئ یعني عقیده نه ورته لرئ) وقال بعضهم لنسئلنه، فقام رجل منهم فقال یا ابا القاسم ما الروح، فسکت علیه الصلوة والسلام (یعني فوراً یې ځواب ورنه کړی، ابن مسعود ؓ وایي چي زما په زړه کي خیال سو چي علیه الصلوة والسلام ته وحي کېږي) فقمت فلما انجلی عنه الوحي نزل "ویسئلونک عن الروح"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې له دې شان نزول څخه صراحةً معلومه سوه چې دا سورت مدني دی، مع انه قدمر ان سورة الاسرآ كلها مكية الا (٨) آية كمامر عنقريب، او تفسير روح المعاني هم هغسې شان نزول بيان کړی دی لکه کاشفي چې بيان کړی، نو د روح المعاني په عقيده هم دا آيت مکي دی لکه ټوله سورة الاسرآ چې مکي دی. او هغه چې ابن کثير رح جمع کړې ده چې تعدد د نزول دي وي هغه د ټولو الفاظو د حديثين مطابقت نه لري، فتدبر.

فقير وايي چې ددې دوو شان نزولو جمع زه نسم کولای. تفاسير مې مطالعه کړه په هيڅ تفسير کې اشاره و جمعې ته نه ده کړې، نو ښه داده چې ووايم والله اعلم بالصواب.

قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾

ته ورته ووايه چې روح (چې په ده سره بدن ژوندی دی او تدبير د بدن کوي ببله حلوله په بدن کې چې روح انساني يې بولي. او په دغه روح سره امتياز د انسان د نورو حيواناتو څخه کېږي، هغه روح له مخلوقه يو مخلوق دی چې نه ماده لري او نه تولد له يو اصل څخه لکه نور اعضا د بدن چې له نطفې څخه د مور او پلار پيدا کېږي) او نه دی درکړل سوی تاسې ته له علم څخه مګر نه لږ.

دروښ وايي: چې دا د ژبې نهايت بيان دی په باره کې د روح چې د مطالعه کونکو لپاره ددې تفسير کافي دی.

پوه سه: چې تفسير کواشي په بيان کې د روح د پېره ژيبا خبره کړې ده، دی وايي اختلفوا في الروح وماهيته ولم يأت احد منهم بدليل قعطعي غير انه شيئ بمفارقته يموت الانسان وبملازمته له يبقى انتهى". دا خبره زما په دې خوښه سوه چې خدای ﷻ چې وويل "وما اوتيتم من علم الا قليلاً" بايد دا علم قليل د قليل انسانانو ته پرېږدي لکه محمد رسول الله ﷺ واتباعه بالحق من كانوا عقلی بحثونه تاسې نه پکښې وکړئ لان امر الروح خطير، علامه بغدادي په روح المعاني کې تقريباً په پنځلسمه صفحه کې بيان پر کار اچولی دی، لکن د ويونکو له زړو څخه يې شکوک نه دي لېرې کړي، او روح البيان هم څه اوړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیان تصوفي کړی دی چې له فهمه څخه د مطالعه کونکو د تفسیر ایوبي ډېر لیرې دی، ولهذا عن بیان هذین التفسیرین موږ اعراض کوو، او تفسیر مظهري هم تصوفي مغلق بیان کړی دی، او ډېر نادر روایات یې راوړي دي چې له شان نزول څخه ډېر لیرې دي.

پوښتنه: ته ایوبي خپل ځان تر دغو مذکوره تفاسیرو تر مصنفانو لوړبولې؟

ځواب: کلا وحاشا، زه خپل عذر بیانوم په عدم راوړلو کې د اقوالو د دغو اماماتو د تفسیر، او بعض مفسرین وایي چې مراد له روح څخه قرآن دی، نو معنی ددې قول د خدای ﷻ "هو من امر ربي" داده "هو" ای القرآن من وحي ربي، او بعض وایي چې مراد له روح څخه عیسی علیه السلام دی فانه من روح الله وکلمته، نو معنی د ایت داسې کوي، چې نه دی عیسی علیه السلام لکه یهود چې وایي چې دی ولد الزنی دی، او نه داسې لکه نصاری چې وایي چې دی ابن الله دی، بل هو مخلوق بکلمة کن من غیر اب.

دروېش وایي: چې دا دوه قوله که څه هم په واقع کې صحیح دي لکن تفسیر ددې قول د خدای ﷻ ویسئلونک عن الروح الی اخیر الآیة" پر دغه دول د صحیح شان نزول څخه د آیت متلوه خلاف دی کمامر من قبل. او د قرآن تفسیر په رایه او عقل سره کول که څه هم حق وي نارواده کما جاء في الحدیث الصحیح.

وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ

که موږ اراده وکړو، موږ به یوسو هغه قرآن چې تاته یې وحي کړې دي موږ یعني له مصاحفو او له سینو څخه د حافظانو به یې محوه کړو.

پوه سه: چې اول لام موطئه د قسم محذوف دی، او دویم لام د جواب دی، او دالام ثاني قائمقام د قسم او جواب دواړو دی، والمعنی لو شئنا ذهبنا بالقرآن ومحوناه عن المصاحف والصدور فلم نبق منه اثر، مفسرین وایي چې دا کلام وارد پر سبیل الفرض دی والمحال یصح فرضه کما یقولون لو کان زید حماراً لکان ناهقاً، او ذهاب الله بالقرآن خو محال هم نه دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهٖ عَلَيْنَا وَكِيْلًا ﴿۸۶﴾

وروسته تر ذهاب ته به نه کړې پيدا خپل ځان لره پر موږ وکيل چې قرآن بيرته تاته راوړي محفوظ او ليکلی.

اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيْرًا ﴿۸۷﴾

مګر که رحمت د خدای ﷻ پر تا وسي هغه به يې بيرته تاته رد کړي (نو په دې آيت کې اظهار د خدای ﷻ لوی نعمت دی پر علیه الصلوة والسلام او پر مؤمنانو چې لوی نعمت د قرآن يې ځني وانه خستی بلکې الی يوم القيامة يې باقي پرېښو) په تحقيق فضل او احسان د خدای ﷻ پر تا باندې ډېر لوی دی (۱) بعثک نبيا (۲) خاتم الانبيا (۳) سيد المرسلين (۴) انزل عليک القرآن (۵) خدای ﷻ التزام وکړی د جمع د قرآن په مصاحفو کې او په صدور کې (۶) خدای ﷻ تاته وويل "لاتحرک به لسانک ان علينا جمعه وقرآنه" (۷) مقام محمود د شفاعت عظمی يې تاته درکړی (۸) حوض کوثر چې خلګ په قيامت اوبه ځينې څيښې وغير ذالک من النعما الالهية، بغوي وايي چې ابن مسعود ﷺ وويل "اقروا القرآن قبل ان يرفع (قرآن ووایاست مخته تر رفع دا هغه) قيل هذه المصاحف ترفع فكيف بما في الصدور (چا ورته وويل چې مصاحف خو صحيح ده چې پورته به سي. نو هغه چې د حافظانو په سينو کې دي هغه به څرنګه پورته کېږي؟) ابن مسعود ﷺ ورته وويل چې يوه شپه به راسي چې ما في الصدور به هم هېر سي. نو خلګ چې سهار کړي هيڅ شی د قرآن به يې نه وي په ياد "ولا يجدون في المصاحف شيئا ثم يفيضون في الشعر" بيا به خلګ په غزلو ويلو اخته سي، او بخاري ؤ مسلم له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ "ان الله لا يقبض العلم انتزاعا من العباد ينتزعه، ولكن يقبض العلم بقبض العلما حتى اذا لم يبق عالم اتخذ الناس رؤسا جهالا فسئلوا افافتوا بغير علم فضلوا واضلوا.

دروېش وايي: چې عكرمه له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چې سلام بن مشكم سره د څو يهودانو و عليه الصلوة والسلام ته راغله وه يې ويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې موږ څرنګه سنا متابعت وکړو چې زموږ د قبلې بیت المقدس استقبال دې پریښو کعبې ته دې مخ کړی یعنې په لمانځه، او دا یې هم ورته وویل چې سنا قرآن منتظم نه دی لکه تورات، که موږ وغواړو سنا د قرآن موجوده مثل جوړلای سو، نو دا آیت نازل سو.

قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ

ته ورته ووایه یا محمد (ﷺ) که سره جمع کړي یعنې اتفاق وکړي انسانان او پیرانان پر دې باندې چې راتګ وکړي په مثل سره د قرآن په بلاغت او حسن النظم والاخبار بالغیب والقصص والامثال الی غیر ذالک من محاسن القرآن العزیز.

لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ

قدرت به ونه لري که څه هم په انس او جن العرب العربا هم وي او بلغا او شاعران هم موجود وي چې مثل د قرآن دې جوړ کړي.

تنبیه: تخصیص د انس او جن چې یې وکړی ددې لپاره چې تحدي او معارضه ددې دوو نوعو د کافرانو سره وه چې کفارو د مکې به ویل لو نشا لقلنا مثل ذالک فکذبهم الله. تخصیص یې له دې جهته نه دی چې ملکي قدرت پر اتیان د مثل د قرآن قدرت لري لانه لایقدر علی الاتیان بمثله الا الله، او په دې آیت ظاهره معجزه د قرآن کریم ده، ولي چې هغسې سوه لکه چې خدای پاک اخبار وکړی یعنې اتیان په مثل د قرآن څوک نسې کولای، بلکې ګرده قرآن څه کوي دا یو اقصر سورت پر راتګ باندې څوک نه سو قادر، کریمه "ان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة من مثله" چې په تفسیر کې د سورت بقره ددې آیت تحقیق وکړل سو، او سره ددې چې کفارو د مکې دې هر حرص درلودی پر معارضه د قرآن کریم.

وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾

که څه هم وي بعض د انس او جن د بل لپاره په کومک کې اماده باش.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِي هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ

لام موطئه د قسم محذوف دی ای بالله چې مکرر وارونه موږ بیان کړي لپاره د نفعي د خلګو په دې قرآن کې له هر قسمه غریب بیان څخه چې لکه مثل وې په غرابت کې یعنې په تکرار سره موږ احکام او وعد او وعید او قصص او امثال بیان کړي دي په وجوه مختلفه وو سره تاچې خلګ عبرت واخلي او په دې پوه سي چې قرآن من عند الله دی کلام د بشر نه دی یعنې رسول الله ﷺ لکه کفارو د مکې چې به ویل چې محمد ﷺ دا قرآن له ځانه جوړوي او خلګو ته یې من عند الله معرفي کوي.

فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٨٩﴾

نو ابی او منع وکړه د هرو خلګو د هرشي مګر نه له کفر او انکار او جحود څخه.

پوښتنه: ستا ایوبي له ترجمې څخه خو دا فهمېږي چې دا استثناً مفرغ ده یعنې مستثنی منه یې محذوف دی، ولې تا داسې وویل له هر شي څخه مګر نه آه، او سره ددې چې نحات وایي چې استثناً مفرغ په مثبت کلام کې نه راځي او کلام یعنې "فأبى آه" مثبت دی؟

ځواب: مراد د نحاتو چې استثناً مفرغ په مثبت کلام کې نه راځي هغه کلام چې مثبت لفظاً او معنًی وي. دلته خو کلام منفي دی په معنا کې یعنې لم یرضى ولم یأتی اکثرهم الا کفوراً وعناداً فافهم هداک الله.

فائده: بغوي له عکرمه رضي الله عنه څخه او هغه له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسې نقل کړی دی چې عتبه او شیبه ابنی ربیعه، ابو سفیان، نضر بن حارث، ابو البختري، اسود بن المطلب، زمعة بن الاسود، ولید بن المغیرة، ابوجهل بن هشام، عبدالله بن ابي امیة، امیه بن خلف، عاص بن الوائل، منبهاً او منبهاً ابنی الحجاج سره غونډ سوه او نور کسان د کفارو د قریشو هم ورسره یو ځای سوه په حرم شریف کې وروسته تر غروب الشمس، نو بعضو کسانو ددوی څخه وویل چې محمد (ﷺ) ته سړی وواستوئ چې راسې زموږ سره خبرې وکړي حتی چې دی په دعوی کې د نبوت ملامت او ملزم کړو، نو علیه الصلوة والسلام ته چې ددوی استازی ورغلی، ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه چې ويل چې ستا د قوم اشراف او مشران فلان و فلان الخ سره جمع سوي دي چې ستا سره خبري اتري وکړي. ځو د علیه الصلوة والسلام په زړه کې دا وروګرځېدله چې لکه چې ددوی ستا په نبوت کې ښه نیت پیدا سوی دی. ځو ډېر په تلوار علیه الصلوة والسلام ورته راغلی. ولې چې دی مبارک ددغو اشرافو پر ایمان راوړلو ډېر حریص ؤ. نو علیه الصلوة والسلام راغلی او ددوی سره کښېناستی. نو دوی ورته وویل چې موږ ددې لپاره سره درواستاوه چې موږ خپل عذر تاته پېش کړو. دوی ورته وویل انا والله لانعلم رجلاً من العرب ادخل علی قومه ما ادخلت علی قومک (زموږ قسم په خدای دی چې موږ ته نه دی معلوم یو څوک له عربو څخه چې پر خپل قوم دې دومره بدنامي را استولې وي لکه چې تا پر خپل قوم راواستول) ته زموږ پلرو او نیکه ګانو ته ښکنځل کوې یعنې چې دوی کافران وه او ته زموږ د دین یعنې عبادت چې دا اصنام دي بد وایې، او ته زموږ عقول بېکاره بولې او زموږ خدایانو ته ښکنځل کوې یعنې دا زموږ خدایان جمادات بولې لاتضر ولاتنفع. یعنې ته وایې چې تاسي او ستاسي خدایان حصب جهنم یاست، او زموږ په اتفاق کې دي چاک واچاوه. فما بقی امر قبیح الا وقد جئته فیما بیننا وبینک "نو نه دی پاته یو بد کار مګر تا زموږ او ستا تر منځ نه دی پیدا کړی، که ته په خپل دعوه کې چې ته یې کوې چې زه رسول د خدای یم طالب د مال او ثروت یې، نو موږ به تاته چنده وکړو چې تر ټولو اهل مکه ثروت او صاحب د غنی سړی وګرځې. او که ستا په دې دعوه کې شرف او جاه و جلال غرض وي موږ به تاته د اهل مکې سرداري درکړو. او که ستا غرض بادشاهي وي موږ به دې بادشاه وګرځوو پر خپلو ځانو. او که ته پېرانی یې یعنې جنیات درته راځي (چې په پښتو یې باوله یا پېرانی بولي) موږ به مالونه سره جمع کړو تاته به د "ابی یعنې باوله والي یا پېرانو" دوا درپرابره کړو، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې په ماکې یو له دغو کارونو نسته چې تاسي ذکر کړه او نه هم ریاست او بادشاهي پر تاسي ولکن الله بعثني الیکم رسولاً وانزل علي کتاباً یعنې القرآن الکریم و امرني ان اکون لکم بشیراً ونذیراً" ما خپل رسالت وتاسي ته درورساوه او نصیحت مې درته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی، که تاسي زما دعوت قبول کړئ يعني ايمان راوړئ هغه ستاسي برخه ده په دنيا او اخرت کي، او که تاسي زما خبره او دعوت و توحيد ته د معبود بالحق رد کړئ زه به صبر وکړم و امر ته د خدای ﷻ "حتى يحكم بيننا وبينكم" دوی وړند وويل که ته زمونږ دعوت نه منې يعني چې مونږ تاته مذکوره پښې نهادونه وکړه "فقد علمت انه ليس احد من الناس اضيق بلاداً ولا اقل مالاً ولا اشد عيشاً منا" نو په حق سره پوهېږې چې نسته هيڅ څوک له خلګو څخه د هر تنګ از روی بلاد چې مکه مکرمه ده، او نه د هر لږ مال والا او نه په د هر عيش يعني د ژوند په ګذاره کي سخت تر مونږ "فاسئل لنا ربک الذي بعثک فيسير عنا هذه الجبال التي قد ضيقت علينا وليبسط لنا بلادنا" ته ستا له هغه خدای څخه چې ته يې مونږ ته را استولی يې خواست وکړه چې زمونږ څخه د مکې غرونه ايسته کړي چې پر مونږ يې د مکې محکه تنګه کړې ده، او فراخه دي کړي زمونږ بنارونه "وليفجر فيها انهاراً كانهار الشام والعراق" او وه دي بهيوي زمونږ په بنارو کي رودونه او ولې لکه نهرونه د شام او د عراق "وليبعث لنا من قد مضى من آبائنا ولكن منهم قصي بن كلاب فانه كان شيخاً صدوقاً فلنسئلهم عما تقول احق هو ام باطل فان صدوقک صدقناک" او راژوندي دي کړي ستا رب زمونږ لپاره يعني زمونږ د پوښتنې لپاره ستا په باره کي هغه څوک چې وړاندي تېر سوي دي زمونږ له نيکه ګانو څخه او يو به په هغو کي قصي بن کلاب وي، ولي چې هغه سپين ږيرې د هر رشتيا ګويه وۀ، مونږ به له دې مړو څخه چې ستا رب يې ژوندي کړي پوښتنه وکړو د هغه شي چې ته وايه يعني رسالت ستا او توحيد د معبود چې دا ستا خبرې حق دي او که باطل، که دې مړو ستا تصديق وکړی مونږ به دي هم تصديق وکړو "فقال رسول الله ﷺ ما لهذا بعثت فقد بلغتكم ما ارسلت به فان تقبلوا فهو حظكم في الدنيا والآخرة وان تردوه اصبر لامر الله" عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې په دې سره يعني چې زما رب زما لپاره مړي راژوندي کړي نه يم را استول سوی ما د هغه شي تبليغ او رسول و تاسي ته وکړی چې زه په را استول سوی وم من التوحيد که يې تاسي قبول کړئ يعني ايمان راوړئ هغه ستاسي برخه ده په دنيا او آخرت کي، او که زما تبليغ رد کړئ زه صبر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوم و امر ته د خدای ﷻ "قالوا فان لم تفعل هذا فاسئل ربک ان یبعث لنا ملکا یصدقک" کفارو و علیه الصلوة والسلام ته وویل که هغه دمخه وینا زمونږ نه منې نو ستا له خدای څخه سوال وکړه چې را واستوي مونږ ته ملکه چې ستا تصدیق وکړي یعنې د رسالت او کفارو و علیه الصلوة والسلام ته ویل چې ته ستا خدای ته سوال وکړه چې تاته باغونه درکړي په مکه کې او قصورنه درکړي او خزانې د سرو زرو او د سپینو زرو درکړي چې تا مستغني وګرځوي له هغه څه څخه چې مونږ تا وینو چې په بازارو کې ګرځې او طلب د ژوندانه د معاش کوې لکه مونږ، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې زه ددې لپاره نه یم را استول سوی چې بلکې زه صرف بشیر او نذیر یم، بیا کفارو ورته وویل "فاسقط السماء علینا" لکه ته چې وایه "ان ربک لو شاء فعل" علیه الصلوة والسلام ورته وویل "لو شاء فعل ذالک فعل بکم" یعنې خدای ﷻ خو قادر دی پر نږولو د اسمان پر تاسي لکن ددې تفویض و خدای ﷻ ته دی په ما پوري اړه نه لري، یوه بیا ورته وویل چې مونږ پر تا ایمان نه راوړو چې ته نه راولې خدای او ملکي مخامخ، وروسته تر دې خبرو علیه الصلوة والسلام ددوی له مجلسه ولاړ سو او ده سره سم عبدالله بن ابي بن امیه هم ورسره ولاړ سو چې د علیه الصلوة والسلام د عمه زوی ؤ یعنې عاتکه بنت عبدالمطلب، او ده وویل یا محمد (ﷺ) پر تا عرض کړه قوم ستا هغه څه چې دوی عرض کړه تا قبول نه کړه، بیا یې سوال درڅخه وکړی د خپلو ځانو لپاره خو کارونه چې په هغو کارو سره دوی ستا رتبه معلومه کړي ستا دخدای سره هغه دي هم ونه کړه، بیا یې سوال درڅخه وکړی چې ژر تر ژره دي پر مونږ هغه عذاب نازل کړي چې ته مونږ په بهږوې یعنې سقوط د اسمان هغه دي هم ونه کړه "فوالله لا اومن لک" یعنې لاجل قولک انا رسول الله" حتی چې ته به اسمان ته زینه ایږدې او ته په زینه کې پورته کهږې زه به درته ګورم حتی چې ته اسمان ته وختلې له هغې خوا به له ځانه یوه نسخه د قرآن راوړې او څلور ملکي به درسره وي چې هغه به زما په مخ کې شاهدي ادا کوي بما تقول، نو علیه الصلوة والسلام خپل کور ته ځنې ولاړی دهر غمجن و چې ده ولیدی تباعد او لهرې والی د قوم له ایمان څخه، فانزل الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾

"وقالوا لن نؤمن لک" الی قوله بشراً رسولاً یعني کفارو د مکي وویل تعنتاً واقتراحاً بعد ما لزمتهم اعجاز القرآن چي اتیان په مثل د اقصر سورت یې نسواى کولای وغیره من المعجزات. یعني موږ ایمان نه راوړو پر تا یعني لاجل قولک تر هغو چي ته نه کړې جاري زموږ د فائدې لپاره له مخکې څخه د مکې یوه جاري چینه.

دروښ وایي: چي مخاطب په قول کې ددوی څو علیه الصلوة والسلام دی، مراد ددوی دادی چي ته به ستا وړب ته وایه چي یوه چینه دي جاري کړي په مکه کي چي مکه جاري اوبه نه لري تاچي موږ له هغې چینې فائده تر لاسه کړو.

أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ

یا به دي تا لره یا محمد (ﷺ) باغ چي ستا فضیلت پر موږ ښکاره سي چي په هغه باغ کي د خورما درختي او د انګورو درختي وي.

دروښ وایي: چي دوی تخصیص د دغو دوو درختو وکړی، ولي چي خورما او انګور سره د غذائیته اعز د فواکهو دي کما لا یخفی.

فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾

او ته به بهیوې په منځ کي ددغو باغو ولې، دا سوال یې څکه وکړی ولي چي زینت او ښائست د باغ دادی چي په منځ کي یې ویاله بهیږي کما هو المعلوم بالتجربة "تفجراً" مفعول مطلق دی.

تنبیه: کفارو د مکې چي په تولو غوښتونو کي علیه الصلوة والسلام مخاطب کړی چي ته داسي وکړه ددوی مطلب دا ؤ چي ته خو وایه چي زه د خدای رسول یم، نو که دا رشتیا وي ته له خدای څخه دا کارونه چي موږ درته وایو وغواړه او سوال ځني وکړه چي دا کارونه وکړي، نو که یې وکړه نو ته رښتیا د خدای رسول یې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا

او يا ونړوه اسمان لکه ته چې ګمان کوې.

تعبير يې په زعم سره وکړه له دې سببه چې ددوی دغه وينا باطله ده او زعم په غالب استعمال کې وه باطلې عقيدې يا قول باطل ته وايي.

پوه سه: چې دروښې لفظ د غالب ووايه له دې سببه چې په حديث صحيح کې راغلي دي زعم رسول الله ﷺ د هغه معنی قول باطل نه ده بلکې معنی يې قال رسول الله ﷺ ده "کسفًا" پر وزن د قطعًا دی لفظًا ومعنًی يعنې ټوټې ټوټې کما زعمت معنی داده چې ته خو وايه چې زه د خدای رسول يم، نو ته ستا له خدای څخه وغواړه چې اسمان دې راونړوي پر موږ ټوټې ټوټې،

اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا ﴿۹۲﴾

او يا ته راتګ وکړې په خدای يا ملکو سره قبيلاً. فقير وايي چې د قبيل ترجمه ابن عباس ﷺ او ضحاک ؒ په کفيل سره کړې ده، يعني ضامن او شاهد پر صحت د دعوې ستا چې زه د خدای رسول يم، او قتاده ؒ وايي چې معنی د قبيل مقابلاً يعنې مخامخ چې موږ يې وينو، او فرا نحوي ؒ يې هم دغه ترجمه کړې او دا محاوره يې رانقل کړې ده چې عرب وايي لقيت فلانًا قبيلاً ای معاينةً. او مجاهد ؒ وايي چې قبيل جمع د قبيلة ده، والمعنی اصناف الملائكة قبيلة قبيلة.

اَوْ يَكُوْنَ لَكَ بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ تَرْقٰى فِي السَّمَآءِ

او يا به وي تا لره خونه د سرو زرو، که څه هم زخرف په اصل کې زينت ته وايي او يا به ته په زينو کې اسمان ته پورته کېږې (نو کلمه د في په معنی د الی ده) دا د عبدالله بن ابي اميه خبره ده کمامر.

وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ

او هرګز موږ ايمان نه راوړو او ستا تصديق نه کوو يوازې په ختلو ستا و اسمان ته (ولي چې شايد په دې ختلو کې و اسمان ته به تا سحر کړی وي او زموږ چشم پوښي به دې کړې وي، بلکې علاوه تر دې به دې هم کړي وي) تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغو چي ته د اسمان له خوا يو کتاب نازل نه کړې چي په هغه کتاب کي مونږ تصديق د رسالت وي او پر موږ امر ستا د متابعت وي.

قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنْتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾

ووايه ته يا محمد (ﷺ) د تعجب په لهجه ددوی د دغو اقتراحاتو يعني ناحقه مطالبو، پاکي ده خدای ﷻ لره د هغو بعضو مطالبو څخه چي ددوی په مطالبو کي راغلي يعني قولهم اوتأتي بالله والملائكة آه، "هل" استفهام انکاري دی. نه يم زه مګر بشر او رسول، يعني دا ستاسي مطالبات له طاقت بشري څخه وتلي دي، بل لو اراد الله ان ينزل ماطلبوا لفعل لکن غالبًا عادت د خدای ﷻ دادی چي نه نازلوي ما يقترحه البشر.

فائده: دا تولي غوښتني ددوی صرف او صرف ناحقه مطالبات وې، ولي که دوی تصديق د دعوې د رسول الله ﷺ مطلب وای، نو خدای ﷻ و عليه الصلوة والسلام ته د پرې لوړې معجزاتي ورکړي وې چي له دې مطالباتو څخه يې دوی مستغني ګرځولي وه مثل القرآن المعجز، وانشقاق القمر باشارته ونبع الماء من بين اصابعه، وكلمة التوحيد للحصات في يد ابی جهل او نورې هم د پرې معجزاتې.

تنبيه: دا خو مجمل جواب ؤ يعني "هل كنت الا بشراً رسولاً" او مفصل ځوابونه خدای ﷻ په نورو آيتونو کي د قرآن کريم ورکړي دي.

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ

او نه دي منع کړي خلګ له دې څخه چي ايمان راوړي وروسته تر دې چي دوی ته نبي او قرآن راغلی.

پوه سه: چي اراده د نبي او د قرآن له "هدی" څخه چي مصدر دی مبالغةً دی "ان يؤمنوا" محلاً منصوب دی، مفعول ثاني دی د منع.

إِلَّا أَنْ قَالُوا أَبَعَثَ اللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٤﴾

مګر دي خبري چي دوی وايي انکاراً آيا استوي خدای ﷻ بشر رسول خپل؟

پوه سه: چي "الا ان قالوا" محلاً مرفوع دی فاعل د منع دی حاصل الكلام چي له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ايمان څخه هيڅ شى له شيانو څخه مگر دې خبرې ابعث الله آه يعنې دوى له دې څخه منكر دي چې بشر دي رسول د خداى وي، ولې چې ملكې ډېرې دي ولې هغه په رسالت نه استوي. لكن دا مانع نه ددوى د نقل او عقل څخه خلاف ده. ولې چې د رسول او د مرسل اليهم تر منځ مناسبت شرط دى تا چې يو افاده وكړي او بل استفاده څې وكړي يعنې مرسل اليهم للمناسبة كما بين الله هذا المعنى بهذه الآية.

قُلْ لَّوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ

ووايه يا محمد (ﷺ) په ځواب كې ددغې شبهې ددوى كه واى په مځكه كې ملكې چې تگ او راتگ يې كولاى لكه بنې آدم چې يې كوي "مطمئنين" يعنې په مځكه كې يې سكونت كولاى او اسمان ته نه تلاى تاچې په اسمان كې يې زده كړې واى او له احكام الهيه څخه من الواجب والحرام وغير ذالك په اسمان كې خبرې سوې واى.

لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ۝

موږ به نازله كړې واى له اسمان څخه پر دوى ملكه چې رسول به دوى ته واى يعنې احكام د خداى ﷻ به يې و دوى ته بيانولاى لكه وظيفه د رسول چې همدغه ده، والحاصل چې موږ نه استوو و قوم ته رسول الا من جنسهم تا چې دوى په يوه جامعه كې ژوند سره وكړي، او يو دبله افاده او استفاده سره وكړي.

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ

ته ورته ووايه يا محمد (ﷺ) و دوى ته چې كافي دى خداى ﷻ (كلمه د با زائده ده پر فاعل باندې هر چېرې چې دغسې عبارت په قرآن كې راسې) شاهد زما په نبوت سره زما او ستاسې تر منځ.

پوښتنه: شاهدي د خداى ﷻ څه شى ده پر نبوت د عليه الصلوة والسلام؟

ځواب: اظهار د معجزاتو دى موافق له غوښې سره دده.

فائده: فقير داسې وويل موافق د دعوې سره، له دې سببه چې مسيلمه كذاب چې دعوه د نبوت يې په حيوة كې د عليه الصلوة والسلام كړې وه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض سحري شيان يې و خلګو ته ښکاره ګول. يوه ورځ يو سړی ورته راغلی چې په يوه سترګه ړوند ؤ، مسيلمه ته يې وويل چې خواست وکړه ستا خدای ته چې زما ړنده سترګه جوړه سي. که جوړه سوه زه پر تا ايمان راوړم. مسيلمه چې خواست وکړی، نو د هغه سړي جوړه سترګه هم ړنده سوه. تاريخ اسلامي رابي چې وروسته تر وفات د عليه الصلوة والسلام دغه ساحر کذاب وحشي نامي چې قاتل د سيد الشهدا حمزة رضي الله عنه هم دی ؤ په غزوه کي د احد او په فتح کي د مکې يې ايمان راوړی ؤ. نو دغه مسيلمه ده وواژه.

إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿٩٦﴾

په تحقيق خدای ﷻ په خپلو بندګانو سره که رسولان دي او که منکران دي ښه خبر دی په ټولو اعمالو سره ددوی او دانا دی په ظاهر او په باطن ددوی يعني هر چاته به موافق العمل جزا ورکوي.

پوه سه: چې په دې تسلي ده و عليه الصلوة والسلام ته او تهديد دی کافرانو ته.

وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِ ۖ

پوه سه: چې دا کلام مبتدا دی يعني تر "قل" نه دی لاندي کلمه د "من" مبتدا ده متضمن معنی لره د شرط ده، او "فهو المهتد" يې خبر دی او عائد ضمير و "من" ته محذوف دی، والتقدير ومن يهده الله. والترجمة للآية چاته چې هدايت وکړي خدای ﷻ ای يخلق فيه الاهتدا الی الحق په سبب د صرف همت دده ولاري ته د هدايت، نو هغه راه يابنده دی يعني لاغيره كما هو مقتضى التعريف جزئي الجملة چې هو او المهتد دی.

وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِهِۦ ۖ

چې خدای ﷻ په ده کې ضلال پيدا کړي (يعني بسوء اختياره لكسب طرق الضلال) هر ګز به ته نه کړې پيدا دوی لره دوستان او مدد کونکي چې له ضلال څخه يې خلاص کړي، ماسوی له خدای ﷻ څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: په جانب کي د اهتدا يې لفظ د هدايت مفرد راوړی يعني فهو المهتد. او په جانب کي د ضلال يې لفظ د جمع راوړی يعني "لهم" حکمت يې څه دی.

ځواب: په دې کي اشاره ده ودې ته چي لار د حق يوه ده او تلونکي پر حق لار لږ دي او لاري د ضلال ډيرې دي.

فائده: افراد په "فهو المهتد" کي په اعتبار د لفظ د "من" دی او جمعيت د "لهم" په اعتبار د معنی د "من" دی. په حديث صحيح کي راغلي دي عليه الصلوة والسلام وايي "انما انا رسول وليس الي من الهداية (اى الاهتدا) شئ ولو كانت الهداية الى لآمن كل من في الارض وانما ابليس مزين يعني للكفر والمعاصي بوسوسته وليس له من الضلالة شئ ولو كانت الضلالة اليه لاضل كل من في الارض ولكن الله يضل من يشا ويهدي من يشا)

دروښ وايي: چي په دې حديث کي دليل د جبريه وو نسته كما اشرنا اليه في ترجمة الآية فافهم وتدبر بالعقل السليم والله الهادي الى الصراط المستقيم.

وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ

موږ به ژوندي کوو دوی يعني الكفار چي دوی په کښول کېږي پر مخانو، په بخاري او مسلم کي له انس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه "كيف يحشر الكافر على وجهه؟ قال عليه السلام اليس الذي امشاه على رجليه قادر على ان يمشيه على وجهه" آيا نه دی هغه څوک چي دی يې پر پښو روان کړی دی يعني الله تعالى قادر پر دې دی چي کافر دي روان کړي پر مخ.

عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا

"عميًا" جمع د "اعمى" يعني پرانده ده (په ستر گو خو به وينې لکن د خوابدتيا څخه به شی نه په وينې بلکې دوږه به په وينې "وبكمًا" جمع د ابكم ده يعني گونګيان (په حقيقت کي خو گونګيان نه وي لکن داسي عذر نسي ويلای چي له دوی څخه دي قبول سي) "وصمًا" جمع د اصم ده يعني کانه کړه څه هم في الواقع کانه نه وي لکن داسي شی نسي اورېدلای چي دوی دي په خوشاله سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې بغوي رح ويلي دي چې داجزاً ده د هغو علمنو چې دوی به د آياتو ته د قدرت د خدای ﷻ په ستر ګو د عبرت نه کتل او د حق له اورېدلو څخه به يې غوږونه کاږه اچولي وه، او له دې څخه به يې انکار کاوه چې کلمه د توحيد په ژبه ووايي، نو هغه سوال دفع سو چې په قرآن مجيد کې راغلي دي "وراً المجرمون النار" نو خو د ستر ګو ليدل ورته ثابت سوه. وقال الله تعالى "دعوا هنالک ثبوراً" نو د ژبې خبرې ورته ثابتې سوې، وقال الله تعالى "سمعوا تغيظاً وزفيراً" نو د غوږو اورېدل ورته ثابت سوه فافهم، او بعضو مفسرينو ددې نفي او اثبات جواب داسې ورکړی دی چې په اول حشر کې خو به دوی ړانده، ګونګيان او کاږه وي يعني لکه ظاهره د آيت چې دی وروسته چې دوی حساب او اورته پېښېږي نو به هم په ستر ګو وينې او هم به خبرې کولای سي او هم به خبرې اوري.

مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيرًا ﴿٩٧﴾

ځای ددوی د ورتګ به دوزخ وي هر وخت چې لمبې د اور مراوي سي يعني پوستونه او غوښې يې تمامي سي زياتوو موږ دوی ته د اور پېلوزي يعني پوستونه او غوښې به از سر نو ورکړو، ولي چې دوی په دنيا کې اعادة بعد الافنا نه منل، نو دوی به همېشه په دوزخ په افنا او اعاده کې وي کما اشير اليه هذا المعنى في هذه.

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا بِـَٔايٰتِنَا وَقَالُوٓا ءَإِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا ءَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٩٨﴾

دغه تبديل د پوستو او د غوښو يعني په نيوي کولو سره کمامر في الآية السابقة جزاً ددوی دد په سبب ددې چې دوی انکار کاوه په آياتو سره زموږ يعني په قرآن کريم کې او دوی به ويل آيا چې موږ وګرځو هډوکي او بوسيده آيا موږ به بيرته بعث کېږو نوی مخلوق لکه په دنيا کې.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللّٰهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ قَادِرٌ عَلٰى أَنْ يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ

پوه سه: چې همزه لپاره داستفهام او انکار دی، او "ولم يروا" عطف دی پر محذوف پر ماقبل همزه نه دی عطف، ولي چې صدارت د همزة الاستفهام له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منځه ځي، والتقدير أ أنكروا البعث ولم يعلموا.

ترجمة الآية: او دوی نه ګوري او علم نه لري چې ځدای ﷻ هغه ذات دی چې پیدا کړي يې دي اسمانونه او مځکه سره د لوی والي ببله سابق مثاله هغه قادر دی پر دې چې پیدا کړي مثل ددوی يعني په قيامت کې مع صغرهم وسبق مثالهم في الدنيا او نه ده اعاده ګرانه تر ابتدأ خلق.

وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ ۖ فَأَبَى الظَّالِمُونَ إِلَّا كُفُورًا ﴿٩٩﴾

او ګرځولی دی خدای ﷻ دوی لره (عطف دی پر خبر د "ان" يعني الم يعلموا ان جعل لهم) "اجلاً" يو وخت لپاره د عذاب ددوی چې د اجل په راتلو کې شک نسته (يعني يا موت ددوی لان من مات فقد قامت قيامته چې دې ته قيامت صغری وايي او يا ورځ د لوی قيامت) نو انکار کوي لوی ظالمان يعني کافران مګر له کفور ځخه يعني الجحود والانكار مع وضوح الدلائل الدالة على حقيقة البعث بعد الموت كما مرت في هذه الآيات.

قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَائِنَ رَحْمَةِ رَبِّي إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْإِنفَاقِ ۚ

ته ورته ووايه يا محمد (ﷺ) دوی ته که چېرې تاسي اې خلګو مالکان وګرځئ د خزانو د رزق او د نعمتو زما د رب، نو دغه وخت چې تاسي مالکان سئ تاسي به بخل کوئ له سببه د بېرې د فقر د انفاق په صورت کې، يعني داسي خيال به مو وي که زه پر فقراؤ او مساکينو مال ووېشم هغه به خلاص سي زه به مسکين پاته سم.

وَكَانَ الْإِنسَانُ قَتُورًا ﴿١٠٠﴾

او دی انسان بالطبع بخيل، ولي طبع د انسان پر دې ده چې نفقه ته ضرورت لري، نو ځکه دی بخل کوي په مايحتاج هو اليه، په حديث صحيح کې راغلي دي چې که د انسان دوې بهاندي ويالې د زرو وي لاتبغی ثالثًا درېمه به هم غواړي. وهذا لشدة حرص الانسان على الذهب والفضة وغيرهما. په حديث مبارک کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام له يوې قبيلي ځخه د انصارو پوښتنه وکړه چې ستاسي مشر څوک دی؟ هغو ورته وويل چې زمونږ مشر جد بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القيس دی سره د بخل دده يعني بخيل دی، عليه الصلوة والسلام ورته ويل "ای دا ادوی من البخل" کوم مرض دی بالا تر بخل، بل سيد کم عمر بن الجموح.

پوه سه: چې بخل او حرص له صفات مذمومه وو ځکه دي، نو بايد چې سړی او مؤمن ځان پاک ځندي وساتي او ددې دوو صفتو په ځای کې سخا او قناعت پيدا کړي. حسان بن ثابت رضي الله عنه په مدح کې د رسول الله ﷺ وايي:

له راحة لو ان معشار جودها ..... على البر کان البر اندي من البحر

پوه سه: چې "راحه" ورغوي ته وايي او معشار لسمي حصې ته دشي وايي وترجمة الباقي ظاهرة. تاريخ اسلامي وايي چې زين العابدين علي بن الحسن بن علي بن ابی طالب ته يو سړی په مخه ورغلی ښکنځل يې ورته وکړه، نو دده سره مريان ورسره وه هغه ور وغورځېدل چې هغه سړی ضرب او کوب کړي، زين العابدين رضي الله عنه مريان منع کړه، او وه يې ويل چې دا سړی دلته راولئ، هغه سړی ورته راغلی ده ورته وويل "ما ستر من امرنا اکثر" يعني چې زما پټ عيبونه ډير دي تر دې چې تا بيان کړه "هل لک من حاجة نعتيک عليها" هغه سړی ډير وشرمېدی، نو د زين العابدين رضي الله عنه پر اوږو يو تور پتو ؤ چې ښه ښه ګلان پرې وه هغه يې پر هغه سړي واچاوه او زر درهمه يې هم ورکړه، فکان الرجل بعد ذالک يقول اشهد انک من اولاد الرسول ﷺ. شيخ سعدي رح وايي:

اگر گنج قارون بچنگ آوری ..... نماند بجز آنکه بخشی بری
بخيل توانگر بدينار وسيم ..... طلسمت بالای گنجی مقيم

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ

ای والله په تحقيق موږ ورکړي وو موسی (عليه السلام) ته يعني په مقابله کې د قبط قوم فرعون نهه معجزې واضح، يعني ددې پر نبوت يې ښکاره دلالت کاوه.

پوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنهما او ضحاک رح وايي چې هغه نهه معجزې دغه وې (۱) عصا چې مار کېدل به (۲) يد بيضا چې لاس به يې له لستونې دننه کړی چې را وبه يې ايستی لکه برق برېښېدی به من غير سوء (۳) هغه لکنت يعني بند يز چې دده په ژبه کې وو چې قصه يې اوږده ده هغه رفع سو (۴) د درياب لاړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني فرعون سره د قبطیانو پکښې غرق سو وقصته مشهورة (۵) طوفان یعني د هر باران وسو چې اوبه د قبطیانو په کورو ننوتلې د ناست سرې تر غاړې پورې به وې او د بني اسرائیلو په کورو نه ننوتلې (٦) جراد یعني مچځ یې پر کښتو او درختو مسلط سوه چې تولې یې وخوړل (۷) القمل: یعني په غنمو کې یې شپږۍ پیدا سوې، او بعض وایي چې په کالو کې به یې شپږۍ پیدا کېدلې چې خوب به یې نسوای ځندي کولای (۸) الضفادع: یعني په اوبو او په خوړو کې به یې چنګوښې پیدا کېدلې، یعني د اوبو په لوښې کې چې سر به یې هم پټ وُلکن د لوښې له سره چې به یې سرپوښ لیرې کړی د اوبو له مخه به چنګوښه په خوله ور ننوتل وهکذا في المطعومات (۹) هر شی که اوبه وې د څیښلو او یا د کالو پرېولو سره وینې به ګرځېدلې.

دروېش وایي: چې وهذا هو المشهور في تفسیر الآیات وفي تعداد تلک الآیات، او له صفوان بن عسال ﷺ څخه روایت دی چې یوه یهودي و بل ته وویل چې راځه چې دغه نبي ته ورسو، هغه بل ورته وویل چې د نبي په نامه مه ورته وایه "لانه لو سمعک لکان له اربع اعین" یعني له خوشالیه به یې دوې سترګې څلورسي، یعني چې ماته یهودان نبي وایي،

پوه سه: چې دا خبره یو ضرب المثل دی په پښتو کې هم ویل کېږي، خیر دا دوه یهودان و علیه الصلوة والسلام ته ورغله او پوښتنه یې وکړه چې نهه آیات بینات د موسی علیه السلام کوم شیان وه؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل (۱) لاتشرکوا باالله شیأ (۲) لاتسرقوا (۳) لاتزنوا (۴) لا تقتلوا النفس التي حرم الله الا بالحق (۵) لا تمشوا ببريئ الى ذی سلطان ليصبله (٦) لاتسحروا (۷) لا تاكلوا الربوى (۸) لاتقذفوا محصنةً (۹) لاتتولوا الفرار يوم الزحف وعليكم خاصة اليهود ان لا تعتدوا في السبت، نو دوی دوو د علیه الصلوة والسلام لاسونه او پښې ورمچ کړې او دوی ته یې وویل چې موږ شاهدان یو چې ته نبي یې، علیه الصلوة والسلام ورته وویل نو لې زما متابعت نه کوئ دوی ورته وویل چې داوود علیه السلام دا خواست و خدای ﷻ ته کړی دی چې همېشه دې زما په اولاد کې نبي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا يې درواغ ورته وويل، او دا يې ورته وويل چې موږ ببرېږو که موږ ستا متابعت وکړو يهودان به موږ مړه کړي. رواه ابوداود، نسائي، ابن ماجه، ترمذي وحاکم، او ترمذي دا حديث حسن صحيح ګڼلی دی، او حاکم ويلي دي چې موږ په دې حديث کې کوم علت نه وينو، مظهري ؒ وايي چې پر دې تقدير له آياتو څخه احکام عامه د ټولو ملتو مراد دي يعنې چې په ټولو شرائعو کې ثابت دي.

پوښتنه: دې احکام عامه ته يې آيات چې معنا يې علامات دي ولې وويل؟

ځواب: له دې سببه چې د احکامو پر ځای کول علامه د سعادت ده، او پرېښول يې علامه د شقاوت ده.

پوه سه: چې دا قول د عليه الصلوة والسلام خاصةً آه زائد پر ځواب دی ولذالک غير فيه سوق الکلام عما قبله فافهم.

فَسْئَلْ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ إِذْ جَآءَهُمْ

"فسئل" په تقدير د قول يعني فقلنا لموسى، وغواړه بني اسرائيل له فرعون څخه چې ستا سره يې واستوي ددوی آبايي تاتوبي ته يعني الشام وبيت المقدس. بعض مفسرين وايي اى سل يا موسى بني اسرائيل عن دينهم اذ جائهم "ظرف متعلق دی په قلنا مقدر سره، او حسين کاشفي ؒ په تفسير حسيني کې دالسي ترجمه کړې ده "پس بپرس اى محمد (ﷺ) ز بني اسرائيل يعني از علما ايشان همين آيات را تاصدق قول تو بر مشرکان مکه ظاهر گردد انتهى، زيراکه مشرکان براى امتحان آنحضرت ﷺ باو گفته بودند چون آمد موسى بر ايشان که ميان وى وفرعون چه گذشت.

فَقَالَ لَهُۥ فِرْعَوْنُ إِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسْحُورًا ﴿١٠١﴾

وويل موسى (عليه السلام) ته فرعون يعني چې موسى عليه السلام و فرعون ته دعوت د ايمان ورکړی، په تحقيق زه ګمان کوم پر تا اى موسى چې په تا سحر کړل سوی دی، نو دماغ يې درخراب کړی دی يعني ته دعوی د امر محال کوې چې رسول د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای یم، او کلبي رح هم دا ترجمه مذکوره کړې ده، او بعض وایي چې مصروف عن الحق د مسحور معنی ده، او فرا او ابو عبید رح وایي چې مسحور که څه هم د مفعول صیغه ده لکن دلته په معنی د فاعل ده یعني ساحراً، او محمد بن جریر رح وایي درښوول سوی علم سحر یعني چا تاته علم سحر درزده کړی دی، او دا عجائب یعني عصا او ید بیضا ستا د سحر علامې دي.

قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ

وویل موسی په جواب کې د فرعون،

پوه سه: چې کسائي رح "علمت" په پېښ د تا وایي یعني المتکلم الواحد چې موسی د خپل ځان له خوا حکایات ورته کوي یعني "علمت انا" او ددې قرائت له علي رضی الله عنه څخه هم راغلی دی، دی وایي لم یعلم الخبیث یعني فرعون ان موسی علی الحق ولو علم لآمن لکن موسی علیه السلام قد علم ذالک.

دروښ وایي: چې په ټولو مطبوعه مصاحفو کې په فتح د تا راغلی دی یعني په صیغه د خطاب د فرعون ته یعني ته خبر یې.

سوال: که فرعون په دې پوهېدای چې موسی علیه السلام پر حق دی، نو به یې ایمان راوړی وای، لکه اهل د قرائت اولی چې وویل؟

ځواب: عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وایي چې فرعون په دې پوهېدی چې موسی علی الحق دی لکن عناداً او تکبراً یې ایمان نه راوړی.

مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ

یعني دغه آیات نه دي نازل کړي مګر رب د اسمانو او مځکې نازل کړي دي "بصائر" جمع د بصیرت ده یعني ستا د پوهني لپاره چې زما صدق و تاته وښیي لکن ته صرف عناد او تکبر کوې.

پوه سه: چې بصائر منصوب دی علی الحالیة من هؤلاء.

وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا

او زه پر تا ګمان کوم اې فرعون، ابن عباس رضی الله عنهما د "مثبور" ترجمه په ملعون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره کړي ده، او مجاهد ؒ په هالک سره، او قتاده ؒ په مهلک سره علی صیغة اسم الفاعل چې خلګ دوی هلاک ته واچول په دعوه د "انا ربکم الاعلی" او فراء وایي چې مصروفًا ممنوعًا عن الخیر مطبوعًا علی الشر.

فَأَرَادَ أَن يَسْتَفِزَّهُم مِّنَ الْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾

نو فرعون اراده وکړه چې موسی (علیه السلام) او بني اسرائیل سپک استعمال کړي او د مصر له مځکي څخه یې وشړي (یا له ټولي مځکي څخه یعنې په ډلییزه توګه ټوله بني اسرائیل سره د موسی علیه السلام قتل کړي) نو موږ غرق کړی فرعون او هغه چې دده تابعان یعنې قوم د قبط یعنې پر عکس د هغه چې فرعون اراده کړې وه موسی علیه السلام او بني اسرائیلو ته.

وَقُلْنَا مِن بَعْدِهِ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ اسْكُنُوا الْأَرْضَ

او موږ وویل وروسته تر غرق د فرعون وقومه و بني اسرائیلو ته چې تاسي سکونت وکړئ په مځکه کي د مصر یعنې چې فرعون ستاسو د شړلو اراده کړې وه.

فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾

نو چې راسي اراده د آخرت (یعنې حیوة الآخرة یا دار الآخرة والمآل واحد، صرف د تانیث د آخرة لپاره ترجمه موږ وکړه) موږ به راولو یعنې ژوندي به کړو ټولګه.

پوه سه: چې "لفیف" هغه جماعاتو ته وایي چې له مختلفو قبیلو څخه وي، والمعنی تاسي او فرعونیان ګډوډ یاست وروسته به سره جلا کړل سئ سعدا الی الجنة والاشقیا الی النار، کریمه "فریق في الجنة وفریق في السعیر" کریمه "وامتازوا الیوم ایها المجرمون".

وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۗ

او په حق موږ نازل کړی دی قرآن.

پوه سه: چې تقدیم د جار او مجرور لپاره د حصر دی ای ما انزلنا القرآن الا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متلبسا بالحق ای بالحکمة المقتضیة لانزاله، او نه دی نازل سوی مګر متلبس په حق او صدق سره چې د قرآن عقائد او احکام او امر او منهیات دي،

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝

او موږ نه یې را استولی ته یا محمد (ﷺ) مګر زېری کونکی و اهل طاعت ته په جنت سره او بېرونکی د اهل عصیان په دوزخ سره یعني ستا وظیفه رسالت صرف تبشیراً او انذاراً ده، دا نه ده چې ته خامخا کفار مسلمانان کوې،

وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ

پوه سه: چې "قرآنًا" منصوب دی علی شریطة التفسیر په وروسته فعل سره "فرقناه" یعنې نازل کړی دی موږ قرآن متفرق سورةً سورةً آیةً آیةً علی حسب الضرورة (لا جملةً واحدةً کالتورات والانجیل) چې په شل کاله زمانه کې ختم سو،

سوال: د علیه الصلوة والسلام د نبوت زمانه خو درویشت (۲۳) کاله وه، نو تاولې شل کاله وویل؟

ځواب: درې کاله د فتور د وحي مائنې ویستل فافهم،

لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ۝

چې ته قرائت د قرآن وکړې پر خلګو په مهلت او کرار کرار سره، ولې چې داسې دول نزول په قرائت کې اسانې د حفظ القرآن پر مسلمانانو او کومک دی پر فهم د معاني و د قرآن، او موږ نازل کړی دی قرآن یعنې نجمًا نجمًا حسب الحوادث کما یدل باب التفعیل،

پوښتنه: څه حکمت و د خدای ﷻ چې تورات او انجیل یې جملةً واحدةً نازل کړي وه، او قرآن مجید یې په شل یا درویشت کاله کې نازل کړی چې سبب د طعن د قریشو هم دغه انزال نجمًا نجمًا و؟

ځواب: رسول الله ﷺ نبي امي و چې نه یې خط زده و او نه یې په یوه مدرسه کې تعلم کړی و، او عرب چې دده قوم و امت امیه وه کما یدل علیه قوله علیه السلام نحن امة امیة لانحسب ولانکتب الی اخیر الحدیث" نو ده او دده امت لره نزول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالتدریج لویده فائده وه بخلاف سائر الانبیاً والامم فارجع الی کتب التواریخ.

او بل ځواب دادی چې موسی علیه السلام ته تورات دفعةً ورکړل سو، ده چې بنې اسرائیلو ته تلاوت کړی هغو یې له منلو څخه انکار وکړی حتی چې خدای ﷻ جبرییل علیه السلام امر کړی چې یو غر پر دوی راپورته کړه حتی چې دوی و احکامو ته د تورات غاړه کښېږدي او وه یې منې، هغه وخت چې بنې اسرائیل د غره له بېرې پر سجده پرېوتل او د تورات امر او نهي یې وومنل، نو د علیه الصلوة والسلام د امت لپاره دا نزول نجماً نجماً د خدای ﷻ لوی رحمت دی بلکې د پر احکام د امت د علیه الصلوة والسلام بالتدریج وپای ته رسېدلي دي کما یدل علیه قوله تعالی في الصوم "فمن شهد منکم الشهر فلیصمه" او تر دغه دمخه روژه نیولو د مسلمانانو په اختیار کې وه که یې فدیه ورکولای او که یې روژه نیولای. هو تر هغه دمخه روژې د ایام بیض فرض وې یعنې هره میاشت د (۱۳/۱۴/۱۵) روژه او تر هغه دمخه روژه یوازې د عاشورا وه فارجع الی کتب الاحادیث الشریفة.

قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖۤ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ

ته ورته ووایه یامحمد (ﷺ) چې تاسي پر قرآن ایمان راوړئ یا یې نه راوړئ.

پوه سه: چې مقصود په دې آیت کې تخییر نه دی بلکې دا آیت تهدید او وعید دی د دوی لپاره یعنې ستاسي ایمان راوړل پر قرآن ته نفع نه رسوي او ستاسي انکار قرآن ته ضرر نه رسوي بلکې ایمان راوړل یې ستاسي نفع ده چې سبب د دخول د جنت به وګرځي او انکار یې ستاسي ضرر دی چې سبب د دخول د نار به وګرځي ولې چې قرآن مبارک في ذاته کامل کتاب دی، دا وروسته آیت ددغه آیت دلیل دی.

اِنَّ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖۤ اِذَا یُتْلٰی عَلَیْهِمْ یَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ۝

یعنې که تاسي ایمان نه راوړئ پروا نه لري، په تحقیق هغه کسان چې دوی ته علم ورکړل سوی وو دمخه تر قرآن چې تر تاسي هغه بهتره وه (یعنې علماء اهل کتابو. او کتب سابقه یې ویلي وه او حقیقت د وحي ور معلوم وو او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علاماتو د نبوت پوهېدل، او محق په دعوی کې د نبوت او مبطل يې سره جلا کولای سوای او ستا یا محمد (ﷺ) او بیان د ما انزل الیک چې قرآن دی په هغو کتب سابقه وو کې يې ویلی دی، له عبدالله بن سلام او ددې ملګرې ﷺ په یهودانو کې، او نجاشي و اصحابه ﷺ په نصاری وو کې) چې پر دوی تلاوت وکړل سي د قرآن مجید دوی غځار پرې پر مخانو. نو مراد له الاذقانو څخه چې اصل ترجمه يې زنه ده مخان دي کما قال ابن عباس ﷺ پر سجده لپاره د تعظیم د امر اود شکر د قرآن او د خدای ﷻ چې خپله وعده يې پوره کړه په بعثت د محمد ﷺ په هغو کتابو کې ددوی او قرآن يې پر نازل کړی.

وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا ﴿١٠٨﴾

او دوی وایي پاکي ده رب لره زمونږ له خلف الوعد څخه، شان دادی چې وعده د رب زمونږ البته کېدونکې ده یعني یبعثت النبي المنعوت في کتبهم، وذکر اسمه ومولده ومهجره، ونزول القرآن علیه.

پوه سه: چې "ان" مخففه له مثقل څخه دی او اسم ضمیر شان محذوف دی ای انه، فائده: د "ان" نافیه او مخففه د مثقل فرق په لام سره چې ان نافیه په خبر کې لام نه راځي او د "ان" مخففه په خبر کې لام لکه دلته.

وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ

دا آیت يې مکرر راوړی لاختلاف السبب والحال، ولي چې اول خرور لپاره د شکر وو پر انجاز الموعود، او دویم خرور يې په سبب د تاثیر د قرآن په زړو کې ددوی او جمله "یبکون" په محل کې د نصب ده چې حال ده له ضمیر څخه د "یخرون" ای یخرون حال کونهم باکین، مظهري ؒ وایي چې دوارې ځایه يې دقن ذکر کړی دی لانه اول مایلقی علی الارض من وجه الساجد انتهی، او دا خبره يې په متابعت د بیضاوي کړې ده، سعدي مفتي ؒ په حواشیو کې د بیضاوي پر دې سوال کړی دی چې اول چې پر مخکه لګېږي له ځایه څخه د مساجدو تللی او پرته ده، او روح البیان ددې سوال په ځواب کې وایي چې مراد د بیضاوي د اول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مايلقى څخه پر مځکه اينبول نه دی مراد بلکې نژدې والی و مځکې ته په حال کې د سجدې ولاشک ان الذقن اقرب الی الارض من الجبهة والانف حال الخرور الی السجدة کما یدل علي التجربة.

وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴿١٠٩﴾ السجدة

او زياتوي سماع القرآن دوی ته عجز قلبي، ولي چې برکات او تجلی د قرآن ددوی پر زړو راسي: حسين کاشفي ؒ وايي اين سجده چهارم است از سجدات قرآن و حضرت الشيخ الاکبر ؒ اين سجده را سجده علما خوانده الخ.

استحباب البکا عند تلاوة القرآن د احاديثو په رنا کې: بغوي ؒ له ابي هريره ؓ څخه داسي روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام وويل "لايلج النار من بکی من خشية الله حتی يعود اللبن في الضرع" نه داخليږي و اور ته هغه څوک چې د الله تعالی له وېرې ژاړي تر هغو پورې چې بيرته ورځي لوښل سوي شيدې وغولانځي ته هذا محال عادةً فافهم "ولا يجتمع غبار في سبيل الله ودخان جهنم في منخري مسلم ابداً" او نه جمع کيږي گرځ په لار کې د خدای ﷻ يعنې په غزا کې، او دود د دوزخ په دوو سرېمو کې د مسلمان ابداً. او حاکم و بيهقي ؒ د ابو هريره ؓ دغه حديث داسي راوړی دی "حرم علی العينين ان تنالهما النار حين بکت من خشية الله، وعين باتت تحرس الاسلام واهله من اهل الکفر" او هغه سترگه چې تولې شپه ټپره کړي په پيره کولو او ساتلو کې د اسلام او اهل اسلام له اهل کفر څخه، او بهز بن حکيم عن ابيه عن جده داسي روايت کړی دی قال سمعت رسول الله ﷺ يقول حرمت النار علی ثلاثة اعين، عين بکت من خشية الله، وعين سهرت في سبيل الله، وعين عفت عن محارم الله" (دی وايي ما واورېدل له رسول الله ﷺ څخه چې خدای پاک درې سترگې پر اور حرامې کړې دي، هغه سترگه چې د الله تعالی له وېرې ژاړي، هغه سترگه چې شپه په بيدارۍ ټپره کړي په غزا کې او هغه سترگه چې پټه سې له محرماتو څخه د خدای ﷻ يعنې محرماتو ته نه ګوري که چېرې ورسره مخامخ سې سترگې پټوي رواه البغوي ؒ، او طبراني ؒ په کبير کې د ابو ريحانه په روايت دغه حديث راوړی دی او ابن ماجه له ابن مسعود ؓ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دامي روايت كړى دى چې رسول الله ﷺ وويل "ما من عبد مؤمن يخرج من عينه دموع وان كان مثل رأس ذباب" يعني دا وښكه لكه د مچ سر "من خشية الله ثم يصيب شيئاً من حر وجهه الا حرمه على لنار .. مصرع:

باكريمان كارها دشوار نيست ..... فضلاً عن ارحم الراحمين

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ

بغوي رح په قول د ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ په مكه كې يوه شپه په سجده كې يا الله يا رحمن وايه، ابوجهل چې واورېدل نو يې وويل چې محمد موږ منع كوي زموږ له آلهه وو ځخه او دى په خپله دوه خدايه بولي، فنزلت هذه الآية ومعناها ان هذين اسمان لذات واحدة وان كانا مختلفين باعتبار معناهما فلا يكون اشراكا ولا منافيا للتوحيد. او ددوى بتان خو د مسمى په الله ځخه جلا دي فلا محالة يكون شركاً. ولي چې عبادت دى د ذوات مختلفه وو في الذات من الله ﷻ لاعبادة الذات الواحدة اسماً كثير، وكلمة او للتخيير، او بعض مفسرين وايي چې يهودانو به ويل چې ته اې محمده ذكر د رحمن ډېر كوې اوپه تورات كې د الله ذكر ډېر دى، فانزل الله تعالى هذه الآية يعني دا دوه اسمه يو دي په حسن اطلاق كې پر ذات واحدة فلا بأس باكثار الله في التورات واكثاره عليه الصلوة والسلام اسم الرحمن لان المقصود كل واحد واحد.

اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۚ

پوه سه: چې دعاً دلته په معنى د تسميه ده او متعدي و دوو مفعولو ته ده. چې اول يې محذوف دى استغناً عنه، والتنوين في "ايًا" عوض عن المضاف اليه، والضمير في له راجع الى المحذوف. فالمعنى ايامًا تدعوه فله اى لذات المعبود بالحق الاسماً الحسنى وجملة فله الاسمى الحسنى واقعة موقع الجزاً للمبالغة وكان اصل الكلام اى اسم من هذين الاسمين يعني الله والرحمن تسموبه فهو حسن صحيح لان الله تعالى اسماً حسنى كثيرة منها هذين الاسمين، او تولو ته يې حسنى وويل لدلالة كلها على صفات الجلال والكمال والتنزه عن النقص والزوال، دروښ وايي چې دا ؤ تفسير د مظهري رح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: الحسنى تانيث الاحسن لان حكم التانيث بالتأويل بالجماعة لكن د خداى ﷻ شان دى چې هيڅ مشرک وغيره د الله لفظ پر بت نه دى اينبى لان اسم لذات جليه والاسماً الاخر اسماً صفات فيجوز التسمية بها سوى الرحمن لاختصاصه به تعالى في الاستعمال.

پوه سه: چې مسيلمة الكذاب ځان ته رحمن اليمامة وايه، او د خداى ﷻ سره په نامه كې د الله هيڅ چا شراكت نه دى كړى، ولي فرعون الطاغي داويل انا ربكم الاعلى. او دا قدرت خداى ﷻ نه وُوركړى چې ووايي انا الله. فهذا الاسم الجليل مختص بذاته تعالى وضعاً ومعنًى واستعمالاً ولا يستطيع احد ان يسمى نفسه بهذا الاسم الجليل.

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١١٠﴾

ډېره په زوره يعني په بلند اواز يې مه وايه قرائت په لمانځه كې (نو مراد له صلوة څخه قرائت دى تاچې كافران او مشركان يې يې وانه وري، ولي دوى چې به قرآن واورېدى هم به يې قرآن ته او هم و من انزله او هم و من انزل عليه ته ناوړه خبرې كولې) او دومره كرار يې هم مه وايه چې من خلفك يې هم نه اوري، او طلب كړه په منځ كې د جهر او مخافت لار، لان خير الامور اوسطها.

پوه سه: چې مراد له صلوة څخه صلوة الليل دى اجماعًا لوجوب الاخفا في صلوة النهار بالنقل المتوارث، بغوي ؒ ددې آيت په شان نزول كې وايي چې عليه الصلوة والسلام كان مختفياً بمكة من المشركين چې اصحابو ته به يې لمونځ وركاوه جهر بالقرائة فاذا سمعه المشركون سبوا القرآن ومن انزله ومن جأبه فامر الله نبيه بالتوسط بين الجهر والاخفا كمامر، دا روايت من طريق البخاري عن ابي بشير عن سعيد بن جبير عن ابن عباس ﷺ بغوي ؒ رانقل كړى دى، بغوي ؒ وايي چې بعض اقوام وايي چې دا آيت په دعا كې نازل سوى دى، نو مراد له صلوة څخه دعا ده تسمية للجزء باسم الكل لان الصلوة مشتمل على الدعا في مواضع، وهو قول عائشة ﷺ والنخعي ومجاهد ومكحول ؒ، روى البخاري عن عائشة ﷺ ولا تجهر بالصلوتك ولا تخافت بها قالت نزلت في الدعا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفریع: نو د اوسنۍ زمانې خطبان چې دعاوي په ګویا کې کوي د دغو سادا تو له مذهبه څخه مخالف دي.

بیان الترجیح: پوه سه! چې اول شان نزول ارجح ګڼل سوی دی لکونه اصح سنداً، امام نووي ؒ هم ترجیح ورکړې ده، او حافظ ابن حجر ؒ دواړه سره جمع کړي دي چې هم قرائت د لمانځه دی او هم دعا یعني توسط دي کوي في داخل الصلوة مثل اللهم صل آه و اللهم ربنا آه، توسط بین الجهر والمخافة، لکن مظهري ؒ وایي چې په دې جمع زه نه یم راضي لان الدعوات المأثورة في الصلوة لکه چې درویش یې مثال ووایه التوارث فیها الاخفا . ولا خلاف بین العلما في الادعیة الصلاتیة الا في دعا القنوط" او دا آیت مبارک "ادعوا ربکم تضرعاً وخفیة انه لا یحب المعتدین" دا هم ددې تقاضا کوي چې اخفا په دعاګانو کې که خارج الصلوة وي او که داخل الصلوة اولی ده.

درویش وایي: چې خارج الصلوة دعاګانې که په اجتماعي توګه وي یعني یو عالم دعا کوي او نور آمین وایي دومره قدر جهر یې اولی دی چې قوم یې واوري ناڅې دوی ته موقع د آمین پیدا سي. البته په انفرادي دعا کې اخفا اولی ده.

درویش وایي: چې جهر په اجتماعي دعا کې په اسلامي ممالکو کې چې جاري دی حتی في الحرمین الشریفین في الادعیة الاجتماعیة في شهر رمضان عند ختم القرآن والتروایح.

درویش وایي: چې مظهري ؒ قول د عائشې ؓ یعني چې دا آیت په دعا کې نازل سوی دی داسي توجیه کړې ده، او دغه رنګه د ابو هریره ؓ د قول توجیه رفع صوته بالدعا چې مراد ځنې سورت الفاتحة ده، ولي چې په سورت الفاتحه کې په اهدنا الصراط المستقیم کې دعا ده. فقیر وایي چې دا توجیه لیس بشئ لانه لم یرو عن احد، ان رسول الله ﷺ کان یجهر بالفاتحة فقط فافهم، روی البغوي الشافعي المذهب من طریق الترمذي عن عبد الله بن رباح الانصاري ؓ ان النبي ﷺ قال لابی بکر ؓ مررت بک وانت تقرء وتخفض من صوتک (یعني في صلوة التهجد في المسجد النبوي) قال ابابکر ؓ قد اسمعت من ناجیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(يعني زما مناجات د خداى ﷻ سره وُ په هغه مي اورېدل) قال عليه السلام ارفع من صوتک قليلاً، وقال لعمر رضي الله عنه مررت بک وانت ترفع صوتک، قال اني اوقظ الوسنان واطرد الشيطان يعني" يعني زما غرض په رفع الصوت کي دادى چي بيده خلګ راويښ کړم يعني لپاره د تهجد، او شيطان ليرې وشړم، قال عليه السلام اخفض من صوتک قليلاً" حاصل دا چي په توسط سره يې دواړه امر کړه.

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا

ووايه يا محمد (ﷺ) تولـه ثنا او صفت خداى ﷻ لره دي هغه خداى ﷻ چي نه يې دى اخستى ولد که نر وي او که ښځه لان الولادة من صفات الاجسام خصوصاً الاجسام التي لها قوى شهوية وآلات الولادة والله تعالى منزه من كل ذالک لانه ليس بجسم ولاجسماني عوماً وخصوصاً.

پوه سه: چي په دې آيت کي رد دى د يهودانو چي عزير عليه السلام يې ابن الله باله، او رد دى د نصارى وو چي عيسى عليه السلام يې ابن الله باله. او د بنو مدلج چي ملائکه يې بنات الله بللې. تعالى عن ذالک علواً كبيراً.

وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ

او نسته خداى ﷻ لره شريک له ملک کي دده نه په اسمانو کي او نه په ځمکه کي بلکې په عالم الوجود لان مافي العالم كله مملوک ومخلوق لله تعالى والمملوک لايكون شريک لمالکه. وفي هذا رد للثنوية چي دوى وايي عالم لره دوه خدايه دي دواړه واجب الوجود دي يو خالق د خيراتو دى چي د هغه نوم يزدان دى او بل خالق د شرور دى چي د هغه نوم اهرمن دى يا شيطان ورته وايي او يا شريک په ذات کي نه ورته وايي بلکې په معبوديت کي يې ورته وايي لکه بت پرستان يعني مشرکان، په مذکوره آيت کي رد پر دوى راغلى دى، ولي چي مخلوق څرنګه د خالق سره په معبوديت کي شريک کېداى سي.

وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ

او نسته ده لره يار او مددګار په سبب د ذلت د خداى، يعني چي خداى دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نعوذ بالله ذليل وي له يسوه دښمنه څخه او هغه ولي دده کومک وکړي او له ذلت څخه دې خلاص کړي، فان الذلة محال علی واجب الوجود وايضًا الاحتياج من خواص الممکن په دې کې رد دی پر صائبينو، دوی وايي چې که اولياً الله نه وای خدای به ذليل سوی وای نعوذ بالله.

دروښ وايي: چې دوی جاهلان په دې نه پوهېږي چې ولي په آيت کې په معنی د معاون او مددګار عند الذلة وهذا المعنی محال في حقه تعالی واما معنی اولياً الله خو داده چې د خدای ﷻ دوستان او خدای ته تقرب جويان دي او د خدای ﷻ له عذاب څخه د دنيا او اخرت غوښتونکي د امان دي او په عبادت سره او په پرهېز د منهياتو سره خدای ﷻ ته تقرب غوښتونکي دي، نو احتياج د اولياً د خوا دی نه د الله تعالی د خوا، وفي المثنوي:

و احد اندر ملک او را يارنی ..... بند گانش را جز او سار لارنی
نيست خلقش راد گر کس مالکی ..... شرکتش دعوی کند جزها لکی

وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا ﴿١١١﴾

ای عظمه تعظيماً بالقلب وقل باللسان الله اکبر من اتخاذ الولد، والشريک والولي.

پوه سه: چې عليه الصلوة والسلام دا آيت په نامه د آيت التکبير نامزد کړی دی.

دروښ وايي: چې روح المعاني، روح البيان او مظهري په ګډه دا روايت راوړی دی د انس بن مالک ﷺ چې يو هلک د بني عبد المطلب پر فصيح خبرو راغلی، رسول الله ﷺ به د غه آيت په زده کاوه "وقل الحمد لله الذي لم يتخذ ولداً الی اخير الآية".

دروښ وايي: چې ددې حديث روايت عمر بن شعيب عن ابيه عن جده کړی دی، روح المعاني له ابن السني ؒ او ديلمي ؒ له فاطمة الزهراً ﷺ بنت رسول الله ﷺ څخه روايت کړی دی چې نبي کريم ﷺ ماته وويل چې ته پر ځای پرېوځې داسي وايه "الحمد لله الکافي، سبحان الله الاعلی، حسبي الله وکفی، ماشاً الله قضی، سمع الله لمن دعی، ليس من الله ملجی، ولا وراً الله ملتجی، توکلت علی ربي وربکم. ما من دابة الا هو آخذ بناصيتها ان ربي علی صراط مستقيم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحمد لله الذي لم يتخذ ولداً الى قوله وكبره تكبيراً" بيا رسول الله ﷺ وويل ما من شخص يقرئها عند منامه ثم ينام وسط الشياطين والهوام (يعني لږمار، ماران وغيرهما) فتضره.

دروښ وايي: چې روايت کړی دی ابو يعلى او ابن السني ؒ له ابي هريره ؓ څخه چې زه او رسول الله ﷺ ووتلو (يعني د صحرا و خواته) او زما لاس دده په لاس کې وُ، نو پر يو سړي تېرېدلو (يعني په مخه راغلی) ورته الهيئة (يعني زاړه کالي يې اغوستي وه او پرېشان حال وُ) نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل ای فلان مابلغ بک ما اری" هغه ورته وويل چې هم ناجوړی يه او هم مسکين يم، قال رسول الله ﷺ داسي يو کلمات نه درونبيم چې ته يې وايه مرض به دي جوړ سي او مسکنت به دي دفع سي، هغه کلمات دادي "توکلت على الحي الذي لايموت، الحمد لله الذي لم يتخذ ولداً الى اخير الآية" څو ورځې وروسته بيا رسول الله ﷺ وليدی په هيئت او په بدن ټندرست، فقال "مهيم" څه قصه ده؟ هغه ورته وويل چې همېشه ما هغه کلمات چې تا رانبوولي وه زه يې وايم.

دروښ وايي: چې بنوولي کلمات د صادق مصدوق ﷺ په هغه سړي پورې اختصاص نه لري، بلکې هر څوک چې هغه کلمات په کلک اعتقاد وايي مرض به يې هم دفع سي او فقر به يې په غنى بدل سي، واخرج ابن ابى الدنيا ؒ في كتاب الفرج، والبيهقي في الاسماً والصفات (د کتاب نوم دی) عن اسماعيل بن ابى فديک ؓ قال قال رسول الله ﷺ ماكرهني امر الا مثل لي جبرئيل (زه نه يم په غم کې اچولی يو کار. ماته به ځان رانښکاره کړي جبرئيل) فقال يامحمد (ﷺ) قل توكلت على الحي الذي لايموت والحمد لله الذي لم يتخذ ولداً الى اخير الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْكَهْفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَعَشْرُ اٰيَاتٍ اِثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا

رب يسر علي تفسيره وتممه بالخير والعافية

درويش وايي: چي روح المعاني وايي چي ددې سورت بل نوم سورة اصحاف الكهف دی، مشهوره خو داده چي ټوله سورت مكي دی، ديلمي ؒ په جنت الفردوس كي وايي (چي ددې د كتاب نوم دی) له انس ﷺ څخه روايت كوي او هغه له نبي عليه السلام څخه چي عليه الصلوة والسلام وويل چي سورت كهف په يوه پلا نازل سوی دی چي په وخت د نزول كي اوويا زره (۷۰۰۰۰) ملكي ورسره وې،

ابن اسحاق ؒ له عكرمه ﷺ څخه او هغه له ابن عباس ﷺ روايت كړی دی چي قريشو نضر بن الحارث او عقبه بن ابی معيط واستول و احبارو ته د يهود و د مدينې يعني علمائهم، قريشو ورته وويل چي تاسي پوښتنه وكړئ له دوی څخه د محمد (ﷺ) او بيان د صفاتو دده ورته وكړي چي دی څه وايي هغه هم ورته بيان كړئ (يعني الدعوة الی التوحيد وكونه رسولاً من الله العزيز) فانهم اهل الكتاب الاول (يعني التورات) وعندهم ماليس عندنا من علم الانبياء فخرجا حتی اتيا المدينة فسئالا احبار اليهود عن رسول الله ﷺ ووصفالهم امره وبعض قوله، نو د يهودو ملايانو ورته وويل چي تاسي د دروشيانو پوښتنه ځني وكړئ، يو د هغو ځوانانو چي له كوره څخه تللي وه په پخوا زمانو كي دا څوك وه او ولي له كورو څخه تللي وه؟ فانه كان لهم حديث عجيب د هغو يوه تعجب آميزه قصه ده، او بل دا پوښتنه چي هغه كوم سړی وُ چي شرق او غرب، جنوب او شمال ته يې سفر كړی وُ او څرنگه ماجرا يې وه؟ او بل د روح پوښتنه ځني وكړئ يعني چي روح څه شی دی، كه يې د دروسره ووييان مفصل وكړی، نو نبي مرسل دی، او كه يې ځواب درنه كړی نو دا سړی متقول دی يعني پر خداى ﷻ دروغ وايي، هغه دوه كسان د قريشو چي مكي تله راغله مكي والو ته يې وويل چي يو قول فيصل زموږ و د محمد (ﷺ) تر منځ موږ راوړی دی، نو څو كسه مشران د قريشو په شمول د فرعون الامة ابوجهل و عليه الصلوة والسلام ته ورغله او دا درې سوالونه يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځني وکړه، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې صبا به زه جواب درکړم، لکن د
دېرې خوشالۍ له سببه چې قریشو ده ته دا وعده ورکړه چې که دا درې ځوابه دې
راکړه موږ ایمان راوړو او تاپه رسالت منو، د علیه الصلوة والسلام ان شاء الله هیر
سوه، د علیه الصلوة والسلام خیال دا ؤ چې ما ښام به جبرئیل راسي ماته به د
جوابو تفصیل راوړي زه به یې صبا قریشو ته بیان کړم خیر وحي وځنډېدلې او
جبرئیل علیه السلام نه راتلی (یعني په سبب د ان شاء الله نه ویلو د علیه الصلوة والسلام)

سوال: د یوه ان شاء الله نه ویلو له کبله خدای پاک رسول الله ﷺ د دومره لوی
خطر سره مخامخ کړی حکمت یې څه دی؟

ځواب: هر څو چې د خدای ﷻ ته قربت راځي محنت هم ورسره ملګری وي،
پښتانه وایي پر سپینه جامه خیره ژر معلومیږي، خیر له درو ورځو څخه نیولې بیا
تر څلورو پښتو ورځې پورې، شاه عبد العزیز الدهلوي رحمه الله علیه په تفسیر عزیزي کې
روایت راوړی دی لکن مشهوره پینځلس ورځې دي، په هر صورت مکې والو هر
ورځ ورته راځغاستل چې موږ ته خبر زموږ د سوالو راکړه، حتی چې مکې والو به
ویل ان محمدًا ودعه ربه وقلاه او د ابو لهب ماینه به کورته پسي ورغله او ورته وه
بې ویل ما اری شیطانک الا قد ترککک تعني جبرئیل.

پوه سه: چې ځواب د روح د سوال په اخیر کې د سورة الاسری خدای ﷻ
ورکړه، او د هغه نورو دوو سوالونو ځوابونه چې د اصحاب کهف قصه او د ذو
القرنین قصه ده په دې سورت کې ورکړه، له سبب تناسب اتصال السورتین.

سوال: څه حکمت الهي دی چې د درو سره وو ځوابونه یې په یوه سورت کې نه
کړه ور؟

ځواب: د روح سوال خو تفصیل نه درلودی، نو ځکه مناسبه دا وه چې د روح
ځواب یوازې ذکر کړل سي، بخلاف الجواب عن قصة اصحاب الكهف وذو
القرنین، ولې چې هغه تفصیل غواړي.

پوښتنه: د روح ځواب یې ولې په سورت اسری کې ورکړی؟

ځواب: په منځ کې د اسری یعني معراج او د روح مناسبت سته ولې چې عقول
عامه دواړه له فهم څخه عاجزه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواص سورة الكهف: ابن مردويه له ابن عمر ﷺ څخه مرفوع حديث راوړی دی (من قرء سورة الكهف في يوم الجمعة) پورته يې سي نور له پښو څخه د قاري تر عرشه پورې (وغفر له ما بين الجمعتين) وروی غير واحد عن ابی سعيد الخدري ﷺ من قرء سورة الكهف في يوم الجمعة اضاء له النور ما بينه وبين البيت العتيق يعني الحرم المكي وبيت الله الشريف، واخرج ابو عبيد والبيهقي عن ام موسى ان الحسن بن علي ﷺ سورت کهف يې هره شپه وايه) او ابن مردويه له عبد الله بن مغفل ﷺ څخه مرفوع حديث راوړی دی چې هغه کور چې په هغه کې د شپې سورة کهف وويل سي شيطان هغه شپه هغه کور ته نه ورځي.

بوه سه: چې د پر ائمه دين سنت بولي قرائت د سورت کهف په شپه او ورځ کې د جمعې، واخرج احمد، مسلم، ابوداؤد، ترمذي، نسائي و ابن حبان رحمهم الله عن ابي الدرداء ﷺ عن النبي ﷺ (من حفظ عشر ايات من اول سورة الكهف عصم من فتنة الدجال) او په بعضې روايا تو کې من حفظ وقرء العشر الأواخر من سورة الكهف. والله الموفق لكل خير وعبادة.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْكِتٰبَ

ټوله ثناء او صفت خدای (ﷻ) لره دي، هغه خدای (ﷻ) چې نازل کړی يې دی پر خپل بنده يعني محمد ﷺ کتاب يعني القرآن.

بوه سه: چې په دې آيت کې خدای پاک ثناء وويل پر خپل ځان په انعام سره پر خلکو باندې په داسې يو ستر نعمت سره چې انزال د قرآن پر ټولو ددوی، ولې قرآن هادي دی وهغې لارې ته چې عباد و درجې ته د کمال رسوي يعني که عمل په وکړي، ولې په قرآن سره صلاح د معاش دنيوي ده او د معاد اخروی.

درويش وايي: چې خدای ﷻ عبده وايه، ولې چې اعلى د مقامات عبديت دی، اويا يې وځان ته اضافت وکړی لپاره ددې چې عليه الصلوة والسلام حر مطلق دی له ماسوی څخه د خدای ﷻ، علماء وايي چې د رسول په اوصافو کې عبوديت تر رسالت ده لوړ مقام دی لاڼ في العبودية توجه من المخلوق الى الخالق وفي الرسالة توجه الى المخلوق، وفي الآية تلقين للعباد كيف يحمدون الله ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: که مراد له قرآن څخه ټوله قرآن وي، نو په دې آیت کې تغلیب د نازل پر سینزل باندې، ولې په دغه وخت کې د نزول ددې سورت خو ټوله قرآن نه وو بشپړ سوی، نو تعبیر په ماضي سره بې تغلیب نه سي کېدای، او که مراد له کتابه ټوله ما انزل مراد وي نو تعبیر په ماضي سره پېله تغلیبه دی.

وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجًا ۜ ①

او نه یې دی ګرځولی په قرآن کې یو شی له کږوالي څخه کما یدل علیه وقوع النکرة في سیاق النفي، والمراد من العوج اختلال الالفاظ من حیث الاعراب والبناء والمخالفة للفصاحة والبلاغة وتناقض معانیه وکونه داعیًا الی مالیس بحق او داعیًا الی غیر الله.

قَيِّمًا لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا

ابن عباس رضي الله عنهما وایي ای عدلاً ای مستقیمًا لا افراط فیه ولا تفریط، او فراء وایي چې د قیمًا معنی داده چې حاکم دی پر نورو ټولو کتب الهیه ؤ یشهد بصحتها وینسخ بعض احکام الکتب السابقة.

پوه سه: چې قیمًا منصوب دی په فعل محذوف سره، قتاده وایي تقدیر: کلام انزل علی عبده الکتاب ولم یجعل له عوجًا بل جعل قیمًا (لینذر) ددې حکمت لپاره چې وبیروي قرآن او محمد ﷺ بما في القرآن. المفعول محذوف ای الکفار (عذابًا شدیدًا) له سخت عذاب څخه چې یا عذاب د استیصال دی په دنیا کې یا عذاب النار في القیامة.

مِّن لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ

چې صادر دی له جانبه څخه د خدای (ﷻ) او زېرې به وکړي قرآن او محمد ﷺ بواسطة القرآن، و مؤمنینو ته چې اعمال صالحه کوي من الواجبات القولیة والقلبیة والمالیة والبدنیة، عبادت واجب قول ده کلمة الشهادت ای اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدًا رسول الله، والقلبیة الواجبة هو التصدیق بالقلب بدون النفاق والمالیة هي الزکوة والبدنیة هي الصلوة وغیرها من انواع کل واحد منها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مفعول اول د (لينذر) چي كفار وه نه كړه ذكر او مفعول اول د (لبشر) يې ذكر كړی چي مؤمنين دي، حكمت يې څه دی؟

ځواب: حكمت يې تعظيم د مؤمنينو دی.

أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا ۝

ای بان بحذف الجار وهو شائع في القرآن په دې سره زبړی ورته وكړه چي دوی لره په مقابل كي د ايمان او د اعمال صالحه ؤ ثواب سته په بر نه، اكثره مفسرين بلكي غالبًا ټوله وايي چي مراد له اجر حسن څخه جنت دی، ولي چي په جنت كي نعيم، مقيم او ثواب عظيم سته حتى ورد فيها مالاعين رئت ولا اذن سمعت ولاخطر على قلب بشر.

پوه سه: چي تعبير له ثواب څخه يې په اجر سره وكړی لپاره د تاكيد د ثبوت د دغه ثواب يعني لكه د مزدور اجر چي څوك نه گرځوي دغه رنكه جنت خداى ﷻ له دوی څخه نه سپمولي په مقتضى د وعد د خداى ﷻ لا للوجوب عليه تعالى.

مَّاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا ۝

دوی به او سيږي په دغه اجر كي چي جنت دی ابد الاباد يعني من غير انتها زمان مكثهم في الجنة لكون الجنة دار الخلد.

وَيُنذِرَ الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ۝

او وبيروئ (قرآن يا محمد عليه السلام بواسطة وحي القرآن) هغه كسان چي وايي خداى ځان لره عيال اولاد اخستي دي لكه يهود چي عزير ابن الله بولي، يا نصارى چي عيسى ابن الله بولي، يا بني مدلج من المشركين چي ملائكه بنات الله بولي.

دروښ وايي: چي دا كسان كه څه هم په دله كي د منذرينو اولاً وه يعني الكافرين لكن دلته يې بياد انذار په غشي وويشتل لغلوهم في الكفر.

مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ وَلَا لِآبَائِهِمْ

نسته دوی لره پر ولد د خداى ﷻ يا پر اتخاذ الولد هيڅ علم (كلمه د من لپاره د استغراق نفي ده، يعني دا خبره د دوی د جهل مفرط او د توهم باطل له سببه ده)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه ددوی پلرو لره علم پرسته بلکې تولـه اباء اجداد ددوی هم جاهلان مطلق وه او دا خبره يو د بل له تقليد څخه په دوی کې جاري وه.

كَبُرَتْ كَلِمَةً

پوه سه: چې په (كبرت) کې ضمير مبهم دی او كلمة تمييز دی لپاره د بيان د هغه ضمير مبهم كقولهم ربه رجلاً.

سوال: نحات خو وايي چې (الكلمة لفظ موضوع لمعنى مفرد) كما في الكافية او اتخذ الله ولداً خو جمله او كلام تام دی؟

ځواب: كلمه په اصطلاح کې د نحاتو په معنى مذكوره ده، واما په لغت کې كلام تام ته هم وايي كما ورد في القرآن كلمة الله هي العليا يعنې لا اله الا الله چې كلام تام دی، بلکې قصيدې ته هم وايي كما يقولون هذه كلمة امرء القيس اى قصيدته.

پوه سه: چې نسبت د ولد وخدای ﷻ ته كه نروي او كه ښځه كما مر من قبل دهر شنائع په بر کې لري من التشبيه لان الولد يشابه الوالد، والتشريك واحتياجه تعالى الى ولد چې دده كومك سي او دده قائمقام سي په موت د والد وكل ذالك محال على الله ﷻ.

تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ ۚ إِنْ يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا ۝

راوځي له خولو څخه ددوی (دا صفت د كلمة دی) نه وايي دوی دا خبر مګر دروغ پر خدای ﷻ.

پوه سه: چې ابن مردويه رح له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی چې سره جمع سوه عتبه وشيبه چې دواړه زامن وه د ربيعه او ابوجهل بن هشام، او نضر بن الحارث او عاص بن الواهل او اسود بن المطلب او ابو البختري نور کسان هم ورسره وه، او پر خلاف د عليه الصلوة والسلام او د قرآن يې تر ډون سره وکړی او عليه الصلوة والسلام چې خبر سوه پر غمجن سو پر دې اتفاق د قوم دده پر خلاف، نو دا آيت نازل سو.

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰ آثَارِهِمْ إِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا ۝

شايد چې ته ځان وژنې يعنې له دې ډېره غمه څخه پر اثارو د كفارو يعنې پر علاماتو د انكار ددوی ستا له دين څخه چې په دې تر ډون کې ددوی تاته ورسېدی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دوی ایمان نه راوړي په دغه قرآن سره ان شرطي له جزاء څخه مستغني دي په ماقبل سره (اسفًا) مفعول له باخع نفسک، او یا حال دی ای متاسفًا علیهم لشدة حرصک علی ایمانهم، والاسف شدة الحزن والغضب.

إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۝

موږ ګرځولي دي هغه شیان چې پر مځکه دي، روح المعاني وایي چې له کلمې څخه د ما غیر ذوی العقول عموما مراد دي ای سواء کانت حیوانًا او نباتًا او معدنًا، ښائسته دی د مځکې لپاره وهو زینة لاهلها لان زینة کل شئ کالارض ههنا زینة لاهلها.

سوال: په ما علی الارض کې خو له من غیر ذوی العقول څخه نو حیوانان موزر شیان هم سته لکه لږمان، ماران، لپویان، پرانګان او په نباتاتو کې زهري شیان لکه مړه غوني، څوزان، کروړي الی غیر ذالک هم سته، نو هغه څرنګه زینت د مځکې کېدای سي؟

ځواب: روح المعاني او مظهري وایي چې دا شیان چې زینت د مځکې دي په اعتبار ددې چې پر وجود د صانع او پر صفات کامله وو دده دلالت کوي، سعدي شیرازي وایي:

برګ درختان سبز در نظر هوشیار ... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

او ابن عباس رضی الله عنه وایي چې مراد د ما علی الارض څخه یوازې رجال دي او بعض وایي چې مراد ځنې علماء او صلحاء دي.

دروښ وایي: چې دا دوې ارادې مبني پر دې دي چې بعض محققین د نحاتو وایي چې من د ذوی العقول لپاره دی، کلمه د ما عامه ده. او حسین کاشفي رحمه الله وایي: محققان بر انند که ما علی الارض بمعنی من است و مراد انبیاء یا علماء یا حفظه قرآن است که زینت زمین ایشان اند، بیت:

روی زمین بطلعت ایشان منور است ... چون آسمان بزهره و خورشید و مشتری

وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا ۝

موږ ګرځوو هغه ټوله شیان چې پر مځکه وه یعني عند تناهي عمر الدنیا، چې پر مځکه دي خاوري لانبات فیها ولا مطر، کاشفي رح وایي یعني اخیرًا این همه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمارتها را خراب خواهم کرد پس دل بر ان ننهید وزینت ناپاید ار آن نشوید النهی

جهان از رنگ و بو سازد اسیرت ..... و لی نزدیک ارباب بصیرت
نه رنگ دل کشش را اعتباریست ..... نه بوی دل فریبش را مداریست

حکایت: د هارون الرشید خلیفة المسلمین یو زوی ؤ په عمر د شپارسو کالو زیب وزینت شاهي ته یې شاکړه او تر قبای شاهي یې یوه ګدړی مختاره کړه او د خدای ﷻ عبادت، صوم او شبخیزي یې مختاره کړه او په صادق زړه یې دنیا ومافیها ته الوداع وویل، نو له دې کبله چې په حدیث قدسي کې راغلي دي)من تقرب الي شبرا تقربت الیه زراعا، ومن تقرب الي زراعا تقربت الیه باعا، الی اخیر الحدیث) د خدای ﷻ په دربار کې مقبول او د خاصو بندګانو څخه وګرځېدی، یوه ورځ د هارون دغه زوی تېرېدی د هارون الرشید سره وزیران ناست وه، هغو هارون ته وویل (لقد فضح هذا الولد امیر المؤمنین بین الملوک بهذه الهیئة) رسوا کړی امیر المؤمنین دغه زوی په منځ کې د نړۍ د بادشاهانو په داخپل هیئة سره یعنې چې ګدړی یې اغوستې ده، نو هارون الرشید خپل زوی راوغوښتی او ورته وه یې ویل (یا بني لقد فضحتني بحالک) ده څواب ورنه کړی، شاوخوا یې وکتل یو مرغه پر دېوال ناست ؤ، ده ورته وویل ایها الطائر بحق خالقک راسه زما پر لاس کښېنه، مرغه راغلی دده پر لاس کښېنستی، بیا یې ورته وویل بیرته ولاړ سه، مرغه بیرته ولاړی، بیا یې ورته وویل د امیر المؤمنین پر لاس کښېنه، مرغه نه ورغلی، نو زوی و هارون ته وویل چې زه دي رسوا کړم په منځ کې د اولیاء الله زوی یې ورته وویل چې ته په ما شرمېږې ما هم عزم کړی دی چې له تا څخه ځان لېرې کړم، زوی یې ورغلی کور ته یو قرآن شریف یوه د هارون ګتمی یې واخسته بصرې ته ولاړی، او په هفته کې یوه ورځ د شنبې یې مزدوري د څټو د یو سړي سره کوله، او یو درهم او یو دانق یې مزدوري غوښتل په هغه بې د هفتې د ډوډۍ ګذاره کوله، او هغه سړي د څټو او ده برو دېوال پورته کاوه، خیر یوه شنبه او بله شنبه بې د دغه سړي دېوال پورته کاوه او په یوه ورځ یې د پورې هفتې دېوال پوره کاوه، هغه سړی په دې پوه سو چې دا مزدور له اولیاء څخه د خدای ﷻ دی او غیبي کومک ورسره کېږي، خیر څو عمر وروسته هر څو میاشتې چې وې یوه ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دشپې په ورځ کار ته نه ورغلی، صاحب کار پسې ګرځېدی اخیر یې په یو خرابه کې پیدا کړی چې مریض ؤ، نو دې مریض ماته داسې وویل)

یا صاحبي لا تغتر بتنعم..... فالعمر ینفد و النعیم یزول

واذا حملت الی القبور جنازةً..... فاعلم بانک بعدها محمول

بیا یې ماته وصیت شروع کړی چې غسل به راکړې او دا زما کالي او چینه را کفن کړه، ما ورته وویل یا حبیبي کفن به د نوي ټوکر درکړم، ده راته وویل الحي احوج الی الجدید من المیت یا اباعامر (چې د صاحب کار نوم ؤ) الثیاب تبلي والاعمال تبقی، او بیا یې مصحف شریف او هغه ګوتمی راکړه ول دا به ورورې هارون الرشید ته، او ورته وه به وایه چې ستا غریب زوی وروسته تر سلامه وویل لاتدومن علی غفلتک، ابو عامر وایي چې ما دی وروسته تر غسل دفن کړی، او مصحف او خاتم مي را واخستل د هارون الرشید په دربار کې مي اجازه وغوښتل، او مصحف او خاتم مي ورکړه، او دا ټوله قصه مي ورته وکړه، هارون وژړل او زما څخه یې پوښتنه وکړه چې زما په زوی تا څه کار کاوه، ابو عامر وای ما ورته وویل چې د پوال او د څټو کار مي په کاوه، هارون راته وویل چې تا په ده د څټو کار کاوه وله اتصال برسول الله ﷺ (یعني په نسب کې بالوسائط) ما ورته وویل چې ما خو نه پیژندی، بیا هارون راته وویل چې تا په خپل لاس غسل ورکړی؟ ما ورته وویل نعم، ابو عامر وایي چې هارون الرشید زما لاسونه رامچ کړه او پر ځیګر یې کښېښول، او بیا هارون زما سره راغلی او د خپل زوی زیارت یې وکړی او پر قبر یې اوښکې توی کړې، ابو عامر وای چې څو زمانه وروسته ما د هارون الرشید زوی په خوب ولیدی چې پر یو ښائسته لوی کټ باندې ناست ؤ په یوه لویه خیمه کې، ما پوښتنه د حال څنې وکړه، ده راته وویل صرت الی رب راض واعطاني ما لاعین رئت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر... قطعه:

نگه دار فرصت که عالم دمی است..... دمی پیش دانا به از عالمیست

برفتند و هرکس د رود انکه کشت..... نماند بجز نام نیکو و زشت

دل اندر دلارام دنیا مبند..... که ننشست باکس که دل بر نکند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا ۝

آيا ته گمان كوې چې اصحاب كهف (كهف) فراخه غار ته وايي او كه فراخه وي هغه ته غار وايي (د پښتو او عربي مشترک لفظ دی)

پوه سه: چې كلمه د ام منقطعه په معنی د بل لپاره د انتقال ده، او همزه لپاره د استفهام دی او مخاطب عليه الصلوة والسلام دی (واختلفوا في الرقيم) روح المعاني وايي چې ددوی د سپي نوم دی كما روی عن انس ﷺ والشعبي ؒ وفي رواية عن ابن جبير ﷺ، او روح البيان وايي چې نوم د سپي دی په رومي ژبه او دا يې دليل راوړی دی چې صاحب بن عباد چې يو عارف اللغات شخصيت وُ وايي چې زه متردد وم په معنی كي د رقيم، تبارک او د متاع.

دروښ وايي: چې صاحب بن عباد په اصل لغوي معنی كي متردد ؤ نه په معنی مراده كي ولي چې په معنی مراد خو هر عالم پوهيږي فافهم.

نو دی گرځېدی په قبائلو كي د عربو چې دوی دا درې لفظه په څه شي كي استعمالوي، يوه ورځ يې له يوې بڼځي څخه واوربدل چې له زوی څخه يې پوښتنه وكړه اين المتاع نو كوچني زوی ځواب ورکړی جاء الرقيم واخذ المتاع وتبارک الجبل درې سره لفظه پرې يوه ځای صاحب پيدا كړه، نو دی پوه سو چې رقيم سپی دی او د متاع معنی خميره ده او د تبارک معنی لوړ ختل ده، په قاموس كي وايي چې رقيم پر وزن د امير دی قرية اصحاب الكهف او جبلهم او كلبهم او الوادي او الصحراء او لوح، رصاصي او حجرې چې په دې لوح كي نومان د اصحاب كهف او نسب ددوی او دين ددوی او چې له چا څخه تبنښتېدلي او ولي تبنښتېدلي وه او په دروازه كي د كهف يې اينښي وه، نو پر دې تقدير رقيم فعيل په معنی د مفعول دی ای المرقوم او روح ددې لوح په باره كي مختلف اقوال راوړي دي (۱) من حجارة (۲) من رصاص (۳) من ذهب والمشهور هو الاول والثاني والله اعلم.

فائده: روح البيان وايي چې مخاطب په (ام حسبت) سره خو عليه الصلوة والسلام دی، والمراد انكار حسبان امته آه.

دروښ وايي: چې ددې مطلب دادی چې همزه د ام چې په معنی د بل دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کمامر همزه یې لپاره د انکار دی ددې حسبان، نو غرض د روح البیان دا دی چې دا حسبان د علیه الصلوة والسلام له شانه څخه لیرې دی، نو ځکه مراد انکار د امت دی له داسې حسبان څخه، او روح المعاني وایي چې دا خطاب دی و سید المخاطبین ﷺ ته، والمقصود غیره کما ذهب الیه غیر واحد من العلماء آه، او مظهري وایي چې دا استفهام لپاره د تقریر دی ای اعلمت یعني ته خبر یې، وروسته یې ویلي دي چې بعض وایي چې دا استفهام لپاره د انکار دی یعني لیس اصحاب الکهف چې په لسګونو کلو خدای ﷻ ژوندي ساتلي وه په کهف کې کما سیأتي ان شاء الله تعالی، لیس اعجب آیاتنا، ولي خلق د اسمانو سره د مافیها من الشمس والقمر والنجوم او خلق د ځمکې مع مافیها من خزائن الذهب والفضة والجواهرات الثمینة وما علیها من الاجناس لکه حیوانات، نباتات، معدن په غرو کې د ځمکې والانواع لکه انواع د حیوان من الانسان والحمار وغیرهما، وانواع النباتات من النخل والعنب وغیرهما، وانواع المعدن في الجبال من الجواهرات وغیرها چې حساب یې څوک نسي کولای هغه تر اصحاب کهف عجب دی.

فائده: عجبًا مصدر دی حمل یې یا مبالغةً دی یا په حذف د مضاف ای ذات عجب یا مصدر په معنی د معجبًا وفي الآخیر بحث فافهم.

إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ

یعني ذکر کړه هغه وخت چې پناه وروړه یعني ځای د اوسېدو یې و کړ ځاوه ځوانانو کهف، بغوي وایي چې ددې غار نوم جیرم دی او د غره نوم یې بیجلوس دی.

فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ﴿١٠﴾

نو دوی وویل اې زموږ خدایه موږ ته راکړې له خپلي خوا څخه رحمت یعني الهدایة في الدین والمغفرة من الذنوب والرزق والامن من العدو، او اراسته کړې موږ لره ددې کار ه چې موږ په مخه اخستی دی، یعني الایمان ومفارقة الاقارب وعداوة الکفار، رشدًا، راه راست، بغوي ؒ وایي چې په سبب کې د تلو د دغه ځوانانو و کهف ته اختلاف دی، محمد بن اسحاق ؒ وایي چې اهل انجیل یعني نصاری مرجوا یعني د دین چارې کډوډي کړې او ګنهونه تر حده پرسوه، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بادشاهان یو په بل پسي وه طغیان مائل کیدل حتی عبدوا الاصنام یعني بت پرستي یې شروع کړه او د بتانو پر نامه به یې ذبح کول، او لږ کسان پر دین عیسوي پاته وه متمسکین بعبادة الله ﷻ، اخیر بادشاه چې دا بت پرستي کوله ملک الروم ؤ چې نوم یې دیقانوس ؤ چې دې بادشاه داسي ظلم شروع کړی چې علاوه تربت پرستي یې هغه کسان قتل کول چې له بت پرستي څخه به مخالف وه، او دقیانوس په قرینو او ښارو کې د روم ګرځېدی، هري قریې یا ښار ته چې به ورغلی هیڅوک یې نه پرېښووی چې عبادت د بتانو یې نه وای کړی یا بې وژی، حتی چې دقیانوس و ښار ته د اصحاب کهف چې افسوس یې نوم راغلی، نو پر مسلمانانو دده راتلګ ډېر حیرت واقع کړی حتی چې اهل ایمان به یو ځای او بل ځای پټېدل او هره خوا ته تښتېدل، دقیانوس چې افسوس ته راغلی امر یې وکړی چې په مؤمنانو پسي ددوی په کورو کې او هر ځای ګرځئ او ما ته یې راولئ، چې څوک به یې راوستی دقیانوس به هغه ته اختیار ورکړی چې قتل دي کړم که بت پرستي کوي، نو د چا چې به ژوند خوښ ؤ هغه به فورًا بت پرستي شروع کړه او چا چې به منع وکړه چې عبادت د غیر الله وکړي هغه به یې فورًا قتل کړی، نو هغه چې ایمان به یې مضبوط او محکم ؤ هغو به ځانونه عذاب او قتل ته وسپارل حتی چې دقیانوس به قتل کړه، او د هغو غوښې بې تکړې تکړې کولې د ښار پر شاوخوا او پر هره دروازه د ښار بې ځړولې حتی چې دا فتنه مخ پر لوېدلو سوه، اهل ایمان ته بېله لمونځو، روژو، خیراتو، دعاګانو او تضرع و خدای ﷻ ته بل څه نه سوه پاته، یو څو کسان مؤمنان چې د ښار د اشرافو او وزیرانو زامن وه او دا اته کسه وه، هغو به ژړل او خدای ﷻ ته بې زاری کولې او دوی به داسي ویل (ربنا رب السمٰوات والارض لن ندعوا من دونه آلهًا لقد قلنا اذًا شططًا (مونږ عبادت نه کوو غیر له تا، که مونږ عبادت د غیر الله وکړو (شططًا) قول غلط او فعل غلط مو وکړی) اکشف عن عبادک المؤمنین هذه الفتنة وارفع عنهم البلاء حتی چې په علانیه ستا عبادت وکړي، نو دوی په دغه زاریو او لمونځو بخت وه د دقیانوس عسکر ورته راغله او دوی په حال کې د سجدې وه او ژړل یې او تضرع یې و خدای ﷻ ته کوله، عسکرو ورته وویل ولي د ملک دقیانوس امر نه ورئ یعني عبادة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاصنام، درولاړ سئ چې دقیانوس ته موبوزو، او دې عسکرو داسې رپورټ دقیانوس ته ورکړی چې ته خلک په عبادت د بتانو امر کوې او دغه ځوانان چې ستا د وزیرانو وغیرهم من الاشراف زامن دي په تا پسخند وهي او ستا له امر څخه عصیان کوي، دقیانوس جبار چې دا واورېدل امر یې وکړی چې راحاضر یې کړئ دوی چې یې حاضر کړه تر سترګو یې اوښکې توېدلې مخان یې په خاورو ککړ وه، دقیانوس ورته وویل چې تاسي څه شي منع کړي یاست چې زموږ د خدایانو عبادت وکړئ، تاسي ځانونه خوانین او شرفاء ددې ښار بولئ، یا زموږ د خدایانو عبادت وکړئ یا به مو قتل کوم، نو مکسلمینا ورته وویل چې د دوی مشر ؤ چې موږ خدای لرو چې اسمانونه یې له عظمت څخه ډک دي، موږ عبادت نه کوو له غیره د هغه خدای ﷻ ابدًا له الحمد والتکبیر والتسبیح من انفسنا خالص ایاه نعبد وایاه نسئل الخیر والنجات، واما الطواغیت (یعني بتان) موږ یې عبادت نه کوو ابدًا؛ او تولو ملګرو د مکسلمینا هم دا خبره و دقیانوس ته وکړه، او په پای کې یې ورته وویل هر څه چې راکوې وه یې کړه.

دا خبرې چې دوی و دقیانوس ته وکړې هغه وویل چې د دوی څخه هغه سرداري کالي وکاږئ، ولي دوی خو د وزیرانو زامن وه، نو د مسکینانو کالي یې په واغوستل او ورته وه یې ویل چې تاسي ودریږئ چې زه فارغه سم ستاسي ورې عذاب به درکړم او دا یې هم ورته وویل چې زما مانع له تعجیل څخه د عقوبت ستاسي دادی چې تاسي ځوانان یاست کم سنه یاست خپل په ښه او بد نه پوهیږئ، او زما دا فکر دی چې تاسي ته مهلت درکړم تا چې تاسي د ځانو سره فکر ووهئ او زما ولاړې ته به رجوع وکړئ، نو یې له دربارې وه ایستل، او دقیانوس بل ښار ریا قریې ته ولاړې د ځینې کارو لپاره، نو اصحاب کهف تلل د دقیانوس غنیمت وکیل او د مخه تر بیرته راتلو د ده یې مشوره پر دې سره وکړه چې هر یو دي د پلار له کوره یو اندازه مبلغ راواخلي یو څه دي خیرات کړي او نور دي د خرڅ لپاره وساتي، نو ولاړ به سو هغه کهف ته چې نژدې وښار ته دی په غره کې د بیحبلوس هوړې به پټ سو، او د خدای ﷻ عبادت به کوو حتی چې دقیانوس راسي وربسو د ده په حضور کې به د توحید الهي وظیفه ادا، کړو هر څه چې راکول راو دې کړي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کعب احبار وایي چي دوی چي غار ته تله یو سپی په لار کي په پسې سو. دوی به چغه کړی او ډبري به یې پسي وغورځولې خو چي دوی به راهي سوه سپی به بیرته پسي روان سو. څو واره یې دغسي وکړه، خدای ﷻ په قدرت تامه سره سپی پر خبرو راوستی او داسي یې ورته وویل چي خلګو تاسي زما څخه څه غواړئ زما له خوا مه بیرېږئ فاني احب احباء الله، تاسي به بیده سئ زه به مو پهره داریم. او ابن عباس رضی الله عنهما وایي چي دوی د شپې له دقیانوس څخه وتښتیدل د غره وخواته، دوی اصلاً اووه (۷) کسه وه په لار کي یو شانه هم ورسره ملګری سو او د شاند سره سپی ؤ آه، فخرجوا من البلد الی الکهف ثمانیة نفرًا او یو سپی ؤ، ابن عباس رضی الله عنهما وایي چي دوی چي په غار ننوتل کار یې لمونځ، روژې، تکبیر، تسبیح او تحمید ؤ، ابتغاء لوجه الله ﷻ. او د خرڅ روپۍ یې یوه نفر ته ددوی ورکړې چي نوم یې تملیخا ؤ چي هغه به بنار ته ولاړی په پټه، او تملیخا ترټولو هم ښائسته ؤ او هم دلاوره، او دوی ته به یې ډوډی وغیره او په مشکوله کي اوبه ورته راوړې چي بنار ته ورنژدې سو خپل هغه ښائسته کالي چي د پلار له کوره یې راخستي وه وکښل او زړې جامې د فقیرانو یې واغوستلې چي په داسي کالو کي به مسکینانو او فقیرانو فقرا او سوال کاوه، خیر ډوډی وغیره به یې رانیول او اوبه به یې هم راواخستلې رفقاؤ ته به راغلی، او په عین حال کي به یې احوال پرسي کوله چي خلګ څه وایي زموږ په باره کي فلبثوا في ذالک ما لبثوا، وروسته دقیانوس جبار بنار ته راورسېدی، نو اشراف او وزیران د بنار یې راجمع کړه چي ذبح کړي خوراکي حیوانات د بتانو پر نامه هغو هم داغسي وکړه، نو پټ مؤمنان ډېر په بېره کي واقع سوه او په دغه ورځ تملیخا په بنار کي دی ډوډی وغیره رانسي، ددې خوا چي تملیخا ملګرو ته ورسېدی ژړل یې او طعام یې هم له راخستی ؤ، او ملګرو ته یې خبر ورکړی چي جبار دقیانوس بنار ته راورسېدی، او زموږ تلاش هم جاري ؤ، او له عظماؤ څخه د بنار یې زموږ پوښتنه کول چي هغه څوانان چي مایه قتل څنډولی ؤ څه سول، نو له اصحاب کهف په لویه بېره مبتلا سوه او پر سجده پرېوتل، یدعون الی الله ویفزعون او له دې فتنې څخه یې پناه غوښته، نو تملیخا ورته وویل ای ورونهو پورته کړي سرونه او ډوډی وخورئ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توکل پر خدای ﷻ وکړي هرڅه چې واقع کېږي په اراده د خدای ﷻ دي، نو دوی سره له خو راپورته کړه او ترسترګو یې اوښکې توپدلې، او څه ډوډی چې تمليخا راوړې وه هغه یې هم وخوړل. او دا وخت غروب الشمس نژدې ؤ بیا سره کښېنستل یو ګړی یې خبرې سره وکړې بیا یې اتفاق پر دې سو چې یو ګړی به بیده سو، خیر داسې بیده سوه چې خدای ﷻ یې پر غوږو مهر ولګاوه وکلبهم باسط ذراعیه، د کهف په دروازه کې سپی هم بیده سو، نو دوی ته دې سوه کاله خوب ورپه برخه کړی رب ﷻ، وهم مؤمنون موقنون او هغه د خرڅ روپۍ یې و سره ته پرتې وې، خیر دوی دې بیده وي، سهار دقیانوس د دوی پوښتنه وکړه چې هغه ځوانان چېرې دي خو نه یې کړه پیدا، نو دقیانوس و ځینې وزیرانو ته وویل چې په حال کې د دې فتیه فکر چې یم شاید دوی به له دې سببه ځانونه پټ کړي وي چې دقیانوس موږ وژني، دا د دوی جهل دی زه خو دوی ناحقه نه وژنم که دوی توبه د خپل جهالت څخه کښلې وي او زما د خدایانو عبادت ته تسلیم سوي وي، نو زه یې نه وژنمً، د بنار مشرانو دقیانوس ته وویل چې ته باید رحم ونه کړې پر داسې خلګو چې فاجران وه سرکښه وه یعني ستا امر یې نه ومانه او تا اجل او مهلت دوی ته ورکړی، نو که دوی توبه کښلې وای نو خو راغلي به وای اظهار د توبې به یې درته کړی وای او ستا د خدایانو په عبادت به یې پیل کړی وای، نو چې نه راغله نو معلومه سوه چې عاصیان دي ستا له امر څخه، دقیانوس ته ډېر درد ورغلی دستي یې د هغو پلرونه راوغوښتل چې وزیران وغیره وه، پوښتنه یې وکړه چې زما من مو چېرې دي؟ الذین عصوا امري چابک یې حال راته ووایاست کنه قتل کوم مو، هغو ورته وویل چې موږ خو ستا عصیان نه دی کړی، ته ولي موږ وژنې په ګناه د فاسقانو سرکښانو یعني خپل زامن یې بنوول او دوی زموږ له کورو څخه روپۍ وړي دي په بازارو کې د بنار یې مصرف کړي دي، او بیا په کهف کې د بیجلوس د غره پټ سوي دي، نو دقیانوس دوی له قتل څخه معاف کړه، دقیانوس ته چې دا معلومات ورکړل سو امر یې وکړی چې د کهف خوله په خښتو او ډبرو پسې بنده کړئ تا چې په غار کې د ځان سزا غوره کړي د لوږې او تندې مړه سي او دا غار د دوی لپاره قبر سي، دقیانوس په خپله ورسره ؤ دده دا خیال ؤ چې دوی ویښ دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او زما خبري اوري، نو توبه به وکاږي او دوی خدای ﷻ وفات کړي وه یعني وفات د خوب یعني نه اجل مسمی په وفات سره او سپی یې هم په دروازه کې په هغه خوب بیده وۥ، د قیانوس کاریګران وګمارل د غار خوله یې تپه پسې وترل.

سوال: د قیانوس چې دوی ولیدل او ویښ یې هم په خیال ورغله نو ولې یې دوی نه وژل؟

ځواب: ظاهراً خو د قیانوس عذاب د لوړې او تندي وه دوی ته ورکاوه لکن په باطن کې قدرت د خدای ﷻ کار فرماؤ چې دغه اصحاب کهف علامه او دلیل د بعث بعد الموت وګرځوي د وروسته امتو لپاره وان یبین لهم، ان الساعة لاریب فیها وان الله یبعث من في القبور کما سیأتي ذالک مفصلاً في قصتهم ان شاء الله تعالی، محمد بن اسحاق ؒ وایي چې دوه کسه له اقرباؤ څخه د د قیانوس مؤمنان وه چې ایمان یې له د قیانوس څخه پټ ساتی یو یندروس نومېدی او بل ریاش نومېدی مشوره یې سره وکړه چې د دې فتیه نومان او د دوی صورت حال په یوه تخته کې د میسو نوشته کړي په یو کوچني صندوق کې به یې کښېږدي او تابوت صندوق به په هغه د پوال کې چې د قیانوس د دوی وکهف ته وهلی پټ کړو، وقالا لعل الله ان یظهر علی هؤلاء الفتیة قومًا مؤمنین قبل یوم القیامة فیعلم من فتح هذا الکتاب خبر هؤلاء الفتیة، نو هغو دوو کسانو داغسي وکړه، خیر د قیانوس چې ترڅو چې ژوندی ؤ وروسته دی او قوم دده ټوله مړه سوه، نور باچهان یو په بله پسې راغله.

پوښتنه: ولې یو باچا دغه د پوال د د قیانوس نه کړی ؟ نګ چې د داخل الکهف د خلګو حال ورته معلوم سوی وای؟

ځواب: د نورو باچهانو خو دا خیال ؤ داخل الکهف نفر به له وخته مړه وي او هډونه به یې خاوري سوي وي، نو یې څه کول چې لڅول یې دوی څه خبر وه چې داخل الکهف نفر به روغ رمټ په خوب بیده وي، والله اعلم بحقیقة الحال.

محمد بن اسحاق ؒ وایي چې اخیري باچا د دغو بنارو یو صالح باچا ؤ چې بید وسیس یې باله، نو دده باچاهي چې اته شپیته (۶۸) کاله ته ورسېدله په رعیت کې مختلف حزبونه پیدا سوه، د بعضو ایمان پر خدای او پر وحدت د خدای ﷻ ؤ او دا یې وعده وه چې بعث بعد الموت ای البعث الجسماني حق دی او بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احزابو ددې تکذیب کاوه یعني بعث بعد الموت نسته. دا ددوی اختلاف پر ملک صالح دپر بد تاثیر وکړی، نو تضرع یې و خدای ﷻ ته وکړه چې ته په خپل قدرت سره دا اختلاف دفع کړې او همیشه به یې ژړل او دپر محزون به ؤ په دې چې اهل باطل چې منکران وه له بعث بعد الموت څخه ورځ په ورځ دپرېدل او اهل حق مغلوبه کېدل اهل باطل به ویل چې حشر د ابدانو نسته، کیف یحی العظام وهي رمیم، حتی چې بیدوسیس به بعضې خلکو ته چې ده به خیال د اهل خیر او اهل حق ورته کاوه سړی ورواستاوه هغو به هم ورته ویل چې حشر الاجسام غلطه خبره ده انی یحی هذه الله بعد موتها حتی چې قریب دا وه چې اهل باطل یک لخته پر قدرت راسي او اهل حق به په زاویه د هجران پاته سي او دین د عیسی علیه السلام او د حوارینو دده به له منځه ولاړ سي، نو ملک صالح بیدوسیس په خونه ننوتی او دروازه یې په ځان پسې وتړل او شاهي لباس یې وکښی او ځیره کالي یې واغوستل او لاندې یې ایرې واچولې او شپه و ورځ یې جد وجهد او تضرع کول او خدای ﷻ ته به یې ژړل او دا به یې ویل چې خدایه تاته ښکاره دی زیاتوالی د اهل باطل او مغلوبیت د اهل الحق ته یو داسي دلیل او کرامت ښکاره کړې چې اهل باطل په دې پوه سي او یقین یې سي چې موږ پر باطل یو ..... بیت:

هر کجا اشک روان رحمت شود ..... هر کجا آبر روان سبزه شود
چون فرود آید بلا بی دافعی ..... جز تضرع نیست دیگر کاشفی

نو رحمان رحیم خدای ﷻ چې هلاک د خپلو بندګانو یې نه غوښتی او د ملک صالح دعاء و عوج ته د قبول ورسېدل، نو اراده یې وکړه چې فتیه د اهل کهف دوی راوباسي چې درې سوه (۳۰۰) کاله څه بالا یې دوی په کهف کې ژوندي ساتلي وه او ددوی شان یې ورته معلوم کړی او حجت او دلیل یې وګرځوی پر اهل باطل باندې. یعني ان الساعة آتیة لاریب فیها. او د صالح بیدوسیس خواست قبول سو ویتم نعمته علیه، نو د یوه سړي د اهل بلد چې مواشي یې درلوده په زړه کې یې دا وروا چول چې دا قدیم دهوال ونړوي او د پسو لپاره یو ګاش ځنې جوړ کړي، نو دوه کسه یې مزدوران کړه وبرې یې له دهوال څخه راکښلې او ګاش یې لاندې په جوړاوه حتی چې اخیري ډبره چې د کهف پر خوله پرته وه راوکښل د اصحاب کهف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رعب پر واقع سو کما سیئاتي في القرآن او وتبتبدل. او بیا رب ذو القوة المتین محي الموتی اصحاب کهف د ممتد خوبه څخه بیدارہ کړه او د کهف په منځ کي سره کښېنستل پند خوشاله ژړ مخان یې وه طبعیت یې ډېر طیب ؤ. یو و بل ته یې السلام علیکم وویل د دوی په خیال دا وه چي یوه شپه موږ ییده ؤ، نه یې په مخانو او نه یې د کالو په رنګو کي ناولده شی معلومېدی پر هغه ډول وه لکه دوی چي بیدبدله، او د دوی په زړو کي اوس هم دا خیال ؤ چي جبار دقیانوس به زموږ په طلب کي وي، نو دوی تملیخا ته چي دوی ته به یې له ښاره دوډی راوړله وویل چي ته چي پرون ماپښین د دوډی لپاره ښار ته تللی وې تا څه واوربدل له خلګو څخه چي زموږ په بار کي جبار دقیانوس ته چا څه راپور ورکړی ؤ او که نه. د دوی دا خیال ؤ چي موږ لکه پخوا چي به بیدبدلو هغومره بیده سوي یو. لکن چونکه بدنونه لږ درانه په خیال وو غله، نو یې دا خیال سو چي تر پخوا به ډېر بیده سوي یو څکه یې یو له بله پوښتنه کول کم لښتم کما سیئاتي في القرآن، تملیخا ورته وویل چي هنوز د افسوس په ښار کي جبار دقیانوس راپسي ګرځي چي ښایسا به مو پیدا کړي یا به مو قتل کړي یا به د دوی بتانو ته سجدې کوو فما شاء الله تعالی بعد ذالک فعل، دوی ته مکسلمینا وویل اې وروڼو انکم ملاقوا الله فلا تکفروا بعد ایمانکم اذا دعاکم عدو الله.

سوال: هغه پسو والا یا شپانه ولي د دوی حال په ښار کي نه کړی خپور؟

ځواب: شپانه د دوی د رعب په سبب کورته په حال کي د بېهوشۍ او کویا ورسېدی؟

سوال: اصحاب کهف دا ډېری نه ولیدی چي خطیره څنې جوړېدل؟

ځواب: دوی خو بیده وه چي دا د ډېوال دقیانوس د کهف و خولې ته ښا کړی دوی هیڅ نه دي په خبر سوي، خبر ورو سته دوی تملیخا ته وویل چي پیسې واخله ښار ته ولاړ سه یو خو پټ معلومات کوه چي زموږ په باره کي دقیانوس څه طرز عمل په مخه اخستی دی او فهم ؤ فکر کوه چي څوک درونه پوهېږي او بل ه ووډی ژباته راوړه تر بېګاه چي دي راوړه چي نن موږ ډېر وږي یو قدرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الهي په درې سوه کاله څه بالا کي وږي نه کړه اوس اوس چې راویښ سوه لوږه یې محسوسه کړه" تملیخا هم د پخوا پر ډول خپل د پلار د کور ښه لباس یې وکښی او د فقر لباس یې واغوستی او د ډوډی روپی چې د دقیانوس سکه باندې وه راواخستلې. تملیخا چې تر کهف راووتی د کهف پر شاوخوا یې ډېرې ولیدلې ورته حیران سو چې دا ډېرې د کومې خوا راوړل سوي دي خیر باک یې نه په وکړی حتی چې د ښار دروازې ته ورغلی په ډېره ښېره کي ډ چې څوک را خبر نه سي چې د اصحاب نفر دی.

تنبیه: دوی په دې نه وه خبر چې دقیانوس او قوم دده درې سوه کاله کېږي چې خدای ﷻ هلاک کړي دي، خیر تملیخا چې د ښار دروازې ته ورغلی پر دروازه باندې یې بیرغ د اهل ایمان ولیدی ده چې دا ولیدل تعجب یې وکړی چې پر دې دروازه خو پرون د جبار دقیانوس بیرغ ړېښدی ودې بیرغ ته یې د سترګو تر کونج کتله او یمنًا او شمالاً یې کتل د ښار اوضاع بل ډول په خیال ورغله. خیر دا دروازه یې پرېښول بلې دروازې ته ورغلی پر هغه دروازه هم د اهل ایمان بیرغ ؤ. نو په خیال کي ورغله چې دا هغه ښار نه دی چې تا پرون ورځ لیدلی ؤ او د ښار خلګو ته یې کتل یو یې هم نه پېژندی، او د ځان سره یې ویل لیت شعري ما هذا پرون ورځ خو دا بیرغ د مؤمنانو خوښ ؤ لکن پټ یې ساتی ننه ورځ ښکاره ځلېږي؟! بیا به یې د ځان سره وویل چې بېهوشه یې بیرته به یې وویل چې بېهوشي نو کومه ده، خیر پتو یې پر سر واچاوه په ښارو کي ګرځېدی، په ښار کي یې له ځینو خلګو څخه واورېدل چې زما دي قسم وي په رب د عیسی بن مریم نوره یې په زړه کي ویره پیدا سوه "ورای انه حیران" یعنې په څه نه پوهېږي نو د ښار یوه دېوالې ته ودرېدی او داسې یې له ځانه سره وویل چې پرون خو پر مخ د مځکي داسې څوک نه ؤ چې د عیسی علیه السلام نوم دې اخستی وای. او نن د هر سړي په خوله کي د عیسی علیه السلام نوم دی او بېرېږي هم نه، وروسته یې له یو ځوان څخه پوښتنه وکړه ما اسم هذه المدینة یا فتی قال اسمها افسوس، وروسته تملیخا یو دکان ته چې ډوډی وغیره یې خرڅول ودرېدی چې ډوډی راکښي او هغه روپی یې راوکښلې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې زده سره وې، نو دکاندار ته يې ورکړې چې ماته دده غو روپو ډوډۍ وغيره راکړه. دکاندار چې روپې واخستلې چې وه يې کتلې د دقيانوس نوم پرې نوشتو و. نو دکاندار په تعجب کې سوچ چې او يو بل دکاندار ته يې ورږغ کړه چې ته راسه؛ روپې وګوره بيا بل ته ئې وئم، نو دوی تولو اتفاق وکړی چې دې سړي د ډېر وخت پټه خزانه په مخکه کې پيدا کړې ده. نو تملیخا چې ددوی دا مشورې ولیدلې چې ددې په باره کې يې کوي، نو ډېر سخت وېرېدی او رېږد پيدا شو او رنګ يې تږ سو ددې ګمان دا وُ چې دوی په ما پوه سوه او زه يې وېژندلم او اوس مې ملک دقيانوس ته وړولي او نور خلګ هم راغله له هغو څخه دمخ خلګو پوښتنه وکړه چې دا سړی يعنې تملیخا تاسي پېژنئ؟ هغو ورته وويل يا، نو تملیخا دکاندار ته وويل چې زما څخه يې روپې واخستلې زما روپې بيرته راکړئ دوډۍ مو نه کوم. هغو ورته وويل من انت يا فتى وما شانک والله لقد وجدت كنزاً من كنوز الاولين وانت تريد ان تخفيه منا، نو زمونږ سره ولاړ سه خزانه راوښيه تو مو هم شريک يې، مونږ ستا حال و چا ته نه وايو، او که داسي ونه کړې مونږ دې بيايو سلطان ته وخت ته دې تسليمو و هغه به دې قتل کړي، تملیخا چې ددوی د باچا خبره واورېدله د ځان سره يې وويل چې ته څنې بېرېدې په هغه اخير الامر اخته سوې ده چې ويل دوی مې دقيانوس ته بيايي، نو خلګو ورته وويل چې اې ځوانه والله ستا طاقت نسته چې ته دې زمونږ څخه پټه وسائې پيدا کړې خزانه تملیخا حيرانې واخستې چې دوی ته څه ووايي او دوهره وېرېدی چې خبرې يې هم نه کولې خلګو ددده دسمال واخستې په غاړه کې يې ورواچاوه او کشاوه يې په بازار کې ګډو کې د بنار خلګ لوی او کوچنی پرې راټول وه او ده ته به يې کتل اخير خلګو وويل چې دا ځوان ددې بنار سړی نه دی او نه هم چا تر اوسه پورې په بنار کې ليدلی دی، تملیخا چې دا حالات ولیدل د حيرت په درياب کې غرق سو او ډېره هم وېرېدی، نو ساکت سو خبرې يې نه کولې. د تملیخا خيال دا وُ چې زما چلاړ چې د دقيانوس وزير دا او زما ورونه او بعض قومان چې په دې بنار کې دي چې هغه هم د دقيانوس د حکومت مشران ګوندې سا وويني او ددې خلګو څخه به مې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلاص کړي په دې دوران کې چې دی حیران ؤ په انتظار د پلار او وروڼو ؤ خلګو کش کړی چې راځئ چې و مدیرانو د ښار ته یې ورولو. هغه مدیران د ښار یو دوه کسان وه صالحان چې یو اریوس نومېدی او د بل نوم اشطیوس ؤ. چې تملیخا یې ورسو تی دده دا ګمان سو چې اوس مې نو دقیانوس ته بیایي دده یمیناً او شمالاً کتله او خلګو پر خندل لکه په لېونې پسې چې خلګ خاندي او تملیخا به ژړل او سر به یې د اسمان و خوا ته پورته کړی او داسې به یې ویل "اللهم اله السموات الاورض افرغ علي صبراً" ماته صبر راکړې او ماته دلاوري راکړې په مخ کې ددوی اوزما تائید وکړې په مخ کې د جبار چې مراد یې دقیانوس ؤ او په زړه کې یې دا ارمان ؤ چې زه او وروڼه سره جلا سوو "یالیتهم یعلمون بما لقیت ولو انهم یعلمون فیأتوني فنقوم جمیعاً بین یدي الجبار" ولې چې موږ اتفاق سره کړی ؤ چې موږ به نه سره جلا کېږو په ژوند او مرګ کې.

سوال: دده د زړه په تمنی نو څوک خبر ؤ چې ته یې ترجمانې کوې؟

ځواب: زه دروېش دده د زړه تمنی چې غیب ؤ نه کوم بلکې دا د زړه تمنی دده خودې ده ملګرو ته په وخت کې د اجتماع ددوی بیان کړې ده. اوس بیرته د قصې پر لور: نو دی خلګو وروستی هغه دوو صالحانو مدیرانو ته چې د افسوس د ښار کارواېي د هغو په لاس کې وه، تملیخا ته چې دا معلومه سوه چې دقیانوس ته یې نه بوتلم په هوش کې راغلی او ژړا یې قطع سوه. نو اریوس او اشطیوس چې هغه روپۍ چې خلګو دده څخه نیولې وې او پر هغه د دقیانوس سکه وه وه یې کتلې و تملیخا ته یې وویل چې خزانه چېرې ده چې تا پیدا کړې ده اې ځوانه؟ تملیخا ورته وویل چې خزانه مې نه ده پیدا کړې دا زما د پلار د کور روپۍ او سکه ددغه ښار د باچا ده ولکني لا ادري ماشاني وما اقول لکم" یوه ددغو دوو مدیرانو وده ته وویل چې ته څوک یې؟ تملیخا ورته وویل نه اهله څخه ددې ښار یم، هغو ورته وویل چې د پلار نوم دې څه دی، او څوک تا یاستا پلار په دې ښار کې پېژني؟ ده خپل نوم وروښووی او خپل پلار یې هم ورياد کړی، په ښار کې چې هر څو پوښتنه وکړل سوه چا نه دې پېژندلې او نه یې دده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پلار پېژندي ولي چې درې سوه کاله تېر سوي وه، نو يوه د هغو دوو امرانو ورته ووېل انت رجل کذاب موږ ته صحيح خبره نه کوې، نو بيا تمليخا حيران سو چې زه څه ورته ووايم. نو سر يې کښته کړی او مخکې ته يې کتل بعضې حاضرانو د مجلس وويل چې دا سړی لېونی دی، او بعضې د موقع حاضرانو وويل چې لېونی نه دی ځان يې داغسې اچولی دی چې زموږ څخه ځان خلاص کړي، بيا د امير دېر په غضب او په ترش تندي ورته ووېل چې موږ به په دې خبرو تاته خوشې کړو، او نه به ستا د خبرو تصديق وکړو، دا روپۍ چې ستاد پلار روپۍ دي او دا سکه چې د دقيانوس پر نامه ده دې سوه کاله بالا وخت تېر سوی دی او ته اوس هم ځوان يې، نو موږ خطاباسي او په موږ پسخند وهې موږ دا يو سپين ږيري يو او شاوخوا خلګ چې ته يې وينې د دې ښار رئيسان دي او خزانې د دې ښار د دوی په لاس کې دي او زموږ په تولو حکومتي خزانو کې د دقيانوس د سکې نه درهم سته او نه هم دينار، او زه به امر وکړم چې تاته عذاب شديد درکړل سي بيا به دي تېنګ وترو تر هغو چې دا خزانه چې تا پيدا کړې ده راوويې نه بنيه، تمليخا ورته ووېل چې زه په ستاسي څخه پوښتنه وکړم که تاسي ماته صحيح جواب راکړی زه به هم رشتيا درته ووايم، هغو ورته ووېل چې پوښتنه وکړه موږ حال نه درڅخه پټوو، تمليخا ورته ووېل ما فعل الملک دقيانوس، هغو دواړو امرانو ورته ووېل چې "ليس نعرف اليوم على وجه الارض ملکًا يسمى دقيانوس ولم يکن الا ملک هلک من زمان ودهر طويل" او وروسته تر هغه دېر قرون تېر سوي دي، تمليخا ورته ووېل چې زه حيران يم که رشتيا ووايم هيڅوک د خلګو مې تصديق نه کوي، امرانو ورته ووېل چې که موږ خبره مثلو ور وه موږ يې تصديق کوو، نو تمليخا خپل سرګذشت ورته شروع کړی چې موږ يو څو ځوانان وو پر دين چې اسلام دی، او ملک دقيانوس موږ پر عبادت د بتانو او پر ذبح للطواغيت نو موږ ځني وتښتېدلو، نو په کهف دغره ننوتلو تېره شپه هورې بيده سوو سهار چې راويښ سوو ملګرو زه په دوه ډي پسې ښار ته واستولم او د حالاتو د معلومولو لپاره چې دقيانوس زموږ په طلب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پسې ډې او که ځرنګه ، که یې نه منې راسره ولاړ سئ کهف ته د بجلوس غږه زه به په تاسې ځپل ملګري وویئم فلما سمع اریوس داد تملیخا خبره وویل یاقوم هذه آیة من ایات الله جعلها لکم علی یدی هذا الفتی. درځی چې ددې ځوان سره ولاړ سو ملګري به یې هم وویئو ، نود تملیخا سره اریوس او اشطیوس ور راهې سول اوبل د نیار یعني افسوس صغیر او کبیر سپاره او پیاده د اصحاب کهف پر خوا تا چې زیارت یې وکړي او اصحاب کهف چې اند ښښته یې دمخه ځخه پیدا سوي وه چې تملیخا د دوډی په راورلو کې وهر وځنډ ېدی تر پخوا. نو شاید چې تملیخا به عسکرو د دقیانوس نیولی وي، نو دوی په داغه فکر کې وه او بهر پدله چې تملیخا خو به یې نیولی وي په موږ پسې به هم د دقیانوس فوجیان راسې چې ږغ د دهرو خلګو یې تر غوږو سو او د آسانو شښتنې یې هم واورېدی چې د کهف و خواته را روان دي، نو ددوی غالب ګمان دا سو چې دا فوجیان د دقیانوس جبار دي را استولي یې دي چې موږ بوزي و هغه جبار ته نو پر لمانځه ودرېدل او یو ویل ته یې وصیت او خدای پآمانی شروع کړی او یو ویل ته یې وویل چې پرواه نه لري ورور تملیخا به هم وویئو یعني په مجلس کې د دقیانوس ظالم دوی یو د بله سره ویل چې ورور تملیخا به اوس په حضور کې د جبار دقیانوس ناست وي دقیانوس به زموږ د ورتګ انتظار باسي چې یو ځای مو قتل کړي، دوی په منځ کې د کهف ناست وه چې اریوس او نور ملګري د هغه یې ولیدل پر دروازه د کهف ولاړ دي دوی خو نه پېژندل او نه یې لیدلي وه. تملیخا اول کهف ته داخل سو او ژړل یې یعني له خوشالیه، نو دوی هم په ژړا سوه، نو یې ملګرو پوښتنه ځنې وکړه چې دا څه قصه ده، نو تملیخا ټوله قصه ورته وکړه نو دوی شکر د خدای ﷻ ووایه، یو پر دې چې موږ یې درې سوه کاله څه بالا په خوب بیده وساتلو، او بل پر دې چې زموږ مقاومت د جبار دقیانوس سره پر حق و او هم داوس چې یې موږ راوېښ کړو لپاره ددې چې دا درې سوه کاله څه بالا زموږ خوب چې اخ الموت دی دلیل وګرځي پر دې چې بعث الموت حق دی وان الساعة آتیة. نو تملیخا وروسته اریئوس کهف ته داخل سو. ده یو صندوق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولیدی د مسو چي مهر پر هغه د سپینو زرو وهل سوی ډبي یو په یو کنج کي تر دبرو لاندي د صندوق یې خلاص کړی. یعني یو سړی یې د مشرانو د ښار راوغوښتی چي هغه ور خلاص کړی فعل ذالک للدفع التهمة په صندوق کي دوي تختي د قلعې وې، پر هغو نوشته وه چي (۱) مکسلمینا (۲) فخشلینا (۳) تملیخا (۴) مرطوش (۵) بشرطونس (٦) بیربیوس (۷) دیلموس (۸) یطنومونس. کانوا فتیة هربوا من دقیانوس الجبار مخافة ان یفتنهم عن دینهم فدخلوا هذا الکهف، بیا چي دقیانوس په خبر سو د کهف خوله وربنده کړه تاچي له لوړې او تندي څخه مړه سي او موږ ددوی حال نوشته کړی تاچي آیندنۍ نسلونه په خبر سي. آریوس چي دا لیکلي وویل حمد د خدای ﷻ یې ووایه، او دده اوو ملګرو ته یې تعجب وکړی وحمدوالله علی ان اراهم آیة البعث بعد الموت او په لوړ اواز یې حمد او تسبیح وویل. وروسته اریوش سره د بعضې عظماؤ کهف ته داخل سوه، نو دوی ولیدل په منځ کي د دوو جانبو د کهف ښائسته او سپین مخان یې وه او کالي یې هم نه وه زاړه سوي فخر اریوس واصحابه سجوداً وحمدوالله الذي اراهم آیة من آیاته یعني دلیلاً علی ان البعث بعد الموت حق وان الساعة آتیة. بیا اریوس او ملګرو دده د اصحاب کهف سره خبرې شروع کړې او اصحاب کهف و دوی ته هغه ظلمونه او کړاوونه چي د دقیانوس جبار له خوا پر دوی تپل سوي وه ورته بیان کړه چونکه بیدوسیس الملک د مملکت یو بل ښار ته تللی ؤ، نو اریوس و هغه ته وویل یعني استازی وروالستاوه چي ژر راسه لعلک تنظر الی آیة من آیات الله جعلها الله علی ملکک وجعلها آیة للعالمین لتکون لهم نوراً وضیاءً وتصدیقاً للبعث بعد الموت، فاتجل الی فتیة بعثهم الله تعالی یعني من النوم او خدای ﷻ دوی په خوب کي ساتلي وه بالا تر دري سوه کاله، ملک صالح ته چي دا خبر ور ورسېدی ولاړ سو او زړه یې خای ته ورغلی او هغه غم چي دوی ورسره دست و ګریبان ؤ کمامر من قبل زائل سو، فقال احمدک رب العالمین رب السموات والارض واعبدک واسبح لک. زما سره دي وهر احسان وکړی او پر ما دي رحم وکړی او هغه نور د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسلام ورک نه سو چي تا زما آبا او اجداد ته ورکړی ؤ خصوصاً للعبد الصالح الملک قسطیطونس، بیدوسیس الملک وروسته تر خبر رسېدلو سمدلاسه سفر کوتاه کړی او د افسوس دار المسک و خواته راهي سو، راوي وایي چي ملک الصالح چي افسوس ښار ته راورسېدی سم دستي د کهف سره د وزیرانو او نور اکثره ښار وال د افسوس هم ورسره راروان سوه، اصحاب کهف چي بیدوسیس ولیدی خوشاله سوه چي مسلمان سلطان مو د افسوس ښار ولیدی وخروا سجداً علی وجوههم، او بیدوسیس ورته ولاړ ؤ، بیا یې په غاړه کي لاسونه سره واچول اصحاب کهف پر مځکه ناست وه "یسبحون ویحمدون" وروسته اصحاب کهف بیدوسیس ته دعا په دغو الفاظو وکړه "نستودعک الله والسلام علیک ورحمة الله وحفظک الله ﷻ وحفظ ملکک ونعیذک بالله من شر الانس والجن" بیدوسیس ورته ولاړ ؤ اصحاب کهف پر خپلو ځایو پرېوتل بیده سوه وقبض الله ارواحهم بالاجل المقدر لهم، بیدوسیس چي وکتل ټوله مړه وه، انا لله وانا راجعون یې ووایه او ددوی کالي یې پر سم کړه او امر یې وکړی چي هر یوه ته د سر و زرو تابوت ورجوړ کړئ، تر مانښامه سلطان صالح او نور کسان دالته د کهف په خوله کي شپه تېره کړه د شپې چي بیدوسیس د خوب په دریاب کي غرق سو اصحاب کهف یې په خوب ولیدل هغو ورته وویل انا لم نخلق من ذهب ولا فضة ولکن خلقنا من تراب نعیر فاترکنا في الکهف علی تراب حتی یبعثنا الله من التراب، بیدوسیس امر وکړی چي د کهف پر خوله دي عظیم الشان مسجد جوړ کړل سي چي زائرین لمونځونه پکښې کوي، او دا ورځ یې ورځ د عید یعني اختر وټاکل په هر کال کي په دغه تاریخ زائرین په زرګونو جمع کېدل.

دروېش وایي: چي دا ؤ تفصیلي بیان د اصحاب کهف، والعلم عند الله ﷻ تفسیر حسیني هم ورته قصه ددوی کړې ده لکن دا ډېره مختصره، اوس بیرته د قرآن کریم د آیاتو د تفسیر پر خوا ان شاء الله تعالی والتوفیق من الله ﷻ.

فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ اٰذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا ﴿۱۱﴾

مونږ ولګاوه پر غوږونو ددوی یعنې یو حجاب چي مانع د وصول د اصواتو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وګرځي ددوی غوږونه.

پوه سه: چي دا آیت بنا دی پر تشبیه د نوم ثقیل چي مانع له رسېدلو څخه د آوازو وي په ضرب الحجاب سره "في الكهف" ظرف دی د "ضربنا لپاره ظرف مکان "سنين" ظرف زمان دی د ضربنا "عدداً" ای ذوات عدد چي درې سوه نهه (۳۰۹) کاله وه کما سیأتي.

پوه سه: چي وصف د "سنين" په "عدداً" سره لپاره د تکثیر دی وهو الانسب بکمال قدرته تعالی في الاتمامة بالمقدار المذکور.

ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ لِنَعْلَمَ اَیُّ الْحِزْبَیْنِ اَحْصٰی لِمَا لَبِثُوْۤا اَمَدًا ﴿۱۲﴾

یعني راویښ مو کړه له خوبه، په دې کي اشاره ده ودې ته چي راویښول له نوم ثقیل څخه لکه بعث بعد الموت دی لانهم قالوا النوم اخ الموت، په لوازمو کي چي ژوند یې معطل سي او لکه جماد داسي وګرځي، پوه سه! چي علم دلته په معنی د امتحان دی "ای الحزبین" کوم یو له دوو ډلو څخه چي اندازه و بعث ته ددوی لګول او یا تفویض د علم یې و خدای ﷻ ته کاوه کما سیأتي. له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي یو حزب پخپله فتیه وه چي ویل به یې وروسته تر ویښېدلو یوماً او بعض یوم کما سیأتي، او بل حزب یې هغه ملوک دي چي ملګا بعد ملګا پر ښار د افسوس سلطنت کاوه کمامر في تفصیل القصة "احصی" فعل ماضي ده یعني ضبط کوي یې دی "لما لبثوا" یعني لبث ددوی، نو کلمه د ما مصدریه ده "امداً" از روی غایت اوپای، نود اصحاب کهف لپاره چي مؤمنان وه خپل عجز بنکاره سي و یفوضوا ذالک الی العالم کما سیأتي. او اخیر الامر به دوی ته خپل حال ور معلوم سي چي خدای ﷻ ددوی ابدان څرنګه درې سوه نهه کاله ساتلي وه له تغیر څخه. نو ایمان به یې زیات سي، او د مؤمنانو د هغې زمانې لپاره به اظهار د لفظ الهي وګرځي او آیة بینة به وګرځي پر کفارو د هغې زمانې چي له بعث بعد الموت څخه یې انکار کاوه کمامر في تفصیل القصة.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَیْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ ؕ

موږ تاته یا محمد (ﷺ) قصه کوو او تاته بیان کوو او تا خبروو "نبأهم" ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبر اصحاب الكهف والرقيم "بالحق" صفت دی د مصدر محذوف ای نقص قضا متلبساً بالحق، يعني داسي قصه نه ده لكه قصه كونكي چي قصې كوي حق او باطل پكښي گډوډ وي.

اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنٰهُمْ هُدًى ﴿۱۳﴾

دوی يوه ډله د ځوانانو وه چي ايمان يې راوړی ؤ پر رب ددوی يعني بالتوحيد بدون الشريك له لا في الذات كما يقوله الثنوية ولا في المعبودية كما يقوله الوثنية يعني بت پرستان: او زيات كړی ؤ موږ دوی ته هدايت يعني ثبات پر دين د اسلام. او سره ددې چي دوی د ډېرو كړاوونو سره مخامخ سوه د جبار دقيانوس له خوا څخه بيا هم خدای ﷻ دوی ته توفيق د ثبات پر دين قوي ورکړی.

فائده: په دې كې اختلاف دی چي دوی د كومي زماني مؤمنان وه. بعض علماً وايي چي دوی دمخه تر عيسى بن مريم وه او عيسى عليه السلام خبر ددوی و قوم ته ورکړی ؤ او له خوبه راويښېدل ددوی وروسته تر عيسى عليه السلام يعني في زمان الفترة بين عيسى و محمد عليهما السلام، او بعض مفسرين وايي چي دوی پر دين د عيسى عليه السلام وه قال الطبري وعليه اكثر العلماً.

دروښ وايي: چي دا د هغه سوال ددوی اجابت ؤ چي دوی په كهف ننوتل او داسي ځواست يې وكړی "ربنا آتنا من لدنك رحمةً وهيئ لنا من امرنا رشداً" ولي چي دوی په هغه وخت كي چي دا سوال يې كاوه ايمان بالغيب ؤ بالانبياً والبعث بعد الموت، نو خدای ﷻ و دوی ته زيات كړی هغه هدايت بالغيب چي درې سوه نهه كاله يې په خوب كي وساتل او ځواني يې پر ځای وه او كالي يې هم نه وه خيرن سوي. نو ايمان يې د عيان درجې ته ورسېدی: او غيب چي ايمان پر بعث بعد الموت ؤ په مترگو يې په وليدی، وهذا معنى الحديث القدسي "من تقرب الي شبراً تقربت اليه ذراعًا الى اخير الحديث".

وَّرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا

او قوي كړه موږ ددوی زړونه چي هجرت د اقرباؤ مور او پلار او له نعمتو څخه يې وكړی يعني بنه نعمتونه او بنې بنې جامې ور رسېدلې، ولي چي دوی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دقیانوس د وزیرانو زامن وه هغه یې ټوله په زاویه کې د هجران وګرځول او بې خوفه یې اظهار د توحید د معبود بالحق وکړی "اذقاموا" چې دوی ودریدل پد حضور کې د دقیانوس جبار چې هغه دوی ته سخت عتاب وړکړی پر ترک د عبادت الاصنام او دوی هیڅ پرواه په ونه کړه بلکې اظهار د حق یې ورته وکړی په حدیث صحیح کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وایي "افضل الجهاد کلمة الحق عند سلطان جائر" بهترین جهاد خبره د حق ده په حضور کې د باچا چې ظالم وي، ددې سبب دادی چې مجاهد ظاهري په منځ کې د خوف او رجا دی او سلطان جائر ته حق ویل سل په سل کې ځان و هلاکت ته سپارل دي.

فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

دوی وویل (یعني په حضور کې د دقیانوس الجبار چې دوی یې امر کړې په عبادت سره د بتانو سره د تهدید د قتل) چې زمونږ رب یعني المعبود هغه ذات دی چې خالق د اسمانو او محکي دی یعني لانعبد الاصنام التي هي جمادات.

لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا ﴿۱۴﴾

مونږ عبادت نه کوو پرته له هغه ذاته د هیڅ معبود لان کل ماسوا من المعبودات باطل سوا کان من الجمادا او غیرها. که چېرې بل معبود مونږ ووایو بالفرض، نو مونږ داسې خبره وکړه چې ذاشطط ده یعني التجاوز عن الحق. نو شطط صفت د قول محذوف دی په تقدیر د مضاف او یا قول عین شطط دی مبالغةً نحو زید عدل، وهذا المجاز شائع في لغة العرب.

هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ

دغه کسان یعني اهل بلدة افسوس یعني اکثرهم التابعین للملک دقیانوس الجبار، زمونږ قوم دی یعني سره هم نسب یو چې دوی ګرځولي دي ماسوی له خدای ﷻ معبودات چې بتان دي.

پوه سه: چې هؤلاء مبتدأ ده او قومنا یې عطف بیان دی او اتخذوا یې خبر دی په تعبیر د اسم الاشارة تحقیر ددوی غرض دی ..... مثنوي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پیش چو بی پیش سنگ نقشی کنند ..... ای بسا گولان که سرها مینهند
دیو الحاح غوا تیت میکند ..... شیخ الحاح هدایت میکند
(دیو یعني شیطان، الحاح کوشش، شیخ، پیر طریقت)

لَوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ

ولي دوی راتګ نه کوي علیهم ای علی الوهیت تلک الاصنام په یو دلیل ظاهر یا عقلي یا نقلي.

پوه سه: چي لولا په معنی د هلا دی (چرانمی آرند کافران) دا آیت انکار او تهدید دی پر بت پرستانو.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾

څوک دی لوی ظالم چي پر خدای ﷻ درواغ وایي یعني چي خدای ﷻ لره شریک په معبودیت کي بولي یعني بتان.

پوه سه: چي استفهام لپاره د انکار دی، یعني تر دغو کسانو لوی ظالم نسته یعني هم دغه کسان لوی ظالمان دي، نوعذاب یې هم اشد دی تر هر ظالم.

وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ

هغه وخت چي تاسي ګوښه سوالست له دوی څخه یعني ددوی له عقیدې څخه د شرک او اراده د اعتزال جسمائي هم لرئ.

پوه سه: چي دا خطاب د اصحاب کهف خپل تر منځ دی، دروښ وایي چي د اعتزال جسمائي قید غواړي تاچي جزا یعني قولهم فاوٗا الی الکهف پر مرتب سي فافهم.

پوه سه: چي "وما یعبدون" عطف دی پر ضمیر منصوب یعني هم، و کلمة ما مصدریة والمعنی او له عبادت څخه د غیر الله.

فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ

نو پناه یوسئ و کهف ته د غره، په دې آیت کي اشاره و دې ته ده چي اعتزال د عقیدې اعتزال د جسم هم غواړي په مجمع الفتوی کي وایي چي یو سړي د امام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رستغفني څخه پوښتنه وکړه چې نکاح د اهل سنتو د اهل اعتزال سره روا ده؟ ده په ځواب کې ورته وويل لايجوز. لان الاعتزال في العقيدة يقتضى الاعتزال الجسماني، يعني په نکاح ددوی سره څو اجتماع جسماني ستنه.

يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿۱۶﴾

دا ځواب د امر دی والمعنى فراخي به جوړه کړي رب ستاسي له رحمت څخه چې في الدنيا والآخرة او اسانه به کړي خدای ﷻ ستاسي له حال څخه چې تهيئته د دين په سبب د داسي شي چې تاسي نفع پرې واخلئ يعني رزق وغيره.

سوال: دا غيب حال دوی ته څه معلوم سو؟

ځواب: له قوت څخه د اعتقاد او د يقين د خدای ﷻ پر رحمت باندې. له دې سببه په حديث صحيح کې راغلي دي چې "ادعوا الله وانتم موقنون بالاجابة. لان القدرة عامة والرحمة شاملة والله يعلم بوطن عباده" شيخ شيرازي وايي:

ای کريمی که از خزانه غيب ..... گبر وترسا وظيفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم ..... تو که با دشمنان نظر داری

وَتَرَى الشَّمْسَ اِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ

او ته وينې (يا محمد (ﷺ)) او يا هغه سړی چې صالح د خطاب وي او روية له ده څخه راتلای سي) لمر چې د مشرق له خوا راوخېژي (پوه سه! چې د کهف خوله د جنوب و خواته ده) "تزاور" اصل يې تتزاور وو يوه تا يې حذف کړه، مېلان کوي او ګوښه تېر ېږي له غار څخه ددوی (الاضافت اليهم لادنى ملابسة. ولي غاره څو په حقيقت کې غر دی لکن دوی اوس پکښې استوګنه لري) و جهت ته د يمين الكهف عند توجه الداخل الى قعر الكهف چې د داخل د مغرب خوا ده، نو شعاع د لمر پر دوی نه واقع کېږي چې ازار ورورسوي.

وَاِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ

"واذا غربت" ای تراها عند غروبها "تقرضهم" ای تجاوز عنهم و جهت ته د شمال د کهف چې جانب د مشرق دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې مقام فهم اسانه دی چې خوله د کهف جنوب سي.

پوه سه: چې بعض مفسرين لکه قتيبه رح ددې مقام حل د رياضي پر مدار د لمر بيان کړی دی. لکن نور علماً دا توضيح المقام د قتيبه خطأ بولي. او روح البيان وايي چې دا تجاوز د لمر ددوی له کهف څخه ذات اليمين او ذات الشمال خرق العادة بولي کرامةً لهم. او مظهري رح وايي چې صرف د لمر له دوی څخه په قدرت د خدای ﷻ دی او دليل يې دا قول د خدای ﷻ گرځولی دی چې رابسي "ذالک من آيات الله" يعني دا تبرېدل د لمر په وخت د طلوع او غروب ذات اليمين والشمال له عجائبو څخه د صفت د خدای ﷻ ودلالات قدرته التي يعتبر بها.

پوښتنه: چې دمخه په قصه کې تېره سوه چې دقيانوس د دوی د کهف خوله بنده کړه د ډبرو په دېوالله، نو د کهف خوله چې بنده وي، نو وړانګې د لمر خو تر باب مسدود نه سي ورننوتلای حتی يحتاج الی التزاور والقرض؟

ځواب: دوی چې په کهف کې داخل او بيده سوه دقيانوس هغه وخت په دوره نورو ښارو ته تللی وُ والله اعلم چې ده څو مياشتې په دوره کې تېرې کړې وې هغه وخت څو د کهف خوله خلاسه ولاړه وه او تزاور او قرض ته يې ضرورت درلودی، دقيانوس چې وروسته تر تلاش ددوی ځای پيدا کړی او بند يې کړی په دېوالله سره د ډبرو او خټو وقد مر بيان ذالک في تفصيل القصة.

دروښ وايي: چې روح المعاني هغه توجيه د رياضي د مدارات راوړې ده په نقل سره د عبد الله بن مسلم اوابن عطيه، لکن زجاج ذالک البحر الزاخر وايي چې دا توجيه پر طرز د رياضيينو صحيح نه ده بلکې اصل وجه د تزاور او قرض يمينًا او شمالاً صرف قدرت د خدای ﷻ دی علی منهاج خرق العادة کرامةً لهم.

وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ ۚ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ

او اصحاب کهف په فراخه ځای کې د کهف دي نه په غار کې تکليف درسېږي نه د هوا تعفن، کلمه د من موصوله مبتدأ متضمن معنا لره د شرط ده ځکه يې په خبر کې فا راوړه او عائد و من ته محذوف دی ای من يهده يعني چا ته چې توفيق د هدايت خدای ﷻ ورکړي. نو هغه لار ته د حق رسېدونکی دی او دغه فلاح د عذاب اخروي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې آیت مصداق اصحاب کهف دي، ولې سره ددې چې دوی د وزیرانو زامن وه او پلرونه یې اتباع د دقیانوس وه په بت پرستی بیا هم دوی ته خدای ﷻ توفیق د راه راست او د اسلام ورکړی چې په هیڅ کړاو سره له هغې لارې څخه برګشته نه سوه کمامر تفصیله.

وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾

که څوک خدای ګمراه کړي ته نسې پیدا کولای ناصر دده او لارښوونکی.

وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا وَّهُمْ رُقُوْدٌ ۚ

ستا خیال پر کېږي ایها المخاطب یعني ان رئیتهم چې دوی ویښ دي ولې چې سترګې یې رونې دي او یوې خوا بلې خوا ته ګوري او په حقیقت کې دوی بیده دي په سه: چې "رقود" جمع د راقد ده لکه قعود چې جمع د قاعد ده.

وَّنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۚ

او موږ یې یعني بهله ارادې ددوی یعني مرةً للجنة ذات الیمین ومرةً ذات الشمال، نو په کال کې دوه واره، او ابن عباس ﷺ وایي چې په کال کې یو وار له یوه جانب څخه و بل جانب ته اړوي لئلا تاکل الارض لحومهم.

پوښتنه: خدای ﷻ چې پر دې قادر دی چې درې سوه نهه کاله یې دوی په خوب کې وساتل، نو پر دې خو هم قادر چې بهله تقلبه دي محکمه ددوی غوښې نه وخوري فما معنى التعليل في قول ابن عباس ﷺ؟

ځواب: دا بنا پر عالم اسباب دی،

وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيْدِ ۭ

او سپی ددوی غځولي یې دي لاسونه په فنا کې د دروازې.

پوه سه: چې نحات د کرفې مطلقًا عمل د اسم فاعل روا بولي، یعني که په معنی د حال یا ماضي یا استقبال وي، او نحات د بصرې یې عمل مشروط بولي چې اسم فاعل په معنی د حال یا استقبال وي، نو دوی باسط دلته حکایت د حال ماضیه بولي یعني ماضي یې حاضر في الحال ګرځولې ده وذالک شائع في العربية فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: عکرمه ؒ له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی او اکثره مفسرین هم پر دغه مسلک دي چې کلب په آیت کې په معنی معروف سره دی چې په پښتو یې سپی بولي، او یو شاذ روایت د ابن جریج څخه منقول دی چې دلته کلب په معنی د اسد دی یعنې زمری.

دروبش وایي: چې دا روایت له تفصیل څخه د قصې مخالف دی والله اعلم.

فائده: مشهوره داده چې نوم یې قطمیر ؤ او له حضرت علي ؓ څخه روایت دی چې نوم یې زبان ؤ، اوزاعي ؒ وایي چې نوم یې تقور ؤ، او سدي ؒ وایي چې نوم یې تور ؤ، او کعب ؒ وایي چې نوم یې صهبا ؤ، خالد بن معدن ؒ وایي چې هیڅ شی له دوابو څخه په جنت کې سوی له کلب څخه د اصحاب کهف نسته... بیت:

پسر نوح با بدان بنشست خانه نبو تش گم شد
سگ اصحاب کهف روزی چند پی پاکان گرفت مردم شد

لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿۱۸﴾

که ستا اطلاع راسي پر دوی او ورته وګورې و دوی ته یا محمد (ﷺ) ته به شا وګرځوې دوی ته (پوه سه: چې فراراً منصوب دی مفعول مطلق دی لان الفرار نوع من التولي کما لایخفی. نو حاصل د تولیت هربت منهم) او ستا زړه به ډک سي په ډیره له دوی څخه. قیل لاجل وحشت المکان. او کلبي ؒ وایي چې په دې سبب چې د دوی سترګې لکه د زړوندو خلاصې وې ستا به دا خیال وې چې اوس به زما سره خبرې وکړي، وقیل غیر ذالک. والصحیح دوی سائلي دي له دخول څخه د بوچا پر دوی بالقا الرعب في قلب من یرید الدخول علیهم. له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې مور د معاویه ؓ په مشرۍ چې د غزوة المضیق په نامه شهرت لري د روم خوا ته تللي ؤ. نو معاویه ؓ چې د دوی پر کهف تېرېدی وه یې ویل چې کاشکې مور دا د کهف دروازه ورخلاصه کړې وای او اصحاب کهف مو لیدلي وای، نو ابن عباس ؓ ورته وویل "قد منع من ذالک من هو خیر منک یعني رسول الله ﷺ حیث قال الله تعالی لو اطلعت الآیة خیر معاویه ؓ دده خبره وه مثل یو څوک سه یې ور واستول چې تاسي ورسئ د غار خوله خلاصه کړئ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصحاب کهف وگورئ، دوی چې د کهف دروازه خلاصوله یو باد خدای ﷻ پیدا کړی چې اوړ پکښې وٴ تیوله استولي کسان یې وسول. ددې واقعې روایت ابن ابي شیبه او ابن المنذر او ابن ابي حاتم ؒ کړی دی.

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ؕ

او دغسې (لکه موږ چې دوی بیده وساتل په کهف کې مدة طویلة یعنې درې سوه نهه کاله، او بدنونه ددوی مو وساتل مع طول الزمان) دوی مو راویښ کړل له دغه اوږده خوب څخه (چې کټ مټ لکه مرګ یعنې آیة علی کمال قدرتنا) چې دوی یو له بله څخه پوښتنه وکړي. نو به دوی په خپل حال وما صنع الله بهم کمامر في القصة الطویلة. نو یقین به یې نور هم زیات پر قدرت د خدای ﷻ راسي او دوی ته به پوره بصیرت او پوهنه په بعث بعد الموت کې حاصله سي، او شکر به ووایي د ما انعم الله علیهم.

دروښ وایي: چې پر دې تقریر لام جاره لپاره د علت د بعث دی. لکن بغوي وایي چې دا لام لام العاقبة دی کما في لهم لدوا للموت وابنوا للخراب و نسب هذا القول الی علي ﷺ، بغوي ؒ وایي چې دوی خو د سوال لپاره خدای نه وه بعث کړي بلکې ددې لپاره وه چې د قدرت عظیمه د خدای ﷻ دلیل وګرځي کمامر في قصتهم.

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ؕ

وویل یو قائل له دوی څخه چې رئیس ددوی ؤ مکسلمینا څومره وخت به تېر سوی وي زموږ په خوب کې. ولي چې د هغه سائل په خیال خوب څه دراز ورغلی تر معتاد، او بعض مفسرین وایي چې دا پوښتنه یې ددې لپاره وکړه چې بعض لمونځونه خو به نه وي راڅخه قضاسوي.

قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ

دوی وویل موږ په درنګ کړی وي په کهف کې یوه ورځ یا بعض د یوې ورځې، ولي دوی چې کهف ته داخل سوه سهار وختي ؤ او د مازدیګر په وخت کې راویښ سول لمر ته یې فکر ؤ دوی چې ویل لمر به لوېدلی وي، نو یوه ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې ذکر کړه وروسته چې يې و لمر ته وکتل لږ وخت د لوېدلو يې پاته ؤ، نو يې وويل "اوبعض يوم".

پوه سه: چې دا جواب يعني بعض يوم مبني دی پر غالب الظن ددوی، نو دا دليل دی پر دې مسئله چې قول په غالب الظن روا دی كما لمجتهدی الامة في المسائل القياسية خلافًا للوهابية والسلفية واصحاب الظواهر الحديث، اخير مکسلمينا چې رئيس ددوی ؤ وويل چې اتفاق پر دې خبره وکړئ.

قَالُوا رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ

چې خدای ﷻ ستاسي ښه خبر دی، کلمه د "ما" مصدريه ده ای بلبثكم.

فَابْعَثُوا أَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ

نو واستوئ يوستاسي سره د روپو او نقدو چې دغه دي و ښار ته يعني افسوس. يعني تمليخا چې د ډوډۍ راوړل له ښار څخه د هغه پر ذمه وه.

پوه سه: چې ورق سپينو زرو ته وايي چې سکه پر وي، دغه چې دوی له پلرو څخه راخستي وه كمامر في القصة او دا ورق مضروب په نامه د دقيانوس وه.

پوه سه: چې زود چې يې له کورونو را اخستی منافي د توکل سره نه دی ښل هو ديدن المتوکل.... مصرع: کسب کن پس تکيه بر جبار کن.

فَلْيَنظُرْ أَيُّهَا أَزْكَىٰ طَعَامًا

بحذف المضاف ای اهل المدينة يعني طعام يې حلال دی ولي چې په مدينه کې طعام خرڅونکي مؤمنان وه چې ځانونه يې پټ ساتل چې طعام به يې د غصب او سرقې نه ؤ او بعض وايي چې هغه ارزانه طعام وي.

فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا ﴿١٩﴾

اې د هره نرمي په معامله کې يا کوم دکاندار يې خطا نه باسي. او يا دې تکلف پر ځان د پټهدو کوي چې څوک يې ونه پېژني، او نه خبره وي په ځان هيڅ څوک.

إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ

په تحقيق که اهل د ښار چې د جاهليت نوم يې افسوس ؤ او اسلامي نوم يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته طرطوس وگرځېدی، ومعنی د انهم ان یظهروا علیکم چې تاسي ګډوډ پېژندلاست چې دا هغه تبنتبدلي کسان دي.

يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوا إِذًا أَبَدًا ۝

په ډبرو به مو سنګسار کړي "او یعیدکم" ای یصیرکم جبراً في ملتهم. او هرګز فلاح نسي پیدا کولای که ددوی په ملت کي داخل سي.

پوښتنه: اصحاب خو دسره ددوی په ملت کي نه وه، نو د اعادت څه معنی ده؟

ځواب: اعاده دلته په معنی د تصییر ده ای یصیرکم جبراً في ملتهم.

فائده: بعض متقدمین د علماً کرامو وایي چې ما حساب کړه حروف د قرآن مجید نیمی د قرآن په قول کي چې سورة کهف کي واقع دی "ولیتلطف" کي پیدا کړی لام ثاني یې نصف اول راغلی او طا او فا په نصب ثاني کي حساب سوه کذا في البستان، وهذا من لطائف ذهنه الوقاد رحمه رب الارباب.

وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ

داغه رنګه (لکه موږ چې بیده کړي وه زمانًا طویلاً (۳۰۹) بیا راوپاڅول تا چې دوی ته بصیرت زیات سي په قدرت کي د خدای ﷻ) داغه رنګه موږ خبر کړه یعني اهل د افسوس المؤمنین والکافرین، چې پوه سي هغه خلګ چې هغوی موږ پر دوی مطلع کړه. دا چې د الله تعالی وعده بالبعث بعد الموت حق ده. لاڼ نومهم مدة طویلة (۳۰۹) بیا وروسته بیداري ددوی لکه ځان د هغو خلګو چې مړه سي او بیا په قیامت ژوندي سي.

وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا

او قیامت موعود هیڅ شک نسته پکښې او له دائره څخه د امکان او د قدرت عظیمه د خدای ﷻ وتلی شی نه دی، فان من توفی نفوس اهل الکهف یعني بالنوم الطویل درې سوه نهه کاله په داسي شان چې ابدان یې له تهوک تهوک کېدلو څخه خلاص وه حتی چې جامې یې پر خپل ځان باقي وې او حواس یې تول روغ رمټ وه، او بیا رب ﷻ روحان ددوی له خوب څخه بیداره کړه هغه ذات قادر دی چې توله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انسانان دي د مرګ په خوب بیده کړي او روحان دې ځني قبض کړي او بیا وروسته دي ایدان ددوی سره جمع کړي که څه هم اجزاً د بدن یې بوسیده سوې وي او روحان مقبوضه دې ورته ایله کړي عند النفخة الثانية فاذا هم قيام ينظرون.

دروېش وایي: چې قصه د تملیخا چې د دوی لپاره افسوس ته ولاړې او بیا خلګ د افسوس چې په هغه وخت کې اکثریت د مؤمنانو وې پر اصحاب کهف مطلع کړه او نور احوال په قصه طویله کې تېر سوه فتذكر هداك الله.

تاریخ: د سهار اذانونه د یکشنبې ورځ د محرم الحرام د میاشتې دوولس تاریخ دی او سنه (۱۴۳۰) هجري قمري ده چې دروېش دغه بیان نوشته کړی اللهم اغفرلي ذنوبي كلها واغفر لوالدي ووفقني لاتمام هذا التفسير بالخير والعافية بفضله تعالى وكرمه وما ذالك على الله بعزيز.

إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ

چې ددوی نزاع وه په خپل منځ کې. دا ظرف دی اعثرنا. يعني اعثرناهم حين يتنازعون. قال عكرمه ﷺ چې ددوی تنازع په امر کې د بعث بعد الموت وه، یوې ډلې چې کافران وه ویلې چې بعث یوازې د روحانو دی دون الاجساد او مسلمانانو ویل چې بعث د ارواح او اجسادو دواړو دی جمیعاً.

دروېش وایي: چې ددې مذهب تائید قرآن کریم او احادیث نبویه هم کوي، ولې د جنت احوال چې په هغه کې د هر قسم میوې سته من التمر والعنب والتين وغير ذالك. او حوري زوجات سته وغير ذالك دا ټوله خو د ارواح سره اجساد په کار دي دون الارواح فقط كما لا يخفى، نو اصحاب کهف چې لنه اوږده خوبه (۳۰۹) خدای ﷻ راوینښ کړه، نو په خلګو یې بعث د ارواحو والاجساد دواړو ولیدی، یا اختلاف ددوی په امر کې د فتیه وو هغه وخت چې خدای ﷻ مړه کړه ثانیاً بالموت، بعضو به ویل چې اوس مړه سوه او بعضو به ویل چې مړه نه دي بلکې لکه د مخه چې بیده وه اوس هم بیده سوه. ابن عباس ﷺ وایي چې تنازع ددوی په ابادی. کې وه كما يدل عليه مابعده. مسلمانانو ویل چې د وړاندې سره د کهف مسجد جوړ وو لانهم كانوا على ديننا وقد ماتوا مسلمين او مشرکانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ویل چي موږ کهف ته یوه ابادي کوو لکه یو قریه غوندي چي خلګ به پکښي استوګنه کوي. دوی دا ویل چي اصحاب کهف خو زمونږ هم نسبه وه.

فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ۖ رَبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ۖ

نو وویل مشرکانو د اهل افسوس چي موږ د قبرو او کهف سره یوه قریه جوړ ووکمامر.

پوه سه: چي "ربهم اعلم بهم" جمله معترضه ده او قول د خدای ﷻ ردا علی المتنازعین في امر الفتیة فان کلا من الفریقین دوی وځان ته منسوبول المسلمون من حیث الدین، والمشرکین من حیث النسب کمامر، او سره ددي چي اصحاب کهف له کفره او له اهل کفره بیزاره وه، او له عوامو څخه د مؤمنانو هم نه وه عملاً بلکي دوی له خواصو څخه د اهل الله وه.

پوه سه: چي خفاجي په حاشیه کي د بیضاوي راوړي دي چي له دې آیت څخه دا معلومه سوه چي د قبورو سره د صلحاؤ نژدې مسجد جوړول روا دی او لمونځ پکښي کول هم روا دی. روح المعاني داسي الفاظ استعمال کړي دي وهو قول باطل، عاطل، فاسد انتهی. او مظهري ؒ وایي هذه الآیة تدل علی جواز بنا المسجد لیصلي فیه عند مقابر الاولیا الله للتبرک بهم. او شیخ الاستاذ محمد فاخر المحدث ؒ وایي چي بنا د مسجد مکروه دد. او د روح المعاني او شیخ فاخر ؒ دلائل دا حدیثونه دي (۱) ما رواه مسلم عن ابی الهیاج الاسدي قال قال لي علي ؓ ولا ابعثنک علی ما بعثني رسول الله ﷺ ان لاتدع تمثالاً الا طمسته (یعني د یوه انسان یا حیوان بت که دي ولیدی یا پوره عکس هغه خرابوه او که دي لوړ قبر ولیدی د مځکي سره یې یو شی کړه) و ماروا البخاري ومسلم عن جابر ؓ قال نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبر وان یبنی علیه وان یقعد علیه، وما رواه البخاري ومسلم عن عائشة وابن عباس ؓ قال لما نزلت برسول الله ﷺ یعني المرض الذي مات فیه طفق یطرح خمیصة له علی وجهه فاذا اغتم کشفها عن وجهه (شروع یې وکړه چي یو شړی یا پتوبه یې دده پر مخ باندي واچول چي نفس به یې تنګ سو د مخه به یې ایسته کړی) ویقول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهو كذالک لعنة الله علی الیهود والنصاری اتخذوا قبور انبیائهم مساجد یحذر مثل ماصنعوا (مسلمانان یې وبهرول د مثل کړو وړو د یهودانو او د نصاری وو) ددې حدیث ځواب امام مظهري رح داسي ورکړی دی چې دا حدیث ځو پر دې دلالت کوي چې قبرونه په ګچو او سمښتو مه پخوئ او خونه مه پر جوړوئ او قبرونه ډېر مه لوړوئ، ولا دلالة علی کراهة بناً بقرب منها.

دروبش وایي: چې مسجد پر قبر جوړول او مسجد و قبرو ته نژدې جوړول فرق سره لري، اول موږ هم مکروه بولو او خبره زموږ خو په نژدې جوړولو کې د مسجد ده و قبر ته وشتان بینهما. بلکې که نژدې و قبر ته مکروه وي، نو مسجد نبوي خو هم قبر انور ته د علیه الصلوة والسلام نژدې دی، خبره داده چې د خفاجي او مظهري مقصد دادی چې لکه په بخارا کې د هرات افغانستان چې مدفن د اولیاً الله الکرام دی باچهانو یا نورو سرمایه دارانو د اولیاً الله قبرو ته نژدې لوی او کوچني مسجدونه جوړ کړي دي تاچې که څوک نفل وغیره ګذاري په دغو مسجدو کې چې پاکه محکمه یې ده ګذاري به یې، او قبرونه له بناً څخه خالي ولاړ دي هیڅ عالم د عصر قدیم الی یومنا انکار نه دی کړی فتدبر هداک الله عزوجل.

قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَىٰ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾

وویل هغو کسانو چې غالب په حال کې د اصحاب کهف وه (یعني چې مسلمانان وه چې مشر یې ملک صالح بیدوسیس او اصحاب ذ هغه وه، ولي دوی ثروت والا هم وه او مملکت د افسوس یې هم په قدرت کې وٌ) هر آئینه موږ بناً کوو پر کهف ددوی مسجد چې مسلمانان به لمونځ رنه پکښې کوي او په دوی سره به تبرک کوي.

دروبش وایي: چې چونکه اصحاب کهف د غره په غار کې دي او پر دوی سربېره خو بناً د مسجد نسي کېدای لکه مدلول د علی د لفظ چې دی او داغه رنګه خلګ یعني مسلمانان د اطرافو چې د اصحاب کهف زیارت ته ورغلي دي مسجد یې د غار و خولې ته نژدې لیدلی دی، نو ناچاره "علی" لپاره د استعلاً نه دی بلکې په معنی د قرب دی، والقرینة علیه ماذکرنا، فقیر وایي چې هم دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لفظ د علی منشأ د اختلاف د د روح المعاني او مظهري وګرځېدله، دا وه د فقیر ترجمه د آیت والله اعلم بما في کتابه.

سَيَقُولُونَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ

ژر دی چي وه به وایي هغه کسان چي په زمانه کي د علیه الصلوة والسلام وه او په تعداد کي د اصحاب کهف یې اختلاف ؤ "ثلثة" خبر د مبتدأ محذوف دی ای هم ثلثة. څلورم یې سپی ددوی دا جمله صفت د ثلثة ده. والمعنی ګرځونکی ددوی څلورم سپی دی یعني د سپي سره څلور ګرځي.

وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ

او بعض وایي چي دوی پینځه دي شپږم یې سپی دی وقس هذه الجملة علی ماقبلها في الاعراب، ویشتل کوي یعني وایي خبر غائب له دوی څخه یعني لیس في خزانة علمهم ذالک.

پوه سه: چي دلته یې سین نه راوړی له دې سببه چي "یقولون" عطف دی پر ماقبل یقولون نو داهم تر سین لاندي رائي. بغوي رحمه الله وایي چي په یو روایت کي راغلي دي چي د نصاری وو هیئت یعني وفد چي مدینې منورې ته راغلی و لپاره د بحث د علیه الصلوة والسلام سره په شان کي د عیسی علیه السلام "چي قصه یې وړده ده" په هغو کي له مشرانو څخه په هغو کي یو په نامه د سید یادیدی چي مذهب یې د یعقوبیه نصاری وو څخه ؤ هغه وویل چي اصحاب کهف درې دي څلورم یې سپی دی، او بل له مشرانو څخه عاقب ؤ چي د نصاری ؤ نسطوري په مذهب ؤ هغه وویل چي اصحاب کهف پینځه دي او شپږم یې سپی دی.

پوه سه: چي "رجماً" منصوب دی مفعول مطلق د فعل مقدر دی یعني یرجمون رجماً.

وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ

او وایي مسلمانان په اخبار د رسول الله صلی الله علیه وسلم عن قول جبرئیل چي اصحاب کهف اووه دي اتم یې سپی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ثامنهم كلبهم خو صفت د سبعة نكره دی، نو واو يې ولي پر داخل کړی، روح البيان وايي چې واو يې پر داخل کړی لپاره د تاکيد د نسبت بين طرفيها يعني ثامنهم وكلبهم، او مظهري وايي لتاكيد لصوق الصفة بالموصوف فتامل.

قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِيْلٌ ۬

ته ورته ووايه يامحمد ﷺ چې زما خدای خبر دی په عدد د دوی اونه دي په خبر مګر لږ خلګ يعني المسلمون لان قول المؤمنين مستند الى الوحي المفيد لحق التيقن، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې زه له جمله څخه د قليل يم يعني چې دوی اووه دي اتم يې سپی دی رواه ابن جرير، او ورته روايت د ابن مسعود رضي الله عنه څخه هم منقول دی.

فائده: بغوي رح له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت راوړی دی چې د اصحاب کهف نومان دادي (۱) مکسلمينا (۲) تمليخا (۳) جرطونس (۴) سنونس (۵) شارينوس (٦) ذولواس (۷) كعسططيونس (۸) راعي چې نوم يې نه دی معلوم، رواه الطبراني في الاوسط باسناد صحيح. وقال ابن حجر في شرح البخاري چې ددوی د نومانو په ويلو کې اختلاف ډير دی ولا يقع الوصوق بشئ.

دروښ وايي: چې حضرت علي څخه داسې روايت نقل سوی دی چې اصحاب کهف اووه نفره وه نومان يې داسې روايي دي. يمليخا، مکشلينا، مشلينا، مرنوش، دبرنوش، وشاذنوش او اووم يې راعي دی، د هغه نوم يې کفتططيوش ذکر کړی دی، او کاشفي رح په تفسير حسيني کې وايي چې اصح داده چې د راعي نوم يې مرطوش و، امام نيسابوري له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسې روايت رانقل کړی دی چې نومان د اصحاب کهف لپاره د طلب، د هرب او د اورد وژلو لپاره په يوه تهوکره کې دې وپېچي اور ته دې ور وغورځوي اور به مرسي، او د کوچنې د ډېرې ژړا لپاره دې په يوه کاغذ کې دې نوشته کړي او تر سر دې ورلاندې کړي، او د کښت د حفاظت له آفاتو څخه دا نومان دي نوشته کړي تعويذ دي ځنې جوړ کړي پوښونه دي ورکړي او د کښت په منځ کې دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکړه ودروي او تعويذ دي په هغه پوري غوته کړي، او چې د چا درهمه درهمه ورځ تبه کېږي او د سر درد لپاره او د غنى او جاه وجلال او ورتګ د حاکمانو ته تعويذ دې کي په دې تولو صورتو کي تر راسته موته دې غوته کړي. او که د ښځي ولادت سخت وُ نوشته دې کړي تر چپه ورانه دې ورغوته کړي.

فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا

او ته يا محمد ﷺ بحث مه کوه په باره کي د عدد د اصحاب کهف، مګر نه بحث په ظاهر د قصصنا اليک او نسبت د جهل و مخالف ته مه کوه او ډېر تعمق هم مه پکښې کوه اذ لافائدة في الجدال في ذالک.

وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِمْ مِنْهُمْ أَحَدًا

او ته فتوى مه غواړه په شان کي د اصحاب کهف. له اهل کتابو څخه د هيڅ چا څخه يعني له دوی څخه د متعلم پر دول سوال او پوښتنه مه کوه ولي چې تاته په وحي حال ددوی معلوم سو وفي ذالک کفاية لک فلاحاجة الى السوال عنهم او بل دا سوال مفضي و نزاع ته ګرځي لانک على الحق في حالهم واهل الكتاب على الجهل المطلق.

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَايْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ

او ته مه وايه د يو کار په باره کي چې زه دا کار کوصبا مثلاً.

پوه سه: چې ذکر د صبا په اعتبار د شان نزول دی ورنه مراد مطلق زمان مستقبل دی، مګر مقرون په دې کلمه سره يعني د "ان شاء الله".

پوه سه: چې دا استثنا له نهي څخه ده والمعنى لاتقولن لاجل شئ چې ستا ورته قصد وي چې زه دا کار کوم په زمان مستقبل کي الا ان يشاء الله والاستثنا مفرغ يعني لاتقولن في حال من الاحوال الا متلبساً بمشيته تعالى اى الا قائلاً ان شاء الله.

پوه سه: چې المنذر له مجاهد څخه روايت کړی دی چې يهودانو و قريشو ته ويلي وه چې تاسي ددغو مدعي النبوة څخه پوښتنه وکړئ د روح يعني چې روح انساني څه شی دی او اصحاب کهف څوک وه او ذو القرنين څوک وُ. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قریشو له علیه الصلوة والسلام څخه دا درې پوښتنې وکړې. فقال علیه السلام ایتوني غداً اخبرکم" او ان شاءَ الله یې نه وویل هغه وُ چې وحي معطل سوې تر دې پرو ورځو پورې چې له درې څخه نیولې تر څلوېښتو ورځو پورې، شاه عبدالعزیز په تفسیر عزیزي کې روایتونه راوړې دي چې قریشو د علیه الصلوة والسلام په تکذیب خولې پورې کړې حتی چې ویل به یې ان محمد ودعه ربه وقلی، پر علیه الصلوة والسلام باندې سخت د تکلیف، او خفګان بار ولوېدی، نو دا آیت نازل سو یعنې په دې آیت کې خدای ﷻ سبب د تاخیر د وحي بیان کړی چې ان شاءَ الله دي نه وه ویلي، چې دا بیان مفصل د سورت بنې اسرائیل په تفسیر کې ددې قول د خدای ﷻ "ویسئلونک عن الروح آه" تېر سوی دی فارجع هناک.

دروښ وایي: چې ان شاءَ الله ته په عربي ژبه کې استثناءَ وایي دا له دې سببه چې ان شاءَ الله مشابه ده استثناءَ په تحقیق کې فتدبر هداک الله تعالی.

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ

او ذکر د خدای (ﷻ) کوه، یعنې قل ان شاءَ الله، که دې اول وار ان شاءَ الله نه وه پیاد وروسته دې پیاد سوه بیا ان شاءَ الله ووایه. په حدیث کې راغلي دي چې دا آیت چې نازل سو، علیه الصلوة والسلام وویل ان شاءَ الله.

وَقُلْ عَسَىٰ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّي لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾

ووایه چې شاید چې ما ته دې هدایت زما رب یعنې توفیق دې راکړي، یعنې یو شي ته چې هغه اقرب او اظهر وي تر قصه د اصحاب کهف په دلالت کې پر نبوت زما. وقد فعل ذالک حیث اراه اعظم من البینات، لکه د پرو انبیاءُ علیهم السلام قصې، او د حوادثو علم چې په مستقبل زمان کې راتلونکې وي.

دروښ وایي: چې ان شاءَ الله دومره لوی نعمت دی چې د پرو مشکلاتو څخه سړی خلاصوي (۱) که څوک د یو چا سره مثلاً وعده د یو شي وکړي، نو وفاءَ بالعهد خو واجب دی شرعاً عند القدرة او که یې متصل د وعدې سره ان شاءَ الله وویل بیا یې ایفا نه ده واجب (۲) که چا ماینې ته وویل پر ما طلاقه یې که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څه هم ثلاثاً وي او متصل يې ان شاء الله وويل نه پر طلاقهېږي (۳) په عقود کې مثل البيع والشراء والاجارة کې ان شاء الله متصل وويل هغه عقد نه دی لازم.

مسئله: که يو سړي و بل ته وويل چې ته مؤمن يې؟ ددې په ځواب کې په نهز د امام اعظم رح به ان شاء الله نه وايي بلکې وايي به انا مؤمن حقاً، او امام شافعي رح وايي چې ددې په ځواب کې هم ان شاء الله صحيح دی لان عاقبة الامر غيب.

مسئله: د ابن عباس رضي الله عنهما پر مذهب استثناء منفصل هم رواه ده استدلالاً بهذه الآية، لکن اکثره فقهاء پر خلاف ددې دي، ائمه رح وايي که چېرې استثناء منفصل روا سي، نو بايد هيڅ عقد من البيع والشراء والنکاح وغير ذالک دي لازم نه سي، ولي په استثناء منفصل به يې فسخ کړي، او صدق او کذب به د چا نه سي معلوم لاحتمال الاستثناء المنفصل فافهم. امام قرطبي په خپل تفسير کې وايي په تاويل ددې آيت چې ابن عباس رضي الله عنهما دليل پر جواز د استثناء منفصل ګرځولی ؤ داسي وايي چې استثناء منفصل چې په دې آيت کې راغلې ده لپاره د رفع د اثم او تبری ده، واما الاستثناء المغير للحکم فلا يکون الا متصلاً انتهى.

دروښ وايي: چې د تاريخ په پاڼو کې د امام اعظم رح په مناقبو کې راغلي دي چې محمد بن اسحاق صاحب المغازي د ابو حنيفه رح سره حسد درلودی په دې سبب چې منصور ابي جعفر امير المؤمنين امام اعظم رح تر ټولو علماؤ افضل باله او ده لوی احترام يې کاوه، يو وخت محمد بن اسحاق او امام اعظم رح په مجلس کې د ابي جعفر المنصور سره يو ځای سوه، نو محمد بن اسحاق و امام اعظم ته وويل چې ته څه وايه چې که يو سړی طلاق مايني ته ورکړي او يا يې پر يو شي قسم واخستی وروسته يو ګړی ساکت سو بيا يې ان شاء الله وويل! امام اعظم ورته وويل چې ان شاء الله يې په درد نه خوري ولي چې منفصل ده انما ينفعه اذا کان متصلاً، محمد بن اسحاق ورته وويل کيف لا ينفعه او سره ددې نيکه د امير المؤمنين چې ابن عباس رضي الله عنهما دی وايي چې استثناء يعني ان شاء الله عمل په کېږي واو بعد سنة لقوله تعالى "ذکره واذا ربک اذا نسيت" فقال امير المؤمنين لابی حنيفة رح اهکذا مذهب جدي؟ قال ابو حنيفه رح نعم، نو منصور په ډېر غضب ورته وويل "اتخالف جدي يا ابا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حنيفة" فقال ابو حنيفة لمذهب جدک تاويل صحيح. هغه داچي په استثنا منفصل سره گناه پورته کيږي اما حکم ته تغيير نه رسوي کالطلاق وغيره. بيا امام اعظم و منصور ته وويل چي دا محمد بن اسحاق او ملګري دده تا اهل د خلافت نه بولي، ولي دوی خو ستاسره بيعت کړی دی او دا يې ويلي دي چي ته زمونږ دخوا خليفه يې. نو که ته استثنا منفصل روا بولې دې خلګو ته ووايه چي د بيعت سره سره ان شاء الله وواياست پر تاسي حنث او نقض العهد نه لازميږي بل خليفه به وټاکو، منصور پر خپلو عسکرو ږغ وکړی چي ونسئ محمد بن اسحاق او پټو يې په غاړه کي ورواچوئ بندي خانې ته يې بوزئ وفيه تعظيم امام الملة قائل الحق بغير علة.

وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ

او اصحاب کهف درنګ وکړی په کهف کي ژوندي مضروبًا على اذانهم.

دروښ وايي: چي اوس خدای پاک بيان د مدت د لبث ددوی کوي چي دمخه يې مجملاً ويلي وه فضربنا على آذانهم في الكهف سنين عدداً.

ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿۲۵﴾

درې سوه کاله (ابن مردويه له ابن عباس رضي الله عنهما او جرير له ضحاک رحمه الله څخه داسي روايت کړی دی چي "ثلاثة مائة" چي نازل سوه خلګو ووېل چي درې سوه ميباشتي دي که کلونه؟ فانزل الله تعالى سنين) دوی زيات لبث وکړی نهه کاله. بغوي وايي چي له حضرت علي څخه روايت دی چي په نزد د اهل کتابو درې سوه کاله شمسي وه او خدای پاک درې سوه کاله قمري ياد کړل كما هو مسلك الشريعة المحمدية، او تفاوت په منځ کي د شمسي کلو او د قمري کلو په سل کاله کي درې کاله دی يعني په سل کاله شمسي کي درې کاله قمري پر بالا کيږي، نو په درې سوه کاله کي نهه کاله پر بالا سوه، ولهذا قال الله تعالى "وازدادوا تسعاً" کلبي رحمه الله وايي چي نصاری د نجران ووېل اما ثلث مائة فقد عرفنا واما التسع فلا علم لنا به فنزلت.

قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا

ته ووايه چي خدای (جل جلاله) ښه خبر دی په ما لبثوا ددوی يعني چي مراد قمري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کلونه دي، ولي د شريعت محمدي ډېر احکام پر قمري حساب مبني دي لکه روژه، حج او غيرهما بلکې عرب د زمانې د آنحضرت ﷺ شمسي حساب يې عموماً نه پېژندی فتامل.

لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ ؕ

خاص په خدای ﷻ پورې دی علم د هغو شيانو چې له مخلوقه څخه غيب او پټ وي په اسمانو او په مځکه کې وي "ابصر و اسمع" دواړې صيغې د افعل التعجب دي، فارسي ترجمه يې داده چې "بينا است خدای تعالی بهر موجود وچه شنوا است بهر موجود، قال الشيخ ؒ چې ضمير د "به" خدای پاک ته راجع دی او محلاً مرفوع دی لکونه فاعلاً لفعل التعجب والباء زائدة كما في كفى بالله، والهمزة في الفعلين لصيرورة اصله بصر الله وسمع ثم غير الى اللفظ الامر وليس بامر حقيقةً اذلا معنى للامر ههنا، ومعناه ما ابصر الله بكل موجود وما اسمعه لكل مسموع وصيغة ليست على حقيقتها لاستحالة التعجب على الله تعالى بل للدلالة على ان شانه تعالى في علمه بالمبصرات والمسموعات خارج عن ادراك العقلا اذ لا يحجبه شئ ولا يحول دونه حائل ولا يتفاوت بالنسبة الى علمه لطيف ولا كثيف ولا الصغير ولا الكبير انتهى كلام الشيخ ؒ بنقل روح البيان، او امام مظهري په دې لنډ عبارت ټوله معنی د شيخ د عبارت راوړې ده، ابصربه (ای بالله) و اسمع (ای بالله تعالی) وروسته وايي چې خدای پاک کمال خپل په ابصار او سمع کې په صيغه د تعجب راوړی لپاره د دلالت پر دې باندې چې حال د خدای ﷻ په ادارک او علم کې د مبصراتو او مسموعاتو خارج عما عليه ادارک السامعين والمبصرين اذ لا يحجبه شئ "ای كما في المبصرين والسامعين من البشر فافهم.

مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖۤ اَحَدًا ۝

"مالهم" ای لاهل السموات والارض "ماسوی له خدای ﷻ څخه "من ولي" يعني ناصر او متولي د دوی کلمه د "من" لپاره د استغراق د نفي ده "ولا يشرك في حكمه" ای في قضائه او امره ونهيه "احداً" هيڅ څوک له اهل السموات والارض څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاتْلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ

او ته یا محمد (ﷺ) تلاوت وکړه د هغه څه چې ماته وحي کړي له قرآن څخه د رب ستا یعني ته متابعت کوه د ما في القرآن او د مکې د کفارو و خبرو ته مه ګوره چې دوی وایي ایت بقرآن غیر هذا "اوبدله" دا یې دلیل دی، یعني هیڅ قدرت نه لري چې تبدیل یا تغییر د کلماتو د قرآن کریم وکړي غیر له خدای ﷻ څخه.

وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِ مُلْتَحَدًا

او ته نه سې پیدا کولای یا محمد (ﷺ) غیر له خدای ﷻ څخه که ته متابت د قرآن ونه کړې حسب ما نزل "ملتحداً" ابن عباس ﷺ وایي ځای د ساتنې له عذاب څخه د خدای ﷻ او بعض وایي ځای د تهښتې.

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ

او ته ثابت او محکم وساته خپل ځان، بغوي ؒ وایي چې دا آیت نازل سوی دی په باره کې د عیینة بن حصین فزاري چې دی رسول الله ﷺ ته راغلی یعني دمخه تر اسلام او د علیه الصلوة والسلام سره فقراً د مسلمانانو ناست وه فیهم سلمان ﷺ او حضرت سلمان یو پشمي پټۍ پتو پر ځان پېچلی وچې خوله یې پکښې کړې وه لشدة الحرارة، نو عیینة و علیه الصلوة والسلام ته وویل "اما یؤذیک ریح هؤلاء؟" ددوی د ځولې کریه بوئ تا نه په عذابوي؟ "ونحن سادات مضر واشرافها فان اسلمنا اسلم الناس وما یمنعنا من اتباعک الا هؤلاء" موږ د مضر د قوم هغه سردران او اشراف خلګ یو که موږ مسلمانان سو نو نور خلګ یعني زموږ د قبیلې هم ایمان راوړي او زموږ د ایمان راوړل مانع نه دي مګر دغه فقراً یعني موږ ددوی په ناسته شرمېږو او ددوی د ځولې د بدبوئي په عذابېږو، نو دوی له مجلسه وشړه او یا یوه ورځ زموږ سره کښېنه تبلیغ راته کوه او بله ورځ ددوی سره، فانزل الله تعالى هذه الآية.

مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ

سره د هغو کسانو چې دوی عبادت او ذکر کوی د خدای پاک د سهار په وخت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي او د مازدیگر په وخت کي یعني في طرفی النهار او په دې کي ددوی ارادو رضاً د خدای ﷻ ده، یعني نه ریاء دا کار کوي او نه نفاقاً او بل د دنیا شی یې هم نه دی په کار او آخرت په کار لري. او بعض مفسرین وایي چې دا آیت په اصحاب صفه کي نازل سوی دی چې دوی اووه سوه (۷۰۰) ته بالغ وه چې توله فقراً وه چې نه یې کښت درلودی او نه یې مواشي درلوده او نه یې تجارت، یو لمونځ چې به یې وکړی د بل لمانځه په انتظار کي به یې تسبیح او تهلیل وایه، نو دا آیت چې نازل سو رسول الله ﷺ وویل الحمد لله جعل في امتي من امرني ان اصبر معهم. والاول من شان النزول اجود واصح اسناداً والله اعلم بمراده في کتابه.

وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

او ته مه اړوه خپلي دوې سترګي (کنایه ده له رغبت څخه) ددوی څخه یعني الفقراً المذکورین الی غیرهم چې ته اراده لرې او طلب د مجالسه د اغنیاؤ وکړی چې صاحب د زینت د دنیا دی. حسین کاشفي ؒ په تفسیر حسیني کي وایي بباید دانست که آن حضرت هرگز بدنیایی زینت آن میل نبوده بلکه معنای آیت اینست که مکن عمل کسی که به زینت چه مائل بدنیا از فقراً معرض وبر اغنیا مقبل باشد، ددې دلیل دا قول د علیه الصلوة والسلام دی چې خلګو ته بې په نصیحت کي ویل "لاتجالسوا الموتی، یعني الاغنیاً.

وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا ۝

او ته متاعت مه کوه په ګوښه کولو د فقراؤ د خپل مجلس څخه د هغه چا چې مونږ غافله کړي له ذکر څخه زمونږ چې یا کلمه توحید مراد ده یا قرآن کریم او متابعت د خواهش نفساني کوي لکه روسا د قریشو لکه په مانځن فیه چې عیینه بن حصین الفزاري چې د علیه الصلوة والسلام څخه د طرد د فقراؤ د خپل ځان څخه خواهش کړی ؤ که څه هم نورو اشرافو د قریشو هم داغه مطالبه کوله، او بعض مفسرین وایي چې مراد په دې آیت کي امیه بن خلف الجمي دی ما روی عن ابن عباس ؓ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وایي: چې ولا منافات بین الروایات. ولې چې مورږوویل چې اشراف د قریشو ټوله طالبان د طرد د فقراؤ وه، او د "کان امره فرطاً" دېرې ترجمې کړل سوي دي لکه (۱) ضیاعاً (۲) ضیع امره وعطل ایامه (۳) ندماً (۴) سرفاً (۵) متروکاً (٦) باطلاً (۷) مخالفاً للحق (۸) مجاوزاً عن الحد (۹) تارکاً للحق.

دروښ وایي: چې دا معناوي ټولې مقاربة المآل دي.

وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ

او ووایه یا محمد (ﷺ) چې حق هغه دی چې له جانبه ځخه د ځدای ﷻ وي لامایقتضیه الهوی.

پوه سه: چې "الحق" مبتدأ ده "من ربکم" یې خبر دی، او دا احتمال که څه هم مرجوح دی چې الحق دي خبر د مبتدأ محذوفي وي او من ربکم دي حال وي والتقدیر الاسلام او القرآن هو الحق کائناً من ربکم.

فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَّمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ

که د چا خوښوي ایمان دي راوړي او که د چا خوښه وي کفر دي مختاره کړي.

فائده: دا تخییر لپاره د تهدید او د وعید دی، ګویا دا جواب دی د قول د عیینه چې علیه الصلوة والسلام ته یې وویل "اما یوذیک ریح هؤلاً یعني الفقراً ونحن سادات مضر واشرافها فان اسلمنا اسلم الناس یعني قبیلة مضر کلهم وما یمنعنا عن اتباعک الا هؤلاً یعني الفقراً الذین لثیابهم وعرقهم ریاح منتنة فنحیهم وحتی نتبعک" حاصل د ځواب یې دادی چې حق چې اسلام یا قرآن دی کائن د ځدای ﷻ له ځوا دی او هغه ځدای زه امر کړی یم په دې سره چې ځان به صبر کوې پر نشت او برخاست ددغو فقراؤ سره او زه یې نهي کړی یم له شرلو ځخه ددوی، نو که ستاسي خوښه وي ایمان راوړئ او که ستاسي خوښه وي پر ځپل کفر دوام وکړي زه ستاسي په کفر باک نه کوم، ولې ضرر یې تاسي ته راجع دی ماته نه دی.

دروښ وایي: چې په پښتو کې هم داسي امر تخییري ستړ لکه د یو سړي زوی چې پلار ته ووایي چې زه امریکا ته ځم مثلاً، پلار ځو یې اولاً منع کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن زوی یې ټینګار وکړي، نو پلار یې ورته ووایي که پر کور کښېنې که امریکا ته ځې.

إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا

مونږ اراسته کړی دی ظالمانو ته یعني کافرنو لره اور یعني دوزخ.

پوه سه: چې دا جمله "احاط بهم سرادقها" په تقدیر د قد حال دی له ظالمین څخه یا صفت د "نار" دی چې احاطه به کړي پر دوی سرادق د اور.

پوه سه: چې سرادق لفظ مفرد معرب دی یعنې د بلې ژبې لفظ عربو استعمال کړی دی، ولې چې په کلام کې د عربو اسم مفرد چې دریم حرف دې الف وي وروسته دې دوه حرفه نور وي نسته، په نهایه نومي کتاب کې وایي چې "سرادق کل شئ احاط بشئ من حائط او خباء" یعني خېمه. نو له دې عبارت څخه هم دا فهمېږي چې سرادق لفظ مفرد دی.

دروېش وایي: چې سرادق، فسطاط او خباء سره یو دي، او یو ضعیف احتمال دا هم دی چې جمع د سردق دي وان لم یستعمل مفرده في کلام العرب، په حدیث شریف کې راغلي دي چې روایت یې احمد، ترمذي او حاکم رح کړی دی عن ابي سعید الخدري رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال سرادق النار اربعة جدر کثف ثخور دېواله دي پنډ چې هر دېوال یې د څلوېښتو کالو لار ده، او بغوي له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې "هو حائط من نار" او بعض وایي چې یو ددوی دی چې پر کفارو احاطه کوي.

دروېش وایي: چې په هر صورت د کلام بنا پر تشبیه ده چې هغه اور یا دېوال د اور یې مشابه کړی په خېمه سره، وجه التسمية الاحاطة باهل النار كالخيمة والفساط.

وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِى الْوُجُوهَ

او که دوزخیان شکایت وکړي د ډېرې تندې، ددوی پریاد رسي کهڅې په اوبو سره چې لکه مهل داسې وي، چې داغوي مخان ددوی من شدة الحرارة، بغوي رح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي د ابن عباس رضي الله عنهما روايت دی چي مهل يو خټه اوبه دي لکه زيت د تېلو خټه اوبه، او مجاهد رحمه الله وايي چي مهل د دوزخيانو وينې او نوونه دي چي په دوزخ کي يو ځای سره جمع کېږي، نو چي دوی تږي سي هغه ورکول کېږي، او روح البيان د مهل ترجمه په ويلي وسپنه سره کړې ده.

پوه سه: چي ترمذي، ابن ابي حاتم، ابن حبان، حاکم او بيهقي رحمهم الله ابي سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت کړی دی او هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه في تعبير قوله تعالى بماء كالمهل قال عليه السلام كعكر الزيت (خټه بيل) چي دوزخي دا اوبه مخ ته نژدې کړي د مخ پوست يې پکښې راشوه سي.

يِئْسَ الشَّرَابُ ۖ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾

بد مشروب دی مهل او بد دی اور. قال ابن عباس رضي الله عنهما منزلاً وقال مجاهد رحمه الله مجتمعاً. وقال عطاً مقراً وقال قتيبي مجلساً.

دروښ وايي: چي اصل معنی د ارتفاق چي مصدر دی د مرتفعاً چي سړی څنګل پر مځکه کښېږدي او بارخو پر تکيه کړي د استراحت لپاره، نو د مرتفعاً متكئاً ومستريحاً معنی يې وه ده.

سوال: په اور کي تکيه او استراحت له کومه؟ کما لا يخفى؟

ځواب: مرتفعاً چي يې د دوزخيانو په باره کي راوړی دی "حَسُنَتْ مرتفقاً" چي يې حال کړی د جنت والو کما سيأتي فتدبر وامثاله كثيرة.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾

په تحقيق هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي او عملونه يې کړي وي د بسو کارو من الفرائض والواجبات والسنن والمستحبات قوليه او جسديه او ماليه موږ نه ضائع کو ثواب د هغه چا چي عمل صالح وکړي.

پوښتنه: يو مؤمن به عمل صالح تولـه کوي مګر منهيات به هم ورسره کوي د هغه حال نه سو بيان؟

ځواب: ترک د منهياتو په عمل کي د صالحاتو مندرج دی کريمه ان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة تنهى عن الفحشا والمنكر الآية"

اعراب: خبر د "ان" اول په "ان" ثاني سره د ما في حيزه دی، والعائد محذوف تقديره من احسن منهم، او يا ضرورت و حذف ته د عائد نسته، ولي چې په عموم کې د من احسن عملاً الذين آمنوا د اخل دی فتدبر هداک الله الی درک لطائف کلام الله ﷻ.

أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ

دوی لره دي جنتونه د استوګنې "تجري" ای من تحت قصورهم يوه والـه د اوبو ده چې مادة اصلي ده د حيوة د انسانانو حتی آدم عليه السلام او د ټولو حيواناتو او د ټولو درختو او د نباتاتو وغيرها، کريمه "فيه شفاء للناس" او دريمه د شيدو ده چې هيڅ په حلق کې نه بندېږي او په هيڅ مرض کې شيدې ممنوع نه دي او اطباء وايي چې شيدې حامل د څورلسو (۱۴) ويټامنو دي چې په بله عذا کې جمعًا نسته، کريمه "من بين فرث ودم لبنًا خالصًا سائغًا للشاربين الآية. او څلورمه واله د شرابو ده.

پوښتنه: د دنيا شراب خو د سر درد لري او د انسان عقل مغلوبه ګرځوي. آيا د جنت په شرابو کې هم دا خصلت سته که څرنګه؟

ځواب: د جنت شراب له دې شيانو څخه پاک دي، کريمه "لافيها غول ولاهم عنها ينزفون" مونث د ضمير و خمر ته راجع دی چې مؤنث سماعي دی.

پوه سه: چې "عدن" دهر اوسېدلو ته وايي، ټوله جنتونه عدن دي لخلود المؤمنين فيها ابدًا، ولهذا يقال عدن المأ بمكان اذا قام به.

فائده: جمله د "اولئک لهم جنات الآية" جمله مستأنفه ده د بيان د اجر چې په دمخه آيت کې راغلی ؤ.

يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ

دوی ته زيور ورکول کيږي د اساور، د سرو زرو.

پوه سه: چې اساور جمع د اسورة جمع سوار ده، نو منتهى الجموع ده غير منصرف ده لان صيغة منتهى الجموع قائم مقام السببين لعدم الانصراف كما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في كتب النحوء سوار په پښتو بنګړي بولي او په فارسي يې دستينه پا ودست برنجن بولي او په اردو يې کنګهن بولي.

فائده: کلمه د من لپاره د بيان ده د تبعيض نه ده، او اساورچي يې نکره راوړه او داغه رنګه ذهب يې هم نکره راوړه لپاره د تعظيم د حسن ددوی.

فائده: طبراني په اوسط کي او بيهقي له ابي هريره ﷺ څخه نقل کړی دی قال قال رسول الله ﷺ "لوان ادنى من اهل الجنة حلية، اعدلت بحيلة اهل الدنيا جميعًا لكان مايحيله الله تعالى في الآخرة افضل من حلية اهل الدنيا جميعًا" له کعب الاحبار څخه روايت دی چي خدای ﷻ يوه ملکه پر دې کار ګمارلې ده چي زبورات د اهل جنت جوړوي من اول خلقه الى ان تقوم الساعة" که يو زبور له زبوراتو څخه د اهل جنت و دنيا ته راوړل سي لذهب بضوء الشمس يعني ضوء الشمس به مغلوبه سي.

وَّيَلْبَسُوْنَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ

او جنتيان به اغوندي کالي د شنه يا زرغونه رنګ (ابن السني او ابو نعيم دواړه په طب نبوي کي وايي عن انس ﷺ قال كان احب الالوان الى رسول الله الخضرة) سندس نازل ورښمينې جامې ته وايي "واستبرق" وهو ما غلظ من الحرير، بغوي وايي چي غلظ په کالو کي د اهل جنت په معنى د محکم والي دی.

دروښ وايي: چي له دې څخه خو دا مه لومړۍ چي سندس محکم نه دي وليس كذالك. په بعضو تفاسيرو کي وايي چي د سندس جامه سربيره اغوندي او د استبرق جامه لاندي تر سندس اغوندي كما هو المروج في نسأ الاغنيأ اليوم. نو په استبرق سره يې ستر د عورت کړي او په سندس سره يې زينت، ولي چي تر سندس لاندي د استبرق رنګ هم معلومېږي او خپل رنګ خو يې خپل دی، والله اعلم بحقيقة الحال ادخلنا الله الجنة بفضله وكرمه لنعلم حقيقة حال الثياب.

مُّتَّكِـِٔيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ

او تکيه به کوي اهل جنت په جنت کي پر پلنګانو. لکه په دنيا کي چي متنعمين خلګ داغسي کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ارائک" جمع د اريکة ده چې پلنګ يا چپرکټ يې بولي، لکن چې په حجال کې وي حجال جمع د حجلة ده چې هغې خونې يا خېمې ته وايي چې ډېره ښه يې ښائسته کړې وي په مفروشات فائقه وو او په پردو لپاره د زوم او ناوي، بيهقي رح له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی چې سرير ته ارائکه نه وايي چې په حجلة کې نه وي او که حجله بې سريره وه هم يې اريکه نه بولي، او چې سرير او حجله دواړه سره يو ځای سي نو يې اريکه بولي كذا قال صاحب روح البيان والمظهري في تفسيره.

نِعْمَ الثَّوَابُ ۭ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ۝

ښه جزا ده جنت و نعيمها، او ښه ځای دی جنت د مجلسيانو لپاره او ښه ځای د قرار دی جنت. او يا معنی دا چې ښه دي ارائک د تکيې لپاره.

دروښ وايي: چې دا نعمتونه او ملبوسات او مشروبات په جنتو کې نور نور نعمتونه من الماكولات والروائح الطيبة من الازهار، چې مهربانه خدای ﷻ په کريم قرآن کې ځای پر ځای موږ ته ذکر کړی دی. دا د ښو ښو درختو د اعمال صالحه وو په دنيا کې مېوه ده او فضل الهي علاوه دی، شيخ مصلح الدين الشيرازي قدس سره وايي:

قيامت که بازا مينو نهند ..... منازل باعمال نيکو دهند
کسی را که حسن عمل بيشتر ..... بدرگاه حق منزلت پيشتر
بضاعت بچند انکه آری بری ..... اگر مفلسی شرمساری بری
که بازار چندان که اگنده تر ..... تهی دست را دل پراگنده تر

حكايت: يو سړي په بلخ کې وخپل بزګر يا مريي ته وويل چې په فلانی محکه به غنم وکړې، هغه اوربشي په وکرلې د لو وخت چې راغلی هغه مالک چې ورغلی که څه ګوري پر محکه د اربشو کښت ولاړ دی، نو هغه بزګر يا مريي ته يې وويل چې ما نه وه درته ويلي چې په دغه محکه غنم وکره، بزګر ورته وويل چې هو راته ويلي دي وه لکن ما چې اوربشي وکرلې په ګمان ددې چې ګوندې غنم راوکړي، د محکې مالک ورته وويل "يا احمق هل رئيت احداً ذرع الشعير فحصل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حفظة؟ قال العبد فكيف تعصى الله انت وترجوا جنته ونعيمها" مولی روم وایي:
جمله دانند این اگر تونگروی ..... هرچه میکاریش روزی بدروی

دروښ وایي: چي دا معنی د هغه حدیث نبوي ﷺ ده الدنیا مزرعة الآخرة

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ

ته بیان کړه کفارو ته د مکي یو مثال د دوو کسانو، بغوي ؒ وایي چي دا آیت نازل دی د دوو وروڼو په باره کي چي د اهل مکي وه من بني مخزوم یو مسلمان و نوم یې ابو سلمه عبدالله بن عبدالاسود بن عبد یالیل وکان زوج ام سلمة قبل النبي ﷺ او بل کافر و وهو الاسود بن عبدالاسود بن عبد یالیل، وقیل هذا مثل لعیینة بن حصین واصحابه مع سلمان واصحابه ومشبها برجلین من بني اسرائیل چي دوه وروڼه وه چي یو مؤمن و چي نوم یې یهودا په قول د ابن عباس ؓ وقال مقاتل تملیخا والآخر کافر و چي نوم یې قطردس و، وهب ؒ وایي چي نوم یې قطفر و، نو دا هغه کسان دي چي په سورة والصافات کي خدای ﷻ بیان کړی دی ددې دوو قصو عبدالله بن المبارک له معمر څخه او هغه له عطا الخراساني څخه داسي راوړې ده چي دوه کسه سره شریکان وه دوی اته زره (۸۰۰۰) دیناره په دوارو درلوده یعني سره شریکان وه، او بعض وایي چي دوه وروڼه وه چي له پلازه څخه په میراث اته زره دینار په میراث ورپاته سوي وه، تقسیم یې سره وکړی څلور څلور زره دیناره هر یوه ته ورورسېدله (وهذه الروایة هو الاصح عند الاکثر) نو دا یوه په زر دینار مځکه رانیول، نو هغه ورور چي مسلمان و داسي یې وویل "اللهم ان فلانًا قد اشتری ارضًا بالف دینار او زه خدایه رانسم ستا څخه مځکه په جنت کي په زر دیناره، نو هغه زر دیناره یې خیرات کړه مسکینانو ته یې ورکړه، بیا یې هغه بل ورور سرای جوړ کړی په زر دیناره دا مسلمان ورور یې وویل "اللهم ان فلانًا بنی دارًا بالف دینار" زه ستا څخه سرای رانسم په جنت کي، نو زر دیناره یې خیرات کړه، بیا یې ورور کوزده وکړه په زر دیناره او دمایني پر زر وزهور یې هغه زر دیناره مصرف کړه. فقال المؤمن اللهم اني اخطب الیک من نساء الجنة یعني الحور بالف دینار" هغه یې هم خیرات کړه؛ بیا یې ورور خادمان او متاع البیت په زر دیناره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رانیول، نو مؤمن وویل اللهم اشتری منک خدماً ومتاعاً في الجنة بالف دینار" هغه یې هم خیرات کړه، وروسته مؤمن ته یوه مجبوري ورپېښه سوه په زړه کې یې وروګرځېدلله چې هغه بل ورور ته به ورسم شاید څو مرسته راسره وکړي، نوه مسکین مؤمن ورور د هغه بل ورور د تېرېدلو په لار کې عاجزه کښېښستی هغه په دې پرېشان او شوکت مریان ورسره وه چې تېرېدی دی ورولاړ سو هغه چې ورته وکتل وه یې پېژندی ورته وه یې وویل چې فلانی یې ده ورته وویل هو اهغه ورته وویل چې څه کوې چې دلته ناست یې؟ مؤمن خپل د مجبوریت قصه ورته وکړه او ورته وه یې ویل چې زما سره څه مرسته وکړه، هغه ورته وویل چې هغه څلور زره دیناره دي څه کړه، ما او تا خو دپلار اته زره دیناره میراث سم پر نیمایي سره تقسیم کړه، مؤمن ورور ټوله قصه ورته وکړه، هغه ورته وویل چې ته خیر اتونه کوه اذهب فلا اعطیک شیئاً او منت یې هم پر وکړی. او په یوه روایت کې راغلي دي چې هغه کافر ورور دی تر لاس ونیوی ګرځاوه یې پر خپل سرای او محکمه وغیره باندي، فنزلت فیهما واضرب لهم الآیة. ای للکافرین و المؤمنین مثل رجلین ای حال رجلین، بعض مفسرین وایي چې دا مثال فرضي دی، او بعض وایي واقعي دی في زمن النبي ﷺ او في الزمان السابق.

پوه سه: چې رجلین په آیت کې په حذف د مضاف ای مثل رجلین بدل دی له مثلاً څخه، او دا وروسته آیت تفسیر د مثل دی فافهم، جلالین وایي چې دا دوه وروڼه د یو باچا زامن وه انتهی.

دروېش وایي: چې علامه بغداد وایي چې دا مثال واقعي دی وهو المعول علیه آه، او قصه د روح المعاني او د روح البیان سره ورته ده مګر مظهري څه زیادت او اختلاف بیان کړی دی چې دروېش اشاره ورته وکړه په بیان کې د قصه مذکورې فتدبر.

جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ

موږ ګرځولي وه یعني ورکړي مو وه و یوه ته ددوی چې کافر وو دوه باغونه د انګورو یعني قسم قسم.

پوه سه: چې دا جمله ټوله یا بیان د تمثیل دی یا صف د "رجلین" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ وَّجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾

او احاطه کړي وه موږ د دواړه باغونه د انګورو د خورما په درختو سره یعني چار طرفه د خورما درختي پر راګرځېدلي وې، او ګرځولي وه موږ په منځ کي ددې دوو باغو د کښت مځکه چي غنم وغیره په وکړي لپاره د قوت د عیال خپل.

كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا

دواړو باغو ورکړې خپلي میوې یعني د انګورو تاکانو پوره انګور کړي وه او د خورما درختو بنه بنه وانبکي د خورما کړي وه.

سوال: ضمیر د "اتت" چي راجع و کلتا ته دی، ولي یې مفرد راوړی؟

ځواب: په شرح جامي او نورو کتابو کي د علم النحو وایي چي کلا او کلتا تثنیه نه دي لعدم ثبوت کل بکسر الکاف في المفرد، بلکې دواړه ذو الزیادة دي فافهم.

وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَيْـًٔا

او نه وکم کړی کلتا الجنتین له اکل څخه یعني له میوې څخه هیڅ شی یعني باغونه لکه عادت چي دی ګاهي یو کال لږ میوه وکړي او ګاهي ډېره، دا دوه باغونه له میوې څخه مالا مال وه یعني پوره میوه یې کړې وه لکه نور باغونه چي یې په یوه کال کي کوي.

وَّفَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾

یعني بهولې مو وه په منځ کي ددې دوو باغو والله تا چي همېشه اوبه خوړه کهدای او سرسبزي او شادابي د باغو پر بنه حال باقي وې.

وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ

او وه ددغو دوو باغو مالک لره، په قاموس کي وایي الثمرة بالحرکات الثلث حمل الشجر (یعني میوه د درختي) و انواع المال "او نورو اقسامو ته مال وایي" الواحد ثمرة وثمرة وجمعه ثمار وجمع الجمع ثمر "یعني بضمتین" وجمع الجمع الجمع اثمار" دروېش وایي چي نادره بل لفظ درې جمعي لري" والذهب والفضة" یعني سرو او سپینو زرو ته وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي دلته څه شی مراد دی؟ مجاهد رح وايي ذهب او فضة مراد دی. او بعض مفسرین وايي چي دې دوو باغو والا اقسام د مالو درلوده ماسوی له جنتین څخه.

فَقَالَ لِصَاحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾

وویل د دوو باغو څښتن "لصاحبه" يعني الفقير المؤمن ته، او هغه د صاحب سره خبري کولې زه تر تا ډېریم من حيث المال او غالب يم پر تا په اولاد او خادمانو او کومک کونکو کې.

وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ

او داخل سو دا کافر او صاحب يې ورسره ملګری کړی وُ د فخر لپاره پر باغونو يې ګرځاوه. او دی پر خپل ځان ظالم وُ لفخره وکفره (والواو للحال من فاعل قال اول)

سوال: جنتونه خو دوه وه نو دلته يې مفرد ولي راوړی؟

ځواب: دخول خو پر يوه يوه جنت وُ پر دواړو خو يې په يوه واره نه ګرځاوه، او يا له دې سببه يې مفرد ووايه چي پر دواړو باغو يو د بل راګرځېدلی وُ او لاتصال کل واحدة من جنتيه بالاخری.

قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدًا ﴿٣٥﴾

او وه يې ويل صاحب ته چي زما خو ګمان نه کېږي چي فاني او نيستي دې سي دا باغونه تر ابده پورې. ووجه افراد اسم الاشارة مامر في افراد جنته.

پوه سه: چي باعث پر دې خبره طول الامل وُ او غفلت دده وُ او د خدای ﷻ په امهال غولېدلی وُ.

پوښتنه: انسان چي عاقل وي که مؤمن او که کافر وي دا ګمان خو نه لري چي زه ابداً ژوندی يم او مرم به نه؟

ځواب: دده مراد دا وُ چي زه به غنی، مال او باغونه لرم تر څو چي زه ژوندی يم.

وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّى لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ﴿٣٦﴾

او زه ګمان نه کوم چي قيامت دي راسي، ولي دی مشرک وُ د بعث بعد الموت څخه منکر وُ کما هو مذهب جميع المشرکين، بيا يې تنزلاً داسي وويل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ار که زه علی سبیل الفرض رد سم و خدای ﷻ ته زما. یعني وروسته تر مرګه ژوندی سم د خدای د ثواب او عذاب په ورځ. یعني لکه ته چې وایي چې بعث بعد الموت سته، هر آئینه به زه پیدا کوم یعني په آخرت کې بالا او ښه تر دې جنت د دنیا "منقلبًا" از روی مرجع، دده دا عقیده وه چې ماته چې خدای ﷻ دا مال راکړی دی په دنیا کې البته زه پر خدای ګران یم او ددې کرامت مستحق یم.

دروښ وایي: چې د افراد د ضمیر د "منهما" وجه هغه وه چې تهره سوه، او قراء حجاز او شام یې په تثنیه د ضمیر وایي یعني منهما.

قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِى خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾

وویل و دې کافر ته صاحب دده چې مؤمن وٴ، په داسې حال کې چې هغه ګفت وشنید ورسره کاوه په استفهام انکاري آیا ته کفر کوې په هغه ذات والا قدرت سره چې ته یې له خاورو څخه پیدا کړی یې ته یې "یعني بخلق جدک آدم" بیا له نطفې څخه د پلار او مور بیا یې برابر کړې نر بالغ.

سوال: دې کافر خو خدای منی "حیث قال الی ربي" بعث بعد الموت یې نه منی، نو صاحب ولې دده وویل اکفرت آه؟

ځواب: انکار د بعث بعد الموت خو له جهته د شک دی په کمال قدرت کې د خدای ﷻ وهو کفر بالله تعالی.

لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِرَبِّىٓ أَحَدًا ﴿٣٨﴾

بوه سه: چې اصل د "لٰکنا" لکن انا وٴ همزه یې حذف کړی د تخفیف له سببه او حرکت یې و نون ته ورکړی، نو دوه نونه سره یو ځای سوه، سره مدغم یې کړه نو الف په خط کې پاته سو، نو جمهور قاریان الف په وقف کې وایي تبعًا للخط او په وصل کې یې ساقطوي.

بوه سه: چې "هو" ضمیر شان او "الله ربي" جمله یې خبر دی او دا ټوله جمله منصوب محلاً مفعول د فعل محذوف ده، تقدیره اقول هو الله ربي، او دا ټوله جمله بیا خبر د "انا" دی، زه خدای ﷻ ته هیڅ څوک شریک نه وایم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي لکن د استدراک لپاره من اکفرت، کما یقال زید غائب لکن عمرو حاضر، والمعنی ههنا انت کافر باللہ وانا مؤمن موحد، مؤمن ورته ووېل.

وَلَوْلَآ إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۙ

ولي چي ته داخل سوی وای خپل جنت ته داسي به دي ویلي وای ماشاً اللہ.

فائده: لولاً په معنی د هلا دی چي پر مضارع داسي حرف تحضیض یې بولي یعني باعثه کول پر یو کار او چي پر ماضي داخل سي حرف تندیم یې بولي یعني یوڅوک چي د سړي مخاطب وي پر ماضي کار پښېمانه کول، او "ماشاً اللہ" خبر د مبتدأ محذوفي دی ای الامر ماشاً اللہ، او یا مبتدأ ده خبر یې محذوف دی ای ماشاً اللہ کائن وکلمة ما موصولة علی التقدیرین.

لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ

ددې صاحب د خبرې معنا او غرض دا دی چي تا ولي فخر په باغ کاوه بلکې باغ وغیره به دي و مشیت ته د خدای ﷻ حواله کړي وای او خپل ځان ته به دي عجز ثابت کړی وای چي پر هیڅ شي زه قادر نه یم چي د خدای ﷻ اراده نه وي.

پوه سه: چي بهیقي رح په خپل کتاب "شعب الایمان" له انس رضی اللہ عنہ څخه داسي حدیث رانقل کړی دی چي نبي علیہ السلام وویل که یو څوک یو شی ووینې او خوښ یې سي داسي ووایي "ماشاً اللہ لاقوة الا باللہ" هغه شي ته تاوان نه رسېږي یعني دده له خوا نظر سوء نه پر واقع کېږي، او عین سوء یعني نظر کول حق دی کما جاً في الحدیث النبوي ﷺ "العین حق" و ایضاً په حدیث صحیح کي راغلي دي "من رأیٰ احداً اعطي خیراً من اهل او مال فقال عنده ماشاً اللہ لاقوة الا باللہ لم یر فیه مکروهاً".

فائده: رسول اللہ ﷺ تفسیر د لاحول ولاقوة الا باللہ داسي کړی دی "لاحول لاتحول عن معاصي اللہ الا بعصمة اللہ، "ولاقوة" علی طاعة اللہ "الا باللہ" یعني بتوفیق اللہ تعالی علیها" په یوه روایت کي راغلي دي چي دغه کلمات دنهه نیوي (۹۹) مرضو دوا ده هغه اسانه مرض یې غم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٣٩﴾

که ته ما وینې چې زه کم تر تا یم په مال او اولاد کې.

فائده: بعض قرأ "ترن" په اثبات د یاء وایي په وصل کې فقط.

فَعَسَىٰ رَبِّي أَن يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّن جَنَّتِكَ

نو شاید چې زما رب به راکړي یعني په اخرت او په دنیا کې ښه ستا تر باغ.

فائده: ابن کثیر رح "یؤتین" په اثبات د یاء په وصل او وقف دواړو کې وایي، او نافع او ابو عمرو رح یې په وصل کې په اثبات د یاء وایي او نور قاریان یې په حذف د یاء وایي په وصل او وقف دواړو کې.

وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَاءِ

او خدای ﷻ به مسلط کړي ستا پر باغ باندې په سبب د کفر عذاب یا اور له اسمانه "حسبانًا" قتاده رح وایي عذاب، ابن عباس رضي الله عنهما وایي اور، او بیضاوي وایي چې "حسبان" جمع د حسبانة ده چې یکي ته وایي او قتیبي هم ورته ترجمه کړې ده. او روح البیان وایي من برد او صاعقة او نار، دا جامع ترجمه ده.

فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾

نو به وګرځي ستا باغ محکه چې پښې پر ښوبوي چې هم به یې درختي او هم نباتات به یې له منځه ولاړ سي.

أَوْ يُصْبِحَ مَاؤُهَا غَوْرًا فَلَن تَسْتَطِيعَ لَهُ طَلَبًا ﴿٤١﴾

او یا به وګرځي اوبه د باغ په محکه کې تلونکي، هرګز په ستا له طاقته پوره نه وي چې هغه اوبه غائر او ذاهب په محکه کې یې طلب وکړې فضلاً چې ته به یې بیرته راوګرځوې. **پوه سه:** چې غور مصدر دی، یوصف به مبالغة.

وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ فَأَصْبَحَ

او احاطه به وکړل سي پر مېوه د باغ او یا ټوله مالونه ستا چې تا فخر په کاوه یعني هغه نابېره ټوله هلاک سي من حیث لا یحتسب فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مخاطبه د مؤمن فقير او د کافر چې د دوو باغو مالک و پر "لن تستطيع له طلبًا" ختم سوه ځکه يې صيغه د خطاب راوړه. او مابعد آيتونه يې بيان د حال د کافر دي.

پوه سه: چې "اصبح" دلته په معنى د "صار" دى، په معنى د دخل في الصباح نه دي، كذا في روح البيان، والمعنى صار صاحب الثمرة الكافر.

يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا

لاسونه او ورغوي يې سره منبسل له دې هغه پر هغه غمه مال او نقودو چې د مصرف کړي وه په ابادۍ کې د جنت او باغ.

پوه سه: چې "على" متعلق دى په يقلب پورې لان تقليب اليد كناية عن الندم فكانه قال فاصبح يندم على ما انفق.

پوه سه: چې د انګورو تاکان دده په باغ کې سپار تاکان وه، په پښتو کې سپار تاکان هغه د انګورو تاکانو ته وايي چې د لرګو منا ورته جوړه کړي او تاکان سربيره پر منا اچولي وي، اذا عرفت هذا نو معنى د آيت داده چې تاکان پر خپل بام را ايله چې منا وه رالوېدلي وه يعني بام يې دمخه را ايله سو بيا سربيره پر هغه تاکان را لوېدلي وه، له عروش څخه مراد مناوي د سپار تاکانو دي.

سوال: د انګورو د تاکانو ذکر يې وکړى او د نخل او زرع ذکر يې نه وکړى او سره ددې چې په جنت کې د کافر خو دا هم موجود وه كمامر في الآيات السابقة؟

ځواب: مقصود بالذات او دېر په جنت کې د کافر د انګورو تاکان وه او شاوخوا د خورما درختي يې صرف لپاره د زينت د جنت وې او زرع په جزوي ځاى کې د جنت وه.

وَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّيٓ أَحَدًا ﴿٤٢﴾

او وايي دغه کافر کاشکي ما شريک نه واى نيولى د خپل رب سره هيڅ څوک.

فائده: دده په دغه وخت کې د مؤمن ورور هغه نصيحت ور پياد سو چې دى يې له شرکه منع کاوه او په دې پوه سو چې ماته دا ټوله مصيبت د شرک له سببه راپېښ سو، نو تمنى ددې يې وکړه چې کاشکي زه موحد واى مشرک نه واى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په دې پښېمانۍ سره دی مسلمان وګرځېدی، او سره ددې چې په حدیث شریف کې راغلي دي الندم هو التوبة؟

ځواب: روح البیان وایي ولما کان الندم ورغبته في الایمان لطلب الدنیا لم یکن قوله هذا توبة وتوحیداً لخلوه عن الاخلاص. او ابن الشیخ په سورة الانعام کې وایي الرغبة في الایمان والطاعة لاتنفع الا اذا کانت رغبة لکونه ایماناً وطاعةً، اما الرغبة فیه لطلب الثواب وللخوف من العقاب فغیر مفیدة انتهی.

درویش وایي: چې د ابن الشیخ رح غرض به ایمان د اخص الخواص وي، ورته ټوله مؤمنان په ایمان د ثواب د جنت په اخیرت کې رغبت لري او ټوله مؤمنان په ایمان کې له عقاب څخه د خدای په دوزخ سره په آخیرت کې بېرېدله اود "قل انما انا بشیر ونذیر الآیة هم دغه معنی ده. او مظهري وایي چې ظاهره زما په نېز داده چې دغه کافر اصبح کفیه في الدنیا چې باغونه یې خراب ولیدل اوپه ورځ د قیامت چې دی خپل ځای په جنت کې وویني چې د دنیا په کفر سره یې بدل کړی په دوزخ سره او دا صحیح خبره او مجمع علیها ده چې ایمان د ورځې د آخرت نه ایمان دی او نه فائده لري ولهذا قیل لایدخل النار الا مؤمن یعني مؤمن یوم القیامة فقط لان جمیع الکافرین یؤمنون یوم القیامة.

درویش وایي: چې علامة بغداد السید محمود آلوسي رح په روح المعاني کې وایي چې بعض علماً وایي چې دا قول د کافر دي توبه وي له شرک څخه او ندم دي ډېر شرک باندې فیکون تجدیداً للایمان لان ندمه علی شرکه فیما مضی کمایدل علیه قوله لم اشرک یشعر بانه آمن في الحال فکانه قال آمنت بالله الآن ولیت کان ذالک ای الایمان بالله اولاً یعني باغونه به یې هم نه خرابېدلای، په رد کې ددې قول آلوسي رح وایي چې مجرد ندم پر کفر لایکون ایماناً وان کان الندم علی المعصیة للمؤمن قد یکون توبةً اذا عزم ان لایعود الیها وکان الندم علی المعصیة من حیث کونها معصیة لا لاجل العذر لکه یو غل چې په ستر ګو ولیدلې وي زما له غلا څخه آئیندې توبه ده کما صرح به في المواقف للقاضي عضد الملة والدین ولم یتحقق ههنا من الکافر المذکور ندم علی الکفر من حیث هو کفر بل بسبب هلاک جنتیه والآیة فیما بعد ظاهر ایضاً في انه لم یتب عما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كفر به وهو انكار انتهى قول الآلوسي ؒ مع زيادة يسيرة تشريح قوله.

وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ﴿۴۳﴾

او نه وُ دي كافر لره يو جماعت چي دده سره دي كومك وكړي په دفع كې د عذاب يوم القيامة كمامر من قول المظهري او يا دي هلاك سوى باغ بيرته راوګرځوي يا مثل د هغه په دنيا كي كما هو مفاد قول البغدادي ؒ، پرته له خداى ﷻ څخه لكن خداى ﷻ مرسته (كومك) نه ورسره كوي لكفره، او نه وُ دده كافر چي خپل ځان دي په خپل قوت سره خلاص كړي له انتقام څخه د خداى ﷻ.

هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ؕ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا ﴿۴۴﴾

(مظهري ؒ د هنالک ترجمه په بعث بعد الموت سره كړې ده. او روح البيان داسي ترجمه كړې ده (دروقت زوال نعمت از كافر) او روح المعاني وايي في تلك الحال الذي وقع فيه الاهلاك آه. لكه روح البيان چي معنى كړې وه، يعني پر هر تقدير تصرف او نصرت) خداى لره دى چي حق او ثابت او حي لايموت دى، او خداى ؒ افضل دى از روى جزاً لاهل طاعته تر بل چا. ولي خداى ﷻ چي قادر مطلق دى ثواب وركوي و اهل طاعت ته په دنيا كي على حسب حكمته او په اخيرت كي ثواب عظيم موبد په جنت دار السرور والخلد سره وركوي بخلاف غيره تعالى. ولي د هغو ثواب په مشيت پوري د خداى ﷻ تعلق لري او سره د هغو ثواب او عوض وركول و چاته حقير فاني شئ دى فقط "وخير عقبًا" او خداى ﷻ خير دى په جزاً كي اهل طاعت ته تر بل چا.

فائده: جزاً ته ولي عقبى وايي لانه يعقب الطاعة.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ

"واضرب" اى بين يا محمد ﷺ ستا قوم يعني كفار مكه ته حال غريب د ژوند د دنيا (چي اول ښه سرسبز او شاداب وي او سړى په خوشاله وي او ژر زوال لري) لكه اوبه د باران چي مورِ اوروو له اسمان څخه.

پوه سه: چي "كما" خبر د مبتدأ محذوفي دى اى هو كما.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ

نو سره خلط او گډ ودسي په هغو اوبو نباتات د مځکي يعني يو په بل جاروځي په سبب د کثرت او د ګنوالي. بيا وګرځي دغه نباتات لږ زمانه وروسته چې د خزان وخت يې ورسېږي وچ او توک توک چې تيت وپرک يې کړي بادونه. يعني باد چې پر راوالوزي يوه خوا او بله خواته دا وچ لرګي بوسيده وپاشي.

فائده: مشبه به د حيوة يوازي اوبه نه دي بلکې هغه حالت منتزعه له مجموع څخه يعني کيفية النباتات چې شنه کېږي اولاً په اوبو سره او تر بنه دل آراشي وروسته عنقريب وچ سي او مات سي او باد يې يوه او بلې خواته وپاشي فيصير كان لم يكن شيئًا موجوداً على الارض، يعني ژوند د دنيا داغسي سريع الفنا دی.

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ؕ

او دی خدای ﷻ پر هر شي من النباتات واليبس وازارة للرياح والافنا بالكلية.

اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

مال من النقود والمفروشات الفاخرة والبساطين المثمرة، او زامن چې په دې تولو خلګ فخر کوي او زړه بال بال په خوشاله کوي. دا شيان توله يو ښائست دی د ناقص ژوند چې عنقريب به فنا کېږي.

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ؕ

او هغه اعمال الصالحة من الصلوة والصيام والصدقة وغير ذالک چې مبوه يې باقي ده تر ابده چې عبارت د رضا الرحمن ده او جنات باقيه څخه دی چې ابداً باقي ده، غوره او ښه ده په نېز د خدای ستا من الاموال والبنين، ولي چې هغه زاد الآخرة نه دي بلکې فقط زينة الدنيا دي او په عين حال کې سر درد دی. ښه ازروی ثواب او فائده او خير دی از روی اميد چې انسان اميد ورته وکړي، بغوي ؒ له علي بن ابي طالب ؓ څخه نقل کړی دی چې مال او اولاد حرث الدنيا دي، او اعمال صالحه حرث الآخرة دي، وقد يجمعها الله تعالى لاقوام كسليمان بن داؤد عليه السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د خدای ﷻ نظام دی بعض انسانانو ته خدای فقط حرث الآخرة ورکړي وي کفقراً المهاجرين بلال وصهيب وعمار بن ياسر واصحاب الصفة ﷺ او نور فقراً و اهل الله د امت مرحومه، او بعض انسانانو ته يې فقط حرث الدنيا ورکړه سوې وي لکه فرعون، نمرود، ابوجهل و اضرابهم لعن الله عليهم، او بعض بعض انسانانو ته يې حرث الدنيا و حرث الآخرة دواړه ورکړي وي لکه انبياً عليهم السلام او اغنيا د اصحاب کرامو کعثمان وعبد الرحمن بن عوف و اضرابهما ﷺ او اغنياً د اولياالله د امة مرحومه رحمهم الله، او بعض انسانانو ته يې نه حرث الدنيا او نه حرث الآخرة ورکړي وي کفقراً اهل الشرک اذا ماتو على شركهم لايسئال عما يفعل وهم يسئلون. له ابی سعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی "ان رسول الله ﷺ قال استكثروا من الباقيات الصالحات" چا ورته وويل وماهن باقيات الصالحات؟ يعني باقيات صالحات څه شی دی "قال رسول الله ﷺ التسبيح سبحان الله والتهليل لا اله الا الله، والتحميد الحمد لله، والتكبير الله اكبر، ولاحول ولاقوة الا بالله فانها تدفع (۹۹) باباً من الضر ادناها الهم، رواه العقيلي".

دروښ وايي: چې مثل ددې حديث احمد، ابن حبان او حاکم رح روايت کړی دی او حديث نعمان بن البشير مرفوعاً هم راغلی دی. او نور د هر حديثونه په رواياتو مختلفه وو سره راغلي دي په مذکوره باقياتو صالحاتو کې.

سعيد بن جبير، مسروق او ابراهيم رحمهم الله وايي چې باقيات الصالحات پينځه لمونځونه دي ويروی هذا عن ابن عباس رضي الله عنهما.

دروښ وايي: چې عبارت د باقيات صالحات عام دی. لکن اسانه د باقيات چې د مؤمن تر قدرت لاندې دي دغه مذکورات دي. ځکه روح البيان يې داسې تفسير کړی دی "من الصلوة والصوم واعمال الحج وجميع الكلم الطيب يعني سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر ونحو ذالک" په صحيح حديث کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام و اصحاب کرامو ﷺ ته وويل دروا خلی سپرونه! خلګو ورته وويل "امن عدو حضر" يعني دښمن راغلی دی؟ قال لابل من النار، قال عليه السلام سبحان الله الى اخير الكلمات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ

لفظ د یوم منصوب په اذکر مقدر دی یعني ذکر کړه خلګو ته هغه ورځ چې موږ غرونه د بېخه وکاړو او بیا یې لکه ګرځ او باد منتشر وګرځوو، او ته به وینې محکه ایها المخاطب الغیر المعین بنکاره یعني د محکي پتونکی شی به نه وي من الجبال والاشجار والقصور والبیوت وغیر ذالک مما یکون ساتراً للارض، کذا قال ابن ابي حاتم راویاً عن قتادة رح "وحشرناهم" او موږ به راوباسو تولې انسانانو له قبرو او نورو ځایو څخه.

سوال: حشر د خلګو خو وروسته تر تیسیر د جبال او د محکي تر بروز دی، نو "حشرنا" په صیغه د ماضي څرنګه راغله؟

ځواب: لپاره د تیقن د حشر لکه ماضي شی چې متحقق دی.

فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ۝

نه پرېږدو موږ یعني دننه په محکه کي له خلګو څخه هیڅ څوک.

وَعُرِضُوْا عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا ؕ

او پېش به کړل سي پر رب ستا یامحمد په حال کي د صف.

پوه سه: چې "صفًا" مفرد دی په ځای کي د جمع راغلی دی کما في قوله تعالی "ثم یخرجکم طفلاً" ای اطفالاً" او حال دی له ضمیر څخه د "عرضوا" ای کون الناس المحشورین مصتفعین من المسلمین والکفرة.

پوښتنه: و خدای ﷻ ته د پېښېدلو څه معنا ده؟

ځواب: کلام په حذف د مضاف دی ای علی حکم ربک وحسابه.

درویش وایي: چې مظهري رح داسي ترجمه د "صفًا" کړې ده لا یحجب احد احداً، نو ددې مقتضی خو داده چې یو صف به وي وهذا بعید جداً، والصواب ماقال صاحب روح البیان، والمعنی صفوفاً بعضهم ورا بعض غیر متفرقین الخ.

لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا

په تحقیق تاسي راغلاست موږ ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د اعراب له لاري دا عبارت حال دی له ضمیر څخه د "عرضوا" په تقدیر ددې عبارت مقولاً في حقهم لقد آه، او ورته اعراب په حال کې د رفع هم راغلی دی نحو "زَيدٌ اضرِبه" نحات وايي چې زيد مبتدأ ده اضرب په صیغه د امر يې خبر دی، چونکه اضرب په صیغه د امر انشأ ده، نحات وايي چې انشأ نه خبر کېدای سي او نه صفت وغیرهما، علم نحو تقدیر د زيد اضرب داسي بیان کړی دی زيد مقول في حقه اضربه. او داسي احتمال هم سته چې فعل ورسره مقدر کړل سي ای فیقال لهم آه والمآل واحد.

كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍۭ

لکه ما چې پیدا کړي واست تاسي اول وار یعني چې لخ واست او په پښو موهم شی نه وۍ او ناسنته واست، په حدیث شریف کې چې روایت يې بخاري، مسلم و ترمذي کړی دی له ابن عباس رضي الله عنه څخه دی وايي چې قام رسول الله ﷺ وقال یا ایها الناس انکم تحشرون الی الله حفات "لخې پښې" مشاة "پیاده" عرات "لخ لغر (برېنډ) عزلاً "ناسنته" بیا علیه الصلوة والسلام دا آیت ووایه "کما بدأنا اول خلق نعیده" یعني دا آیت يې دلیل د خپلې وینا ووایه "و اول من یکسی في الخلائق ابراهیم علیه السلام" او اول هغه څوک چې کالي په اغوستل کېږي ابراهیم علیه السلام دی په خلګو کې.

دروښ وايي: چې دا ددې سببه چې نمرود دی اور ته لخ ور وغورځاوه په منجنیق کې، او بخاري و مسلم له عائشې رضي الله عنها څخه روایت کړی دی "قالت قال علیه الصلوة والسلام یحشرون یوم القیامة حفات عرات عزلاً" دې ورته ووېل الرجال والنسأ وینظر بعضهم الی بعض، قال علیه السلام یا عائشة الامر یومئذ اشد من ذالک" یعني یو د بل فرج ته نه ګوري ولې ټوله خلګ په ځان پورې حیران وي.

دروښ وايي: چې ورته روایتونه نور هم دېر راغلي دي، دلیل د ټولو هغه آیت دی "لکل امرئ منهم شأن یغنیه. امام قرطبي په خپل تفسیر کې وايي چې دا حدیثونه چې د عرات لفظ پکښې راغلی دی د هغه حدیث سره منافات نه لري چې "ان الموتی یتراوزن في اکفانهم في قبورهم، لان ذالک یکون في البرزخ یعني حال کونهم في القبور" چې له قبرونو څخه راوځي عرات به وي، لکن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغو احادیثو سره معارض دی چې ابوداؤد. حاکم او بیهقي ؒ یې روایت کړی دی چې د ابو سعید خدري ﷺ چې وفات نژدې سو. نو یې کالي راوغوښتل او وایې غوستل او بیا یې وویل چې ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چې وه یې ویل "ان المیت یبعث في ثیابه التي یموت فیها. امام قرطبي ؒ وایي چې بعض علماؤ په ظاهره ددغو حدیثو چې مړي په خپلو کالو کې حشر کېږي (وهذا بعید لانه ورد في الحدیث النبوي اول ما یبتلی من المیت اکفانه او کما قال. دویم دا چې مقبرې د مؤمنانو په سبب د مرور د سړک یا د ویالې د جاري کولو لپاره نبش سوي دي ولیس في القبور الا عظامهم فکیف یصح الحمل علی ظاهر هذه الآحادیث") قرطبي ؒ وایي چې اکثره علماً دا احادیث پر شهدا وحمل کړي دي چې دوی شرعاً کما جاً في حدیث شهداً الاحد په خپلو جامو کې دوی په کښې قتل سوي وي چې په وینو هم کفن وي دفن کېږي. نو ابو سعید الخدري ﷺ دې دا حدیث د شهداً په باره کې اورېدلی وي فحمله علی العموم.

دروېش وایي: چې ځواب هم بعید دی ولې چې څرنګه ګمان کېږي چې پر یو ستر صحابي ابو سعید الخدري ﷺ چې ده دې دا حدیث نبوي د شهداً په باره کې اورېدلي وي او دی دې په خپل رایه سره پر عموم د امواتو حمل کوي بلکې هغه وجه د جمع د احادیثو متعارضه وو په حسب د ظاهر چې بیهقي ؒ کړې ده چې بعض اموات یبعث عاریاً وبعضهم في اکفانهم دېره په زړه پورې او زېبا ده والله علی کل شئ قدیر والله اعلم.

بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم مَّوْعِدًا ﴿٤٨﴾

بلکې ستاسي زعم باطل ؤ ایها الکفرة چې هر ګز موږ نه وګرځوو تاسي لره یو وخت د پوره د وعدې د بعث او نشور او تاسي د انبیاً علیهم السلام په دې موضوع کې تکذیب کاوه.

پوه سه: چې کلمه د "بل" لپاره د انتقال ده من قصة الی قصة اخری. او بعض علما هغه احادیث چې میت یبعث في ثیابه حمل کړی دی پر عمل صالح د میت تشبیهاً له بالثوب لقوله تعالی "ولباس التقوی ذالک خیر"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: د عربو باچاهانو تاریخ وایي چي سلیمان بن عبد الملک چي اووم خلیفه د مسلمانانو وُ د مروانیانو له قبیلي څخه یو وخت یې ابو حازم ؒ ته وویل چي دا څه سبب دی چي زمونږ قیامت نه خوښیږي، ابو حازم ؒ ورته وویل چي له دې سببه چي تاسي دنیاوي ژوند ډیر اباد کړی دی او اخروي ژوند مو خراب کړی دی، نو د چا زړه غواړي چي د قصر او کوټې څخه و خرابې ته نقل سي، سلیمان ورته وویل صدقت یا اباحازم، بیا سلیمان پوښتنه وکړه چي کاشکي زه خبر وای چي موږ لره به په ورځ د قیامت څه شی وي عندالله، ابو حازم ؒ ورته وویل که چېري ستا دا خوښه وي له قرآن کریم څخه دا حال معلوم کړه، سلیمان ورته وویل چي په قرآن کي یې چېري پیدا کړم؟ ابو حازم ؒ ورته وویل په دغه آیت کي "ان الابرار لفي نعیم وان الفجار لفي جحیم" بیا سلیمان وویل چي زمونږ پېښېدل به خدای پاک ته څرنګه وي، ابو حازم ؒ ورته وویل چي محسن بنده به داسي و خدای ﷻ ته پېښېږي لکه غائب سړی په سفر ممتد چي کور ته ورځي څومره خوشاله وي، او ګناه کار سړی به داسي خدای ﷻ ته ورځي لکه یو مریی چي له بادار څخه تښتېدلی وي او بیرته مجبوره سي او بادار ته ور روان وي، نو څومره به غمجن او بېرېږي فبکی سلیمان بکاءً شدیداً انتهی الحکایة.

دروښ وایي: وهذه الحکایة في الظاهر قصة وفي الحقیقة موعظة حسنة. سعدي شیرازي ؒ وایي:

نر یزد خدا آب روی کسی ..... که ریزد گناه آب چشمش بسی
بترس از گناهان خود این نفس ..... که روز قیامت نترسی ز کس
بر اندیش از بنده پر گناه ..... که از خواجه غائب شود چند گاه
اگر باز گردد بصدق و نیاز ..... بزنجیر و بندش نیارند باز

یعني ګناه کار بنده که په رښتیا توبه وکاږي او خدای ﷻ ته عجز وکړي، نو خدای ﷻ د قیامت په ورځ نه و پښتو ته ځنځیر د دوزخ وراچوي او نه یې په محبس کي د دوزخ بندي کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَوُضِعَ الْكِتٰبُ فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ

لام لپاره د جنس دی يعني عمل نامې د خلګو به په راسته لاس کې ورکړل سي يا په چپه لاس کې، کريمه "اقرأ كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيباً" ته به وويئې هغه کسان چې مجرمان وي يعني چې عمل نامې يې په چپه لاس کې ورکړل سوي وي، بيرېږي به له هغو ګنهو څخه چې په دې کتاب کې به وي يعني ګنهونه د دنيا يې ورپيدا سي، نو بيرېږي چې هغه په دې کتاب کې دي او که څرنګه.

وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً اِلَّآ اَحْصٰىهَا

هغه وخت چې دوی خپل عمل نامه ووايي "ما" استفهام لپاره د تعجب دی څه شان دی ددې کتاب چې نه يې دی پرې اينبی "صغيرة ولاكبيرة" ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې صغيره تبسم دی بې ځايه او کبيره خندا قهقهه ده، او سعيد بن جبير رحمه الله وايي چې صغيره لکه د بهګانه بنځې لمس او مچه په شهوت سره، او کبيره زنی ده "الا احصاها" مګر هغه يې شمېرلې ده او تر احاطې لاندې يې راوستلې ده.

دروښ وايي: چې دا صرف مثالونه د صغيره او کبيره ګناهو دي ورنه تعداد د صغائرو او کبائرو بېخې ډېر دی.

پوه سه: چې د کبائرو ګنهو بيان په سورة النسا کې تېر سوی دی في تفسير قوله تعالى "ان تجتنبوا كبائر ما تنهون عنه نكفر عنكم سيأتكم، يعني الصغائر.

پوه سه: چې مستثنى په محل کې د نصب ده مفعول ثاني د لايغادر كذا قال المظهري رحمه الله. له سهيل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اياكم ومحقرات الذنوب مثل قوم نزلوا ببطن واد (نو خلګ بټې راجمع کوي يو يو لرګی بل بل لرګی راوړي وهكذا دومره لرګي سره جمع سي چې ډوډۍ پرې پخېږي) فانفخوا فخبزتهم (نو ډوډۍ په پخه کړي، حاصل د حديث دادی چې صغيره ګنهونه چې ډېر سي سبب د دوزخ د اور ګرځي والله اعلم بمراد رسوله صلى الله عليه وسلم، حافظ شيرازي رحمه الله ميګويد:

دهقان سال خورده چه خوش گفت باپسر
ای نور چشم من بجز از کشت نه دروی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سعدي رحمه الله

کنون وقت تخمست اگر پروری ..... گر امید داری که خرمن خوری
مکن عمر ضائع بافسوس وحیف ..... که فرصت غنیمت والوقت سیف

وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا ؕ

او دوی به پیدا کړي هغه شیان چې دوی یې عمل کړی وي حاضر یعنې لیکلی یه عمل ئامو کي، او یا معنی داده چې جزا د ماعملوا حاضره وي.

پوه سه: چې کلمه د ما که موصوله وي، نو عائد یې محذوف دی ای عملوه او که مصدریه وي، نو معنی یې داده چې عمل خپل.

وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ۝٤٩

او ظلم نه کوي رب ستا یا محمد (ﷺ) پر هیڅ چا که کافر وي او که مسلمان، که عاصي وي او که مطیع.

پوه سه: چې د ظلم منفي له خدای ﷻ څخه معنا داده چې پر بنده باندې ګنهونه بالا تر ماعمل نوشته وي، او یا عذاب دومره ورکړي چې دده تر ګناه بالا وي،

فائده: ابن ماجه د ابو موسی اشعري ﷺ څخه روایت کړی دی یعرض الناس یوم القیامة ثلاث عرضات، فما عرضتان فجدال ومعاذیر، واما الثالثة فتطایر الصحف بالایدي فآخذ بیمینه وآخذ بشماله، واخرج الترمذي عن ابي هریرة ﷺ نحوه، حکیم ترمذي وایي چې جدال یعني ناحقه بحث د دښمنانو د خدای ﷻ له خوا کېږي، ولې چې دوی ته د خدای جلال نه دی معلوم، ددوی ګمان داوي چې په ناحقه جدال به مو پرد خدای ﷻ له عذابه خلاص سو، مثلاً وایي ربنا ماکنا مشرکین ربنا هؤلاء شرکائنا اضلونا الی غیر ذالک، والمعاذیر لله تعالی یعتذرا الی آدم والی انبیائه ویقیم حجته عندهم علی الاعداً فیبعثهم الی النار، واما العرضة الثالثة فللمؤمنین وهو العرض للمغفرة لا ان یخلوهم فیعاتب مزید عتابه في تلک الخلوة حتی یذوق وبال الحیاً والخجل ثم یغفر لهم ویرضی عنهم یعني دغه حیاً او خجالت یې قائمقام د عذاب وګرځي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ

په یاد کړه هغه وخت و خلګو ته چې موږ وویل ملکو ته یعنې عموماً چې سجده وکړئ آدم ته (یا سجده د سرکښته کولو چې تحیه د امم سابقه وه یا یې آدم قبله ورته وګرځول سجده د خدای ﷻ لپاره وه) نو ټولو ملکو په اتفاق او اجماع کما في سورة البقرة سجده وکړه، خو نه وکړه سجده ابلیس چې پخوانی نوم یې عزازیل وو.

پوښتنه: دا قصه خدای ﷻ مکرره په ډیرو ځایو د قرآن کریم راوړې ده، د تکرار حکمت یې څه دی؟

ځواب: دا قصه خدای ﷻ مقدمه ګرځولې ده د هغو امورو لپاره چې مقصود بیان د حال د هغو امورو په هغو ځایو کې وي مثلاً په دې ځای چې خدای ﷻ شفاعت بیانوي د هغو کسانو چې دوی فخر کوي او دا کار ددوی یې بد و بلی ددې تاکید یې په دې وکړی چې دا له سټنو څخه د ابلیس دی، او یا دا چې خدای بیان کړی حال د هغو کسانو چې په دنیا سره مغرور وه او د هغو کسانو چې له دنیا څخه معرض وه او سبب د اعتماد ددوی دنیا سره حب الشهوات او تسویل د شیطان وو او خدای ﷻ اول دوی له چې د زخارف څخه د دنیا دست بردار اوسئ، ولې چې هغه په معرض کې د زوال دي او اعمال صالحه خیر و ابقی دي، اوس خدای ﷻ نفرت ورکوي دوی ته له شیطان څخه چې دی ستاسي قدیم دښمن دی، دا ده وجه د تکرار ددې قصې په قرآن کریم کې.

كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ

دا جمله مستأنفه لپاره د بیان ده، نه سجده د ابلیس کانه قیل ماله لم یسجد جواب ورکړل سو چې دی د جن له قبیلې څخه وو، نو یې روی ګردانې وکړه له امتثال څخه د امر د رب ده، له دې څخه دا معلومه سوه چې ملکي لایعصون من امر الله ابداً ابلیس چې عصیان وکړی دی ملکه نه وو بلکې جني وو په اصل ذات کې، نو پر دې تقدیر استثنا د ابلیس استثنا منقطع ده، مثل جائني القوم الا حماراً، ددې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تائيد قول د حسن رح كوي كان ابليس من الجن ولم يكن من الملائكة.

دروښ وايي: چي پوره تفصيل ددې په تفسير کي د سورة البقرة تير سوی دی، او بعض مفسرين وايي چي ابليس که څه هم د جن له قبيلې وٗ لکن چونکه د لکو ملکو سره په اسمانو کي د خدای عبادت يې کاوه، نو هغو ملکو ته يې تغليب ورکړی او دی يې هم په هغو کي داخل وګڼی، بيا يې څنډي استثنا کړی، نو استثناً بيا متصل ګرځي کما في قولهم جا القوم الفلاني الا زيداً، زيد چونکه يو سړی وي چې په قوم فلاني کي يوازي اوسيږي، نو هغو ته تغليب ورکوي او استثنا يې متصل ګرځي فافهم.

أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌۢ ۖ

آيا تاسي ګرځوئ دی او دده اولاد خپل دوستان يعني د دوی په قول او وسوسو عمل کوئ ماسوی له خدای ﷻ څخه، يعني ستاسي اصلي دوست خو خدای ﷻ وٗ. او حال دادی چي دوی ستاسي دښمنان دي. عاقل سړی خو بايد دښمن دوست نه وګڼي.

بوه سه: چي استفهام لپاره د انکار دی پر اتخاذ ددوی اولياً، او جمله د وهم لکم آه" حال ده د انکار د تاکيد لپاره.

سوال: "عدو" چي د "هم" خبر دی مفرد يې راوړی داسي نه وويل سول "وهم لکم اعدا"؟

ځواب: په قاموس کي وايي چي په فعول او په فعيل کي مفرد او تثنيه او جمع برابر دي، او "عدو" پر وزن د فعول دی فافهم.

بِئْسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلًا ۝

بد دی شيطان او ذريه دده بدل له خدای ﷻ څخه په ولايت او دوستی کي، بغوي رح وايي چي مجاهد رح له شعبي رح څخه روايت کړی دی چي يوه ورځ ناست وم چي يو سړي پوښتنه راڅخه وکړه هل لابليس زوجة، ما ورته وويل چي دا ماته نه ده معلومه، وروسته مي دا آيت په ياد سو "افتتخذونه وذريته الآية" فعلمت ان الذرية لاتكون الا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زوجه، نو هغه سړي ته مي ويل هو لري يې، شعبي ؒ له دې آيته دا وفهمول چې اولاد بې زوجې نسي کېدای قال الله تعالى في رد قول النصارى "عيسى ابن الله" اني يكون له ولد ولم يكن له صاحبة، څرنګه به خدای لره ولد وي او نسته خدای لره ماينه فتدبر، قتاده ؒ وايي چې شيطانان تولد لري لکه بنې آدم چې تولد لري.

دروېش وايي: چې روح المعاني، روح البيان، مظهري او امام غزالي ؒ د ابليس د زامنو څو نومان راوړي دي او پر کومه وظيفه چې دوی تاکل سوي دي هغه يې هم راوړي دي لکن فقير د هغو له نقل څخه ډډه وکړه، له دې سببه چې تفسير د پينځلسم جزء اوږد سو، ولي چې طويلي قصې پکښې راغلې لکه قصه د معراج بالتفصيل التمام او قصه د اصحاب کهف بما لامزيد عليه او نور اوږده بيانونه.

مَآ أَشْهَدتُّهُمْ خَلْقَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنفُسِهِمْ ۖ

او ما نه وه حاضر کړي يعني ابليس وذريته و پيدا کېدلو ته د اسمانو او مځکې او نه و پيدا ئښت ته ددوی د ځانو، يعني بعض ددوی و خلق ته د بل بعض يعني چې زه له دوی څخه کومک (مرسته) وغواړم او يا مشوره ورسره وکړم په تدبير کې د اوامرو د اسمانو او مځکې، ولي چې خلق د اسمانو او مځکې خو د ابليس وذريته تر خلق دمخه وو، نو خلګ څرنګه ابليس وذريته دده اوليا ګرځوي من دون الله تعالى.

وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ عَضُدًا ﴿٥١﴾

او نه يم زه اخستونکی د هغو کسانو چې وظيفه يې ګمراه کول د خلګو وې يعني ابليس وذريته يعني معاونان په خلق کې د يو شي حتى چې خلګ تو هم د شرکت ددوی وکړي د خدای ﷻ سره په بعضې احکامو کې د ربوبيت او ددوی سره تولی او دوستي مختاره کړي.

سوال: المضلين يې اسم ظاهر راوړی او سره ددې شيطان وذريته دمخه تېر سوي، نو چې د "مضلين" په ځای کې يې ضمير راوړی وای اختصار به نه وای؟ لکه په "ماأشهدتهم" کې چې يې ضمير ورته راجع کړی ؤ؟

ځواب: اسم ظاهر يې په دې راوړی چې پر دوی حکم د اضلال وکړل سي او وصف ذم ددوی ذکر سي فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَوْمَ يَقُولُ نَادُوا شُرَكَآءِيَ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ

یعني ذکر کړه هغه ورځ چې خدای ﷻ ووایي و کافرانو مشرکانو ته. ناړې کړئ زما شریکانو ته الذین هغه شرکا چې تاسي ګمان فاسد کاوه چې دا شرکا د خدای دي په عبادت کي وهي الاصنام یعني ددې لپاره چې زما عذاب ستاسي څخه دفع کړي. یا مو شفاعت وکړي لکه تاسي چې به ویل "هؤلاء شفعائنا آه".

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقًا ﴿٥٢﴾

دوی ور نارې کړي د فریاد رسی په لهجه (مثلاً یا لات، یاعزی، یامنات الی غیر ذالک) نو فریادرسي ونه کړي ددوی لکونها جمادات. او وګرځوو موږ په منځ کي د شرکانو او ددوی د بتانو چې دوی آلهه وبلل "موبقًا" صیغه د ظرف مکان ده یعني ځای د هلاک، کذا قال عطاً والضحاک، وقال رئیس المفسرین عبد الله بن عباس ﷺ چې موبق یوه شپله ده په اور کي. یعني هغه تواصل چې د مشرکانو او ددوی د الهه وو تر منځ وَ قطع سي، او فراً نحوي وایي وجعلنا تواصلهم في الدنیا هلاکًا في الآخرة، نو پر دې تقدیر لفظ د بین په معنی د تواصل دی. او "موبقًا" مصدر میمي دی.

وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ النَّارَ فَظَنُّوا أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمْ يَجِدُوا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴿٥٣﴾

او ووینې مشرکان اور یعني دوږخ، ددوی یقین سي چې موږ وه دغه اور ته ور اچوي (په صحیح حدیث کي راغلي دي چې د مشرکانو چې دا ظن کېږي هغه وخت چې ددوی او د اور تر منځ مسافت د څلوېښتو کالو وي) او دوی نسي پیدا کولای له اور څخه خلاصون که "مصرفًا" مصدر میمي وي، او یا ځای د خلاصون که ظرف مکان وي.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ

او والله په تحقیق موږ بیان کړي دي په دې قرآن کي و خلګو ته لپاره د موعظت او د پوهني لپاره هر یو داسي عبارت چې لکه ضرب مثل په غرابت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مراد آيات د قرآن مجيد دي چې په رقم رقم عباراتو خداى پاک ذکر کړي دي.

وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾

او دى انسان د هر د شيانو از روى جدال يعني ناحقه بحث كونكى، ابن عباس رضي الله عنه وايي چې مراد له انسان څخه النضر بن الحارث دى چې د عليه الصلوة والسلام سره به يې ناحقه بحث په قرآن كې كاوه، او كلبي رح وايي چې مراد څندي ابي بن خلف الجمي دى. او بعض وايي چې مراد څندي مطلق كفار دي كريمه "ويجادل الذين كفروا بالباطل.

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَن يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ

او نه دي منع كړي خلګ يعني كافران له ايمان څخه. نو كلمه د "ان" مصدريه ده) هغه وخت چې دوى ته راغلى قرآن او اسلام من الله ﷻ. او بعض مفسرين وايي چې له هدى څخه رسول الله ﷺ مراد دى، پر هر تقدير حمل د هدى چې مصدر دى مبالغةً دى فافهم "ويستغفروا ربهم" عطف دى پر "يؤمنوا" اى عن الاستغفار مما صدر عنهم من الكفر والمعاصي.

إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ

مظهري رح وايي چې په آيت كې مضاف محذوف دى او مضاف اليه يې په ځاى كې راغلى دى، نو اصل عبارت داسي دى "الا تقديران يأتيهم سنة الاولين" يعني سنتنا في الاولين من العذاب بالاستيصال، يعني تقدير الهي دوى كړي داسي دى چې پر دوى به لكه اولين عذاب د استيصال راځي، نو ځكه ايمان نه راوړي، او بعض تقدير د آيت داسي "الا طلب ان تأتيهم سنة الاولين من معانية العذاب وانتظار ذالك" ولي نضر بن الحارث واضرابه به ويل اللهم ان كان هذا هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة من السماء.

أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾

يا راسي و دوى ته عذاب مخامخ قاله ابن عباس رضي الله عنهما وقال قتاده رح فجائة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(نابيره) او بعض مفسرين وايي قبل بضمتين جمع د قبيل ده اى اصناف العذاب نوعًا نوعًا.

پوه سه: چي قبلاً منصوب دى على الحال له ضمير څخه او يا له عذاب څخه.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ

او موږ نه دي استولي رسولان مگر بشارت كونكي بالثواب والجنة يعني د مؤمنانو ته به زېرى كوي، او بېرونكي د كافرانو په عذاب او دوزخ سره يعني دوى پر دې قادر نه دي چي عذاب به پر خلگو يعني كفارو نازلوي، او نه مسلط پر ايمان ددوى بلكي وظيفه ده د رسولانو زېرى كول او بېرول، نور عذاب او داسي نور د خداى ﷻ په مشيت كي دي.

وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ

او ناحقه بحث كوي هغه كسان چي كافران دي يعني د رسولانو سره، كله به يې داسي ويل ابعث الله بشرا رسولاً، او كله به يې ويل "ما انتم الا بشر مثلنا" او كله به يې ويل "لوشآ الله لانزل ملائكة، او كله به يې ويل "لو لا انزل هذا القرآن على رجل من القريتين عظيم" وغير ذالك من خرافاتهم.

لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَمَا أُنْذِرُوا هُزُوًا

چي دوى زائل كي په دې جدال باطل سره حق چي دين د اسلام او قرآن دى، او دوى گرځول زما آيات په قرآن كريم كي او هغه عذاب چي دوى په بېرول كېدل د پسخند ځاى "هزوا" مصدر دى په معنى د مهزو به دى، دوى به ويل لو نشآ لقلنا مثل هذا، او يا به يې ويل يعلمه بشر، او كله به يې ويل "ان هذا الا اساطير الاولين، او كله به يې ويل "لولا يعذبنا الله بما نقول وامثال ذالك من الخرافات".

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ

څوك دى لوى ظالم (والاستفهام للانكار يعني نسته) چي ده ته وعظ وكړل سي په آياتو سره د رب دده چي آيات د قرآن عزيز دي چي د حقيت دليل يې بنكاره دى، چي هيڅ بشر اتيان د مثل دده نسي جوړولاى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۖ

دی مخ واړوي له هغه څخه یعني فکر نه پکښې ووهي چې سبب د ایمان یې ګرځېدلی وای، او هیر یې سي هغه څه چې دده تر لاسو څه بد بد علمونه ډمخه ده کړي دي من الکفر والاعمال الخبیثة چې له کفره څخه پیدا سوي وه یعني د هغو په عاقبت کې فکر هم نه وکړي.

إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ

موږ ګرځولي دي پر زړو ددوی پردې چې ظلمات د کفر دي.

پوه سه: چې دا جمله علت ده د اعراض او نسیان ددوی "ان یفقهوه" ای لئلا یفقهوه واللام للعاقبة، "وفي آذانهم وقراً" عطف دی پر علی قلوبهم ای جعلنا في اذانهم په غوږو کې ددوی ثقل او کنوالی چې قرآن کریم په سماع د قبول نه اوري که یې څه هم ظاهراً اوري.

سوال: ضمیر ددې عبارت "اعني یفقهوه" خو راجع و آیاتو ته دی، نو ولې یې مفرد مذکر راوړی، او آیات هم مؤنث او هم جمع دی؟

ځواب: نظر و معنی ته د آیات یې کړی دی چې قرآن کریم دی.

وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾

که ته یامحمد (ﷺ) دوی ته دعوت د هدایت ورکړې یعني د صراط مستقیم، نو هر ګز دوی لاري ته د هدایت او اسلام نه راځي دغه وخت چې ددوی پر زړو "اکنة" دروند والی دی او په غوږو کې یې وقر تر ابده پوري، ولې چې ددوی استعداد فطري هم له منځه ولاړی.

پوه سه: چې دا آیت په دې باره کې دی چې خدای ﷻ علم پر دوی لري چې دغه کسان ایمان نه راوړي.

وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ۚ

او ستا خدای (ﷻ) یا محمد (ﷺ) ډېر بخښونکی دی (نو دا صیغه د مبالغې ده) خاوند د رحمت دی پر بندګانو، که دوی خدای ﷻ نیولي وای په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عملو ددوی من الكفر والمعاصي، نو ژر به یې ورکړی وای و دوی ته عذاب.

پوه سه: چې دا دلیل دی پر مغفرت او رحمت د خدای ﷻ. نو دا نتیجه د مغفرت او رحمت د خدای ﷻ ده چې قریشو ته یې مهلت ورکړی دی مع شدتهم وتجاوزهم عن الحد في عداوة النبي ﷺ.

بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ﴿۵۸﴾

بلکه دوی ته یو وخت معین د عذاب سته چې ورځ د قیامت ده یا ورځ د بدر ده چې دوی به هرګز نه کړي پیدا په هغه وخت کې چې موعد راسي ځای د پناه او د نجات من آل اذا نجا.

وَتِلْكَ الْقُرٰٓى اَهْلَكْنٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا

او دغه قری الهالکة یعني اوسېدونکي ددې قریو ککفار قوم نوح، عاد، ثمود وامثالهم، موږ دوی هلاک کړه، په سبب ددې چې دوی ظلم مختار کړی بانواع المعاصي لکه کفار د قریشو.

پوه سه: چې موصوف چې "تلک" دی سره د صفته مبتدأ ده او خبر یې "اهلکناهم" دی، په "تلک القری" کې مضاف محذوف دی ای اهل تلک القری تاچې د ضمائرو مرجع پیدا سي فافهم.

وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ﴿۵۹﴾

او موږ گرځولی دی لپاره د هلاک ددوی "موعداً" ای وقتاً معلوماً چې نه مقدم تر هغه وخت هلاکېږي او نه مؤخر. یعني کفار د قریشو به هم تر خپل موعد لایسبقون ولا یستأخرون.

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ

او په یاد کړه هغه وخت چې ووېل موسی بن عمران النبي علیه السلام المنزل علیه التورة خپل خادم ته.

دروښ وایي: چې په دې توضیح کې د موسی علیه السلام زما غرض دادی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودان وایي چي د خضر علیه السلام سره ملاقات کونکی موسی، موسی بن عمران نه دی بلکې بل سړی دی د بني اسرائیلو څخه د موسی په نامه. لکن په صحیح حدیث کې د بخاري وغیره راغلي دي چي دا موسی بن عمران علیه السلام و "الفتاه" مشهوره داده چي فتاد موسی علیه السلام یوشع بن نون بن افرایم بن یوسف علیه السلام و؛ لکن روح المعاني او مظهري وایي چي نون پلار د یوشع د آل څخه د افرایم نه و په خپله زوی د افرایم بن یوسف نه و لبعد الزمان بین نون وافرایم والله اعلم.

لَآ أَبۡرَحُ حَتَّىٰٓ أَبۡلُغَ مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ أَوۡ أَمۡضِيَ حُقُبٗا ٦٠

ای لا زال اسیر فحذف الخبر وهو اسیر لدلالة حال موسی وهو السفر علیه ودلالة الغایة علیه وهو قوله، تر هغو چي زه رسېږم مجمع البحرین ته، ولي چي داغایة ممتد شی غواړي وهو السیر المحذوف، او یا به زه تګ کوم تر څو چي دهره زمانه تېر ېږي.

پوه سه: چي مجمع صیغه د ظرف مکان ده، او مراد له بحرینو څخه بحر فارس او روم دی ممایلي المشرق، روح البیان، روح المعاني، مظهري، اما روح المعاني ددې دوو بحرینو په باره کي دومره د ېر روایات نور هم راوړي دي، او اول قول د مجاهد، قتاده وغیرهما دی، روح المعاني وایي لعل المراد مکان یقرب فیه التقائهما والا فهما لایلتقیان الا في البحر المحیط.

دروښ وایي: چي بعض علماً ویي چي مراد له بحرینو څخه موسی او خضر علیهما السلام دي لانهما بحرا علم، والمراد بملتقا البحرین موضع اجتماع موسی و خضر علیهما السلام دی.

پوه سه: چي "حقب" بضمتین اسم مفرد دی جمع یې "احقاب" ده او صحاح وایي چي جمع یې حقاب ده، قاموس وایي چي حقبة بضمتین اتیا کاله ده او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما هم وایي چي حقب اتیا کاله ده. او بعض وایي چي اوویا کاله ده، په هر صورت مقصود د موسی علیه السلام مبالغه ده په طلب کي د خضر علیه السلام. بخاري او مسلم د سعید بن جبیر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی "قال قلت لابن عباس چي نوف بکالي وایي چي موسی صاحب الخضر لیس هو موسی بني اسرائیل کمامر؟ فقال کذب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عدو الله حدثنا ابي بن كعب رضي الله عنه انه سمع رسول الله ﷺ يقول ان موسى قام خطيبا في بني اسرائيل (يعني موعظت يې کاوه او يو بليغ نصيحت يې وکړی) نو يو چا پوښتنه ځنې وکړه ای الناس اعلم، ده ورته وويل انا فعتب الله عليه اذ لم يرد العلم اليه تعالى يعني داسې به يې ويلي وای چې خدای خبر دی چې څوک اعلم الناس دی، نو خدای ﷻ وحي وکړې وده ته چې زما يو بنده دی په مجمع البحرين کې هغه اعلم دی تر تا "يعني في بعض العلوم" قال موسى يا رب فكيف لي به "زه به څرنګه د هغه سره ملاقات او طلب د علم به ځندي وکړم".

تبصره: موسی علیه السلام سره ددې چې نبي مرسل وٗ او تورات هم پر نازل سوی وٗ لکن په طلب پسې د مزید علم چې خدای ﷻ شخصیت د خضر علیه السلام وروښو روان سو، زمونږ د زمانې ملایان چې په اصطلاح دستاربندي يې وکړه خصوصاً که د يو مسجد امام سو که څه هم جاهل مطلق وي، نو په علم احکام او فقه وغیره که يو څوک يو علمي پوښتنه ځندي وکړي دی شرمېږي که څه هم نه وي په خبر چې د يو عالم څخه چې تر ده ډېر ستر عالم وي پوښتنه ځندي وکړي او يا وسائل ته ووايي چې زه نه يم په خبر فلاني عالم ته ورسه خامخا د خپلې خبتې يو حکم ورکوي، پای ته ورسېدله د فقير تبصره، اوس بيرته د موسی د سفر د قصې پر لور.

خدای ﷻ ورته وويل چې يو ماهي پوخ کړل سوی درسره واخله په سفر کې د غذا پر ډول او په يوه ټوکری کې يې واچوه، نو هر ځای چې دا ماهي ورک سو يعني ژوندی سو درياب ته شوه سو، نو هلته زما بنده يعني خضر علیه السلام موجود دی، نو موسی علیه السلام هغسې وکړه او يوشع بن نون يې د ځان ملګری کړی حتی چې يو مقام ته د درياب پر غاړه ورسېدل يوه لويه ډبره وه او هوړې يوه ښه چينه د اوبو وه او هوړې دواړه بيده سوه، نو يوشع بن نون دمخه تر موسی علیه السلام راويښ سو د چينې په اوبو يې مخ او لاسونه پرېوللل ټوکری ته راغلی د لاسو اوبه يې پر ماهي توی سوې، ماهی سره وښورېدی له ټوکری څخه درياب ته وغورځېدی "فاتخذ سبيله في البحر سربا" يعني داسې وگرځېدی لکه يو طاق يعني پر دغه ځای اوبه نه بهېدلې، موسی علیه السلام چې راويښ ملګری ته يې وويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ډرخه چې ځو، د ملګري يې دا هېر سوه چې د ماهي قصه ورته وکړي، نو دا پاتې شونده ورځ او شپه يې توله سفر وکړی حتی چې سهار يعني دا بله ورځ موسی د يوشع بن نون ته وويل "اتنا غدائنا لقد لقينا من سفرنا هذا نصبا" عليه الصلوة والسلام وايي چې موسی عليه السلام د ستړيا احساس تر هغه پورې نه وکړی چې تر هغه ځای خدای امر کړی وُ تېر سو "فقال له فتاه ارئيت اذ اوينا الى الصخرة فاني نسيت الحوت وما انسانيه الا الشيطان ان اذكره واتخذ سبيله في البحر عجبا" قال وكان الحوت لفتاه سربا ولموسى وفتاه عجبا قال ذالک ماكنا نبغي فارتدا على اثارهما قصصا قال رجعا يقصان اثارهما حتى انتيها الى الصخرة فاذا رجل مسجى ثوبا فسلم عليه موسى فقال الخضر اني بارضک السلام، قال انا موسى قال موسى بني اسرائيل؟ قال نعم آتيتک لتعلمن مما علمت رشدا قال انک لن تستطيع معي صبرا، بيا خضر عليه السلام ورته وويل اني على علم من علم الله علمنيه لاتعلمه يعني الالهام چې ته يې په تفصيل نه يې خبر، او ته على علم اى علم الشريعة الظاهرة علمک الله لا اعلمه يعني بالتفصيل الى اخير الحديث، ترجمه دې آيتو به ددې ځای په تفسير کې راسي ان شا الله تعالى،

فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا

څه وخت چې ورسېده موسی او ملګری دده يوشع بن نون و مجمع ته د بحرينو يعني انتهيا الى الصخرة التي عند مجمع البحرين كمامر في الحديث، وقال السفيان رح چې ځلګ وايي چې ددغې صخرې سره عين الحيوة سته چې پر هره شي بيا د حيوة د ماهي ورته وکړي، بغوي رح وايي چې ماهی خو د يوشع سره وُ، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصل نسيان خو د يوشع ده، لكن نسبت يې د دواړو ته وكړى له دې سببه چې ماهى خو مشترک زاد السفر وبينهما يعني مجازاً الى موسى عليه السلام.

پوښتنه: موسى او يوشع بن نون خو اول د صخرة ته ورغله حتى چې ماهى هم په اول وار كې درياب ته وغورځېدى، نو خضر عليه السلام په دغه وخت كې چېرې د چې دوهمه پلا چې هغې صخرې ته راغله خضر عليه السلام يې پيدا كړى؟

ځواب: د خضر عليه السلام اصلي قيام گاه كه څه هم دغه صخره ده لكن دى هر ځاى ته د بعضې كارو لپاره په حكم د خداى ﷻ ځي.

فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾

اى جعل الحوت يجعل الله لاړ خپله په درياب كې خپل د تلو ځاى، او بعض مفسرين وايي چې "سرب" شق طويل ته وايي، او دمخه په صحيح حديث كې تېره سوه چې امسك الله عن الحوت جرية الماء، نو تر يو ځايه پورې دا اوبه لكه سوف داسې معلومېدلې چې په حديث كې يې تعبير به طاق سره ځندي كړى وى.

پوه سه: چې سبيله مفعول اول دى د "اتخذ" او "سربا" يې مفعول ثاني دى او في البحر يا حال دى له مفعول اول څخه يا د مفعول ثاني څخه.

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾

چې تېر سوه موسى او يوشع تر مجمع البحرين، وويل موسى و خپل ملگرې ته راوړه هغه طعام يعني د ماهي غوښې، په تحقيق مونږ ته ورسېدله زموږ له دغه سفره څخه ستړيا او تكليف، راوي وايي چې موسى چې تر تاكلي ځاى چې مجمع البحرين وو تېر سو، پر موسى خداى ﷻ لوړه مسلطه كړه تاچې د ماهي معلومات ورته حاصل سي د يوشع له خوا بيرته به پر شا راسي، او په حديث شريف كې راغلي دي چې موسى عليه السلام د ستړيا احساس نه كاوه تر څو چې تر موعد تېر سو يعني مجمع البحرين، نو يې لوړه محسوسه كړه.

فائده: غداً هغه طعام بولي چې د څابښت په وخت كې يې سړى خوړي او عشاً هغه طعام بولي چې مابنام يې خلگ خوري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ

یوشع بن نون ورته وویل ماته خبر راکړه ما انساني الحوت. دلته د یوشع وړیاد سو. هغه وخت چې موږ پناه وروړه و صخرة ته یعني وروړسېدلو او هلته ېده سوو، په تحقیق زما هېر سو ماهي یعني بیان د حال د ماهي و تاته. ومارئیت منه من العجب.

وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا الشَّيْطَٰنُ

اوته دی هېر کړی د ماهي حال بیانول مګر شیطان راڅخه هېر کړی، یعني شیطان په زړه کې نور فکرونه راواچول حتی چې د ماهي د حال بیان مې هېر سو، یېښاوي وایي چې شاید سبب د هېروالي بې دا ؤ چې یوشع بن نون د ماهي په دې حال غریب او عجیب غرق سو وانما نسب الی الشیطان هضماً لنفسه.

أَنْ أَذْكُرَهُۥ ۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾

چې زه ذکر کړم امر د ماهي وتاته، او واخستل ماهي خپله لار په دریاب کې "ای سبیلاً عجباً".

پوه سه: چې "اتخذ" مفعول اول د "سبیله" دی، او "عجباً" صفت د مفعول ثاني ای "سبیلاً" په ځای کې د مفعول ثاني درېدلی دی. او "في البحر" ظرف لغوه متعلق په "اتخذ" پورې دی. او یا معنا داده اتخاذاً عجباً. نو پر دې تقدیر عجباً صفت د مفعول مطلق محذوف دی. نو "في البحر" مفعول ثاني د "اتخذ" دی. او بعض مفسرین وایي چې "عجباً" مفعول مطلق د فعل محذوف دی ګویا قاد موسی په اخیر کې وویل عجبت عجباً.

قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۖ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾

موسی (علیه السلام) وویل چې دا فقد د حوت چې زمونږ لپاره نښانې ده د ملاقات د خضر علیه السلام سره، نو دوی بیرته راوګرځېدل پر هغه لار چې دوی تللي وو: "قصصاً" مفعول مطلق دی د فعل محذوف یعني یقصان قصصاً یعني دوی تلاش کاوه د خپلو ګامو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ

دوی پیدا کړی یو بنده زمونږ له بنده ګانو څخه.

پوه سه: چې "عبداً" یې نکره راوړی لپاره د تعظیم کما تقرر في علم المعاني یعنې چې تنکیر ګاهې د تعظیم لپاره وي او هغه خدای ﷻ و ځان ته مضاف کړی هم لپاره د تعظیم دی لکه بیت الله للکعبة المبارکة.

ګټه: جمهور مفسرین او محدثین پر دې دي چې دا عبد الخضر و بفتح الخاء وکسر الضاد، او نوم یې بلیا بالباء الموحدة ثم لام ساکنة ثم یاء مثناة من تحت، ابن ملکان ابن فالغ بن عابر بن شالخ بن ارفخشد بن سام بن نوح علیه السلام. وکنیته ابو العباس والخضر لقبه، په دې سبب چې دی یوه ورځ پر یوه خالي سپېره مځکه باندې کښېنستی چې ولاړ سو مځکه تکه شنه وه په نباتاتو سره، کذا جاء في الحدیث الذي رواه البغوي بسنده من امام بن منبه رح.

دروېش وایي: چې د خضر علیه السلام په باره کې د تعجب ور روایات راغلي دي، بعض وایي چې د آدم د ملا زوی و دا روایت که څه هم ابن عباس رضي الله عنه ته منسوب سوی دی لکن تر ده پورې یې سند ضعیف دی، په فتح القریب کې ومن اغرب ماقیل انه ابن آدم بطن حواء. وقیل انه من الملائکة وهذا باطل ومن اعجب ماقیل انه ابن فرعون کما في التواریخ مصر، وهذا ایضًا باطل. وقیل ابن خالة ذی القرنین، وقیل انه من بني اسرائیل وهذا ایضًا باصل لان موسی کان مبعوثًا الی بني اسرائیل کلهم. فلو کان الخضر من بني اسرائیل لکان من اتباع موسی علیه السلام. او ورانده په صحیح حدیث کې تېره سوه چې موسی په طلب کې د زده کړې په خضر علیه السلام پسې سرګردان و او آیات قرآنیه هم پر دې دلالت کوي، والاقرب ان الخضر کان من ابناء الملوک الاقدمین نزهد في الدنیا.

اختلاف العلماء: جمهور علماء وایي چې خضر علیه السلام نبي غیر مرسل و یعنې یو قوم ته نه وړا استول سوی، او محققین د صوفیه وایي چې خضر ولي و نبي نه و، او بغوي او نور علماء وایي چې خضر تر یوم نفخ الصور پورې به ژوندی وي او اکثر د محدثین وایي وفات سوی دی، وغایة التفصیل والجوابات في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روح المعاني وروح البيان، او مظهري په کرکيچ اختلاف کي څه نه دي ويلي.

اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿۶۵﴾

موږ ورکړی وُ ده ته رحمت له خپل جانبه څخه. مظهري وايي چې الوحي والنبوة. او هغه علماً چې ولي يې بولي ثبي يې نه بولي هغه وايي چې مراد له رحمت څخه الهام او کشف دی، او موږ نبوولي وه ده ته له خپل جانبه يعني هغه علم چې تحصيل يې په زمونږ د نبووني نه سي کېدای.

دروښ وايي: چې بغوي محي السنة رح وايي چې خضر عليه السلام نبي نه وُ په ټينږ د اکثر العلم. لکن مظهري رح چې په اکثره تفسير کي خپل مقتدی بغوي رح دی په دې خای کي يې دده له مذهبه څخه انکار کړی دی او وايي چې نبي وُ او څه دلائل يې هم ذکر کړي دي فراجع والله اعلم بالصواب في هذا الباب.

په صحيح حديث کي د بخاري او داسي نورو راغلي دي چې موسی او دده فتا عليهما السلام چې واپس مجمع البحرين ته راغله، خضر عليه السلام پتو پر سر اچولی وُ او ناست وُ، موسی عليه السلام السلام عليکم ورته وويل، خضر جواب د سلام خو ورکړی او داسي يې ورته وويل "انی بارضک السلام" چېرې وُ په دې مځکه کي سلام يعني دې خای ته خو تر اوسه څوک نه وه راغلي، يعني ته څوک يې، موسی عليه السلام ورته وويل انا موسی! هغه ورته وويل موسی بني اسرائيل؟، موسی ورته وويل نعم! او موسی عليه السلام خپل د راتلو غرض ورته بيان کړی "اتبتک لتعلمني مما علمت رشداً".

قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴿۶۶﴾

وويل و خضر (عليه السلام) ته موسی (عليه السلام) چې آيا زه ستا متابعت او ملګرتيا وکړم (دا اجازه غوښتل وه له خضر عليه السلام څخه) په دې شرط چې ته به ماته راښيه بعض هغه علوم چې تاته ښوول کړل سوي يعني له جانبه څخه د خدای پاک ای بالوحي عند المظهري او بالالهام والکشف عند البغوي لپاره د زده کړي او هدايت.

مسئله: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې مفضول چې خضر وُ چې نبي نه وُ

عند الاكثر ګاهي په علم کي د بعضې شيانو بالا وي تر فاضل چي موسی علیه السلام د چي نبي صاحب التوراة ؤ. او فاضل ته دا په کار ده چي دا حصه د علم له مفضول څخه زده کړي او لويي دي نه کوي چي زه به له مفضول څخه څرنګه طلب د علم کوم کمامر من ديدن العلماً من زماننا چي هغه د فاضل له زده کړي څخه استنکاف او کبر کوي فضلاً عن المفضول في بعض المسائل. ولي چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي "الكلمة الحكمة ضالة المؤمن فحيث وجدها فهو احق بها" په بعضې اخبارو کي چي بغوي يې روايت کړی دی چي موسی علیه السلام چي دا خبره وکړه چي په آيت کي ذکر سوه. نو خضر علیه السلام ورته وويل "كفى بالتورات علماً وبني اسرائيل شغلاً؟ قال موسى ان الله امرني بهذا".

فائده: موسی علیه السلام په دې ګفت وشنيد کي د خضر علیه السلام سره د پوهه د تواضع لار خپله کړې وه او د دې پر ادب لار چي څان يې پوهعلمه ورته بښکاره کړی او اجازه يې ځندي وغوښتل چي زه به ستا تابع سم، او خواست يې ځندي وکړی چي ته بعض ما علمک الله ماته راوښيه.

قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾

خضر (علیه السلام) ورته وويل په تحقيق ته زما د شاګردۍ او تعليم طاقت نه لرې او صبر نسې کولای. يعني متعلم ته دا په کار ده چي په پوښتونو کي به د هر تلوار نه کوي او تر يو وخته به صبر کوي چي ګوندي معلم به پخپله زما د زړه شک را دفع کړي. خضر علیه السلام دليل د عدم صبر ورته ووايه.

وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا ﴿٦٨﴾

او ته به څرنګه صبر وکړې پر هغه کار "يعني چي زه يې وکړم" چي تا احاطه نه وي کړې پر هغه کار ازروی علم، نو "خبرا" تميز دی له نسبت څخه د "مالم تحط به" د صبر د نفي وجه چي خضر وکړه داده چي دی په دې پوهېدی چي زما څخه امور منکره له ظاهر شريعت څخه د موسی علیه السلام صادريږي، نو انبياؤ ته طاقت د صبر نسته پر منکراتو د شريعت ددوی تر هغو چي وجه د جواز يې نه وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورمعلومه کما سیأتي، نو گویا خضر و موسی علیهما السلام ته وویل ضمناً چي زما مصاحبت ناته گته نه کوي.

قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ٦٩

موسی (علیه السلام) ورته وویل چي ژر دی چي ته ما ووینې ان شآ الله صبر کونکی ستا پر کارو او زه نافرمانې نه کوم ستا له امر څخه.

پوه سه: چي جمله د "ولا اعصی" عطف ده پر "ستجدوني" نو محل د اعراب نه لري، او که یې عطف کړې پر "صابراً" باندې، نو د جملې تأویل په مفرد سره کوي یعني "صابراً" غیر عاص آه" نو پر دې تقدیر دا جمله منصوب محلاً ده کما هو الظاهر.

دروښ وایي: چي موسی علیه السلام چي دومره کلکه مصابره د خضر سره وکړه ددې لپاره چي دا مصابره شرط د افادې د صحبت ده، او خدای ﷻ دی امر کړی په مصاحبت د خضر سره، لکن چونکه د امور مستقبله علم خو د خدای ﷻ سره دی، نو ځکه یې ان شآ الله وویل.

قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ٧٠

خضر (علیه السلام) ورته وویل چي ته زما متابعت یعني ملګرتیا کوې، نو زما څخه به سوال نه کوې د کارو چي زه یې وکړم چي ته یې منکر بولي چي دا کار دي ولي وکړی، ولي چي سوال خو بیخه د اعتراض لري او اعتراض مانع د استفاد دی تر هغو چي زه خپل د کار سر وتاته بیانوم په خپله.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَا

نو سره روان سوه د دریاب پر غاړه په کښتی، پسې ګرځېدله تر دې چي کښېنستل په کښتی کي، ضمیر یې د تثنیه راوړی او یوشع یې تبع وګرځاوه، خضر یوه تخته د ابو له خوا څخه له کښتیه وکښل کما في حدیث البخاري ومسلم.

سوال: ضمیر د تثنیه یې راوړی، نو یوشع بن نون څه سو؟

ځواب: موسی علیه السلام واپس بني اسرائیلو ته واستاوه، او حسین کاشفي رح وای "ویوشع بر عقب ایشان میرفت" دا وجه روح البیان خوښه کړې ده، له دې سببه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دمخه د موسی او یوشع قصه وه. او اوس قصه د موسی او د خضر ده، نو یوشع ددې دوو تبع وګرځېدی فلا حاجة الی ذکره. نو اخیراً یوه کښتی یې پیدا کړه، ځو خبري یې ورسره وکړې د کرایې په باره کې. په بخاري او مسلم کې د بې بن کعب څخه روایت دی عن النبي ﷺ انه مرت بهم سفینة فکلموهم ان یحملوهم (دروېش وایي: چې په دې حدیث کې یې ضمیر د جمع ورته راجع کړی، نو دا معلومه سوه چې یوشع ورسره وو) فعرفوا الخضر فحملوهم بغیر نول" نو د کښتی مالکانو خضر وپېژندی په دې معنا چې رجل صالح دی چې په مجمع البحرین کې اوسېږي.

قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا ﴿٧١﴾

موسی (علیه السلام) انکار ورته وویل چې تا کښتی ځیري کړه یعنې تخته دې ځندې وکښل آیا ددې لپاره چې خلګ د کښتی په دریاب کې غرق سي. په تحقیق دا تا داسې کار وکړی چې عظیم دی، او بغوي رح وایي چې امر په کلام کې د عرب بلا ته وایي، او قتیبي رح وایي "عجبا".

پوه سه: چې جلال الدین المحلي رح وایي چې اوبه په کښتی کې نه داخلېدې معجزةً للخضر علیه السلام.

دروېش وایي: چې له دې عبارت څخه دا معلومېږي چې جلال الدین محلي رح هم معتقد د نبوت د خضر علیه السلام دی لان المعجزة لا تستعمل الا في خارق العادة علی ید النبي کما لایخفی، او هغه کسان چې نبي یې نه بولي هغه وایي کرامةً للخضر.

قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾

خضر (علیه السلام) ورته وویل ما تاته نه وویل چې ته زما سره صبر هرګز نسې کولای یعنې ولې دې اعتراض راباندې وکړی.

قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ

موسی علیه السلام ورته وویل ته ما مه نسه په هغه شي چې هغه شی ما هېر کړی وی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو پر دې ترجمه ما موصوله دی او عائد محذوف دی "ای شئ نسیته" مراد له ني څخه هغه معاهده ده چې موسی د خضر سره کړې وه چې زه پر تا اعتراض نه کوم، او یا کلمه د ما مصدریه ده ای بلسیاني ایاها، په حدیث صحیح کې راغلي دي د ابي بن کعب ﷺ عن النبي ﷺ کان الاول نسیانًا من موسی، والوسطی شرطًا والثالث عمدًا.

دروښ وایي: چې سره ددې حدیث صحیح چې بعض علما وایي چې مراد د نسیان څخه ترک مناسب نه ده او دغه رنګه هغه ترجمه چې بغوي رح له ابن عباس ﷺ څخه نقل کړې ده حیث قال لم ینس ولکنه من معاریض الکلام کانه نسي شیئًا آخر دون المعاهدة لا ینبغي نقل البغوي فالاعتراض في سند البغوي رح لا علی ابن عباس ﷺ کلا وحاشا.

وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴿٧٣﴾

في القاموس ای ولا تغشني ولا تکلفني ولا تحملني آه. فالمعنی ته مامه مکلف کوه زما په کار کې چې زه ستا څخه زده کړه غواړم په سختۍ سره یعني چې نسیان هم نه رابخښې، نو مراد له عسر څخه مضایقة دی د چا سره پر کوم شي.

فَانْطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ

نو موسی او خضر (علیهما السلام) سره رهي سول یعني له کښتۍ څخه راکښته سول، حتی چې دوی ملاقي سوه د هلک سره چې د نورو هلکانو سره په بازۍ اخته وو (سدي رح وایي چې نبائسته مخ یې وو برښېدی. روح البیان وایي چې نوم یې جیسور بالجیم یا حیسور بالحا وو والله اعلم) خضر علیه السلام هغه نبائسته هلک قتل کړی، په صحیح حدیث کې چې روایت یې ابي بن کعب ﷺ کړی دی راغلي دي چې خضر علیه السلام یې سر په درو ګوتو ونیوی او له بدن څخه یې جلا کړی، یعني یوه یې په ګوته او بله وړې ګوته چې سبابه یې بولي، او بله د منځ ګوته وه. رئیس المفسرین عبد الله بن عباس ﷺ وایي چې دا هلک بلوغ ته نه وو رسېدلی وهو قول اکثر المفسرین. او له قرآن کریم څخه هم دغه فهمېږي. ولي چې په عربي ژبه کې غلام بالغ ته نه وای. او له قول څخه د نبي الله موسی علیه السلام هم دغه کوچنیوالی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فهمېږي حيث قال "قتلت نفساً زكية" او د ګناه پاک خو نه دی مګر کوچنی.

اقوال ضعيفه: بعض وايي هلک يې پرې ايستی ذبح يې کړی، بعض وايي په غټه ډبره يې پر سر ووا هه مړ يې کړی، بعض وايي سر يې ډډ ډوال سره وو ژنګاوه مړ يې کړی، او بعض کسان وايي چې نابالغه نه وو لوی سړی وو، بعض وايي ځوان قطاع الطريق وو، بعض وايي ځوان وو مور او پلار ځندي ازار وه.

قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةًۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ ۖ


موسی (عليه السلام) ورته وويل چې مړ دي کړی يو انسان چې له ګناه څخه پاک وو کمامړ بهله قصاصه چې ده بل څوک وژلی وای؟.

پوه سه: چې بعض قاريان دا لفظ "زكية" په تشديد د ياً ببله الفه وايي دهو قرائة قرأ کوفة و ابو عامر، او نور قاريان يې "زاكية" په الف او تخفيف د با وايي معنی د دواړو قرائتو يوه ده.

لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾

تا راتګ يا خضر په داسي عمل سره وکړی چې په شرع کې منکر دي په ټولو اديانو سماويه او کتب منزله وو کې.


دروښ وايي: چې ددې پينځسلم جزء د تفسير ختم په شپه د جمعې د مانښام تر لمانځه وروسته (۲۷) شهر المحرم سنه (۱۴۳۰) خدای ﷻ په خير او عافيت و پای ته ورساوه. ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على رسوله خير البرية وعلى آله وصحبه البررة الكملة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجزء السادس عشر

قَالَ اَلَمْ ١٦



حضرت مولانا محمد عبد الله الابوبي

الكندهاري الحنفي النقشبندي

مكتبة التراث والتجويد

كاسي روڈ كوئٹہ بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله ذی المنة والاحسان الغفور الرحمن والصلوة والسلام علی خیر البرية والانام، وعلی آله وصحبه البررة الكرام.

امابعد: شروع الفقير في تفسير الجزء (١٦) من القرآن الكريم في ساعة مباركة ساعة اربعة ونصف من ليلة ميمونة ليلة الجمعة (٢٨) من شهر المحرم سنه (١٤٣٠) ھ ق.

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ۝

خضر (علیه السلام) وویل موسی (علیه السلام) ته ما نه وه ویلي ئانته (الهمزة للانكار ونفي النفي اثبات) یعني درته ویلي مي وه چي په تحقیق ته هرګز طاقت نه لرې چي زما سره دي صبر وکړې یعني اعتراض دي زما پر کړه وړه ونه کړې.

فائده: خضر علیه السلام په دې وار کي "لَکَ" ورسره زیات کړی لمزید العتاب علی ما صدر من موسی علیه السلام پر ترک دقاً بالعهد دوه واړه، ولي چي په دې ځای کي هیڅ عذر نه وُ بلکې عمداً یې انکار وکړی.

قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ

موسی (علیه السلام) ورته وویل که ما ستا څخه پوښتنه وکړه د یو شي (یعني اعتراضاً وانکاراً) وروسته تر دې وار، بیا نو زما سره صحبت مه کوه یعني ما جلا کړه.

قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ۝

علت د جلا والي دي، په تحقیق ته ورسېدی زما له جانب څخه عذر ته، یعني بیا نو ته معذور یې زما په جلا کېدو کي، چي دا وار په نو درېم وار وي د مخالفت زما، مسلم له ابي بن کعب رضی الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رحمة الله علینا و علی موسی (دا قاعده ده چي یو څوک بل نبي په رحمت سره ذکر کوي اول دي پر خپل ځان رحمت د خدای جل جلاله طلب کوي) که چېري موسی تلوار نه وای کړی، ده به له خضر علیه السلام څخه نور عجائب لیدلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وای، لکن موسی په دریم وار کي شرط ولګاوه یعني ان سئالتک عن شیئ الآیة.

فَانْطَلَقَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ

بیا موسی او خضر سره راهي سوه څو چي ورغله و اهل ته د یوې قریې.

درویش وایي: چي قریه په اصطلاح د قرآن عموماً بنار ته وایي. ابن عباس ﷺ وایي چي دا قریه انطاکیه وه. وهو المشهور عند المفسرین. او ابن سیرین وایي ایکه وه چي دا ډیره لېري محکمه ده له اسمان څخه یعني په ډېر کښته ځای کي واقعه ده. بعض وایي نوم یې برقه ؤ. بغوي ؒ په روایت د ابي هریره ﷺ وایي چي دا بنار دی په اندلس کي. او په مجمع البحار کي وایي بلد قریب البصرة والله اعلم.

درویش وایي: که دا بلده انطاکیه وي لکه ابن عباس ﷺ چي وویل او مشهوره هم داغه ده، نو ددې بلد به شان کي صاحب قاموس وایي چي دا یو بنار دی چي جاري اوبه پکښې سته او لوی دهوال د ډیرو پرو راګرځېدلی دی او په داخل کي د بنار پینځه ګروڼه سته. او آبادي د بنار یې دوولس میله ده. حسیني کاشفي په خپل تفسیر کي وایي: واهل بلد چون شبه شدی دروازه شهر را دربستندی برای هیچ کس نه کشادندی. نماز شام موسی و خضر بدان شهر رسیدند درخواستند که بشهر درآیند کسی دروازه نه کشود موسی وخضر دربان را گفتند که اینجا ما مسافر رسیده یم گرسنه نیز هستم چون مارا درقریه جاندادی باری طعام جهت ما بفرستید دربان آنرا هم قبول نکرد. وهذا معنی قوله تعالی.

اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا

طلب د طعام یې وکړی له اهل څخه د قریې. هغو منع وکړه چي مهماني ورکړي دوی ته. نو موسی او خضر علیهما السلام شپه دباندي په لوړه ټپره کړه. بغوي په روایت د ابي بن کعب ﷺ عن النبي ﷺ حتی اتیا اهل قریة لئام فطافا في المجالس فاستطعماهم فلم یعطوهما واستضافهم ولم یضفوهما.

درویش وایي: چي د کاشفي قصه ددې حدیث خلاف ده. قتاده ؒ وایي چي شر القری التي لاتضیف الضیف.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ ۖ

نو پیدا کړی موسی او خضر (علیهما السلام) په دې قریه کې یو دېوال چې اراده یې ددې وه چې ونړېږي، خضر هغه دېوال سم کړی یعنې له نړېدلو څخه یې وساتی.

پوه سه: چې کلام محمول پر مجاز دی، لان الجدار لا ارادة له وانما معناه قرب ودنا من السقوط وامثال هذا المجاز جار في كلام العرب، يقول واحد منهم داړی ينظر الى دار فلان چې سره مقابل وي ورنه دار خو رڼیت نه لري.

قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا ۝

موسی علیه السلام ورته وویل که ستا خوښه وای یعنې اقامة الجدار، نو تا به مزدوري پر اخستې وای یعنې له صاحب الجدار څخه.

دروېش وایي: چې په دې اقامت کې د دېوالـه اختلاف دی، بغوي رح وایي چې موږ ته روایت د ابي بن کعب رضي الله عنه رسېدلی دی عن النبي صلى الله عليه وسلم چې صرف خضر لاس پر تېر کړی دېوال سم شوو له سعید بن جبیر رضي الله عنه څخه هم ورته روایت راغلی دی، ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې یو وار یې دېوال ونړاوه بیرته یې بنا کړی.

پوه سه: چې کلمه "لتخذت" له باب څخه د تخذ یتخذ ده، نو اصل یې تتخذت وُ بیا یې تا د کلمه په تا کې د افتعال مدغمه کړه د لام په دخول سره ابتداً بالساکن پورته سول، او بصریئین وایي چې له اخذ څخه نه دی مشتق کذا قال البیضاوي. ولي چې په اخذ کې خو فا کلمه همزه دی والهمزة لا تدغم في التا.

پوه سه! چې په دې کلام کې د موسی علیه السلام باعث کول دي د خضر علیه السلام پر اخذ د مزدورۍ.

تنبیه: له دې آیت څخه دا فهمېږي چې د دېوال سمولی په مشقت سره وُ کما في روایة ابن عباس رضي الله عنهما. ولي چې مزدوري پر هغه فعل غوښتل کېږي چې مشقت پکښې موجود وي، او که اقامة الجدار په معجزه یا په کرامت د خضر وای کما في روایة البغوي بیا خو د مزدورۍ اخذ ناجائز وُ فافهم.

نکته: بعض علماً وایي چې موسی علیه السلام چې خضر علیه السلام ته دا وویل چې "لتغرق اهلها" خضر علیه السلام ورته وویل چې ته خو خپل مور په تابوت کې روه نیل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واچولي. نو ولي غرق نه سوي بېلله کښتيه، او چې موسی علیه السلام و خضر علیه السلام ته ووېل "اقتلت نفساً زکیة بغیر نفس" خضر علیه السلام ورته ووېل تا خو هم قبطي بې ګناه قتل کړی، او چې موسی علیه السلام ورته ووېل "لتخذت علیه اجراً" خضر علیه السلام ورته ووېل تا خو هم د شعیب علیه السلام د لونو پسونه ور اوبه کړه بغیر اجر.

قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ ۚ

خضر (علیه السلام) ووېل یعني موسی (علیه السلام) ته چې دا درېم سوال چې تا وکړی جلا والی دی زما او ستا تر منځ یعني سبب د فراق دی، ولي تا خو داغسې شرط پې لګولی وُ "ان سئلتک عن شیئ فلا تصاحبني".

دروېش وایي: چې مظهري رح یوه لویه سهوه کړې ده وهذا عبارته فان هذا الاعتراض لهوی النفس آه.

دروېش وایي: چې دا ترجمه د بعض غلات د صوفیه وو دی، او مظهري چې ځان صوفي بولي دا ترجمه یې وکړه ولم یعلموا هؤلاء الصوفیة ان هذا جرئة عظیمة علی افضل انبیاً بني اسرائیل وکلیم الله تعالی صاحب التورات، او بعضې مفسرینو تر ده دمخه هم دا ترجمه کړې ده، ورد في الکشف بان هذا التفسیر لایلیق بجلالة شان موسی وصاحبه الخضر هکذا في هامش التفسیر المظهري.

پوه سه: چې اضافت د فراق و بین ته اضافت د مصدر ده و ظرف ته مجازاً او به بل عبارت اضافت د مظروف دی و ظرف ته.

سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ۝

او ژر دی چې زه به تا خبر کړم په حال د صواب زما د کارو چې تا طاقت نه درلود ی پرهغوده صبر لکونها منکراً بحسب الظاهر لکن کان مآلها علی الخیر والصواب.

اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ

هر چې کښتی دده چې ما یې تخته وکښل هغه د مسکینانو وه، کعب بن مالک رض وایي چې دا مساکین لس وروڼه وه چې پینځه یې شلان او ګودیان وه او پینځو یې کښتی په اجرت چلول په دریاب کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې د مسکین اطلاق پر داسې چا روا دی چې مال لري او نصاب ته نه وي رسېدلی او لایکون فاضلاً عن حاجته.

يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَعِيبَهَا

یعنې خلګ یې په اجرت پکښې وړل د عیال د کفالت لپاره، نو ما اراده وکړه چې عیبجنه یې کړم یعنې هغه تخته مې څندې وکښل.

وَكَانَ وَرَاءَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾

او په مخ کې ددوی یعنې دوی چې روان وه په دریاب کې یو باچا وچې اخستلې یې له خلګو څخه کښتی په غصب سره یعنې سفینة سلیمة من العیب لیفید عیب الخضر لها یعنې دا عیب د خضر یې مانع د غصب وګرځي.

پوه سه: چې ددې غاصب ملک نوم جلندي بن کرکر ؤ علی الاشهر. او محمد بن اسحاق ؒ وایي چې نوم یې سولة بن جلید ؤ، او شعیب الجبائي ؒ وایي چې نوم یې هدد بن بدد ؤ.

سوال: خضر علیه السلام چې د کښتی تخته کښل، نو مالکان د کښتی یې مانع نه سول؟

ځواب: بغوي ؒ وایي چې خضر علیه السلام دوی ته عذر وکړی او په حال د ملک غاصب یې خبر کړه او د کښتی مالکان په دې حال نه وه خبر. او خضر علیه السلام دوی ته وویل "وقال لهم اردت اذا هي مرت علیه ان یدعها لعیبها" نو تر ملک چې کښتی تېره سي بیرته به یې اصلاح کړو.

دروېش وایي: چې مظهري ؒ پر دې قول د بغوي ؒ داسې سوال کړی دی چې دا اعتذار له نظم څخه د قرآن خلاف دی، ولي نظم القرآن خو پر دې دلالت کوي چې خضر علیه السلام دا حکمت وروسته تر مجاوزت د کښتی په وخت کې د فراق بیان کړی او که خضر علیه السلام په اول الامر کې دا اعتذار د کښتی او مالکانو ته کړی وای، نو موسی علیه السلام خو هم ورسره ؤ هغه به هم اورېدلی وای، نو ولي یې انکار پر کاوه. فقیر وایي چې دا سوال بېځایه دی ولي موسی علیه السلام خو دست ګرېبان د خضر علیه السلام نه ؤ، نو دا احتمال سته چې خضر علیه السلام دې دا اعتذار په پته د موسی مالکانو ته د کښتی کړی دی، ګفته اند "داشته بکار آید" او تاریخ قدیم وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دا غسې هم پېښه سوه چې په مخ کې کښتی ولاړ وه د ملک غاصب او دا کښتی چې موسی او خضر عليهما السلام هم پکښې وه او دا کښتی والا وو ته يې ډېر ډېل چې موږ ملک امر کړي يو چې هر کښتی چې صحيح سالمه هغه سرکاري کوئ، هغو چې کښتی وکتل چې يوه تخته يې نه ده نو يې پرېښوول، کښتی چې تر هغه ځای ټېره سوه خضر عليه السلام بيرته هغه تخته په هغه ځای کې نصب کړه او جاکونه يې په قارو بند کړه.

وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ

او هر چې هغه غلام چې ما قتل کړی د هغه مور او پلار مؤمنان وه.

پوه سه: چې د ابو ان په لفظ کې تغليب دی د اب پر ام.

فَخَشِينَا أَنْ يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا ۝

نو موږ وېږه پدلو (د "خشينا" فاعل خضر دی باعلام من الله بالوحي ان کان نبيا او بالهام صحيح ان کان وليا وقد مر الاختلاف فيه) چې ملحق دي کړي په مور او پلار سره، د "طغيان" ترجمه روح البيان په ضلالت سره کړې ده. نو "کفرا" يې عطف تفسير دی، او دی وايي چې دغه دوه والدان به وروسته تر ايمان د زوی د محبت به کافران سي ويضلان بعد الهداية.

دروېش وايي: چې سعيد بن جبير رضي الله عنه يې هم دغه ترجمه کړې ده حيث يقول خشينا ان يحملهما حبه على ان يتبعاه دينه فيرتدا، او مظهري وايي چې مقارن به سي د ايمان سره ددوی طغيان او کفر د غلام. نو په کور کې دوه مؤمنان يو کافر متعاند وي وهذا الاجتماع عسير جداً. فاذا قتل الخضر الغلام الكافر، تو سهل الامر على الابوين.

فَأَرَدْنَا أَنْ يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا

نو موږ اراده وکړه، چې عوض او بدل دې کړي پلار او مور د هغه ولد مقتول چې ظاهراً خو خضر عليه السلام قتل کړی وُ د رب د پلار او مور د هغه هالک.

پوښتنه: دا تبديل آيا خو فعل د خدای عزوجل دی او دا خو امکان نه لري چې اراده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د بنده دي چي دلته خضر عليه السلام دی په فعل پوري د خدای ﷻ تعلق ونسي؟

ځواب: معنی د "اردنا" دلته داده چي زمونږ دا تبدیل خوښ سو او خدای ﷻ ته مو درخواست وکړی او خدای ﷻ زمونږ دا خواست قبول کړی کما سیأتي في وډي معنا ته عبارت د قرآن مبارک اشاره کړې چي "اردنا" يې په صیغه د متکلم مع الغیر راوړه، نو خضر عليه السلام نسبت د ځان او خدای ﷻ دواړو ته وکړی چي د خضر د خوا اشتهاً او دعاً وه او د خدای د قبول وۍ، فتأمل فهذا سانح عزیز.

پوه سه: چي ایجاد صرف او صرف په صنع سره خدای ﷻ دی نو ځکه اسناد وخدای ته وکړی و اما القتل ففیه یصنع الخضر مدخل، نو ځکه يې اردنا جمع راوړی کمامر في "اردنا".

خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّ اَقْرَبَ رُحْمًا ﴿۸۱﴾

بهتر تر هغه مقتول زوی په پاکی کي د کفر او له اخلاق سیئه وو څخه، نژدې تر هغه مقتول از روی رحمت پر والدینو.

پوه سه: چي زکوةً ورحمًا منصوب علی التمییز من النسبة، او عامل يې دواړه ځایه اسم تفضیل دی، فافهم، قتاده ؒ وایي اوصل للرحم وابر بوالدیه، بغوي ؒ وایي په روایت د کلبي ؒ چي دوی ته خدای ﷻ لور ورکړه چي یو نبي د انبیاوۍ په نکاح کړه فولدت نبیًا هغه لنګه سوه زوی يې راوړی چي هغه نبي وګرځېدی او د هغې د زوی نبي پر لاس ډېر خلګ مسلمانان سوه او جعفر بن محمد ﷺ وایي "ابدلهما جاریة ولدت سبعین نبیًا" یعني پښت پر پښت یعني په مرور د زمانو دا نه دی مراد چي یوازي هغه جارۍه اوویا نبیان وزېږول لانه في غایته البعد عن العقل، او ابن جریج وایي ابدلهما غلام مسلم.

دروښ وایي: چي ددې قول هیڅ چا تائید نه دی کړی والله اعلم، مطرف وایي چي هغه غلام کافر چي وژېږدی مور او پلار ډېر په خوشاله سوه کما هو المعتاد في الاولاد الذکور، او چي ووژل سو ډېر په غمجن سوه او که ژوندی پاته سوی وای ددوی د هلاک سبب به ګرځېدلی وای یعني د کفر، نو هر سړی په قضا د خدای ﷻ راضي اوسي لان الله تعالی حکم ومصالح في کل قضائه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لايعرف العباد تلك المصالح والحكم الا من اعلم الله كالخضر فيما نحن فيه.

دروښ وايي: چې هيڅ انسان په آئنده کارو، خپل په خير او شر نه پوهيږي په دنيايي امورو کې، کريمه "لوکنت اعلم الغيب لاستكثرت من الخير وما مسني السوء" کريمه "عسى ان تكرهوا شيئًا وهو خير لكم وعسى ان تحبوا شيئًا وهو شر لكم" نو کلمه د تفويض الامر الى الله عالم الغيب والشهادة ډېره زيباده يعني اوږه امري الى الله الخ. تاريخ وايي چې يو عارف واعظ عالم ډهر وخت چې واعظ به يې پای ته ورساوه په اخير کې بې غلو ته دعا کوله يو چا پوښتنه وکړه چې ته ولې غلو ته دعا ګانې کوې سړه ددې چې قطاع الطريق او راه زنان دي؟ ده واعظ ورته وويل چې دوی زما د هدايت او د علم او عرفان سبب ګرځېدلي دي، سائل ورته وويل چې څرنګه؟ ده په ځواب کې ورته وويل چې زه يو وخت د بر غټ تجاروم يو خوا ته په تجارت تلم نقود هم راسره وه، نو غله او قطاع الطريق راباندې پېښ سوه د بر يې ووهلم او مال يې ټوله راڅخه واخستی، وروسته چې کور ته راغلم چې ما به د تجارت نيت وکړی هغه غله به راپيدا سوه او خپل ځان ته به مې ويل چې ته به بيا په ډېر عمر کې نقود سړه جمع کړې غله به يې په يوه ورځ درڅخه لوټ کړي كما في النوبة الاولى راسه داسې سرمايه ځان ته حاصله کړه چې د غلو د لوټ لار ورته نه وي، نو مې علم او سلوک مختاره کړی انتهى.

وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ

او هر چې هغه د هوال چې ما يې بنا وکړه هغه د دوو نابالغه يتيمانو وو په دغه ښار کې، بغوي رح وايي چې د يوه نوم اصرم وو او د بل نوم صريم وو يا صريم آه چې زامن د کاشع وه چې سياح او تقوی داره سړی وو روح البيان.

وَكَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ لَّهُمَا

او لاندې تر د هوالله مال مدفون وو يعني چې پلار يې نسخ کړی وو من ذهب وفضة كذا روى مرفوعًا وهو الظاهر. واخرج البخاري في تاريخه والترمذي والحاكم من حديث ابى الدرداء رضي الله عنه عن النبي ﷺ انه قال ذهبًا وفضةً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ما ترجمه په مال مدفون سره وکړه، نو هغه سوال دا وارد ږي چې کنز څو حرام دی لقوله جل شانه "والذين يكنزون الذهب والفضة ولاينفقونهما في سبيل الله (يعني زکوة يې نه ورکوي) فبشره بعذاب اليم؟

له عبدالله بن عباس او عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی "كل مال يؤدى زكوته فليس بكنز وان كان مدفونًا وكل مال لايؤدى زكواته فهو كنز وان لم يكن مدفونًا" يغوي ؒ وايي چې سعيد بن جبير ﷺ وايي كان الكنز صحفًا (اى كتبًا) فيها علم" ورته حديث له ابن عباس ﷺ څخه هم مروي دی.

دروښ وايي: چې د ابی الدرداء ﷺ حديث چې نږدې ذکر سو اولی واحری بالاعتبار، واما الروايات الاخر ففي اسانيدها ضعف والله اعلم.

وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا

او پلار ددوی صالح او تقوی دار د خپلې زمانې وٴ، جعفر بن محمد ﷺ وايي چې د يتيمانو او د اب صالح تر منځ اووه پلار وه او دفن کونکی جد سابع وٴ، روح البيان او روح المعاني وايي چې ظاهر له لفظ څخه د اب هغه اب قريب دی چې دوی څنډې زېږېدلي وه، په هر صورت بغوي ؒ وايي چې ابن عباس ﷺ ويلې دي چې له سببه د صلاح د اب الله ﷻ امر کړی خضر ﷺ باصلاح الجدار لاجل حفظ مال اليتيمين بصلاح ابيهما، وقال محمد بن المنكدر ﷺ ان الله يحفظ صلاح العبد ولده وولد ولده وعترته (او تبر دده) وعشيرته (قبيله دده) و اهل دويرات حوله، مادام فيهم (چې دا صالح ژوندی وي.

فائده: پر عوام الناس باندې لازمه ده چې د صالحانو د اولاد دي ډېر مراعات کوي مالم يصدر عنهم طغيان ولاكفر.

دروښ وايي: چې په اوسنی زمانه کې د صالحانو ذريه د عوامو تر ذريه په معاصيو ککړ دي يعني على الاغلب الا من عصمه الله.

فَأَرَادَ رَبُّكَ أَنْ يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا

نو اراده وکړه رب ستا چې دا دوه يتيمان ورسېږي و بلوغ ته، يعني ابتدا د رشد ده، او کمال د رشد اتلس کاله دی، او ظاهر مذهب د امام اعظم ؒ (۲۵) کاله دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د یو چا سره که د یتیم مال ؤ او دا یتیم چي بلوغ ته ورسیدی سفیه یعني کم عقل او باولـه ؤ، تر پینځه ویشت کالـه دي مال په لاس نه ورکوي، چي پینځه ویشت کال یې پوره سوه مال دي په لاس ورکړي، مظهري چي ځان حنفي المذهب بولي وایي عندي (۴۰) سنة یعني څلوېښت کاله.

وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا ۖ رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ

او دوی به کار دي خزانه خپله.

پوه سه: چي "رحمةً من ربک" منصوب دی علی الحالیة من فاعل "یبلغا" ای یبلغا مرحومین من ربک، یا مفعول له د یستخرجا، او بعض علماً وایي چي رحمة متعلق دی په فعل محذوف پورې یعني خضر علیه السلام وایي فعلت مافعلت رحمةً من ربک، قاضي بیضاوي ؒ وایي چي شاید چي اسناد د ارادة الخضر و خپل ځان ته وکړه في قوله اردت ان اعیبها، ولي چي کونکی د تعییب د کښتي خو دی ؤ وان کان بامر الله، او دویم وار یې اسناد و خدای ﷻ او ځان دواړو ته وکړی یعني في قوله "اردنا ان یبدلهما ربهما خیراً منه زکوةً الآیة لان التبدیل باهلاک الغلام کان من الخضر وایجاد بدله من الله، وثالثاً الی الله وحده کما في هذه الآیة ان یبلغا اشدهما الآیة، لانه لامدخل للخضر في بلوغ الغلامین الی زمان الاشد، او یا اول چي خرق د سفینه خو شرؤ، نو خضر یې نسبت وځان ته وکړی، والثالث خیر محض والثاني ممتزج بفتدبر غایة التدبیر ویرحم الله تعالی البیضاوي في التوجیه المذکور.

وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ۚ

په تاویل د مارئیت مني من خرق السفینة وقتل الغلام واقامة الجدار، یعني دخپلي رایي څخه بلکې د خدای ﷻ په امر سره.

ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

دغه ؤ حال د هغو کارو زما چي تا یا موسی طاقت د صبر نه پر درلودی، او پر مادي انکار کاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دغه دوه یتیمان یا ددوی وصي یا قیم که په دغه خزانه خبر وه، نو څرنګه یې خضر علیه السلام پرېښو د هغه دېوال و ښاته. او که نه یتیمان او نه قیم په خزانه خبر وه، نو بیا یې استخراج څرنګه وکړی؟

ځواب: امام رازي رح په تفسیر کبیر کي وایي چې یتیمان خو په خزانه خبر وه او قیم ددوی غائب وۀ. او روح البیان په خپل وار ښه زېبا جواب ورکړی دی چې په خزانه دي هیڅ څوک نه وي خبر لکن استخراج عند البلوغ الیتیمین زمان الاشد اسان دی و ځدای ﷻ ته یا په رؤیت في المنام ان تحت جدار کما کنز، یا په الهام سره. او یا به یې صالح پلار په خوب لیدلی وای چې تر دېوال لاندي خزانه دوه یې کاږئ الی غیر ذالک.

دروښ وایي: چې اوس ددې قصې فوائد شتی واورئ (۱) بغوي رح وایي چې موسی او خضر علیهما السلام چې په حال کي د فراق وه، نو موسی علیه السلام و خضر علیه السلام ته وویل چې ماته وصیت وکړه هغه ورته وویل لاتطلب العلم لتحدث به" ته علم زده کوه ددې لپاره چې خلګو ته یې بیان کړې "واطلب العمل به" (۲) بیضاوي وایي "لاتعجب المرء بعلمه" لکه موسی علیه السلام چې په ځواب کي د هغه چا چې له ده څخه یې پوښتنه وکړه "من اعلم الناس" ده ورته وویل "انا" (۳) تلوار دي سړی و انکار ته د عمل د هغه چا نه کوي چې دده دا عمل د هغه نه وي ځوښ، ولي شاید په هغه عمل کي به یو راز وي دی به نه پوهېږي خصوصاً چې هغه سړی چې دده یې عمل ځوښ نه سو ځاونډ د علم او دیانت او د تقوی وي لکه خضر علیه السلام چې موسی درې واره انکار پر وکړی (۴) ان یداوم علی التعلم ویتذلل للمعلم ویرائ الادب في المقال یعني لایقول کما قال موسی للخضر علیهما السلام في خرق السفینة لقد شیئاً امراً" او په قتل کي د غلام لقد جئت شیئاً نکراً، یا د دېوال په بناء کي "لو شئت لتخذت علیه اجراً" (۵) وان ینبه المجرم علی جرمه ویعفو عنه حتی یتحقق اسراره ثم یهاجر عنه، یعني لکه خضر چې موسی علیهما السلام ته خپل جرم وروښو او اسرار یې ورته بیان کړه بیا یې رخصت کړی (۶) خضر و موسی علیهما السلام ته وویل که دي صبر کړی وای زرعجائبي به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي نوري ليدلي واى چي هره يوه به اعجب تر هغي منحكنى وي موسى عليه السلام وژړل على فراق الخضر عليه السلام (۷) خضر و موسى عليهما السلام ته وويل چي ته هم وصيت راته وكړه، فقال موسى اياك والغضب الا في الله ولاتحب الدنيا" خضر عليه السلام ورته وويل "قد ابلغت في الوصية فاعانك الله على طاعته واراك السرور في امرك وحبب الله لك الى خلقه و اوسع عليك من فضله. موسى عليه السلام وويل آمين، نو يو د بله سره جلا سوه (۸) خداى جل جلاله پر يتيم باندي دومره رحم كوي چي ددې دوو يتيمانو د خزانې په ساتلو كي دوه نبيان د دېوال پر بنا وكمارل يعني موسى وخضر عليهما السلام.

(۹) انبيا عليهم السلام كولاى سي چي دنياوي كارونه وكړي خصوصاً چي نفع يې وغير ته راجع وي صرف لله لكه موسى او خضر عليهما السلام چي دېوال د خزانې يې لله د يتيمانو لپاره بنا كړى (۱۰) چي موسى او خضر عليهما السلام د بېگانه يتيمانو مراعات وكړى، نو د خلگو څه خيال دى چي د قرابت د سيد المرسلين د اقربا چي سادات كرام دي مراعات وكړي صرف او صرف لپاره د سيد المرسلين صلى الله عليه وسلم د نسب پاك لپاره له هغه څخه به څومره خداى جل جلاله او د هغه لوى رسول راضي نه سي.

پوه سه: چي كوترو ته په حرم مكي كي چي خداى جل جلاله فوق العادة عزت وركړى دى په سبب ددې چي دا كوترې د حرم مكي د دوو كوترو عيال دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم او ابوبكر صديق رضي الله عنه د جبل ثور په غار كي له كفارو څخه د مكې پټ وه د هجرت په وخت كي هغو دوو كوترو د غاري په خوله كي ځاله جوړه كړه او هگى يې پكښې واچولې يعني په هغه درخته كي چي د عليه الصلوة والسلام په بلنه د غار په خوله كي ولاړ وه، د كوتري مقصد دا وُچي له دې غار څخه د خلگو يعني كفار قريش نظر واړوى چي هغه د عليه الصلوة والسلام په نيولو پسي سره د پل زنه راروان وه كذا في الصواعق (۱۱) تاريخ وايي چي بعض سادات كرام هارون الرشيد راغوښتى وُچي قتل يې كړي. د هارون و حضور ته چي يې راوستله نو ده يې ډېر اكرام وكړى او خوشي يې كړه، نو هغه سيد ته چا وويل چي تا څه دعا وكړه چي د هارون له قتله خلاص سوې؟ هغه ورته وويل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ما داسي ځواست وکړی "یامن حفظ الکنز علی الیتیمین لصلاح ابیهما احفظني من شر هارون لصلاح آبائي الکرام" کذا في العرائس (۱۲) خدای ﷻ ساتي مال صالح للعبد الصالح اذا کان فیه صلاح کما في قصة موسی و الخضر علیهما السلام.

دروښ وایي: چي نقل د ټولو فوائدو د قصې په وړ طول ته مفضي سي. نو دا ښه ده ..... بیت:

تاطبع نازکت نه پزیرد ملالتی ..... آن به که نامه را بدعا مختصر کنم

اللهم ارزقنا حبک وحب حبیبک وحب من یحبک آمین.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنْ ذِى الْقَرْنَيْنِ ۖ

او ستا څخه سوال کوي مشرکان د مکې په تعلیم د یهودانو د مدینې، چي کفارو د مکې دوی ته النضر بن الحارث او دده ملګري و یهودانو ته د مدینې استولي وه چي موږ په څه شي امتحان د صدق او کذب د محمد (ﷺ) د نبوت د دعوې وکړو، هغو ورته وویل چي د دروشیانو پوښتنه ځندي وکړئ اول د روح په باره کي او بل د اصحاب کهف او بل دا پوښتنه ځندي وکړئ چي هغه څوک وو چي د شرق او غرب، د جنوب او د شمال سفر یې کړی وو.

دروښ وایي: چي د روح د پوښتنې او د اصحاب کهف د قصې ځواب په سورة الاسرا کي په تفصیل تېر سو، او د دریم سوال ځواب شروع سو، یعني السوال عن ذی القرنین.

دروښ وایي: چي په آیت کي مذکور ذوالقرنین په نامه کي اختلاف دی، دویم دا چي له جنسه د بشر وو او که د ملکو. درېم چي سبب د تسمیه بذی القرنین څه وو، نو په دې کي اختلاف دی، روح المعاني ټوله اختلافات راوړي دي په نقض او ابرام سره، چونکه د فقیر د تفسیر مبنی پر اختصار دی حتی الامکان، نو ځکه نقض او ابرام د روح المعاني مي له دائرې څخه د نقل وه ایستی، بغوي رح وایي چي بعض اهل تاریخ وایي چي نوم یې مرزبان بن مرزبة الیوناني دی چي له اولاد څخه د یافث بن نوح علیه السلام دی، او معتمد اهل تاریخ وایي چي مراد په آیت کي ذوالقرنین الاکبر دی چي نوم یې اسکندر بن فیلقوس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اليوناني وُچې د نړۍ دنيا سلطنت يې کړی دی کما قال مجاهد ملک الارض کلها اربعة مؤمنان و کافران ، مؤمنان لکه سليمان بن داود عليهما السلام و ذوالقرنين. او کافران لکه نمرود او بخت نصر وقيل شداد ، وکان ذوالقرنين بعد نمرود في عهد ابراهيم عليه السلام لکن دهر عمر خدای جل جلاله ورکړی وُ (١٦٠٠) کاله. روح البيان وايي چې خضر عليه السلام يې وزير مستشار وُ، صحيح داده چې ذوالقرنين نه ملکه وُ کما قيل او نه نبي وُ بلکې ملک صالح وُ عادل، ملک الاقاليم (٧) او مغلوبه يې کړه تولې باچهان د نړۍ او تولې بلاد دده منقاد وګرځېدل ومات بشهر زور ودفن فيها کذا قال ابن کثير في تفسيره، او صاحب تبيان وايي چې مدت د ګرځېدلو دده په دنيا کې پينځه سوه کاله وُ، او تبيان وايي چې په بيت المقدس کې وفات سو او هورې دفن سو، او بعض علماً وايي چې مراد اسکند رومي دی چې د رومیانو تاريخ له هغه څخه شروع کېږي هغه غلطه خبره ده، ولې چې اسکندر الرومي تر ذوالقرنين اسکندر الاعظم تر دوه زره کاله بالا وروسته دی، او دا اسکندر ثاني کان قبل المسيح عليه السلام درې سوه کاله وُ کان وزيره ارسطاطاليس المشهور بارسطو الفيلسوف، روح البيان وايي قد غلط کثير من العلماً في الفرق بينهما فظنوا ان المذکور في الآية هو الرومي او سره ددې چې د اسکندر رومي مده د عمر روح المعاني دودېرش کاله ذکر کړې ده، او د سلطنت دوره يې دوولس کاله وه، والعجب من المظهري چې ذوالقرنين ابن قبيس بن فيلقوس الرومي دی وهو الاصح، بيا يې د دې ټولو راويانو روايت د تاريخ رانقل کړی دی چې ذوالقرنين يو سړی وُ د روم د يو سپين سري ښځې زوی وُ چې بل زوی يې نه درلودی وکان اسمه اسکندر انتهى، ځای د تعجب دادی چې حالات تولې د اسکندر يوناني بيانوي لکن نسبت يې وروم ته کړی دی.

دروېش وايي: چې دا تولې قصه اولاً بغوي رح مظهري رح په غلط کې اچولی دی چې هغه وايي چې بعض اهل تاريخ وايي چې د ذوالقرنين نوم مرزبان بن مرزبة اليوناني الى اخير مانقلنا من قول البغوي قريباً.

دروېش وايي: چې د ذوالقرنين د نامه په وجه تسميه کې هم اختلاف دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زهري ؒ وايي چي وجه يې داده چي دی دوو ښکرو ته د لمر رسېدلی ؤ يعني المشرق والمغرب، بعض وايي چي ده نور او تاريکه دواړه ليدلي وه، او بعض علماً وايي چي ده خوب ليدلی ؤ چي لمر يې تر يوه او بله ځنډه نيولی ؤ. بعض وايي چي دده د سر وېښتان دوې کوڅی کړي وې چي ډېر ښه خوند يې ورسره کاوه، او بعض وايي چي ده په سر کي د يوه غوږ او د بل غوږ پر ځوا دوه ښکروئ درلودل چي په لنګوته به يې پټول له خلګو څخه.

دروېش وايي: چي د اعتماد ور خبره داده چي په صحيح سند د امير المؤمنين علي ﷺ څخه ثابته ده چي ذوالقرنين خپل قوم په ابتداً الامر کي امر کړی په تقوی د خدای ﷻ، نو هغو پر راسته تيک په يو شي وواهه سړيې مات سو او دی وفات سو، بيرته خدای ﷻ ژوندی کړی بيا يې قوم ته وعظ شروع کړی بيا قوم پر چپه تيک وواهه او سر يې مات سو او دی مړ سو، بيا خدای ﷻ ژوندی کړی، نو دغه دوه ټپه يې که څه هم جوړ سوي وه لکن علامه يې پاتې وه، دا ؤ روايت د بغوي ؒ. او په بل روايت کي له ابو الورقا څخه راغلي دي، دی وايي چي حضرت علي ﷺ ته مي وويل چي ذو القرنين ماکان قرناه؟ ده راته وويل چي ستا څه خيال دی چي قرنان د ذوالقرنين د سرو يا د سپينو زرو وه، بلکې دی رجل ناصح ؤ د وعظ په دوران کي يو وار خلګو پر راسته تيک وواهه مړ سو الی اخير ماذکر في الحديث السابق.

دروېش وايي: چي قاموس چي يو معتبر کتاب د لغت عربي دی همدغه وجه يې له حضرت علي ﷺ څخه مروي کړې ده، او دغه وجه د تسميه په ذوالقرنين سره روح المعاني تر ټولو اول ذکر کړې ده، او بله وجه روح المعاني دا ذکر کړې ده چي دده په دور حکومت کي دوه قرنه د خلګو تېر سوه او نوري وجوه يې هم راوړي دي فارجع الی تفسيره.

قُلْ سَأَتْلُوا عَلَيْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿

دا خطاب دی و سائلينو ته د حال د ذوالقرنين "منه" ای من حال ذوالقرنين "ذکراً" ای خبراً په تنکير کي اشاره و تعظيم ته نه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾

په تحقیق موږ قدرت ورکړی وُ ده ته تصرف په مځکه کي کیف شأ قال البغوي رح قال علي رضي الله عنه سخرله السحاب (وریځ وه ده ته مسخره وه، وریځي به ورې هر ځای چي به ده اراده وه، او اسباب د جنګ او د سفر او ده ته یې د رښا دائره فراخه کړې وه شپه او ورځ وده ته برابره وه دا معنی د تمکین ده ده په مځکه کي یعني اسانه کړی وُ خدای عزوجل سفر په مځکه کي او اسباب د سفر یې وده ته مهیا کړي وه) او موږ ده ته ورکړی وُ هر شی چي خلګ ضرورت ورته لري او هر هغه شی چي باچهان ضرورت ورته لري په فتح کي د بنارو او په جنګ کي د دښمنانو، یعني "شیٔ" پر عموم نه دی محمول فافهم "سببًا" یو سبب او لار چي دی به یې مقصود ته رسیږه کما هو معنی السبب یعني چي سړی مقصود ته رسوي، دلته سبب د ذوالقرنین علم، قدرت او آلات د حرب د کفارو مراد دي.

تنبیه: د ذوالقرنین ددې تمکین او قدرت سبب دا وُ له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي ذوالقرنین په قصد د زیارت د کعبې مبارکې وررسیږه وُ چا ورته وویل چي په مکه کي ابراهیم خلیل الرحمن علیه السلام موجود دی، نو دی چي د ابطح شپلي ته راغلی پیاده سو او وه یې ویل چي مالره نه بنایي چي زه ورځم هغه سپور هغه بلد ته چي په هغه کي خلیل الرحمن موجود وي، ابراهیم علیه السلام ته چي ورورسیدی ابراهیم علیه السلام سلام ورواچاوه کما هو القانون الشرعي یعني یسلم الفاضل علی المفضول، بیا یې د غېږې روغبړ سره وکړی د اوله معانقه وده په وخت کي د سلام چي ابراهیم علیه السلام او ذوالقرنین سره وکړه کذا في بستان العیون، نو ذوالقرنین چي دا تواضع وکړه خدای جل جلاله ده ته وریځ مسخره کړه کما ورد في الحدیث "من تواضع لله رفعه الله" کذا في روح البیان وغیره... بیت:

تواضع کند نیک مرد اختیار ..... نهد شاخ پرمیوه سر برزمین

فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾

"فاتبع" بقطع الهمزة والفا فصحیة ای فاراد بلوغ المغرب فاتبع "سببًا" نو تلاش د سبب د وصول د مغرب یې وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: اول يې ولې سبب د مغرب د رسېدلو مختاره کړی؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چې دا جهت ده ته نژدې ؤ، او بعض وايي چې مراعات د حرکت شمسي يې وکړه ای حرکته الخاصة لانها من المغرب الی المشرق کما ثبت وبين في کتب الرياضي. بعض د مغرب علما وايي چې مغرب تر مشرق افضل دی، ولهذا اختار جهة المغرب. او دا صحيح نه ده ولې چې جلال الدين السيوطي ؒ وايي لاقطع بتفضيل احدی الجهتين علی الاخری لتعارض الادلة انتهی.

حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ

حتی چې ورسېدی و ځای ته د لوېدلو د لمر يعنې پای ته د مسکونې مځکې په طرف کې د مغرب بحيث لا يمکن مجاوزته (ووقف علی حافة البحر الغربي المحيط بالارض چې آقيانوس درياب يې بولي) ده ولیدی لمر چې غروب يې وکړی په اوبو کې چې توري لوشي وې.

دروښ وايي: چې ټوله مفسرين پر دې متفق دي چې "حمائة هي الطين الاسود" او دا لوېدل او غروب د لمر په عين حمئه کې په رؤيت کې د ذوالقرنين وه لافي الواقع لان الشمس في الفلک الرابع او د لمر جرم لکه مځکه درې سوه (۳۰۰) واره دی علی رای فکيف يمکن غروبها في عين حمئة، ددې لېدلو مثال دادی چې په دريا کې سړی په کښتی کې سپور وي او لمر غروب وکړي دده خيال او رؤيت داسي وي چې لمر په دريا کې ډوب سو. ولهذا قال البيضاوي ؒ لعله بلغ ساحل البحر المحيط فرئها کذالک اذ لم يکن مطمح نظره غير الطين الاسود والماء. ولذالک قال الله سبحانه وجدها تغرب ولم يقل کانت تغرب انتهی فافهم يعنې د ذوالقرنين په نظر کې دا ورغله چې لمر په عين حمئه کې ولوېدی که واقعًا داغسي وای باید لفظ قرآن داسي وای "کانت تغرب".

فائده: فاضل سمرقندي ؒ په خپل تفسير کې چې بحر العلوم يې نوم دی وايي فانقيل چې د لمر جرم او لوی والی لکه مځکه درې سوه (۳۰۰) يا ماشاء الله فکيف يمکن دخولها في عين حمئة من عيون الارض، قلنا قدرة الله باهرة (ای ظاهرة) وحکمته بالغة (يعنې ډېره ده) فالله تعالی قادر چې اووه اسمانونه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مځکه یې په کوچني او حقیر شي کي داخل کړي دي، نو ستا څه ګمان دی چي لمر چي په یوه اسمان کي دی په عین حمئه کي یې نسي ځایولای انتهی.

دروښ وایي: چي سلمنا چي خدای ﷻ پر هر شي قادر دی، لکن دلته نه دا سوال واردېږي نه دومره بعید له عقله جواب ته ضرورت نسته، ولي چي مونږ عنقریب دا وویل چي غروب د شمس په عین حمئه کي د ذوالقرنین په لیدلو کي دی لافي الواقع اود هغه ژوندی مثال موهم وایه، زما مقصد دادی چي روح البیان، روح المعاني، بیضاوي، مظهري او قرطبي په اتفاق سره دا خبره کړې ده چي غروب د شمس په عین حمئه کي په اعتبار د رؤیت د رائي دی لافي الواقع والله اعلم بالصواب.

وَّوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ؕ

او پیدا کړه ذو القرنین په نیز د عین حمئه یعني پر مځکه چي عین حمئه ته نژدې وه، یو قوم بیضاوي وایي چي بعض اهل تاریخ وایي چي دې خلګو کالي د حیوان وحش اغوستي وه، او د هغو خواړه هغه حیوانات د دریاب ماهیان وغیرهما وه چي دریاب به په څپه راغورځولي وه، او دا خلګ کافران وه، امام سهیلي وایي چي دا قوم اهل د جابلس وه بفتح اللام او دا یو بنار وُ چي په سرياني ژبه یې جرجیا بولي چي دې بنار لس زره دروازې درلودې په منځ کي د هرو دوو دروازو یو فرسخ مځکه وه چي بقایا د قوم د ثمود یانو پکښې اوسېدل، او دی وایي چي اهل جابلس ایمان پر علیه الصلوة والسلام راوړی دی په شپه کي د معراج چي علیه الصلوة والسلام پر دوی تېرېدی، والله اعلم.

قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِمَّآ اَنْ تُعَذِّبَ

مونږ ورته وویل اې ذوالقرنین یعني په طریقه د الهام، او بعض خلګ دا دلیل دده د نبوت بولي، یا به ته په عذابوې دا قوم بالقتل که دوی پر کفر اصرار وکړی او روسته تر دعوت ستا دوی ته د اسلام.

دروښ وایي: وقد مر ان ذوالقرنین لم یکن ملکًا ولانبیًا علی الصحیح.

سوال: وژل او قتل د چا په صرف الهام څرنګه روا کېږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: ذوالقرنین خو په ځپله ملک صالح عالم ؤ، نو په دې خو دی هم پوهېدی چې د مشرک قتل روا دی، خدای ﷻ دغه دده پوهېدل په الهام سره تائید کوي، نو په دې کې دده د نبوت څه دلیل سته، روح المعاني په دې ځای کې ډېرې خبرې کړې دي کما هو عادته، اخیر یې دا خبره کړې ده چې دا قول په واسطه د نبي ؤ چې دده سره به ورسره ؤ.

سوال: دلته خو نسبت خدای ﷻ وځان ته کړی دی یعني "قلنا"؟

ځواب: قول د نبي خو د خدای ﷻ قول دی کریمه "وما ینطق عن الهوی ان هو الا وحي یوحی" او بل ځواب یې دا راوړی دی چې دا خبره قلنا یا ذوالقرنین اما ان تعذب الآیة قول د علماؤ مشاورینو دی چې دده سره وه چې هغو اجتهاد او دا خبره وده ته وکړه او نسبت یې و خدای ﷻ ته مجازاً وکړل سو، کما ینسب الاحکام الاجتهادیة في دیننا یعني الاحکام باجتهاد المجتهدین في دین الاسلام الی الله تعالی مجازاً.

دروښ وایي: چې دا ؤ تحقیق ددې مقام صعب ومن الله التوفیق والعلم عند الله.

وَأَمَّا أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾

او یا به ته اخلې ددوی په باره کې ښه لار یعني اکرام به یې کوې او د شرائع اسلام تعلیم به ورته کوې یعني ان تابوا و اسلموا.

فائده: کلمه د "اما" دلته لپاره د ذوالقرنین د تخییر ده چې ستا اختیار دی که یې وژنې په سبب د کفر حاضر او که دعوت د اسلام ورته کوې رجاً لان یؤمنوا وهو المراد بقوله ان تتخذ فیهم حسناً، او بعض مفسرین وایي چې کلمه د "اما" لپاره د تقسیم ده یعني مصرین پر کفر یې قتل کړه او مؤمنان په دوی کې چې وه د هغو سره خپل عمل پر لار واچوه.

قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُ

ذوالقرنین وویل امتثالاً لامره تعالی هغه څوک چې ظالم وي او تینګار پر کفر وکړي وروسته تر دعوت زما ودوی ته د اسلام او شرک ته دوام ورکړي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژردی چي موږ یعني زه او زما ملګري مشاورین په دوی ته عذاب ورکړو په دنیا کي یعني بالقتل.

ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾

بیا یې رد کړل دوی و خدای ﷻ ته یعني په قیامت کي خدای ﷻ به په هغه ورځ دوی ته عذاب ورکړي نابلده منکر عذاب نادره چي جهنم دی.

وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُ جَزَاءً الْحُسْنَىٰ ۚ

او هغه څوک چي ایمان یې راوړی وي او عمل صالح یې هم کړی وي کما یقتضیه الایمان.

پوه سه: چي بعض د قرأ سبعه وو لفظ د "جزاً الحسنی" په اضافت سره یعني برفع جزاً بلا تنوین وایي. نو پر دې تقدیر یې معنی داده چي ده لره جزاً او ثواب د اعمال صالحه وو دده چي جنت دی. نو جزاً الحسنی مبتدأ ده او "فله" یې خبر مقدم دی. او حمزه، کسائي، حفص او یعقوب رحمهم الله یې په تنوین سره "جزاء" وایي. نو پر دې تقدیر "الحسنی" مبتدأ ده او "فله" یې خبر مقدم دی او "جزاً" منصوب دی علی الحالیة. نو معنی یې داده چي ده لره ده حسنی یعني الجنة حال کون الحسنی جزاً یجزی بها او یا فله المثوبة الحسنی حال کونه جزاً في الدارین.

وَسَنَقُولُ لَهُ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾

او ژر دی چي موږ به ووایو هغه ته یعني چي ایمان یې راوړی وي او عمل صالح یې هم کړی وي زموږ له امر څخه چي پر ده یې کوو اسانه غیر شاق علیه. چونکه "یسر" مصدر دی فلابد من حذف مضاف ای ذا یسر، مظهري وایي چي په دغه خطاب سره د خدای ﷻ و ذوالقرنین ته هغه بعض علماً چي وایي چي ذوالقرنین نبي و دلیل وایي. لکن بغوي رح وایي چي اصح داده چي نبي نه و والمراد به الالهام، دروښ وایي چي ددې خبري تحقیق نژدې تېر سو فلیرجع.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾

بیا ذوالقرنین بله لاره پسي واخستل یعني د مشرق پر خوا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿۹۰﴾

حتی چې ورسېدی هغه ځای ته چې لمر پر هغو اولاً راخېژي من معمورة الارض، وه یې لیدی چې لمر راختی پر داسي خلګو چې موږ نه وو ګرځولی دوی لره په مخ کې د لمر پرده من اللباس او البنآ یا مځکه ددوی د بنآ قابلي نه وې او یا دوی د بنآ پر مخ د مځکې په ځای کې دومره په مځکه کې د ګرمۍ له کبله زېر زمینی جوړې ګړي وې چې لمر به راوختی دوی به په زېر زمینیو ننوتل د ګرمۍ له کبله او چې لمر به نښه راپورته سو دوی به له زېر زمینو څخه راووتل، حدادي رح وایي چې نه یې پر سر او نه یې پر بدن وېښتان وه او وېرې یې هم نه درلودې، مخان یې داسي وه لکه پسه چې په اور والویه وذالک من شدة حرارة بلادهم، اخرج ابن المنذر وابن ابي حاتم وابو الشیخ في العظمة عن ابن جریج، قال حدث عن الحسن عن سمرة بن جندب رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ في آیة لم نجعل لهم من دونها سترا (یعني في تفسیر الآیة المذکورة) بنآ لم یبن فیها بنآ قط (یعني في زمن ذی القرنین) کانوا اذا طلعت الشمس دخلوا اسرابهم (یعني زېرخانو ته داخل سي) حتی تزول الشمس فاذا غابت خرجوا یتراعون کما تراعون البهائم (وانبسه او د ونو پاڼې یعني د درختو بلګونه خوړل) له مجاهد رح څخه روایت دی لایلبس الثیاب من السودان (یعني توري پوستي دي) عند مطلع الشمس اکثر من اهل السودان.

دروښ وایي: چې دا ځایونه پر خط استوآ ومایقرب منه جنوبًا وشمالاً واقع وي چې لمر ددوی له سر و څخه توله کال د هر نه لېرې کېږي، نو له دې کبله ګرمي ده غه ځایو تر نورو شمالي افاقو د هره زیاته ده وتفصیله في کتب الریاضي والهیئة.

دروښ وایي: چې روح البیان په مجهوله صیغه یعني روی یو حکایت راوړی دی او رد یې نه دی پر کړی، او روح المعاني بعینه هغه روایت راوړی دی چې د روح المعاني عبارت دادی وعن بعضهم "ای الروات" خرجت حتی الصین "ای چین" فسئالت عن هؤلاء" یعني دغه کسان چې په دغه آیت کې ذکر سوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چېرې دي؟ دوی راته وویل چې په منځ کې ستا او ددوی د یوې ورځې او شپې مسافت دی، نو حاکي وایي چې ما هغه ځای ته ځان ورساوه هغه داسې انسانان وه چې یو غوږ به یې پر مځکه اوار کړی او بل غوږ به یې لکه شړۍ پر ځان راچاوه، حکایت کونکی وایي چې زما سره یوسړی ملګری وُ چې ددوی په ژبه پوهېدی "فقالوا له جئتنا تنظر کیف تطلع الشمس" تاسي راغلي یاست د لمر راختل وځان ته معلوموئ؟ موږ ورته وویل هو! حکایت کونکی وایي چې موږ داغه خبرې سره کولې چې یو وار دربی سو لکه یو غټ ځنځیر چې پر ډبره څوک ټکوي، زه خو بې هوشه سوم یو ګړی وروسته چې په هوش کې راغلم ددې ځای خلګ په ما پورې تېل موږي، لمر چې راوختی پر اوبو د دریاب داسې ښکارېدی لکه پر دریاب چې د زېتون غوړي وېشلې، دوی زه سم دلاسه زېرزمینی ته واچولم، لمر چې ښه راپورته سو دوی راووتل ماهیان به یې ښکار کړه لمر ته به یې واچول پاخه او بریان به سول انتهی حکایت روح البیان الذي نقله روح المعاني، وروسته روح المعاني ویلي دي چې وداسي روایت ته باید سړی التفات ونه کړي (یعني الا للتنبیه علی بطلانها) دی وایي چې داسي قصې د سپین سرو ښځو قصې دي چې کوچنیانو ته یې کوي،

پوښتنه: په آیت کې خو نکره یعني "سترا" په سیاق کې د نفي راغلې ده یعني لم نجعل آه، نو باید دوی لره هیڅ ساتر له لمر څخه نه وای او سره ددې چې ددوی سرب یعني زېر خانې ددوی ساتر من الشمس وې؟

ځواب: الفاظ العموم لا یتناول الصور النادرة کالسرب ههنا. فالمراد الساتر المتعارف في البلاد الآخر والسرب ونحوه لیس من المتعارف کما لا یخفی فافهم.

فائده: له اسکندر څخه چا پوښتنه وکړه چې تا څرنګه مشرق او مغرب بلکې ټوله روی زمین فتح کړی، او سره ددې چې مخني شاهانو ته دومره فتح نه ده میسر سوې که یې څه هم د هرې خزانې او عساکر درلودل؟ اسکندر ورته وویل چې اولاً په مرسته د خدای ﷻ دا فتوحات ما وکړې او دویم سبب دا وُ چې ما چې به یو ځای فتح کړی رعایت خلګ به مي نه غمول او نه مي ازارول که څه هم تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فتح دمخه به زما سره په مقابل کي ولاړ وه، درېم دا چي ما د خلګو د مخني بادشاهانو نوم په بد نه یاد اوه بلکې په ښه نامه مي بلل.... بیت:

بزرگی نخوانند اهل خرد .....که نام بزرگان بزشتی برد

فلم ار مثل العدل للمرء رافعاً ..... ولم ار مثل الجور للمرء واضعاً

كَذٰلِكَ ؕ وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ۝

داغه رنګه او موږ احاطه کړې ده په هغه شیانو چې ده درلودل لښکر او آلات الحرب او عددها الی غیر ذالک "خبراً" ای علماً.

پوه سه: "کذالک" یا خبر د مبتدأ محذوفي دی ای حال ذی القرنین کما بینا من رفعة المرتبة او فراخي د مملکت تر غرب او شرق پورې بلکې د ټولي نړۍ، یا معنی داده چې دده امر په اهل مشرق کي داسي ؤ لکه امر دده په اهل مغرب کي چې ده ته خدای ﷻ اختیار ورکړی ؤ، او یا صفت د مصدر محذوف وجدها دی چې "وجداً" دی ای وجدها تطلع علی اهل المشرق کما وجدها تغرب في المغرب.

پوه سه: چې "خبراً" منصوب دی تمیز دی له نسبت څخه د احاطه و ضمیر ته چې خدای ﷻ ته راجع دی یعني ان احاطة العلمیة دون الجسمیة لتنزه تعالی عن الجسمیة کما تقرر في کتب العقائد وماقال المظهري انه منصوب علی المصدریة لان في احطنا معنی خبرنا تکلف کما لایخفی.

دروښ وایي: چې په دې آیت کي اشاره و ډېر والي ته د ماذکرنا من امور ذی القرنین باندې لایحیط بها الا علم علام الغیوب، په دې کي دده تعظیم دی.

ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝

بیا یې ولټول ذوالقرنین درېمه لار په منځ کي د مشرق او مغرب یعني له جنوبه یې شروع کړه تر شمال پورې.

حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ

حتی چې ورسېدی ذوالقرنین و منځ ته د دوو غرو چې ذوالقرنین یې په منځ کي سد او دېوال جوړ کړی دی، دا دوه بلند غرونه دي په منتهی کي د ارض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الترک مسايلي المشرق ابله خواته يې جوج ماجوج دي.

بوه سه: چې "سد" بفتح السين وضمها كما وقع في القراتين واحد په معنى د جبل او د عاجز بين الشيئين.

فائده: لفظ د "بين" په آيت کې مفعول به د بلغ دى لفظ د بين ظرف متصرف فيه يعني اسم هم راغلى دى چې ګاهي منصوب وي على المفعولية كما في هذه الآية او ګاهي مرفوع وي على الفاعلية كما في قوله تعالى "لقد تقطع بينكم بالرفع" او ګاهي مجرور وي كما في قوله تعالى "هذا فراق بيني وبينك" مظهري وايي هما جبلان بين ارمينية وآذربايجان، او حواله يې د حديث ته د ابن المنذر عن ابن عباس رضي الله عنهما کړې ده، لكن روح المعاني وايي چې حواله ددې خبرې د حبر الامة ابن عباس رضي الله عنهما ته صحيح نه ده او في نفسه سد اسكندري دانه دى بلكې د اسد د تاريخ دانانو په نيزد د نوشيروان دى، او څوک وايي د اسفنديار دى او دغه سد تر اوسه باقي هم نه دى بل خرب قبل هذا بكثير من الازمان انتهى قول روح المعاني.

دروښ وايي: چې اراد د سد بين ارمينية و آذربايجان خلاف القرآن دى، ولې چې سد اسكندري په قرب کې د قيامت منهدم کيږي كما نطق به القرآن على ماسيئاتي، فايراد هذا القول لا ينبغي للمظهري فضلاً من نسبته الى حبر الامة ابن عباس رضي الله عنهما، فحق القول لكل صارم نبوة ولكل عالم هفوة.

وَجَدَ مِنْ دُونِهِمَا قَوْمًا ۙ

پيدا کړه ذوالقرنين قريب د جبلينو ته وهو معنى امامها، كاشفي رح وايي درپيش آن دو کوه، وفي تفسير الجلالين عندهما "قوما" اى امة من نوع الانسان.

دروښ وايي: چې مآل ددغو دوو تفسيرو يو دى،

لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾

بوه سه: چې کسائي رح من القرا "يفقهون" په ضمه د يا او په کسره د قاف وايي چې معلومه صيغه د باب افعال سي يعني لا يفقهون غيرهم، نو دوى بل سره نسوای پوه کولای په خبرو، او نور قاريان يې بفتح الياء والقاف من باب المجرد يعني لا يفقهون کلام غيرهم د بل په خبرو نه پوهيدل، نو ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عباس رضی الله عنهما جامع تفسیر کړی دی "لایفهمون کلام احد ولا یفهم الناس کلامهم، علامه زمخشري وایي "لایکادون یفقهون الابجهد ومشقة لکه ګونګی چې سړی پوه کوي وهم من الترک" قال اهل التاریخ ان اولاد النوح کانوا ثلثة سام، حام و یافث، فسام ابو العرب والعجم یعني فارسي زبان پښتو زبان وغیر ذالک والروم، وحام ابو الحبش والزنج والنوبة، ویافث ابو الترک والخزر والصقالبة وياجوج وماجوج.

قَالُوا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ

"قالوا" دې وړاً السدین خلګو وویل (بعض وایي چې په ژبه د ترجمان یې وویل یعني د شکایت په توګه، لکن ظاهره داده چې ذوالقرنین ته خدای ﷻ قدرت د ټولو ژبو او افهام نعمت ورکړی ؤ، کذا في روح البیان وروح المعاني) ای ذوالقرنین په تحقیق یاجوج او ماجوج.

پوه سه: چې دا دوه لفظه عجمي دي، بدلیل منع الصرف یعني یاجوج و ماجوج بدون التنوین، نو دوه سببه د منع عجمیت او علمیت دی، او بعض وایي چې عربي دي عدم صرف یې سبب د علمیت او د تانیث په تاویل د قبیلې لانهما علمان لقبیلتین من اولاد یافث کمامر، او په روح المعاني کې وایي چې آدم علیه السلام یوه ورځ په خوب کې شیطان خطایستی او نطفه یې په خاورو ګډه سوه له هغه څخه یاجوج او ماجوج پیدا سول، په انوار المشارق کې وایي چې دا خبره منکره ده جداً عقلاً ونقلاً، اما نقلاً فلقوله علیه الصلوة والسلام ما احتلم نبي قط واما عقلاً آدم علیه السلام که فرضاً شیطان خطایستلی وای، نو نطفه خو به یې په کالو کې وای، نو په خاورو څرنګه ګډه سوه، او بل داچې یاجوج او ماجوج چې اولاد د آدم وای، نو په طوفان نوح کې چېرې وه او ولې نسوه غرق او سره ددې چې احادیث بلکې آیات قرآنیه ظاهراً پر دې چې د طوفان نوح څخه نجات نه دی پیدا کړی بهله اصحاب سفینة نوح علیه السلام.

دروښ وایي: چې روح البیان که څه هم د آدم علیه السلام د احتلام تائید کړی دی لکن مونږ متابعت د حدیث مذکور کوو: ع: وللناس فیما یعشقون مذهب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیر بحر العلوم هم دا خبره کړې ده چې یاجوج ماجوج قبیلتان من اولاد یافث بن نوح علیه السلام، او حافظ ابن حجر المحدث الکبیر ؒ قال لم یرد هذا من احد من السلف الا عن کعب الاحبار ویرده الحدیث المرفوع ان یاجوج وماجوج من ذریة نوح ونوح من ذریة حواً قطعاً.

مُفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِ

فساد کوي په مځکه کې زمونږ بالقتل والتخریب واتلاف الزروع، کلبي ؒ وایي چې دوی به د پسرلي په وخت کې راووتل پر مځکو، نو خلګو ذوالقرنین ته شکایت وکړی چې شنه شیان وي هغه خوري او وچ لرګي وغیره د ځان سره وړي ځپلو مځکو ته او ګاهي به یې سړی مړ کړی د هغه غوښې به یې وخوړلې.

دروښ وایي: چې روح البیان او مظهري د یاجوج او ماجوج په باره کې حیرت انګیز بیانونه کړي دي تاسي یې په خپله وګورئ چې د منلو وړ دي او که څرنګه.

مهمه فائده: خلګ خصوصاً کافران له علماؤ څخه پوښتنې کوي چې دا سد سکندري چېرې دی؟ ابن سعید ؒ وایي چې موضع د سد چې طول البلد (۱۶۳) درجې وي اوعرض البلد (۴۰) درجې وي انتهی، روح المعاني دا خبره رد کړې ده چې پر دغه طول اوعرض د چین ښارونه دي ولیس هناک یاجوج وماجوج، هو البته یو لوی دېوال سته چې (۲۵۰) ساعته مزل د طول یې دی لکن هغه دېوال په منځ کې د دوو غرونه دی او نه یې ذوالقرنین بانی دی او هغه بیان د سد سکندري چې عنقریب به په قرآن کریم کې راسي پر هغه دېوال نه صباد قېږي، په اخیر کې روح المعاني یوه په زړه پورې خبره کړې ده هغه داده "وقیل هما ای السد ویاجوج وماجوج" بموضع من الارض لاتعلمه وکم فیها من ارض مجهولة ولعل قد حال بیننا وبین ذالک الموضع میاه عظیمة في البحر، ودعوی استقرأ سائر البراري والبحار غیر مسلمة ویجوز العقل ان یکون في البحر ارض لم یظفر بها الی الآن (لکه امریکا چې په زرګونو کلونه وروسته انګرېزانو کشف کړی او ودان یې کړی چې په دنیا کې په حال حاضر کې یو لستر طاقت ګڼل کېږي، نو عین ممکنه ده چې قیامت ته نژدې نور ځایونه کشف سي چې په هغو کې یاجوج او ماجوج او سد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سكندري دي هم وي وعدم الوجدان لايستلزم عدم الوجود، وحاصل الكلام ان بعد اخبار الصادق (اى القرآن) بوجود هذين السدين (يعني الجبلين) وما يتبعهما (يعني ياجوج ماجوج و سد الاسكندر بين الجبلين) يلزمنا الايمان بذالك كسائر ما اخبر به الصادق من الممكنات كالحشر بعد الموت والجنة والنار وغير ذالك، والالتفات الى كلام المنكرين ناشئ من ضعف الايمان انتهى قول روح البيان.

دروېش وايي: چې که مسلمان د کافرانو او مشرکانو خبرو ته اعتبار ورکوي يعني په باره کې د سد سکندري، نو بايد په انکار کې د جنت او دوزخ او بعث بعد الموت هم اعتبار ورکړي او ايمان بالغيب دى له لاسه ورکړي! والله الهادي الى صراط مستقيم.

فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا

پوه سه: چې کلمه د فا لپاره د اظهار د غرض ده ددوى له بيان حال څخه د ياجوج ماجوج يعني چې دوى مفسدين دي، والترجمة للآية: آيا نه وګرځوو موږ تالره مزدوري چې موږ به چنده وکړو او تاته به يې درکړو، بعض قاريان يې بې الفه په سکون د را وايي، او بعض يې "خراجًا" په الف او فتح الرا وايي وهما بمعنى واحد اجراً په نيز د اکثر اهل اللغة.

عَلَىٰ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾

يعني په دې شرط دا مال درکوو چې ته به ګرځوې يعني بنا کوې به زموږ او ددوى تر منځ يو مانع چې دوى پيا پر موږ تجاوز نسي کولاى.

پوه سه: چې "سداً" بفتح السين وضمها په يوه معنى دي وقد مر بكل واحد منهما.

قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ

ذوالقرنين وويل دوى ته چې هغه شى چې ماته ممكنه او قدرت راكړې په هغه كې يعني به المال والملك رب زما بهتر دى تر جُعل او مال ستاسي چې ماته يې راكوئ يعني مفت (وړيا) يې درجوړوم.

پوه سه: چې بعض قاريان يې په فک د ادغام وايي يعني "مكنني" على الاصل،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

و بعض قاريان يې په ادغام سره د نونين وايي، دواړه متواتره قرائتونه دي.

فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ

زما سره مرسته وکړئ په خپل قوت سره يعني داسي خلګ راکړي چې د بنايي صنعت يې زده وي، او آلات راوړئ چې د بنا د سد ضرورت ورته وي لکه بېلچه ګلنګان وغيره من آلات حفر الارض او داغه رنګه زبر الحديد.

أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا

زه به وګرځوم په منځ کې ستاسي او ددوی يعني ياجوج ماجوج، دا ځواب د امر دی.

پوه سه: چې ردم حاجز او مانع محکم ته وايي چې دا به تر سد چې دوی غونښتی د هر محکم وي ددوی غونښتنه يې ومنل بلکې بالا ددوی تر غونښتنې يقال في العربي ثوب مردم اذا كان رقاع فوق رقاع وسحاب مردم ای متكاثف بعضه فوق بعض.

سوال: ذوالقرنين خو دوی ته ويلي وه چې زه ستاسي خرچه نه غواړم، نو دلته يې ولي اعينوني بقوة ويلي دي؟

ځواب: اول خو ذوالقرنين و دوی ته ثمن د دغه قوت د آلاتو ورکاوه، او بل ځواب دادی چې ايتا د آلاتو صرف کومک دی پر عمل د سد خو مزدوري نه ده، دغه عمل صرف تبرع وه.

پوښتنه: هر ځای ذوالقرنين لفظ د متكلم واحد وايي يعني اجعل؟

ځواب: سبب آمر خو ذوالقرنين ؤ او داغه رنګه معمار باشي هم دی ؤ که څه هم کار مزدوران کاوه.

آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ

راوړئ تو تې ماته د اوسپنو.

پوه سه: چې "زبر" جمع د زبرة ده لکه غرف جمع د غرفة، تفاسير وايي چې دوی ورته وويل چې مونږ زبر الحديد له کومه کړو، نو ده معدن د اوسپنې او د مسو په نژدې غرو کې وروښو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دوی ته یې نه وویل چې لوی لوی ډبري راوړئ او سره ددې چې تادای د ردم خو یې په ډبرو راپورته کړی؟

ځواب: ډبرې او شیګي دومره مهمي نه وې لکه د اوسپنې څنستي، حسین کاشفي ؒ وایي چې منقول است که ذوالقرنین خشتها از آهن بساختند بفارغ دلی جا بجا نهاده بودند همگان روز وشب خشت آهن زدند. وحکم کرد تامیان آن دو کوه که چهار هزار قدم بود درطول ودر عرض شست وپنج گز بود بکنند تابه آب رسیده آه. او بعض وایي چې منځ د دوو غرو درې میله وۍ. او بعض وایي سل فرسخه وۍ. ولامنافات بین هذه الاقوال ولي چې لاندې حصه ډبره وه کرار کرار لرې بدل تر مځکې پورې، یعني بېخونه د غرو سره لېږي وه او کرار کرار غرونه سره نژدې کېدل، په هر صورت تادای ته یې لوی لوی ډبري وروا چولې او د څټو پر ځای کماهو المعتاد ویلي کړي مس یې پر اوارول حتی چې دمځکې تر مخ رارسېدل له مځکې څخه یې زبر الحدید ایښول بیا یې پر هغو لرګي او سکاره ایښول وهذا.

حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ

تر هغو چې د غرو سرو ته رسېدل.

پوه سه: چې ضمیر د "ساوی" راجع دی د ذوالقرنین ته او لفظ د "بین" مفعول دی کمامر ان بین ظرف متصرف فیه کمامر امثلة رفعه ونصبه وجره وههنا ایضاً من مواضع النصب، ولفظ "حتی" غایة لمحذوف والتقدیر آتوه ایاها یعني ذوالقرنین ته یې زبر الحدید راوړل فجعل یبنی شیئاً شیئاً حتی جعل مابین ناحیتي الجبلین مساویاً للجبلین یعني في الارتفاع، راویان وایي چې ارتفاع یې دوه سوه ګزه وه او عرض یې پینځوس ګزه وۍ، وروسته یې منافخ راوړل یعني د اور د پوه کلو آلات او د تازه کولو توتکې چې په هغه زمانه کې وې لکه په اوسنۍ زمانه کې د آهنګرانو سره سته چې بنی، یې بولي.

قَالَ انْفُخُوْا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا

ذوالقرنین وعمله او کارکونکو ته وویل چې چې پوه کې، یاست یې (یعني علی زبر الحدید ومابینها من الخشب) حتی چې وګرځاوه ذوالقرنین هغه منفوخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فيه اور يعني لكه اور في الحرارة.

دروښ وايي: چې اسناد د جعل وه ذوالقرنين ته مع انه فعل العملة كمامر فتذكر.

قَالَ اٰتُوْنِيْۤ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ۝

ذوالقرنين وويل (و هغو خلګو ته چې د ميسو د ويلولو كار يې پر ذمه اخستی ؤ) راوړئ نحاس مذاب يا قطر چې زه وپاشم پر دغه كالنار ای الحديد قطر يعني ميس ويلي، نو دغه قطر مذاب به په هغو تودو اوسپونو پورې كلک ومښتل لكه د ښوال چې د پراړه په خټو ګل ماله كړي.

پوښتنه: دغه زبر د اوسپنې چې حرارت د اور تاثير پكښې وكړي، نو يو حيوان پر شاوخوا نسي ورته تهر بدلای فضلاً عن النفخ فيها حتى تكون ناراً او عن افراغ القطر عليها؟

ځواب: امام رازي ؒ په تفسير كبير كې په نقل د صاحب الارشاد وايي چې دا يوه لويه معجزه (يعني الكرامة) ؤ د ذوالقرنين چې خدای ﷻ تاثير ددغه حرارت بالغه الى اقصى الغاية له ابدانو څخه د مباشرينو د نفخ او د افراغ القطر صرف كړی والله على كل شئ قدير انتهى.

دروښ وايي: كالسمندل وهو يعيش في النار مع انه حيوان فالنار له كالماً للحيطان فافهم، او روح البيان په خپل وار وايي چې دا نه ده بعيد چې دا نفخ او صب د قطر دي له لېرې ځايه څخه وه په يو حيله د حيلو لكه اور د نمرود چې د ابراهيم عليه السلام لپاره يې بل كړی ؤ اخير هيڅ څوک نسوای ورنژدې كېدای چې ابراهيم عليه السلام وروغورځوي اخير يې د منجنيق په ذريعه وروغورځاوه.

دروښ وايي: چې د دې لېرې ځايه اور بلول يا پر اور اوبه وغيره پاشل په اوسنۍ زمانه كې د مشين په ذريعه دې آسان كار دی كما لا يخفى، نو چې حكمت وډې اندازې ته ورسېدی، نو ستا څه خيال دی چې ذوالقرنين ته به خدای ﷻ ورته حيله د لېرې څخه نه وي وربښولې فتدبر.

فَمَا اسْطَاعُوْۤا

دوی طاقت نه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي اصل کلمه "استطاعوا" وه جمهور د قراؤ تاځنډي حذف کوي تاچي دوه حرفه متقارب په مخرج کي نسي سره یو ځای کېدای یعني التا والطا او حمزه ؒ کلمه د تا په طا کي مدغمه وي فیکون التقا الساکنین علی غیر حده.

اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ۝

چي جوج ماجوج دي د لوړي خوا پر راواوړي لغایة ارتفاعه او بل دا چي دا سد د هر ښوی دی پښه نه پر تکیه کېږي، او نه طاقت لري جوج ماجوج چي دلاندي د ځوا دي سوری کړی، ولي چي د یر سخت دی کما سمعت او بل دا چي عرض یې هم د هر دی.

قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ۚ

ذوالقرنین وویل چي دا سد او ماته قدرت راکول پر جوړېدلو دده. رحمت دی پر بندګانو د خدای ﷻ له خوا ځخه یعني هغه بندګان چي د یاجوج او ماجوج له فساد ځخه یې و ذوالقرنین ته شکایت کړی و کما مر في القرآن العزیز.

فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّيْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ

چي ورسېږي وعده د خدای ﷻ په راتلو د یاجوج او ماجوج (یعني چي ورځ د قیامت رانږدې سي یعني چي علامات د نفخ الصور پیدا سي لکه خروج یاجوج و ماجوج وخروج الدجال ونزول عیسی علیه السلام) وبه ګرځوي دغه سد سره د ټینګ والي او لوړ والي مستوي د مځکي سره.

پوه سه: چي کوفي قرأ دا کلمه په مد او همزه سره وایي بې تنوینه کما في المصاحف المطبوعة او نور قرأ یې په تنوین بېه مده او همزه وایي یعني "دکًا" نو پر دې تقدیر "دکًا" مصدر دی په معنی د مفعول ای مدکوکًا مسویًا بالارض فالمآل واحد. دروېش وایي پای ته ورسېدل قصه د ذوالقرنین.

وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا ۝

او ده وعده حق یعني راتلونکې بېله شکه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې خروج د یاجوج او ماجوج وروسته تر نزول د عیسی علیه السلام دی او قتل د دجال من یدعیسی علیه السلام.

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ

بعض مفسرین وایي په وخت کي د فتح د سد دی فالمعنی جعلنا (په قاموس کي وایي چې ترکنا په معنی د جعلنا دی) بعض یاجوج و ماجوج یدخل بعضهم في بعض لغایة کثرتهم وتسابقهم في السیر کموج البحر، او بعض مفسرین وایي هذا عند قیام الساعة یدخل بعضهم في بعض او انس او جن سره ګډوډ سي چې تولـه د حیرت په دریاب کي ډوب وي، دا تفسیر د وروسته آیت سره سمون لري.

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ

او پوه کړل سي (یعني اسرافیل علیه السلام په خپل قرن کي نفخة البعث بعد الموت) تفسیر حسیني وایي روز قیامت انس و جن از روی تحیر و اضطراب درهم آمیزند انتهی.

سوال: نفخه اولی یې نه کړه ذکر حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت یې دادی چې فصل رانسي په منځ کي د احوال د نشائة الاولی چې په قصه کي د ذوالقرنین ذکر سوه او په منځ کي د احوال او اهوال د نشائة الثانیة، په صحیح حدیث کي راغلي دي سئل رسول الله ﷺ عن الصور فقال علیه السلام هو قرن من نور القمه اسرافیل.

فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا

یعني جمع به کړو خلائق انس او جن په یوه محکه کي للحساب والجزا.

وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا

او بښکاره به کړو موږ دوزخ و کافرانو ته "عرضًا" مفعول مطلق دی.

الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ

هغه کسان چې وي ستر ګې ددوی په پرده کي، والغطاء ما یستر الشئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې د "غطا" تنوين لپاره د تعظيم دی ای في غطا عظيم يعني في الدنيا، شرح المشارق يو حديث رانقل کړی دی چې جهنم چې هر ځای خدای ﷻ پيدا کړی دی د قيامت په ورځ اوويا زره تناونه چې پر هر تناو يې اوويا زره ملکي وي محشر گاه ته به راوړل سي او کافران به يې ووينې او جنت ته بله لار نسته بېله پل صراط چې پر متن د جهنم پروت دی.

سوال: تخصيص د کافرانو يې ولې وکړی، سره ددې چې جهنم خو په محشر گاه کې ټوله مؤمنان هم وينې؟

ځواب: د دوزخ ايجاد لپاره د کافرانو دی في اصل الوضع وبعض المؤمنين کالطفيلي.

عَنْ ذِكْرِيْ

له ليدلو څخه د آياتو او دلائلو د قدرت او د وحدانيت زما چې په ټولو ذراتو کې د عالم ځلاندي دي، شيخ سعدي ؒ وايي:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار .... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

وَكَانُوْا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ۝

او دوی وه چې طاقت يې نه درلودی د اورېدلو د ذکر او کلام زما يعني په سماع قبول سره يعني ددوی حالت بد دی تر کانه ولې که هغه ته په زوره څوک خبرې وکړي اوري يې، او کافرانو ته که هر څو کوشش په رسولو کې د قرآن او ذکر الهي انبيا کرام عليهم السلام وکړي دوی يې نه اوري يعني څانونه يې کانه اچولي وي کان لم يسمعها.

دروښ وايي: چې اخري خبرې د ياجوج و ماجوج په شان کې علی مافي کتب التفاسير المعتبرة دادي چې په صحيح مسلم کې حديث د نواس بن سمعان ؓ داسي راغلی دی چې عيسی عليه السلام چې له اسمانه پر بيت المقدس راکښته سي او تر ده دمخه دجال په مځکه کې لوی ظلم پر مؤمنانو کاوه، عيسی عليه السلام دجال قتل کړي په دوازه لد کې. او هغه بعض مسلمانان چې له دجال څخه په غرو او غارو کې پټ وه عيسی عليه السلام ورسي پر مخانو يې لاس ورتېر کړي او بيان د لويو درجو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جنت چي خدای ﷻ به یې دوی ته ورکړي دوی ته وکړي پر داغه حال وي چي عیسی علیه السلام ته خدای ﷻ وحي وکړي "اني قد اخرجت عباداً لي ای مخلوقاً لي چي یاجوج او ماجوج دي" چي طاقت نه لري هیڅ څوک د جنګ ددوی، نو زما بندګان یعني مؤمنان په کوه طور کي خوندي کړه، عیسی علیه السلام همدغسي وکړي یاجوج او ماجوج پر خلګو راووځي، کریمه "وهم من کل حدب ینسلون" د ویالو او د رودو او د رودو د کاسو اوبه تولي وچي کړي، خلګ له بهري په محفوظه کلاوو ننوځي او خپل مواشي هم په کلاوو ورسره ننباسي حتی چي اوله ډله ددوی پر یوه ویاله یا کاسه راسي توله اوبه یې وڅیښي او هغه وچه مځکه پاته سي، وروستنۍ ډله ددوی چي پر راسي وایي چي دلته لکه چي پخوا اوبه وې او عیسی علیه السلام او هغه مؤمنان چي دده سره وي په کوه طور کي محصور پاته وي، حتی چي د یوه غوایي سره دوی لره خیر وي تر سل دیناره، نو یاجوج او ماجوج یو د بل سره ووایي چي د مځکي خلګ خو مړه سوه رائي چي د من في السما سره هم جنګ وکړو، نو غشي د اسمان و خوا ته غورځوي د اسمان له خوا څخه په وینو ککړ په قدرت د خدای ﷻ سره راشوه کړي، ددوی د ابتلا او فتنې یعني امتحان لپاره عیسی علیه السلام ومن معه من المؤمنین خدای پاک ته زاري او عجز نیاز کوي، خدای ﷻ ددوی په غاړو کي نغف چي د یو چینجي نوم دی پر تولو مسلط کړی تولې په یوه وار مردار سي لکه یو سړی چي مري اخیر د یاجوج او ماجوج حرکت او ږغ کرار سي، مسلمانان سره ووایي چي داسي سړی نسته چي زموږ لپاره ځان قربان کړي او ددې دښمنانو حال موږ ته راوړي، نو یو مسلمان ځان تیار کړي او دا یې یقین وي چي زه وژل کیږم چي له هغه مخفي ځایه ځخه راووځي تولې مړه پراته وي یو پر بل سربیره، نو هغه سړی ناري کړي یامعشر المسلمین الا ابشروا ان الله ﷻ قد کفاکم عدوکم فیخرج عیسی علیه السلام ومن معه، او نور خلګ له کلاوو ځخه راووځي مواشي چي راوباسي هیڅ مرعي نه وي تولې مځکه ددوی مړو نیولې وي او بد بوی تر اندازه د پر وي، بیا عیسی علیه السلام ومن معه په دفع کي ددې مړو او بدبلدوی خدای ﷻ ته عجز او زاري وکړي، نو خدای ﷻ به داسي مرغان پیدا کړي په داسي شان لکه د مایه اوښ غاړه دغه مړي تولوي، په یوه روایت کي حیث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شا الله ته يې غورځوي او په يوه روايت کي درياب ته يې غورځوي، وروسته خداى ﷻ داسي باران شروع کړي چې مځکه ټوله پاکه پرېمنځي، بدبويي ټوله ولاړه سي، از سر نو پر مسلمانانو د خوشالي او ډېرو مېوو وخت راسي، وروسته خداى پاک امر وکړي و مځکي ته انبتي ثمرتک وردي برکتک فيومئذ تاكل العصابة (اى الجماعة) من الرمان ويستظلون بقحفها (او په سايه کي کښېني پوستکي يې) ويبارک في الرسل (اوبرکت پيدا سي) په شير دهنده حيوانانو کي) حتى ان اللقحة من الابل لتكفى الفاءم من الناس (حتى کافي وي شيدې د يوې اوښي د جماعاتو د خلګو)

دروېش وايي: وهذا مافي روح المعاني وقريب منه في المظهري ومثله في روح البيان ولا يعلم عدد يأجوج ومأجوج الا الله. وفي البحر انه قد اختلف في عددهم واحوالهم ولم يصح في ذالک شئ انتهى.

دروېش وايي: چې تفويض د عدد د دوى او نور احوال ددوى وعلم ته خداى ﷻ اسلم لار ده کريمه "ولا يعلم جنود ربک الا هو ومزيد التفصيل في روح المعاني والمظهري.

أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِنْ دُونِي أَوْلِيَاءَ

آيا ګمان دى د هغو کسانو چې کافران دي چې ګرځولى دى دوى بندګان زما چې ملکي دي يا عيسى يا عزير عليهما السلام بلکې بعض مشرکان د مکې چې د ملکو عبادت يې کاوه يا نصارى چې عيسى عليه السلام يې ابن الله باله، يا يهودان چې عزير عليه السلام يې ابن الله ګانه سوى له خداى ﷻ څخه اولياً، يعنې دوستان يا خدايان يا شفاعت کونکي يې ګڼل.

او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې مراد څندي شيطانان دي چې دوى د هغو په اضلال د بتانو عبادت کاوه، او مقاتل رح وايي چې مراد څندي بتان دي.

سوال: ددې اضافت په عبديت خداى ﷻ څان ه څرنګه وکړى؟

ځواب: په اعتبار د مخلوقيت ټولو بندګان دي قال الله تعالى ان الذين تدعون من دون الله عباد امثالكم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: لفظ د "عبادي" او "اولیاً" دوه مفعول د "یتخذوا" دي او "ان" سره د صله قائم مقام د مفعول د "حسب" دی، او استفهام لپاره د انکار دی پر دوی یعني لیس الامر کذالک بلکې دا کسان یا شیان ددوی دښمنان دي په ورځ د قیامت او ددوی څخه بېزاره وي فان عباد الله الصالحین کعیسی وعزیر والملائکة علیهم السلام اعداً للکافرین في الدنیا والآخرة والشیاطین والاصنام في یوم القیامة یتبرؤن ممن عبدواهم ویلعن بعضهم بعضاً.

إِنَّآ أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَٰفِرِينَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾

مونږ اراسته کړی جهنم لپاره د کافرانو ځای د نزول او قیام ګاه ددوی او یا مېلمستون ددوی لپاره ففیه تهکم بهم یعني استهزاً بهم.

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِٱلْأَخْسَرِينَ أَعْمَٰلًا ﴿١٠٣﴾

ته ورته ووایه چې آیا مونږ خبر نه کو تاسي په هغو کسانو چې د بر تاوانیان من حیث العمل، نو اعمالاً منصوب علی التمییز دی.

سوال: تمییز دلته ولي جمع راوړی؟

ځواب: لپاره د تنبیه پر تنوع د اعمالو ددوی، په تفسیر ارشاد کي وایي چې دا حال د کفارو بیانوي چې دوی به اعمال حسنه في الواقع کوله لکه صلة الرحم او عتاق الرقاب او اطعام الفقراً وغیرها، او ددوی په ګمان دا ؤ چې دا مونږ ښه کارونه کوو او خدای ﷻ به یې مونږ ته ثواب راکړي.

ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾

هغه کسان دي چې ضائع سوه یعني تاوان سو کوشش دوی په ژوند کي د دنیا یعني بې فائدې سو او دوی دا ګمان کوي چې دا مونږ ښه کارونه کوو "صنعاً" تمییز دی.

بوه سه: چې "الذین ضل آه" مرفوع محلاً دی خبر د محذوفي مبتدا ده ای هم الذین آه، نو دا ځواب د هغه استفهام دی، یعني "قل هل آه" او یا مجرور محلاً دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدل دی من الاخسرین آه یا منصوب محلاً دی علی الذم ای اعني او اذم الذین ضل آه . کما قالوا ای النحاة في اعوذ من الشیطان الرجیم برفع الرجیم مع انه صفت للمجرور، نو دوی وایي چي مرفوع علی الذم ای هو الرجیم، او یا په نصب د الرجیم چي دوی وایي منصوب علی الذم دی اعني الرجیم. وکذا قالوا في بسم الله الرحمن الرحیم برفع الرحمن الرحیم دوی وایي چي دا مرفوع علی المدح دی بحذف المبتدأ ای هو الرحمن الرحیم، یا په نصب د الرحمن الرحیم، دوی وایي چي منصوب علی المدح دی په حذف د اعني یا امدح، وکذا مررت بعبدک المسکین چي په نصب المسکین یې ووایي مع انه صفة للمجرور بحذف اعني، او اترحم المسکین کذا في شرح العلامة عبد الرحمن الجامي رح علی الکافیة.

پوه سه: چي ابن عباس او سعید بن ابي وقاص رضی الله عنهما وایي چي دا یهود او نصاری دي، ددوی ګمان دادی چي موږ پر حق یو او سره ددې چي دوی پر دین منسوخ وو. او علي بن ابي طالب رضی الله عنه وایي چي مراد ددې یعني الذین ضل سعیهم څخه اهل د قریه د حروراً دي چي خوارج یې بولي فانهم اول فرقة بغوا علی اهل السنة والجماعة من اصحاب رسول الله ﷺ ومن معهم وزعموا انهم علی الحق.

دروبش وایي: چي دا آیت اخبار بالغیب دی لان الخوارج ظهروا بعد وفات النبي ﷺ چي قرآن پاک ټوله کامل سوی د قافهم، او په عموم کي د آیت ټوله اهل الاهواً والبدعة المخالفین لاهل السنة هم داخلېږي لکه روافض، معتزله وغیرهم، فقیر وایي تر ټولو ظاهره معنی د آیت داده چي مراد له "الذین ضل آه" هغه کافران دي چي دوی بعث بعد الموت نه مني، نو دوی هغه کارونه کوي چي په دنیا کي دوی ته ګټور وي ولا یرون وراً الدنیا شیئاً کذا قال المظهري رح. او یا هغه احتمال چي مراد له الذین ضل سعیهم آه هغه صوفیان د نصاری وو دي چي رهبان یې بولي چي دوی به په خلوت خانو کي ناست وه او ټوله لذات د دنیا به یې پر ځان حرام کړي وه طمعاً في نعیم الآخرة وقد ضل سعیهم لکونهم علی الکفر بعد بعثت النبي ﷺ ونسخ دینهم.

دروبش وایي: چي روح البیان دا ټوله فرق مذکوره راوړي دي، او یو احتمال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زائد يې راوړی دی چې اهل الريا او سمعة يې هم پکښې داخل کړي دي لاڼ الريا شرک خفي والشرک ظاهر کان او خفيًا مهبط الاعمال ولو کانت حسنة ظاهراً.

فائده: ددې ضلال د سعي مثال دا دی چې لکه يو مسلمان چې په ښه ترتيب او قرائت او رکوع او سجده سره لمونځ وکړي لکن اودس يې نه وي قصداً.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ

دا هغه کسان دي چې کفر او انکار يې کړی دۀ له آيات څخه زمونږ چې رب ددوی دی او په ملاقات دده يعني البعث بعد الموت.

پوه سه: چې په دې آيت کې اشاره و بد والي او سوء الحال ته د هغو کسانو دە چې مسلمانان خو وي بيا هم اعمال د دنيا يعني تحصيل د مال او جاه وجلال يې مقدم کړی وي پر اعمال د اخرت او ځانونه يې په دنياوي کارو کې په وېر تکليف کې او په سرګردانۍ کې اچولي وي او امور د آخرت او مغفرت يې و فضل ته د خدای ﷻ سپارلي وي يعني په هغو ځان نه ستړی کوي، په حديث کې د ترمذي، ابن ماجه، احمد او د حاکم له انس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل "الکيس من دان نفسه وعمل لما بعد الموت" هوښيار سړی هغه دی چې خپل نفس وپېژني او د مرګ دمخه ښه عمل وکړي، يعني د آخرت لپاره "والعاجز من اتبع نفسه هواها وتمنى على الله" چې نفس يې تابع د خواهشات نفسيه ګرځولی وي او پر خدای ﷻ تمنی د جنت او د مغفرت کوي.

پوه سه: چې له آيتو څخه په قرآن کې دلائل د خدای ﷻ مراد دي چې داعي د توحيد ته د خدای ﷻ وي الشاملة للسمعية والعقلية.

فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ

نو لغوه سوه عملونه ددوی چې اميد د ثواب يې ورته کاوه، او ثواب نه ورکول کېږي پر دغو عملو ددوی په سبب د کفر ددوی ولي چې په اجماع الامة سره ايمان شرط دی د قبول د ټولو حسناتو او دا آيت يې شاهد دی او احاديث نبويه هم پر دې متواتر راغلي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: تا دمخه د حضرت علي رضي الله عنه حديث چې دا کسان خوارج دي راوړی او بيا دي هم وويل چې په عموم د آيت تولـه اهل السـوء والبدعة چې مخالف د اهل السنة والجماعة وي داخلهږي، او بيا دي دا هم وويل چې روح البيان دا تولې فرق مذکوره راوړي دي الخ. پوښتنه داده چې مذکوره فرق خو د بعث بعد الموت چې معنی لقائه ده منکر نه دي او له آيتو څخه د خدای ﷻ هم منکر نه دي بلکې دوی هم په قال الله وقال الرسول چې ادلة سمعيه دي دلائل وايي کما هو الظاهر من مطالعة کتبهم، مثلاً معتزله وايي چې د ګناه کبيره کونکی چې بې توبې مړ سي ځای يې ابدي دوزخ دی لکه د کافر، او دليل دا وايي ومن قتل مؤمنًا متعمدًا فجزائه جهنم خالدًا فيها" نور اهل کبائر پر قياسوي، وهکذا نور اهل هوآ هم ورته دلائل وايي من الکتاب والسنة؟

ځواب: ددغو ډلو چونکه مذاهب باطل دي او پر ضلال دي، نو هغه آياتونه يا حديثونه چې ددوی له مذهبه مخالف وي پر معنی مراد يې نه مني بلکې باطل تأويل يې کوي چې ددوی د مذهبو سره موافق سي، او لقآ الله چې مراد ځنډي بعث بعد الموت دی کما هو حقه نه مني لکه چې معتزله د اهل کبيره لاا مات بلا توبة ځای يې ابدي دوزخ دی او سره ددې چې بعث بعد الموت خو داغسي نه دی وعلى هذا فقس المذاهب الاخر من اهل البدعة والهوآ.

که څوک تفصيل ددوی د مذهبو او دلائل باطله وو ددوی غواړي نو کتاب الملل والنحل لمحمد بن عبد الکريم الشهرستاني دي مطالعه کړي.

دروښ وايي: چې ما ددغه جنجال د خلاصون لپاره دا وويل په وړاندي کې تر تولو ظاهره معنی د آيت داده الی اخيره، او روح المعاني د مذکوره پوښتنې په ځواب کې داسي ويلي دي چې ادخال ددې فرقو په دې آيت کې تغليط دی پر دې فرقو تفسير د آيت نه دی، نو دې ته په عربي ژبه تعريض وايي لکه يو سړی چې په يو مجلس کې ووايي ما انا ببخيل تعريضًا على البخيل في المجلس والله اعلم بمراده في کتابه.

فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ۝

نو مونږ نه ورکوو دوی ته په ورځ د قيامت قدر او اعتبار يعني په نېز د خدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ﷺ هیڅ قدر نه لري، او یا معنی د آیت داده چې موږ ددوی عملونه ترازو نه اړدو چې ددوی علمونه په تول کړو، ولي چې هغه عملونه ددوی په سبب د کفر لغوه دي بلکې بلا وزن یې دوزخ ته اچوو، او یا معنی داده چې هغه عملونه چې دوی به حسنات ګڼله وزن نه لري في المیزان العدل یوم القیامة، وعن ابي هریرة ﷺ عن رسول الله ﷺ قال لیاتي الرجل العظیم (ای في مرتبة الدنیا) السمین (چې چاغ وي په بدن کې) لا یزن عند الله جناح بعوضة (یعني قدر نه لري په نېز د خدای ﷻ د غوماشي د وزرو) وقال علیه السلام ولا نقیم لهم القیامة وزنًا. بخاري مسلم" بغوي رح وایي چې د ابو سعید الخدري ﷺ څخه روایت دی چې بعض خلګ به په ورځ د قیامت دومره لوی لوی عملونه راوړي یعني د حسناتو له قسمه څخه لکه غرونه د تهامه. نو چې وه یې تلي د هیڅ شي تول نه لري فذالک قوله تعالی "فلا نقیم لهم یوم القیامة وزنًا" ای قدرًا لاعمالهم یا د کفر له سببه لکه کفارو د مکې چې به صله رحمي او فقراؤ ته ډوډۍ او د حاجیانو خدمت به یې کاوه الی غیر ذالک، او یا د نفاق په سبب کما یفعل بعض منافقي المدینة.

جلال الدین السیوطي رح وایي چې د علماؤ اختلاف دی. بعض وایي چې میزان یوازې د مؤمنانو لپاره دی لقوله تعالی فلا نقیم لهم (ای للکافرین وزنًا) او بعض علماً وایي چې د کافرانو عملونه هم تلل کېږي. او د آیت ځواب یې داسي ورکړی دی چې په آیت کې خو وزن په معنی د قدر دی کمامر یعني نه د تللو په معنی، او دویمه ډله دلیل په دې آیت سره وایي "فمن خفت موازینه فاؤلئک الذین خسروا انفسهم في جهنم خالدون الآیة. وجه الاستدلال ان الخلود في جهنم للکفار فعلم ان اعمالهم یوزن، امام قرطبي په خپل تفسیر کې وایي المیزان لایکون في حق کل واحد من المؤمنین والکافرین لان الذین یدخلون الجنة بلا حساب "کما جاً في الحدیث الصحیح" لاینصب لهم المیزان، وکذالک من یعجل به العقوبة بالنار بغیر حساب (لا یوزن اعمالهم) وهم المذکورون في قوله یعرف المجرمون بسیماهم الآیة. مظهري وایي چې په دې قول د قرطبي جمع د قولینو او د آیتینو هم راغله بان النفي والاثبات محمول علی بعض فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ هُزُوًا ۝

"ذالک" ای الامر ذالک یعني خبره خو داغه ده "ذالک" خبر د مبتدأ محذوفي دی "جزآئهم جهنم" دا جمله بیان د الامر ذالک ده "بما" کلمه د باء سببیه ده او کلمه د ما مصدریه ده ای بسبب کفرهم "واتخذوا" عطف دی پر "کفروا" والمعنی باتخاذهم، دوی گرځولي وه آیات د کتابو زما او رسولانو زما ځای د پسخند او مسخرو، نو "هزوا" مصدر دی په معنی د مهزوبهم، او یا یې حمل مبالغةً نحو زید عدل مجازاً في النسبة.

مسئله: چونکه علماً عاملین ورثه د انبیاً علیهم السلام دي کما جاً في الحدیث الصحیح ولي چي د علماً علوم له مشکوة څخه د انبیاً علیهم السلام اخسته سوي دي نو څوک چي پسخند په علماً ووهي هغه له ورثه وو څخه د ابوجهل او عقبه بن ابي محیط وغیرهما دي، راوړان وایي چي یوه ورځ علیه الصلوة والسلام روان و ابوجهل وروسته په پسې وځ د پزې سونګی او د خولې چرپی یې د پسخنده پسې کاوه، اخیر علیه الصلوة والسلام په پوه سو نو یې ابوجهل ته وویل "کن کذالک" داغسي اوسه تر مرګه، نو د ابوجهل داغه عادت وګرځېدی لکن بیا یې هم تر پایه ایمان نه راوړی الی ان قتل ببدر شر قتله واشتهر اسمه بفرعون هذه الامة لکن تر فرعون بد تر وځ. ولي چي فرعون چي اوبو غرق کړی د اوبو په څپه کي چي راپورته سو داسي یې وویل لا اله الا الذي آمنت به بنو اسرائیل؛ جبرئیل علیه السلام په خوله کي ختي ورواچولې، ابو جهل چي په بدر کي د ابنی عفرا له خوا څخه سخت زخمي سوی وځ رمق یې باقي وځي عبدالله بن مسعود رضی الله عنه پر راغلی او ورته وه یې ویل انت ابوجهل؟ ده په داغسي زخمي حالت کي ورته وویل چي کښته ګرو یعني مدیني والو قتل کړم چي ابنی عفرا وه، په عربي یې داسي ورته وویل لو غیر اکار قتلني، په صحیح روایت کي راغلي دي چي یوه ورځ عقبه بن ابي معیط د خولې ناړې پر مخ مبارک د علیه الصلوة والسلام توه کړې هغه ناړې د عقبه پر مخ ومښتلې چي د عقبه د مخ هغه ځای تر مرګه پوري پیس چي په عربي یې برص بولي وګرځېدی چي دده په باره کي دا آیت هم نازل سو "ویوم یعض الظالم علی یدیه".

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾

په تحقیق هغه کسان چې ایمان یې راوړی یعني پر قبول مؤمن به او اعمال صالحه یې کړي من الاعمال البدنية كالصلوة والمالية كالزكوة والمركب منهما كالحج والاعمال القلبية كالزهد والتقوى الى غير ذالك دوی لره وه یعني په علم کې د خدای ﷻ او په حکم کې د خدای ﷻ او په وعده کې د خدای ﷻ جنتونه د فردوس یعني باغونه د فردوس.

پوه سه: چې ابوهریره ﷺ د علیه الصلوة والسلام څخه روایت کړی دی "قال اذا سئلتم الله فاسئلوا الفردوس فانه اوسط الجنة.

پوه سه: چې امام سیوطي ؒ وایي المراد بوسط الجنة خيارها واعلى الجنة وفوقه عرش الرحمن ومنه تفجر انهار الجنة (بخاري) وروى الترمذي والحاكم عن عبادة ابن صامت ﷺ ان النبي ﷺ ان الجنة مائة درجة بين كل درجتين كما بين السماء والارض والفردوس اعلاها درجةً ومن فوقها العرش. ومنه تفجر انهار الجنة الاربعة فاذا سئالتموا الله فاسئلوا الفردوس.

خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾

دوی به همیشه وي په دې جنت کې یعني اذا دخلوها فهو حال مقدرة نه به غواړي دوی له دې جنت څخه تحول یعني وتل وي. ولي تر دې فردوس ښه ځای نسته چې د هغه تحول وغواړي.

فائده: جنات یې جمع راوړی او "فردوس" یې مضاف کړی له دې کبله چې فردوس خو د یو جنت نوم دی چې په هغه کې درجات سته بعضها فوق بعض الى ماشاء الله حتى چې د سید المرسلین ﷺ درجه فوق الكل ده په درجاتو کې د جنت فردوس.

پوه سه: چې حاکم له ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چې قریشو و یهودانو ته وویل چې تاسي موږ ته یو شی راوښایاست چې موږ د محمد (ﷺ) د نبوت امتحان په وکړو، یهودو یو شی دا وروښوو چې د روح پوښتنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځندي وکړئ، دوی چې پوښتنه وکړه دا آیت نازل سو "ویسئلونک عن الروح، قل الروح من امر ربي وما اوتیتم من العلم الا قلیلاً، نو یهود انو وویل چې موږ ته خدای علم کثیر راکړی دی اوتینا التورات فنزلت هذه الآیة في ردا لهم.

قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ

یا محمد (ﷺ) ته ورته ووایه که چېرې دریاب (حسین کاشفي رح یې ترجمه داسي کړې ده بګو اګر باشد دریای محیط که شامل ارض است آه، اوروح المعاني، روح البیان، مظهري او قرطبي وایي مراد جنس بحر دی، لکن چونکه بحر د فراخه ځای نوم دی چې اوبه پکښې بهېږي، نو ټولو نامورو مفسرانو یې په حذف د مضاف ترجمه کړې ده ای ما جنس البحر مثل جری النهر وسال المیزاب)

پوه سه: چې "مداد" او نقس او حبر هغه شي ته وایي چې خط په نوشته کېږي بای لون کان احمر، اسود اخضر وغیر ذالک "لکلمات ربي" د کلماتو د علم او حکمت د خدای ﷻ.

لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا

نیستي او خلاصي سوي به وای جنس اوبه دریاب ټوله لان کل جسم متناه، نو په جنس دریاب کې به هیڅ اوبه نه وای پاته سوي. د مخه تر دې چې معلومات د خدای ﷻ ختم کېدای، ولي چې معلومات او حکمتونه د خدای غیر متناهي دي، والمتناهي لایمکن ان یحیط بغیر المتناهي، او که څه هم موږ راتګ وکړو په مثل سره د جنس البحر الموجود زیاتوب او کومک، لان ضم المحدود بشرط الوجود لایفضي الی عدم التناهي لقیام الادلة القطیة العقلیة علی تناهي الابعاد کما في کتب الحکمة. په تفسیر بحر العلوم کې وایي چې په قرآن کریم کې یې لفظ د کلمات راوړی چې جمع قلت ده او جمع کثرت چې کلم دی نه یې راوړی، تنبیه پر دې ده چې اوبه د جنس البحر پر لږ باندې د معلوماتو د خدای ﷻ احاطه نسي کولای فکیف بالکثیر، قطعه:

علمها از بحر علمش قطره ..... این چو خورشید است وآنها ذره
گر کسی درعلم صد لقمان بود ..... پیش علم کاملش نادان بود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ

نه ورته ووايه يعني كفارو ته د مكې نه يم زه مګر يو بشر په مثل ستاسي ماته وحي کړل سوي دي يعني د خداى ﷻ له خوا څخه چې نه دى معبود بالحق ستاسي مګر نه يو يعني الله ﷻ والغرض ان معبوداتكم الاصنام باطلة لاتخلق ولا تنفع ولاتضر ولا بد من ذالک في المعبود بالحق كما لايخفى على العاقل غير المعاند.

فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ

پوه سه: چې بغوي ؒ وايي چې "رجا" په معنى د خوف او اميد دواړو راغلې ده. نو معنى د آيت داده كه څوک ببر ېږي له ورتګه او له عذابه د خداى ﷻ او اميد د ښه ثواب د خداى ﷻ لري يعني كلاهما في يوم القيامة.

فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴿١١٠﴾

نو دى عمل كوي حسن يعني ما امره الله به كه فرائض وي او كه واجبات وي كه بدني وي او كه مالي او كه مشترک لكه حج. او نه دي شريک كوي په عبادت كې د خداى ﷻ هيڅ څوک او هيڅ شى.

دروښ وايي: چې يو خو شرک جلي يعني ښكاره چې عبادت دى د بتانو لكه قريشو د مكې چې به كاوه او هنود الهند چې يې كوي، يا عبادت د اور لكه مجوسيان چې يې كوي، يا عبادت د ملكو لكه بعض اهل مكه چې به كاوه يا د لمر عبادت لكه بعض هنود الهند چې يې كوي الى غير ذالک. ددې څخه خو بحمدلله ټوله مسلمانان خداى ﷻ ساتلي دي او بل شرک خفي دى چې رياً او سمعه يې بولي په دې آفت ټوله مسلمانان د اوسنى زمانې اخته دي الا ماشذ وندر.

پوه سه: چې دا آيت مبارک جامع دى د خلاصه د علم او عمل وهما التوحيد والاخلاص في العمل، سعدي شيرازي ؒ وايي:

عبادت باخلاص نيت نكوست ..... وگر نه چه آيد زبى مغز پوست
چه زنار مغز درميانست چه دلق ..... كه درپوشى از بهر پندار خلق
بروى رياً خرقه سهلست دوخت ..... گرش باخدا در توانى فروخت

دروښ وايي: چې په باب كې د رياً واورئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باب الرياء والسمعة

په بحر العلوم کي وايي ان قلت ما معنى الرياً. قلت العمل لغير الله بدليل قوله عليه الصلوة والسلام ان اخوف ما اخاف على امتي الاشراک بالله (هغه ډېر چې يې زه ېېرېږم پر امت خپل هغه شرک دی له خدايه سره) اما اني لا اقول يعبدون شمساً ولاقمراً ولاشجراً ولا وثناً لكن اعمالاً لغير الله (يعني د خير اعمال د غير لپاره)

مسئله: په فرضي اعمالو کي لکه لمونځ وغيره رياً نسته البته په هيئت کي يې رياً سته مثلاً يو سړی چې د خلګو په حضور کي لمونځ کوي په ښه تعديل الارکان سره يې کوي لپاره د رؤيت د خلګو که خلګ نه وي نو يې په ډېره چټکی سره بېله تعديل الارکان لمونځ کوي، نو هغه د لمانځه د فرض غاړې خو يې خلاصې سوې لکن د تعديل الارکان ثواب خدای ﷻ نه ورکوي لان ذالک لغير الله وهكذا الصوم المفروض والحج المفروض وغير ذالک، لکن په نفلي عباداتو کي د رياً لويه دروازه خلاصه ده، مثلاً يو سړي د تهجد لمونځ په کور کي کاوه چې بېله خدايه بل هيڅ څوک په خبر نه وه، لکن د ورځې به يې ويل چې برايې مانښام چې مي د تهجد لمونځ کاوه فلانی سورت راڅخه هېر سو، فهذا رياً بالقول، نو په فتاوی اشباه والنظاهر کي وايي چې لا رياً في صوم النفل انتهى، مراد يې دادی چې په قول سره تعرض و روژې ته ونه کړي مثلاً ښ ډېر تږی يم يا ښ ډېره ګرمي ده، يا په لسان حال سره چې ځان په قصده ډېر وږی کړي چې مخ يې ژړ سي او د روژې آثار يې په مخ کي معلوم سي وامثال ذالک. له عباده بن الصامت ﷺ څخه روايت دی "قال سمعت رسول الله ﷺ من صلا صلوةً يرائيبها الناس فقد اشرک ومن صام صوماً يرائيبه فقد اشرک.

دروښ وايي: چې په فرضي لمانځه کي هم د بعضې خلګو رياً ځای لري، مثلاً يو سړی وي چې يو ځای مېلمه سي، نو د ماښښتن لمونځ د خلګو په حضور کي په ښه تعديل الارکان او خشوع او خضوع کي وکړي او چې په کور کي وي د ماښښتن لمونځ نه کوي يا يې بېله تعديل الارکان وغيره کوي، وفي الحديث الصحيح قال رسول الله ﷺ اتقوا الشرک الاصغر! قيل وما الشرک الاصغر قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرياء، وفي الحديث الصحيح الذي رواه الترمذي عن ابي هريرة ﷺ قال قلت يا رسول الله ﷺ انا اصلي في بيتي في مصلاى (يعني كور نفل كوم) اذ دخل على الرجل فاعجبني الحال التي رأني عليها فقال رسول الله ﷺ رحمك الله اباهريرة لك اجران اجر السر واجر العلانية، وروى مسلم عن ابي هريرة ﷺ قال قيل لرسول الله ﷺ ارئيت (يعني اخبرني) الرجل يعمل العمل من الخير ويحمده الناس عليه (او خلگ دي صفت كوي، غرض يې دا وچې دا خو به رياء نه وي) قال عليه السلام تلك عاجل بشرى المؤمن (دا ددې دنيا زېرى يعني د قبول د عمل الخير دى يعني رياء نه ده) والحاصل يو سړى چې عمل د خير كوي خالصاً لله تعالى او خلگ يې ووينې نو دوى يې صفت كوي او دوى په خوشاله سي، او دده په عملو كې د عمل الخير غرض حمد د خلگو نه وي او نه جزا له خلگو څخه غواړي ولا يزيد في عمله لاجلهم، مثلاً ده څلور ركعته نفل كول چې خلگو وليدى شپږ ركعته يې وكړه فذالك بشرى العاجل وله اجر السر والعلانية والله اعلم.

او له ثمرة ابن جندب ﷺ څخه روايت دى "من سمع (كه يې غرض په عمل الخير كې اوربدل د خلگو وه) سمع الله به (خداى ﷻ به يې په خلگو واورې يعني ثواب د اخرت يې نسته ومن يرائي يرائي الله به (كه د چا غرض په عمل الخير كې د خلگو ليدل وه خداى ﷻ به يې په خلگو ووينې يعني ثواب د اخرت نسته) بخاري و مسلم، دا مضمون د هغه صحيح مشهور حديث "انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ مانوى الى اخير الحديث بخاري مسلم وغيرهما، بيهقي رح په شعب الايمان كې داسې روايت راوړى دى چې رياء كارانو ته به خداى پاك په هغه ورځ چې ثواب و بندگانو ته وركوي پر اعمال د خير ولاړ سي و هغو كسانو ته چې تاسي څانونه په دوى ليدل په دنيا كې فانظروا هل تجدون عندهم جزاءً او خيراً، روح المعاني وايي چې بزار او بيهقي رح له انس ﷺ څخه روايت كړى دى "قال رسول الله ﷺ تعرض اعمال بني آدم بين يدى الله ﷻ يوم القيامة في صحف مختومة (مهر كړل سوى) فيقول الله تعالى القوا هذا (دغه وغورځوئ) واقبلوا هذا فيقول الملائكة (اى الحفظة) يا رب والله ما رئينا منه الا خيراً (موږ نه دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ليدلى د صاحب الصحيفة څخه مگر نه خير يعني په دغه ور كړو صحيفو موږ دده د خير كارونه نوشته كړي دي) فيقول سبحانه وتعالى ان عمله كان لغير وجهي ولا اقبل اليوم من العمل الا ما اريد به وجهي (اى رضائي خالياً من الريا) واخرج احمد ومسلم وغيرهما عن ابي هريرة ﷺ عن النبي ﷺ يرويه عن ربه تعالى انه قال انا خير الشركاً فمن عمل عملاً اشرك فيه غيري فانا بريئ منه وهو للذي اشرك، وروى احمد والترمذي وابن ماجه وابن حبان عن ابي سعيد بن ابي فضالة ﷺ عن النبي ﷺ قال انه اذا اجمع الناس يوم القيامة ليوم لاريب فيه نادى مناد من كان اشرك في عمل عمله لله احداً فليطلب ثوابه من عند غير الله (يعني الذي اشركه) قال الله تبارك وتعالى انا اغنى الشركاً عن الشرك.

دروښ وايي: چې د ريا په باره كې احاديث بيخي ډير دي كه زه ټوله رانقل كوم ډير به اطناب سي وفيما ذكرنا كفاية لمن له عقل سليم ومن لم يعمل بالقليل فلا يعمل بالكثير والله المستعان.

بشارة جليلة سهلة: روى مسلم عن ابي الدرداً ﷺ قال قال عليه الصلوة والسلام من حفظ عشر آيات من اول سورة الكهف (يعني قرائت يې هم كاوه له ياده څخه) عصم من الدجال، بعض علماً وايي چې له دجال څخه دجال مشهور مراد دى، او ابن ملك وايي چې احتمال د جنس د دجال هم سته لان الدجال في اللغة من كثر كذبه والتلبيس على الناس كما جاً في الحديث يكون في اخير الزمان دجالون بصيغة الجمع فاهل الهواً والبدع دجاللة زمانهم فياً من منهم ايضاً.

پوښتنه: ددې سر (راز) څه دى؟

ځواب: سر يې دادى چې اصحاب كهف له شر څخه د دقيانوس الكافر پناه وه كهف ته وروړه او خداى ﷻ وساتل، نو له دې سببه چې څوک پناه و سورة كهف ته وروړي خداى ﷻ به يې له دجال څخه خلاص كړي، روى الحاكم عن ابي سعيد الخدري ﷺ قال قال عليه الصلوة والسلام من قرأ سورة الكهف كما انزلت كانت له نوراً يوم القيامة من مقامه الى مكة. الحديث، وعن ابن عمر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من قرأ سورة الكهف في يوم الجمعة سطع له نور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من تحت قدمه الى عنان السماً يضئ له يوم القيامة وغفر له مابين الجمعتين روى مثله الدارمي ؒ، وفي حديث رواه ابن مردوية و احمد في سنده عن النبي ﷺ من قرأ سورة الكهف عند مضجعه كان له نوراً من مضجعه يتلاً لأ الى مكة حشو ذالک النور ملائكة (يعني په منځ کي د هغه نور) يصلون عليه (يعني دعاً و قاري ته کوي) حتى يستيقظ وان كان مضجعه بمكة يتلاًلأ النور من مضجعه الى البيت المعمور، حشو ذالک النور ملايكة يصلون عليه حتى يستيقظ" له براً بن عازب ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي سورة کهف وايه (يعني د تهجد په لمانځه کي) والى جانبه حصان مربوط بشطنين (وه يوه ارغ ته يې آس ولاړ وُ چي ترڅ يې وُ په دوو مراندو) فتغشته سحابة فجعلت تدور وتدنو (نو وريځ وگرځېدله کرار کرار آس ته رانژدې کېدله) وجعل فرسه يتنفر (آس تورېدی) چي سهار سو هغه سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی د شپې قصه يې ورته وکړه "فقال عليه الصلوة والسلام تلک السكينة تنزلت بالقرآن (ملکي وې د سکينې چي په قرآن راکښته سوي وې، بخاري ومسلم، وفي رواية چي هغه سړي دا هم وويل چي په وريځي کي لکه څراغان داسي شيان وه، وفي رواية هغه سړي وويل چي ما قرائت د سورت کهف بس کړی، ولي چي زما زوی آس ته نژدې بيده وُ زه بېرېدم چي آس په دغه هلک کي ونه خېژي، وفي رواية چي عليه الصلوة والسلام هغه سړي ته وويل که تا قرائت نه وای متوقف کړی تر سهاره پورې به گردو خلگو دا وريځ ليدلای.

دروښ وايي: چي تفسير د سورة الكهف پر يوولس (١١) بجې د ورځې د جمعې مبارکې د صفر الخير سنه (١٤٣٠) هجري پای ته ورسېدی ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وعلى آله وصحبه الكملة.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي!

واتساپ ٠٧٤٩٨٤٩٥٦٩

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانُونَ آيَةً وَسِتُّ رُكُوعَاتٍ تِسْعُونَ آيَةً وَفِي رُكُوعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

یارب یسر تفسیر هذه السورة المکرمة علی عبدک الضعیف وتممه بالخیر والعافیة والصحة والسلامة برحمتک یا ارحم الراحمین.

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿۱﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ﴿۲﴾

دروښ وایي: چي دا کلمه له مقطعات قرآنیه څخه ده التي اختلف العلما فیها قدیمًا وحدیثًا والارجح تفویض علمها الی الله ﷻ. او زمونږ برخه په دې حروف متشابهه وو کي داده چي مونږ به ایمان لرو بما اراد الله بها ونقول آمنا بما اراد الله منها، وانها اسرار بین الله ﷻ ورسوله ﷺ او په تفسیر کي د سورة البقرة بعض تحقیق ددې مقطعات قرآنیه فقیر کړی دی، په شرح کي د منار الاصول وایي چي حق داده چي دا اختلاف په تفسیر ددې مقطعاتو قرآنیه وو چي بعض علماً یې له تاویل څخه ډډه کوي او بعض علماً یې په تاویل سره خوله پوري کوي لفظي اختلاف دی، یعني هغه علماً چي تاویل روا بولي مراد یې تاویل ظني دی، والدلیل علیه چي دغه علماً هر ځای په دې مقطعاتو کي جلا جلا تاویلونه کوي بحسب ظنهم د یوه "الٓمٓ" څلور پینځه تاویله ددوی څخه منقول دي وهکذا في سائر المقطعات یعني پر یوه تاویل نه دي متفق، او هغه علماً چي تاویل روا نه بولي، او تفویض د علم یې و خدای ﷻ ته کوي د هغو مراد تاویل قطعي دی. له هم دې کبله دوی وقف لازم کوي پر الا الله باندې في هذه الآیت وما یعلم تاویله الا الله، یعني تاویله الیقیني المقطوع به، او "والراسخون في العلم" مبتدأ بولي او یقولون کل من عند الله یې خبر بولي چي معنی یې توقف في التاویل ده، والعلم عند الله.

بوه سه: چي "ذکر رحمة ربک" خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هذا المتلو ذکر د رحمت د رب ستا دی یا محمد (ﷺ).

فائده: "ذکر" مضاف دی و "رحمت" ته او رحمت و رب ته او رب مضاف دی و ضمیر ته د مخاطب، یعني دري اضافته یو ځای سره راغلي پرله پسې، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه بعض علماً د علم البلاغة چې وايي چې دې اضافته متواصله مخل بالبلاغة دي هغه په دې آيت سره محکوم دي والتفصيل في المطول "عبده" دا مفعول د رحمت دی "زکريا" دا بدل يا عطف بيان دی د "عبد".

پوه سه: چې قاريان لفظ د زکريا په قصر سره وايي او بعض يې په مد سره او دواړه له قرائت متواتره څخه دي.

إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ نِدَآءً خَفِيًّا ۝

کلمه د "اذ" ظرف ده متعلق په رحمت يا په ذکر پورې ده او مراد له نادی څخه دعاً ده "ربه" و خپل خدای ته. هغه وخت چې دی په محراب کې د عبادت لپاره د شپې ناست و "نداً خفياً" دعاً په پټه سره يعني في جوف الليل ولې چې دعاً السر اقرب ده و اجابت ته او د دې هر اخلاص اظهار پکښې سته والاخفاً سنت الدعاً اذا لم يكن بالاجتماع كما في الاستسقاً وغيرها.

قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي

وه يې ويل ای رب زما "دا تفسير دی د نداً" په تحقيق زما هډوڼه ضعيف سوه او رقيق سوه يعني كما هو الحال في سن الشيخوخة.

پوه سه: چې حرف نداً، مضاف او مضاف اليه د "رب" حذف سوه اختصاراً و مبادرةً الى بيان المقصود.

فائده: اسناد د "هن" يې و هډوکو ته وکړی ولې چې هډوکي ضعيف سي نور اعضاً د بدن دي او د بدن کلک اعضاً دي، نو چې دا هډوکي ضعيف سي نور اعضاً خو په طريق اولى ضعيف کړځي.

فائده: عظم يې مفرد راوړی مراد يې جنس دی، امام همام رازي رح په تفسير کبير کې وايي چې زکريا عليه السلام له اولاد څخه د هارون اخي موسى عليهما السلام و وهما من ولد لاوی بن يعقوب بن اسحق عليه السلام، او حسين کاشفي په خپل تفسير کې وايي چې واو از اولاد رجعيم بن سليمان بن داؤد عليهم السلام بوده پيغمبر عليشان ومهتر احبار بيت المقدس وصاحب قربان بود آه، تاريخ پوهان وايي چې د زکريا عليه السلام عمر د دعاً په وخت کې نهه نيوي (٩٩) کاله وۀ، او جلال الدين المحلي رح وايي چې عمر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې (١٢٠) کاله وَاو د مايني عمر يې اته نيوي کاله وَ والله اعلم.

وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا

دروښ وايي: چې ټوله مفسرين وايي چې زکريا مشابه کړه سپين وېښتان د خپل د اور سره بعلاقة البياض في کل منهما او انتشار د سپينو وېښتانو په سر کې دده يې مشابه کړې د لمبو سره د اور او اشتعال يې و سر ته مسند کړې او شيبا يې تميز وګرځاوه مبالغةً او اشاره ودې ته ده چې سپينو وېښتانو ټوله سر نيولی دی داسې نه ده چې يو ازې مي تېکونه سپين دي.

پوه سه: چې "الراس مني" يې نه ووايه اکتفاً بما سبق في العظم او قرينه عقلي هم سته چې دی خو حکايت د خپل سر کوي د بل چا د سر حکايت خو نه کوي، نو حاصل د معنی دادی يارب شبت زه سپين ږيری سوم.

سوال: چې شيب يې ويلی وای اخصر به نه وای او اقرب و فهم ته؟

ځواب: هو اخصر خو به وای لکن هغه بلاغت د قرآن عزيز چې کفار يې د مثل له اتيان څخه عاجزه وګرځول د لاسه وتی کما لا يخفی فافهم.

دروښ وايي: چې قرآن کريم خو بالاتفاق معجز دی لکن په وجه کې د اعجاز يې اختلاف دی، بعض وايي چې سبب يې اخبار بالغيب دی چې په قرآن مبارک کې موجود دی لکن مختاره د محققينو دا وه چې سبب د اعجاز يې فصاحت فائقه او بلاغت بلا نهايت چې په قرآن کې سته دی واختاره علماً المعاني والبيان واشار اليه البيضاوي ؒ في خطبة کتابه.

وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ۝

او زه نه يم سوی په ماضي زمانه کې چې ما تا ته خواست کړی دی اې رب زما نا اميد.

پوه سه: چې اضافت د دعاً و ضمير ته مخاطب چې خدای ﷻ اضافت د مصدر دی و مفعول ته ای بدعائي ايـاک، او د رب سره يا د نداً محذوفه ده يعني يا رب، حاصل د کلام دادی چې هر وخت چې ما تاته خواست کړی دی تا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قبول کړی دی (یعني که زما دعوانی په حال کي ؤ) نو خواست قبلول زما تاته عادت او سنت ګرځېدلی دی، اوس هم امید د اجابت درته لرم. ولي چي کریم چي څوک په طمع کړي وي همېشه، نو بیا یې نا امیده نه پرېږدي خصوصاً په حال کي د عجز او سپین سر توب کمامر ولي دا حالت د اضطرار دی. روایت سوی دی چي یو محتاج سړی یو غني سړي ته ورغلی او ورته وه یې ویل چي زه هغه سړی یم چي تا په فلاني وخت کي زما سره احسان کړی ؤ، هغه غني سړي ورته وویل "مرحبًا بمن توسل بنا الینا فقضی حاجته... بیت:

ای کریمی که از خزانه غیب ..... گبر ترسا وظیفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم ..... تو که بادشمنان نظر داری

دروښ وایي: چي په دې آیت کي بل سبب د اجابت د خواست د زکریا علیه السلام بیان دی.

وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِن وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا

او زه ېږېږم د اکا له زامنو څخه وروسته زما تر مرګ (ولي چي هغه د خلافت وړ نه دي نباید چي زما امت و ګمراهي ته ولاړ نسي، او دین سماوي بدل نه کړي) او ده زما ماینه وچه.

پوه سه: چي "عاقر" مشترک لفظ دی هغه نر او ښځي ته وایي چي عیال یې نه کېږي، په دې خبره کي چي ماینه مي وچه ده او په دمخه خبره کي "اني وهن العظم آه، مقصود د زکریا علیه السلام دا ؤ چي خدایه ته زما خواست خرق العادة قبول کړې ولي چي په عادت کي د (۹۹) یاد (۱۲۰) کالو د زوج کمامر د دا سي زوجې څخه چي د (۹۸) کالو وي عیال نه پیدا کېږي.

دروښ وایي: چي همسره او کوروډانه د زکریا علیه السلام بعض علما وایي چي نوم یې ایشاع بنت فاقوذ بن قیل وه چي د حنه بنت فاقوذ خور وه، او طبري وایي چي حنه د مریم مور وه، او قتیبي رح وایي چي زوجه د زکریا ایشاع بنت عمران وه، نو پر دې روایت یحیی علیه السلام د عیسی علیه السلام د خاله زوی دی حقیقةً لکه په حدیث کي د معراج چي راغلي دي "فلقیت ابني الخالة یحی و عیسی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیهما السلام، نو دا حدیث مؤید د قول د قتیبي دی، ولي پر اول روایت خو یحیی د عیسی د مور د خال زوی وٴ.

فَهَبْ لِي مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۝

نو ماته راوبخښه ستا له جانبه یعني په خپل قدرت سره.

پوه سه: چي زکریا علیه السلام لفظ د "هبة" ذکر کړی او "من لدنک" یې ووایه له دې سببه چي ولادت د دومره کلان سالی ددې او ددې د مایني خو خلاف العادة کار وٴ نو گویا صرف "هبه" د خدای ﷻ له خوا څخه او پر صرف قدرت کامله د خدای مبني دی.

پوه سه: چي ولي که څه هم لفظ عام دی هر قریب ته وایي لکن مراد د زکریا علیه السلام زوی دی یعني خدایه ماته زوی راکړې چي امر د نبوت زما کوي وروسته تر مرگ زما تا چي تولی زما د امر وفاسقانو فاجرانو د اکاد زامنو پاته نسي.

يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ ۖ

چي هغه زوی زما میراث خوري سي او میراث خورد اولاد د یعقوب علیه السلام سي.

پوه سه: چي مراد له میراث څخه میراث د علم او نبوت دی دون المال لان الانبیاٴ لا یورثون المال، قال رسول الله ﷺ العلماٴ ورثة الانبیاٴ وان الانبیاٴ لم یورثوا دیناراً ولا درهماً وانما ورثوا العلم فمن اخذه اخذ بحظ وافر. رواه احمد وابو داوٴد و ابن ماجه والدارمي من حدیث کثیر بن قیس رضي الله عنه. او د همدې حدیث له سببه ابوبکر رضي الله عنه چي خلیفه سو منع یې کړی له فاطمې رضي الله عنها څخه میراث د پلار علیه الصلوة والسلام چي دې طلب وکړی و علیه انعقد الاجماع، بخاري له عائشې رضي الله عنها څخه روایت کړی دی چي فاطمه او حضرت عباس رضي الله عنه ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته ورغله چي خلیفة الاسلام تاکل سوی وٴ طلب د خپل میراث (یعني المالي) یې کاوه من النبي ﷺ چي فاطمه رضي الله عنها له ذوی الفروض څخه وه او عباس رضي الله عنه له عصباتو څخه وٴ ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل سمعت رسول الله ﷺ چي ده وویل "لانورث ماترکناه صدقة یعني للمساکین وغیرهم" او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دانه رنګه بخاري روايت کړی دی چې ازواج مطهراتو وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام اراده وکړه چې حضرت عثمان ﷺ و ابوبکر ﷺ ته ورواستوي چې زموږ میراث دي راکړي. نو عائشې ﷺ ورته وویل "الیس قد قال رسول الله ﷺ لانورث ماترکناه صدقة" نو ازواج مطهراتو د عائشې ﷺ قول ومانه او حضرت عثمان ﷺ یې نه ورواستاوه.

وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ۝

او وګرځوې دا زما زوی یا رب "رضیاً" فعیل دی په معنی د مفعول دی ای مرضیاً یعني ته ځندي راضي سې قولاً وعملاً. او یا فعیل په معنی د فاعل دی یعني راضیاً عنک في السراً والضراً.

فائده: خدای ﷻ چې د بنده د حاجت روائي اراده ولري، نو توفیق د دعا ورکړي، نو یا کلاً یا بعضاً یې دعا قبوله کړي لکه زکریا علیه السلام ته چې یې دعا په زړه کې ورواچول او قبوله یې کړه کلاً. په صحیح حدیث کې راغلي دي "من فتح له باب الدعا فتحت له ابواب الرحمة" یو محقق شاعر وایي:

تو دهی هم زاول میل دعا ..... تو دهی اخیر دعاها را جزا

يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ِۨاسْمُهٗ يَحْيٰى ۙ لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ۝

"یازکریا" فیه اختصار یعني فاستجاب الله دعائه وقال یا زکریا موږ زېرې کوو تاته په زوی چې د هغه نوم یحیی دی (یعني لکه تا چې غوښتی موافق ستا د دعا سره، اما تر مخه د ولادت خدای ﷻ نوم پر کښېښو تشریفاً لذالک الولد" چې موږ نه دی ګرځولی ده لره یعني ستا زوی لره تر ده دمخه همنامی.

پوه سه: چې دا جمله حال یا صفت بعد الصفت دی د غلام، قتاده او کلبي رح وایي چې د زکریا علیه السلام تر زوی دمخه څوک د یحیی په نامه نه دي مسمی سوي.

فائده: تسمیه په غریبه نومانو سره تعظیم د مسمی دی.

دروېش وایي: چې نومان درې قسمه دي (۱) اسم حسن لکه عبدالله، عبدالرحمن وغیرهما مما فیه اضافت العبد الی اسم من اسمائه تعالی. یا لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد، احمد، محمود وغیرها من اسما النبي ﷺ او اسما سائر الانبیا علیهم السلام لکه آدم، سلیمان، شعیب، زکریا وغیرها علیهم السلام (۲) دویم اسما مکروهه دي مثل عبد الرسول وعبد النبي وعبد المحمد وعبد المناف وغیرها مما فیه اضافت العبد الی غیر اسما الله تعالی (۳) درېم نه حسن لري او نه قبح لکه خر غازي، مست، خټک، جلندر، غمی، بریالی وغیرها، بعض مفسرین وایي چي یحیی اسم عجمي دی او که عربي وي نو منقول له فعل څخه دی لکه یعمر، یعیش، یزید وغیرها.

مسئله: د چا نوم نیمی کول مکروه دی، مثلاً د یو سړي نوم عبد الغفار وي پښتانه یې غفار بولي، یا یې نوم عبد المالک وي پښتانه یې مالک بولي الی غیر ذالک، بغوي او معمر رح وایي چي یحیی مثل نه درلودی لانه لم یعص الله ولم یهم بمعصیته تعالی آه، لکن له دې څخه مراد مبالغه ده په فضائلو کي د یحیی یعني د هر فضائل پکښي موجود وه، دا معنی نه ده چي ده پر انبیاؤ چي تر ده دمخه وه فضل کلي درلودی، لان خلیل الله ابراهیم علیه السلام او کلیم الله موسی علیه السلام تر ده دمخه وه او تر ده افضل وه، او حضرت علي بن ابي طلحة له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چي وچو ښځو که په دوا وغیره زوی ژوندولی وي مثل د یحیی یې نه دی ژوندولی وعلی یصح الفضل الکلي لعبده یحیی علی غیره فافهم.

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ۝

زکریا (علیه السلام) وویل رب یعني یا رب څرنګه به ماله زوی پیدا کېږي او حال دا دی چي زما ښځه وچه ده او زه رسېدلی یم د کبر سن په سبب زړ تیاته چي په عربي یې "هرم" بولي.

پوښتنه: خدای جل جلاله خو د زکریا علیه السلام خواست قبول کړی حتی چي د زوی نوم یې هم ورته بیان کړی، نو د زکریا علیه السلام ددې قول څه ضرورت وؤ؟

ځواب: په دې کي د زکریا علیه السلام غرض دا وؤ چي دا زوی چي ماته خدای راکوي نو زه او زما ماینه به ځوانان وګرځوو زوی به خدای پاک راکړي او که د زړوالي سره به خدای پاک زوی راکړی، نو دا سوال نظر و اسبابا عادیه وو ته دی نه نظر و کمال قدرت ته د خدای پاک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اصل د "عتيا" عتوو وَ. لکه قعود. نو اجتماع د دوو ضمو او د دوو واوو ثقيل وه. نو تا ته يې کسره ورکړه، نو اول واو په يا بدل سو، بيا يې دويم واو هم په يا بدل کړی لمزيد التخفيف يا يې په يا کې مدغمه کړه اوس يې بعض قرا په پښې د عين وايي او کسائي، حفص او حمزه رح يې په کسره د عين وايي اتباعًا لمابعده، په مصاحف مروجه وو کې د کسرو قرائت مروج دی، روح البيان وايي چې "عتي" وچ والي ته وايي کالعود اليابس، او مظهري وايي چې کمال ضعف ته وايي.

دروښ وايي: چې ومآلهما واحد کما لايخفٰی.

قَالَ كَذٰلِكَ ۚ

"قال" ای الله تعالی يا هغې ملکې چې ده ته يې زېری راوړی وَ "کذالک" يعني خبره خو داغه ده لکه تا چې وويل چې عالم اسباب ته نظر دا زېرېدلد زوی د دوو زړو نر او ښځې عجب دی.

قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ۝

لکن ستا خدای وايي چې ماته دا زېرېده اسانه کار دی، او په تحقيق ماته پيدا کړې دمخه تر دې او حال دا وُ چې ته شی نه وې يعني معدوم وې.

فائده: له دې ځخه دا معلومه سوه چې معدوم ته شی نه وايي کما قال بعض المناطقة والتحقيق في کتاب مسمی حمد الله علی تصديقات سلم العلوم.

قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ

زکريا (عليه السلام) وويل چې خدايه ماته راکړه يوه علامه يعني پر دې چې زه پوه سم چې زما بنځې حمل واخستی.

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝

خدای پاک ورته وويل علامه ستا يعني پر حمل داده چې ته به نسي کولای خبرې د خلګو سره درې شپې يعني سرد ورځو کما يدل عليه قصة سورة آل عمران.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي قيد د "ثلاث" يې ووايه له دې سببه چي ذکر او تسبيح وغيره به کولای سي "سويًا" حال دی له فاعل څخه د "لاتکلم" يعني جوړ سالم به يې نه به ګونګی يې او نه به په غوږو کوڼ يې يعني هيڅ مرض به نه لري، راويان وايي چي په داغه شپه زکريا عليه السلام د خپلي کور والا سره نزديکت وکړی او ولد يې په رحم کي پيدا سو چي سهار سو د خلګو سره يې خبري نسوې کولای.

فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ

نو راووتی زکريا عليه السلام پر خپل قوم له محرابه څخه يعني د سهار په لمانځه کي، بعض مفسرين وايي ای من المسجد آه، مراد له مسجد څخه هغه موضع خاص دده ؤ لکه يو خلوت دا چي محراب بولي له دې سببه چي دا ځای د حرب دی د شيطان سره، په ناموس کي وايي چي محراب غرفې ته وايي، وصدر البيت واکرم مواضعه ومقام الامام من المسجد کما هو المعنى اليوم في العرف، والموضع الذی ينفرد فيه الملک فيتباعد عن الناس، بغوي رح وايي چي خلګو انتظار ددې کاوه د سهار د لمانځه لپاره، زکريا عليه السلام چي راووتی رنګ يې متغير ؤ، نو خلګو پوښتنه ځندي وکړه مالک يا زکريا،

فَاَوْحٰۤى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿۱۱﴾

نو زکريا عليه السلام ودوی ته وويل يعني په اشاره، ولي په بل ځای کي ددې قصې راغلي دي چي ته به ددوی سره خبري نسې کولای الا رمزاً "ن سبحوا" دا تفسير د وحي دی، تاسي تسبيح د خدای واياست يا لمونځونه کوئ "بكرة" په اول کي د ورځي "وعشيًا" وروسته تر زوال، او دا خبره يې هم په اشاره ورته وکړه،

يٰيَحْيٰى خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿۱۲﴾

"يا يحيى" تقدير د کلام داسي دی حملت ام يحيى ثم ولدته ثم قلنا خذ صار اهلاً للخطاب، جلال الدين المحلي رح وايي وروسته تر دوه کاله وهذا بعيد عند الفعل الا ان يكون معجزة له "خذ الكتاب" ای التوراة "بقوة" په کوشش سره بتوفيق الله "وآتيناه الحكم" ای العلم وفهم التورات عطف دی على قلنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"صبیاً" په حال کي د کوچنیوالي، چي سن یې درې کاله ته ورسیدی فقراً التورات مع کونه کتاباً عظیماً وهو صغیر. علماً وایي من قرأ القرآن قبل البلوغ فقد اوتي الحکم صبیاً. راوي وایي چي یو کوچني ده ته وویل چي راسه سات تبر کړو. یحیی علیه السلام ورته وویل چي سات تبر بدلو ته خدای پاک موږ نه یو پیدا کړي. بعض مفسرین وایي چي له حکم څخه نبوت مراد دی. نو دی په کوچنیوالی خدای پاک نبي کړی ؤ نسب هذا الی ابن عباس رضی الله عنهما.

وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ؕ وَكَانَ تَقِيًّا ۙ﴿۱۳﴾

عطف دی پر "حکم" باندي یعني اعطیناه رحمةً من عندنا. او یا مراد دادی چي موږ ده ته ورکړی تعطف او مهرباني پر مور او پلار وغیرهما "وزکوة" عطف دی پر "حکم" باندي. مراد له زکوة څخه طهارت دی عن الذنوب او طاعت یا اخلاص. او کلبي رح وایي چي مراد له زکوة څخه صدقه ده تصدق الله به علی والدیه "وکان تقیاً" مسلماً مخلصاً مطیعاً لله یعمل معصیة ولم یهم بها.

وَّبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿۱۴﴾

احسان او لطف کونکی ؤ د پلار او مور سره، او نه ؤ متکبر ظالم یقتل ویضرب الناس عند الغضب "عصیاً" نافرمان د خدای ﷻ.

وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿۱۵﴾

"وسلام علیه" جمله معترضه دعائیه ده یعني سلام دی من الله علیه مما یؤذیه "یوم ولد" یعني له مس څخه د شیطان لکه چي دی نور اولاد د نبي مسه کوي په وخت کي ډ ولادت کما جا في الحدیث الصحیح "ویوم یموت" یعني من عذاب القبر، او هغه ورځ چي دی پاڅي له قبر څخه ژوندی، سالم دوی له عذاب النار او له هول څخه د قیامت چي په هغه ورځ ټوله اولیا او صلحا بلکي انبیا تر لوی سهم لاندي وي، والی هذا اشار العارف الشیرازي رح.

بجایی که دهشت خورد انبیا ..... تو عذر گناه راچه داری بیا

سفیان بن عیینة رح وایي چي دهشت ناکه احوال د انسان دادی (۱) یوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يولد او چې له رحم څخه د مور راووځي چې هوږي نه د خوراک غم ورسره ؤ نه د ځيبناک او نه درد ؤ او نه مرض، چې له موره وزېږي د ټولو مذکوره شيانو سره مخامخ سي کمايدل عليهم التجربة (۲) هغه ورځ چې سړی مري داسي مخلوق په ووينې چې ده په طول الحيوة کې نه وي ليدلي يعني ملک الموت او ملائکه د بشارت يادېږي (۳) يوم يبعث حيا او ځان په محشرګاه کې ووينې او اولين او آخرين سره غونډ وي او دوزخ ووينې او ميزان قائم سي سوال او ځواب شروع سي، شيرازي قدس سره وايي:

دران روز که از فعل پرسند وقول ..... اولو العزم را تن بلرزد زهول

فحفظ الله يحيى في تلك المواطن بالسلامة.

حکايت: بعض اولياً وايي چې زه په تيه کې د بني اسرائيلو روان وم، يو ډېر ښائسته سهمګين سړی راسره ملګری سو زما په زړه کې الهاماً دا راوګرځېدله چې دا به خضر عليه السلام وي، نو مې ورته وويل "بحق الحق" چې ته څوک يې ده راته وويل چې اخوک الخضر ما ورته وويل چې ستا ملاقات خو نادر څوک کوي، زما په څه سبب ستا سره ملاقات نصيب سو؟ ده راته وويل ببرک لامک کذا في المقاصد الحسنة للامام السخاوي رح.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿۱۶﴾

او ته بيان کړه يا محمد (صلى الله عليه وسلم) "في الكتاب" اى القرآن الكريم او هذه السورة فان لفظ الكتاب يطلق على الكل والبعض "مريم" اى قصة مريم بحذف المضاف.

فائده: واذكر الى آخير القصة عطف لقصة على القصة بتقدير اعلم في قصة زكريا يعني اعلم ذكر رحمة ربک زكريا آه واذكر.

پوه سه: چې "اذ" ههنا ظرف دی د هغه مضاف مقدر يعني لفظ القصة كمامر عنقريب.

پوه سه: چې اعتزال ګوښه والي، لېرې والي او يوازې والي ته وايي له خپل قوم څخه، ولي د مريمې ځای خو مسجد ؤ چې حيض به ورغلی، نو دا به ولاړه د خاله کړه چې ايشاع يې نوم ؤ فاذا اغتسلت عادت الى المسجد، نو يوه ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې يخ وو دا غسل ته اړه سوه، نو دا ګوښه سوه د کور له انسانانو څخه يوې ناحيې شرقي ته د سرای چې لمر ته مخامخ وۀ د غسل لپاره.

فائده: نصاری هر ځای چې وي مشرق ته لمونځونه کوي، ولي چې مريمي په مکان شرقي کې غسل کاوه لکه يهودانو چې جانب غرب قبله ګرځولې ده کما قال الله تعالى وما كنت بجانب الغربي اذ قضينا الى موسى الامر كذا قال الحسن.

پوښتنه: په قرآن مبارک کې د هيڅ ښځې نوم نه دی ذکر سوی پهله مريمي حکمت يې څه دی؟

ځواب: په اسئلة الحکم کې وايي چې مريمه لکه رجل کامل ځان يې و طاعت ته د خدای ﷻ چمتو کړی وۀ، نو لکه د موسى و عيسى وغيرهما عليهم السلام نوم چې په قرآن کې ذکر سوی دی او خطاب ورته سوی دی ددې نوم هم ذکر سوی او خطاب هم ورته وسو "يامريم اقنتي لربک واسجدي واركعي مع الراكعين" ددې خطاب له سببه بعض کسان وايي چې مريم نبي وه که څه هم دا غلطه ده لان النبوة مختص بالرجال. او علماً وجه د نوم اخستلو د مريمي په مجلس عام کې د قرآن دادی چې بعض نصاری عيسى ابن الله بولي او مريمه نعوذ بالله د خدای ماينه بولي، نو خدای ﷻ پر دوی رد وکړی چې د اشرافو خلګو او د بادشاهانو دا عادت دی چې د ماينې نوم صراحةً نه ذکر کوي بلکې په کنيت ګاهي ذکر کړي بلکې ووايي د فلاني يعني دده زوی مور داسي ويله مثلاً او يا په کنايه ذکر کوي لکه ووايي کور ودانې داسي ويل يا د هلکانو مور داسي ويل ونحو ذالک، نو خدای ﷻ به څرنګه بالفرض المحال که مريم داغسې لکه نصاری چې وايي ددې نوم په داسي محفل عام کې د قرآن چې کر الازمان او مر الدهور باقي دی ذکر کولای تنبيهاً على ان مريم امة الله وعابدة الله ده كذا في التعريف والاعلام للامام السهيلي ؒ.

فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا ۖ

نو دې ځان ته جوړه کړې وه د غسل په وخت کې په مخ کې د اهل بيت يوه پرده خبر العرب ابن عباس رضی الله عنهما وايي ستراً، بعض وايي چې د دې وال هغه بلې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوا ته ورغله ډهوال يې پرده او ستره د ځان ورګرځول. او مقاتل رح يوه نادره ده نه منلو خبره کړې ده دی وايي وړ اجبل په هر صورت دې کالي وکښل په غسل د حيض يې شروع وکړه جبرئيل په رنګ د يو ځوان بې ږيري ښائسته منځ پېچلي وېښتان ورغلی کما قال الله تعالی.

فَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾

ورواستاوه موږ مريمي ته روح زمونږ يعني جبرئيل عليه السلام.

پوه سه: چې اضافت د جبرئيل خداى ﷻ ځان ته وکړی، تشريف المضاف او جبرئيل ته چې روح وايي له دې کبله چې دی حامل الوحي دی وانبياً عليهم السلام چې روح د قلوب دي، نو جبرئيل خپل ځان په شکل د يو انسان يعنې نر وګرځاوه تام الاعضاً، نو مريمي چې ددې وخواته ور روان وۀ.

قَالَتْ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾

مريمي ورته وويل چې زه پناه غواړم له تا ځخه په رحمن خداى سره که ته له خدايه ببرېږې.

پوه سه: چې جواب د شرط محذوف دی يعني لا تتعرضني او فتنح عني تبعوذي.

پوه سه: مريمي ولې قيد د تقي ووايه؟ ځواب دادی چې تقي سړی د خداى په روی يعني استعاذه بالله ببرېږي او د هغه کار ځخه چې دده اراده ورته کړې وي دست برداره کېږي بخلاف الفاسق هغه د خداى په روی سړی نه پرېږدي بلکې فاسق ته به وايي چې حکومت ته راپور تېروم، او منافق به په مسلمانانو ببروي يعني چې مسلمانان به درخبر کړم.

پوښتنه: مريمي کالي اغوستي وه چې جبرئيل ځان ورښکاره کړی او که نه؟

ځواب: دې خو کالي اغوستي وه لکن د غسل له ځايه ځخه نه وه راوتلې، لما ورد ان جبرئيل نفخ في جيب درعها يعني په ګرېوان کې د قميصه ددې، نو ددې اول خيال دا سو چې دا سړی لکه چې په بد نيت راغلی دی يعني په نيت د زنی وهذا کمال نزاهة مريم حتى چې استعاذه بالله يې وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾

يعني زه بشر نه يم چي ته زما څخه وبيرېږي د سوء فعل له ارادې څخه او تعوذ دې په خداى وغوښتى بلكې زه رسول د خداى د ملكو له جنس څخه تاته بې را استولى يم "لاهب لك" چې زه هبه كړم تاته "غلاماً زكياً" يعني هلك د گناه پاك يعني معصوماً، او صوفيه كرام وايي چې زكيا هغه چا ته وايي چې همېشه مخ پر ترقى روان وي ولهذا قالوا من استوى يوماه فهو مغبون.

سوال: جبرئيل څرنگه اسناد د غلام د هبه و ځان ته وكړى وهو في الواقع خلق الله ﷻ؟

ځواب: دا اسناد مجازي دى چې جبرئيل سبب ظاهري و بالنفخ في جيب قميص مريم.

دروښ وايي: چې مظهري ؒ بل ځواب هم راوړى دى چې ډېر حذف ته ضرورت لري ويجب ان يحفظ ساحة القرآن العزيز عن امثال هذه المحذوفات الا عند الضرورة ولاضرورة ههنا لان للمجاز طريق واسع في القرآن الكريم كما لايخفى على المتفحص فافهم.

قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾

مريمې وويل چې د تعجب په درياب كې واقعه وه ولې دا كار خلاف العادة دى، څرنگه به ماله زوى وي، او حال دا دى چې زه نه يم مسه كړې كناية عن الجماع، والمراد المس بالنكاح لان هذه الكنايات تستعمل في النكاح او په زنا كې فجريا فسق استعمالېږي، او زه نه يم فاجره زانيه چې بل سبب دى د ولادت.

فائده: مبرد وايي چې اصل د "بَغِيٌ" بَغُوِيٌ على وزن فعول، ولهذا لم يلحق بدتاً التانيث لان فعولاً يستوي فيه المذكر والمونث واعلا له على ما في الزرادي، واو و يا بهم آمدند نخستين ايشان ساكن بود واو را بيا بدل كرند ويا را دريا ادغام نمودند بغي شد، بعد تبديل ضمة الغين بالكسرة اتباعًا او نور صرفيان وايي چې وزن يې فعيل دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په فعيل کي خو مذکر او مونث برابر نه دي، نو تا د تانيث يې ولې نه راوړه؟

ځواب: بغي دلته د مبالغې لپاره دی، نو تا تانيث نه غواړي کما في کتب الصرف. حاصل د کلام د مريم دادی چې ولد يا له نکاح څخه يا له سفاح څخه پيدا کېږي ولم يتحقق في شئ منهما.

قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ

جبرئيل وويل چې خبره خو داغه ده لکه تا چې وويل چې ولد يا نکاح غواړي يا سفاح. نو "کذالک" خبر د مبتدا محذوفي دی ای الامر کذالک لکن وايي خدای ﷻ ستا چې خلق د غلام بېله پلاره يعني جماع النکاح وماته اسانه دی کې څه هم محال دی عادةً ولي خدای ﷻ و اسبابو ته ضرورت نه لري. خدای بېله پلار او مور څخه آدم عليه السلام له خاورو څخه پيدا کړی او حوا يې دده له پوښتنې څخه پيدا کړه. نو آدم عليه السلام لکه مور د حوا پلار يې نه ؤ او عيسى عليه السلام يې له موره پيدا کړی پلار يې نه ؤ. وكذا قال الله تعالى "ان مثل عيسى عند الله كمثل آدم.

وَلِنَجْعَلَهٗۤ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ

چې وګرځوو مور د داغلام بې پلاره دليل د کمال د قدرت زمور پر دې تقدير کلمه د واو اعتراضيه دی يعني عاطفه نه دی. او يا جمله عطف ده پر هغه جمله "هو علي هين" ولي هغه معنی علت وه فالتقدير تفعل ذالک ای وهب الغلام بغير الاب لكونه هينًا علي ولنجعله آه "ورحمة" ای رحمةً عظيمةً "منا" ای من جانبنا على الخلق لاجل انهم يهتدون بهدايته ويسترشدون بارشاده.

پوه سه: چې عيسى عليه السلام خدای ﷻ رحمت وبالله دا مثل د هغه آيت دی په شان کي د نبينا ﷺ وما ارسلناک الا رحمةً للعالمين. لكن فرق بين هذه الآية في شان عيسى عليه السلام وبين ما قال الله في حق نبينا ﷺ بتقيده للعالمين فانه يدل على ان دين نبينا ﷺ لا ينسخ في الدنيا فيكون هو ﷺ رحمة للعالمين في الدنيا واما في الآخرة فلكون العالمين محتاجون الى شفاعته كما ورد في الحديث ان لواء شفاعتي تحتها ابراهيم وجميع الانبيا عليهم السلام او كما قال عليه السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿

اى تعلق بخلق هذا الغلام من غير اب القضاء الالهي في الازل او قضي به وسطر في اللوح المحفوظ يعني د دلائلو او د اعذار ضرورت نسته كما قالت مريم.

فَحَمَلَتْهُ

پوه سه: چې جمله "فحملته" معطوف ده پر مقدر جمله باندې يعني فاطمئنت مريم بقول الملک فنفخ جبرئيل في جيب درعها فحملت آه. جېب ګريبان ته وايي او درع قميص ته وايي.

فَانتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿

يعني وروسته تر حمل مريمه ګوښه سوه متلبس په حمل سره په يو ځای کې له اهل څخه چې ګوښه ؤ، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې دا د بيت المقدس د شپلې پای ته ولاړه فراراً من قومها تا چې څوک پېغور د حمل بلا زوج ورنه کړي، بغوي رح وايي چې په مده کې د حمل او په وخت کې د وضع الحمل يې اختلاف دی، ابن عباس رضي الله عنهما وايي كان الحمل والالولادة في ساعة واحدة، وقيل مدة حملها تسعة اشهر كحمل سائر النساء، وهذا هو الاظهر، ومال اليه صاحب روح البيان وقيل ثمانية اشهر، روح البيان وايي چې د اتو (۸) مياشتو کوچنی له وخته څخه د آدم عليه السلام نه دی پايدلی بېله عيسى عليه السلام وهذا آية اخرى.

دروېش وايي: چې وقد دلت عليه التجربة في مولود (۸) اشهر، وقيل لستة اشهر الذي هو اقل مدة وضع الحمل، وقيل غير ذالک.

تاريخ وايي چې په منځ کې د مولد د عيسى عليه السلام او د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم (۵۵۵) کاله فاصله وه، او عيسى عليه السلام ژوندی دی په اسمانو کې، او وروسته چې قريب وي و نفخ الصور ته راکښته به سي و خلګو ته به دعوت د عليه الصلوة والسلام د دين ورکوي.

دروېش وايي: چې روايت د ابن عباس رضي الله عنهما په مده کې د حمل چې يو ساعت ؤ تاسي واوريدی، لكن روح المعاني له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایت هم رانقل کړی دی چې د حمل مده یې نهه میاشتې وه یعنې لکه غالب عادت د ښځو چې دی، او امام باقر رحمه الله دغه روایت مختاره کړی دی. دلیل یې دا ویلی دی که مریمه په عادت کې له نورو ښځو څخه مخالفه وای لکه د ابن عباس رضي الله عنهما په دغه روایت کې چې راغلې، نو مناسبه دا وه چې دا خبره په ثنا کې د دې غریبې قصې خدای جل جلاله ذکر کړې وای کما ذکر احوالها الغریبة الاخر.

دروښ وایي: چې په عمر او سن کې د دې په وخت کې د حمل هم اختلاف دی فقیل (۱۳) کاله وعن وهب و مجاهد رح (۱۵) کاله، وقیل (۱۴) کاله، وقیل (۱۲) کاله، وقیل (۱۰) کاله، او د مخه تر حمل دې ته دوه حیضه ورغلې وه، او کرامیه چې یوه ډله ده د اهل هوا چې د دوی رئیس محمد بن الهیصم دی وایي چې مریم د هر څو کالو چې وه له حیض پاکه وه، روح المعاني وایي چې مشهوره داده چې زمانه د حمل د عیسی علیه السلام اته میاشتې وې والله اعلم.

فَأَجَآءَهَا الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ ۚ

پوه سه: چې "فاجائها" په اصل کې مشتق دی د "جا" چې لازمي دی، نو په همزه د افعال یې متعدي کړی لکن خص بالالجا في الاستعمال، والمعنى مجبوره کړه دا، علامه زمخشري په کشاف کې وایي ای الجائها یعني مجبوره یې کړه مریم وفي الصحاح اجائته الى كذا، بمعنى الجائته واضطرته "والمعنى ایضاً مجبور یې کړه" وقال ابو حیان جائبها آه "المخاض" ای وجع الولادة، یقال مخضت المرئة اذا تحرک الولد في بطنها للخروج.

پوه سه: چې اسناد د فعل یې و مخاض ته مجاز دی والمعنى جائت بسبب المخاض فهو اسناد الى السبب الداعي للمجئ "الى جذع النخلة" و یو لرګي ته د خورما یعني وچه درخته وه د خورما په صحرا کې، راوي وایي چې وخت د سخت ژمي هم وو. د مریمې غرض دا وو چې په دې درخته به ځان پټ کړي او لاس به پورې ټینګ کړي د وجع د ولادت، بیضاوي وایي چې د مریمې په زړه کې خدای پاک الهام ورواچاوه چې هورې به په دې معجزې یعني د قدرت علامات په وویني تاچې زړه یې مطمئن سي او د خلګو د ملامتیا بهره یې له زړه وویني او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تازه خورما د وچي درختي وويني او وه يې خوري، چې د عربو په اصطلاح کې ئې خورما خورل تر لنګول د ښځو وروسته ډېره بهترينه دوا او خواړه دي لکه په اصطلاح کې د پښتنو چې لنګې ښځې ته د ګوړې يا د بوري لېتې[1] وركوي.

قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا

وويل مريمي چې عيسى (عليه السلام) پيدا سو، کاشکې زه مړه واى دمخه تر دې يعني تر نن ورځې يا دمخه تر دې امر چې بې مېړه لنګه سوم كما في الجلالين.

پوه سه: چې دا کلمه "مِتُّ" که په کسره د ميم وويل سي، نو له باب ځخه د خفت يخاف ده، او که په ضمه د ميم وويل سي، نو له باب ځخه د مات يموت ده.

سوال: مريمي ولې دا خبره کول سره ددې چې جبرئيل و دې ته اطمنان ورکړى وُ او دې ته يې ويلي وه چې دا حکم د خداى ﷻ دى چې ته به غلام زېږوې ببله پلار ه؟

ځواب: دا خبره د مريمي بناً پر عادت بشري دى چې خلګ به ملامتيا راباندې وايي وحذاراً من وقوع الناس في المعصية په سبب د اتهام ددې، په زنى لاكراهة لحكم الله تعالى، او دا خبره بناً پر عادت د صالحانو خلګو ده چې ګراو پر دوى ډېر سي كما روى عن عمر ﷺ انه اخذ تبنة (يوه د پراړه خاشه يې واخستل) من الارض، وقال ياليتني هذه التبنة ولم اكن شيئاً" وروى عن بلال ﷺ ليت بلال لم تلده امه.

سوال: په صحيح مسلم کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل لاتمنين احدكم الموت لضر نزل، فان كان لابد متمنياً، فليقل اللهم احيني ماكانت الحيوة خيراً لي وتوفني اذا كانت الوفات خيراً لي؟

ځواب: حديث خو مقيد دى په ضرر دنياوي سره من قرض، وفاقة وعدو ونحو ذالک، د مريمي تمنى له موت ځخه خو له دې سببه نه وه بل لمامر آنفاً.

په روح المعاني کې وايي چې ځوک چې وايي چې تمنى د مريمي له شدت ځخه د وجع د ولادت وه فقد اساً الظن والعياذ بالله.

---

[1] لېتې، د لوى قندهار په سيمو کې د خپل ځانګړو دارود ځخه جوړېږي چې، (لېتې دارو) بې بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې یا د یالیتني منادی یې محذوفه ده، تقدیره یا ایها المخاطب لیتني والمخاطب ههنا نفسها. وما قال بعض المفسرین ان المخاطب هو جبرئیل علیه السلام فبعید جداً لان مریم لاتعلم ان جبرئیل ههنا موجود حتی تناديه فافهم.

وَكُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿٢٣﴾

حسین کاشفي رح در تفسیر این آیت چنان آورده: یعني هیچ کس مرا نداستی وزاین حساب نداشتی وحال انکه همه احبار بیت المقدس مرامی شناسد که دختر ایشانم، ودرکفالت زکریا علیه السلام بوده ام. وهنوز بکارت من زائل نشده وشوهری نه کرده ام واکنون فرزندی می زایم و ازخجالت آن حال نمی دانم که چه کنم، په عربي یې ترجمه داده ای شیئاً حقیراً شانه ان ینسي ولا یعتد به اصلاً.

پوه سه: چې منسیاً نعت للمبالغة والمعنی لایخطر ببال احد روح البیان، وفي روح المعاني ای شیئاً تافهاً من شانه ان ینسی آه والمآل واحد.

پوه سه: چې بعض قرا "منسیاً" په فتحِ د نون وایي او اکثره قرا یې په کسرِ د نون وایي، قال الفراء هما لغتان فیه کالوتر والوِتر، والفتح احب الي انتهی. وقال الفارسي الکسر اعلی اللغتین.

فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ

پوه سه: چې بعض قرا لفظ د من په کسره د میم وایي یعني حرف جر یې بولي، او لفظ د "تحتها" مجرور بولي، نو پر دې تقدیر فاعل د "نادی" جبرئیل دی والمعنی ناداها مناد وهو جبرئیل چې د مریم جزع یې واورېدله کذا ابن عباس رضی الله عنه والسدي، وقتاده، والضحاک وجماعة رح. دوی وایي چې مریم پر غونډی وه او جبرئیل د غونډی و بلي خوا ته ولاندي طرف ته، او مجاهد او حسن رح وایي المنادی هو عیسی علیه السلام لما خرج من بطن امه ناداها، ورده صاحب روح البیان بان عیسی علیه السلام لا یتکلم حتی اتت به مریم الی قومها، او بعض قرا من په زور د میم وایي او په فتح د تحتها د تا یې وایي، نو پر دې تقدیر کلمه د من موصوله ده او دا موصول سره د صله چې تحتها د فاعل ده نادی دی ای ناداها الذي تحتها في مکان اسفل منها وهو جبرئیل علیه السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مريم چونکه غمجنه سوه په ولادت د ابن بلا اب او په عين حال کي هم تږي سوه او هم وږي، نو دا خطاب ورته راغلي يعني د جبرئيل له خوا.

أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾

ته غم مه کوه په ولادت د عيسى عليه السلام او په دې ځای چي وچ ځای دی نه اوبه سته او نه د خورک شی سته، وتمنای مرګ مکن کمامر، ګرځولی ستا خدای لاندي تر تا ای في مکان اسفل منک يو نری لبنتی چي اوبه پکښې جاري دي فسر السري بذالک النبي ﷺ، وقال ابن عباس رضي الله عنه چي جبرئيل په پښه ځکه روهل نو د شيرينو اوبو چينه پيدا سوه او د لبنتي پر شکل روانه سوه، او بعض مفسرين وايي چي له پخوا ځخه يو لبنتی چي اوس اوبه نه وي پکښې، نو اوبه پکښې رواني سوې، په هر صورت دا اوبه له خارق العادة ځخه دي.

وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾

او ته وښوروه د ځان و خواته هغه وچ لرګی د خورما د درختي چي مريم په وخت کي د ولادت په هغه لرګي پوري لاسونه ټينګ کړي وه، راشوه کوي دغه وچه درخته خورما پر تا باندي اسقاطاً متواتراً حسب تواتر الهز "رطبًا" تازه خورما "جنيًا" فعيل دی په معنی د مفعول ای رطبًا مجنيًا يعني صالح د اجتنا دی قد بلغ الغاية، وهذا ايضاً من الخوارق.

پوښتنه: مريم چي کوچنی وه او په تربيه کي د زکريا عليه السلام وه رزق به په محراب کي ورته راتلی بيله تکليفه او دلته خدای عليه السلام دا امر کړه په هزی اليک؟

ځواب: هغه وخت حال د کوچنيوالي وۀ، اوس خو دا لويه ښځه وه، په اسئلة الحکم کي وايي چي چونکه مريم په تعجب کي وه په سوه چي زوی مي بلا اب پيدا سو، نو خدای رحمن له وچ لرګي ځخه د خورما لنده تازه خورما ورته توی کړه لدفع تعجبها.

فائده: تساقط باب د مفاعلة دی په معنی د تسقط يعني مجرد دی، او باب د مفاعلة لپاره د مبالغي دی، او مونث ضمير راجع و نخلة ته دی لا الی الجزع لانه مذکر، ربيع بن الهشيم وايي چي زما په عقيده نفساً ښځي لره تر رطب ښه شی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داغه رنګه مریض لره تر عسلو پښه شی نسته، یعني مفرداً و مرکباً مع غیره لانه لایخلو معجون من معاجین الاطباً من العسل فلا یرد مایتوهم الجهلة فافهم.

فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا ۚ

خورک کوه یا مریم من الرطب الجني او اوبه څښنه د سری له لښتي څخه.

پوه سه: چي قانون دادی چي ستر ګي چي یو شی وویني نفس په خوشاله کیږي، نو ستر ګي پر هغه شي قرار نسي بلې خوا ته نه ګوري چنانچه عرب په دعا کي یو چا ته وایي قر الله عینک یعني ستا په زړه کي دي په یو شي خوشالي پیدا کړي چي ستا ستر ګي پر هغه قرار ونسي بل شي ته نه ګوري، نو په آیت کي معنا داده چي ته یا مریم زړه خوشاله لره په ولد سره او ستر ګي برقرار لره وده ته، ځکه په عربي مفسرین داسي ترجمه کوي ای طیبي نفساً وادفع عنک ما احزنک.

فائده: "عیناً" تمییز دی له نسب څخه د "قری" ومریم ته.

دروښ وایي: چي مشهوره داده چي مراد له قر څخه ضد الحر دی یعني خنکي ساته ستر ګي ځکه و محبوب ته قرة العین وایي. او مبغوض ته سخنة العین وایي یعني د ستر ګو ګرم والی او ددې سبب دادی چي د ډیري خوشالۍ په حال کي هم د انسان تر ستر ګو اوښکي راځي لکه د ډیر غم په وخت کي د انسان تر ستر ګو اوښکي بهیږي فرق یې دادی چي د خوشالۍ اوښکي یخي وي او د غم اوښکي تودې وي کمایدل علیه التجربة.

پوه سه: چي دا ټوله حالات غریبه چي پر مریمي راغله دا حالات ددې لپاره کرامت او د عیسی علیه السلام لپاره ارهاص دی معجزه نه بلل کیږي، ولي چي معجزه هغه ته وایي چي په وخت کي د دعوت د کفارو او ددوی د مقابلې لپاره پر لاس د مدعي النبوة ظاهره کړل سي، حسین کاشفي رح په تفسیر حسیني کي ددې آیت په تفسیر کي وایي "وقری عیناً" روشن ساز چشم را بفرزند (لکه پښتانه چي وایي ستر ګي دي روښانه زوی دي پیدا سو) یا بسبز شدن درخت خرما وبدادن میوه که مناسبت باحال تو دارد چه آنکه قادر است بر اظهار خرما از درخت یابس قادر است بر ایجاد ولد از مادر بدون پدر، وحق سبحانه ملائکه فرستاد تا بگرد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مریم امدند درصورت بشر وچون عیسی متولد شد ملائکه اورا فراگرفته بشستند ودرحریر بهشت پیچده درکنار مریم نهادند. انتهی ولم ار الفقیر جمیع قول الکاشفي في تفسیرعربي اصلاً والله اعلم، زما مطلب دا نه دی چي دا ماقاله الکاشفي له کرامت څخه د مریمي لهري دی بلکې د مریمي له حال سره مناسب دی، ولي چي ددې سره نه قابله ورسره وه چي کوچنی ورپرېمینځي او نه کالي ورسره وه چي په عیسی علیه السلام يې واغوندي یا يې پکښې وپېچي. صرف دا قدر زما مطلب دی چي عربي تفاسیرو هم باید ودې کراماتو ته اشاره کړې وای. تفسیر کاشفي ډېر قدیم تفسیر دی چي تر ډېرو عربي تفاسیرو مقدم دی صرف صاحب د روح البیان دغه تفسیر ته د قدر په سترګه ګوري.

فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا

پس که ته ووینې یا مریم له بشر څخه یو څوک یعني چي ستا څخه پوښتنه په شان کي د ولد وکړي چي دا ولد دي له کومي خوا پیدا کړی.

پوه سه: چي اصل د اما ان ما و کلمه د ما زائده ده، نون د ان شرطیه يې پکښې مدغم کړی، وروسته يې جزا د ان وګرځول.

فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا

دا جزا د شرط ده، یعني ته ورته ووایه چي سوال د ولد په باره کي درڅخه وکړي چي ما نذر کړی دی د خدای جل جلاله لپاره روژه یعني روژه د صمت یعني د خبرو نه کولو، سدي رح وایي چي په بني اسرائیلو کي داسي کسان وه چي ډېر اجتهاد به يې په روژه کي کاوه، نو به يې خبري هم له چا سره نه کولې لکه دوی چي به يې نه خوړله تر مابنامه پوري. بعض مفسرین چي دغه خبره یعني انې نذرت دي په اشاره ورته ووایي یعني لاس دي پر خوله کښېږدي لپاره د قطع د ناحقي بحث اکتفا بکلام عیسی علیه السلام کما سیاتي. او بعض مفسرین وایي چي دغه قدر خبره دي په خوله ورته وکړي وروسته دي پټه خوله سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ۚ

زه هرگز خبري نه کوم د هيڅ انسان سره تخصيص د انسي چي يې وکړي ولي چي دې د ملکې سره خبري کولې.

مسئله: روژه د خورک او له خبرو څخه په روژه کي په پښتو امتو کي روا وه، وقد نهى النبي ﷺ عن صوم الصمت فهو منسوخ في شرعنا كما ذكره الجصاص في كتاب الاحكام، په حديث کي چي مروي د ابوبکر الصديق ﷺ څخه دی راغلي دي چي دی د يوې بڼځي کور ته ورغلی هغې صوم صمت نيولې وه يعني خبري يې نه کولې فقال لها ان الاسلام قد هدم هذا فتكلمي، يعني اسلام صوم الصمت نړوی، نو دې خبري وکړې. ظاهر د اخبار دادی چي دا روژه حرامه ده فان نذره لا يلزمه الوفاء به يعني روژه دي ونسي لکن د صمت په نذر نه نذر کېږي لان الحرام لايلزم بالنذر، او په دې مسئله کي په منځ کي د حنيفيانو او شافعيانو اختلاف نسته لانه من التضييق وليس في شرعنا ذالک وان كان قربة في شرع من قبلنا.

دروښ وايي: چي ومثل هذا كثير كقرض موضع النجاسة من الثوب في شريعة موسى عليه السلام وعدم كفاية الغسل وفي شرعنا الغسل كاف والقرض منسوخ والعمل به حرام لانه غاية التضييق.

فائده: عبدالله ابن مسعود ﷺ په ځای کي د صوماً قرائت يې صمتاً يعني چي زه خبري نه کوم په شان کي د زوی د هيڅ چا سره.

فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ ۖ

نو مريم راتګ وکړی متلبس په ولد سره وه قوم ته چي زوی يې په غېږ کي را اخستی وُ، په يوه روايت کي راغلي چي زکريا عليه السلام چي مريم دده په کفالت کي وه له محراب څخه وتلې ورته معلومه سوه، نو زکريا د هر غمجن سو، نو د مريم د ماما زوی يوسف ته يې وويل چي ته ووځه شاوخوا وګوره او مريم پيدا کړه، يوسف چي پل پسي واخستی دا د خورما تر درختي لاندي ناسته وه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوچنی يې په غېږ کي ؤ، نو راڅرهي يې کړه، نو د مريمي چونکه صالح خاندان واو زکريا عليه السلام د هغو سره ناست ؤ چې مريم راغله کوچنی يې په غېږ کي ؤ تولو وژړل او خوابدي سوه.

قَالُوا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿۲۷﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی، قوم ووېل ای مريم والله تا راتلگ وکړی په داسي شي چې منکر دی يعني بې عادته کار دي وکړی، قتاده وايي عظيماً وقيل عجباً.

پوه سه: چې "فري" په اصل کي قطع ته وايي د پوست من فري الجلد بمعنی شق، او په قرآن کريم کي دا ماده يعني الفا والرا والياً په معنی د الکذب او د شرک ده. او د ظلم په معنی هم راغلې ده. قال الله تعالى ومن اظلم ممن افترى على الله الكذب، وقال ومن يشرك بالله فقد افترى اثماً مبيناً، فان الفعل المنكر من الشرک والمعاصي يشق عصمة الرجل وصلاحه.

يٰٓأُخْتَ هٰرُوْنَ

اې خور د هارون، بعض مفسرين وايي چې مراد له هارون څخه هغه څوک دی چې نبي ؤ او د موسی عليه السلام ورور ؤ.

سوال: هارون د موسی عليه السلام ورور خو تر عيسی عليه السلام په سلگونه کلونه دمخه ؤ، نو مريم څرنگه د هغه خور کېدای سي، دا سوال پر مغيره بن شعبه رضي الله عنه باندي سوی ؤ چې دی نجران ته تللی ؤ يو نصاری څندي کړی ؤ چې ستاسي په کتاب کي داسي راغلي دي د مريم په باره کي يا اخت هارون او سره ددې چې موسی خو تر عيسی عليهما السلام دمخه ؤ بکذا وکذا سنوات، مغيره رضي الله عنه وايي چې زه يې په خواب نه پوهېدم چې مدينې منورې ته راغلم له عليه الصلوة والسلام څخه مي دا پوښتنه وکړه فقال عليه السلام انهم كانوا يسمون بانبيائهم والصالحين، مقصود دا ؤ چې بني اسرائيلو خپل زامن په نامه د انبياً نامزد کول، يعني د بعضې انبياؤ نوم به يې پر اينښوی او د نورو صالحو کسانو نومان بې پر اينښوول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(لکه امت د علیه الصلوة والسلام پر خپلو زامنو د محمد، احمد، محمود وغیرها من اسماء النبي ﷺ ایږدي، یا داؤد یا سلیمان یا عمر یا عثمان پر ایږدي وغیر هذه الاسماء) غرض د علیه الصلوة والسلام دادی چې دا هغه هارون د موسی علیه السلام ورور نه دی، بلکې د مریمې پر ورور یې د هارون نوم ایښی ؤ، او بعض مفسرین وایي چې مریمه په ډېرو وسائطو هارون النبي ﷺ ته رسېدله یعني د هغه له نسل څخه وه، یعنې دا نسلي شراکت ته یې اخوة ووایه لکه عرب چې د بنې تمیم له قوم څخه یو سړی وي دوی ورته ووایي یا اخا تمیم، بغوي رح وایي چې قتاده رح وایي چې هارون د مریمې ورور یو صالح عابد سړی ؤ د بنې اسرئیلو، داسې روایت راغلی دی چې دغه هارون نامی چې وفات سو په جنازه کې یې څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) چې تولـه په نامه د هارون بنې اسرائیل یادېدل شراکت کړی ؤ ماسوی له عموم خلګو څخه، او بعض مفسرین وایي چې مراد اخوة څخه في النسب نه دی بلکې اخوة في الصلاح دی لکه په دې قول کې د خدای پاک "ان المبذرین کانوا اخوان الشیاطین" یعني في الفساد لا في النسب او نور ناوړه احتمالات هم بعض مفسرانو راوړي دي.

مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾

یعني نه ؤ ستا پلار عمران سړی د بدو او نه ستا مور زانیه وه، ددوی غرض تعریض د زنا پر دې او ددې پلار او مور چې په صلاح سره ذکر کړه اشاره وده دې ته ده چې فواحش له اولاد څخه د صالحانو ډېر بعید دی، نو تا څرنګه زوی ېې پلاره راوړی، الحاصل الزام د زنی یې پر ولګاوه.

فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ

مریمې اشاره و عیسی ته وکړه یعنې دده څخه پوښتنه وکړئ. ابن مسعود رضی الله عنه وایي چې چونکه د مریمې سره یو داسې دلیل نه ؤ چې دوی په قانع کړي، نو یې ځکه اشاره و عیسی علیه السلام ته وکړه تاچې خبرې دده به ددوی د قناعت بخش دلیل سي، راوي وایي دې چې اشاره و عیسی علیه السلام ته وکړه هغو ته درد ورغلی او دې ته یې وویل چې ته په مور پسخند وهې،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾

وه يې ويل دوی چې مونږ څرنګه خبرې وکړو د هغه چا سره چې په زانګو کې پروت وي کوچنی چې د خبرو صالح هم نه دی یعني کما في عامة صبیان المهد.

پوښتنه: "کان" خو صیغه د ماضي ده او عیسی علیه السلام خو په ماضي کې په مهد کې نه ؤ في الحاله په مهد کې دی؟

ځواب: لفظ د کان لایقاع مضمون الجملة في زمان ماض مبهم صالح لقریبه وبعیده وهو ههنا لقریبه خاصةً بقرینة انه مسوق للتعجب في الحال الحاضر، او زائدة والظرف اعني في المهد صلة من وصبیًا حان من الضمیر المستکن في الظرب او یا کان تامه دی ای وجد في المهد. او یا دائمه دی کما في قوله تعالی وکان الله غفوراً رحیمًا. او یا کلمه د کان لپاره د تحقق د کوچنوالی د عیسی ده فان الماضي دال علی التحقق.

دروښ وایي: چې دا اعراب او بیان منقول دی له روح البیان، روح المعاني، تفسیر مظهري وغیرهما څخه فتدبر فیه.

تنبیه: پوه سه! چې فقیر یو احتمال دا هم راوړی دی چې کان دي لپاره د دوام وي او استشهاد په آیت سره وکان الله غفوراً رحیمًا مي هم ووایه له دوام څخه د عیسی په حال کې مراد دی حالت حاضره دده او حالت ماضیه قریبه دده او حالت مستقبله قریبه دده، نو په حال کې د عیسی علیه السلام مطلق دوام موجود دی بخلاف الدوام في الآیة فانه یشمل الحالة الحاضرة والماضي القریب والبعید والمستقبل القریب والبعید فلا یرد مما عسی ان یتوهم من الاستشهاد بالآیة الدوام في حال عیسی بالمعنی المذکور في الآیة فافهم. سدي رح وایي چې ده د خلګو خبرې واورېدلې ترک الرضاع واقبل علیهم.

قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ ۖ

وه يې ويل چې زه بنده د خدای ﷻ یم.

پوه سه: چې اضافت د ځان چې و خدای ﷻ ته اشاره یې ودې ته وکړه چې عبد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکرم د خدای یم چونکه قوم له دې څخه منکر دۀ. نو نون ثقیله د تاکید یې هم ورسره راوړی او بل دا اقرار د عبودیت چې یې وکړی ولې چې مقام د عبودیت اعلی مقام د انبیاؑ علیهم السلام دی ولهذا نقول في تشهد الصلوة اشهد ان محمداً عبده ورسوله. علماؑ وایي چې د رسول په صفاتو عبودیت دده اعلی دی تر رسالت دده لان في العبودیة توجه الی الله خاصةً وفي الرسالة ای تبلیغ الدین توجه الی المخلوق او بل عیسی په عبدالله سره دفع د توهم دالوهیة له ځانه وکړه.

اٰتَنِيَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا ﴿۳۰﴾

ماته یې راکړی دی کتاب. اکثر علماؑ وایي چې مراد له کتاب څخه انجیل دی او تعبیر په ماضي سره چې یې وکړی لتحقق ایتاؑ الانجیل فیما سیأتي علی منوال قد قامت القیامة قد اکتفی روح البیان علی الانجیل وفي روح المعاني الظاهر انه الانجیل. وقیل التورات وقیل مجموعهما. مظهري په نقل د حسنؒ وایي چې مراد تورات دی چې ده ته الهام سوی ؤ هغه وخت چې دی د مور په نس کې ؤ "وجعلني نبیًا" ای في اللوح المحفوظ او بمعنی سیجعلني تعبیر بالماضي اما علی الاول فظاهر واما علی الثاني فلتحقق الوقوع في المستقبل فکانه ماض کمامر.

دروېش وایي: چې د تورات په باره کې او هغه هم د مور په رحم کې کوم حدیث نبوي یا روایت د اصحابو نسته والله اعلم.

فائده: په دې خبرو کې د عیسی علیه السلام دلیل دی پر برائة د مور دده له زنی څخه لان الله تعالی اجل من یصطفی للرسالة ولد الزنی وهذا مسلم عند الکل.

فائده: په دې کې اختلاف دی چې عیسی علیه السلام چې دا مذکوره خبرې په قرآن کې وکړې بیا تر هغه وروسته یې هم خبرې جاري وې کعادة الرجال او یا پته خوله او تر هغه وخته لکه نور کوچنیان چې خبرې کوي عیسی هم پر خبرو راغلی. او علیه الصلوة والسلام د عیسی علیه السلام په باره کې ویلي دي چې عیسی چې په مهد کې خبرې وکړې ثم لم یتکلم الی وقت العادة وهو الصحیح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ

زه گرځولی یم مبارک، هر چیري چي زه یم في الارض او في السماء.
مجاهد ؒ وایي نفاعًا یعني کثیر النفع الی الناس ومن نفعه ابراً الاکمه والابرص، او سفیان ثوري ؒ وایي چي معلم الخیر امراً بالمعروف ناهیًا عن المنکر، او ضحاک ؒ وایي پوره کونکی د حوائجو د خلګو روح المعاني وایي اکمله الله تعالی عقلاً واستنبئًا طفلاً ونقل ذالک عن الحسن.

دروبش وایي: چي فخذ ما صفی ودع ماکدر.

وَاَوْصٰنِيْ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ۝

اوماته خدای پاک امر کړی دی په صلوة او په زکوة سره تر هغو چي زه ژوندی یم. یعني امر مؤکد دی تر مرګ پوري.

دروبش وایي: چي ظاهره داده چي د صلوة لمونځ مراد دی چي عبادت بدني دی او له زکوة څخه زکوة متعارف مراد دی.

دروبش وایي: چي ددې دوو عباداتو په ماضي راوړه توجیه یې چي دمخه تېره سوه هغه ده فافهم، او بعض علماً وایي چي د زکوة څخه صدقة الفطر مراد دی، وقیل المراد بالصلوة الدعاً وبالزکوة تطهیر النفس عن الرزائل.

پوښتنه: که له زکوة څخه زکوة متعارف مراد سي چي عیسی علیه السلام به مالک د نصاب الزکوة ګرځي ولیس کک لانا الله تعالی قد نزه الانبیاً عن الدنیا فما ایدیهم لله تعالی؟

ځواب: امور شرعیه ګاهي عام وي نبي او امت دواړو ته شامل وي کالصوم والصلوة، او ګاهي خاص وي کالزکوة بالاغنیاً فالوصیة بالزکوة بالنسبة الی اغنیاً امته وان کان باعتار الظاهر خاصًا بعیسی علیه السلام.

وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ۝

الی وجعلني باراً بوالدتي، عطف علی مبارکًا.

پوه سه: چي بار چي د بر په معنی دی ضد د عاق دی، بعض مفسران وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي "والدة" يې ذکره کړه دا لکه تصريح په دې سره چې والد نه لرم فهو اظهر الجمل في برائة مريم عليها السلام من الزنى.

زه خدای نه يم گرځولی په علم ازلي خپل متکبراً او عاصي د خدای ﷻ قيل الشقي هو الذي يذنب ولايتوب، تاريخ پوهان وايي چې عيسى عليه السلام انتهايت تواضع درلوده، کله کله به يې د درختو بلگونه خوړل ويلبس الشعر ويجلس على التراب ولم يتخذ لنفسه مسكنًا وكان هو عليه الصلوة والسلام يقول للناس سلوني" يعني زما څخه پوښتنې کوئ فاني لين القلب صغير في نفسي.

وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ وَيَوْمَ اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ﴿۳۳﴾

او سلامتي دي وي پر ما (مظهري ؒ وايي چې دا جمله په اصل کې فعليه وه ولذالک عطف على فعلية اى لم يجعلني عدلت الى الاسمية للدلالة على الاستمرار آه) چې زه له مور څخه زېږېدم (حيث حفظني الله من طعن الشيطان كما في الحديث الصحيح) او هغه ورځ چې مرم من عذاب القبر په هغه ورځ چې بعث کېږم ژوندی من اهوال يوم القيامة وعذاب النار.

ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ

يعني دغه سړی چې ذکر يې تېر سو چې اقرار يې په عبوديت وکړی يعني عيسى بن مريم دغه سړی دی.

پوه سه: چې "ذالک" مبتدأ ده او "عيسى" يې خبر دی او "ابن مريم" صفت د عيسى دی او يا خبر بعد الخبر دی يا بدل دی يا عطف بيان دی والاكثرون على الصفة "قول الحق" منصوب دی، بعض مفسرين وايي چې مفعول مطلق دی د فعل محذوف والتقدير اقول قول الحق او اضافت د قول و حق ته اضافت بيانيه ده، او بعض مفسرين وايي منصوب على الحال دی من عيسى والعامل فيه معنى الاشارة دی "في ذالک" چې دی ته په نحو کې عامل معنوي وايي كما في قوله "هذا بعلي شيخًا" روح المعاني وايي چې جمهور د قرايانو يې په رفع د قول وايي چې خبر د مبتدأ محذوفي دی اى هو قول الحق الذي لاريب فيه والضمير راجع للكلام السابق او تمام قصة عيسى وقيل غير ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِیْ فِیْهِ یَمْتَرُوْنَ ﴿۳۴﴾

هغه خبر حق دی چې یهود او نصاری اختلاف او تنازع لري، یهودان وایي چې عیسی ساحر وٗ حاشاه، او نصاری وایي ابن الله وٗ سبحان الله عمایقولون.

اعراب: "الذي" صفت د قول دی یا د حق دی یا خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هو الذي الخ. چونکه نصاری وو عیسی ابن الله بالله، نو خدای پاک اوس نفي د ولد مطلقًا له ځانه څخه کوي په دې آیت کې.

مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ یَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ

نسته خدای لره چې دی ولد ځان لره ولري، کلمه د "من" لپاره د تاکید ده، "سبحٰنه" مصدر دی په ځای کې د فعل درېدلی دی ای اسبحه سبحانًا، چې فعل حذف سو مصدر یې و مفعول ته مضاف کړی سبحانه وګرځېدی وروسته تر اضافت د فعل اظهار روا نه دی کما تقرر في کتب النحو.

پوه سه: چې دا جمله معترضه ده لپاره د تنزه د خدای ده عن الولد مطلقًا ذکرًا کان او انثی.

اِذَا قَضٰۤی اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَیَكُوْنُ ﴿۳۵﴾

چې اراده وکړي چې یو شی پیدا کړي، نو هغه شي ته ووایي چې پیدا سه! هغه بلا توقف پیدا سي.

پوه سه: چې دا عبارت کنایه ده له سرعت امتثال څخه د خدای والا فلا یصح الخطاب للمعدوم وعلی تقدیر وجود الشئ المراد فالقول المذکور تحصیل الحاصل کذا قال العلماء قاطبة ومن جملة ذالک الاحداث ایجاد عیسی بلا اب عقل سلیم مقتضی ددې ده چې داسي ذات مقتدر حتمًا به منزه وي له مشابهت څخه د مخلوق بریًا من الحاجة في اتخاذ الولد باحبال الانثی کما یقول النصاری. نو دا جمله شرطیه په ځای کې د علت ده لنفي اتخاذ الولد فتدبر هداک الله.

دروښ وایي: چې دا څو دلائل نقلیه دي پر نفي د ولد خدای ﷻ لره او ورته آیتونه نورهم په قرآن عظیم الشان کې پر نفي د ولد خدای ﷻ لره سته په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الاخلاص کي "لم يلد ولم يولد" هم موجود دی، او پاته دلائل عقليه پر نفي د ولد خدای ﷻ لره ډېر سته چي د هغو ځای کتابونه د علم الکلام دي، کشرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني ؒ والمواقف للقاضي عضد الملة والدين ؒ وشرحه للسيد الجرجاني ؒ. تنبيه! فقير پر ابو المنتهى باندې پښتو شرح کړې ده چي طبع سوې ده، په هغه شرح کي هم دلائل عقليه پر نفي د ولد خدای ﷻ لره ذکر کړه سوي دي فارجع اليه فانه انفع من تفاريق العصا.

وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۗ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ۝

او په تحقيق الله رب زما او رب ستاسي دی.

پوه سه: چي قرائت په زبر د الف قرائت دی د کوفي قراؤ، نو عطف دی پر "اني عبدالله" باندې، يعني دا خبره هم د عيسى ده په وخت کي د رضاع، او اهل بصره يې په فتح د الف وايي، نو عطف دی پر "الصلوة والزكوة" باندې، والتقدير و اوصاني بان الله ربي آه، نو دا هم قول د عيسى عليه السلام دی، او يا ان الله ربي آه منصوب محلاً مقوله ده للقول.

پوه سه: چي کمال ته رسېدل د انسان په استکمال د قوة نظريه ده باعتبار التوحيد وغيره من المعتقدات ففي هذه الاية اشارة الى كمال القوة النظرية بالتوحيد وفي قوله تعالى "فاعبدوه" اشاره ده و استکمال ته د قوت عمليه چي مامورات الهيه به کوي او له منهياتو څخه به پرهېز کوي، دغه جمع بين الامرين لازم ده سمه چي سړی و جنت او د خدای ﷻ رضا ته رسوي.

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ

نو ډلي ډلي سوې او اختلاف يې سره شروع کړی يعني اليهود والنصارى، او نصاری وو په خپل منځ کي.

دروښ وايي: چي يهودانو ډېر تفريط وکړی او کوي يې په شان کي د عيسى عليه السلام چي ساحر، ابن الزانية نعوذ بالله من ذالک يې بولي، او نصاری ډېرې ډلې سوې يوه ډله چي په نامه د نسطوريه يادېږي هغه وايي چي عيسى ابن الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی معاذ الله، او د یعقوبیه په نامه ډله وایي چې عیسی علیه السلام خدای وُ چې مخکې ته راکښته سوی وُ او بیرته ولاړی اسمانو ته. او بله ډله چې د ملکانیه په نامه مسمی ده هغه وایي چې عیسی علیه السلام عبدالله ورسوله وُ، وهم علی الحق في شان عیسی علیه السلام "من بینهم" د من لفظ زائد دی. او ظرف چې من بینهم دی متعلق دی په اختلف پوري یعني من بین قومه او من بین الناس.

دروبش وایي: چې تفصیلي بیان ددې دروڅلو د نصاری وو په کتاب "الملل والنحل" لمحمد بن عبدالکریم الشهرستاني رح کې مطالعه کړئ.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾

"فویل" ای هلاک عظیم "ویل" په اصل کې مصدر دی او منصوب دی په فعل محذوف سره ای هلکو اهلاکا ثم نقل الجملة من الفعلية الى الاسمية، او ویل مرفوع سو علی الابتداً ولذا قلت في الترجمة ویل عظیم لیصح الابتدائیة للدلالة علی الاستمرار، کما في جمیع الجمل المنقولة من الفعلية الى الاسمية لامطلق الجملة الاسمية لان نحو زید قائم لایدل علی الاستمرار کما لایخفی علی من له ادنی درب في النحو "للذین کفروا" هغه کسان چې کافران وه په شان کې د عیسی چې یهودان تولـه دي او په نصاری وو کې نسطوریه او یعقوبیه لا المسلمین، والملکانیة الذین یقولون ان عیسی عبدالله ورسوله "للذین کفروا" ظرف مستقر دی خبر د "ویل" دی ای کائن للذین آه "من" حرف جر متعلق دی په "ویل" پوري او "مشهد" یا مصدر میمي دی ای من شهود یوم عظیم هوله وحسابه وجزائه وهو یوم القیامة دی. او یا "مشهد" ظرف مکان یا زمان دی. والمعنی من زمان الشهود او مکانه او یا مشهد د شهادت څخه ماخوذ دی یعني من شهادة ذالک الیوم حیث یشهد علیهم الملائکة والانبیاً وامة محمد ﷺ وشهادة ایدیهم والسنتهم وارجلهم بالکفر والفسوق والعصیان.

أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا

پوه سه: "اسمع بهم" وابصر" چې "بهم" وروسته محذوف دی افعل التعجیب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، والمعنی چه شنو باشند کافران وچه بینا، هغه ورځ چې دوی موږ ته راشي للحساب وهو یوم القیامة وهو تعجب من حدة سمعهم وابصارهم یوم القیامة او سره ددې چې دوی په دنیا کې صم بکم عمی وه.

سوال: تعجب خو استعظام د شي دی مع الجهل بسبب، دا خو پر خدای ﷻ محال دی؟

ځواب: تعجب و خدای ﷻ ته نه دی راجع بلکې و هغه خلګو ته راجع دی چې کفار وویني په ورځ د قیامت حدید السمع والبصر مع علمهم بحالهم في الدنیا، لکن دوی ته دا حدة السمع والابصار په اخرت کې فائده نه کوي، کاشکې دوی په دنیا کې تبلیغ د رسولانو په ښه سمع سره د قبول یې اوریدلې وای یا په ستر ګو د عبرت یې معجزاتو ته د انبیاؤ کرامو علیهم السلام کتلې وای. نو په قیامت به یې فائده ورته کړې وای او سبب د دخول د جنت او د نجات د دوزخ به ګرځیدلې وای کما یدل علی هذا مابعده.

لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلْيَوْمَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾

لکن ظالمان (کافران) ئې ورځ (في الدنیا) په ګمراهي ظاهر کې دي.

پوښتنه: د ظالمین په ځای کې چې یې "هم" راوړی وای مع سبق المرجع اخصر به نه وای؟

ځواب: د ظالمین د لفظ په راوړلو سره تنبیه ده علی انهم ظلموا حیث لم یستعملوا الاسماع والابصار حین کان ینفعهم یعني في الحیوة الدنیا، وجه التنبیه ان الظلم هو وضع الشئ في غیر محله او دوی خپل اسماع او ابصار یې امور دنیویه وو ګمارلي وه فبقوا في واد الضلال المبین وذالک جزاء الظالمین.

وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْحَسْرَةِ

وبهر وه یا محمد (ﷺ) دوی یعني الکفار له ورځې څخه د غم او پښیمانۍ چې ورځ د قیامت ده چې د کفارو لپاره ورځ د حسرت ده بخلاف المؤمنین لان ذالک الیوم لهم یوم الراحة ودخول الجنة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې جمله د "وانذرهم آه" يا جمله معترضه ده يعنې کلمه د واو عاطفه نه ده بلکې اعتراضيه ده. يا عطف ده پر "اختلف آه" باندې.

سوال: "وانذرهم" خو انشأ ده يعنې امر دی او جمله د فاختلف آه خو جمله خبريه ده فکيف يصح العطف کما تقرر في النحو؟

ځواب: د "انذرهم" سره "قلنا" مقدر دی يعنې وقلنالک انذرهم آه" فالمعطوف صار جملة خبرية کالمعطوف عليه لکنه تکلف لاحاجة اليه.

إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ

چې فيصله د کار وسي د خدای ﷻ له خوا څخه يعنې امر الهي صادر سي چې مؤمنان دي جنت ته ولاړ سي بخلود لاموت ولامرض او اهل دوزخ دي دوزخ ته ولاړ سي يعنې الکفار بخلود لاراحة ولاخروج او حساب خلاص سي، بيضاوي وايي چې د قيامت ورځ چې يوم الحسرة بولي له دې سببه چې کناه کار د خپل کناه په غم او پريشاني به اخته وي او د محسن او نېک عمل سره به دا حسرت ورسره وي چې ولې دي په ژوند کې احسان تر موجوده احسان ډېر نه کاوه، طبراني د معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ ليس تحسر اهل الجنة الا على ساعة مرت بهم ولم يذكروا الله تعالى فيه.

وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٩﴾

او دوی يعنې ظالمان د خپل ظلم په عاقبت فکر نه وهي چې په اخرت کې به خداى ﷻ څه راسره وکړي، او دوی ايمان او تصديق د مخبر صادق پر خبره نه لري چې ورځ د قيامت راځي او حساب د مثقال ذره کېږي وبعد ذالک فريق في الجنة وفريق في السعير.

پوه سه: چې دا دوې جملې يعنې "وهم في غفلة، وهم لايؤمنون" دواړې حال دي له ضمير مستکن سره په ظرف کې ای في ضلال کې، وما بينهما اعتراض.

سوال: في ضلال خو نه فعل دی او نه شبه فعل دی، نو ضمير څرنګه پکښې مستکن دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: ضمیر څو اصلاً مستکن وُ په متعلق کي د في ضلال ای کائنین في ضلال او یکونون في ضلال علی حسب اختلاف النحاة لکن متعلق چي حذف سو نحاتو ضمیر د هغه په ظرف معتبر کړی تا چي حذف د شبه جمله علی تقدیر کائنین او یا د جملې علی تقدیر یکونون لازم نه سي، ئو مستتر والی د ضمیر په جار او مجرور کي صرف او صرف اعتبار نحوي دی کذا في شرح الجامي قدس سره علی کافیة ابن الحاجب وفي شرح الرضي علی الکافیة فافهم. او یا دواړې جملې حال دي له ضمیر منصوب څخه په "انذرهم" کي یعني انذرهم حال کونهم غافلین غیر مؤمنین.

فائده: بغوي، بخاري او مسلم له ابي سعید الخدري ﷺ څخه او داغه رنګه بخاري او مسلم د ابن عمر ﷺ، او ابو یعلی او بزار او طبراني په اوسط کي په سند صحیح سره له انس او حاکم او ابن حبان د ابی هریرة ﷺ څخه سره د اختصار في بعض او طول في بعض داسي حدیث راغلی دی چي یو چا د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه د "اذ قضی الامر" په باره کي، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي دا هغه وخت دی چي مرګ مصور کړل سي په صورت کي د نر پسه چي املح وي نو بیا ملکي ذبح کړي، جنتیان او دوزخیان دواړه ورته ګوري فینادی المنادي یعني یوه ملکه اعلان وکړي یا اهل الجنة خلود بلا موت، و یا اهل النار خلود بلا موت ولي چي مرګ ذبح سو فیزداد اهل الجنة فرحًا علی فرح واهل النار غمًا بغم.

إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٤٠﴾

په تحقیق موږ ته په میراث پاتیږي مځکه او هغه څوک چي پر مځکه وه (یعني فاني به سي مځکه او هغه څوک چي پر مځکه وه و یبقی الرب ﷻ کما یبقی الوارث بعد موت المورث فیکون الملک لله وحده، کریمه "لمن الملک الیوم لله الواحد القهار) او موږ ته رجوع د خلګو ده یعني وروسته تر حشر "فنجازیهم علی حسب اعمالهم".

پوه سه: چي جمله د والینا یرجعون مرفوع محلاً ده چي عطف ده پر نرث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عطف الجملة الفعلية على الفعلية خبر د انا ده فافهم.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ ۘ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿۴۱﴾

او ته ذکر کړه په کتاب یعني قرآن کي ابراهیم بحذف المضاف ای قصة ابراهیم، په تحقیق ابراهیم علیه السلام صدیق ؤ قیل معناه کثیرا الصدق، وقیل بل لم یکذب قط، وقیل بل لم یأتي منه الکذب ولي چي عادت یې د صدق سره نیولی ؤ.

پوه سه: چي "نبي" فعیل مشتق له نبوت څخه دی وهي ما ارتفع من الارض، نو ابراهیم په دې معنی عالی الرتبة بارسال الله ایاه، نو پر دې تقدیر اصل د نبي "نبیو" ؤ، واو و یا بهم آمدند نخستین ایشان ساکن بود واو بیا بدل کردند ودریا ادغام نمودند کذا في الزرادي. او یا مشتق دی له بنا څخه یعني المخبر من الله علی اختلاف القرائتین یعني بعض نبي وایي کمامر اعلائه او بعض یې نبئ وایي په همزه سره،

اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْـًٔا ﴿۴۲﴾

"اذ قال" بدل من ابراهیم، چي وویل ابراهیم و پلار ته چي نوم یې آذر ؤ:

مصرع: گل از خارست ابراهیم ز آذر.

"یا ابت" ای پلاره زما (د ابوة په لفظ دجلب دده وتوحید ته د خدای په نهایت لطف سره) ته ولي عبادت کوې د داسي شیانو چي نه علم پر مسموعاتو لري او نه یې پر مبصراتو لري، یعني معبود خو باید عالم بالمسموعات او مبصرات وي چي مراد دده اصنام دي او فائده نه رسوي یعني دفع د ضرر نسي درڅخه کولای د هیڅ شي.

فائدة جارية في اللغة العربية: په "ابت" کي تأ عوض ده د یا الاضافة یعني اصل یې یا ابی ؤ حکه یې جمع ناروا ده یعني "یا ابتي" او یا ابتاهم نه ویل کیږي ولي چي الف عوض دی له یا څخه، نو یو شي لره دوه عوضه نه وي، او اصل د "لم" لما ؤ حرف جر چي پر ما استفهامي داخل سو الف یې حذف کړی لکثرة الاستعمال التي هي مقتضی التخفیف. وهکذا القیاس لسائر الحروف الجارة التي ادخلت علی ما مثل بم. وعلام وفیم ومم وعم آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: كه د "شيئاً" معنى داسي وكړل سي "شيئ من الاغناء" يعني جلب نفع ودفع ضر" نو شيئاً مصدر دى منصوب على انه مفعول مطلق "ليغنى" فافهم.

تنبيه: ابراهيم عليه السلام د خپل پلار مشرک په نصيحت کي ډېره د ادب او د شفقت او رفق لار مختاره کړه چي شايد فائده به وکړي او تصريح په نسبت د ضلال پلار ته ونه کړه اول يې له ده څخه طلب وکړى چي ته ما ته بيان کړه د بتانو د عبادت فائده او اشاره يې ودې ته وکړه چي بتان ادنى رتبةً دي تر دې چي ادنى عاقل سړى ودوى ته ميل د عبادت کولو بايد نه وکړي، ولي چي عاقل سړى يو کار نه کوي مګر د غرض صحيح لپاره والعبادة التي هي غاية التعظيم لا يستحقه الا من له غاية الاستغناء من الاغيار والانعام العام القادر على الاثابة والايلام قدرةً تامةً الى غيرها من اوصاف الجمال والجلال والاصنام ليست في شئ من تلك الامور والعاقل لا يستعير من المستعير، پښتانه وايي چي: ا استعاره داسي ده لکه سپى چي ډوډى غواړي له فقيره. او طلب د حاجت له بتانو څخه داسي دى لکه څوک چي طلب کوي د حاجت له محتاج فقير څخه.

يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدْ جَآءَنِي مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَٱتَّبِعْنِيٓ أَهْدِكَ صِرَٰطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾

اى زما باباجانه ماته راغلى دى علم پر خداى يعني پر مستحق د عبادت او د هغه پر احكامو من الحلال والحرام، چي تاته هغه علم نه دى راغلى، نو ته زما متابعت وكړه زه به تاته دروښييم لار مستقيمه او سمه چي په هغه لار كي فلاح د دارينو نغښتې ده، په دې نصيحت كي هم ابراهيم عليه السلام خپل د غايت ادب څخه كار واخستى چي پلار ته د جاهل مطلق نسبت ونه كړي او خپل ځان ته يې هم نسبت د علم كامل ونه كړى، مثال يې دادى لكه دوه كسه چي پر لار روان وي دا يو له لاري څخه بې لاري روان سي دا بل ورته ووايي الله يو اله لار داده دې خوا ته راسه.

يَٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ ٱلشَّيْطَٰنَ ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾

اې زما بابكه ته په خوله مه كوه د شيطان چي عبادت د بتانو يې وتاته ښائسته كړى (دا يې تنبيه پر دې وكړه چي عبادت د بتانو په حقيقت كي عبادت د شيطان دى لكونه امراً بها) په تحقيق شيطان د خداى لوى عاصي بنده دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا جمله تعليل او دليل دی د لاتعبد الشيطان او "عصي" صيغه د مبالغې ده لان الشيطان قد عصى ربه في امره بالسجود للآدم وقال انا خير منه، واستقبح الخبيث امره تعالى بسجوده للآدم فوقع في هاوية الضلال الى ابد الآباد، او دا هم بدهي جلي خبره ده چې د خدای ﷻ د نبمن سره چې څوک ياري کوي هغه هم د خدای ﷻ دښمن دی.

يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ

اې پلاره زه ډېر ډېرم چې تاته به ورسېږي عذاب د رحمن خدای له خوا څخه يعني که ته پر شرک او اطاعت د شيطان پاته سې.

پوښتنه: ذکر د رحمن يې وکړی د عذاب سره حکمت يې څه دی؟

ځواب: حکمت دادی چې اشاره ودې ته راسي چې کفر او عصيان مقتضی د عذاب دي د هغه چا له خوا څخه چې هغه موصوف په رحمت کامله دی کما هو معنی الرحمن لانهم قالوا الرحمن ابلغ من الرحيم، ولي کمال د رحمت پر مطيعينو منافي نه دی د کمال غضب پر کافرانو چې پر خپل کفر تينګ ولاړ وي.

فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَٰنِ وَلِيّٗا ٤٥

ته به سې د شيطان دوست او قريب په لعنت کې د دنيا او په عذاب النار کې په اخرت کې چې ته وشيطان په سره ملګري ياست په اور کې لوعده تعالى "لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعين" مراد له جنة څخه شيطان دی او عاصيان چې د هغو شيطانانو په ښوونه او وسوسو دوی يعني عاصيان کفر او شرک او نور ګناهونه کوي.

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ

پلار ورته وويل په استفهام د انکار او تعجب آيا ته بېزار يې زما د خدايانو څخه اې ابراهيمه.

پوه سه: چې رغبت چې متعدي په کلمه د عن سي معنا يې بېزاري ده، او چې متعدي په کلمه د الى سي معنی يې محبت ده، او الهه چې په صيغه يې د جمع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوړه، ولي چې آذر او نورو مشرکانو د هغه وخت د ډېرو بتانو عبادت کاوه لکه مشرکان د مکې په عصر نبوي کې د لات، عزی، منات وغیرها عبادت یې کاوه.

فائده: ابراهیم علیه السلام د پر ادب او شفقت د پلار سره وکړی کما مر في الآیات السابقة، او پلار په ډېر غلظت خبري ورسره وکړې یعني یا ابتي یې نه ووایه بلکې په نامه یې ورته وویل او د ابراهیم په خبرو کې به پلار دمخه ذکر کېدی یا ابت یا ابت، او پلار دی وروسته ذکر کړی او وروسته یې پېش رو د رجم بالحجارة هم ورکړی او د هجران یعني له کوره د شړلو تهدید یې هم ورکړی حیث قال ابو ابراهیم.

لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴿٤٦﴾

کد ته منع نه سې له خپلو خبرو څخه یعني زما د خدایانو عیب وایه "لارجمنک" کلبي، مقاتل او ضحاک رح وایي چې زه به سخت بنکنځل درته وکړم، او ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې سخت به دي ضرب او کوب کړم، او حسن رح وایي چې زه به دي په ډبرو مړ کړم "واهجرني ملیًا" زما څخه ولاړ سه یعني له کوره ووزه زمانًا طویلاً سالمًا مني ولا تکلمني خبري مه راسره کوه.

دروېش وایي: چې دا تولي ترجمې خو حقیقةً یا مجازاً صحیح دي لکن اهل لغت وایي چې رجم مأخوذ دی له رجام څخه او رجام ډبرو ته وایي والله اعلم بمراده في کتابه.

پوښتنه: د "واهجرني" جمله پر کومه جمله عطف ده؟

ځواب: مفسرین په اتفاق وایي چې عطف ده پر "لارجمنک" باندې او په ځواب کې ددې چې لارجمنک خو جمله خبریه ده او واهجرني خو جمله انشائیه ده تو له په اجماع سره وایي چې دا عطف په اعتبار د معنی د لارجمنک دی چې د هغه معنی داده فاحذرني واهجرني فاتفق المعطوف والمعطوف علیه انشاً فانهم هداک الله لفهم دقائق القرآن.

قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ ۖ

ابراهیم وپلار ته وویل سلام دی یعني زما له جانبه، ولهذا اصح کون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمبتدأ يعني سلام نكرة كما في شرح الكافية للجامي قدس سره.

پوه سه: چې دې سلام ته سلام توديع او متاركة وايي، او ابراهيم عليه السلام مقابله د حيثه د پلار په حسنه وګړه لكه چې عادت دى د حليم په مقابل كې د سفيه كما قال الله تعالى "واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاماً اى سلمت مني لا اصيبك بمكروه.

سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ ؕ

ژر دى چې زه به طلب د بخښنې وغواړم تالره زما د رب څخه.

پوښتنه: د مغفرت سوال و كافر ته خو نه دى روا، څرنګه ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته دا خبره وكړه؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چې سوال د مغفرت وكافر ته چې ژوندى وي روا ده. ددې سوال معنا داده چې تاته دې خداى پاك توفيق د توحيد دركړي او دتوبې له شرك څخه فيغفرلك وهذا مذهب اكثر المفسرين رح كروح البيان وروح المعاني وغيرهما. او چې كافر پر كفر مړ سي بيا سوال د مغفرت نه دى ورته روا. او بعض مفسرين وايي چې دا خبره د ابراهيم عليه السلام و پلار ته قبل النهي عن الاستغفار للمشركين كمايدل عليه قوله عليه الصلوة والسلام لعمه ابى طالب والله لاستغفرن لك مالم انه عنه فنزلت قوله تعالى ماكان للنبي والذين آمنوا ان يستغفروا للمشركين ولو كانوا اولى قربى الآية وقدمر في سورة التوبة. او بل دليل دادى كه ابراهيم له خداى ﷻ څخه سوال د توفيق د ايمان د پلار لپاره كړى واى خداى به توفيق د ايمان وركړى واى فان كل نبي مجاب الدعوة لكن لما كان ايمانه غير مقدر في تقديره تعالى في الازل لم يوفق الله ابراهيم لذالك السوال والله اعلم.

اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ۝

په تحقيق خداى ﷻ زما سره د هر بنه او د هر لطف كونكى دى. او كلبي رح وايي چې خداى عالم دى چې ما خواست ورته كړى دى هغه يې قبول كړى دى. او مجاهد رح وايي چې زه خداى عادت كړى يم په اجابت د دعا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

"واعتزلكم" عطف دی پر "لأستغفر" او زه ستاسي څخه هجرت کوم په خپل دين سره "وماتدعون" عطف دی پر ضمير منصوب يعني کم. والمعنى اعتزل ماتعبدونه ای الاصنام "من دون الله" بيان لقوله "وماتدعون". اعتزال د ابراهيم عليه السلام د پلار او له قوم څخه داوچي د کوثى من ارض بابل څخه يې هجرت و بيت المقدس ته وکړی کذا قال مقاتل رح.

وَاَدْعُوْا رَبِّيْ ۖ عَسٰۤى اَلَّاۤ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا ﴿۴۸﴾

او زه عبادت کوم د خپل خدای، بنايي چي زه به نه يم په عبادت د رب زما ناکام او بدبخت يعني لکه تاسي چي په عبادت کي د بتانو بې برخي او بدبخته ياست.

سوال: د خدای ﷻ عبادت خو بلا ريب سعادت دی، نو ابراهيم عليه السلام لفظ: عسى ولي ووايه؟

ځواب: لپاره د هضم نفس او تواضع يې ووايه. او بل تنبيه يې پر دې وکړ: چي اجابت پر خدای ﷻ واجب نه دی بلکې د خدای ﷻ تفضل او احسان دی: او بل مدار د عباداتو پر خاتمه دی او خاتمه مستوره ده. مظهري رح.

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ

هغه وخت چي گوښه سو يعني ولاړی ابراهيم عليه السلام له قوم څخه او گوښه سو له بتانو څخه چي عبادت يې کاوه قوم دده من دون الله. بعض وايي بيت المقدس ته او بعض وايي شام ته. قال الفقير ولامنافات بينهما لقربهما.

وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿۴۹﴾

مونږ ورکړی ده په عوض کي د کفارو قرة العين زوی اسحاق (يعني له همسره ساره څخه) او لمسی يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام، او دده قوم چي کافران وه عوض يې په نبيانو سره ورکړی کما قال الله تعالى، او هر يو د اسحق او يعقوب مونږ گرځولي دي نبيان يعني په خپل وخت کي ولقد نعم العوض.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾

او مونږ ورکړی دوی درو ته (ابراهیم، اسحٰق و یعقوب علیهم السلام) ته بعض رحمت زمونږ، کلبي رح وایي چې مراد اولاد کرام او اموال دي، بعض وایي کتاب او نبوت دی. بیضاوي وایي چې تخصیص د اسحٰق او یعقوب یې وکړی او سره ددې چې اسماعیل خو هم دده زوی وٗ؟ له دې کبله چې اسحٰق او یعقوب دوې درختي د انبیاؤ دي یعني انبیاً ددې دوو په نسل کي ډېر دي، او ددې لپاره چې اسماعیل علیه السلام په سبب ددې چې سید البشر صلی الله علیه وسلم دده له نسل څخه دی درلوونکی ډډه ېر فضیلت دی جلا یې ذکر کړی.

پوه سه: چې مراد له لسان څخه مایصدر من اللسان، والمراد کلام صدق چې ټوله ملل پر دوی ثنا وایي او هر دین ددوی د دین د متابعت دعوه کوي حتی مشرکان د مکې او اتباع ددوی فخر کوي، دا نتیجه د هغه خواست د ابراهیم علیه السلام ده "واجعل لي لسان صدق في الآخرين آه"

پوه سه: چې "لهم" ظرف مستقر دی ای کائنًا لهم مفعول ثاني د جعلنا دی او مفعول اول یې لسان دی، او علیًا حال د ضمیر مرفوع دی چې مستکن في الظرف دی یعني لهم وقد مر ان الاستتار للضمیر في الجار والمجرور اعتباري نحوي.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰٓى ۚ اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾

او بیان کړه په قرآن کي موسی، په تحقیق موسی ؤ مخلص، رسول او نبي ؤ.

پوه سه: چې قرأ د کوفې دا لفظ په فتح د لام وایي پر صیغه د اسم مفعول ای اخلصه الله لنفسه ونزهه عن التدنس بامور الدنیا والتوجه الی غیره، او نور قاریان یې په کسره د لام وایي پر صیغه د اسم فاعل ای إخلص موسی نفسه لله ونزه عبادته عن الشرک الخفي (اعني الریاً) والجلي اعني عبادة الاوثان، او نبي ذو رتبة ؤ، ای ارسله الله الی الخلق یعني لوړ رتبه چې رسالت یې وده ته ورکړی ؤ ولهذا قدم رسولاً علی نبیاً، وبنا علی کون الرسالة اخص من النبوة ولي چې رسالت دادی چې شریعت متجدد به لري که کتاب ورسره وي او که نه، او نبوت عام دی، نو انبیاً د بني اسرائیلو وروسته تر موسی علیه السلام انبیاً وه او رسولان نه وه لعدم الشریعة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المتجددة لهم بل كانوا على دين موسى وشريعته والعمل بالتورات.

وَنَادَيْنَاهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾

او موږ ناره وکړه وده ته له جانبه څخه د طور. چې یو غر دی په منځ کې د مصر او د مدین چې ددې غره نوم زبیر دی، دا ندا هغه وخت ده چې موسی علیه السلام له مدین څخه چې د شعیب علیه السلام د قریې نوم دی او اور یې ولیدی. دی چې ورغلی "نودي یا موسی انی انا الله رب العالمین" "الایمن" صفت د "جانب" دی یعني دغه جانب پر راسته لاس د موسی علیه السلام وو والا فلا ایمن ولا ایسر للجبل "وقربناه" موږ دی نژدې کړی وځان ته بلا کیف "نجیًا" حال دی له ضمیر منصوب څخه د قربناه یعني مناجات کونکی د خدای ﷻ یعني چې خدای ﷻ په ده خپل کلام واوراوه. ولهذا اشتهر موسی بین الانبیاء باسم کلیم الله.

وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾

او موږ ورکړی موسی علیه السلام ته چې ده خواست وکړی "واجعل لي وزیراً من اهلي هارون اخي الآیة "من رحمتنا" ای من رحمتنا علیه "اخاه" دا مفعول د وهبنا دی "هارون" عطف بیان دی د اخاه، هارون علیه السلام ډېر حلیم شخصیت وو او تر موسی علیه السلام دوه کاله مشر وو "نبیًا" حال دی له مفعول څخه د "وهبنا" بغوي رح وایي له دې سببه هارون علیه السلام په هبت الله سره شهرت درلودی.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ

او بیان کړه په قرآن اسماعیل بن ابراهیم جد النبي صلی الله علیه وعلیهما وسلم یعني بالوسائط، په تحقیق وو اسماعیل وفا کونکی په وعده سره، مجاهد رح وایي لم یعد شیئًا الا وفی به. او مقاتل رح وایي چې اسماعیل علیه السلام د یو سړي سره وعده کړې وه چې زه به دلته درته ولاړ یم تر څو چې ته راځې، هغه سړی چې ولاړی یا عذر ورپېښ سو یا یې د اسماعیل علیه السلام وعده هېره سوه. اسماعیل علیه السلام درې ورځې هورې تېرې کړې په سبب د وعدې، وروسته هغه سړی راغلی، او کلبي رح وایي یو کال اسماعیل علیه السلام هورې وو وهذا نادر جداً لم یرد به حدیث اصلاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تر دې لویه وفا پر وعده په چېرې وي چې صبر پر ذبح یې وکړي. ولې چې ده و پلار ابراهیم علیه السلام ته ویلي وه "ستجدني ان شاء الله من الصابرین ای علی الذبح".

وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴿٥٤﴾

سوال: دمخه تېره سوه چې رسول هغه دی چې صاحب د نوي شریعت وي مع ان اولاد ابراهیم علیهم السلام کانوا علی شریعة ابراهیم. بیضاوي وایي چې له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې رسول شریعت متجدد نه غواړي.

دروښ وایي: چې د بیضاوي پر دې خواب دا سوال وارد ېږي چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې له رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه "کم الانبیا"؟ انبیا څو دي؟ ده مبارک ورته وویل "مائة الف واربعة وعشرون الفًا" یو لک څلیرویشت زره، وفي روایة مائتا الف واربعة وعشرون الف" فقیل کم الرسل منهم؟ رسولان په دوی کې څو دي قال علیه الصلوة والسلام (۳۱۳) جمًا غفیرًا او کما قال علیه السلام، نو سوال دادی چې که په رسول کې شریعت متجدد شرط نه سي، نو تعداد د رسولانو ولې دومره کم سو، بل الصحیح في الجواب ان اسماعیل کان مبعوثًا الی جرهم والی العمالیق والی قبائل الیمن في زمن ابیه ابراهیم علیهما السلام وتزوج اسماعیل[۴] فیهم وکان علی شریعة ابیه ولم یکن له کتاب انزل الیه ولا شریعة متجددة باجماع العلما وکذا لوط واسحق ویعقوب علیهم السلام وحاصل الجواب علی مافي روح المعاني نقلاً ان المراد بکون الرسول صاحب شریعة ان یکون له شریعة بالنسبة الی المبعوث الیهم وان لم تکن متجددة واسماعیل[۴] کان کذالک لانه بعث الی جرهم والعمالیق والی قبائل الیمن کمامر بشریعة ابیه ولم یبعث ابراهیم[۴] الیهم.

دروښ وایي: چې له دې څخه دا معلومه سوه چې په رسول کې صرف رسول د شریعت شرط دی ومن بعث الیهم ته وان کان غیر متجددة وهذا هو حل هذا المقام بقدر طاقة الفقیر رحمه القدیر والعلم عند الله العزیز العلام.

وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ﴿٥٥﴾

او د اسماعیل[۴] امر کاوه یې خپل اهل یعني قریبان في النسب، دا شرعي مسئله ده چې مؤمن دي متوجه اوسي تر تولو اول په تکمیل سره د خپل ځان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بيا په تكميل سره د احب الناس اليه ثم الى غيرهم. قال الله تعالى خطاباً للنبي عليه السلام "وامر اهلك بالصلوة" ايـة كريمـه خطاباً للنبي عليه السلام "وانذر عشيرتك الاقربين" كريمه "قوا انفسكم واهليكم ناراً". ابن عباس رضي الله عنه وايي چې مراد هغه لمونځ او زكوة دي چې پر موږ باندې فرض سوي دي چې ملة حنيفية يې بولي او ملة ابراهيم يې هم بولي، كريمه "بل نتبع ملة ابراهيم حنيفاً".

پوه سه: چې تخصيص د صلوة او زكوة په ذكر سره وكړى لان الصلوة اهم العبادات البدنية، والزكوة افضل العبادات المالية.

وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾

او ؤ اسماعيل عليه السلام په نېږ د خداى جل جلاله خندې راضي دى په سبب د نبوت او رسالت او د سبب د ثبات پر طاعت د خداى جل جلاله او استقامت دده په ټولو اعمالو كې على الحق.

فائده: "مرضى" صيغه د اسم مفعول ده، په زرادي كې وايي چې اصل يې مرضوي، واو ويا بهم آمدند نخستين شان ساكن بود واو بيا بدل كردند ويا دريا ادغام نمودند. چناچه قانون صرفي است. پس از آن ضمه ضاد بكسره بدل نمودند بسبب استثقال فافهم.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِدْرِيْسَ

او ذكر كړه خلګو ته په قرآن كې ادريس عليه السلام. مؤرخين وايي چې ادريس له اولاد څخه د شيث جد ابى نوح عليه السلام ؤ، نوم يې اخنوخ ؤ، سمى ادريس لكثرة درسه الكتب، بيضاوي وايي چې د ادريس لفظ په استعمال كې غير منصرف راځي للعلمية والعجمة. او درس خو عربي لفظ دى، او ځواب يې داسې ورکړى دى چې ددوى په لغت كې بل لفظ ؤ چې معنى يې قريبه و ادريس ته وه، نو له دې سببه په عربي كې مشهور په ادريس سو، پر ده باندې خداى پاک څلويښت صحيفې نازلې كړې وې همېشه به يې ده درس و خلګو ته كاوه، بغوي رح وايي چې ادريس اول من خط بالقلم و اول من خاط الثياب ولبس المخيط او تر ده دمخه خلګو به د حيواناتو پوستكي اغوستل، او اول سړى چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلاح يې جوړه ول او د کفارو سره به يې جنګ په کاوه.

إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ۝ وَرَفَعْنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ۝

وو ادريس عليه السلام مبالغ په صدق کې په رښتيا ويلو کې يا په اخلاص درلودلو کې او نبي هم و "ورفعناه آه" عطف دی پر "کان صديقا" باندې. بعض مفسرين وايي چې له مکان څخه مراد رتبه ده درجةً رفعيةً بشرف النبوة والقرب من الله، او بعض وايي چې مراد جنت دی او بعض وايي چې مراد څلورم اسمان دی يا شپږم وهذا هو الاشهر په حديث کې د معراج راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وليدی آدم عليه السلام په اول اسمان کې، او يحيى او عيسى عليهما السلام په دويم اسمان کې او يوسف عليه السلام په دريم اسمان کې او ادريس عليه السلام په څلورم اسمان کې او هارون عليه السلام په پينځم اسمان کې او موسى عليه السلام په شپږم اسمان کې او ابراهيم عليه السلام په اووم اسمان کې.

پوښتنه ادريس عليه السلام چې اسمان ته پورته سو مړ دی او که ژوندی؟

ځواب: جمهور علماً وايي چې ژوندی دی وهو الصحيح. علماً وايي چې څلور کسه له نبيانو څخه ژوندي دي دوه په اسمان کې ادريس وعيسى عليهما السلام او دوه په مځکه کې دي الياس والخضر عليهما السلام على تقدير نبوته كما مر من الاختلاف في نبوة الخضر والله اعلم وعلمه اتقن واحكم.

دروښ وايي: چې که په دې آيت رفع حسي مراد سي واسمان ته کما هو المشهور، نو د ادريس عليه السلام و اسمان ته سبب، روح المعاني، روح البيان، مظهري او حسيني په دول دول عباراتو بيان کړی دی لکن مآل يې تخميناً يو دی، ددې واقعې راوي کعب بن مالک رضي الله عنه دی او نور راويان هم لري. فاسمع ينبئك ژباړه، ادريس عليه السلام په يو کار پسې په سختي ګرمي کې روان و، د لمر تېږي يې مخ او ټنډامونډ وهر تاوده کړه، نو يې د خداى عزوجل سره مناجات وکړی يا رب زه يوه ورځ د لمر په ورانګو کې روان يم فاصابني ما اصابني نو به څه حال وي د هغې ملکي چې دا لمر راکشوي د پينځو سوو کالو په مسافت کې په هره ورځ اللهم خفف عنه يعني سپک کړې له هغې ملکي څخه من ثقلها وحرها، نو ملکي چې لمر ددې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تصرف کي وُ دا بل ورځ يې په ثقل او په تودوخي کي ډېره اساني وليدل چې تر اوسه يې نه وه ليدلې. نو خدای ﷻ ته يې وويل يا رب خلقتني لحمل الشمس فما الذي قضيت؟ نن دا سپکوالی پر ما له څه سببه راغلی. خدای ﷻ ورته وويل چې زما يو بنده ادريس په مځکه کي ستا په حق کي د تخفيف سوال وکړی ما يې خواست قبول کړی ملکي ورته وويل يا رب فاجمع بيني وبين هذا العبد. اې ربه زما او دده تر منځ خلت او دوستي پيدا کړې او ماته اجازه راکړه چې ورسم دغه ستا عبد ادريس ته. خدای ﷻ اجازه ورکړه. هغه ملکه چې ادريس عليه السلام ته راغله او ځان يې ورته معرفي کړی. ادريس عليه السلام ورته وويل چې ما اسمان ته درسره بوزه. ملکي د خدای ﷻ څخه اجازه وغوښتل خدای پاک اجازه ورکړه. نو ادريس عليه السلام ملکي و اسمان ته وخېژاوه پر خپل وزر.

دروېش وايي: چې تر دې ځايه پورې پښتنو ژباړه وه د عبارت د روح المعاني. لکن روح المعاني له ابن المنذر څخه په روايت ددمخه قصې ضد او نقيض روايت رانقل کړي دي. نو هغه دروېش پرېښوول. د حسين کاشفي ؒ: روايت ژباړه د ما قبل ذکر سوي قصه خو حسين کاشفي هم کړې ده دا خبره يې تر ماقبل بالا کړې ده. ملکي ادريس عليه السلام مطلع الشمس ته ورساوه او ادريس ؑ ملکي ته وويل چې زما يو حاجت دی. دغه حاجت مي هم را اجرا کړه بيا به مي کور ته ورسوې. ته د عزرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چې زما عمر څو دی. ملکه چې عزرائيل ته ورغله نام ونښان د ادريس عليه السلام يې ورته ووايه. عزرائيل په خپل کتاب اجال العباد کي وکتل ملکي ته يې وويل چې دغه سړی چې ته يې يادوې په مطلع الشمس کي يې روح قبض سوی دی. ملکه چې راغله (د حسين کاشفي ؒ د بلاغته ډک عبارت داسي دی چون آن فرشته باز آمد ادريس را يافت نقد جان بخازن اجل سپرده الی اخيره) وروسته هغې ملکي خدای ﷻ ته خواست وکړی چې خدايه لکه د ادريس خواست چې دي زما په باره کي قبول کړی زما خواست هم دده په باره کي قبول کړه. ادريس راژوندی کړه چې زه يې مځکي او خپل ځای ته ورسوم. خدای پاک ادريس عليه السلام ژوندی کړی ملکي ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې وويل چې زه خو مړ سوم د زکندن ډېرې خواری مې ولیدلې، ملکي ته يې ووېل چې يو حاجت مې پاته دی، ملکي ورته ووېل کوم حاجت؟ ده ورته ووېل چې يو وار دا جنت او دوزخ پسه ما ووينه. ملکي اجازه وغوښتل خدای حکيم مطلق اجازه ورکړه، اول دوزخ ته يې وروستی. ادريس عليه السلام ورته ووېل چې خازن النار ته ووايه چې د دوزخ دروازه خلاصه کړي چې يو وار ورننوځم (يعني بلا تعذيب النار) ملکي خازن النار ته ووېل هغه دروازه د دوزخ ورخلاصه کړه دی لږ ګړی ورننوتی بيرته راووتی ملکي ته يې وويل چې د جنت سيل هم راباندې وکړه. ملکي د جنت دربان ته خواست وکړی هغې د جنت دروازه ورخلاصه کړه، ادريس عليه السلام جنت ته داخل سو. ملکي يو ګړی وروسته ورته ووېل چې راووزه چې ځو مځکي ته، ادريس عليه السلام په يوه درخته پورې لاسونه تينګ کړه او له وتلو څخه يې انکار وکړی، تر دې ځايه پورې وه د کاشفي د عبارت پښتو ترجمه، اوس د مظهري د عبارت پښتو ترجمه واورئ، د ادريس عليه السلام او د ملکي تر منځ چې اختلاف پيدا سو خدای پاک بله ملکه ورواستول ددوی د محکمې لپاره، محکم ملکي و ادريس عليه السلام ته ووېل چې ته ولي له جنته نه وځې؟ ادريس عليه السلام ورته ووېل چې خدای پاک ويلي دي "کل نفس ذائقة الموت" ما د مرګ خوند وکتی چې مړ سوم، او بيا خدای پاک د دوزخ په باره کې وايي "وان منکم الا واردها (ای جهنم) زه هم دوزخ ته وارد سوم او د جنت په باره کې وايي "وماهم بخارجين منها" (ای من الجنة) نو زه هم له جنته نه وځم خدای ﷻ ملکي ته ووايي چې زما په اجازه دی جنت ته داخل سوی دی پريې ږده، فهو حي هناک فذالک قوله تعالى ورفعنا مكانًا عليًا.

دروښ وايي: چې روح البيان هم د کاشفي روايت راوړی دی فقط، نو دده مختاره هم دغه روايت دی.

تنبيه: د غو ټولو ناموړو تفاسيرو اول د قصې خو يې د ملکي د لمر حافظه راوړی ده په منځ کې يې د ملک الموت قصه راوړې ده يعنې چې دا ټوله اختلافات يې د ادريس عليه السلام او د ملک الموت تر منځ بللي دي فقير قصه منظمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړې ده له اول څخه تر اخیره پورې تاچې مطالعه کونکي د تفسیر ایوبي په تشویش کې واقع نه سي، اصلاً خو خدای ﷻ د ادریس علیه السلام لپاره مکاناً علیاً منظور وو، دا تنبیه فقیر ددې لپاره راوړه که حاسدان یو له دغسو مذکوره تفاسیرو څخه مطالعه کړي، نو به وایي چې عبیدالله په دې کې خطاوتلی دی. ولې چې د عزرائیل علیه السلام قصه یې په تفسیر کې نه ده راوړې، ما تو له تفاسیر مذکوره وغیرها مطالعه کړه صرف د دفع د تشویش مې هغه قصه رانه وړه.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ آدَمَ

دغه کسان چې په دې سورت کې ذکر سوه (له زکریا څخه نیولې بیاتر ادریس علیهم السلام پورې) هغه کسان دي چې خدای ﷻ انعام کړی وو پر دوی باندې په دنیوي نعمتو او په دیني نعمتو سره، کلمه د "من" بیان دی د موصول چې "الذین" دی حال دی له ضمیر څخه د "علیهم" "من ذریة آدم" دا لفظ بدل دی له "من النبیین" څخه باعادة الجار.

وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِنْ ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ

او له اولاد څخه د نوح علیه السلام چې آدم ثاني د انسان د نوع دی یعني په کښتۍ کې. او له اولاد څخه د ابراهیم علیه السلام دی چې هغه له نسل څخه د سام بن نوح وو "واسرائیل" عطف دی پر "ابراهیم" چې نوم یې یعقوب وو د اسرائیل له اولاد څخه موسی، هارون، زکریا، یحیی او عیسی علیهم السلام وه، له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې اولاد د البنات هم ذریه بولي لان عیسی من اولاد البنت یعني مریم علیها السلام.

وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ۚ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا

یعني له جمله څخه د هغو کسانو چې موږ و هغو ته هدایت کړی وحق ته چې توحید دی او ایمان پر حیوة بعد الموت دی وغیر ذالک من العقائد الحقة والاعمال الصالحة والاخلاق الحمیدة، او موږ دوی مختاره کړي وه په خلګو کې لپاره د نبوت او کرامت او هدایت، چې تلاوت وکړل سي پر دوی، دوی پر ېوژي پر سجده جمع د ساجد ده لپاره د رغبت په ایاتو کې د رحمن، "بکیا"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جمع د باک ده يعني ژاړي له جهته څخه د خوف له خدايه څخه مع علو رتبتهم چي هم شرب النسب و كمال الانفس، والقرب الى الله ﷻ لري.

دروښ وايي: چي هر څو چي خداى ﷻ ته نژدې کېږي خوف ورسره زياتېږي،

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ

يعني تر دغو انبيا عليهم السلام وروسته پيدا سوه په ځاى کي ددوى اولاد سوء، چي پرې اينښي يې دي فرضي لمونځونه، او ابن مسعود رضي الله عنه وايي چي تر وخت مندوب يې ځنډول، او سعيد بن المسيب رح وايي چي د ماپښين لمونځ به يې د مازديګر په وخت کي کاوه د مازديګر لمونځ به يې د غروب الشمس په وخت کي کاوه وهکذا.

پوه سه: چي خلف په فتح اللام صالح اولاد ته وايي او خلف په سکون د لام ناصالح ته وايي کما ههنا

مسئله: اضاعة د لمانځه دا هم دى چي پر وجه مکروه يې ادا کړي تعديل الاركان نه کوي، نور سنن د لمانځه او اداب د لمانځه نه پر ځاى کوي كما في العصر الحاضر في بعض العوام.

وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيّٗا

يعني طلب د شهوات يې پر طلب د طاعت د خداى ﷻ دمخه کاوه او نور معاصي چي ددوى نفس اماره به غوښتلې هغه به يې کولې، ژر دى چي دوى به واقع سي په "غيا" کي، والمعنى في قول البغوي رح ويالـه ده په جهنم کي بعيد قعره خبيث طبعه. ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي "غي" يوه شپله ده په جهنم کي چي نوري شپلې يې له ګرمۍ څخه پناه غواړي چي دا شپله ځاى ددغو کسانو ده زاني چي پر زنا مصر وي، شارب الخمر چي عادت يې ګرځېدلى وي، سود خور چي سود نه پرېږدي او عاق د مور يا د پلار يا د استاذ او لپاره د شاهد په دروغو سره، روح البيان د "غي" تفسير په شر سره کړى دى، دى وايي چي هر شر په نېږ د عربو غي دى او هر خير رشاد دى، ضحاک رح يې تفسير په خسران سره کړى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، او بعضو یې تفسیر په هلاک سره کړی دی، وقیل عذابًا.

دروښ وایي: چې دا ټوله تفاسیر وشر ته راجع دي، او بعض مفسرین د غي معنی ضلال بولي او په عبارت قرآني کي مضاف محذوف بولي ای جزاء غي وضلال، کان علیه في الدنیا من العقائد الباطلة والاعمال الخبیثة، او بعض مفسرین وایي چې غي ورکهدلو ته د لاري وایي چې په عربي یې ضلال بولي چې ضد د هدایت دی، نو معنی د یلقون غیًا داده چې لار د جنت به ځندي ورکه سي، او په صحیح حدیث کي چې روایت یې طبراني او بیهقي کړی دی راغلي دي چې رسول الله ﷺ وویل که یوه لویه ډبره چې وزن یې لس وقیه وي د جهنم له غاړې څخه دوږخ ته وغورځول سي، ور وه به رسېږي ببخ ته په اوویا کاله کي، وروسته به غي او اثام ته ورسېږي، علیه الصلوة والسلام د یو سړي د پوښتنې په ځواب کي وویل چې هغه ورته وویل "ماغي و اثام"؟ علیه الصلوة والسلام وویل چې هغه دوې ویالې دي په دوږخ چې نوونه د لوړو دوږخیانو ورته ویېږي "وهما اللذان ذکرهما الله تعالی في کتابه فسوف یلقون غیًا، ومن یفعل ذالک یلق اثامًا".

إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

مګر هغه څوک چې له اتباع څخه د شهواتو او له ترک الصلوة څخه توبه وکاږي او ایمان راوړي بعد ما کان کافرًا او عمل صالح کوي.

پوه سه: چې عمل صالح هر هغه عمل ته وایي چې ایمان او دین یې مقتضی وي بدنیًا کان او مالیًا او مرکبًا منهما کالحج.

فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ۝

دغه کسان چې توبه وکاږي او ایمان راوړي او عمل صالح کوي، داخلېږي به جنت ته چې موعود د خدای ﷻ دی د دغسي کسانو لپاره او دوی ته به نه ورکمول کېږي یو شی له جزا څخه د اعمالو ددوی، نو پر دې ترجمه شیئًا منصوب دی پر دې بنا چې مفعول به دی، یا معنی د آیت داده لا یظلمون شیئًا من الظلم "نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفعول مطلق دی، ددې آیت مطلب دادی چې هغه سایق یا کنهونه وروسته تر توبې دوی ته تاوان نه رسوي، قال علیه الصلوة والسلام یهدم ماکان قبله رواه مسلم، وقال ایضاً التائب من الذنب کمن لاذنب له رواه اصحاب السنن.

جَنّٰتِ عَدْنِ ۨ

پوه سه: چې "جنات عدن" چې په صیغه د جمع راغلي دي، نو عدن په معنی د اقامت دی چې تولو جنتو ته شامل دی، نو دا بدل یا عطف بیان دی د الجنة روح البیان وایي چې دا معنی انسب ده په دې ځای کې، ولي چې جنت عدن چې د یو مخصوص جنت نوم دی او دغه رنګه جنت الفردوس ځای د مقربو بندګانو دی لایدخلهما العوام بالاصالة.

دروښ وایي: چې جنت عدن په معنی علمي مفرد راځي او په معنی جنسي یعني دار الاقامة جمع راځي، نو دلته چونکه جمع راغلی نو معنی جنسي ځندي مراد ده وهذا هو الدلیل اللفظي علی ارادة المعنی الجنسي، او هغه چې روح البیان وویل هغه قرینه معنوي ده پر اراده د معنی جنسي فتدبر.

اَلَّتِیْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَیْبِ ؕ

چې وعده کړې ده رحمن د بندګانو سره.

پوه سه: چې دا آیت بله قرینه د ارادې د معنی جنسي له جنت ځخه، ولي چې جنت عدن په معنی علمي موعود د خدای ﷻ نه دی د تولو بندګانو سره بلکې هغه موعود د مقربانو دی.

فائده: عائد و موصول ته چې التي دی محذوف دی تقدیره وعد الرحمن بها.

سوال: جنت عدن په معنی جنسي خو نکره دی ولي مضاف الیه یې نکره دی: نو التي چې معرفه دی څرنګه یې صفت کیدای سي؟

ځواب: التي صفت د جنت عدن نه دی بلکې د الجنة چې معرفه دی صفت دی یا التي آه بدل دی له جنات عدن ځخه، یا مرفوع محلاً دی خبر د مبتدا محذوفي دی ای هي التي آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې تردید د بعض مفسرینو په "جنات عدن" په مابین کې د معنی علمي او د جنسي لیس بشئ لما سمعت ان المعنی العلمي یورد بلفظ مفرد وههنا ورد لفظ الجمع والله اعلم "بالغیب" حال دی له "عباده" ځکه ای متلبسین بالغیب ای غائبین عنها في الحیوة الدنیاء او یا حال دی له الجنة ځکه ای متلبسة الجنة بالغیب ای غائبة عنهم.

إِنَّهُۥ كَانَ وَعْدُهُۥٓ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾

"انه" ای الله تعالی "کان وعده" مصدر دی په معنی د مفعول دی ای موعوده وهو الجنة "مأتیًا" ای یأتیه من وعده لامحالة لان الخلف في وعده تعالی محال عقلاً ونقلاً فالمأتي بمعنی المفعول، او دا احتمال هم مظهري ؒ بیان کړی دی چې صیغه د مفعول دي په معنی د فاعل وي یعني آتیًا لان کل شئ اتاک فقد اتیته، ولي چې ددې دوو خبرو په معنی کې فرق نسته قوله "اتی علي خمسون سنةً" وقوله اتیت علي خمسین سنة فتأمل هداک الله عزوجل.

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَٰمًا ۖ

نه به اوري جنتیان په جنت کې فضول خبري یعني بې فائدې لکه په دنیا کې، دا جمله مستأنفه ده لپاره د بیان حال د جنت "الا سلامًا" منقطع ده ولي چې سلام خو په لغوه خبرو کې نه وي داخل، والمعنی لکن یسمعون تسلیمًا من الله تعالی کریمه "سلام قولاً من رب رحیم ومن الملائکة، کریمه "سلام علیکم فادخلوها خالدین، او من بعضهم علی بعض "کریمه "تحیتهم بینهم سلام" نو پر هر تقدیر سلام اسم مصدر بمعنی التسلیم کسبحان بمعنی التسبیح.

وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿٦٢﴾

او دوی لره دی رزق ددوی ای مرزوقهم په اول کې د ورځې او په اخیر کې د ورځې. قال الحسن البصري ؒ چې عرب عیش افضل تر رزق بکرةً وعشیًا نه پیژندی، نو خدای ﷻ توصیف د جنت په هغه سره وکړی، او بعض مفسرین وایي چې مقصود په دې وصف فراخي د رزق ده، لان المعمول عند اغلب الناس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاكل بكرة وعشياً. او له ابن عباس ﷺ څخه په صحيح سند منقوله ده چې جنتيانو ته په جنت کې پر مقدار د ماکانوا يؤتون في الدنيا رزق راوړل کيږي، له زهير بن محمد ؒ څخه وليد بن مسلم ؒ ددې ايت د معنى پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل ليس في الجنة ليل هم نوراً ابداً، دوی مقدار د وړځې د دنيا په دې سره پېژني چې حجابونه يعني پردې پورته سي او مقدار د شپې د دنيا په ايله کولو سره د پردو پېژني، امام همام فخر الدين الرازي ؒ په تفسير کبير کې وايي، چې د سوال او ځواب په ډول داسې دی.

سوال: مقصود خو دلته توصيف د جنت دی په لوی او دېرو نعمتو سره او سره ددې چې رزق بکرةً وعشياً خو عادي شی په دنيا کې هم وۀ؟

ځواب: خدای پاک ترغيب وجنت ته د هر قوم په هغه شي کوي چې دوی ته مرغوب في الدنيا وي او د عربو مرغوب ترين عيش خوراک ۀ بکرةً وعشياً کذا قال الحسن البصري ؒ انتهى.

دروښ وايي: چې که له دې آيت څخه مراد د رزق فراخي وي في الجنة في کل حين وآن فلا سوال ولا جواب فافهم وقد مر الاشارة الى ذالک.

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾

"تلک الجنة التي نورث" بحذف العائد الى الموصول ای نورثها" دا جنت هغه دی چې موږ يې په ميراث ورکوو د خپلو بنده ګانو و هغه چاته چې په دنيا کې له خدای ﷻ څخه ببرېږي يعني له عذاب څخه د وړځې د قيامت. نو د هغې په سبب يې له کفره توبه ګنبلې وي او اوامر د خدای ﷻ يې پر ځای کړي وي او له منهياتو څخه يې اجتناب کړی وي.

پوښتنه: پر جنت د ميراث اطلاق څرنګه وسو؟

ځواب: لکه په دنيا کې چې يو سړی مړ سي، نو مال يې وارث ته ورکول کېږي په سبب د قرابت کما ثبت في علم الميراث، دغه رنګه جنت د قرب الهي په دنيا کې. نو ځکه يې ميراث وبالله، او يا يې له دې سببه اطلاق د ميراث پر وکړی چې اقوى له اسبابو څخه د تمليک او استحقاق په دنيا کې ميراث دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه فسخ کېږي او نه رجوع پکښې کېږي او نه په رد د وارث ردېږي، او نه اسقاط قبلوي دغه جنت د عباد الله څخه نه بيرته اخستل کېږي او نه په رد د عباد الله فرضًا ردېږي، او نه عقد او وعده د خدای ﷻ د جنت د عباد الله سره فسخ کېږي، او بعض مفسرين وايي چې متقينو ته هغه ځايونه په جنت کې چې د کافرانو وه يعني که دوی ايمان راوړی وای په ميراث ورکول کېږي زيادةً على كرامتهم ويؤيد هذا التفسير الحديث الذي اخرجه ابن ماجة والبيهقي بسند صحيح عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ مامنكم من احد الا وله منزلان منزل في الجنة ومنزلاً في النار (اى على تقدير الكفر والايمان) فاذا مات فدخل النار (اى كافر) ورث اهل الجنة منزله فذالك قوله تعالى "اولئك هم الوارثون (اشاره و جنتيانو ته ده) امام بخاري له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ و جبرئيل عليه السلام ته وويل چې تاته څه مانع دی چې نه ملاقات ته زمانه راځې اکثر تر دې چې ته ملاقات ته راځې؟ فنزلت هذه الآية.

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ۚ

وتقدير الجواب قل يا جبرئيل لمحمد ﷺ وما ننزل آه.

پوه سه: چې تنزل له بابه د تفعل دی نزول بالمهلة ته وايي. ولې باب د تفعل مطاوع دی باب د تفعيل، دا باب لپاره د نزول بالمهلة دی او ګاهې تنزل په معنی د مطلق نزول هم راځي لکه نزل چې په معنی د انزل راځي "الا بامر ربک" مګر په امر د رب ستا. يعني زه يې اختيار نه لرم. ابن ابي حاتم له عکرمه څخه روايت کړی دی چې جبرئيل تاخير وکړی په راتلو کې د څلويښتو ورځو، نو عليه الصلوة والسلام هغه پوښتنه څندي وکړه جبرئيل عليه السلام هغه مذکور جواب ورکړی. ابو نعيم په خپل کتاب "دلائل" کې داسې شان نزول په روايت د ابن عباس ﷺ راوړی دی چې قريش چې په ښوونه د يهودانو د مدينې و عليه الصلوة والسلام ته د اصحاب کهف د قصې او د ذوالقرنين د واقعاتو او د روح په بار کې پوښتنه وکړه، عليه الصلوة والسلام ته علم نه ؤ پر ځواب او اميد يې ددې درلودی چې وحي به راسي، نو کفارو ته د قريشو يې وعده د صبا ورځې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکړه، نو پینځلس ورځي او بعض راویانو بالا تر پینځلس ورځو روایت کړی دی حتی تر څلوېښتو ورځو پوري وحي وځنډېدلې وقد مر هذه القصة بالتفصيل في تفسير سورة الكهف وروسته تر مدة مذكورې چې جبرئيل نازل سو علیه الصلوة والسلام ورته وویل ابطأت یعني تاخیر دي وکړی په راتلو کې فنزل هذه الآية، بغوي، ضحاک، عکرمه، مقاتل او کلبي عليهم السلام وایي چې جبرئيل عليه السلام بند سو او د علیه الصلوة والسلام آمد ورفت یې قطع کړی هغه وخت چې قریشو په باره کې د اصحاب کهف او ذوالقرنین او روح پوښتنه د علیه الصلوة والسلام څخه وکړه، علیه الصلوة والسلام ورته وویل اخبرکم غداً یعني په طمع ددې چې د شپې به جبرئيل راسي ماته به وحي ددې درو پوښتنو ځوابونه راوړي، لکن ان شاء الله یې ونه ویل.

دروېش وایي: چې ان شاء الله له دېرې خوشالیه د علیه الصلوة والسلام څخه هېره سوه، وجه د خوشالۍ یې دا وه چې د قریشو رئیسانو ددې سره وعده کړې وه چې که تا موږ ته دا درې ځوابونه راکړه موږ کلمه وایو او ستا متابعت ته غاړه ایږدو، خیر خلګ وایي چې پر سپینه جامه لږ خیره هم معلومېږي، صباچې قریش ورته راغله علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ماته تر اوسه اسماني خبر نه دی راغلی او د قریشو هره ورځ تګ او راتګ جریان درلودی حتی چې قریشو به ویل ان محمداً قد ودعه ربه وقلاه حتی چې د ابو لهب مایښه ام جمیل هم د علیه الصلوة والسلام کور ته ورغله او دا سي یې ورته وویل ما اری شیطانک الا قد ترک، ددې له شیطان څخه جبرئيل مراد دۀ، پر علیه الصلوة والسلام دا نه راتګ د جبرئيل او د مشرکانو خبري د دېر مشقت سبب وګرځېدلې ثم نزل جبرئيل بعد ایام، شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمه الله علیه په تفسیر عزیزي کې وایي چې له پینځلسو څخه بیا تر څلوېښتو ورځو پوري روایتونه راغلي دي، علیه الصلوة والسلام جبرئيل عليه السلام ته وویل ه دېر وځنډېدې حتی ساظنني (یعني چې بیا لکه چې نه راځې) او زه دېر تاته مشتاق وم لکن زه عبد مأمور یم اذا بعث اتیت واذا احتسبت فانزل الله هذه الآية او سورة والضحی هم نازل سو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رد کي د قول د مشرکانو ان محمداً قد ودعه آه، او د قریشو د هغو دروسوالو ځوابونه بالتفصیل نازل سوه کمامرت في سورة الکهف.

لَهٗ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَا خَلْفَنَا

د خدای ﷻ په تصرف کي دي هغه حالات چي زمونږ په مخ کي دي یعني له دي وخته څخه وروسته الی قیام الساعة بل الی مالانهایة له من امور الدنیا والآخرة والثواب والعقاب.

پوه سه: چي جمله د "له" مابین آه په محل کي د نصب ده علت د ځنډ پدلو د راتګ د جبرئیل علیه السلام "وما خلفنا" عطف دی پر "مابین ایدینا" یعني چي تر دي وخت دمخه ماضي حالات او شیان دي، حاصل دادی چي تولـه امور مستقبله او ماضیه د خدای ﷻ په علم او تصرف کي دي چي یو په هغو کي زمار اتګ او نه راتګ دی.

وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿۶۴﴾

یعني په منځ کي د ماضي او مستقبل چي مراد ځندي حالات حاضره دي ولي زمانه درې قسمه ده ماضي، حال او مستقبل، او مظهري وایي چي د مابین ذالک څخه مراد کُره د هوا "وماکان آه" او نه دی رب ستا هیرونکی یعني تارک ستا لان حقیقة النسیان محال علی الله. یعني زما عدم نزول یې سبب د ترک د خدای ﷻ تا لره نه ده کما زعمت الکفرة بلکې عدم الامر بالنزول لحکمة علمها في عدم امر النزول مدة یسیرة فافهم.

سوال: ذالک مفرد دی او اشاره و دوو شیانو ته ده یعني مابین ایدینا وما خلفنا؟

ځواب: افراد د اسم اشاره په تأویل د مذکور دي.

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ

"رب السموات والارض ومابینهما" خبر د مبتدا محذوفي دی ای هو رب آه مالک او خالق دی خدای ﷻ د اسمانو او د مځکي او د مابین د اسمان او د مځکي من کرة الوا او چي په دې کره کي پیدا کیږي من المطر والثلج والبرق والرعد وغیرهما "فاعبده آ" الخطاب للنبي ﷺ پر ماقبل تفریع ده یعني لما عرفت ربک علیک وفضله وانه لاینبغي ان ینساک، نو د خدای ﷻ وعبادت ته مخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوړو شكراً لنعمة عليك، او پر عبادت د خداى ﷻ صبر وكړه او تشويش مه كوه په ځنډ پدلو كي د وحي يعني لحكمة او د كفارو په استهزا كي.

سوال: د صبر صله خو په عباداتو كي كلمه د على دلته په دې آيت يې صله لام راوړې حكمت يې څه دى؟

ځواب: د عمومي خلګو په باره كي خو صله د عبادت على دى چې اشعار پر مشقت د عبادت كوي پر دوى باندې او عليه الصلوة والسلام خو په عبادت كي د خداى ﷻ لذت روحي او قلبي محسوساوه. نو ځكه يې صله لام راوړه كما يدل عليه قوله عليه الصلوة والسلام جعلت قرة عيني في الصلوة زما د سترګو خونكتيا چې كنايه له راحت ځخه ده په لمانځه كي ګرځول سوې ده.

هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾

ابن عباس ﷺ وايي چې ته خبر يې په مثل د خداى ﷻ په استحقاق كي د عبادت حتى چې نوم د اله پر كښېښول سي، والاستفهام للانكار يعني لاتعلم ذالك لكونه محالاً. او كلبي ؒ وايي چې تاته معلوم يو څوك چې د الله نوم پر ايښى وي غير الله ځخه، ولي چې مشركينو كه څه هم خپل بتان الهه بلل لكن د الله نوم دوى پر يوه بت هم نه دى ايښى اصلاً.

حكايت: په قندهار كي د ملا عالم په كلي كي يو پهه ال ؤ چې زوى يې زوكړى ؤ ماته يې وويل چې يو ښه كتابي نوم راوښيه چې زه يې پر زوى كښېږدم. ما ورته وويل چې ستا چې خوښ وي يو نوم ماته يې ووايه كه د شريعت سره برابر ؤ زه به درته ووايم چې ښه نوم دى او كه نه ؤ برابر هم درته وايم. ده راته وويل چې ما دېره زمانه په ښه نامه كي فكر وهلى دى چې كه خداى ﷻ زوى دركړى دغه نوم به پر ايږدې، ما ورته وويل چې هغه كوم نوم دى؟ ده راته وويل الله محمد. ما ورته وويل چې څرنګه ناپوه انسان يې چې د محمد چې د عليه الصلوة والسلام نوم مبارك ؤ كفايت دي ونه كړى بلكې لفظ الله دي هم ورجوت كړى، ما ورته وويل چې د الله نوم مشركانو د مكې چې خپل بتان يې الهه هم بلل لكن د الله په نامه يې يو بت مسمى نه كړى ته يې پر خپل زوى ايږدې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: وحق القول بان العوام كالانعام بل هم اضل. حسين كاشفي ؒ وايي يكى از اثار سطوت الهى آن بود كه هيچ كس از اهل شرك معبود خود را الله نگفته اند عزت احديت وغيرت الوهيت اين اسم سامى را از تصرف كفار وتسميه ايشان درحصن حصين امان محفوظ است وزبان اهل ايمان را درنعمت ومحنت وسرا وضرا بتكرار آن نام نامى جارى ساخت:

الله الله چه طرفه نام است اين ..... حرز دل ورد جان تمامست اين
بس بود نزد صاحب معنى ..... حسبى الله گواه اين معنى
فرعون انا ربكم الاعلى و قبط ته وايه. ولم يقدر ان يقول انا الله.

پوه سه: چې هغه اسم چې اختصاص ذاتي او استعمالي لري لكه "الله" يا په خداى پورې اختصاص استعمالي لري لكه "الرحمن" د بل چا تسميه نه ده په روا كذا قال المولى الفناري.

وَيَقُولُ الْإِنسَانُ أَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾

او وايي انسان ("الف ولام لپاره د جنس دى" كه څه هم قائل ددې قول بعض د كفارو د مكې وه لكن قول دبعض اسناد يې وجنس ته روا دى يا بعض معهود نفر مراد دي. بغوي ؒ وايي چې مراد له انسان څخه ابي بن خلف الجمعي دى چې له بعث بعد الموت څخه منكر وٶ. په يوه روايت كې راغلي دي چې دې يو وخت يو زوړ هډوكى راواخستى اود خلګو په مخ كې يې توتې توتې كړى او وې يې ويل ان محمداً يزعم انا نبعث بعد الموت. فحكى الله تعالى قوله حيث قال) "اذا مامت لسوف اخرج حيا" آيا چې زه مړ سم (يعنې هډوكى مې وراسته او بوسيده سې كما يدل عليه قول ابي خلف كما نقلناه من البغوي) نو ژر دى چې زه به بيرته راووځم له خاورو څخه يعنې دا حال امكان نه لري.

پوه سه: چې كلمه د "اذ" ظرف ده او همزه لپاره د انكار دى.

پوښتنه: ولې ظرف دمخه سو او د همزه سره انكار متصل سو؟

ځواب: لكون المنكر عند ابي بن خلف واضرابه هو الموت بعده الحيوة او عامل د ظرف چې اذ دى فعل محذوف دى دل عليه اخرج وهو البعث اخرج يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عامل نسي کېدای لان القانون ان مابعد اللام لايعمل في ماقبله لصدا تها او کلمه د لام په لسوف کي دلته لپاره د مجرد تاکيد د همزة الانکار که څه هم په اصل کي لپاره د زمان حال ده نو هم ددي سبيد اقتران د لام په سوف سره صحيح سو که څه هم سوف لپاره د استقبال دی هذا ما ذکره صاحب روح البيان وروح المعاني ونقل المظهري بعض ذالک فافهم.

أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿٦٧﴾

آيا په ياد نه دی د انسان (عطف دی پر يقول) چي موږ پيدا کړی دی دمخه تر مرګ او دی هيڅ شی نه وۀ.

دروښ وايي: چي په دې سره مشرکين د مکي هم معترف او اقرار وه چي موږ هيڅ شی نه وۀ خدای پيدا کړو، نو چي دا دوی منی نو ايجاد د بعد العدم البحت ای الخالص څو اعجب دی تر جمع د هډوکو او د خاورو دده اعضا، نو دا انسان بعث بعد الموت ولي نه منی.

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾

ستا په خدای مي دي قسم وي يا محمد (ﷺ) موږ به حشر کړو دوی سره د شيطانانو، نو شيطان مفعول معه دی، بغوي رح وايي چي هر کافر به د شيطان سره په يوه ځينځير ترلی دوزخ ته داخلپږي، بيا به حاضر کړو دوی سره د شيطانانو پر شاوخوا د دوزخ.

پوه سه: چي خدای ﷻ قسم په خپل ذات کريمه سره وکړی او مضاف يې کړی ؤ نبي عليه السلام ته لپاره د تعظيم د شان د نبي عليه السلام، او کلمه د فا سببيه ده يعني انکار ددوی له بعث بعد الموت څخه چي په اغوا د شيطان يې کړې وه سبب ددې وګرځېدل چي دوی او شيطان به يو ځای دوزخ ته ورځي.

پوه سه: چي "جثيا" حال دی له ضمير څخه د مفعول، ابن عباس رض وايي جماعات او جثيا جمع د جثوة ده په معنی د جماعت، او حسن بصري او ضحاک رح وايي چي د جاث معنی يعني پر زنګنو به دوزخ ته لوېږي، او سدي رح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي پر زنګنو به ولاړ وي، ولي چي ځای تنګ وي، بعض مفسرين وايي چي مؤمنان او کافران يعني السعداً چي مؤمنان او اشقياً چي کافران دي پر شاوخوا د دوزخ به ټوله ځای پاک جمع کړي، مؤمنان ددې لپاره چي ددوی سره به سرور او خوشالي دپره سي چي دوزخ يې په وليدی اونجات يې خندی ورکړی او د کافرانو به حسرت او غم او ندم دپر سي چي مؤمنان ددوی څخه دار الثواب جنت ته ولاړ.

فائده: کلمه د "ثم" يې ددې لپاره راوړه چي حضور ددوی حول جهنم دپره زمانه تر حشر وروسته دی لاحتباسهم دهراً طويلاً في الموقف قبل ان يفعل بينهم.

ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ

وروسته په زور راجلا کړو کما هو معنى النزع قاله البغوي له هري ډلي او هر امت څخه او له هر دين څخه، په قاموس کي وايي چي شيعة الرجل اتباعه ويقع على الواحد والاثنين والجمع والمذكر والمؤنث، جوهري په صحاح کي وايي الشياع الانتشار والتقوية ته وايي يقال شاع الحديث اذا شاع وكثر وقوى وشاع القوم انشروا وكثروا شيعت النار بالحطب قوت به والشيعة من يقوى به الانسان وينتشرون عنه روح المعاني د شيعه په ترجمه کي وايي اى جماعة وتعاونت على الباطل على ما يقتضيه كون الآية في الكفرة، او روح البيان يې هم ورته ترجمه کړې ده.

أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾

چي څوک له دوی څخه سخت دی پر رحمن باندي په قاموس کي وايي اى استكباراً او تجاوزاً عن الحد في العصيان، بغوي ؒ وايي چي ابن عباس ؓ وايي په جرئت کي پر خداى ﷻ، او مجاهد وايي فجوراً.

فائده: "عتيا" منصوب دی تميز دی له نسبت څخه د "اشد" ودوی ته حاصل دادی چي له هر امت څخه به اعصى فالاعصى راغونډ کړي چي ټوله سره جمع سي بيا به يې پر ترتيب دوزخ ته وروا چوي، امام همام فخر الدين الرازي ؒ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تفسير كبير كي وايي چي د هر امت كافران به حول جهنم ته حاضر كړل سي، بيا به هغه كسان څندي راوباسي چي اشد تمرداً على الله وه هغه به عذاب اعظم و دوزخ ته تپله كړل سي اذ عذاب الضال المضل لغيره يجب انيكون فوق من يكون ضالاً تبعًا. قال الله تعالى "الذين كفروا وصدوا عن سبيل الله زدناهم عذابًا فوق العذاب بما كانوا يفسقون. انتهى كلام الرازي ؒ.

ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾

پوه سه: چي كلمه د "ثم" لپاره د تراخي في البيان ده لا التراخي في العلم، روسته موږ پښه خبر يو په هغو كسانو چي دوی اولی په دوزخ سره از روی دخول وي.

پوه سه: چي ضمير مؤنث د بها راجع دی جهنم ته چي هغه مؤنث سماعي دی.

پوښتنه: بل څوک څو د كفارو په حال نه دي، نو صيغه د تفضيل في العلم نسبت وچاته ده؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چي اعلم په معنی د عليم دی يعني لپاره د تفضيل نه دی، او بعض مفسرين وايي چي كرام كاتبين څو هم كافر او تقي سره پېژني او د سعيد او د شقي فرق ورته معلوميږي لكن پر اعمالو د قلب علم نه لري او كه يې وه هم لري د بعضې قرائنو په سبب لكن بيا هم علم تفصيلي نه پر لري او خدای ﷻ پر افعال القلوب باندې تفصيلاً علم لري فصح صيغة التفضيل بالنظر الى الكرام الكاتبين.

وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾

نسته يو له تاسي څخه (ان نافيه دی او "منكم" صفت دی د محذوف ای احد) مگر نه واردږي به جهنم ته يعني د دوزخ پر غاړه به سره جمع كيږي كه مؤمن وي او كه كافر، كه تقي وي او كه شقي، دا جمع كول پر شفير د دوزخ ستا پر رب واجب دی يعني خدای پاك پر خپل څان لازم گرځولی دی لا بمعنى الوجوب العقلي عليه تعالى ولا بالوجوب الشرعي "مقضياً" چي د قضا او وعده پر دغه راغلي ده ولا يمكن تخلف وعده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَّ نَذَرُ الظّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿۷۲﴾

وروسته تر حضور به موږ نجات ورکړو یعني له دخول څخه د دوزخ یعني لپاره د تایید هغو کسانو ته چې ځان یې ساتلی او پرهېز یې کړی وي له شرک څخه (او د جنت پر خوا به یې سمدلاسه روان کړو او بعد مدة التعذیب الموقت کما في بعض عصات المؤمنین) او پرې به ږدو موږ ظالمان یعني کافران په اور کې تولې، او یا جاثین علی الرکب یا پر زنګنو به داخلېږي لعدم طاقتهم للقیام.

پوه سه: چې یا مراد له ورود څخه د مؤمنانو تېرېدل دي پر پل صراط باندې چې پر دوزخ باندې پروت دی او مؤمنان پر هغه پل جنت ته ببول کېږي، او معتزله وایي چې مراد له ورود څخه دخول نه دی ولي چې د دوی په نېز چې دوزخ ته داخل سي ابدي به په په دوزخ کې وي. ولي چې یا خو به کافر وي د هغه خو ابدي ځای دوزخ دی او یا به مرتکب د کبیره ګنهو چې بلا توبه مړ سي د هغه ځای هم ابدي دوزخ دی ددوی په نېز، او موږ اهل السنة والجماعة وه مؤمن ته که هر څو ګناه کار او بلا توبه مړ سي ابدي دوزخ نه وایو والدلائل لنا ولهم والجوابات عن جانبنا في کتب علم الکلام لانطول بها الکلام شفقة علی الطلبا الکرام.

دروېش وایي: چې په تفسیر کې د ورود المذکور في الآیة اختلاف بین المفسرین وبین اهل السنة والجماعة، روح المعاني وایي چې اکثره سلف او اهل السنة والجماعة پر دې دي چې له ورود څخه دخول مراد دی دوزخ ته که مؤمن وي او که کافر وي مؤمن که تقي او که عاصي وي، لکن دی وایي چې پر هغه مؤمنانو عاصیانو چې خدای ﷻ اراده د تعذیب نه ورته لري اور ورته برداً وسلاماً وي لکه ابراهیم علیه السلام ته چې اور د نمرود ؤ کما جا في القرآن الکریم "وقلنا یا نار کوني برداً وسلاماً علی ابراهیم" او کافرانو او بعض عاصي مسلمانانو ته چې خدای پاک اراده د عذاب ورته لري هغو ته برداً وسلاماً نه وي، پر دې مذهب باندې دا سوال وارد ېږي چې هغه مؤمنانو ته چې اور ورته برداً وي د دخول د اور څه فائده ده، دوی وایي چې اوله فائده یې داده چې مؤمنانو ته به غایت سرور پیدا سي چې دوزخ اور ورته برداً وسلاماً سو او بیا جنت ته بوتلل سي کما لایخفی. دویم کفارو ته به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زيات حسرت پيدا سي حين رؤا المؤمنين قد تخلصوا منها او كفار به شرمنده هم سي په نېزد مؤمنانو چي دوى يعني كافران بې په دنيا كي په دوزخ سره بهرول الى غير ذالک من الفوائد التي بينها الامام الرازي في التفسير الكبير، وروح البيان ايضاً في تفسيره، او بعض سلف او اهل السنة والجماعة تفسير د ورود په حضور سره كوي بلا دخول للمؤمنين كمامر، والدلائل في تفسير روح المعاني والمظهري والله اعلم بمراده في كتابه.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا

چي ولوستل سي پر كفارو (دا جمله عطف ده پر ويقول الانسان) هغه آيتونه يعني د قرآن كريم چي واضح دي دلالت يې پر خپل معنا (يا دى په خپله يا په بيان سره د رسول الله ﷺ) وايي هغه كسان چي كافران دي يعني النضر بن الحارث او نور مثل دده له قريشو څخه، و هغو كسانو ته چي ايمان يې راوړى وي.

أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾

كوم يو د دغو دوو ډلو څخه چي مؤمنان چي څانونه ښه بولي او موږ (يعني كفار خپل څان ښه بولي) "واحسن نديا" او ښه دى از روى مجلس او مجتمع.

پوه سه: چي مقام بفتح الميم ظرف دى مشتق دى له قيام څخه اى خير موضعاً للقيام.

پوه سه: چي قريش چي له اتيان څخه د مثل د آيات بيناتو چي پر دوى تلاوت سوه عاجزه سوه نو يې فخر په امورو د دنيا شروع كړى يعني موږ تر تاسي بالا يو په مقام او مكان كي او زموږ په مجلس كي ټوله صناديد يعني اشراف د قريشو او سرداران د عربو ناست دي او ستاسي د نبي په مجلس كي يا فقراً يا مريان ناست دي كبلال وصهيب وعمار بن ياسر وغيرهم ﷺ، نو دوى په دې سره فضل عند الله وڅانو ته ثابتول، نو خداى ﷻ پر دوى رد وكړى په دې آيتو كي.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا ﴿٧٤﴾

پوه سه: چي كلمه د "كم" خبريه ده (يعني ډېر مو هلاک كړي او منصوب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محلاً دی په هلکنا سره) تر تاسي دمخه "من قرن" بيان د کم دی.

فائده: قرن د يوې زمانې خلګو ته وايي ولي چې دوی په يوه زمانه کې سره مقارن دي، کاشفي ؒ ګروهی که مجتمع بودند درزمان واحد آه، او بعض مفسرين وايي چې زمان د قرن اتيا کاله دی لکن الصواب ماجاءَ في الحديث النبوي الصحيح چې عليه الصلوة والسلام و يو چاته د طول عمر دعاءَ وکړه او داسي يې ورته وويل عش قرناً هغه سل کاله ته ورسېدی او بيا وفات سو "هم احسن اثاثاً" چې هغه اهل قرن ښه وه يعني ترتاسي، او بغوي ؒ وايي چې اثاث متاع البيت او اموالو ته وايي او مقاتل ؒ وايي د اغوستلو کالو ته وايي "وريا" يعني از روی منظر او حسن الصورة مشتق من الروية.

پوه سه: چې اثاثاً سره د مابعد تمييز دی له نسبت څخه د احسن وهم ته چې تمييز محول دی له فاعل څخه يعني اثاثهم احسن.

قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ

پوه سه: چې "فليمدد" که څه هم په صيغه د امر دی لکن معنی يې اخبار دی، ترجمه: ته ورته ووايه يا محمد چې هغه کسان چې په ضلالت کې دي خدای ﷻ ددوی سره کومک کوي په نعمتو ورکولو سره او مهلت ورکوي په طغيان کې لکن استدراجاً لپاره ددې چې عذرونه ددوی په قيامت کې قطعه سي، کريمه "اولم نعمرکم ای في الدنيا مايتذکر من تذکر".

حَتّٰۤى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ ؕ

تر هغه پورې چې دوی ووينې هغه شی چې ددوی سره يې وعده کړل سوې ده، يا عذاب د دنيا "بالاسر والقتل" (لکه په کفارو د قريشو چې خدای ﷻ عذاب وليدی په بدر کې) او يا قيامت او عذابونه د هغې ورځې او رسوايي او دوزخ.

پوه سه: چې اما العذاب واما الساعة بدل دی له "مايوعدون" څخه.

فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ۝

نو په ورځ کې د عذاب يا د قيامت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "من" سره د مابعد قائم مقام د مفعول د "یعلمون" دی او جمله د "فسیعلمون آه" جزا د شرط ده یعني حتی اذا رؤا آه. او مراد له جند څخه اعوانًا او کومکیان دي، وترجمة الآیة: په هغه ورځ به کفار د مکې پوه سي چې څوک دی بد ازروی مقام او اضعف دی په کومکیانو کې.

پوه سه: چې دا د کفار قریش د هغه قول ځواب دی "ای الفریقین خیر مقامًا واحسن ندیًا" نو "شرمکانًا" ځواب دی د "خیر مقامًا" او اضعف جندًا ځواب دی بلدی د هغه قول واحسن ندیًا.

پوه سه: چې جند د کافرانو شیطانان دي او جند د مؤمنانو ملکي دي کما في غزوة بدر کما جا في القرآن العزیز... بیت:

افتخار از رنگ وبو واز مکان ..... هست شادی وفریب کودکان

دروښ وایي: چې کفارو د مکې چې پر مؤمنانو افتخار په دنیاوي امورو کې وکړی او خدای ﷻ په متلو آیتو ځواب ورکړی حاصل د ځواب الهي دادی چې دپر قرون چې هغه افضل او بالا وه تر قریشو د مکې په هغه امورو دنیویه ؤ کې چې دوی افتخار پر مؤمنانو په کاوه لکه قوم عاد او قوم ثمود او قبط قوم فرعون، او نور ورته اقوام ماضیه چې سرکشي یې کړې وه د خدای ﷻ له امر څخه لکه کفارو د قریشو چې هم وکړه. نو ما هغه اقوام عاتیه هلاک کړه بالاستیصال په قسم قسم عذابو سره، یا په باد لکه قوم عاد. یا په غرق لکه قوم د فرعون، نو که چېرې هغه نعمتونه چې ما دوی ته یعني امم ماضیه وو ته درکړي وه په سبب د کرامت ددوی، نو بیا ما ولي هلاکول دوی، نو د قریشو دا خیال هم غلط دی چې موږ پر خدای ﷻ گران او معزز یو تر مؤمنانو .... بیت:

برمال وجمال خویشتن تکیه مکن ..... که آنرا بشبی برند وآنرا بتبی

یعني مال به دي د شپې غله درڅخه یوسي او جمال به په یوه تبه درڅخه ولاړ سي.

وَيَزِيدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى

او زیاتوي خدای ﷻ و هغو کسانو ته چې پر راه راست وي یعني مؤمنان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي هدايت اى الهاماً الى مقاصدهم من القرب الى الله تعالى بالهام الاسباب من الطاعات الموصلة الى القرب، مظهري وايي چي دا جمله عطف ده پر مضمون د هغه جمله شرطيه چي تر قل وروسته راغلي ده، يعني من كان في الضلالة يمده الرحمن استدراجاً والذين اهتدوا زادهم هدى بالايمان بما ينزل عليهم من الآيات، والحاصل چي امهال وكافرانو او نفع رسول دوى ته په دنيايي چارو ددي سبب نه دى چي دوى فضيلت پر مؤمنانو لري كما زعموا بل هو استدراج لهم اوكم والى د نعمتو د مؤمنانو ددي جهتنه نه دى چي په دوى كي يو نقص ستنه بلكي خداى ﷻ لږوالى د حظ د مؤمنانو په دنياوي چارو كي سبب د مزيد ثواب گرځوي او رفع د درجو ددوى يې گرځوي عندالله في الآخرة او دوى رسوي ددوى مقاصد ته چي قرب الى الله دى.

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿۷۶﴾

يعني اذكار او بنه عملونه ولي چي يوم القيامة فائده ده وصاحب ته راجع دي ابد الابدين، خير ده په نيز د رب ستا يا محمد تر تمتع د كافرانو په دنيا كي بالنعم الفانية او خير ده از روى مرجعاً وعاقبةً.

سوال: د كفارو په طريقه كي خو خير نسته فما معنى التفضيل؟

ځواب: اسم تفضيل چي "خير" دى لپاره د مجرد زيادت دى د دوبر زيادت لپاره نه دى او د قبيلې ددې دى چي خلگ وايي چي دوبى احر من الشتا مع عدم الحرارة في الشتا، حسين كاشفي ؒ ميگويد: اگر كافران را در دنيا جاه ومال است در آخرت نكال و وبال است، اما مؤمنان را در دنيا هم هدايت دارند وهم حمايت از پروردگار. وفي الحديث الصحيح قال ابو الدرداء ؓ جلس رسول الله ﷺ ذات يوم (كنبښستى رسول الله ﷺ يوه ورځ) واخذ عوداً يابساً وازال الورق عنه (عليه الصلوة والسلام راواخستى يو لرگى او ځندي وه يې رژول بلگونه د هغه لرگي) ثم قال ان قول لا اله الا الله والله اكبر وسبحان الله والحمد لله "يعني هذه الكلمات" ليحط الخطايا كما يحط ورق هذه الشجرة الريح (هر آئينه رژوي گناهونه د ويونكي د دغو كلماتو لكه چي باد تويوي بلگونه ددغه درختي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني چې خزان سوي وي، بيا عليه الصلوة والسلام ابو درداً ﷺ ته وويل) خدهن يا ابا الدرداً قبل ان يحال بينک وبينهن (زده کړه او واخله دغه کلمات يا ابا الدرداً دمخه تر دې چې ستا او د هغو تر منځ حائل او مانع پيدا کيږي چې عبارت له مرګ څخه دی، بيا عليه الصلوة والسلام وويل) فهن الباقيات الصالحات وهي من کنوز الجنة (دغه کلمات باقيات صالحات دي يعني په قولي عباداتو کې او دا کلمات له خزانو څخه د جنت دي) د وروسته آيت شان نزول، بخاري او مسلم له خباب بن الارت څخه روايت کړی دی چې زه آهنګروم يعني توري وغيره مي جوړولې، نو عاص بن وائل ته يعنې چې يو مالدار مشرک وُ په مکه کې ماتوره ورجوړه کړه او اجرت مي پرده باندې پاته وُ، نو زه ورغلم ته ده چې زما پور راکړه؟ ده راته وويل لا والله لا اقضيک حتى تکفر بمحمد (ستا پور تر هغو نه درکوم چې ته په محمد (ﷺ) سره کافر نه سې يعني دده د نبوت منکر نه سې) ما ورته وويل اما والله لا اکفر بمحمد ﷺ حتى تموت وتبعث.

دروښ وايي: چې ددې حتى آه معنى دا نه ده چې بعد الموت والبعث نو زه کفر په محمد سره کوم ولې هورې خو کافران لاکفر بمحمد ﷺ نه کوي فضلاً عن المؤمنين به في الدنيا، ده يعني عاص راته وويل چې زه مرم بيا بعث کيږم ځای د انکار د عاص بعث وُ لا الموت لانه محسوس في افراد الانسان کلهم، ما ورته وويل ښه، يعني ته بعد الموت بعث کيږې، ده راته وويل چې داسي دی فسيکون لي مال وولد، نو ستا پور به هغه ورځ درکړم، نو دا آيت خدای ﷻ نازل کړی.

أَفَرَءَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾

ته خبر راکړه والخطاب للنبي ﷺ، يعني هغه څوک چې زمونږ له آياتو څخه انکار کوي يعني قرآن نه مني چې عاص بن وائل دی، او دی وايي چې ماته به راکړل کيږي يعني په ورځ د قيامت مال او زامن، دا قال معطوف دی پر کفر.

پوښتنه: د فرئيت ترجمه تا په خبر راکړه ولې وکړه، او سره ددې چې د روئيت معنى خو ليدل ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: چونکه رؤیت د ستر ګو قوي له اسبابو څخه د اخبار دی، نو دا ارئیت په معنی د اخبرني دی په ټوله قرآن او په کلام کي د عربو. قانون نحوي تر همزه د استفهام وروسته که واو که فا که ثم راسي معطوف علیه په ماقبل تر همزه نسي کېدای لفوات صدارة الاستفهام کما قال النحاة بلکې معطوف علیه بې د مقام سره مناسب یو فعل مقدر وي په دې ځای کي معطوف اوقع نظرک فرئیت.

اَطَّلَعَ الْغَيْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۷۸﴾

ابن عباس رضي الله عنهما وایي آیا دده وکتل په لوح محفوظ کي چې دا علم غیب وده ته حاصل سو، او مجاهد وایي اعلم علم الغیب حتی ادعی انه له یوم القیامة مالاً وولداً والمآل واحد، یا له خدای ﷻ څخه عهد او وعده د دغه مال او ولد اخستې ده.

پوه سه: چې اصل د دې کلمې اطلع وٴ چې یو همزه د وصل وٴ او یو همزه د استفهام وٴ، نو همزه د استفهام چې داخل سو، نو د همزه د وصل څخه غنا راغله لعدم لزوم الابتدا بالساکن چې د هغه لپاره همزه د وصل داخل سوی وٴ فحذف همزة الوصل.

پوه سه: چې له عهد الله څخه مراد کلمه د لا اله الا الله ده، او قتاده وایي چې یعني عمل عملاً صالحاً، او کلبي رح وایي عهده الله ان یدخله الجنة والمآل واحد.

كَلَّا ۭ سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ

"کلا" کلمه د ردع ده یعني نه چنین است په پښتو وایي داسي نه ده.

دروېش وایي: چې پر ظاهر د عبارت دا توهم کېږي چې کتابت دده د قول خو سمدلاسه کرام کاتبین کوي، کریمه "مایلفظ من قول الا لدي رقیب عتید" نو د سین د استقبال څه معنا ده؟

ځواب: ددغه توهم له جهته روح المعاني او مظهري او روح البیان بلکې ټوله مفسرین ددې آیت ترجمه داسي کوي "سنظهر انا کتبنا قوله، او سننتقم منه ما کتبنا من قوله الی غیر ذالک من التأویلات.

فائده: اسناد د کتابت خدای پاک ځان ته کوي مع ان الکاتبین هم الملائکة الحفظة لان الله تعالی هو الامر لهم بالکتابة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿۷۹﴾

موږ به زیات کړو وه ده ته له عذاب څخه، دا په عوض کي د هغه قول دده چي ده به دعوه کول د ځان لپاره من الامداد بالمال والولد ای نطول له من العذاب مایستحقه بکفره وقوله المذکور.

وَّنَرِثُهُ مَا يَقُوْلُ وَيَأْتِيْنَا فَرْدًا ﴿۸۰﴾

او موږ ته په میراث پاته سي چي دی هلاک سي او ملک یې په مرګ سره ولاړ سي، چي هغه دی وایي من المال والولد، او دی به راسي موږ ته یعني په ورځ د قیامت تنها چي نه به مال ورسره وي او نه ولد لکه په دنیا کي چي ورسره وه فضل تر دې چي په دنیا کي به ده ته زائد مال هم ورکړل سي.

پوه سه: چي جمله د "سنکتب" سره د معطوف علیها علت ده ردع چي له "کلا" څخه وفهمېدی.

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ﴿۸۱﴾

اخستی دی کفارو د قریشو یعني معبودیې ګرځولي دي پرته له خدایه چي معبود بالحق دی نور خدایان او معبودان چي بتان دي، تاچي سي دا معبودان باطل ددوی لپاره عزت عندالله یعني وصیله او شفعا، کریمه "هؤلاء شفعائنا عندالله.

كَلَّا ۭ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿۸۲﴾

"کلا" ردع او انکار دی له عزت منډلو څخه د دوی په ذریعه د بتانو، ژر دی چي انکار به وکړي یعني په ورځ د قیامت دغه معبودان ددوی له عبادت څخه ددوی، کریمه "تبرئنا الیک ماکانوا ایانا یعبدون، او یا معنی داده چي کفار به انکار وکړي د بتانو د عبادت، کریمه "والله ربنا ماکنا مشرکین" وه به ګرځي دا بتان پر دوی ذلت او سپکاوی یعني سبب د ذلت ددوی به په ورځ د قیامت همدغه بتان وي.

پوښتنه: اسم د "تکونوا" خو جمع ؤ، نو خبر یې ولي مفرد راوړی یعني ضداً؟

ځواب: په معنی کي د مضادة ټوله سره شریکان دي، نو لکه ټوله چي یو شی وي فتدبر، او بل ځواب دادی چي دا له قبیلې څخه ددې قول د علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی وهم یدعن من سواهم. یعني "هم" جمع دی او "ید" مفرد دی رواه ابو داؤد والبن ماجه. او بل ځواب دادی چي په قاموس کي وایي چي ضد جمع هم راځي یعني اطلاق یې پر مفرد او جمع دواړو کېږي قال ومنه قوله تعالی ویکونون علیهم ضدا".

اَلَمْ تَرَ اَنَّآ اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿۸۳﴾

آیا ته علم نه لرې یا محمد (ﷺ) نو رؤیت علمي دی او استفهام انکاري دی نفي د نفي اثبات دی یعني علم لرې، چي مورد مسلط کړي دي شیطانان پر کافرانو یعني په دې هم خبر یې، کریمه "وقیضا لهم قرنا" کما هو معنی قوله تعالی "واستفزز من استطعت بصوتک آه" کذا قال البغوي الشافعي المذهب "توزهم ازا" یعني دلاوره کوي شیطانان کافران پر معاصیو او شرک باندې او پر ناوړه خیالاتو او اتباع د شهواتو لکه زنا شرب الخمر الی غیر ذالک. دوی ته دا عقیدې په زړو کي وراچوي بان لابعث ولاحساب ولا الجنة والنار.

پوه سه: چي "ازا" مفعول مطلق دی او جمله د "توزهم" حال ده له شیاطین څخه.

فائده: له دې آیت څخه یعني "الم تر" تر اخیري پورې په تعجب کي اچول دي د رسول الله ﷺ له اقوالو څخه د مشرکانو او تینګار ته ددوی پر شرک بعد وضوح الحق بالآیات والمعجزات.

فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿۸۴﴾

ته تلوار مه کوه پر ښېرا ودوی ته په نزول د عذاب پر دوی، مورد شمېرو ورځي د عمر پوره کېدو ددوی یعني ددوی د عمر شپې او ورځي محصور او معدود دي دا جمله علت او سبب دی د جمله د "فلا تعجل علیهم" په حدیث کي له ابن عباس رضي الله عنه کي مروي دي چي ده چي به دا آیت ووایه که څه هم په شان کي د کافرانو راغلی دی لکن حکم یې عام دی، یعني د مسلمانانو خو هم ایام د اجل محصور او معدود دي، نو ده به وژړل او داسي به یې وویل اخیر العدد خروج نفسک ای روحک من البدن اخیر العدد فراق اهلک (یعني د خپل اولاد او اقاربو څخه) اخیر العدد دخول قبرک، یو صحرایي وویل کیف تفرح بعمر تقطعه الساعات وسلامة بدن تعرض الآفات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾

هغه ورځ چې موږ حشر کړو تقوی داره کسان وه الرحمن ته یعنې ومهربان خدای ﷻ ته "وفداً" جمع د وافد ده حال دی له متقین څخه. او لفظ د "یوم" منصوب دی په اذکر مقدر سره، او یا ظرف دی د فعل محذوف ای نفعل بالفریقین ای المتقین والمجرمین مانفعل.

دروښ وایي: چې وفد یو هیئت ته وایي چې بادشاهانو ته ورځي منتظر وه کرامت او د انعام د بادشاهانو وي.

وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾

او موږ شړو (دا لفظ د اهانت لپاره دی یعنې لکه حیوانات چې راعي شړي)

فائده: فاعل که څه هم خدای ﷻ دی لکن شړل کار د ملائکو د دوزخ دی خدای ﷻ یې آمر دی، له مجرمانو څخه مراد کافران دي.

بوه سه: چې د "وردا" ترجمه بغوي رح په مشاة سره کړې ده یعنې پیاده، او ابن عباس رضی الله عنهما یې تفسیر په عطاش سره کړی دی یعنې تږي "والورد جماعة" چې د اوبو پر خوا روان وي او اوبو ته نه ځي څوک مګر نه د تندي له سببه کما لا یخفی.

لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾

د لایملکون ضمیر و عبادو ته راجع دی المدلول علیه بذکر القسمین ای المتقین والمجرمون.

بوه سه: چې که شفاعت مصدر مبني للفاعل سي او عهد په معنی د اذن سي. نو معنی د آیت داده چې نسي کولای له بندګانو څخه هیڅ څوک هر څوک چې وي که انبیاً وي او که صلحاً وي او که ملائکه وي شفاعت د عصاتو مګر نه هغه څوک چې له خدای ﷻ څخه اجازه واخلي د شفاعت کولو کما في آیة الکرسي "من ذا الذي یشفع عنده الا باذنه" او که چېرې شفاعت مبني للمفعول سي او عهد په معنی د ایمان سي. نو معنا د آیت داسي ده لایملک المجرمون چې څوک دي شفاعت وکړي الا من کان له عهد ای کان مؤمنًا لان الایمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شرط للشفاعة، او ابن عباس ﷺ تفسير په شهادت سره د لا اله الا الله كړی دی او ابن ابي شيبة او ابن ابي حاتم او الطبراني او الحاكم چې حاكم يې د صحت دعوه كړې ده له ابن مسعود ﷺ څخه چې ده دا آيت قرائت كړی او داسې يې وويل چې خدای پاک به ووايي په ورځ د قيامت من كان له عهد عندي فليقم هغه دي ولاړ سي فلا يقوم الا من قال هذا في الدنيا يعني دا دعا يې كړې وي وفي رواية كل صباح ومساً اللهم فاطر السموات والارض عالم الغيب والشهادة اني اعهد اليک في هذه الحيوة الدنيا انک ان تكلني الى نفسي تقربني من الشر وتباعدني من الخير واني لا اثق الا برحمتک فاجعله لي عهداً عندک تؤديه الي يوم القيامة انک لا تخلف الميعاد.

دروښ وايي: چې ددې دعا د كلماتو تفسير زه په دې نه كوم چې دغه عربي الفاظ چې له مشكوة څخه د سيد البشر ﷺ راغلي دي د هغو الفاظو وينا ضروري ده كه يې څوک په ترجمه پوهېږي او كه نه.

تنبيه: په شفاعت د سيد الشافعين ﷺ له ترمذي څخه بلكې د صحيحينو په روايت احاديث صحيحه راغلي دي لكن په هغو كې يو داسې متشابه الفاظ سته چې بېله عالم محدث څوک تاويل نسي كولای، نو چونكه زما تفسير د طالبانو او عمومي خلكو لپاره دی، نو له دې سببه مي هغه احاديث نه كړل ذكر چې بعض مطالعه كونكي يې پر ظاهر حمل نه كړي بلكې داسې عام الفهم احاديث به ذكر كړم سره د ترجمې چې هر خواننده په وه پوهېږي. طبراني او بيهقي له عمر بن الحزم الانصاري ﷺ څخه روايت كړی دی چې عليه الصلوة والسلام درې شبانه روزه د خلكو سره ملاقات بند كړی وُ صرف به د فرضي لمونځو لپاره له كوره راووتی چې لمونځ به يې وكړی بيرته به كور ته ولاړی چې څلورمه ورځ سوه د اصحابو كرامو ﷺ و ملاقات ته له كوره راووتی، موږ ورته وويل چې تاسي درې ورځې ملاقات زموږ سره بند كړی وُ حتی چې زموږ دا گمان سو چې يوه نوې حادثه او واقعه پېښه سوې ده، عليه الصلوة والسلام ورته وويل لم يحدث الا خيراً نه دی پېښ سوی مگر نه د خير كار، هغه دا چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زما رب زما سره وعده کړې وه چې ستا له امت څخه اوویا زره کسه بې حسابه جنت ته بیایم، په دې درې ورځو کې ما د زیادت د بې حسابه امتیانو وکړی فوجدت ربي ماجداً کریماً، نو خدای ﷻ ماته وویل چې د هر نفر سره د مخنې اوویا زرو به نور بې حسابه جنت ته داخل کړم الحدیث،

دروېش وایي: چې په بعضې احادیثو مبارکه وو کې تعیین د من یدخل الجنة بلا حساب په بعض حدیثو کې راغلي دي چې هغه کسان دي چې حمد د خدای ﷻ وایي في السراً (یعني د صحت او عافیت او د غنی په وخت کې حمد د خدای ﷻ) والضراً (یعني د فقر، ناجوړۍ الی غیر ذالک) حمد د خدای وایي، او په بعض اخبارو کې "الذین تتجافی جنوبهم عن المضاجع" یعني د شپې د تهجد لپاره بغلونه ددوی پورته وي د خوب له ځایه څخه، او په بعض احادیثو کې راغلي دي چې هغه کسان چې حج یا عمرې ته تللي وي یا ذاهباً مړه سي یعني د کور له خوائې او یا راجعاً له مکې څخه مړه سي، او په بعضو کې داسې راغلي دي چې طالبان د علوم شرعیه وو دي او هغه ښځه چې د مېړه فرمانبرداره وي، یا ولد بار بالوالدین، یا هغه کسان چې لاتلهیهم تجارة ولابیع عن ذکر الله علامه بغدادي السید محمود آلوسي ؒ په روح المعاني کې وایي چې وجه د جمع ددې اخبار چې ذکر سوه ظاهره ده انتهی.

دروېش وایي: چې وجه د جمعې یې داده چې دغه په اخبار کې ذکر سوي کسان خو په هر محدود کسان دي او هغه کسان چې په حدیث مذکور کې عنقریب تېر سوه چې جنت ته بې حسابه هغه په هر لوی عدد ؤ دا ټوله پکښې داخلېدای سي، بلکې هغه کسان چې په روایت کې د بخاري او مسلم له ابن عباس ﷺ پکښې ځائېږي، دی وایي خرج الینا رسول الله ﷺ ذات یوم فقال عرضت علی الامم" (پېش سوه امتونه د انبیا ﷺ یعني والله اعلم په عالم رؤیا کې، یو نبي به تېرېدی یو نفر به ورسره ؤ والنبي معه رجلان والنبي لیس معه احد والنبي معه الرهط (یعني لږ کسان تر لسو پورې) فرئیت سواداً کثیراً (ما ولیدل یوه لویه ډله چې نبي یې ورسره ؤ) فرجوت انیکون امتي (زما امید پیدا سو چې دا به زما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امت وي) فقيل هذا موسى وقومه، ثم قيل لي انظر فرئيت سواداً كثيراً (وروستد وويل سوه چي وګوره ما چي وکتل نهايت ډېر نفر مي وليدل يعني چې د موسى عليه السلام سره ورسره ډېر وه) فقيل هؤلاء امتک ومع هؤلاء سبعون الفاً يدخلون الجنة بغير حساب وروسته اصحاب ﷺ سره متفرق سوه، او عليه الصلوة والسلام هم بيان راته ونه کړی په باره کي ددغو اوويا زرو کسانو چې دا به څوک وي، نو د صحابه کرامو ﷺ په دې کي اختلاف سو چا وويل چې مور څو په شرک کي زوکړي يو لکن آمنا بالله ورسوله نو اوويا زره کسان به زمور زامن وي، نو د عليه الصلوة والسلام څخه چې وروسته چا پوښتنه وکړه عليه الصلوة والسلام ورته وويل هم الذين لايسترقون (چې د چا څخه طلب د دم، تعويذ و ځانښت نه کوي) ولا يكتوون (او داغ نه ايږدي د يوې ناجوړې له کبله په يو ځای کي د بدن) ولا يتطيرون (او نه بد فالي په يو شي کوي) وعلى ربهم يتوكلون (خاص پر خداى ﷻ يې توکل وي).

دروېش وايي: چې مظهري رح سوال کړی دی چې خداى ﷻ د متقين کاملين حال بيان کړی لکه انبياً وغيرهم يعني په هغه آيت کي يوم نحشر المتقين آه، او د مجرمين ای الكافرين حال يې هم بيان کړی يعني بقوله "ونسوق" الخ، او د عامو مؤمنانو من الصالحين والمذنبين حال يې نه کړی بيان، بيا مظهري ددې په څواب کي يو اوږد بيان کړی دی، دروېش وايي چې هيڅ مفسر و درېيمي ډلې ته اشاره نه ده کړې او حق هم دغه ده چې تقسيم د قرآن حاضر دی په دليل ددې چې متقين چې مقابل د مجرمين راغله چې مراد له مجرمين څخه کافران دي واعترف به المظهري رح ايضاً، نو مراد له متقين څخه متقين عن الكفر والشرک چې ټولو مؤمنانو ته شامل دي من الانبيا عليهم السلام والصالحين الكاملين وعامة المؤمنين والمذنبين غاية ما في الباب په درجاتو کي يې فرق ډېر وي حتى چې بعض ګناه کاره مؤمنان که څه هم دوزخ ته ولاړ سي لکن اخير الامر په سبب د ايمان له وافدينو څخه د رحمن ګرځي كما لايخفى، او مظهري چې هر څو اوږد بيان کړی دی تفاوت د درجاتو يې بيان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی وهو مسلم عند الکل وثابت بالاجماع لکن خبره دلته په دې کې ده چې مقابل د کافر کما هو معنی المجرمین چې متقي راسي مراد ځندې متقي من الشرک والکفر دی من کان سواً کان تقواه في الدرجة الاعلی او الوسطی او الاسفل لکه عامة المؤمنین چې په دوی کې مذنبین هم داخل دي او درې سره وفد الرحمن دي اما اولاً او اخیراً مع تفاوت درجاتهم في القرب الی الله ﷻ، مثال یې دادی لکه یو سړی چې عمومي مېلمستیا جوړه کړي په هغه کې امیران خلګ راوبلل سي او د سړي خپل نژدې قریبان هم راوغوښتل سي او مساکین بېګانه هم دعوت سي په دې مېلمستیا کې چاته د پر اعلی ترین خواړه ایږدي او په د پرو معززو ځایو کې یې کښېنولي وي، او بعضو ته اوسط خواړه په اوسط ځای کې ورته کښېنسول سي او بعضو ته ادنی خواړه ورکړل سي، د قصر د مهمان نواز په کښته اوطاقو کې د دوی ورکړل سي او سره د دې چې خلګ خو ټوله د فلاني مېلمانه دي والله اعلم.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾

او وایي کافران چې خدای ﷻ د ځان لپاره ولد اخستی دی. نصاری وایي چې عیسی علیه السلام ابن الله دی. او یهودان وایي چې عزیر علیه السلام ابن الله دی او بعض مشرکین د مکې وایي چې ملائکه بنات الله دي نعوذ بالله من ذالک، قال الله ﷻ.

لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا ﴿۸۹﴾

تاسي راتګ وکړی یعني عقیده مو وکړه او وه مو وایه یو شی اد.

پوه سه: چې د "اد" معنی العجب والامر الفظیع والمنکر، په قاموس کې وایيای فعلتم فعلاً منکراً شدیداً آه.

تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾

قریب ده چې اسمانونه دي سره څیري سي (التفطر بالفارسیة شگافته شدن ددې خبرې د بدی په سبب یعني قول الولد للرحمن) او ودي ترپړي غرونه.

پوه سه: چې "هداً" مصدر مؤکد دی د افعل محذوف چې حال دی له جبالو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه ای حال کون الجبال تهد هداً ای تکسر کسراً عظیماً وبالفارسیة پاره پاره گردند. او بعض مفسرین وایي چي یتفترن چي اسمانونه دي پر دوی راوڼږیږي وتنشق الارض په مځکه کي دي دوی خسف سي، وتخر الجبال" او غرونه دي پر دوی راوڼږي او دوی دي تر لاندي سي.

أَن دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾

له دي سببه چي دوی خدای ﷻ لره ولد ووایه چي دا دډیر خبیث او درونډ قول دی او ناوړه خبره ده، قال ابن عباس وکعب ﷺ فزعت من هذا القول السموات والارض والجبال وجميع الخلائق الا الثقلين ای الانس والجن وغضبت الملائكة وسعرت الجهنم حين قالوا ولداً لله، او بعض مفسرین وایي ان هول هذه الكلمة وعظمها بحيث لولا حلم الله تخرب العالم وبدد قوائمه غضباً على من تفوه بهذا.... ابیات:

دا عیبونه چي پر خدای ویل کړي
وړ د دې چي اسمانونه پرونړیږي
دا درواغ چي پر خدای پاک باندي څوک وایي
مناسب ورسره داده چي په مځکه کي ښخیږي
ده واجب چي یو ممکن څوک ولد بولي
وړ یې داده چي لوی غر پرونړیږي

وَمَا يَنبَغِي لِلرَّحْمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾

پوه سه: چي دا جمله حال ده له فاعل څخه د "قالوا" ای قالوا ذالک والحال انه لاینبغي ای لایلیق لعلو شانه اتخاذ الولد لانه نقص بالاضافة اليه، او خدای ﷻ منزه دی له نقائصو څخه او دغه رنګه د ما لایلیق به.

إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾

نه دی هیڅ شی په اسمانو کي لکه ملائکه او نه په مځکه کي من الثقلین ای ما منهم احد کلمه د "ان" نافیه ده لکه "ما" او لفظ د "کل" مبتدأ ده خبر یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آتی دی او کلمه د من موصوفه جار او مجرور یې صفت دی "الا اتی الرحمن عبداً" دا استثناً مفرغ ده. والمعنی نه دی هیڅ شی مګر راتلونکی دی په عبودیت و رحمن ته ای الا هو مخلوق مملوک له تعالی ویأوی الیه بالعبودیة والانقیاد والولد لایکون عبداً للاب، ولذالک من ملک ابنه عتق علیه.

لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾

په تحقیق خدای ﷻ پر ټوله مخلوق احاطه کړې ده چې دده له علم او قدرت څخه هیڅ شی نه دی خارج (یعنې څه چې مقدر دي هغه وده ته معلوم دي وبالعکس) او خدای ﷻ ته شمیر د ټولو شیانو او د هغو د احوالو او افعالو هم شمیر معلوم دی.

وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾

پوه سه: چې ضمیر د کلهم راجع دی و ذوی العقول ته د مخلوق، ولې ورتګ یوم القیامة لپاره د باز پرس دی، او دا خاص په ذوی العقول پوري دي، والمعنی الآیة هر یو له معبودینو څخه لکه عیسی، عزیر او ملائکه علیهم السلام او له عابدینو څخه ددوی، دوی به راځي و خدای ﷻ ته تنها.

فائده: لفظ د کل چې مضاف سي و معرفه ته که ضمیر وي نحو کلهم او که اسم ظاهر وي نحو کل الناس یجوز عود الضمیر الیه مفرداً نحو کلکم ذاهب مراعاتاً للفظه او عود د ضمیر جمع هم ورته روا دی باعتبار معناه نحو کلکم ذاهبون، نو دا سوال نه وارد ږږي چې کلهم خو جمع وُ او "فرداً" چې لفظ مفرد دی خبر یې راغلی، وحاصل نفي الولد عنه تعالی بهذه الآیة دادی چې ټوله اتباع او انصار چې د اتباعو د نصرت امید ورته وُ خدای ﷻ ته منفرد او تنها راځي چې محتاج وکومک او رحمت د خدای ﷻ به وي فکیف ینجانه ویناسبه احد حتی یتخذه ولداً ویشرکه تعالی کالولد في ملک الوالد تعالی الله عما یقول الظالمون علواً وفي الحدیث القدسي الصحیح کذبني ابن آدم "ای سبني ابن آدم الی الکذب" ولم یکن له ذالک (او ده لره نه بنایي چې نسبت د کذب ماته کوي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وشتمني ولم يكن له ذالك (او ده ته دا نه ښايېده) اما تكذيبه اياي فقوله لن يعيدني كما بدأني (تكذيب زما داده چې بني آدم يعني بعضهم لكه مشركان دا وايي چې خداى ما بيرته نسي راګرځولاى يعني په آخرت كې لكه چې ابتدا يې زه پيدا كړى يم دا ولي تكذيب دى خداى ﷻ خو وايي چې په آخرت كې زه تيوله انسانان بيرته پيدا كوم) وليس اول الخلق باهون علي (او سره ددې چې نه دى اول پيدا كول اسانه پرما يعني تر وروسته پيدا كولو بلكې دوارې ماته يو شى دي) واما شتمه اياى فقوله اتخذ الله ولداً (ښكنځل يې دادي چې خداى ﷻ لره ولد سته) وانا الاحد اى المنفرد بصفات الكمال والمنزه عن النقص والزوال الصمد يعني المقصود اليه في كل الحوائج الذي لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفواً احد.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾

په تحقيق هغه انسانان چې دوى ايمان راوړى وي او عمل يې كړى دي يعني اعمال د زړه او د جوارحو چې د شريعت سره برابر وي، نو تيوله دين محمدي تر دې لاندې داخل سو.

پوه سه: الذين سره د صله اسم ده ان دى او خبر يې دا قول د خداى ﷻ دى "سيجعل لهم الرحمن وداً" ژر دى چې خداى ﷻ به وګرځوي دوى لره محبت په زړو كې د مؤمنانو، يا معنى داده چې خداى ﷻ به محب ددوى سي.

دروبش وايي: چې دا آيت په شان كې د عبدالرحمن بن عوف ﷺ نازل سوى دى كه يې څه هم حكم عام دى، ابن جرير ؒ وايي چې عبدالرحمن بن عوف ﷺ چې هجرت مدينې منورې ته وكړى نو زړه يې خفه وُپر فراق د مكې د اتويو الانو منهم شيبة بن ربيعه وعتبة بن ربيعة وابي بن خلف چې كافران وه، نو ده ته په دې آيت كې خداى ﷻ تسلي وركړه او وعده يې ورسره وكړه چې ده ته به په بدل كې د كافرانو محبين او دوستان د مؤمنانو وركړي، او طبراني په اوسط كې وايي چې دا آيت په شان كې د علي ﷺ نازل سوى دى يعني يجعل الله محبته في قلوب المؤمنين كلهم سوى الكافرين، قال رسول الله ﷺ من كنت مولاه فعلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مولاه، که زه و چاته دوست یم علي به هم د هغه دوست وي رواه احمد وابن ماجه عن البراٴ ابن عازب ﷺ، وروى البخاري ومسلم من حديث ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذا احب الله عبداً قال لجبرئيل قد احب فلانًا فاحبه فيحبه جبرئيل بيا جبرئيل په اهل السموات کي اعلان وکړي چي خدای ﷻ فلانی سړی محبوب گرځولی دی تاسي هم محبت ورسره کوئ فيحبه اهل السماٴ ثم وضع له القبول في الارض يعني اهل الارض" هم په نظر د محبت ورته گورئ.

حکایت: يوسړي و عبد الله بن جعفر ؒ ته وويل چي فلانی سړی وايي چي زه ستاسره محبت لرم، زه دده رشتيا په څه شي معلوم کړم، عبد الله بن جعفر ورته وويل چي له خپل زړه څخه فتوی وغواړه، که تا په زړه کي دده سره محبت درلودی، نو دی رشتيا وايي يعني محبت درسره لري او که تا محبت نه ورسره درلودی، نو دی درواغ وايي دی هم محبت نه درسره لري يعني غوړه مالي درسره کوي، ومن هذا قيل:

وعلى القلوب من القلوب دلائل ..... بالود قبل تشاهد الاشباع

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾

آسانه مو گرځولی دی قرآن ستا پر ژبه ((فكلمة با بمعنى على او مراد له لسان څخه لغت عربي دی او سبب د اسانی هم داغه دی، وبالفارسية "پس جز اين نيست كه آسان گردانيد ام قرآن رابر زبان تو، زيرا كه بلغت تو است "لتبشر به" اى بالقرآن "المتقين" اى المتقين عن الشرک، د زړي معنا داده چي ورته ووايي چي په قرآن کي د اوامر د خدای ﷻ بيان مفصل سته، او د منهياتو کامل بيان سته، تاچي تاسي وروسته تر تقوى عن الشرک په هغه عمل وکړئ او امر يي پر ځای کړئ او له منهياتو څخه يي پرهېز وکړئ، او يا د زړي معنا داده چي په تقوى د شرک څخه د ابدي دوزخه خلاص ياست)) "وتنذر به قوما لدًا" او ته وېرووه په قرآن سره هغه قوم چي شديد الخصومة وي، چي اور د دوزخ يې مختار کړی تعصباً وعناداً وتكبراً سره د وضوح د حق په معجزاتو بيناتو سره.

دروښ وايي: چي د حصر معنا چي د انما څخه وفهمېدل داده چي قرآن ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددې لپاره پر تا نه دی نازل کړی چې ته د غم په درياب کې ځان ډوب کړه په سبب د عدم ايمان د قريشو بلکې ستا وظيفه زېرى کول دي او بېرول دي هغه تا پر ځای کړه والهداية بمشيته تعالى مجده دی.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ ؕ

کلمه د "کم" خبريه ده مفيد د کثرت ده يعنې ډېر موږ هلاک کړي دي دمخه تر کفارو د قريشو "من قرن" له اهل څخه د يوه قرن، په دې آيت کې تخويف دی د کفارو د قريشو او دلاوره کول دي د عليه الصلوة والسلام پر انذار د قريشو.

هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ۝۹۸ ع

آيا ته وينې "المخاطب هو النبي ﷺ او کل من هو اهل للخطاب" يعنې ته وينې په يوه له حواس خمسه وود هغو هلاک کړه سوو کفارو څخه يو څوک (والاستفهام للانکار يعنې نه يې وينې، وکلمة من الثانية لاستغراق النفي المفهوم من همزة الانکار) او يا ته اوري دوی لره يو صوت خفي، اصل ترکيب د رکز د خفاً لپاره دی، حسين کاشفي ؒ وايي چې يعنې چون عذاب ما بديشان فرود آمد متواصل شدند از ايشان نه شخص باقی ماند که کسی اورا به بيند ونه اواز برجای که کسی بشنود بلکه موکل قهر الهی باهيچ کس نه ساخت وهمه را بدست فنا دردام خمول ونسيان انداخت انتهى بعبارته البليغة، شيخ سعدي ؒ وايي:

بگو آنچه دانی سخن سودمند ..... وگر هيچ کس را نيايد پسند
که فردا پشيمان بر آرد خروش ..... که اوخ چرا حق نکردم بگوش
بگمراه گفتن نکو مير وی ..... گناه برد کست وجور قوی
مگو شهد شرين شکر فايقست ..... کسی را که سقونيا لايق است
چه خوش گفت يک روزدارو فروش ..... شفا بايدت دارو تلخ نوش

دروېش وايي: چې د خدای ﷻ په توفيق سره پوره سو تفسير د سورة مريم په وخت کې د څانښت د شنبې ورځ د ربيع الاول د مياشتې اوله سنه (۱۴۳۰) هجري قمري، اوس هم ان شاء الله تعالى تفسير د سورة "طه" شروع کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَخَمْسٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَثَلٰثُوْنَ اٰيَةً ثَمَانُ رُوْعَاتٍ

اللهم يسر على يد العبد الضعيف تفسير هذه السورة الجليلة بالصحة والعافية.

طٰهٰ ﴿۱﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿۲﴾

دروښ وايي: چې تفصيل د مقطعات قرآنيه وو په تفسير کې د سورة البقرة حتى الوسع سره بيان کړی دی، لکن په "طٰهٰ" کې اختلاف تر نورو مقطعاتو ډېر دی (۱) طٰهٰ د قرآن نوم دی (۲) نوم دی د سورت، نو پر دې دوه تقديره "طٰهٰ" مرفوع محلاً دی بحذف المبتدأ ای هذا قرآن او سورة (۳) "ط" ماخوذ ده له طاهر څخه او "ها" ماخوذ ده له هادي څخه چې نومان د خدای ﷻ دي، نو پر دې تقدير حرف ندأ ورسره محذوف دی والمعنى يا طاهر طهرنا من الذنوب يا هادي اهدنا الى صراط مستقيم (۴) "طٰهٰ" د عليه الصلوة والسلام له نومانو څخه دی مثل احمد وحامد وغير ذالک كما جاء في الحديث "قال عليه الصلوة والسلام انا محمد وانا احمد والفاتح والقاسم والحاشر والعاقب والماحي وطٰهٰ ويٰسٓ ويؤيد قول هذا البعض الخطاب في عليک، نو بيا هم حرف ندأ يې ورسره محذوف کړه مثل يا رسول الله يعني يا طٰهٰ افعل كذا (۵) مقاتل بن حيان ؒ وايي چې معنا د طٰهٰ طي الارض بقدميک يعني دوارې پښې پر مځکه ايږده د تهجد په لمانځه کې، په حديث کې د بزار او د ابن مردويه ؒ د علي ؓ داسې نقل راغلی دی چې څه وخت چې پر عليه الصلوة والسلام دا سورة نازل سو "يا ايها المزمل قم الليل الا قليلاً" نو عليه الصلوة والسلام به د احتياط له کبله تهجد شپه په قيام او لمانځه تېره کړه حتى چې پښې مبارکې يې وپرسېدلې من طول القيام، نو به يې يوه پښه پورته کړه چې يو ګړی هوسا سي، بيا به يې هغه پښه پر مځکه کښېښول هغه بله پښه به يې پورته کړه، نو جبرئيل ورته وويل طٰهٰ بقدميک پر صيغه د امر على الارض دوارې پښې پر مځکه ايږده يا محمد، نو پر دې تقدير اصل د طٰهٰ طأ وو چې د وطأ يطأ څخه جوړ دی، بيا يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

همزه ساکنه په هاً ساکنه بدل کړی نو طٰهٰ ځندي جوړ سو او پر صیغه د امر په یو قرائت کي راغلی هم دی (٦) ضحاک، مجاهد او عطاؒ وایي چي د "طٰهٰ" معنی یا رجل ده، او قتادهؒ وایي چي یا رجل یې په سریاني ژبه سره معنی ده، کلبيؒ وایي چي معنی یې یا انسان ده (٧) حسین کاشفيؒ وایي: یا "طا" طهارت دل اوست از غیر حق تعالی و "ها" هدایت اوست بقرب حق (٨) امام جعفر ﷺ وایي "طٰهٰ" قسم بطهارة اهل البیت کریمه "ویطهرکم تطهیراً" یاوطوبی او هاویة ای الجنة والنار ته یې اشاره ده (٩) په زاد المسیر کي وایي چي "ط" طیبه ته اشاره ده چي مدینه منوره ده، او "ها" و مکې ته اشاره ده چي په پای کي تا ده چي په وقف کي ها ګرځي، نو خدای ﷻ په دې دوو حرمینو قسم واخستی پر وروسته آیت.

دروښ وایي: چي نوري ترجمې هم په تفاسیرو کي لیدل کېږي اوس بیرته د آیت د ترجمې پر خوا.

موږ نه دی نازل کړی پر تا قرآن ددې لپاره چي ته ځان دومره ستړی کړې په عبادت کي د شپې کمامر، په قاموس کي وایي الشقاً الشدة والعسر، او جوهري په صحاح کي وایي چي مراد له شقاوة څخه دینوي و بدني دی وهو التعب یعني دېره ستړیا، او بیضاوي وایي الشقاً شائع بمعنی التعب آه.

إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ﴿٣﴾

"الا" استثناً منقطع ده یعني لکن تذکیراً للناس، او بعض علماً چي توهم کوي چي تذکرةً دی مفعول له وي د "انزلنا" هغه غلطه خبره ده ولي یو فعل و دوه مفعول له ته نه متعدي کېږي، یعني د انزلنا یو مفعول له "لتشقی" ذکر سو "لمن یخشی" د هغه چا لپاره چي په زړه کي خشیت یعني ډېره وي له عذاب څخه د خدای ﷻ او رقت وي یعني زړه نرم وي لکه دېره سخت نه وي لکه د قریشو د کفارو.

تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالسَّمَاوَاتِ الْعُلَىٰ ﴿٤﴾

ای نزل تنزیلاً، نو تنزیلاً مفعول مطلق د فعل محذوف دی، له جانب څخه د هغه چا یعني چي رب العالمین دی چي پیدا کړې یې ده محکمه او اسمانونه چي لوړ دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د اسمانو او مځکي تخصيص يې په ذکر سره وکړی، ولي چې دا دوه قوام د ټوله عالم دي او مځکه تر اسمانو د مخه کړه يا لپاره د رعايه د فاصله يعنې د اخير د آيتو يا ددې سببه چې مځکه وحس ته د بشر نژدې وه تر اسمانو، او علی جمع د علیا ده چې مؤنث د اعلی دی.

اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ۝

دروښ وايي: چې دا آيت په سورت يونس کې هم راغلی دی له متشابهاتو څخه د قرآن دی، عرش په لغت کې سرير الملک والاستوا الاستقرار، مراد دلته استيلاً او غلبه ده والاستيلاً کناية عن الملک ولي چې استيلاً د توابعو څخه د ملک ده، نو لازم يې ذکر کړی مراد ځندې ملزوم دی، په عرف کې د عربو وايي چې استوی فلان علی سرير الملک علی قصد الاخبار عن حاله بانه ملک وان لم يقعد علی السيرير المعهود اصلاً، بعض محققان وايي چې زمونږ ايمان دی چې خدای ﷻ لره مکان نسته والا لزم قدم المکان، او دلائل عقليه او نقليه پر دې متفق دي چې لاقديم الا الله وانه تعالی لم يرد في القرآن من الاستوا الاستقرار والجلوس لانه يستلزم جسميته تعالی بلکې مراد د خدای ﷻ بل شی دی او مونږ په تعيين د هغې ځان نه مشغولوو خوفاً من الخطا وتفويض علم المتشابهات الی الله ﷻ کما هو رأی من وقف علی اسم الجلالة ومايعلم تأويله الا الله وعلی هذا المذهب اکثر السلف. امام احمد امام مالک رح الاستوا معلوم (ای ورد في القرآن) والکيفية مجهولة والبحث عنها بدعة آه په احاديثو شريفه وو کې راغلي دي چې يو سړي د دوو متشابه آيتو پوښتنه د امير المؤمنين عمر رضی الله عنه څخه وکړه، نو امير المؤمنين رض هغه سړی په دره ووواهه، او له دې قسمه څخه دی "کل شئ هالک الا وجهه، يد الله فوق ايديهم" وما جا في الحديث الصحيح ان جهنم يقول يوم القيامة حين يقال لها هل امتلئت فتقول هل من مزيد حتی يضع تعالی قدمه عليها، فتقول قط قط آه، روح البيان وايي تعالی الله علواً کبيراً عما يقول الظالمون من المجسمة وغيرهم چې هغه خدای جسم بولي او هغه ته مکان وايي، او آيات وارده متشابهة او احاديث شريفه پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظاهره معنی حمل کوي، شیخ اکبر محي الدین ابن عربي قدس سره درفتوحات مکیه چنین فرموده که استوا خداوند درقرآنست، ومراد بدین ایمانست، تاویل نجویم که تاویل درین باب طغیانست بظاهر قبول کنیم وبباطن تسلیم که این اعتقاد سفیان است (ای سفیان ثوري ؒ) اما میدانم که خداوند نه محتاج مکان است ونه عرش بردارنده اوست، که اوست بردارنده مکان (یعني خالق مکان) ونگه دارنده عرش انتهی بنقل روح البیان.

لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ ۝٦

خدای ﷻ لره دي ملکًا وخلقًا چي په اسمانو کي من الملائکة والکواکب والانهار، او چي په مځکه کي من الجبال والانهار والاشجار والحیوانات والمعادن والجن والانس والشیاطین والملائکة والدقائق، او هغه شیان چي لاندي دي تر خاک نمناک، بغوي ؒ وایي قال الضحاک ؒ یعني ماورا الثری من شئ، حسین کاشفي ؒ وایي زمین بردوش فرشته است وقدمین فرشته بر صخره ایست، وسخره برشاخ گاوی وقوائم گاو برپشت ماهی از حوض کوثر وماهی ثابت است بر بحر، وبحر بر جهنم، وجهنم بر ریح، وریح بر حجابي از ظلمت وآن حجاب بر ثری، وعلم اهل اسمان وزمین تا ثری بیش نرسد، وما تحت الثری جز حق سبحانه تعالی نداند.

دروښ وایي: چي ومثل هذا البیان انما یدرک بالنقل ولیس للعقل الیه سبیل.

دروښ وایي: چي نژدې و بیان ته د کاشفي چي مظهري او روح البیان دواړو راوړی دی چي منقول له ابن عباس ﷺ څخه دی، دی وایي چي مځکي تولي پر شا د ماهي دي او ماهی پر یو دریاب دی. چي سر د ماهي ولکی د ماهي لاندي تر عرش سره جفتېږي او دریاب پر صخره دی خضرا. او شین والی د دغې صخرې څخه دی او دا هغه صخره ده چي په سورة لقمان کي خدای ﷻ ذکر کړی فتکن في صخرة والصخرة علی قرن ثور" د غوایي پر ښکر او غوایي پر ثری ولاړ دی، ولایعلم تحت الثری الا الله ﷻ وذالک الثور فاتح فاه" نو هغه وخت چي خدای پاک ګرده دریابونه سره یو دریاب وګرځوي دا تولـه د غوایي په نس کي توی سي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مځکه وچه پاته سي، دروېش وايي ولا يعلم جنود ربک الا هو.

وَإِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَإِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى ۝٧

پوه سه: چې قاضي بيضاوي ددې آيت داسي ترجمه کړې ده که ته يا محمد ﷺ او يا "کل من يصلح للخطاب فاعلم انه غني عن جهرک فانه يعلم السر واخفى" ددې معنى داده چې اصل جزاً د ان محذوفه ده وهو قوله فاعلم آه، او "فانه يعلم آه دليل د محذوفي جزا دی په ځای کې يې د جزا راوړی دی،

دروېش وايي: چې مراد له جهر څخه په آيت کې جهر په ذکر د خدای ﷻ دی يا په دعا سره،

پوه سه: چې حسن بصري په نقل د بغوي ؒ وايي چې مراد د سر دادی چې يو سړی بل ته پټه خبره وکړي او اخفى داده چې په خپل زړه کې يې سائلې وي، او د صوفيه په اصطلاح خصوصاً د نقشبنديه په اصطلاح سره ذکر خفي دی په ژبه سره او اخفى ذکر د لطائفه دی چې ژبه دخل نه پکښې لري صرف او صرف په تصور سره الله يا لا اله الا الله پر لطائفو وايي، چنانچه شاه نقشبند ؒ وايي:

لب به بند وچشم بند وگوش بند ..... گر نه ديدی سر حق برما بخند

وتفصيل هذا الذكر واللطائف في كتب النقشبندية ؒ، او ابن عباس ؓ او سعيد بن جبير ؒ وايي السر ماتسر في نفسک واخفى من السر ما يلقى الله في قلبک من بعد ولا تعلم انه سيحدث به لانک تعلم ماتسربه اليوم ولا تعلم ماتسر به غداً والله يعلم ما اسرت به اليوم وما تسر به غداً. او مجاهد ؒ وايي السر ماتسرون به من الناس واخفى الوسوسة، او علي بن طلحة ؒ وايي ما اسر به ابن آدم في نفسه، واخفى ما خفي عليه مما هو فاعله قبل ان يعمله، وقيل السر العزيمة على الفعل واخفى ما يخطر على القلب قبل العزيمة وقيل غير ذالک.

پوښتنه: "يعلم" خو مضارع ده، نو ددې معنى داده چې خدای ﷻ پر حالي او استقبالي شيانو علم لري فقط او که څرنګه؟

ځواب: په محاوراتو کې د عربو داسي وايي فلان يحسن الى الفقراً او مراد ددوی نه حال وي او نه استقبال، بلکې مراد ددوی وجود الاحسان منه في جميع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الازمنة. ومنه قوله تعالى "يعلم السر واخفى" والمراد ان علم السر واخفى دائم مستمر، ولي چې علم د خداى ﷻ منزه دى د تقييد په زمانه پورې لانه تعالى عالم في الازل بجميع الاشياء، فالتغير عند اهل السنة والجماعة في المعلوم بالماضي والحال والاستقبال لا على علمه تعالى عن الحدوث في الذات والصفات فافهم.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۝

نسته شايان او مستحق د عبادت بهله دد (لفظ "الله" مبتدا دى "لا اله الا هو" يې خبر دى) دد لره دي ښائسته او زيبا نومان چې پر ټولو اسماؤ کې په حسن کې بالا دي لدلالتها على المعاني هي اشرف المعاني وافضلها واعتبار حسن اللفظ بحسن المعاني.

پوه سه: چې حسنى تانيث د احسن دى، قال الامام الرازي ؒ في التفسير الكبير چې علماً وايي چې د خداى پاک څلور زره نومان دي درې زره د هغو لايعلمها الا الله والانبياء. پاته نو زر (۱۰۰۰) سوه، هغه درې سوه (۳۰۰) په تورات کې دي او درې سوه (۳۰۰) په انجيل کې دي او درې سوه (۳۰۰) په زبور کې دي او سل (۱۰۰) نومان يې په قرآن عظيم الشان کې دي چې نهه نيوي يې ښکاره او معلوم دي او يو نوم چې اسم اعظم دى په حجاب کې د استتار دى "من احصاها" که چا دا نهه نيوي نومان په ورځ کې ورد وګرځول دخل الجنة انتهى قول الامام ؒ.

دروښ وايي: چې معاني ددې اسماء الحسنى امام همام الغزالي قدس سره په شرح کې د اسماء الحسنى دهر ښه بيان کړې ده.

مسئله: بايد مسلمان پر خپلو اولادو باندې ښه ښه نومان ايږدي وفي الحديث اذا بعثتم الي رجلاً فابعثوا حسن الوجه و حسن الاسم، وفي الحديث اطلبوا الحوائج عند حسان الوجوه" ولي که حاجت ستا پر ځاى کړي په ښه ورين تندي يې پر ځاى کوي، او که حاجت مو نه کړي اجراً په ښه قول جواب در کوي، په يوه روايت کې راغلي دي چې يو صالح عالم او حکيم ته دوه کسه ورغله چې موږ ته وصيت وکړه يو حسن الوجه او بل قبيح الوجه ؤ، حکيم اول حسن الوجه ته وويل چې ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حسن يې قبيح کار مه کوه، او قبيح ته يې وويل که ته قبيح کار وکړې لاپه دي قبيح زياته سي. دروېش وايي چې حکيم په حقيقت کې دوارو ته نه نصيحت وکړي.

وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ۝

آيا تاته يا محمد (ﷺ) رسېدلې ده قصه د موسى، دا استفهام لپاره د تقرير يعني قد اتاک تلک القصة.

پوه سه: چې دا بيان د قصې د موسى عطف دی پر ماقبل بيان د نبوت د عليه الصلوة والسلام يعني ما انزلنا عليک القرآن آه من عطف القصة، په دې قصه کې عليه الصلوة والسلام باعثه کول دي پر صبر کولو په سخت حالاتو کې د نبوت لکه موسى عليه السلام چې تحمل کړی ؤ.

تنبيه: په صحيح رواياتو کې په ثبوت رسېدلې ده چې څه وخت چې موسى د خپل خسر شعيب عليه السلام څخه رخصت اخستی يعني د رخصت وخت يې نژدې سو، نو موسى عليه السلام خپلې کور والا ته چې د شعيب عليه السلام لور وه داسې وويل چې ته دې خپل پلار ته ووايه چې موږ ته يو ځوپسونه او هېرې راکړه او شپانه هم راسره کړي چې زموږ دا پسونه پيايي، چونکه د شعيب عليه السلام لور اميدواره هم وه نو موسى عليه السلام ورته وويل چې پلار ته دې ووايه چې يوه خادمه هم درکړي يعني ددې لپاره که چېرې د لارې په اوږدو کې د زېږېدو واقعه پېښه سي هغه به ستا خدمت وکړي د وضع الحمل په سخت حال کې. د موسى عليه السلام کور والا هم خپل دا خواهشات پلار ته بيان کړه، نو پلار يې هغه غوښتنې وړسوره کړې، نو عدد د سفر کونکو موسى عليه السلام کور والا، شپانه او خادمه دغه څلور نفره.

پوه سه: شعيب عليه السلام خو لس کاله په موسى عليه السلام پسونه وپول او تر موسى دمخه دده لويو د پسو پول پر غاړه درلوده، اوس شعيب عليه السلام په خپله وعده وفا وکړه، نو موسى او دده کور والا يې سره يو ځای کړه يعني واده يې ورکړی تر هغه وروسته پېنځه کاله نور موسى عليه السلام د شعيب عليه السلام په کور کې پاته سو چې صده د عصر يې څلوېښت کاله ته ورسېده رخصت يې ځندي واخستی، نو د موسى عليه السلام د اول ورتګ څخه پېنځلس کاله تېر سوه. شعيب عليه السلام خو دمخه لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مالداري درلوده، نو د پینځلسو کالو په دوران کي خدای ﷻ ده ته لوی مالي قدرت ورکړی حتی چي د لور سره یې مذکوره کومک وکړی، او دا احتمال هم سته چي شعیب علیه السلام په لوړو شپنې کوله زامن یې درلوده لکن کوچني وه. اوس چي پینځلس کاله تېر سوه زامن یې ځوانان سوه له شعیب علیه السلام څخه یې بلارد کور ساتنې او د پسو د څړېدلو له اوږو څخه واوښتی.

إِذْ رَأَىٰ نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا

وه یې ویل و اهل ته خپل چي تاسي دلې اوسېږئ په ماپسي مه راځئ، ما په سترګو ولیدی اور.

دروښ وایي: چي په شرح المشارق کي وایي چي الاهل یفسر بالازواج والاولاد والاقارب والعبید والاماء والاصحاب، مظهري رح وایي لامرئته والرفقة آه. دا اشاره اجمالي وه تفصیل چي فقیر بیان کړی.

دروښ وایي: چي په هغه تفصیل او قصه چي ما بیان کړه دا سوال دفع سو چي دده سره خو یوه ماینه ورسره وه. نو امر د "امکثوا" چي جمع ده و چاته دی؟ باید امکثي یې ویلی وای فافهم.

لَّعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ۝

شاید چي زه راوړم تاسي ته یوه شغله د لرګي په سر کي (د اور سکروټه) چي د لوی اور څخه به یې راواخلم، او یا به زه پیدا کړم پر اور باندې په راټول سوو خلګو کي لارښوونکی د لاري، راوي د قصې وایي چي د موسی علیه السلام څخه لار هم ورکه سوې وه، او کلمه د "او" په ظن کي د موسی لپاره د منع الخلود ده، ولي جمع خو یې روا ده.

دروښ وایي: چي په بل ځای کي د قرآن عزیز داسي راغلي دي "لعلکم تصطلون" شاید چي تاسي به ځانونه په تاوده کړئ، یعني هغه شعله چي زه یې راوړم نور بتي به پرواچوو تاسي به ځانونه په تاوده کړئ. راوي وایي چي په دغه شپه ډېر یخ وو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: موسی علیه السلام ولي لعلي ووايه. داسي يې نه وويل آتيكم، له دې سببه چې دده يقين نه ؤ پر وفا بالعهد سره، وهذا شان الانبيا عليهم السلام.

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ يَٰمُوسَىٰٓ ﴿١١﴾

چې ورغلی موسی (علیه السلام) د اور و ځای ته، نعره وکړل سوه یا موسی، بغوي رح وايي چې موسی علیه السلام چې هغه ځای ته ورغلی یوه شنه درخته ولاړه وه شاوخوا اور پر راتاؤ سوی ؤ لکه یو نادر روښانه شی چې نه ښین والی د درختي د اور وه رناته تاوان رسوي او نه ضوء د اور درختي ته تاوان رساوه. راوي وايي چې موسی علیه السلام د تعجب په دریاب کې حیران سو او لاسونه يې پر سترګو ونیول.

پوه سه: چې اکثره مفسرین وايي چې موسی علیه السلام چې رنا ولیدل هغه اور نه ؤ بلکې نور ؤ صرف دده ګمان د اور پر کېدی او دوی وايي چې دا نور د رب جل وعلی ؤ وهو قول ابن عباس وعکرمه رضي الله عنهما وغیرهما، او سعید بن جبیر رح وايي هي النار بعینها وهي احد عجائب قدرته تعالی کما مر من قول البغوي آنفًا، موسی علیه السلام د اور پر شاوخوا هیڅ بني آدم ونه لیدی لکه دده چې ګمان ؤ چې وه يې ویل او اجد علی النار هدًی.

إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ

په تحقیق زه ستا خدای جل جلاله یم. بغوي رح وايي چې وهب بن منبه رح وايي "نودي من الشجرة یا موسی" فاجاب سریعًا زه نه پوهېږم څوک ماته ناري وهي او داسي يې وويل چې اواز دي اورم ولا ادري مکانک فاین انت؟ قال انا فوقک ومعک وامامک وخلفک واقرب الیک من نفسک، نو موسی علیه السلام پوه سو چې داسي هیئت نه بنايي مګر د خدای جل جلاله سره، نو يې یقین سو چې خبري کونکي خدای جل جلاله دی، او موسی علیه السلام دا خبري د شپږو جهتو څخه اوریدلې او په ټولو اندامو نه یې وايي په غوږو، دا بل دلیل سو و موسی علیه السلام ته چې خبري کونکی رب عزوجل دی، نو هغه وسوسه د ابلیس هم له ده څخه دفعه سوه چې شاید خبري کونکی ښه شیطان وي کما وسوس الیه قاله البیضاوي رح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ

وکاږه چوتي دي، بین المفسرون رحمهم الله دا امر د خلع نعلین لپاره د دا ډیل سببو وو (۱) بعض لکه بغوي رح د ابن مسعود رضی الله عنه څخه یې روایت کړی دی چې د موسی علیه السلام چوتي د خره د پوست وې غیر مدبوغ انتهی. نو خطاب پر دې تقدیر د تأدیب دی. لکن حسین کاشفي رح وایي اصح آن است که نعلین از پوست بقر بوده طاهر تیین آه (۲) بعض مفسرین رح وایي چې لځي پښې ادب او تواضع پد لوی دربار کې لکه د مناجات د رب العالمین. ځکه بشر الحافي رح او نور صالحان به لځي پښې ګرځېدل ..... بیت:

ګنجی که زمین و اسمان طالب اوست ... چون درنګری برهنه پایان دارند

(۴) مجاهد او عکرمه رح وایي چې ددې سببه په خلع النعلین موسی علیه السلام امر کړی چې دده په پښو پوري خاوري د ارض مقدسه ومونښلي فتناله برکتها په هر صورت موسی علیه السلام چوتي وکښلې او د شپلې هغه خوا ته یې وغورځولې.

اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ۝

په تحقیق ته په پاکه شپله کې یې چې طوی یې نوم دی، نو طوی عطف بیان دی د واد المقدس روح البیان. او په قاموس کې وایي چې مطلق وادي هغه خلاص فارغه ځای دی په منځ کې د غرو یا د غونډیو. او طوی د یو شپلې نوم دی په شام کې، نو که یې څوک په تنوین وایي، نو منصرف دی په تاویل د مکان، او که یې څوک بې تنوینه وایي، نو په تاویل البقعة دی غیرُ منصرف للعلمیة والتانیث.

قانون: په نومانو کې د بلدانو او د قریو انصراف او عدم انصراف دواړه روا دي بالجهتین المذکورتین فافهم.

وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ۝

او ته ما برګزیده کړې یعني للنبوة والرسالة. نو غوږ ونسه هغه څه ته چې تاته یې وحي کړل کېږي یعني زما له خوا څخه یعني من الامر والنهي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي کلمه د لام متعلق ده په فاستمع پوري او لام زائد دی په مفعول کي لان استمع متعدي بنفسه کما في ردف لکم، او مظهري ؒ وایي چي متعلق دی په دواړو مفعولو پوري یعني اخترتک واستمع علی التنازع آه ولا یخفی مافیه فتأمل.

إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ﴿١٤﴾

په تحقیق سره زه خدای یم نسته مستحق د عبادت بیله ما، دا بیان د اصل الاصول دی چي توحید دی. او زما عبادت کوه خاصةً لاغیري دا کمال د عمل دی یعني د یوه خدای ﷻ عبادت کول.

پوه سه: چي دا آیت بیان دی د مایوحی "واقم الصلوة" او سم کوه لمونځ.

پوښتنه: په "فاعبدني" کي خو لمونځ هم داخل ؤ، نو د جلا راوړلو یې څه فائده؟

ځواب: تخصیص بعد التعمیم لکمال الاهتمام بها وعلو منزلتها في سائر العبادات. قال رسول الله ﷺ "الصلوة عماد الدین" لمونځ ستن او میل دی د دین. رواه ابو نعیم والبیهقي، وفي روایة فمن اقامها فقد امام الدین ومن هدمها فقد هدم الدین، وفي روایة عن علي ؓ الصلوة عماد الایمان، وفي روایة عن انس ؓ الصلوة نور الایمان، وروی البخاري ومسلم عن ابن مسعود ؓ ده وویل چي ما سوال وکړی د آن حضرت ﷺ څخه ای الاعمال احب الی الله قال الصلوة. او مسلم له جابر ؓ څخه روایت کړی دی چي رسول الله ﷺ وویل بین العبد والکفر ترک الصلوة، او احمد، بیهقي او دارمي له عبد الله بن عمرو ابن العاص ؓ روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام یوه ورځ د لمانځه بیان کاوه او وه یې ویل من حافظ علیها (کې دوام وکړی پر لمانځه) کانت له نوراً او برهانًا ونجاةً یوم القیامة ومن لم یحافظ علیها لم یکن له نور والبرهان ولانجاة یوم القیامة وکان یوم القیامة مع قارون وفرعون وهامان وابي بن خلف.

دروښ وایي: چي دا حدیث یا محمول دی چي تهاونًا لمونځ نه کوي یا محمول دی پر غایت زجر پر ترک د لمانځه، والی ظاهر هذه الاحادیث ذهب احمد بن حنبل ؒ ان من ترک الصلوة متعمداً فقد کفر، او بل تخصیص د لمانځه په ذکر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره دادی چي فقها عليهم السلام وايي چي لمونځ حسن لذاته دی بخلاف اکثر العبادات فان الصوم حسن لاجل قهر النفس الامارة بالسوء، او زکوة لپاره د دفع د حاجت د فقير، او حج لتعظيم بيت الله الشريف ونحو ذالک.

"لذکري" لپاره د زکر زما، ولي چي د لمانځه تولـه اجزا ذکر د خدای تعالی دي او شغل دی د خدای ﷻ په زړه کي چي حضور قلبي پر ځای کوي، او په ژبه سره چي قرائت د قرآن دی او تسبيحات د رکوع او سجدې او په قعده کي التحيات ويل دي او په اعضاؤ سره يعني قيام، کوع او سجده ده.

دروبش وايي: چي لمونځ پر شرائطو او ارکانو او سنتو او مستحباتو مشتمل وي او په حضور قلبي وي، د داسي لمانځه په باره کي خدای پاک وايي "ان الصلوة تنهى عن الفحشآ والمنكر الآية" او بعض يې داسي ترجمه کوي لان اذکرک بالرحمة والثنآ، روى البخاري و مسلم عن ابي هريرة رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ چي خدای ﷻ وايي "انا عند ظن عبدي بي وانا معه اذا ذكرني فان ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي وان ذكرني في ملأ ذكرته في ملأ خير منه" ژباړه: عليه الصلوة والسلام وويل چي خدای ﷻ وايي چي زه پر ظن د بنده يم پر ما باندي او زه دده سره ملګری يم يعني بلا کيف او يا په علم سره پر حال دده چي دی ما ذکر کوي، نو که يې زه ذکر کړم په زړه کي يا معنی دا چي ده يوازي زما ذکر کاوه زه به يې هم په نفس کي ذکر کړم.

دروبش وايي: چي اطلاق د نفس پر خدای ﷻ باندي مشاکلة دی لقوله في نفسه آه، مثل جزا سيئة سيئة بمثلها، يا معنی داده چي زه به يې هم تنها ذکر کړم يعني بېله جماعته د ملکو کمايدل عليه مابعده، يعنې که يې زه ذکر کړم په جماعت کي د خلګو زه به هغه سړی ذکر کړم په داسي جماعت کي چي د هغه تر جماعت به ښه وي يعني في جماعة الملائكة الكرام.

دروبش وايي: چي روح البيان فقط اوله معنی راوړې ده، او مظهري او روح المعاني دا معنی هم راوړې ده چي "لذکری" بيان د علت د اقيم الصلوة نه دی بلکي قيد دی د "اقيم الصلوة" لپاره، والمعنی لمونځ کوه خاص الخاص زما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د ذکر لپاره، ریا مه په کوه او غیر له ما څخه بل شی مه پکښي یادوه.

دروښ وایي: چي فرضي لمونځونه چي څوک کوي په نفس کولو کي خو یې ریا نسته. اما په هیئت کي یې د ریا امکان سته. یعني د خلګو په حضور کي په ښه طمانیت او مراعات د تعدیل الارکان لمونځ کوي او چي یوازي وي چابک چابک بېله مراعات د تعدیل الارکان لمونځ کوي. نو دې سړي لره د خلګو په حضور د لمانځه د هیئت ثواب خو نسته البته د اصل لمانځه غاړي یې خلاصي سوې. لکن په نوافلو لمونځو کي هم په اصل کي او هم په هیئت کي یې ریا کاري مهم ځای لري فتدبر، او بعض مفسرانو حذف د مضاف مختاره کړی یعني "اقم الصلوة لذکر صلوتي" یعني که د سړي لمونځ هېر وشو وخت چي یې ورپیاد سي ودې ګذاري لکه په حدیث کي د بخاري او مسلم چي راغلي دي په روایت د انس بن مالک رضی الله عنه قال رسول الله ﷺ من نسي صلوة او نام عنها فکفارتها ان یصلیها اذا ذکرها" وفي روایة لاکفارة لها الا ذالک ثم اورد علیه الصلوة والسلام دا آیت په دلیل کي قال الله تعالی "اقم الصلوة لذکري" ویؤیده ماجاء في قرائة لهذه الآیة "للذکری" فافهم یعني بدون الاضافة.

إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا

په تحقیق قیامت راتلونکی دی.

پوه سه: چي "ان الساعة آتیة" یا تعلیل د امر بالعبارة فالمعنی چي تاسي عبادت کوئ ولي چي ورځ د قیامت راتلونکي ده او د عبادت ثواب به هوري په رکړل سي، او یا جمله مستانفه د بیان فوائد العبادة "اکاد اخفیها" اخفش یې داسي ترجمه کړې ده اریده اخفیها ای اخفی وقتها یعني ترجمه اکادیه په اریده سره کړې ده، او بغوي وایي چي لفظ د "اکاد" زائده دی ومعنی الآیة اخفی وقتها آه. وفیه مافیه فتأمل، وفي الجلالین استرها للتعظیم والتهویل د لفظ اکاد صله انتهی ای زائدة.

دروښ وایي: چي فائده د اخفی یې داده چي خلګ هر وخت په حذر کي وي له قیامت څخه. لکه لفظ د عسی په بل آیت کي "قل عسی انیکون قریباً"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا تَسْعٰى ﴿۱۵﴾

تاچي جزاً ورکړه يعني په هغه ورځ کي د قيامت وه هر نفس ته يعني هر سړي ته جزاً د ما تسعى (په حذف د مضاف) يعني چي د عمل کړی وي په دنيا کي "ايماناً وطاعةً او کفراً ومعصيةً" والجزاً اما الجنة واما النار.

پوه سه: چي حرف جر متعلق په آتية پوري دی وما بينهما جمله معترضه ده او کلمه د ما يا مصدريه ده ای بسببها او يا موصوله بحذف العائد ای بعمل سعی فيه.

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا

نو تا دي منع نه کړي له ملاقات څخه د خدای ﷻ يا له ايمان څخه د اتيان الساعة يا عن اقامة الصلوة يا عمل للساعة) وعلى جميع الوجوه الضمير المونث راجع الى الساعة فافهم) هغه څوک چي ايمان نه لري پر ساعت.

فائده: ضمير مخاطبد يصدنک راجع دی و موسی ته، او کلمه د "من آ" فاعل د فعل دی، نو ظاهر د آيت على ماقال روح البيان وروح المعاني والمظهري والبيضاوي، نهی د کافر دی له صد څخه د موسی عليه السلام له ايمان څخه پر قيامت، او نهي په معنی کي د موسی عليه السلام دي ته قبول د قول د مانع عن الايمان بالساعة مه کوه. ددي مثال داسي دی لکه يو سړی چي پل ته ووايي لا ارينک هٰهنا چي په دې قول کي ظاهراً نهي د ځان دی له رؤيت څخه د مخاطب او په حقيقت کي نهي د مخاطب دي چي ته په ما ځان نه وينه فافهم.

پوه سه: چي مراد من لا يؤمن آه څخه کفار دي لکه فرعون وقومه القبط كما سيأتي عنقريب.

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ﴿۱۶﴾

"واتبع هواه" عطف دی پر "لا يؤمن" او متابعت کوي د خپلو خواهشاتو نفسيه وو او لذات فانيه وو او په عاقبت کي فکر نه وهي او پر جزاً د ورځي د قيامت ايمان نه لري "فتردى" او که يې فرضاً ته انصداد په صد سره وکړي نو ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به هلاک سي "فتردی" ځواب د نهي دی.

وَمَا تِلْكَ

پوه سه: چي کلمه د "ما" مرفوع محلاً ده مبتدأ ده او "تلک" په محل کي د رفع يې خبر دی، او کلمه د "تلک" په معنی د هذه ده او استفهام لپاره د تقریردی يعني چي موسی علیه السلام په لکړه وهلو سره وروسته عجائب د قدرت وويني چي مار سي نو دا به يې يقين سي چي دا معجزه ده په مقابل کي د منکر.

پوښتنه: که خدای ﷻ پاک ورته ويلي وای چي د کافرانو سره د مقابلې په وخت کي دا لکړه غورځوه مار کړې به، څه استحاله به لازمه سوې وای؟

ځواب: چي موسی علیه السلام دلته په کوه طور کي يعني وادی المقدس کي د لکړې مارو الی او بيرته د موسی علیه السلام را اخستل نه وای تجربه سوی، نو په وخت کي د مقابلې که مار سوی وای، موسی علیه السلام په خپله لاس نه سوای ورورلای يعني بيربدی به.

بِيَمِينِكَ يٰمُوسٰى ﴿١٧﴾

ای کائنة بيمينک" نو دا لفظ حال دی او عامل يې معنوي دی يعني معنی د اسم اشارة چي اشبه ده "مثل ما جأ في القرآن العزيز هذا بعلي شيخًا" فلا يرد ان الحال ما يبين حال الفاعل او المفعول به كما تقرر في النحو، که څه هم ندأ په لفظ د يٰموسٰی په سر کي د قصې تبره سوې وه لکن دلته چي مکرر راوړی د پاره د استيناس د ده.

پوه سه: چي تخصيص د يمين چي وکړی او داسي نه وويل سول "ما يدک مع انه اخصر لاحتمال انيکون في يده اليسری شيئًا آخر کالخاتم فيستبه الحال علی موسی علیه السلام.

قَالَ هِيَ عَصَايَ ۚ

موسی علیه السلام وويل چي دا زما لکړه ده حسين کاشفي رحمه الله وايي "ان عصا از چوب بهشت بود وسر آن دوشاخه بود ودر زير او سنان آهن بود طول او ده گز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بزراع موسی نامش علیق بود یا بتحه آدم ﷺ از بهشت آورده قرنا بعد قرن میراث بشعیب ﷺ رسیده بود و ازو بموسی ﷺ انتهی او بعض مفسرین وایي چي طول یي (۱۲) زراع وو بزراع موسی استودعها ملک من الملائکة بصورة انسان عند شعیب ﷺ انتهی.

اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ اُخْرٰى ﴿۱۸﴾

زه تکیه کوم پر دې لکړه یعني چي ستړی سم، او یا تر لوی لښتي غورځم او یا پسونه چي یو ځای په وښو کي ایله کړم زه پر دې تکیه وکړم ورته ولاړ یم، او زه بلګونه د درختو رارژوم په دې لکړه د پسو دپاره یعني د درختي بناخ په ووهم خزان بلګونه یې تری سي پسونه یې وخوري، او مالړه په دې لکړه کي نور مقاصد هم سته.

پوه سه: چي "اُخرٰی" صفت د مآرب دی مفرد چي راوړی او سره د دې چي مآرب خو جمع ده نو قیاس چي اخر ویل سوی وای چي جمع ده، لکن مآرب یې تاویل د جماعت کړی چي مفرد سي او د آیاتو پایونه به سره برابر سي چي په عربي یې رؤس الآی بولي د نورو مآرب د موسی ﷺ څه مراد وه (۱) پر اوږه یې ونسم په سر پوري یې مشکوله دابو یا زاد السفر وځړوم (۲) پر دوه بناخه د لکړي پټو واچوم پر ځان سایه جوړه کړم لکه سایوان (۳) د یو څا څخه چي اوبه را کاږم که تناو لنډ وو د لکړي مچک په کښي بند کړم اوپه په را وکاږم (۴) که یو درنده مي په پسو ګډ سي په دغه لکړه مقابله او جنګ ورسره کوم (۵) روح البیان وایي چي د شپې بې دغه دوو سرو دلکړي لکه څراغان رڼا بې کوله (۶) او دې لکړي به د ده خبري هم کولې انتهی والله اعلم.

پوښتنه: خدای ﷻ خو د موسی ﷺ څخه پوښتنه وکړه "وما تلک" اه نو د دې سوال د جواب خو فقط "هي عصاي" کافي وو نو موسی ﷺ دا نور پیان ولي په جواب کي راوړی؟

ځواب: اهل عشق وایي چي موسی ﷺ چي پر قدر د جواب بالا بود وکړی یعني تر عصای او نور بسط یې کلام ته ورکړی "التذاذ بکلام المحبوب" لکن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجملاً یې په آخیر کې دا وویل "ولي فیها مآرب اخری" هغه یې کړه "ادباً مع الله عز وجل وخوفاً من تطویل الکلام" قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چې د موسی علیه السلام دا خیال سو چې مقصود په سوال کې د رب العزة جل جلاله پوښتنه د ماهیت د ما في الیمین او بیان د منافعو د لکړې دی نو ځکه یې منافع د لکړې تفصیلاً او مجملاً ورته بیان کړه تا چې وروسته دا لکړه مار وګرځیدی په پوه چې دا امر خارق العادة ده او معجزه بې وګڼي.

قَالَ أَلْقِهَا يٰمُوسٰى ﴿١٩﴾

خدای پاک ورته وویل لکړه دي پر مځکه واچوه یعني د تکې شی دي ایسته کړه چې د انبیا علیهم السلام تکیه پر خدای جل جلاله باید وي او بل دا چې عجائب د قدرت د خدای جل جلاله به پکښې وویني چې په زړه کې به تصور هم وو "والالقا والطرح والنبذ بمعنی واحد.

فَأَلْقٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ﴿٢٠﴾

نو موسی علیه السلام بلا تراخ لکړه پر مځکه وغورځول نوناببره هغه لکړه مار سوه چې چابک چابک پر نس روانه وه.

پوه سه: چې خدای جل جلاله د قرآن په بل ځای کې داسې ویلي دي "کانها جان" جان سپک مارته وایي چې په بدن کښې وي چې په پښتو یې کوچه مار بولي او په بل ځای کې "فاذا هي ثعبان" ثعبان هغه لوی مار ته په نوع کې د مارانو وایي چې په پښتو یې افي مار بولي.

پوه سه: چې "حیة" مشترک لفظ دی په مابین کې د صغیر چې جان یې بولي او به مابین کې د لوی چې ثعبان یې بولي "والجمع بین الجان والثعبان" په دوو وجهو مفسرینو کړې ده چې لکړه په ابتدایې حالت کې لکه د لکړې جسم چې د نرې مار جان به سوه وروسته کرار کرار پرسېدله چې په انتهائي حالت کې به ثعبان ځندي جوړ سو او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې په ابتدایې حالت کې په جسم کې د ثعبان وه او چابک تګ یې د جان وو.

دروښ وایي: چې دا توجیه موافق د ظاهرا دعبارا تو سره د قرآن حیث قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كانها جان ولم يقل فاذا هي جان كما قال فاذا هي ثعبان فتدبر هداك الله.

ابن اسحاق وايي چي لكړه چي ثعبان سوه چي په مخه به هر شی ورتی کد ډبره وای که لرګی هغه بې ټيراواه او سترګي لکه اور برېښېدې او د غاښونو څخه يې ږغ پورته کيدی او چي خوله بې وازه کړه (۴۰) څلوېښت ګزه يې د دوو کرغښيو تر مابين فاصله وه موسی عليه السلام ځندي وېرېدی "ولم يعقب" ولي چي بهره طبع بشري ده وروسته يې د خدايه څخه حيا په زړه کي پيدا سوه ودرېدی،

پوښتنه: موسی عليه السلام خو هم نبي وو نو ولي د مار څخه وېرېدی کما حکی الله تعالی "ولّی مدبراً ولم يعقب" او ابراهيم عليه السلام د اوره د نمرود نه ونه وېرېدی حتی چي دی يې په لاسونو په منجنيق نمرودیانو وغورځاوه او ورته نارسيده جبرئيل ورته راغلی په امر د خدای عز وجل امتحاناً جبرئيل ورته وويل "بل لک من حاجة قال ابراهيم عليه السلام اما اليک فلا" جبرئيل ورته وويل خدای ﷻ ته سوال د نجات وکړه ابراهيم عليه السلام ورته وويل حسبي من سؤالي علمه بحالي الی آخير القصة؟

ځواب: د موسی عليه السلام ابتدائي حالت د نبوة او د ابراهيم عليه السلام انتهائي حالت وو د رسالت "وفرق عظيم بين الابتداء والانتهاء للرسل والانبياء عليهم السلام ته نه ګورې چي عليه الصلوة والسلام ته چي جبرئيل په صورت بشري ځان وربښکاره کړی چي عليه الصلوة والسلام د جبل حرا څخه د کور خواته را روان وو او عليه الصلوة والسلام يې په خيګر پوري تينګ ونيوی، نو ورېرېدې دی او کورته راغلی چي ابتدائي حالات وو نبوت د ده حتی رفته رفته خدای ﷻ دونه استعداد کامل ورکړی په انتهائي حالتو کي چي جبرئيل پر خپل صورت اصلي وليدی په ليلة المعراج کي کما قال الله "ولقد رآه نزلة اخرى عند سدرة المنتهى.

قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَىٰ ﴿٢١﴾

خدای پاک ورته وويل "يموسی" مخ پر راوړه او واخله دا مار يعني بېرته په راسته لاس او بېرېږه مه ځندي (لقوله تعالی لا يخاف لدی المرسلون) ژر دی چي موږ به راوګرځو دغه ستا لکړه (چي اوس د مار په شکل ده) وهيئت او حالت ته چي دمخه ؤ يعني بيرته به د لرګي لکړه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي روح المعاني، روح البيان او مظهري رح وايي چي "سيرت" پر وزن د فعلة دی مشتق من السير چي تگ ته وايي دلته مجازاً په معنی د طريقي او هيئت دی.

فائده: "سيرتها" منصوب دی په نزع د حرف جر ای الی سيرتها الاولی بعد الاخذ" بغوي رحمه الله وايي چي موسی عليه السلام يو پټوونکی لودی د ورېږو نو څه وخت چي خدای ﷻ د ته ووويل "خذها" ده پټو پر لاس وپېچی "فامره ان يكشف يده" چي لاس دي لخ کړه ده لاس لخ کړی د مار وخولي ته يې ور حمله کړه "فاذا هي عصا كانت" او ده لاس په هغه ځای کي وو چي د به يې خوا پر لکړه تکيه کوله لاس يې پر دغه ځای اېښووی يعني مابين الثعبتين، قال المفسرون رحمهم الله اراد الله ان يرى موسى ما اعطاه من الآية التي لا يقدر عليه مخلوق لئلا يفزع منها اذا القاها عند فرعون.

دروېش وايي: چي په پښتو ژبه د دغه عبارت عربي بيان د مخه تير سو.

وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ

او جوت کړه لاس خپل (فقير وايي که څه هم لاس يو اندام دی تر اوږې پورې لکن مراد ځندي دلته کف يمنی دی).

پوه سه: چي د انسان دوه جناحان دي چي په پښتو يې بغلونه بولي دلته مراد ځندي چپه بغل دی. يعني کف يمنی دي په چپه بغل کي ونسه. بيضاوي وايي چي دوو بغلو ته د انسان جناحان وايي استعارة من جناحي الطائر يعني د مرغه دوه وزره په قاموس کي وايي چي جناح يد او عضد او ابطاته وايي آه. مراد ځندي دلته ابط دی يعني تخرگ.

تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾

را وبه وزي مجزوم دی جواب د امر دی والتقدير اضمم آه واخرج تخرج، سپين چي ځلېږي به حال دی من الضمير المستكن په تخرج کي ببله عيبه او بد اسپدو چي دا کنايه ده له پس څخه، ولي چي طبائع د خلگو له پيسه څخه نفرت کوي، بغوي رحمه الله وايي چي قال ابن عباس رضي الله عنهما كان ليد موسى عليه السلام نور ساطع يفئ يالليل والنهار كضوء الشمس والقمر آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي د دې حديث دا معنا نه ده چي موسی علیه السلام چي به يو وار لاس داخل تحت البغل، نو د همېشه د پاره د ورځي د پاره به لکه لمر پر ښکي دی او د شپې لکه سپوږمی. "لانه لم يقل احد من المفسرين رحمهم الله بلکه مراد دا دی چي د تر بغل به لاس لاندي کړی چي راوبي استی لکه لمر يا سپوږمی پر ښکېدی به حتی يرى الناس چي بېرته بې تر بغل لاندي کړی پر خپل اصلي رنګ به راووت "آية اخرى" دابله معجزه د ستا پر صدق په دعوی کي د نبوت ولي چي دا هم خرق العادة کار دی کما هو معنى المعجزة لانها امر خارق للعادة الالهية اظهره الله على يد مدعي النبوة تصديقا له" د اخري معنا دا ده چي غير د عصا څخه.

پوه سه: چي آية حال ثاني د ضمير څخه د تخرج او من الضمير في بيضا" او چا چي ويلي دي آية مفعول به په اضمار د خذ آه تکلف مستغني عنه.

لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرَى ﴿۲۳﴾

پوه سه: چي کلمه لام تعليل د فعل مقدر ای فعلنا ما فعلنا يعني عصا مو مار کړه او يد مو بيضا کړی چي په تا ووينو بعض آياتو څخه چي دا بعض لوی معجزې دي ستا دال پر صدق د دعوې د نبوة ستا.

دروښ وايي: چي د دې عبارت معنی دا ده چي نوري معجزې به هم وي لکن دا دوې لوړي معجزې دی" کما جا في قوله تعالى "ولقد آتينا موسى تسع آيات بينات"

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۲۴﴾

ولاړ سه وفرعون يعني د مصر سره د دغو معجزو او د ته دعوت ورکړه د توحيد د معبود بالحق او دغه رنګه و عبادت ته د هغه، فرعون تر حد تجاوز کړی دی په ګمراهي کي حتی چي د الوهيت دعوه يې کړې ده.

پوه سه: چي دا جمله تعليل دی لقوله "اذهب".

پوه سه: چي فرعون طاغي اکبر وو په دنيا کي حتی قال "انا ربكم الاعلى"

قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿۲۵﴾

موسی علیه السلام وويل يا ربه فراخه کړې زما سينه يعني زړه چي يو معارف حقه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پکښي ځای سي چي په عقل سره يې ادراک نه کړي او بل دا چي ماته حق اليقين په زړه پيدا کړي چي نفع رسول او ضرر رسول صرف او صرف د خدای د خوا دی حتٰی چي د فرعون او د ده جنود و څخه مي په زړه کي بېره پيدا نسي وانما قال موسٰی ذالک لانه کان موسٰی يخاف من فرعون لشدة شوکته وکثرة جنوده کما سيئاتي ان شاء الله تعالی.

وَيَسِّرْ لِيٓ أَمْرِي ۝

او ماته اسانه کي کار زما ، يعني ما يجب علی چي پر ما واجب دي چي رسول دي د رسالت وفرعون او قبط ته او ماته په زړه لذة پيدا کړي په تحمل کي د شدائدو د رسالت، او اسباب د تبليغ الرسالة راته مهيا کړي او موانع دتبليغ دفع کړي الی غير ذالک من التسهيلات.

وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ۝

او خلاصه کړي غټه د بنديدو زما د ژبې څخه يعني په وخت کي د خبرو بغوي رحمه الله وايي چي موسٰی عليه السلام په غبږ کي د فرعون ناست يعني په طفوليت کي نو فرعون يې په چپلاخه وواهه او وېښري ته يې ور حمله کړه چي فرعون ملغلري او جواهرات پوري ځړولي وه هغه يې وروشکول، نو فرعون و ځپلي ماينې آسيه ته وويل "ان هذا عدوي واراد ان يقتله" اسيه ورته وويل چي دا خو کشنی دی نه عقل لري او نه تميز لري "وفي رواية ان ام موسٰی لما فطمته (د تي پرېکړی) رددته الی فرعون لانه وآسيته زوجته اخذا موسٰی بالبنوة. نو موسی تر تربيې د فرعون او د ده ماينې نشو او نما کوله نو يوه ورځ موسٰی عليه السلام بازې کولې په حضور کي د فرعون آسيه ته وويل دغه دی زما دښمن چي ما په خوب لېدلی وو او اراده يې وکړه چي قتل يې کړي. آسية ورته وويل "ايها الملک انه صبي لا يعقل" تجربه يې کړه که دي خوښ وي باره فرعون ماينې ته وويل چي درسه په غاب کي د اور سړې سکروټي راوړه او په بل غاب کي سره جواهر ورته راوړه چي دی يې په فرق پوهېږي او که نه ماينې هم داغسي وکړه د موسٰی عليه السلام په مخ کي چي دواړه کښېښول موسٰی عليه السلام خو جواهرو ته ځان جوړاوه خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جبرئیل علیه السلام راغلی د موسی علیه السلام لاس یې پر سکروټو ور کښېښوده یوه سکروټه واخستل په خوله کې واچول ژبه یې وسوه او په ژبه کې عقده پیدا سوه.

پوښتنه: دموسی علیه السلام لاس ولې ون سو چې سکروټه یې خوله ته وړه؟

خواب: دا د کراماتو څخه د موسی علیه السلام وو په وخت د طفل وایې چې خدای ﷻ د دښمن فرعون څخه په دغه سبب خلاص کړی او فرعون د مایني د مخه د پر شرمنده سو والله علی کل شیئ قدیر.

يَفْقَهُوا قَوْلِي ﴿٢٨﴾

چې دوی زما په خبرو پوه سي علماً وایې "انما یحسن التبلیغ من البلیغ" یعني ښه خوند کوي تبلیغ د دښ او نصیحت د بلیغ یعني په ژبه کې خلاص او ژبیاړي سړي څخه په دې کې اختلاف دی چې عقدة د ژبې د موسی علیه السلام کامل خلاصه سوه او که څرنګه هغه علماً او مفسرین چې د ده ژبې عقده مکمله خلاصه سوه په دې آیت سره دلیل وایې چې عنقریب به راسي قال "قد اوتیت سؤلک" او هغه څوک چې وایې چې عقده یې نه ده خلاصه سوې بقوله تعالی "هو افصح لساناً مني (یعني هارون علیه السلام تر ما په ژبه کې خلاص دی) وبقوله تعالی حکایت عن فرعون "ام انا من هذا الذي هو مهین ولا یکاد یبین" والجمع بین الدلائل والانصاب چې موسی علیه السلام خواست د عقده د حل کاملاً نه وکړی دونه قدر حل یې غوښتی وو چې خلګ زما په خبره پوه سي، او روح البیان په نقل د اسئلة مقحمه چې د یو کتاب نوم دی وایې چې د عقده یکلخته خلاصه سوې وه کما یدل علیه قوله تعالی "قد اوتیت سؤلک".

سوال: نو ولې وویل واخي هارون افصح مني لساناً؟

خواب: مورې وینو چې د دو کسانو په ژبه کې عقده نه وي ومع ذالک یکون واحداً منها افصح من الآخر کما یدل علیه تجارب اشعار بلغاء العرب وفصاحة قصائدهم من عامة العرب مع عدم العقدة فی السنة العامة فافهم.

سوال: فرعون ولې وویل ولا یکاد یبین؟

خواب: فرعون تحقیرا لموسی وعنادا دا خبره وکړه لکه یو معاند د فصیح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړي چې و هغه ته وايې لاندري ما تقول حتى چې مشرکانو دقوم د شعيب عليه السلام ده ته وويل لا نفقه كثيراً مما تقول، او هود عليه السلام ته قوم وويل ما جئتنا ببينة يعني ببيان واضح او انحضرت ﷺ ته به مشرکانو ويل "قلوبنا في اكنة" انتهى، والى هذا ذهب المولى ابو السعود في كتابه الارشاد فتدبر خذما صفا ودع ما كدر والله الموفق والى الله ترجع الامور.

وَاجْعَلْ لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ﴿٢٩﴾

ماته راکړې يو کومک کونکی زما د قريبانو څخه جار ومجرور صفت دی د وزيراً.

دروښ وايې: چې په قاموس کې وايې چې وزير جليس ته د سلطان وايې او خاص سړی د ده او چې کومک د سلطانه سره په خپل راې سره کولای سي لانه مشتق من الوز بمعنى الثقل لان الوزير يحمل الثقل من اميره او يا مشتق د وزر بالحرکات څخه دی چې د هغه معنى ملجأ ده لان الامير يعتصم برای الوزير ويلجأ اليه كذا قال روح البيان ورح المعاني والمظهري.

هٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي ﴿٣١﴾

چې هارون يعني زما وزو چې تر موسى عليه السلام دوه کاله مشر وو.

پوه سه: چې لفظ "هارون" مفعول اول دی د "اجعل" او "وزيراً" يې مفعول ثاني دی، مفعول ثاني چې يې دمخه کړی لپاره د اهتمام په وزارت سره، او لفظ د "لي" صله د "اجعل" ده، او داسې هم روا ده چې "لي" دي مفعول ثاني وي او "وزيراً" دي مفعول اول وي او "هارون" دي عطف بيان وي د "وزيراً" "اخي" بدل دی من هارون "ازري" په قاموس کې وايې چې شاته وايې او قوت ته وايې او ضعف ته هم فالمعنى على الاول قوبه ظهري، والمعنى على الثاني اشدد به قوتي وعلى الثالث قوى به ضعفي "ژباړه" ته محکمه کړه په ده زما املا، او ته قوي کړه په ده سره زما قوت، او ته قوي کړه په ده زما ضعف.

وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي ﴿٣٢﴾

او ته شريک يا الله هارون زما په وظيفه کړې يعني نبوة وتبليغ الرسالة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غرض د ده دا وو چي مطلق معاون نه غواړم.

كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ﴿٣٣﴾

چي مونږ تسبیح وواياو ډېره کلبي وايې چي مراد ځندي لمونځ دی ولي چي اجتماع پر کار د خیر رغبت پیدا کوي په انسانانو کي.

وَّنَذْكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾

او مونږ ستا ذکر وکړو ډېر.

پوه سه: چي کثیرا دواړه ځایه مفعول مطلق دی بحذف الموصوف ای تسبیحا کثیرا وذکرا کثرا.

إِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيرًا ﴿٣٥﴾

ته ای خدایه خبر یې زمونږ په تولو حالتو او په دې هم خبر یې چي هارون ښه معاون دی زما په تبلیغ کي د رسالت یعني فرعون او قبط ته.

قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يٰمُوسٰى ﴿٣٦﴾

خدای پاک وویل درکړه سوه تاته توله امور مسؤله ستا ای موسی.

پوه سه: چي سؤل بالضم وزن یې فُعل دی په معنٰی دمفعول ای المسؤل کالخبز بمعنٰی المخبوز.

فائده: په حدیث کي راغلي دي چي خدای چي یو بادشاه ته اراده د خیر ولري نو یو وزیر صالح ورکړي که دملک یو شی هیر سهي دی یې ور په یاده وي او که ملک د خیر اراده وکړي دی کومک ورسره کوي او که ملک د شر اراده وکړي وزیر یې منع کوي او علیه الصلوة والسلام هم وزیران درلوده کما جاء في الحدیث الصحیح "لي وزیرین في الارض ابوبکر وعمر رضي الله عنهما ووزیرین في السماء جبرئیل علیه السلام واسرافیل علیه السلام.

سوال: موسٰی علیه السلام څرنګه د نبوت د هٰرون سوال وکړی او سره د دې چي رسالت خو د خدای ﷻ په اختیار کي دی کماقال الله "الله اعلم حیث یجعل رسالته"؟

ځواب: خدای ﷻ چي د ده دغه خواست قبول کړی دا معلومه سوه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواست د موسیٰ علیه السلام د رسالت د ورور په اراده او الهام د خدای ﷻ وو.

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰ ﴿٣٧﴾

ای والله خو لام موطئه د قسم محذوف دی او قد د پاره د تحقیق دی احسان او انعام کړی دی مورږ پر تا یا موسیٰ علیه السلام بل وخت یعني تر دې وخت د مخه.

إِذْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰ ﴿٣٨﴾

چې مورږ وحي وکړې ستا مور ته یعني په الهام سره یا په خوب کې یا پر ژبه د یو نبي د هغه وخت یعني اوحی الی امک په ذریعه د یوې ملکې" لا علی وجه النبوة اذ لم یبعث الله نبیاً من النساء بالاجماع".

پوه سه: چې کلمة د اذ تعلیل لقوله "مننا"

دروښ وایې: چې وحي او نبوة مختص بالانبیا علیهم السلام وهم الرجال فقط او داسې وحي او نبوة ختم سو پر سید المرسلین خاتم النبیین ﷺ باندې، او هر چې وحي دې د الهام یا منام یعني د پاره د تبلیغ وچاته نوې هغه نه دي قطع او خاص په انبیاؤ سره هم دي بل الاولیاء ایضاً.

پوه سه: چې مظهري په خپل تفسیر کې د شیخ ابن العربي قدس سره اقوال رانقل کړي دي چې د دې تفسیر ایوبي د متعلمان فهم څخه ډیر قاصر دی د دې سببه فقیر نقل نه کړی، په روح المعاني کې وایې چې خدای ﷻ وایي "انا رادوه الیک وجاعلوه من المرسلین" دا خو په الهام سره نه معلومیږي بیا د جواب ورکړی دی لان ام موسیٰ قد شاهدت منه علیه السلام ما یدل علی نبوة وانه تعالی لا یضیعه والهام الانفس القدسي مثل ذالک لابعد فیه فانه نوع من الکشف راوي وایې د عبد المطلب لمسی محمد ﷺ چې پیدا سو (یعني پلار عبد الله یې په وخت کې د حمل وفات سوی وو او نیکه یې ژوندی وو) نو عبد المطلب مذکور نوم د (محمد) پر کښېښو، نو چا ورته وویل چې دا دی څرنګه بیګانه او غیر متعارف نوم پر کښېښو ده ورته وویل "رجوت ان یحمد في السماء والارض" لکن دا خو په الهام کې د ده نه وو داخل، او روح المعاني د ابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حیان رحمه الله څخه نقل کړی چې ام موسی ته دي خدای ملک را استولي وه لا علی جهة البنوة هغې ملکي دا خبري ودې ته کړې وې کما بعث الی مریم چې جبرئیل ورته راغلی "وتمثل بشرا سویا" کما مر. روح المعاني وایي چې د موسی علیه السلام د مور په نامه کې اختلاف دی قیل یوحانذ. وقیل بازختو قیل بارخا وقیل محیانه. دی وایي چې هغه خبره چې په خلګو کې مشهوره ده چې د موسی علیه السلام د مور په نامه قلفان خلاصېږي مورې هیڅ اثر په کتابو کې د اهل علم نه دی لېدلی بلکه دا د خرافاتو د قسمه خبره ده انتهی قول روح المعاني.

پوه سه: چې مراد د "ما یوحی" څخه ما سیئاتي دی من وضعه في التابوت وقذفه في الیم اولاً یې مبهم راوړي تفخیماً لشان ما یوحی، وتعظیماً لشان موسی علیه السلام بیا یې وروسته تفسیر وکړی چې په زړه کې ښه قرار ونسي، قال عارف جامي رح:

چې خوش باشد که بعد از انتظاری..... بامید رسد امید واری.

اَنِ اقْذِفِیْهِ فِی التَّابُوْتِ فَاقْذِفِیْهِ فِی الْیَمِّ فَلْیُلْقِهِ الْیَمُّ بِالسَّاحِلِ

پوه سه: چې ان اه تفسیر دی د "ما یوحی" المجمل اولاً ته موسی علیه السلام واچوه په تابوت کې یعني په صندوق کې او تابوت واچوه په رود نیل کې چې لوی رود د مصر وو، ساحل په معنی د جانب دی.

سوال: لفظ د "فلیلقه" خو صیغه د امر بالام ده نو درياب څرنګه په امر سو؟

ځواب: مقصود دلته اخبار دی ای یلقیه الیم بالساحل لکن لفظاً چې صیغه د امر راوړه لمناسبة افذفیه آه چې هغه امر وو.

یَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّیْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ

وایه خلي موسی علیه السلام دښمن زما او دښمن د ده. یعني فرعون د خدای دښمن خو په دې وو چې دعوی د الوهیة یې کړې او د ده دښمن موسی په دې دی چې فرعون خوب لېدلی وو چې دبیت المقدس څخه یو اور را ووتی او پر مصر یې احاطه وکړه او قبطیان یې تهوله وسول او بني اسرائیل ځندي خلاص سوه، نو ده چې دا خوب و کاهنانو ته ووایه هغو ورته وویل چې په بني اسرائیلو کې به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داسي یو سړی پیدا سي چي ستا د مملکت د زوال سبب په وګرځي، نو فرعون په طلب کي د موسیٰ علیه السلام په زرونو پیدا نران د بني اسرائیلو ووژل وقد مرت القصة بالتفصیل، نو فرعون د تقدیر سره د خدای ﷻ تدبیر پر کار واچاوه، پښتانه وایي چي تقدیر په تدبیر پوري خاندي.

فائده: دښمني د فرعون د خدای سره خو بالفعل وو او د موسیٰ علیه السلام دښمني په اعتبار د مایؤل الیه یعني عاقبة الامر به دښمن ګرځي کما في قوله تعالی "رئیت اعصر خمرا ای عنبًا"

دروښ وایي: چي محققان د صوفیه کرامو وایي چي امر د "فلیلقه" پر حقیقت محمول علی الظاهر یعنی امر.

سوال: امر خو ذوی العقول ته وي دریاب د ذوی العقول څخه نه دی؟

ځواب: دا خو امر تکویني دی امر تکلیفي نه دی "والامر التکویني لایشرط له التعقل لهم" علا ان الصوفیة الکرام رح وایي چي جمادات که څه هم لا تعقل ولا تفهم بالنسبة الینا ولا یجوز الینا مخاطبتها لکنها دغه جمادات عاقلة مطیعة لامر الله عز وجل کذا ورد به النصوص قال الله تعالی "واذنت لربها وحقت" وقال الله تعالی "قالتا آتینا طائعین" وقال رسول الله ﷺ ان الجبل ینادي الجبل ای فلان هل مر بک احد یذکر الله. قال الله تعالی "یا نار کوني بردًا وسلامًا علی ابراهیم" الی غیر ذالک من الآیات والاحادیث، قال الفاضل الرومي رح في المثنوي

خاک وباد واتش بنده اند.... پیش تو مرده وباحق زنده اند

بیضاوي رح د عقل پر لار توجیه د امر و دریاب ته دانسي کړي ده "ولما کان القا البحر ایاه ای موسیٰ الی الساحل امرًا واجبًا لتعلق ارادته تعالی به جعل البحر کانه ذو تمیز مطلع علی امر الله تعالی بذالک واخرج الجواب مخرج جواب الامر.

فائده: بغوي رح وایي چي د موسیٰ علیه السلام مور یو تابوت د لرګي جوړ کړی او شنلي پنبه یي پکښي اوار کړه او موسیٰ علیه السلام یي پکښي کښېښو، او د تابوت چاکونه یي په پنبه وو بند کړه و رود نیل ته وغورځاوه د روه نیل څخه یوه لویه واله وسرای ته د فرعون روانه وه، نو تابوت په هغه واله کي د بحر څخه را جلا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سو، نو فرعون سره د آسیه ناست وو چي تابوت یې ولېدی چي اوبو راوړی نو پر خپلو مریانو او مینځیانو یې امر وکړی چي هغه تابوت را وکاږي "فاخرجوا وفتحوا رأسه فاذا رأی فرعون في التابوت صبي من اصبح الناس وجهًا فلما راٰه فرعون احبة بحيث لا يتمالک نفسه فذالک قوله تعالی.

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي ﴿٣٩﴾

دا جمله عطف ده علی قوله تعالی "یاخذوه عدو آه" او کلمة د "منی" ظرف مستقر ده ای کائنة منی یا ظرف لغو د متعلق په القیت سره ده او تنوین د محبة د پاره د تعظیم ای محبة عظیمة، والمعنٰی ما واچول پرده پرتا یا موسی یعنی پرده د محبت عظیمه په زړو کي د خلګو حتی چي ته محبوب یې په زړو کي د خلګو وګرځېدې، حتی په زړه کي د دښمن ستا چي فرعون وو هم محبوب وګرځېدې، عکرمة رضی الله عنه وایې ما رٰاه احد الا احبه، او قتادة وایې چي په سترګو کي د موسی علیه السلام یو ملاحة وو مارآه احد ال عشقه..... بیت:

ماه زیبا است ولی روی تو زیبا تر ازو ست
چشم نرگس چه کنم چشم تو رعنا ازوست

"ولتصنع" یعني تر تربیه سې او ستا سره احسان وکړه سي.

پوه سه: چي "علی عیني" حال دی د ضمیر مرفوع د تصنع څخه ای کالئا علی حفظي ایاک.

فائده: خلګ وایې چي فلانی زما په سترګو کي دی یعني زما په حفاظت کي دی نو "عیني" په قرآن کي کنایه له حفاظت څخه دی.

إِذْ تَمْشِيٰ أُخْتُكَ

پوه سه: چي "اذ" ظرف دی د "القیت" لپاره چي ستا خور مریم راروانه وه ستا دخبر اخستلو لپاره، ولي په مصر کي اوازه سوه چي د فرعون په کور کي په تابوت کي یو هلک پیدا سوی دی، نو د موسی علیه السلام مور خو پوه سوه چي هغه زما زوی دی نو خپله لور مریم یې را واستوله چي ته یې حال معلوم کړه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فرعون څه اراده ورته لري، راوي وايي چي په قرار د هغه آيت "وحرمنا عليه المراضع كلها" فرعون او آسية په داسي بنځه پسي ګرځېده چي دې طفل موسی ته تی ورکړي هر څه بنځي چي ورته راوستې موسی عليه السلام يې تی نه رودی فرعون د غايت محبت څخه د موسی عليه السلام په دې باره ډېر مضطرب وو.

فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُ

نو ستا خور فرعون او آسې ته وويل زه تاسي بنونه وه نه کړم پر داسي بنځه چي د دې طفل د رضاع ذمه داري وکړي فرعون ورته وويل نعم تې راوله که زمونږ کشنې د هغې تی قبول کړی ډېر به ښه سي او زمونږ اضطراب به دفع سي خو يې ولاړه خپل مور يې ورته راوستل يعنې د موسی مور موسی عليه السلام يې بې درنګه تی قبول کړی او په مارغ نس يې ورودی.

فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ

مونږ راجع کړی ته يا موسی وخپلې مورته په سبب دهغې وعدې چي د دې سره يې کړې وه "انا رادوه اليک" د دې د پاره چي خنکي سي سترګي د دې.

پوه سه: چي قرة العين په عربي ژبه کي کنايه د ډېرې خوشحالۍ څخه د دې سببه چي د ډېر غم د سببه د سړي تر سترګو اښکې بهېږي او د نهايت خوشحالۍ په وخت کي هم د سړي تر سترګو اښکي جاري کېږي لکن په تجربه دا ثابته ده چي د غم اښکي تودې وي او د خوشحالۍ اښکي سړې او خنکې وي فصح الکناية او چي دا غم ونه لري ستا په فراق کي، راويان د قصې د موسی عليه السلام وايي چي موسی چي د خپلې مور تی ورودی او فرعون ورته وويل چي زمونږ کشنې ته به ته تی ورکوې دې ورته وويل چي کشنی خو د ورځې او د شپې تی غواړي او زه خپل زوی لرم او د کور کار او خدمت مي هم په زمه کي دی، نو ستا په کور کي خو تی نه سم ورکولای البته که يې په لاس راکوې په خپل کور کی تی ورکولای سم په هفته کي يو وار درته راولم تاسي به خپله خوشحالي په کوئ ما نبام يې بېرته کورته بيايم فرعون ورسره ومنل او د بنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تربیې وصیت ورته وکړی او روزانه یو دینار په دې تنخواه وټاکله.

سوال: شرعاً خو مورته پر رضاع د طفل اجرت نه دی روانو دې څرنګه دفرعون ځخه دا اجرت قبلاوه؟

جواب: فرعون خو حربي وو دحربي مال روا دی په هر دول چې وي، ځیر دا رفت او آمداو رضاع جاري وه چې موسی علیه السلام د دوو کالو سو او مورد تې ځخه پرې کړی رایه وستی و فرعون ته یې تسلیم کړی البتة ګاه ګاه به دا هم د ځپل زوی ملاقات ته راتله موسی علیه السلام د فرعون په کور تربیه کې دی حتی تر ځوانۍ پورې او خلګو به ابن فرعون بلی.

وَقَتَلْتَ نَفْسًا

او تا قتل کړی یو نفر د قبط د قوم ځخه چې یو اسرائیلي تاته شکایت وکړی او تا هغه ته زجر ورکاوه په سوکه دې وواهه هغه مړ سو.

پوښتنه: انبیاً علیهم السلام خو د ګنهو ځخه معصوم وي قبل النبوة وبعدها نو موسی علیه السلام څرنګه قبطي مړ کړی؟

ځواب: دا خو قتل خطاً دی ولي چې موسی علیه السلام خو په سوکه د تادیب ده پاره وواهه لکن په قضی د خدای هغه قبطي مړ سو.

فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ۚ

مونږ تاته نجاة در کړی د غم ځخه د قتل د قبطي "خوفا من الله بالمغفرة لان حسنات الابرار سیئات المقربین" او د فرعون د خواچې ته به پر قبطي قصاصه ولای خلاص مو کړې بالهجرة الی مدین قریة شعیب علیه السلام.

پوه سه: چې "فتون" مصدر دې لکه قعود" البغوي رحمه الله وایي چې ابن عباس رضي الله عنهما وایي اختبرناک اختبارا او ضحاک وایي ابتلیناک ابتلاً والمال واحد او یا معنی داده انواعاً من الابتلاً نو جمع د فتن ده.

پوښتنه: هغه ډیري فتنې نو څه وې چې موسی علیه السلام ته خدای پاک وایي ته مو ځندي خلاص کړې؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: (۱) موسی علیه السلام په هغه کال کي وزېږدېدی چي فرعون د بني اسرائیلو کشنیان وژله (۲) القائه في البحر في التابوت (۳) منعه من رضاع ثدی غیر امه (۴) ثم اخذه بالحیة فرعون حتی چي فرعون قصد وکړی چي مړ یې کړي کما مر (۵) ثم اخذه الجمرة بدل الدرة کما مر ایضًا (٦) ثم قتله القبطي خروجه الی مدین (۷) هجرته ومفارقته من الاقارب (۸) لځي پښې سفر کول ولي چي چوتې د پښو د کاره ولوېدې (۹) د لاري توښه او نفقه هم نه ورسره (۱۰) د شعیب علیه السلام لس کاله شپنې.

فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ

تا درنګ وکړی څو کاله یعني لس (۱۰) کاله د پاره دپوولو د پسو د شعیب علیه السلام په ولور کي د شعیب علیه السلام د لور چي دا لس کاله هغه لویه مده وه که ځه هم اصل ولور (۸) کاله وو "کما یدل علیه قول شعیب علیه السلام فان اتممت عشرا فمن عندک".

فِيْ اَهْلِ مَدْيَنَ

په خلګو کي د مدین چي د ښار ګوتې نوم چي مدین بن ابراهیم علیه السلام یې بنا کړې وه چي اته منزله د مصر فرعون څخه لیرې وو او د فرعون پر هغه ځای تسلط نه وو.

دروښ وایي: چي د وهب بن منبه څخه روایت دی چي روح المعاني هم راوړی دی او مظهري هم چي موسی علیه السلام د شعیب علیه السلام سره (۲۸) کاله تېر کړ چي لس کاله یې د صفورا د شعیب علیه السلام د لور ولور وو او (۱۸) کاله وروسته تر واده هوري پاتې وو لکن دا روایت د مشهوره روایاتو د قصې د موسی علیه السلام خلاف دی کما مر تفصیلاً والله اعلم.

ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ۝

او بیاته راغلې یعني وادي المقدس ته پر هغه مقدار چي مونږ اندازه کړی وو چي ته به راځې او علی القدر الذي یوحٰی فیه الانبیاٗ في الاکثر یعني عمر دي (۴۰) کاله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته ورسېدی لکه عبد الرحمٰن بن کیسان چې وایې وهو قول اکثر المفسرین رح.

پوښتنه: خدای پاک دځه حکمت د پاره ذکر موسیٰ علیه السلام مکرر راوړی؟

ځواب: د پاره د الفت د ده او د محبت د ده.

دروېش وایې: چې فقیر داسې وویل في الاکثر لان عیسیٰ علیه السلام چې نبي سو او آسمانو ته خدای ﷻ پورته کړی عمر یې (۳۳) کاله وو وکذا یوسف علیه السلام نبي سو عمر یې (۱۸) کاله وو وکذا یحیي علیه السلام فاشتراط (۴۰) سنة في نبوة الانبیاً لیس بشیئ کذا في المقاصد الحسنة.

سوال: په یو حدیث کې راغلي دي مابعث الله نبیا الا علی رأس اربعین سنة؟

ځواب: دا حدیث محدثینو په موضوعي کې راوړی دی والله اعلم.

وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي ﴿۴۱﴾

ماته تربیه کړې په ښه تربیه سره د ځان دپاره حسین کاشفي رحمه الله وایې ترا بر گزیدم و خالص ساختیم برای محبت خود، یعني ترا دوست گرفتیم انتهی، یعني چې ته ظاهر او باطن نه کې مشغول ماسوی سره زما.

اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ﴿۴۲﴾

ولاړ سه ته او ستا ورور یعني هارون په معجزاتو سره زما ابن عباس رضي الله عنهما وایې چې د موسیٰ علیه السلام (۹) معجزې وې یعني دمقابلې په اوږدو کې د فرعون سره لکن عصا او ید بیضاً یې اولسین دوې معجزې وې، او تاسي تقصیر او سستي مه کوئ په ذکر کې زما یعني په تبلیغ کې درسالت.

پوه سه: چې انت تاکید د ضمیر مستتر په اذهب کې ولې چې نحاة وایې عطف پر ضمیر متصل نه دی روا بیله تاکید په ضمیر منفصل سره.

فائده: دا وحي خو موسیٰ علیه السلام ته په طور کې وسوې او هارون هغه وخت په مصر کې وو، نو خدای ﷻ موسیٰ ی چې هارون ته ورسه او هارون ته یې وحي وکړې چې استقبال د ورور موسیٰ علیه السلام وکړه، نو یو منزل هارون د موسیٰ علیه السلام مخ ته ورغلی وروسته تر ملاقات دواړو ته وویل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْهَبَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾

ولاړ سئ دواړه وفرعون ته چې د تر حدود دبشریت تجاوز کړی او دعوه د الوهیت یې کړې ده کریمه "انا ربکم الاعلی"

فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا

وواياست و ده ته قول نرم قال ابن عباس رضي الله عنهما تاسي سختي مه کوئ په خبرو کي وده ته او عکرمة رضي الله عنه او سدي رحمه الله وايي په نامه مه ورته واياست بلکه په کنيت ورته واياست د فرعون څلور کنيته وه ابو الوليد ابو مصعب ابو العباس، ابو مرة، وروی ذالک عن علی رضي الله عنه.

دروښ وايي: چې مظهري رح نقلاً وايي چې دوی يې امر کړه په قول لين، ولي چې فرعون پر موسی عليه السلام حق ده تربیة درلودی آه. ورده صاحب روح المعاني ان الامر بتلين القول ليس لحق التربيته لانه لاحق للطاغي على النبي. او مقاتل وايي چې قول لين هغه دی چې په سورة والنازعات کي راغلی دی "هل لک الی ان تزکی واهديک الی ربک فتخشی" ولي دا عرض د ايمان دی پر فرعون په صورة کي د مشورې، په هر صورت مطلب د قول لين" دا دی چې په طاغي اعظم فرعون کي غيرت د جاهليت پيدا نه سي او سمدلاسه امر د قتل د موسی عليه السلام او هارون عليه السلام ونه کړي، او سدي رح وايي چې قول "لين" دا دی چې د فرعون سره دي وعده وکړه که ته ايمان راوړې تر مرګ پورې به خوان يې سپين ږيری کېږې به نه، او ستا تر مرګه به ستا بادشاهي محفوظه وي، او خوند د خوړو او د چيښلو به په تاکي باقي وي او د نکاح قوة د جماع به په تاکي وي تر مرګه پورې، او چې مړ سي خدای عزوجل به دي جنت ته داخل کړي فرعون ته يې خوند ورکړی او رغبت يې وايمان ته پيدا سو، لکن د فرعون يو مشير خاص چې هامان يې نوم وو غائب وو په دغه وخت کي او فرعون هيڅ کار د هغه بې مشورې نه کاوه هغه چې راغلی فرعون د موسی عليه السلام خبري ورته وکړې هامان ورته وويل چې زما د مخه دا خيال وو چې ته عقل او فکر لرې" وانت في الحال رب" وترید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انتكون مربوبا وانت اليوم تعبد (على صيغة المجهول يعني چي عبادت دي كړه كيږي) وتريد ان تعبد (على صيغة المعلوم يعني چي ته د بل عبادت وكړې) نو هامان د خپلي رايي څخه واړاوه او د عكرمة روايت دى چي قول "لين" لا اله الا الله دى اولين ې دا دى چي پر ژبه سپک دى روح المعاني وايي وهذا ابعد الاقوال انتهى تاريخ وايي چي دا آيت په حضور كي د يحيى بن معاذ رحمه الله چا ووايه د وژړل او داسي وويل الهي هذا رفقک بمن يقول "انا الله" يعني فرعون فكيف رفقک بمن يقول انت الله.

لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾

شايد فرعون به پند واخلي او ايمان به راوړي كه ستاسي صدق ور معلوم سي، يا كم از كم دومري خوبه سي چي وبه بېرېږي كه ستاسي صدق ور معلوم نسي، نوهم خو بې په زړه كي پيدا سي.

پوښتنه: خداى پاک ته معلومه وه چي فرعون ايمان نه راوړي نو حرف ترجي چي "لعل" دى څرنگه ووايه؟

ځواب: دا ترجي او طمع راجع ده موسى عليه السلام او هارون عليه السلام ته "لانهما لا يعلمان غيب امر فرعون من الايمان او الاستمرار على السوء والطغيان.

قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾

موسى عليه السلام او هارون عليه السلام وويل اى زمونږ ربه په تحقيق مونږ ډېر ډېرو چي فرعون به مونږ قتل كړي قال ابن عباس رضي الله عنه چي فرعون به عاجلانه مونږ قتل كړي يا به عذاب راكړي د مخه تر اتمام د دعوة او د اظهار د معجزاتو، يا ډېر طغيان نور زيات سي او د شان ستا به سپكاوى وكي يا بني اسرائيلو ته به نور اذيت زيات كړي.

قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾

خداى جل شانه ورته وويل مه ډېرېږئ ولي په تحقيق زه ستاسي معاون يم بالحفظ والنصر دا جمله تعليل د لاتخافا آه، زه اورم ستاسي دعوت او د فرعون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب تاسي ته او زه وينم هغه شی چي فرعون وتاسي ته اراده کوي من القتل والتعذيب يعني زه غافله ستاسي او فرعون د حالاتو څخه نه يم. نو تاسي غم مه کوئ زه په تاسي په هر حال کي وساتم د فرعون څخه او تاسي ته به نصر اود تاسي به دفع د مکروه کوم والحافظ اذا کان قادرا سميعا بصيرا تم الحفظ.

پوه سه: چي سمع او بصر د خدای جل شانه دوه صفته دي لا علی قياس سمعنا وبصرنا بآلة الاذن او بآلة العين فافهم.

فَأْتِيَاهُ فَقُولَا إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ

ورسئ فرعون ته او ورته وواياست چي موږ رسولان د رب ستا يو چي تاته يې او بني اسرائيلو ته يې راستولي يو "بالتوحيد تعريض بالقول اللين بانک لست برب بل انت عبد مربوب"

فائده: متعلقة بقوله "لا تخافا" په تاريخ کي راغلي دي چي په زمانه کي د خلافت د هارون الرشيد کي يو څوان عالم وو چي همېشه بې وعظ او تبليغ کاوه او پر خلاف د هارون الرشيد بې تنقيد کاوه، نو هارون الرشد دا څوان په يو خونه کي بندي کړی او تولې منفذونه د خوني بند کړه تا چي نوې هوا ورنسي او مړ سي، څو ورځي وروسته يو چا وهارون ته وويل چي هغه ستا بنديې په يو باغ کي ګرځېدی هارون امر وکړی چي ورسئ حاضر يې کړئ چي حاضر کړه سو هارون ورته وويل چي ته چا د بندي خانې څخه راوايستې؟ هغه ورته وويل هغه چا چي زه دې باغ ته راوستم، هارون ورته وويل چي دې باغ ته چا راوستې هغه ورته وويل چي هغه چا چي زه د بندي خانې څخه را وايستم هارون پوه سو چي خدای ﷻ يادوي دهر تعجب يې وکړی او ده پر يې وژړل او لوی احسان يې ورسره وکړی او عسکرو ته يې امر ورکړی چي دی پر يو آس سپور کړي او د ده په مخ کي اعلان کوي هذا رجل اعزه الله و اراد الرشيد اهانته فلم يقدر الله يعني تقدير د خدای ﷻ نه وُ الا احسانه واحترامه فحق قول من قال "من کان الله معه يحفظه من کل جبار عنيد" قال الحافظ الشيرازي رحمه الله،

هزار دشمن اگر میکنند قصد هلاک
گرم تو دوستی از دشمنان ندارم باک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سعدي شیرازي رحمه الله وایي.

محالست چون دوست دارد ترا..... که در دست دشمن گذارد ترا

فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ۖ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ

واستوه او ازاده کړه زموږ سره بني اسرائيل يعني الى الشام، او ته عذاب مه ورکوه په اعمالو شاقه وو سره چې فرعون به بني اسرائيل په تکليفي کارو کې اچولي وه په چا به يې ختې کولې په چا به يې ديوالونه وهله او په چا بې زراعتې کارونه کوله الى غير ذالک.

قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَ ۖ

موږ راتګ کړی دی تاته په حجت او دليل او معجزه سره چې زموږ پر صدق دلالت کوي په دعوى کې د رسالت.

سوال: اولين معجزه د موسى عليه السلام او هارون عليه السلام خو دوې وې يد بيضا د موسى عليه السلام او عصى د موسى عليه السلام نو لفظ د آيت مفرد څرنګه راوړه سو؟

ځواب: مراد د دوى اثبات درسالت دى مع قطع النظر عن وحدة الاية وتعددها وعلى هذا نفس قوله "قد جئتكم ببينة" وقوله "فأت بآية"

وَالسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾

دا جمله معترضه ده يعني سلامي وسلام الملئكة وخزنة الجنة پر هغه چا چې متابعت يې کړی وي د هدايت چې د جانبه د خداى ج ورته راغلى وي او السلامة في الدارين "قال الله تعالى فمن اتبع هداى فلا خوف عليهم" الآية.

إِنَّا قَدْ أُوحِىَ إِلَيْنَآ أَنَّ ٱلْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾

او موږ ته وحي کړل سوي دي چې عذاب د دنيا او آخرت پر هغه چا دي چې تکذيب کوي د رسولانو او اعراض روى ګرداني کوي د ايمان با الله په توحيد سره او د عبادت څخه د خداى چې په جمله کې د هغو فرعون هم وو ففي هذه الآية تعريض به.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى ﴿۴۹﴾

وویل فرعون، نو څوک دی ستاسي رب ای موسی، دا جواب د دې قول د موسی او هارون "انا قد اوحي" آه.

سوال: فرعون اول "ربکما" په ضمیر د تثنیې ووایه وروسته یې په ندا سره موسی خاص کړی؟

ځواب: فرعون خوپه دې پوه سو چې دعوه د نبوت دواړه کوي بقوله "انا قد اوحي الینا" او موسی چې وروسته په ندا خاص کړی د دې سببه چې د ده سر په دې هم خلاص سو چې اصل موسی دی او هارون یې معاون او وزیر دی، او بل د دې سببه یې موسی خاص کړی چې وروسته بار د تربیې خاص په موسی سره دی فافهم.

قَالَ رَبُّنَا الَّذِيْٓ اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿۵۰﴾

موسی علیه السلام ورته وویل زمونږ رب هغه ذات مقتدر دی چې ورکړی یې دی هر شي ته خپل خلق، حسن رح او قتاده رح وایي چې ورکړی یې دی و هر شي ته صلاح د هغه شي او هغه ته یې لار ښوونه کړې ده خپل صلاح، او مجاهد رح وایي چې ورکړی یې دی هر شي ته خپل صورت التي هو علیها ولم یجعل صورة الانسان التي هي احسن الصور کصورة البهائم ولا صورة البهائم کصورة الانسان ثم هداه الی منافعه من المطعم والمشرب والوطي والجماع للانسان ولجمیع البهائم او سعد بن جبیر رحمه الله وایي چې د خلقه څخه مراد زوجة من نوعه کالمرئة للرجل والناقة للبعیر والاتان للحمار (اتان خره بولي) والرمکة للفرس (رمکه ښځه اسپه بولي) او بیا یې لار ښولې ده وهر چا ته د انسانانو او حیواناتو چې څرنګه به جماع کوي نر د دوی د ښځي سره د دوی، قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چې دا جواب دې په نهایت بلاغة سره فانه اخبار عن الموجودات باسرها علی مراتبها وایضا بیان لکون الغني القادر المنعم علی الاطلاق یعني د ټولو مخلوقاتو هو الله تعالی وان جمیع من عداه مفتقر الیه تعالی في ذاته وصفاته وافعاله ولهذا "بهت الذي کفر"

فائده: فرعون داسي نه وویل "فمن ربي" او سره د دې چې موسی داسي ورته ویلي وه "من ربک" له جهته څخه د غایت تکبر او عتو ولي چې فرعون خو ځان خدای باله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي فرعون د جواب د قال "ربنا" عاجز پاته سو ولي دا خو يې نه سواى ويلاى چي "الذي اعطى كل شئ آه" زه يم ولي كه يې داسي ويلي واى د ده د خالـه د خور زوى بـه پـر ده دكذب شاهدي ادا كړې واى، نو ځكـه ده خپل جواب بلي خواته وړاوه يعني:

قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَىٰ ﴿٥١﴾

فرعون وويل چي نو څه حال دى د اولـو قرونـو د خلګو يعنـي عـاد وثمود و غيرهم چي دوى عبادت دبتانو كاوه او بعث بعد الموت يې نـه مانـه يعني وروسته تر مرګ په دوى وسوه.

قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾

موسى عليه السلام ورته وويـل چي علم د هغو محفوظ دى په نېز د خداى زما په كتـاب كـي يعنـي اللوح المحفوظ. غـرض د موسـى عليه السلام دا وو چي زه پـر غيـب شيانو علم نه لرم بلكه كه يې دا قدر رامعلوم دى چي علم د هغو محفوظ په لوح محفوظ كـي دى، جمله د "لايضل آه" صفت د كتاب ده يعني هغه كتاب چي نه د خدايه څخه زما ورکېږي او نه هېرېږي.

پوه سه: چي د ضلال معنى دا ده چي يو شى دخپل ځاى څخه ورک درک يې نه معلومېږي، او نسيان دا ده چي د سړي څخه يو شى بالكلية هېر سي چي په زړه كي نه ورګرځي" وهما محالان على عالم الغيب والشهادة"

پوښتنه: خداى جل علمه څو بالذات خبر دى او علم ابتداً او انتهاً پر هر شي لري، نو كتابت ته د لوح محفوظ څه ضرورت وو؟

ځواب: كتابت په لوح محفوظ كي د دې جهته نه دى چي په علـم د كائناتو ودې كتاب ته محتاجه دى بلكه دا كتاب و ملكو ته ښكاره كوي تا چي دوى پـه مطالعـه د دې كتـاب پـوه سـي چـي پـر خداى سهوه او نسيان نـسته او پـه علـم اليقـين او مشاهده ودوى ته معلوم سي فلا يرد ما يتوهم، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

برو علم يک ذره پوشيده نيست..... كه پيدا وپنهان بنزدش يكى ست

وحاصل جواب موسى عليه السلام "ان الله مجازيهم على اعمالهم مِن خيرٍ او شرٍ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا

دا موصول صفت دی د ربي دپاره د مزید توضیح دحال د ربي عند فرعون الطاغي" یا مرفوع محلاً دی خبر دمبتدأ محذوفي دی ای "هو الذي آه" امام اللغة راغب الاصفهاني وایي چي "مهد" هغه شي ته وایي چي د کښني د پاره جوړه سوې وي چي په پښتو یې زانګو بولي.

دروښ وایي: مځکي ته مهد وویل سو استعاره ده فافهم.

پوه سه: چي "سلوک" چي مصدر د "سلک" دی دخول ته وایي په لازکي او تګ په لازکي لازمي او متعدي دواړه راغلی دی مثل سلک سلوکا وهذا لازم وسلکت الشیئ ما داخل کړی شي په شي کي دا متعدي دی په آیت کي متعدي دی چي ضمیر د سلک خدای ته راجع دی هغه یې فاعل دی او سبلا یې مفعول به دی اوسبل جمع ده سبیل ده ګرځولی دي ستاسي د نفع دپاره یعني پیدا کړی یې دي ډېري لاري .نو تنکیر د سبلا دپاره دتکثیر دی، په مابین کي د غرو او شپلو او صحراوو، چي تاسي د تجاراتو او منافع د پاره تګ په کښې کوی ضمیر د فیها و مځکه ته راجع دی فقیر یې تفسیر په جبال وغیرها سره وکړی، ولي چي د مځکي اجزا دي او په مذکوره لازو کي امتنان د خدای پر خلګو تدبر.

وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً

او خدای ﷻ نازل کړی له اسمان څخه یا له ورېځي اوبه د باران.

پوه سه: چي د ما تنکیر د پاره د بعضیت ای بعض الما لاکله، بعض مفسرین وایي چي د موسی ﷺ خبري پر دغه آیت پای ته ورسېدی وروسته خبري د خدای دي ده ځان د خو اځخه "تتمیما لما وصفه تعالی موسی به.

فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْ نَبَاتٍ شَتَّىٰ

نو موږ را ایستلي دي په هغو اوبو سره د باران، یعني رقم رقم او صنف صنف شنه کښدونکي شیان متفرق نباتات په صورتو کي او په اغراضو او منافع کي چي بعض یې د انسانانو په نفع دي او بعض د بهائمو خوراکه ده "شتی" جمع د شتیت ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُلُوا وَارْعَوا أَنْعَامَكُمْ

خوري ايها الناس حاصل بعض النبات لكه غنم جواري وربشي انگور خورما انځر منې وغيرها من الثمرات "وارعوا" او بوده، مهربې، بزې وغيرهما په كښې څره وئ په بعض بنات كې كما قال "انعاكم".

پوه سه: چې امر دواړه ځايه د اباحت د پاره دی يعنې خوراک او ځرد حيوانانو دواړه وتاسې ته مباح لا للوجوب كما لايخفى آه.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ

"ذالک" په تاويل د مذكور ای جعل الارض "مهدا" وانزال الما من السما واخراج النبات من الارض لپاره د نفع ستاسې او ستاسې د حيواناتو "الآيات" دلائل د وجود د خالق د وجوبه وقدرته واحاطه علمه بحوائج مخلوقاته وايصال الارزاق وما يحتاجون اليه "لاولى النهى" يعنې د ذوى العقول د پاره "نهي" جمع دنهية ده چې عقل ته وايې والي چې عقل سليم سړی د منهياتو څخه منع كوي. سعدي شيرازي رح

برگ درختان سبز در نظر هوشيار... هر ورقي دفتريست معرفت كردگار

مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ

د مځكې څخه پيدا كړي ياست مونږ تاسې "اما بخلق آدم من تراب الارض و مواد ابدائكم من الاغذية وهي من الارض وجميع النطف من الاغذية فكلنا من الارض اما بلاواسطة كآدم عليه السلام او بواسطة كاولاد آدم الاما شذ وندر كعيسى عليه السلام.

وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ

اوپه مځكه كې مو گرځوم يعنې في القبور على عادة اكثر الناس، اود مځكې څخه مو راباسم بل وار يعنې "يوم القيامة بعد البعث بجمع الاجزاء المتفرقة ورد الارواح اليها" حكيم فردوسي رح وايي:

بخاكت در آرد خداوند پاک..... د گرده برون آرد از زير خاک

بدان حال كه آيي بخاک اندرون..... بدان گونه از خاک آيي برون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اگر پاک د ر خاک گیري مقام ..... بر آیي ازو پاک و پاکیزه فام

د ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي جبرائیل ونبي ﷺ ته راغلی فقال چي خدای پاک تاته سلام وایي او وایي چي ولي مغموم یې؟ قال یا جبرائیل طال تفکري في آمر امتي یوم القیامة قال افي امر اهل الکفر ام في امر اهل الاسلام" علیه الصلوة والسلام ورته وویل یا جبرئیل في امر لا اله الا الله محمد رسول الله" نو جبرئیل ﷺ تر لاس ونیوي مقبري ته د بني سلمة یې وروستی بیا جبرئیل یو قبر په چپه وزر ووهی "قال قم باذن الله" نو یو سړی را ووتی تور مخ یې وو "ازرق العینین" او هغه سړي دا ناري وهلې "یا حسرتا" ویا ندامتاه" فقال جبرئیل ﷺ عد الی مکانک فعاد" بیا جبرئیل ﷺ بل قبر ته ودرېدی او راسته وزر یې وواهه "وقال قم باذن الله فخرج رجل" سپین مخ یې وو "وهو یقول لااله الا الله محمد رسول الله فقال جبرئیل عد الی مکانک فعاد" وروسته جبرئیل وه علیه الصلوة والسلام ته وویل علی هذا یبعثون یوم القیامة وعند ذالک قال رسول الله ﷺ تموتون کما تعیشون، وتبعثون کما تموتون" کذا في روح البیان.

وَلَقَدْ أَرَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾

لام موطنه د قسم محذوف دی یعني قسم په خدای دی موږ په ولهدل یعني په فرعون په ذریعه د موسی ﷺ آیات زموږ یعني دال پر قدرت زموږ وي او معجزې د صدق د موسی وي په دعوی کی د نبوة "کلها" تاکید دی او اضافت د آیاتنا د پاره د عهد دی یعني الآیات التسع بمرور الازمنة "فکذب وابی" نو فرعون تکذیب وکړی د موسی ﷺ من فرط تکبره وعناده او منع یې وکړه د ایمان راوړ څخه.

فائده: فرعون د قوم د توهم چي نباید په دې معجزاتو سره وموسی ﷺ ته او ایمان راوړ ته مائل نسي په دې سره یې وکړه چي موسی یو لوی ساحر دی کما یدل علیه قوله تعالی في شانه.

قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾

فرعون ورته وویل چي ته راغلی یې موږ ته د دې غرض دپاره چي ته موږ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وباشې د مځکې څخه خپل په سحر سره خپل ای موسٰی.

پوه سه: چې مراد د اخراج څخه فرار ول نه دي بلکې مراد اخذ د سلطنت دی د قبط څخه او خپل ځان پر قبط مسلط کول دي په سلطنت سره.

فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهِ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا

موږ به هم راتګ وکړو وتاته په سحر سره د مثل د سحر ستا یعني بجمع سحرة الملک. نو ته وټاکه او وعده وکړه زموږ تر مابین او ستا تر مابین.

لَّا نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾

چې موږ به خلاف د هغې وعدې نه کوو "نحن" تاکید دی د ضمیر د متکلم، او نه به ته خلاف کوې.

فائده: موږ تفسیر وکړی د موعد په وعده سره اشاره ودې ته ده چې موعد مصدر میمي دی ظرف زمان یا ظرف مکان نه دی لان الخلاف انما یکون في الوعد لا في المکان والزمان کما هو الظاهر.

پوه سه: چې "مکانا" منصوب دی په هغه فعل سره چې موعدا دلالت پر کوي ای "عد" (وعده وکړه) ده پر ځای "سوی" بالکسر والضم بمعنی العدل چې برابر وي زموږ او ستاسو تر مابین یعني مسافت د دواړو خوا وو سره برابر وي او بعض مفسرین وایي چې د "سوی" معنی دا ده چې مځکه به د هغه مستوي وي یعني بعض ځای لوړ او بعض کښته نه وي چې تا چې توله خلګ نلدارہ زموږ او ستاسي د مقابلة السحر بالسحر وکړي چې څوک غالبه کیږي او څوک مغلوبه ګرځي.

تنبیه: فرعون لعین تعین د وعد وموسی ته وکړی بقوله "فاجعل آه" د دې کبله چې موسی علیه السلام دا خیال ونه کړی چې د فرعون زړه ضعیف سو او دا یې بنکاره کړه چې زه وه مقابلې ته تیار یم که لنډه موده اپرډې او که اوږده موده اپرډې.

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ

موسٰی علیه السلام ورته وویل چې "موعد" ستاسي ورځ ده "زینت" مقاتل او قتادة او السدي رحمهم الله وایي چې دغه ورځ هر وخت او کال د اختر ورځ ده قبطیانو وه چې دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ښه ښه کالي او نور اسباب د زینت بې برابر لکه بلا تشبیه زموږ اخترونه او په دغه ځای کي به ټوله غند بدل" او بعض مفسرین وایي چې د نو روز ورځ ده کما یفعله المجوس ومن تبعه د موسی ﷺ د دغې ورځې په تعیین کي مطلب دا وو چې فرعون او د ده قوم بر سر عام اولویده اجتماع کي مغلوبه او شرمنده سي.

سوال: د مخه تېره سوه موعد مصدر میمي دی، نو حمل د یوم الزینة څه رنګه پر روا دی؟

ځواب: په دې قرآني عبارت کي حذف سته دوه ځایه "ای مکان موعدکم مکان یوم الزینة" قال المظهري" او بل ځواب دا دی چې موعد دلته ظرف زمان دی، نو حمل د "یوم الزینة" پر صحیح دی او بل ځواب دا دی چې موعدکم پر معنی مصدري باقي دی او د یوم الزینة سره مضاف محذوف دی ای موعدکم موعد یوم الزینة، او روح البیان یې داسي ترجمه کړې ده "ای زمان وعده شما کما قلنا سابقًا فیصح الحمل فافهم.

وَأَنْ يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾

عطف دی علی یوم الزینة او چې سره جمع سي خلګ کما هو معتادهم في کل یوم په وخت کي د پوخ ځانښت یعني دا مقابله د حق او د باطل به د ورځې وي جهارًا چې ټوله خلګ یې وویني.

درېش وایي: چې موسی ﷺ چې تودې او د زړه ډکي خبرې کولې له دې کبله چې پر نصر د رب جلت قدرته ډاډه وو او دا نې سل په سل یقین وو چې حق پر باطل غالب کېږي او فرعون طاغي به شرمنده کېږي.

فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾

نو فرعون د موسی ﷺ څخه رهي سو او وده ته یې شا کړه او سره جمع یې کړې خپل کېد یعني "ذوی" کېده په حذف د مضاف چې عبارة د ساحرانو څخه د ده مملکت دي د پاره د غلبې پر موسی ﷺ "ثم اتی" بیا راغلی فرعون سره د قوم او د ساحرانو پر وخت مقرر "الی مکان معهود.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ

وویل دوی ته موسی علیه السلام یعني فرعون ومن معه من قومه ومن السحرة بغوي رحمه الله وایي چي ساحران چي فرعون جمع کړي وه (۷۲) دوو اویا ساحران وه او ده هر یوه سره یوه رسی او یوه لکړه وه او کعب بن مالک وایي چي ساحران (۴۰۰) کسه وه او بعض راویان وایي (۱۲۰۰۰) دوولس زره کس وه وقیل اکثر من ذالک.

پوه سه: چي ویل هلاک ته وایي منصوب دی مفعول به د فعل محذوف ای الزمکم الویل" ای الهلاک پر تاسي لازم ګرځولی دی هلاک او یا د نصب وجه یې دا ده چي مفعول مطلق دی د فعل محذوف "ای هلکتم هلاکاً" په هر صورت دا تقبیح د حال د دوی ده دمخه تر شروع په خبرو یعني.

لَا تَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿۶۱﴾

کذباً مفعول مطلق دی د "لا تفتروا من غیر لفظه نحو قعدت جلوساً" درواغ مه وایاست پر خدای عزوجل یعني چي فرعون خدای دی "فیسحتکم" خدای به تاسي هلاک کړي قاله مقاتل والکلبي رحمهما الله، او قتادة رحمه الله وایي خدای به ستاسي استیصال وکړي یعني تیوله به هلاک کړي والمآل واحد "بعذاب" ای بعذاب عظیم کما یدل علیه التنکیر او ناکام دی هغه څوک چي پر خدای عزوجل درواغ وایي.

فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿۶۲﴾

سره بحث سو د ساحرانو چي د موسی علیه السلام خبري یې واورېدلې او په ځین حال کي ډېر درد هم ورغلی و. یعني په خپل کار کي د موسی علیه السلام سره څرنګه مقابله باید وکړه سي.

پوه سه: چي نجوی پټو خبرو ته وایي. نو د "اسروا" معنی دا ده چي دوی ډېره مبالغه کوله په پټ مجلس د دې دپاره چي موسی علیه السلام په خبر نه سي. نو به دی زمونږ د دغه فلان وسنجوي، او کلبي وایي چي هغه پټه خبره د دوی دا وه چي که موسی علیه السلام پر مونږ غالب سو مونږ به پر ده ایمان راوړو انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې پر دې تقدیر د پټو الي څخه مراد پټ والی د فرعون څخه دی.

قَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ

دوی سره وویل وروسته تر دې چې مشورو او د پټو خبرو په خپل مابین کې پر دې قول سره متفق سوه لکه فرعون چې به ویل.

پوه سه: چې "ان" مخفف د مثقل دی اسم یې ضمیر شان محذوف دی او کلمه د لام په لساحران کې فارق دي په مابین د مخفف او د "ان" نافیه او "هٰذان" مبتدأ ده مشار الیه موسیٰ او هارون دي لساحران یې خبر دی والمعنی په تحقیق شان دا دی چې موسیٰ علیه السلام او هارون علیه السلام جادوګران دي کذا صاحب روح البیان او بعض مفسرین وایي چې "ان" نافیه دی او لام د لساحران په معنیٰ د الا دی والمعنی نه دی دغه دوه کسان یعني موسیٰ او هارون الا ساحران مګر جادو ګران دي "وهذا مذهب الکوفیین ویؤیده قرائة مروية عن ابي "ان هذان الا ساحران"

فائدة جليلة: في اعراب هذه الاية پوه سه چې ابن کثیر رحمه الله او حفص رحمه الله کلمه د "ان" مخفف وایي توجیه د دې قرائت هغه دوې خبرې دي چې انفا تیرې سوې فتدبر، او باقي قرأ سبعة رحمهم الله کلمه د "ان" مشدد وایي، نو په دوی کې د ابو عمرو رحمه الله قرائت داسې دی "ان هٰذین لساحران" نو دا قرائت پر اصل د حروف مشبه بالفعل وارد دی چې هذین اسم د "ان" او منصوب په یاء سره او "لساحران" یې خبر دی مرفوع دی خبر دی د "ان" عکس عمل الفعل کما تقرر في النحو، او نور قاریان "ان" خو مشدد وایي او وروسته "هذان لساحران" وایي دا قرائت ډېر مشکل یعني توجیه یې چې "ان" چې مشدد سې خو د حروف مشبه بالفعل څخه دی اوسره د دې وروسته دوه مرفوع لفظ دي یعني دوه لفظ تثنیه چې "هذان" او "لساحران" چې حالت رفعي د تثنیې خو الف دی کما تقرر في النحو، هشام بن عروة وایي چې دا خطأ د کاتب ده یعني په ځای کې د "هذین" یې "هذان" لیکلی دی مظهري وایي چې دا قول خطأ دی خارق للاجماع، او بعض وایي چې دا مبني پر لغت د قبیلې د خثعم او کنانه چې هغه تثنیه په حال کې د رفع او د نصب او د جر په الف وایي چې علامه د تثنیه ده او اعراب یې تقدیري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولي "يقولون اتاني الزيدان" ورئيت الزيدان ومررت بالزيدان.

درېش وايي: چي داوو تحقيق د اعراب د دې آيت "وقلما يوجد مجتمعاً في تفسير ولله الحمد والمنة ومنه التوفيق.

يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَىٰ ﴿٦٣﴾

دوی دوه اراده لري چي دوی دوه وباسي تاسي دمځکي څخه ستاسي يعني چي مصر دی (پوه سه چي مراد له اخراج څخه معنی حقيقي نه ده بلکه تسلط او حکمراني پر تاسي باندي) په خپل سحر سره، او د مابين څخه يوسي هغه طريقه ستاسي چي فضلی د مثلی مؤنث د امثل دی په معنی د افضل، او مثلی صفت د طريقه دی چي مؤنث دی. ابن عباس رضي الله عنه وايي چي مراد د طريقتكم څخه خانان او اشراف د قوم دي "كما يقال هؤلاء طريقة قومهم" اى اشرافهم انتهى.

دروېش وايي: چي د دې ترجمې حاصل دا دی چي سادات او اشراف د قوم به مو دوی يعني موسی او هارون يوړه بل پسي دروژني او پر تاسو او غريبانو باندي بسخپله حکمراني کوي. او شعبي د علي رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي دوی رفته رفته د خلګو مخه وخپله خواته راواړه وي، او قتاده رحمه الله وايي چي "طريقتهم المثلى" په دغه وخت کي بني اسرائيل وه چي اکثر عدداً او اموالاً وه چي د ده لعين دا مراد وو چي دا قوم به دوی يعني موسی او هارون در څخه بوزي شام او بيت المقدس ته لکه موسی چي اول وار فرعون ته ويلي وه "ارسل معنا بني اسرائيل.

دروېش وايي: چي دا توجيه مخالفه ده مشهور څخه ده چي بني اسرائيل توله تر نرو او تر ښځو په خدمت کي د قبط قوم فرعون ولاړ وه په چا به يې د ختو کارونه کول او په چا به يې زراعتي کارونه کول "الى غير ذالک" او په ښځو يې د قبطيانو د کورو خدمتونه کول. نو بني اسرائيل که اکثر عدداً وه اکثر مالاً څرنګه دي فتدبر.

او بعض مفسرين وايي چي "طريقتكم المثلى" څخه مراد دا دی چي ستاسي سنت او دين به در بدل کړي لکه په بل ځای کي چي راغلي دي "اني اخاف ان يبدل دينكم"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د قبطیانو دین او سنت څه وو؟

ځواب: دا وو چې فرعون خدای دی کما قال "اللعین انا ربکم الاعلی"

فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا ۚ

تاسي سره جمع کړئ یعني تینګ قصد وکړي پر هغه چم چې ستاسي زده دی "من السحر والزام موسی في السحر حتی یکون مغلوبًا بسحرکم، بیا راسئ پر یوه صف باندي" پوه سه چې صف په اصل کې مصدر دی بمعنی جعل الاشیاً علی خط مستو (ګړځول دي د شیانو پر برابر خط باندي لکه خلګ یا درختي پر یوه خط باندي د دې سببه لمونځ کونکي په جماعت سره صف بولي) لکن دلته صف په معنی د فاعل دی یعني آیتو "مطفین" دا یې د دې سببه وویل چې پر صف ولاړ خلګ د لیدونکو په سترګو کې هیبت ناکه ښکارېږي تر متفرق خلګو کما یدل علیه التجربة، کذا قال مقاتل والکلبي ؒ.

فائده: صفًّا" چې په معنی د فاعل سي نو حال دی د ضمیر څخه د "ایتو" ومنه قول الله تعالی "إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَٰنٌ مَّرْصُوصٌ ﴿٤﴾.

سوال: ساحران خو تولـه په میدان کې د مقابلې حاضر وه نو د "ائتوا صفًّا" څه ضرورت وو؟

ځواب: دوی سره متفرق وه په دې آیت راتګ نه دی بلکه مقصود صف بندي ده "لیکونوا اهیب في قلوب الرائین.

وَقَدْ أَفْلَحَ ٱلْيَوْمَ مَنِ ٱسْتَعْلَىٰ ﴿٦٤﴾

دوی سره وویل چې بري به ومومي هغه څوک چې غالب سي، پوه سه چې دا جمله معترضه ده.

قَالُوا يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾

ساحرانو وویل وروسته تر دې چې موعد ته په صف ودریدل بعض وایې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا وروسته وينا د دوی د پاره د ادب وه د موسی عليه السلام سره، ای موسی يا به ته غورځوي خپله لګړه ومیدان ته او يا به موږ اول کسانو يو چي خپلي لګړي او رسۍ میدان ته غورځو.

دروښ وايي: چي دا بعیده ده چي دوی چي په مقابله کي د موسی عليه السلام ولاړ وه او بیا دی ادب ورسره کوي، والصحيح ما قال بعض المفسرين رح چي د دې جهته څخه وو چي دوی داډه وه په خپل کامیابی سره که د مخه وي القا د دوی او که وروسته وي.

اعراب: پوه سه! چي "ان" سره د مابعد يا منصوب محلاً دی مفعول د فعل محذوف دی ای "اختر اما القائک اولاً واما کونتا اول من القی" او يا مرفوع محلاً دی خبر د محذوفي مبتدأ دی والتقدير "اما القائک اولاً او القائنا اولاً، کذا روح البيان وروح المعاني والمظهري رحمهم الله.

قَالَ بَلْ أَلْقُوا ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ

موسی عليه السلام ورته وويل بلکه تاسي القا اولاً وکړی، بعض مفسرين وايي "مقابلة للادب بالادب آه، وهذا ليس بشيئ لما قلنا انفاً" او بل چي موسی عليه السلام چي نبي وو څرنګه ادب کاوه د ساحرانو د فرعون دمعاونانو که څه وروسته دوی ايمان راوړی بلکه صحيح دا ده چي موسی عليه السلام باک د دوی په سحر سره نه کاوه او يا د دې پاره يې د تقديم امر ورکړی چي دوی خپل غايت سعي مبذول کي وروسته به غبله د موسی عليه السلام معلومه سي.

سوال: موسی عليه السلام ته خو دا معلومه وه چي دوی سحر کوي او سحر ګناه کبيره ده ،نو ده امر ورکړی چي "بل القوا"

ځواب: موسی عليه السلام امر د سحر نه دی ورکړی بلکه امر د تقديم يې ورکړی ولي موسی عليه السلام ته خو دا معلومه وه چي دوی څو فرعون د سحر د پاره را غوښتي دي او حتماً سحر کوي فافهم.

پوه سه: چي "حبال" جمع دحبل ده چي په پښتو يې رسۍ بولي "وعصي" جمع د عصا ده چي په پښتو يې لګړه بولي اصل د عصی عصوو دی دواړه واوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې په دوو یائین سره واړول للاستثقال وکسرت العین والصاد.

پوه سه: چې دا کلام بنا دی پر محذوف في النظم "والتقدیر فالقوا حبالهم وعصیهم فاذا حبالهم" آه او کلمه د "اذا" ظرف زمان دی للمفاجات منصوب دی محلاً په فعل مفاجات سره مضاف وجمله اسمیې ته دی، او "حبالهم" وما عطف علیه مبتدأ ده ومابعده "یخیل" آه یې خبر دی فالمعنٰی فالقوا ففاجا موسٰی وقتًا حبالهم الخ.

زباړه: دوی وغورځولې خپلې رسۍ او لکړې نو نابیره موسٰی علیه السلام ولیدی هغه وخت چې لکړې او رسۍ د دوی په حرکت کې راغلې.

يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾

په خیال کې د موسٰی علیه السلام په سبب د سحر د دوی چې دغه رسۍ او لکړې ځغلي یعني دوی په سحر سره د خلګو د موسٰی علیه السلام او د ټوله مجمع چشم بندي یې وکړه، حتی چې د موسٰی علیه السلام او قوم دا خیال سو چې ټوله میدان د مارانو ډک سو او په حال کې د حرکت سریعه دي.

دروښ وایي: چې بعض مفسرین چې وایې چې دوی ټولې رسۍ او لکړې په زیبق چې پاره یې بولي ککنې کړي وې چې لمر پر راتود سو ټوله په حرکت سوې آه دا خبره د نظم څخه د قرآن مخالف ده ولې چې اول دا خبره روح المعاني رد کړې ده او بل دا چې قرآن مبارک وایې "بسحرهم" او د زیبق ککنړول سحر نه دی بلکه اوس هم داسې حیله هر سړی کولای سي ولا تعلق له بکون الشخص ساحر بلکه داسې خلګو ته اصحاب الحیل وایې فتأمل.

دروښ وایې: چې د سحر زده کړه په تقرب د شیطانانو او د قرآن مبارک د اوراقو په نجاساتو کې اچول او خدای جل جلاله او رسولانو ته د خدای جل جلاله په بند ویلو سره پای ته رسیږي. د بابل په څاه (کوهي) کې چې دوې ملکې د پاره د تعلیم السحر امتحانًا را استولي دي چې قصه یې دهره اوږده ده. که دې څاه ته څوک ورسي د سحر د زده کولو د پاره هغه ملکې د دننه څخه د څا ورته وایې "انما نحن فتنة فلا تکفر" مورې امتحان یو د خلګو د پاره نو کافر کیږه مه یعني د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سحر زده کړه کفر دی کافر کړه مه او بله خبره دا ده چې زیبق د هر قیمتي شي دی چې د اختلاط څخه د زیبق او سره ګوګړ چې په اعماق د محکي په قدرت د خدای ﷻ سره جمع سي سره زر ګرځي نو دونه زیبق د کوم ځایه دوی ته میسر سوه چې دوی دا دونه په زر ګونو رسی. او لکړي په مالش کړې.

فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾

نو دا صبحنه چې موسی ﷺ ولیده د احساس په زړه کې خیفة یو لږ بهره نو تنوین دپاره د تقلیل دی موسی فاعل د اوجس دی دپاره د مطابقت د رؤس الایات تر مفعول وروسته راوړی دی په قاموس کې وایې "الوجس الخوف والفزع یقع في القلب او السمع من صوت" او غیره علماً وایې چې سبب د خوف د موسی ﷺ دا وو چې زه که لکړه وروغورځوم خو هغه به هم یو مار سي د مارانو څخه نو حق او باطل پر خلګو به التباس راسي او د فرعون هغه خبره چې دموسی ﷺ ته وکړه "فلنأتینک بسحر مثله" خلګو ته به رښتیا په خیال ورسي.

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾

موږ ورته وویل په وخت کې د ببرې دده چې ته مه ببریږه په دې علت چې ته په تحقیق سره اعلی او غالب یې په دې عبارت کې خدای ﷻ موسی ﷺ په ډېر تاکید سره ډاډ ګېرنه ورکړه (۱) جمله مستأنفه یې راوړه (۲) حرف التحقیق چې "ان" دی (۳) ضمیر الفصل یې راوړی چې انت دی (۴) لفظ د علو یې راوړی چې دلالت پر غلبه ظاهره کوي (۵) صیغه د اسم تفضیل یې راوړه چې اعلی ده.

وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ

عطف دی پر لاتخف وروغورځوه هغه شی چې ستا په راسته لاس کې دی.

سوال: عصاک یې نه ووایه حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت یې تحقیر د حبال او عصا د ساحرانو دی یعني لابتال بکثرة الحبال والعصي" او یا په ابهام کې نکته دا ده چې تعظیم د لکړي د موسی ﷺ یې وکړی چې ستا لکړه که څه هم په ذات لرګی دی لکن "في الحقیقة شیئ آخر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کما تری من اثارها الغریبة بعد الالقا حیث قال الله تعالی "تلقف" دا قرائت د حفص دی یعني په اسکان د لام اوپه تخفیف د قاف او نور قرا یې په فتح اللام او تشدید القاف وایې چې اصل یې تتلقف وو د باب د تفعیل او بیا یوه تا ځندي حذف کړه په هر صورت ضمیر مؤنث راجع دی وعصا ته چې مؤنث سماعي ده.

سوال: عصا خو په دې ځای کې نه دی ذکر سوی؟

ځواب: ما في یمینک خو عبارت د عصا څخه دی فالتانیث باعتبار معنٰی لفظ ما لا باعتبار لفظه فافهم.

مَا صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سٰحِرٍ ۖ

والمعنی تبلتع وتاکل" ستا لکړه هغه شیان او لکړې او رسۍ چې په رنګ د مارانو دي په تحقیق هغه ماران چې دوی په سترګو کې د خلګو وروستلي دي هغه کبدا و چم دساحر دی والمراد بالساحر الجنس الذي یشمل الکثیر لان السحره کانوا کثیرون کما مر.

پوه سه: چې ساحر پر وزن د فاعل قرائت دی د ډېرو قاریانو او حمزه وکسائي یې سحر بکسر السین بلا الف وایې یعني مصدر یې بولي نو کبد مضاف دی وسحر ته په اضافت بیانیه سره او یا مضاف محذوف دی والتقدیر کبد ذي سحر فیرجع الی معنی ساحر او یا وساحر ته به سحر مبالغة ویلي دي لکه زید عدل.

وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ حَيْثُ أَتٰى ۝

او کامیابي نه سي پیدا کولای ساحر "د حیث اتی معنٰی بعض مفسران حیث احتال یعني هر ځای چې خپله حیله پر کار واچوي.

مسئله: په حدیث کې د ابن ابي حاتم او ترمذي د جندب بن عبد الله ﷺ څخه نقل داسي راغلی دی چې رسول الله ﷺ وویل "اذا وجدتم الساحر فاقتلوه" وروسته ﷺ دا آیت (یعني د دلیل په توګه ووایه) ولا یفلح الساحر حیث اتی "په نصاب الاحتساب کې وایې چې که ساحر توبه وکښه تر ګرفتار کولو دمخه توبه یې قبلېږي او که یې وروسته تر ګرفتار کولو توبه وکښل نه قبلېږي او په شرح کې د رمضان افندي پر شرح العقائد وایې "ان الساحر یقتل ذکرا کان او انثی اذا کان سعیه بالافساد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والاهلاک في الارض وان کان سعیه بالکفر فیقتل الذکر دون الانثی انتهی، د فقه په کتابو کي وایي چي ساحره ښځه چي مسلمانه وي نه دي وژني لکن ضرب وکوب دي ورکړي او بندي دي کړي "لانها ارتکبت جریمة عظیمة" او وژني یې ولي نه دي ورکړي او بندي دي کړي "لانها ارتکبت جریمة عظیمة" او وژني یې ولي نه دي سببه چي ﷺ د قتل د ښځو مطلقًا منع کړي ده آه "وفي الفتاوی الاشباه والنظائر کي وایي چي هر کافر چي توبه وکاږي توبه یې مقبوله ده في الدنیا والاخرة الا الکافر بسب النبي ﷺ او بسب الشیخین یعني ابوبکر وعمر رضي الله عنهما او احدهما وبالسحر ولو امرئة وبالزندقة اذا اخذ قبل التوبة انتهی.

پوښتنه: په خلګو یعني مسلمانانو کي د زندیق لفظ د هر مستعملیږي معنی د زندیق څه ده؟

ځواب: په فتاوی کي د قاري الهدایة وایي چي زندیق وه هغه سړي ته وایي چي زمانه باقي بولي یعني "لا یؤمن بالآخرة" او نه عالم لره خالق وایي ،بلکه وایي "ما یهلکنا الا الدهر ویعتقد ان الاموال والحرم (یعني ښځي شریکي دي انتهی.

دروښ وایي: چي دا ځو مسائل معترضه وي اوس بهر ته د تفسیر القرآن پر لور، هغه چي موسی ﷺ خپله د لرګي لکړه میدان ته د ساحرانو د مصنوعي او سحري مارانو ته ورو وغورځول هغه لکړه لوی ثعبانسوله او هغه د ساحرانو مصنوعي ماران یې یو په بل پسي تیروله چي میدان یې ټوله صفا کړی او چي موسی ﷺ هغه لوی مار د لکړې را واخستی هغه وچه کلکه ده لرګي لکړه وه نو ساحرانو وویل چي دا د سحر کار نه دی بلکه دا یوه معجزه د معجزاتو څخه د خدای جلت قدرته ده چي د موسی ﷺ پر رسالت من جانب الله دلالت وکړي.

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾

نو پرپټول ساحران یعني په هیئت اجتماعي پر سجده لله تعالی، د پاره د توبې له ما صنعوا څخه، او یا د پاره د تعظیم د ماروا من آیات الله، مورې ایمان راوړی دی پر رب د هارون او موسی علیهما السلام.

پوښتنه: "القوا" خو مجهوله صیغه ده نو فاعل یې څه شی دی؟

ځواب: بعض مفسران وایي چي فاعل یې دامعرفة د حق وو چي دوی ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معلوم سو، او بعض مفسران وايي چي دوی داسي په تلوار سجده وکړي گويا يل چا پر سجده پرېښتله "ففيه مبالغة في الاسراع في السجدة.

پوښتنه: په دې آيت کي يې هارون تر موسی عليه السلام د مخه کړی او سره د دې چي په سورة اعراف او په سورة شعرا کي داسي راغلي دي "آمنا برب العالمين رب موسى وهارون؟

ځواب: کلمه د واو د پاره د مطلق جمع دی، يعني ترتيب نه غواړي لکه فا عاطفه او نه تراخي غواړي لکه کلمه د ثم عاطفه. دلته چې هارون د مخه کړی دی د مراعات د رؤس الايات.

سوال: تا دې ځايونه لفظ د رؤس الايات ويلی دی، او سره ددې چي دا خو اواخر د آياتو دي؟

ځواب: لکه د انسان تکميل چي په سر پوري اړه لري، دغه رنګه اتمام د آيت د قرآن کريم په پای سره د آيت معلوميږي، ولي بعض آيتونه دې ځای لري دي لکه آيت المدانية في القرآن او بعض آيتونه دې ځای کښې وي لکه "آلم" في مواضعه او بعض ميانه نو د دې کبله و اواخر و ته د آيتو مفسرين رؤس الآی وايي فافهم فانه سانح عزيز.

پوښتنه: اضافت د رب وهارون او موسی ته په دې آيت کي د څه حکمت د پار وکړه سو او سره د دې چي خدای عزوجل د ټولو عالم المخلوقات رب دی؟

ځواب: حکمت يې دا دی چي هارون او موسی ورب ته بلونکي دي او د دې دوو په تبليغ کرامت سره دوی ته حاصل سو، يعني د ايمان کرامت ځکه په بل ځای کي د قرآن کريم داسي راغلي دي "آمنا برب العالمين رب موسى وهارون فتدبر.

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ

"قال" يعني فرعون وويل وساحرانو ته، آيا تاسي ايمان راوړئ د په قول سره "وهمزة الاستفهام للانكار عليهم بمعنى لاينبغي لكم ذالك، د مخه تر دې چي ما تاسي ته اجازه د ايمان در کړې وای،

پوه سه: چي اصل د دې عبارت "أءمنتم" وو يو همزه يې په الف بدل کړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وایي: چي فرعون چي په راغونډولو کي د ساحرانو لپاره د مقابلي د موسی علیه السلام ناکام سو نو عناداً او تکبراً عن الایمان او د پاره د دفع د خجالت دځان څخه او د منع کولو د قبط د ایمان بموسی څخه بل مخ یې پر کښېښنو، یعني قال اللعین.

إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ

دی یعني موسی علیه السلام مشر او استاذ دی په سحر کي نو ددې سببه پر تاس غالبه سو یعني لا لانه رسول، هغه کبیر دی چي تاسي ته یې تعلیم او ښوونه د سحر کړې وه، او تاسي او ده پر موجوده کارونو اتفاق سره کړی وو.

متل: پشي تر یوختـه پوري د زمري څخه غفلي، لیکن کـه د تهښتي ځای نسو پاته د زمري پر سترګو حمله کوي. نو فرعون چي غار تنګی اوملامت سو د تابعانو د موسی علیه السلام چي ساحران وه او ایمان یې راوړی داسي حمله وکړه او داسي دهمکي یې ورکړه.

فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ

کلمة الفاء للتفریع علی ما قبل هر آینه او خاماخا به ز در پریکم لاسونه ستاسي او پښي ستاسي پر جهت مخالف یعني "الید الیمنی والرجل الیسری"

پوه سه: چي کلمه د من ابتدائیه ده او متعلق یه "لاقطعن" پوري ده "کان القطع ابتداً في مخالفة العضو العضو" کذا قال روح البیان والمظهري وروح المعاني مع تطویل البحث فیه.

وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ

پوه سه: چي مفسرین تولـه په یوه خولـه وایي چي کلمه او في په معنی د علی ده في ظرفي راوړه په ځای کي د علی وجه یې دا ده چي د پره زمانه به په صلب باقي یاست لکه مظروف په ظرف کي چي باقي وي.

پوه سه: چي صلب په لغت کي ځړول دي د انسان په یو شي پوري د پاره د قتل، وقیل هو شد الصلب علی خشب وبالفارسیة کما قال الکاشفي رح وهر آئینه بر اویزم شما را در تن خرما که دراز ترین درختان است تا همه خلق را به بینند وعبرت گیرند،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاریخ پوهان وایي چی فرعون اول سړی دی چی صلب یې رواج کړی.

وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾

او تاسي به پوه سئ چي کوم یو زمونږ یعني زه پر ایمان راوړو ستاسي او پا رب د موسی چي تاسي ایمان نه پر راوړی سخت دی په عذاب ورکولو کي او ابقی معنی دوام داره دی د چا عذاب زما او که د رب د موسی علیه السلام.

قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنَٰتِ

ساحرانو ورته وویل موږ تا نه مختار کوو یا فرعون عائد محذوف دی ای به والفاعل هو موسی ۴ "البینٰت" ای المعجزات الظاهرات چي عصا او ید بضا دی، او بعض مفسرین وایي چي د بیناتو معنی دلائل د قدرت الٰهي هغه دا چي د موسی ۴ لکړي چي تولي رسئ او لکړي د دوی وخوړلې. نو دوی یو د بله سره وویل که د موسی سحر وای نو هغه زمونږ رسئ او لکړي څه سوې، او بغوي ؒ وایي چي دوی چي پر سجده پریوته دوی سرونه نه کړه را پورته چي خدای په دوی جنت او دوزخ ولیدی، او ثواب د اهل جنت او خپل ځایونه په جنت کي هم ولیدله نو د بیناتو څخه مراد دغه موجبات د خوشحالي د دوی دي ولهذا قالوا لن نؤثرک علی ما جائنا من البینات.

وَالَّذِي فَطَرَنَا

عطف دی علی "ما جائنا" او تا نه مختار کوو پر هغه چا چي موږ یې پیدا کړو بلکه توله مخلوقات چي مراد څنډي خدای ﷻ دی یعني تاته د ربوبیة نسبت نه کوو لکه په خوا بلکه هغه چا ته یې کوو چي موږ یې د عدم د ظلمت څخه ونور ته د جود را ایستلي یو.

دروښ وایي: چي د لاورو ساحرانو چي په ایمان مشرف سوي وه د فرعون لعین د تهدید او پیښ رو جواب یې په دي الفاظو ورکړی.

فَاقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا ﴿٧٢﴾

ته وکړه هر څه چي ته کوي یعني په موږ سره فالموصول مع صلته مفعول به دی د "اقض" او عائد و موصول ته محذوف ای قاضیه، "انما تقضی آه" ای انما تصنع ما تهواه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي هذه الحيوة الخ منصوب محلاً دی ظرف زمان دی بحذف المضاف يعني انما تصنع زمان هذه الحيوة الدنيا" ليکن ستا سلطنت او حکمراني به ژر تېره سي يعني موږ ستا د صلب څخه نه بېرېږو.

إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ۗ

موږ ايمان راوړی دی پر رب زموږ چي موږ ته را وبخښي گناهونه زموږ "من الكفر والمعاصي، لان الاسلام يجب ماقبله كما ورد في حديث النبي ﷺ "وما اكرهتنا آه" عطف دی پر "خطايانا" او من السحر بيان دی د ما او هغه شی موږ ته را وبخښئ چي هغه شی تا په زور په موږ وکړی چي هغه سحر دی.

سوال: دوی څرنگه وويل چي تا موږ مجبوره کړو پر سحر او سره ددې چي دوی ابتداً قسمونه اخيستله بعزة فرعون "انا نحن الغالبون"؟

ځواب: بغوي وايي په روايت د الحسن څخه چي فرعون د مخ تر دې واقعې بعض خلګ مجبوره کړي وه پر زده کړه د سحر تا چي د سحر اصل ورک نه سي چي د هغو په جمله کي دغه ساحران هم وه او عبد العزيز بن ابان وايي چي ساحرانو فرعون ته وويل چي ته موسی ﷺ په موږ بيده ووينه نو فرعون کوشش وکړی موسی ﷺ يې په دوی بيده ولېدی او لګړې د مار په شکل پېره پر کول نو ساحرانو فرعون ته وويل چي دا لګړه مار کېدل په وخت د نوم کي د موسی سحر نه دی ولي چي ساحر بيده سي سحر يې باطلېږي نو دوی منع وکړه چي د دې سړي سره موږ مقابله نه کوو فرعون دوی مجبور کړه چي حتماً به مقابله د موسی ﷺ په سحر سره کوي "وهذا معنا قولهم وما اكرهتنا الخ" او مقاتل وايي چي فرعون جبراً (۷۲) کسان چي دوه يې قبط او (۷۰) د بني اسرائيلو څخه وه پر پر زده کړه د سحر اماده کړي وه په وخت د مقابلې د موسی ﷺ يې هم دغه (۷۲) کسان حاضر کړه د مختلفو بنارو څخه را وغوښتل كما مر في قوله تعالى "وارسل في المدائن حاشرين" الاية په وخت کي د مقابلې د موسی ﷺ چي هغه د بني اسرائيلو د قوم څخه وو ساحرانو د بني اسرائيلو چي (۷۰) کسه وه پر قومي سطح له مقابلې څخه د موسی ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ډډه وکړه فرعون هغه مجبوره کړه پر مقابلې د موسی علیه السلام او تهدید د قتل یې ورکړی "ان لم یفعلوا ذالک فذالک قول سحرة بني اسرائیل وما اکرهتنا علیه من السحر" والله اعلم بحقیقة الحال.

وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿۷۳﴾

سحرة وو فرعون ته وویل چې خدای ﷻ خیر دی تر تا بلکه تر جمیع مخلوقاتو یعني از روی اجرة والثواب. لمن یأتیه مؤمناً وقد عمل الصالحات "وابقی" یا معنی دا ده چې خدای ﷻ ادوم دی عذاباً لمن جائه مجرمًا بالکفر والمعاصي" دا قول د محمد اسحق او د محمد بن کعب دی نو دا گویا جواب د هغه قول د فرعون کما مر فعلی هذا تاکید لما قبله یعني خیر.

اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ؕ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿۷۴﴾

په تحقیق شان دا دی چې څوک چې ورسي و رب ته د ده یعني په ورځ د قیامت مجرم په کفر او معاصي سره "بان مات علی کفره ومعاصیه" هغه لره دوزخ دی چې په کښې مري تا چې د عذابه په استراحت سي او نه ژوندی حیوة مستریح سره.

وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿۷۵﴾

او هغه څوک چې ورسي خدای تعالی یعني "في یوم القیامة" په داسي حال کې چې مؤمن وي او عمل د صالحاتو یې هم کړی وي نو دغو کسانو لره دي درجې بلندي یعني په جنت کې.

پوه سه: چې "علی" جمع د علیا ده چې مؤنث د اعلی دی والمراد المنازل الرفیعة.

جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

جنتونه دي د اقامت "دا بدل یا عطف بیان دی د "الدرجات العلی" چې بهیږي به لاندي تر قصورو د دوی ولې، یعني عسل، شهدې، اوبه او شراب، چې دوی به اباد الاباد بلا موت ولا مرض په دغو جنتو کې وي.

پوه سه: چې "خالدین" حال دی د ضمیر مجرور څخه په لهم کې عامل معنی د اشاري په اولئک کې چې دې ته په نحو کې عامل معنوي وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾

په تاویل د مذکور دغه جنات عدن الموصوفة باوصافها المذکورة، جزاً او ثواب دی د هغه چا چي ځان يې د کفر او معاصيو څخه پاک ساتلی وي د ابو سعيد الخدري ﷺ او د جابر بن سمرة ﷺ او د ابي هريرة ﷺ په صحيح اسنيدو د احمد او ترمذي او ابن ماجة او ابن حبان او طبراني راغلي دي دوی ټولو وايي قال رسول الله ﷺ ان اهل الدرجات العلى ليراهم من هو اسفل منهم كما ترون الكوكب الطالع في افق السما" په يو بل حديث کي راغلي چي اصحابو کرامو ﷺ وويل يا رسول الله تلک منازل الانبيا لايبلغها غيرهم، عليه الصلوة والسلام وويل بلى يعني نور هم ور رسيدلای سي "رجال آمنوا بالله وصدقوا الرسل" د رجال په تنکير کي اشارة و بعضيت ته ده بعض مفسرين وايي چي دا د کلامه څخه د سحرة وو نه دی بلکي ابتدا د کلام د خدای دی د پاره د تصديق د قول د سحره وو، او بعض مفسرين وايي چي دا اخيري کلام دی د سحره وو چي بيان د علت دی لقولهم والله خير وابقى والله اعلم بالصواب.

دروښ وايي: چي د موسى عليه السلام (۹) معجزې په اوږدو کي د کلو يعني شل کاله فرعون او قبط ولېدلي بيا يې هم سرونه ايمان راوړلو ته نه کړه کښته، او خجالت سپکاوی د مقابلې دساحرانو چي ده راغونډ کړي وه هم پرورغلی بيا يې عبرت وانه خستی او د ظلم او د تکبر له کبله يې بې وزلي او بيچاره ساحران چي ايمان يې راوړی په بې زړه سوی قتل او دار ته پورته کړه او د رب العزت امهال هم پای ته ورسېدی او د غضب الهي درياب په جوش راغلی او د بني اسرائيلو د خلاصون د دې ظالم قوم څخه نوبت ورسيدی او د خدای جلت قدرته نيتمه ورسېده د عذاب دنيوي ودې لوی طاغي ته نو يې موسى عليه السلام ته ويل داسي.

وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى ۙ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ

لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله په تحقيق موږ وحي وکړې و موسى عليه السلام ته چي د شپې وباسه له مصر څخه زما بندګان يعني بني اسرائيل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې د لقد آه جمله عطف پر ولقد منّا علیک مرة اخری" او د علیک د خطاب څخه وموسی علیه السلام ته یې نقل کړي عبارت وغیبت ته یعني الی موسی علیه السلام چې اسم ظاهر دی.

فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَّا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ﴿٧٧﴾

نو ته ورګوځوي دوی ته یعني "فاضرب بعصاک البحر یکن طریقًا، لار په دریاب کې وچه" یعني خلاف العادة ولې اوبه چې د یو ځای څخه ایسته سي هغه ځای خو لندې ختې پاتېږي لکن دا لار به په قدرت د خدای وچه کلکه به وي، او نه به ته ببرېږي د غرق څخه.

پوه سه: چې "یبسًا" مصدر دی وصف به الطریق مبالغة فلا یرد ان الطریق مونث سماعي فکیف وصفت بالمذکر یعني یبسًا وجه د دفع یې دا ده چې په مصدر کې مذکر او مونث برابر دي کما تقرر في النحو.

فائده: بحر هر فراخه ځای ته وایې چې ډېرې اوبه په کښې وي، روح البیان واې چې مراد دې څخه بحر القلزم دی په قاموس کې وایې چې قلزم د یو بنار نوم دی چې په مابین کې د مکة المکرمة او مصر دی قریب وطورته او اضافت د بحر وقلزم بنار ته ددې سبب کوي چې دغه بنار پر یو طرف د دغه بحر دی او بعض واې مراد دې بحر څخه رود نیل دی چې د مصر رود دی.

پوه سه: چې اکثر قرأ "لاتخاف" په رفع سره وایي پر صیغه د اخبار یعني ته به نه ببرېږي د "درکا" معنی دا ده چې د رسیدو څخه د دښمن چې فرعون وقومه وه او حمزه "لاتخف" په جزم سره وایې یانهي دي او یاجواب د امر دی یعني فاضرب او جمله د "لاتخاف" مرفوع محلاً حال د فاعل څخه د اضرب او یا دوهم صفت دی د طریق، واو یا استینافي دي او یا دا جمله عطف ده پر "لاتخاف" باندې پوه سه: چې موسی علیه السلام هم داغسې وکړه چې تولې بني اسرائیل نر او ښځې او کشنیان یې تولې چې حساب یې شپږ لکه وو تخمیناً د شپې د مخه د مصر څخه وایستل او دریاب یې په لګړه وواهه قال الله تعالی في موضع آخر "فانفلق فکان فرق کالطود العظیم" یعني لکه لوی غر او وچه کړه خدای په خپل قدرت سره نو بني اسرائیلو تر رود پورې وته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ

نو فرعون چي خبر سو چي بني اسرائيل سره د موسیٰ او هارون عليهما السلام د شپې د مصره وتلي دي نو فرعون سره د لښکر خپل پسي روانې، نو کله چي پر مقدمة الجيش يې هامان قوماندان کړی چي شپږ لکه خلګ يې ورسره روان کړه تاسي اندازه ولګوئ چي د فرعون سره به څونه اندازه قبطيان ملګري وه پښتانه وايي د مرچو د قراره څخه اتکل ورته وکړه.

فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ۝٧٨

نو دوی تږله ډوب او پټ کړه من اليم ای من ماء اليم ای البحر.

پوه سه: چي کلمه د من د پاره د بيان ده او احتمال د تبعيض هم سته يعني بعض "ماء اليم لاکله" او په ما غشيهم کي لويه مبالغه ده يعني دومره اوبه وې چي اندازه يې خدای ﷻ ته معلومه ده چي څو ګزه يا ميله اوبه پر دوی سرپېره سوې او ضمير منصوب دواړه ځايه وفرعون او وجنوده ته راجع دی او من اليم حال دی د ما غشيهم څخه.

دروښ وايي: چي دا قصه په بل ځای کي ډېره مفصله راغلې ده او په هغه ځای کي داسي راغلي دي چي موسیٰ عليه السلام (۱۲) ځايه درياب په لکړه ووا هه چي (۱۲) کوڅې پکښې پيدا سوې بعدد اسباط بني اسرائيل چي د دوی قومونه هم (۱۲) وه او په هغه ځای کي دا هم راغلي دي چي مځکه د مصر خدای ﷻ په ميراث ورکړه بني اسرائيلو ته.

وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدَىٰ ۝٧٩

او ګمراه کړي وه فرعون خپل قوم قبط او راه راست يې نه وه ورښولی په دي آيت کي تکذيب دی د قول د فرعون چي ده قوم ته قبط کاوه "وما اهديكم الا سبيل الرشاد"

دروښ وايي: چي پښتانه يوه ډېره معقوله او د منقول سره هم برابره خبره کوي دوی وايي سائنس د خدای ﷻ نبه ده لکه په دې قصه کي د موسیٰ او فرعون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دا حقیقت پوره توضیح سوه هم په دې مناسبت یوه صحیح قصه واورئ:

عبد الله الثقفي رحمه الله وایي چي حجاج بن یوسف (چي اظلم الناس په عربي ټرې کي چي قصني د ظلم یې اشهر واظهر من الشمس دي) انس بن مالک رضي الله عنه خادم رسول الله ﷺ (۱۰) کاله" را وغوښتی ورته وه یې ویل چي ما اراده کړې ده چي تا قتل کړم په بد قتل سره، انس رضي الله عنه ورته وویل چي که زما یقین سي چي ته ما وژلای سي ما به ستا عبادت کولای من دون الله حجاج ورته وویل ولي، انس رضي الله عنه وویل له دې سببه چي علیه الصلوة والسلام ماته یوه دعا را ښولې ده او علیه الصلوة والسلام وویل "من دعا به في کل صباح لم یکن لاحد علیه سبیل" ما هغه دعاً نن سهار کړې ده حجاج ورته وویل چي هغه دعاً ماته را وښیه انس رضي الله عنه ورته وویل معاذ الله چي زه بې چاته ښیم چي ته ژوندی یې راوي وایي چي د حجاج مخ ژړ سو و عسکرو ته یې وویل خلوا سبیله یعني انس رضي الله عنه رخصت کړي، انس رضي الله عنه خو ولاړی لکن حاضران د مجلس د حجاج حیران سوه چي حجاج وګوره او دونه حلم لکه انس رضي الله عنه ته چي یې وکړی او سره ددې چي انس رضي الله عنه هم شوه نه ورته راوړه، نو داهل مجلس څخه چا پوښتنه د حجاج څخه وکړه چي انس رضي الله عنه دي څرنګه ژر معاف کړی او ستا مخ ولي ژړ سو؟ حجاج ورته وویل چي انس رضي الله عنه چي خپلي خبري تمامي کړې پر داورو اوژو یې دوه غټ غټ زمریان را پورته سوه خولې یې وازي نیولي وې، نو زه وبهرېدم که زه پر انس رضي الله عنه تعرض وکړم زمریان به را پکښې سپاره سي:

راوي وایي چي د انس رضي الله عنه دوفات وخت چي را نزدې سو خپل خادم ته یې وویل چي ته پر ما حق د خدمت لري نو هغه دعاً یې وروښول قال له قل "بسم الله خیر الاسماً بسم الله رب الارض ورب السماً بسم الله الذي لا یضر مع اسمه شئ في الارض ولا في السماً"

دروښ وایي: چي د دې دعاً خو په دنیا کي دغه تاثیر وو چي تاسي په قصه کي د حجاج او انس رضي الله عنه واودیدی نو که دغه دعاً علی الصباح څوک ورد وګرځوي په آخیرت به د دې دعاً په برکت به په قیامت کي به د عذاب النار څخه خلاصون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مومي وما ذالک علی الله بعزیز علماً گفته اند "کی خداوند عالم کسي را به بهانه نمي بخشد "وبیهانه مي بخشد" اللهم اغفر لي ذنوبي کلها بای وجه کان آمین.

فذلکة: دروښ وایي چي هغه بیان چي وړاندي تېر سوچي موسی ﷺ چي اراده د سفر ومصر ته وکړه سره د کور ودانۍ صفورا او موسی ﷺ صفورا ته وویل چي پلار ته دي ووایه چي موږ ته څو مېرۍ پسونه راکړي الخ، دا قصه مظهري رحمه الله په خپل تفسیر کي هم په هغه ځای کي کړې ده، نو اوس دا پوښتنه د ځلګو په زړو کي ورګرځي چي موسی ﷺ چي سره د پسو او یو شپانه او صفورا په یوه شپه د کوه طور محاذات ته راغله او یخ هم وو او لار هم ځندي ورکه وه او د طور په جانب کي اور ولېدی او ملګري هوري پرېښول او دا یې ورته وویل "لعلي آتیکم بقبس آه" کمامر تفصیلا او موسی ﷺ چي د اور ځای ته ورغلی هوري خبري ورسره وکړې و رسالت یې ورکړی کما مر مفصلاً موسی ﷺ بیرته د سفر ملګرو ته راغلی که څرنګه؟

روح البیان په (۵ جلد ص ۳۸۷) کي وایي چي موسی ﷺ ته چي خدای رسالت ورکړی او د ده سوالونه قبول کړه (یعني کمامر في هذا التفسیر) موسی ﷺ د هغه ځایه څخه د مصر پر خوا روان سو، د فرعون د پیغام آلهي د رسولو د پاره "وشیعته الملائکة یصافحونه وخلف اهله في الموضع الذي ترکهم فیه" او پرېښول اهل خپل یعني صفورا سره د پسو وغیره کما مر مفصلا در تیسیر آمده که کسان موسی "یعني ملګري د موسی" شب انتظار بردند موسی نیامد "وروز نیز ازو خبري نیافتند در صحرا متحیر ماندند آه، فلم یزالوا مقیمین فیه حتی مر بهم راع من اهل مدین فعرفهم، نو دوی همه وهمه د شعیب ﷺ کورته وروستنه هوري وه حتی بلغهم خبر موسی بعد ما جاوز بني اسرائیل البحر وغرق فرعون وقومه، نو شعیب ﷺ خپل لور صفورا سره د زوی د موسی ﷺ مصر ته ور واستول.

دروښ وایي: چي د پسو او خادمه او د شپانه ضرورت دفع سوی وو په غلبه د موسی پر مصر فرعون باندي انتهی قول روح البیان مع زیادة من الفقیر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي وهذا السوال والجواب ینفع لکل من المتعلم والمعلم الغیر الحاسد والمتکبر ..... بیت:

د فقیر تفسیر به هغه چاته فائده وکړي
چي په سر کي تکبر او په زړه کي عناد نه وي

هم یحسدونني وشر الناس کلهم ... من عاش فی الناس یوماً غیر محسود

یٰبَنِیۤ اِسۡرَآءِیۡلَ

درویش وایي: چي هغه مفسر چي وایي چي دا خطاب دی وهغو بني اسرائیلو ته چي په عصر نبوي ﷺ کي وه په هغه فعل سره چي د دوی د آبا وو سره خدای یعني الانجا من العدو وغیره کړی وو دا تفسیر غلط دی ولي چي داسورة خو مکي دی بالاتفاق. او په مکة کي خو مخاطبة د بني اسرائیلو نه وه بلکه ټوله مخاطبه په مکة کي د قریشو سره وه. نو صحیح داده چي دا مخاطبه دهغو بني اسرائیلو ته ده چي تر دریاب خدای ﷻ واپسته او دا خطاب وروسته دی تر هلاک د فرعون لکن داخطاب په تقدیر د قلنا دی یعني قلنا یا بني اسرائیل او دا جمله استیناف بیاني دی "في جواب من قال فما ذا فعل بهم کذا في المظهري وروح البیان وروح المعاني فافهم.

قَدۡ اَنۡجَیۡنٰکُمۡ مِّنۡ عَدُوِّکُمۡ

په تحقیق نجات در کړی موږ تاسي ته د دښمن څخه ستاسي چي فرعون و هغه مو غرق کړی، یعني د قوم سره چي قبط وو.

درویش وایي: چي دا نجات لوی نعمت وو د هغې زماني پر بني اسرائیلو حیث کان فرعون وقومه "یذبحون ابنائکم ویستحیون نسائکم" او دې پر خدمات شاقه په تاسي کوله.

وَوٰعَدۡنٰکُمۡ جَانِبَ الطُّوۡرِ الۡاَیۡمَنَ

او وعده وکړه موږ د تاسي سره دطرفه د کوه طور "الایمن" صفت دی د جانب یعني چي د موسی علیه السلام پر راسته جانب وو "اذ لا یمین للجبل فالاضافة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لادنی ملابسة" او لفظ د جانب منصوب دی علی الظرفیة او دا وعده د موسی علیه السلام سره د پاره د مناجات او اعطاء التورات وه.

سوال: واعدنا" څو باب د مفاعلي دی چي دو جانبه فعل غواړي دلته څو وعده یوازي د خدای ﷻ د خوا څخه وه؟

ځواب: قبول د موسی ؑ د وعدي د خدای ﷻ لکه وعده د موسی ؑ شمار کړل.

سوال: وعده څو یوازي د موسی علیه السلام سره وه نو "واعدناکم" خطاب څرنګه دی؟

ځواب: د موسی علیه السلام سره وعده د دوی سره وعده ده لانه نبیهم، نو موسی علیه السلام د قوم څخه (۷۰) کسان ورسره بوتله یعني د پاره د شهادت پر اعطاء التورات.

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ﴿۸۰﴾

او موږ نازل کړي وه یعني د اسمان د جانبه څخه من چي ترنجبین یې بولي او د تارو ګانو یا کرکانو یخی بریاني یې په غوړو کي غوښې دا هغه وخت وو چي دوی په دښت کي د تیه وه، او بعض مفسرین وایي چي دا مرغان به دوی ذبح کول.

پوه سه: چي ترنجبین د سپېدو څخه تر لمر ختو پورې پر ورېده یوه صاع به هره سړي ته رسېدله او جنوبي باد به سلوٰی ورته راوړه یا پاخه یا به دوی ذبح کول.

دروښ وایي: چي تفصیل د قصه دتیه په سورة مائدة کي دی.

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ

بتقدیر القول ای قلنا لکم کلوا" خوراک کوئ د خوندورو خوړو څخه یا حلالات خوړو څخه دا هغه څه دي چي ما په رزق درکړي وه تاسي ته، او سر کښي مه کوئ یعني چي شکریې ته وایاست او تجاوز تر دغو حلالاتو شیانو مه کوئ وحرام ته او کبر هم مه کوئ.

فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ﴿۸۱﴾

نو که تاسي طغیان وکړئ نو پر تاسي به نازل او لازم سي غضب زما چي کنایه د عذاب د دنیا دی او هغه څوک چي پر ده نازل سي زما غضب هغه هلاکېږي په دنیا کي او په اور کي د دوزخ په آخرت کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَىٰ ﴿٨٢﴾

او په تحقیق زه بخښونکی یم وهغه چاته چې توبه وکاږي د شرک او طغیان څخه، او ایمان راوړئ بما جاْ به رسله، او عمل صالح وکړئ چې د کتاب سره د خدای ﷻ برابر وي، او بیا پر هغه هدایت ثبات وکي، ابن عباس ﷺ وایي چې په دې پوه سئ چې داتوبه او عمل صالح په توفیق د خدای ﷻ دی، او قتاده او سفیان ثوري وایي "لزم الاسلام حتی مات علیه، او شعبي او مقاتل او کلبي ؒ وایي علم ان لک ثوابا او مظهري ؒ وایي چې په طلب کي قرب الی الله وي بلا کیف وي جامي قدس سره وایي:

دارم جهان جهان گنه ای شرم روی من ... چون ازین جهان بجهانی دیگرروم
یاران دواسپه عازم ملک یقین شدند... تاکی عنان عقل بدست گمان دهم
با خلق لاف توبه و دل بر گنه مصر ... کس پی نمیبرد که بدین گونه گمرهم

دروښ وایي: چې حاصل د دې ایباتو د جامي ﷺ دا دی چې مراتبي د قرب الی الله صرف د خولې په خبرو نه دی بلکه په اخلاص قلبي بدون الریا پوري مربوط دی..... بیت:

بر زبانت یا صمد پیدا و در دل یا صنم
ای بباطن کافر وظاهر مسلمانی چي سود

بروی وزیا خرقه سهل است دوخت ..... وگر با خدا در فروشی نکوست
انانکه ذره وار بصورت محقر اند..... فرد از خیال وناز بفردوس ننگرند

وَمَا أَعْجَلَكَ عَن قَوْمِكَ يَا مُوسَىٰ ﴿٨٣﴾

دا جمله عطف ده پر هغه جمله "قد انجیناکم" دا خطاب دی و موسی علیه السلام ته او د مخه جمله خطاب وو بني اسرائیلو ته، بغوي ؒ وایي چې څه شي ته ژر راوستي منفرد دقوم څخه ستا ای موسی حسین کاشفي ؒ په تفسیر حسیني کي وایي، آورده اند که که بني اسرائیل بعد از هلاک فرعون از موسی علیه السلام استدعا نمودند که از برای ما قواعد شریعتي واحکام آن بیین ساز موسی در آن باب با

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رب الارباب مناجات کړد خطاب رسید که باجمعي از اشراف بني اسرائیل بکوه طور بیائید تا کتابي که جامع احکام شرع باشد بتو دهم موسی هارون ببجای خود داشت یعني بگذاشت برای تعلیم بني اسرائیل ونهی آنان از معاصي وباوجود قوم که هفتاد تن بودند متوجه طور شدند، وقوم خود را وعده داد که چهل روز دیگر میایم وکتاب مي آورم وچون بنزدیک طور رسیدند موسی علیه السلام قوم یعني (۷۰) که همراه بودند پر اپس ماندند وخود از غایت اشتیاق که به کلام وپیام آلهي داشت زود تر بالای کوه بر آمد خطاب آلهي رسید وما اعجلک آد،

دروښ وایي: چي په دې پوښتنه کي د رب المعزت حکمت دا ووچي موسی علیه السلام اقرار وکړی په خپل شوق سره وکلام ته د خدای لکن باوجود استفهام تقریر ضمنا انکار هم ووپر ده چي ولي دی ملګري تر شیا پریښول موسی علیه السلام دوارہ جواب ورکړي اول د انکار ولي چي دا جواب اهم وو.

قَالَ هُمْ أُولَاءِ عَلَىٰ أَثَرِي وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ ﴿٨٤﴾

موسی علیه السلام وویل چي ملګري دغه دی نژدې را پسې دي یعني دهر لیري مي نه دي پریښي بلکه دونه لیري دي چي اشاره ورته صحیح ده "وعجلت" معطوف دی پر دې قول هم اولاً یاحال دی په تقدیر د قد کما هو الشرط في وقوع الماضي حالا علی مابین في النحو "الیک" چونکه خدای ﷻ لره مکان نسته نو ددې لفظ ترجمه دا ده الی مکان وعدتني لاعطاء التورات في ذالک المکان وشوقا الی کلامک معي "رب لترضی" ای زما رب چي ته د ماسه راضي وګرځی لان الشوق والمحبة یکون من الجانبین یعني من جانب العبد المسارعة الی امتثال الامر ومن الله الرضي بذلک.

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ

خدای پاک ورته وویل چي موږ په تحقیق په فتنه واقع کړه قوم ستاد فتنې څخه مراد یا امتحان دی یعني چي ګلګی پر لاس د سامري ورته جور کړی چي دوی یې عبادت کوی که نه، یا معنی یې اضلال دی ای اضللنا هم بعبادة العجل،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد د قوم څخه هغه کسان دي چې موسی علیه السلام هغوی ته هارون لار ښود پر ښود چې تعداد یې شپږ لکه وو لکن ددې فتنې څخه خلاصون صرف (۱۲۰۰۰) بني اسرائیو پیدا کړی نور ټوله په عبادة العجل اخته سوه.

دروښ وایي: چې لله الحمد والمنة چې امت نبوي سید البشر خاتم النبیین ﷺ په حیوة کې د انحضرت ﷺ او نه هم وروسته په دوئه دست جمعې داسلام څخه برګشته په مرګ اخته تر الی یومنا هذا پورې نه دي پیدا سوي البته په حیوة نبوي کې اسود عنسی او مسیلمة کذاب دعوه دنبوة کړې وه لکن مسلمانان دهغو دوو ملعونانو په دام کې نه دی لویدلي. د افراد ارتداد نعوذ بالله منه ګاه بیکاه واقع سوی دی او اوس هم جاري دي لکن دومره جمع واري د تاریخ په پاڼو کې نه لیدل کیږي اللهم احفظ امة محمد ﷺ من اضلال المضلین آمین.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله په دې مقام کې سوال داسې کړی دی چې "انا قد فتنا آه" مرتب دی پر دې قول دموسی علیه السلام عجلت الیک آوهذا یدل علی کون العجلة سببًا للفتنه اذا الفاً سببیة او بیا مظهري رحمه الله په دقیق تصوفي جواب جواب ورکړی دی چې تر فهم د متعلمینو د تفسیر ایوبي ډیر لوړ دی او قول د مجدد الف ثاني رحمه الله راوړي دي چې طالبان خو څه که یې بلکه هغه علماً چې مرتاض د تصوف سره ئه وي او په مکتوبات د امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله کامل نه پوهیږي هم په دې جواب نه پوهیږي فلذا لک ترکنا ایراده من شاً فلیرجع الی التفسیر المظهري رحمه الله والصحیح ما اشار الیه صاحب روح البیان اجمالاً بقوله في تفسیر قوله "قال فانا فتنا آه" استیناف بیاني وصاحب روح المعاني تفصیلاً بقوله استیناف مبنی عن سوال نشاً م اعتذار موسی علیه السلام کانه قیل من جانب السامعین فماذا قال له ربه حینئذ فقیل في الجواب "فانافتنا قومک آه" ای اخبرناهم بما فعل السامري من بعدک ای بعد فراقک منهم وذهابک منهم آه. نو د دې معنی دا ده چې کلمه د فاً د پاره د سبب نه ده لکه مظهري چې ویل حتی چې د ده سوال وارد سي بلکه د پاره د مطلق تعقیب دی او روح البیان هم تفسیر داسي کړی بعد خروجک عنهم فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنۢ بَعۡدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾

وروسته تر تگ ستا الی جبل الطور او گمراه کړه دوی سامري

پوه سه: چې نسبت د اضلال وسامري ته وکړی په سبب د دې چې دی کاسب د گلګي وو او بني اسرائیلو ته ده دعوت ورکړی چې هذا الهکم والله موسی او د فتنې نسبت خدای وګان ته وکړی یعني قد فتنا آه. لانه تعالی خلق الفتنة فیهم لانه تعالی خالق کل شئ قانون کلي اسناد ده تولو کارو که ښه وي او که بد واسباب ظاهره ووته کښږي بالنسبة الی الظاهر او خالق قادر متعال ته کښږي په اعتبار د خلق او اراده وهذا مذهب اهل السنة والجماعة ومتوسط بین مذهب الجبریة لانهم یقولون العبد مجبور محض ومذهب القدریة حیث یقولون ان العبد خالق لافعاله لا مدخل له تعالی في خلقها فافهم.

پوه سه: چې سامري په نیز د اکثرو علماؤ لکه زجاج چې وایې یو سړی وو د اشرافو څخه د بني اسرائیلو دقبیلې چې نوم یې سامره وو، او داقبیله تر اوسه پورې په شام کې مشهوره په سامرین سره ده، او بعض علماً وایې چې د موسی علیه السلام دخاله زوی وو او بعض وایې د عمه زوی یې وو، او بعض وایې چې د یو مریې نوم دی د کرمان د وطن او بعض وایې د اهل څخه د باجرما وو وهي قریة قریبة من مصر، او بعض وایې د قبط د قبیلې څخه وو وخرج مع موسی علیه السلام مظهر الایمان او د موسی علیه السلام همسایه وو او بعض وایې چې سامري عابد البقر وو وقع في مصر فدخل في بني اسرائیل ظاهرا ونفاقًا او په زړه محبت د عبادة البقر وو (وهذا هو المناسب لصنع العجل وامر بني اسرائیل بعبادته) او نوم یې بعض علماً وایې موسی بن ظفر وو وهو الاشهر وقیل غیر ذالک، ابن جریر د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی چې د دغه سامري مور چې دی وزېږاوه دابېرېدل چې فرعون بې قتل کړي په یوه غار کې پټ کړی او نوم یې موسی پر کښېښود ودروازې ته د غار یې دبره کښېښول جبرئیل په ورته د ده گوتې په خوله ورکولې د یوې گوتې څخه شیدې را وتلې دبلې گوتې څخه به عسل حتی چې لویه دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي : چې ددې روايت څخه د ابن عباس رضي الله عنهما دا معلومه سوه، چې سامري اسرائيلي وٶ، ولي چې فرعون خو د بني اسرائيلو زامن وژل، او بيا ددې دو بيتو هم پر دغه روايت دی

اذالمرء لم يخلق سعيدا تحيرت..... عقول مربيه و خاب مؤمل

فموسى الذي رباه جبرئيل كافر..... وموسى رباه فرعون مرسل

والحاصل السامري عند الجمهور كان منافقا يظهر الايمان و يبطن الكفر.

دروښ وايي: چې تفصيل مذكور ددغو تفاسيرو څخه منقول دی د روح المعاني، روح البيان او تفسير القرطبي او تفسير مظهري رح.

دروښ وايي : چې موسى عليه السلام چې طور ته تلی د څلويښتو ورځو تېرولو وعده يې بني اسرائيلو ته ورکړې وه، نو سامري به بني اسرائيلو ته شپه او ورځ جلا جلا حسابله چې په شل ورځې يې څلويښت ورځې ور پوره کړې، نو يې عجل ورته جوړ کړی، او د "اله موسى" نوم يې پر کښېښود.

فَرَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ

نو رجوع وکړه و قوم ته يعني وروسته تر څلويښت ورځو دميعاد پوره کولو، په داسې حال کې چې په غضب وو، دوئ ته يعني پر عبادة العجل باندې او اسف يعني ډېر غمجن وو، له سببه د مافعلوا، نو "غضبانا اسفًا" حال دی له "موسى" څخه.

قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ

وويل موسى چې قوم يې ولېدل چې په عبادة العجل سره غوندې وه، ای قوم زما ايا وعده نه ده درسره کړې رب ستاسې سره وعده يعني څلويښت ورځې ميقات يعني زما پر ژبه "حسنًا" يعني هغه وعده يعني تورات به درکوم په دغه ميعاد کې ياد "حسنًا" معنی "صادقًا" ده.

پوه سه: چې همزه د پاره د استفهام انکاري ده، او نفي د نفي اثبات دی، يعني وعده درسره کړې ده او وعده منصوبه ده مفعول مطلق دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ

آیا اوږده سوه پر تاسو وعده. الاستفهام للانکار یعني تر مقرر میعاد خو نه ده بالا سوې.

قانون: په علم نحو کې وایي چې وروسته تر همزه د استفهام که واو راسي یا فأ یا ثم د حروف عاطفه څخه راسي پر ماقبل تر همزه خو نسي عطف کېدای لفوات صدارت حرف الاستفهام نو موافق د هر مقامه سره وروسته تر همزه فعل مقدر غواړي دپاره ددې چې مذکوره فعل پر عطف سي، او صدارت د همزه پر خپل ځای پاته سي. "والتقدیر" اوعدکم ربکم فطال علیکم "زمان انجاز الوعد او زمان مفارقتي منکم.

دروبش وایي: چې بعض مفسرینو تر مذکور معطوف مقدر معطوف علیه دوچنده بالا راوړی دی.

أَمْ أَرَدْتُمْ أَنْ يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَوْعِدِي ﴿٨٦﴾

او که ستاسي په دې کار کولو یعني عبادة العجل اراده دا وه چې پر تاسي دي لازم او واجب وګرځي غضب د رب ستاسي، نو تاسي خلاف وکړل د وعدې څخه زما.

پوه سه: چې موعد من قبیل اضافة المصدر الی المفعول" یعني چې تاسي زما سره وعده کړې وه چې موږ به پر ایمان بالتوحید محکم ژوند کوو یعني وقت البیعة.

قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا

قوم ورته وویل چې موږ مخالفت ستا ده عدې څخه نه دی کړی.

پوه سه: چې ملک قدرة او اختیار ته وایي یعني په خپل اختیار سره بلکه پر موږ غالب سو تسویل او فریب د سامري چې موږ عبادة العجل مختاره کړی. ولي چې اختبار یعني امتحان او فتنه چې د خدای جل جلاله خوا راسي هغه مسلوب الاختبار ګرځي.

پوه سه: چې "اوزار" جمع د وزر ده بمعنی الحمل الثقیل، او "حملنا" په صیغه د مجهول ده. ای موږ مکلف کړل سوي وو په هغه درانه بار سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِّنْ زِينَةِ الْقَوْمِ

له زيورانو څخه د ښځو دقوم قبط "من زينة القوم" صفت دی. د "اوزار"، دا هغه وخت وچې موسی او بني اسرائيل د مصر څخه ووتل نو ښځو دبني اسرائيلو چې د قبطيانو د کورو خدمت بې کاوه دقبطيانو ښځو څخه ددوئ زيوارت استعارة غوښتي وه، چې زموږ په بني اسرائيلو کې واده دی. "هذا ماروي عن ابن عباس رضي الله عنه".

دروښ وايي: چې اوزار ګنهونو ته هم وايي بغوي ؒ وايي چې اوازپه معنی دګنهو دي ولي چې دوئ خو عارية د فرعونيانو د ښځو څخه اخستي وه، او بېرته يې ورنه کړه نو دوئ ګناه وکړه انتهى روح المعاني. اول ده تسميه ددغو حلي و په اوزار سره په معنی دګنهو داسي کړې ده" وهذا عبارته و لعلهم اطلقو على تلك الحلي الاوزار بمعنى الاثام من حيث ان الحلي سبب الاثام غالبا كانها يلبث غالبا و في الاكثر للفخر والخيلاء والترفع على الفقراء و قيل من حيث انهم اثموا بسبب تلك الحل و عبدوا العجل المصنوع منه.

لکن روح المعاني خو کرخ وروسته ويلي دي، چې موسی عليه السلام دوي په دغه استعارة د حلي امر کړي وه. حتى قيل ان فاعل التحميل هو موسى "يعني في قوله حملنا على صيغة المجهول. او موسی عليه السلام دغه زيورات ددوی په لاسو کې پريښول بعد هلاک اصحابها. اقرهم على استعمالها فاذا لم يكن حلالا فيكف يقربهم اى مع علم موسى عليه السلام بذالك" خو ليکن وروسته يې ويلي دي "وقد يقال ان اموال القبط مطلقا بعد هلاكهم كانت حلالا لبني اسرائيل كما يقتضيه ظاهر قوله تعالى "كم تركوا من جنات وعيون وكنوز ومقام كريم كذالك و اورثناها بني اسرائيل".

او بل دليل د حل ددغو زيوارتو روح المعاني دا راوړی دی چې خداى پاک ﷻ اضافت دحلي وو وقوم ته دموسی کړی دی. في قوله تعالى " واتخذ قوم موسى من بعده من حليهم عجلا جسدا" آه. و ذالك بظاهر يدل على ان الحلي ملك لهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا وو نقل د عبارت د روح المعاني من موضع الحاجة او روح المعاني نوري درازي خبري هم کړي دي.

فائده: قوله تعالى "لكنا آه" اعتذار دى د قوم د موسى و ده ته في عبادة العجل ببيان منشأ خطائهم في ذالک كما سيأتي في الاية.

فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ الرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي ﴿٩٦﴾

موږ هغه ځر او زهور چې د قبطيانو د ښځو څخه په عاريت زموږ ښځو راوړي وه، واموچول يعني په کنده کي. چې دلته جوړ سوى د سامري له خوا، او دغه رنګه سامري هم خپل زر په کندي کي واچول لکه موږ چې واچول، په تفسير کاشفي کي وايي" وقتيکه موسى بطور رفت سامري نزد هارون آمد و گفت قدري پيرايه که از قبطيان باما است و ما را بي اجازه موسى تصرف روا نيست ومى بينم که بني اسرئيل که انرا ميخرند و ميفروشند حکم فرماي تا همه جمع نمايد بسوزند" هارون امر فرمود که تمام پيرايه ها بياريد، مردم چنين کردند، و دحفره ريختند و آتش زدند. وسامري زرگر چالاک بود همين که آن بگداخت وی قالبي ساخته بود شکل گوساله خورد آن زر گداخته در آن ريخت و شکل گوساله بيرون اورد و قدري از خاک زسم فرس جبرئيل که فرس الحيوة ميگفتند در درون وی ريخت في الحال زنده شد، و در او آواز آمد.

دروښ وايي: چې بعض مفسران وايي چې پردې گوساله غوښي او پوست پر ده پيدا سوه، لکه نور گوساله او بعض مفسران وايي چې هغه د زرو گوساله وو لکن نارې د عجل يعني گلگي يې وهلې.

او مختاره دويمه رايه ده ولي چې د پوست او غوښو گوساله خو ډبره نو بني اسرائيلو ولي سجده ورته کولې او ولي يې د سامري داخبره مثله. هذا الهکم و اله موسى "البته د زرو گوساله يو نادرشى وو چې آواز يې هم کاوه ده گوساله.

کاشفي ؒ دوارې نظريې راوړي دي چې وايي في الحال زنده شد وگوشت و پوست بر او پيدا شد و باواز درآمد و گويند زنده نشد ليکن بآن وضع ريخته بود لکن بانگ گوساله ميزد انتهى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ

را وایستی سامري بني اسرائیلو ته "عجلاً" گوساله "جسداً" بدل دی له عجلاً څخه "له خوار" صفت دی د عجلاً یعني صورت بقر.

درویش وایي: چې روح البیان هم دواري ترجمې کړي دي حیث قال جثة ذادم و لحم او جسداً من ذهب و لا روح له آه.

فَقَالُوا هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ۝

نو وویل سامري او تابعینو ددې اول مارڼه، چې دادی خدای ستاسي او خدای د موسی علیه السلام، روح البیان ددې آیت په تفسیر کې وایي ای غفل عنه موسی و ذهب یطلبه في الطور او بعض مفسرین وایي "ترک السامري ما کان علیه من الایمان ظاهراً و کفر بالله ظاهراً و باطناً.

أَفَلَا يَرَوْنَ

استفهام او انکار دی د خدای ﷻ له خوا ځخه پر دغو عبادت کونکو باندې او پر قائلانو ددې قول هذا الهکم و اله موسی فنسی کما مر.

بوه سه: چې جمله "فلا یرون" معطوف ده پر مقدر کما هو القانون النحوي و قد مر ذالک القانون في هذا التفسیر غیر مرة و التقدیر آه، لاینظرون فلا یعلمون، نو رڼیت علمي دی ایا علم نه لري هؤلاء الحمقی.

أَلَا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا

"الا" ان مخفف د مثقل دی، و اسمه ضمیر الشان محذوف دی و التقدیر شان دادی چې نسي ردولای دغه عجل الیهم قولاً ددوئ نه خبره یعني و دوئ نه خبره نسي کولای، او نه دوئ د خبرې جواب ورکولای سي نو دا گوساله خو تر دوئ عابد ینو ده اډون حالا دی ولي خو دوئ خبره کولای سي او د خبرو جواب هم ورکولای سي، نو څرنګه دوئ دغه بېزبانه شی معبود وګرځاوه، معبود خو لازمه ده چې تر عابد به اعلی شانه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ۝

او مالک نه دی یعني په طاقت یې نه ده پوره ددې ګومساله دفع د ضرر ددوی څخه او نه هم جلب د نفع یې ده وسه پوره وي. فکیف یستحق لعبادتهم لان المعبود یجب ان یکون دافع الضر عن العابد و جالب النفع الیه و ما هو الا الله القادر علی کل شئ.

بغوي ؒ وایي نقلاً عن غیره چې هارون ؑ تهربدی پر سامري چې ده ګوساله جوړه وی. هارون ؑ پوښتنه ځندي وکړه. چې دا ته څه شی جوړه وې؟ ده ورته وویل چې "اصنع ما ینفع و لایضر" ماته دعا وکړه چې زه کامیابه سم. هارون ورته وویل "اللهم اعطه ما سال علی ما في نفسه" تو سامري هغه خاوري د پښو د جبرئیل د آس په خوله کې ور واچولې "فقال کن فکان کذالک" هارون ؑ خو اول په حقیقت نه وخبر چې دا یو فتنه وه "ابتلی الله بها بني اسرائیل.

دروښ وایي: چې هارون چې ورروسته تر دې چې سامري خلګ عبادة العجل ته دعوت کړه. او اکثر بني اسرائیل په عبادت اخته سوه. په دې پوه سو چې سامري تاته چم وکړی او هغه وینا دده چې دا مصنوع دده ما ینفع دی و لایضر دی کاذب ورته معلومه سوه. ولې چې دا مصنوع د سامري نفع هم نه لري او ضرر یې ببشماره دی چې اکثره بني اسرائیل یې په مصیبت د شرک اخته کړه خدای پاک دده د قول حکایت داسې کړی دی.

وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ

لام جواب د قسم محذوف دی. او دا جمله عطف ده علی قوله تعالی " ولقد اوحینا الی موسی الایة یعني قسم په خدای دی چې په تحقیق هرون ویلي وه بني اسرائیلو ته د مخ تر راتګ د موسی ؑ "یٰقوم انما" ای قوم پر تاسي امتحان راغلی او په امتحان کې واقع سوست یعني چې تاسي پر توحید د خدای پاتې یې او که پ شرک سره ګمراهان کېږي.

وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِيْ وَاَطِيْعُوْٓا اَمْرِيْ ۝

او ستاسي د عبادت ور هغه څوک دی چې د رحمت څښتن دی او ګوساله د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رحمت کولو څخه بلکه دامکان څخه د رحمت بعید بمراحل، نو زما متابعت وکړئ په اثبات پر توحید او استقامت علی عبادة الرحمن بلاشائبة الشرک لان الشرک بمعزل عن الدین السماوي، او اطاعت زما د امر وکړئ

قَالُوا لَنْ نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰى ۝

مورږ نه منع کېږو له عجل او له عبادت څخه د هغه ستا په خوله، یعني مقیمین او ثابت قدم به یو، تر هغو پورې چې رجوع کوي مورږ ته موسی، راوي وایي چې هرون سره (۱۲۰۰۰) دولس زره بني اسرائیلو چې عبادت د عجل ېې نه وو کړی په مجموع بني اسرائیلو کې چې تعداد یې شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) وو جلا سو، راوي وایي چې موسی چې راغلی او ناري، غزلي او رقص یې پرشاو خواد ګوساله واورېدی هغه اوویا کسه چې دده سره طور ته تللي وه، وه هغوئ ته یې وویل "هذا صوت الفتنة" موسی علیه السلام چې راغلی د غضب في الله له کبله یې هارون په رسته لاس د سر تر وېښتانو او په چپه لاس تر ږیره ونیوی،

پوه سه: چې هرون ډېر بلیغ او په زړه پورې وعظ وقوم ته وکړی، اول یې دوئ زجر کړه د باطلي لاري څخه بقوله (انما فتنتم) بیا یې دعوت ورکړی و معرفت ته د خدای (بقوله وان ربکم الرحمن) ولي چې معرفت د خدای ﷻ اصل الاصول دی بیا یې معرفت ته د نبوت را جلب کړه، بقوله (فاتبعوني) او بیا یې وه شرائع ته د دین را جلب کړه، بقوله (واطیعوا امري) او په دې نصیحت هارون ؑ شفقت پر ځان وکړی او هم د بني اسرائیلو پر حال یې دا شفقت وکړی چې دی خو نبي وو، مامور من عند الله بالامر بالمعروف والنهي عن المنکر او د وروړ موسی ؑ له خوا هم مامور و، بقول موسی "واخلفني في قومي واصلح و لاتتبع سبیل المفسدین" نو که چېرې هارون امر بالمعروف او نهي عن المنکر نه وای کړی، نو دی په مخالف وای د امر څخه د خدای او د امر څخه د موسی علیه السلام او دونه مخالفت خو د نبي د شان سره شایان نه دی، او بیا هرون ډېر دلاوری وکړه چې د ګوساله فرستانو په غایت کثرت کې ده باک نه وکړی "بل صرح بالحق و لم یخف عن کثرتهم و هذا عادت الانبیاً علیهم السلام لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يخافون في اظهار الحق من لومة لائم" سعدي شيرازي ؒ وايي:

بگوی آنچه دانی سخن سود مند ..... و گر هیچ کس رانیاید پسند

قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ﴿۹۲﴾ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ

پوه سه: چي جمله "قال" استيناف بياني ده يعني جواب دی ددې پوښتنې چي موسی علیه السلام: چي دا صحنه ولېدل نو هارون ته يې څه وويل فاجيب قال يعني موسى وويل.

پوه سه: چي جمهور مفسرين وايي چي کلمه د لا زائدة ده، ای هارون ته څه شي منع کړې چي زما متابعت دي ونه کړی او زما وصيت دي قبول نه کړی چي دعوة د بني اسرائيلو دي و توحيد ته کړی وای او د شرک څخه دي په ژبه او جنګ منع کړي وای، او بعض مفسرين وايي مامنعک من ان تاتي عقبی" يعني په ما پسې به راغلی او ماته به دي خبر راکړی وای، نو دا ستا راتګ په ماپسې به د دوئ زجر ګرځېدلی وای، او بعض مفسرين وايي چي منع په معنی د دعا ده مجازاً، يعني څه شي تاته دعوت درکړی د عدم متابعت زما څخه.

پوښتنه: ددې دو خبرو چي يا لا زائده دی يا منع په معنی د دعا دی مجازا، څه ضرورت دی؟

خواب: ضرورت دادی چي که عبارت قرآني پر خپل ظاهر پاته سي نو معنی يې داسي کېږي، چي ته څه شي منع کړې د عدم متابعت څخه نو منع د عدم متابعت څخه خو متابعت دی، "ولم يكن ذالک" ددې ايت مثال هغه آيت دی چي ابليس و آدم د سجده ونه کړه، خدای پاک داسي ورته وويل ما منعک ان لاتسجد في الوجهين المذكورين فتدبر، هداک الله.

اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ ﴿۹۳﴾

آيا تا عصيان وکړی زما د امر څخه.

پوه سه: چي استفهام د پاره د انکار دی، او په قرار د قانون نحوي کمامر غير مرة معطوف پر مقدر فعل دی، ای ارضيت بما فعلوا و اقمت فيهم فعصيت امري اي خالفت امري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِيٓ

هارون ؑ ورته وویل ای د مور زویه، ته مانیسه تر ږیره اود سر تر وېښتانو، نو راوي وایي چې هارون کثیر الشعر و، او موسی دی تر ږیره او د سر تر وېښتانو ونیوی و ځان ته یې راکش کړی، په سبب د ډېر غضب في الله.

سوال: موسی او هارون علیهما السلام په مور او پلار دواړو کې شریکان وه، نو هارون ولې یوازې مور ذکر کړه؟.

جواب: د پاره د رقت د زړه د موسی ولې چې د مور شفقت ډېر دی. ځکه پښتانه وایي: چې نه دي وي د مورہ هغه ته مه وایه چې ورورہ.

إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي ﴿٩٤﴾

زه ډېرېدم (یعني که ما نهي د دوئ کړی وای په جنګ سره نو خو دوئ ډلي به ګرځېدلي وای بني اسرائیل او جنګ به یې سره کولای یعني یوه ډله به حزب الله وای او بله ډله به حزب السامري وای) یعني ددي ځخه ډېرېدلم که ما داغسي کړی وای نو تا به ویلای وماته، چې تا ډله ډله وګرځول بني اسرائیل، او زما په قول او نصیحت دي عمل ونه کړی چې ما تاته ویلي ود، اخلفني في قومي واصلح. ولي دا قول خو دلالت پر دې کاوه چې ته نرمي کوه والاصلاح خیر من اراقة الدم بیا موسی علیه السلام منځ راواړوه پر سامري.

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾

پوه سه: چې خطب مصدر دی په معنی د طلب کما قال البیضاوي دلته په معنی ده مطلوب دی یعني ستا څه مطلوب وو په دغه کار کې چې تا وکړی او په قاموس کې وای " الخطب الشان والامر العظیم ته وایي او نهایة والا وای "ماشانک و ما حالک".

قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا۟ بِهِۦ

سامري په جواب دموسی وویل چې ما یوشی ولیدی چې خلګو نه لیدی.

پوښتنه: هغه نو څه شی وو چې سامري ولیدی او خلګو و نه لیدی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب: هغه دا وو چي فرعون چي غرق سو سره د قوم، نو د موسی ؑ یو څوک ملګری سو په صورت د انسان پر آس سپور په حقیقت کي جبرئیل ؑ وو، سامري وروسته په پسي وو، آس چي جبرئیل پر سپور وو چي پښه به یي پورته کړه پر هغه مځکه به واښه راشنه سوه، نو سامري د ځان سره فکر وواهه چي دا خاوره یو شان لري.

فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا

نو ما یوه لپه خاوري را واخستي "قبضة فعلة" په معنی د مرة دی، لیکن دلته ځندي مراد مقبوض دی "من اثر الرسول" بحذف المضافات ای من تراب اثر حاف فرس الرسول "فنبذتها" ای القیتها في فم العجل المصنوع من حلي قوم فرعون" هغه ګلګی په ټارو سو.

دروښ وایي: چي د مضافاتو تحقیق ما په حاشیه کي د مرح الارواح کړی دی فارجع هناک.

فائده: ده ولي نه جبرئیل او نه روح القدس ووایه لانه لم یعرفه انه جبرئیل، او هغه څوک چي وایي چي سامري چي نوم یي موسی ؑ چي مور یي په یو غار کي پرې اښښی ؑ، چي فرعون قتل نه کړی ولي خو دی د بني اسرائیل د قوم څخه وو نو جبرئیل به ورته راتلی دی به یي تربیه کاوه، کما مر تفصیل، نو سامري چي دلته جبرئیل ولیدی پر آس سپور ده وپیژندی.

دروښ وایي: هذا ندا من بعید فافهم.

وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿۹۶﴾

او داغسي چي ما دا عجل جوړ کړی او خلګ مي په عبادت سره امر کړه ماته ښائسته او ښه کار وګرځاوه زما نفس یعني زما په شقاوت سره، "والتسویل تزیین النفس الامر القبیح بصورت الحسن حاصل یي دادی چي زه خپل نفس شوم خطأ ایستلمه. و هذا اقرار من السامري بقبح فعله.

قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ

موسی سامري ته وویل چي تا اضلال دخلګو وکړی نو ولاړ سه زما له حضور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه. چې په تحقيق چې په ژوند کې د دنيا چې ته ژوندی يې دا څو عقوبت دی د خدای ﷻ د خوا څخه پر ما فعلت "ان تقول" چې ته به وايې هر چاته چې ته يې وينې "لامساس" چې ماته لاس مه راوړه، بعض مفسرين وايي دده په زړه کې به خدای ﷻ وحشت او دهشت پيدا کړی د انسانانو څخه لکه وحشي حيوانات د غرو چې د هېڅ چا سره انس او الفت په زړو کې نه وي. او بعض مفسرين وايي چې که چا سامري ته لاس ور وړی يا به سامري وچاته لاس ور وړی دواړو ته به تبه سوه. نو سامري چې به څوک ولېدی دا يې ورته ويل لامساس يعني ماته لاس مه راوړئ. نو سامري به دښتو صحرا کې يوازې گرځېدی حتی چې آخر عند الاجل مړ سو.

سوال: موسی ولې نه واژه؟

جواب: د قتل عذاب خو يو گړی وي او عذاب د وحشت او ده لا مساس عذاب خو تر ټوله عمره پورې دده دائم وو، "و فذالک العذاب اشد من عذاب القتل کما لايخفی".

وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّن تُخْلَفَهُ ۖ

په تحقيق تا لره ای سامري وخت د وعدې د عذاب سته، يعنې د آخرت په ورځ په سبب د کفر او د اضلال د بنې اسرائيلو په عبادت سره د عجل "لن تخلفه" چې ته نه سې غائب کېدای د هغه عذاب څخه او نه ځای د تېښتې لرې بلکه تاته به کامل هغه عذاب در کول کېږي. لکه نورو رئيسانو د کفر او اضلال.

وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ

و گوره ای سامري ستا و خدای ته، يعنې چې کاذبانه د معبود نوم دې پرې اينبې وو، او خلک دې په عبادت امر کول، هغه خه دای چې ته همېشه د هغه پر عبادت مقيم وې.

لَّنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ۝

موږ بې وسوځو په اور سره او بعض مفسرين وايي چې په سوهان بې ريزه ريزه کړو، بيا يې په هرې يا د سوان په ريږې باد کو په درياب کې "نسفا" مفعول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مطلق دی تاهیځ اثر د هغه پر مځکه پاته نه سي، او موسی هم هغه سي وکړه د پاره د اظهار د غباوت د اهل عبادت د عجل، حافظ شیرازي ؒ وایي"

سحر با معجزه پهلو نزند ایمن باش
سامری کیست که دست ازید بیضا ببرد

إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

یعني مستحق د عبادت ستاسي الله دی هغه الله چي نسته بل حق بهله ده، او فراخه دی خدای ﷻ از روی علم.

پوه سه: چي علماً تمېرز د نسبت ځخه "وسع" و ضمېر ته د الله نحات وایي چي تمیز د نسبت ځخه و فاعل ته په معنی کي د فعل دی. فالتقدیر وسع علمه تعالی کل شی" یعني عجل مصنوع السامري مستحق د عبادت نه دی، ولي د غوایي ذات چي ژوندی هم وي ضرب مثل دی په غباوت کي " فکیف عبدوه وهم عقلا.

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ

او دغه رنګه لکه ده موسی علیه السلام او هرون علیه السلام دفرعون سره او موسی او سامري قصه چي مو تاته وکړه موږ نوري تاته کوو د اخبارو ځخه د امورو سابقه وو او له اخبارو ځخه د امم ماضیه و، د دوئ د انبیاؤ وو سره حکمت ددې قصو دادی چي په علم کي د آنحضرت ﷺ به زیاتوالی راسي، "لان کثرة المعلومات موجوب لکثرة العلم بها" او بل دا چي هره قصه ته کوې هغه ستا معجزه ده" لانک نبي امي "او ددغو قصو ځخه به ستا د دور کافرانو او مسلمانان عبرت او پند واخلي، سعدي شیرازي ؒ وایي:

پند گیراز مصائب دیگران..... تانه گیرند دیگران ز تو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز ..... چون دیگر مرغ بینند اندر بند

فائده: کذالک صفة دی دمفعول د نقص والتقدیر علیک اقتصاصا مثل اقتصاص قصة موسی علیه السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿۹۹﴾

او په تحقیق موږ درکړی تاته یا محمد ﷺ د خپل جانبه څخه ذکر یعنې قرآنا چې هغه کتاب او قرآن تاته دا قصص بیانه وې.

فائده: تنکیر دی د "ذکرا" دپاره د تعظیم دی ای قرآنا عظیم الشان ولې چې هر سورت د قرآن عزیز معجزه ده د" کر الازمان و مر الدهور ولیس شان الکتب المنزلة الاخرذالک کریمة" وان کنتم في ریب ممانزلنا علی عبدنا" فأتو بسورة من مثله (الایة).

او بعض مفسرین وایي چې ستا ذکر مو بلند کړځولی دی چې جوت دی د ذکر سره په آذان او اقامت او په تشهد کې د لمانځه.

فائده: وقد اتیناک حال دی د فاعل څخه د نقص فافهم.

مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿۱۰۰﴾

که څوک روی ګردانې د قران څخه یعنې ایمان بکونه من عندالله نه پر راوړي، او عمل بما فیه ونه کړي، او یا ضمیر راجع و خد.ای ته او یا ضمیر راجع و ذکر ته دي یعنې ستا ذکر مقرون دی، یعنې ستا ذکر مقرون بذکر الله نه منې او اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد عبده و رسوله الی غیر ذالک نه وایي.

نو دی به وړې په ورځ د قامت کې درونډ بار من الکفر والمعاصي.

پوه سه: چې دا کفر او ګنهو ته یې وزر ووایه تشبیها في ثقلها علی الکافر المعذب لکه حسي درونډ بار چې د چا په شا وي هذا رای روح البیان.

او مظهري په دې باره کې یو حدیث په روایت د ابن ابي حاتم عن عمرو بن قیس الملائي نقل کړی دی چې د کافر سره عمل قبیح دده په ډېر بد جسم او جثه او ډېر بد بوي بې هم ځې، دا بد شکل سړی و کافر ته ووایي ایا ته مانه پېژنې کافر ورته ووایي لا" الا ان الله قبح صورتک و انتن ریحک" (دا قدر پوهېږم چې خدای ﷻ تاته ډېر بد صورت درکړی او بد بوي درکړی دی هغه سړی ورته ووایي کذالک کنت في الدنیا (یعنې ته په دنیا کې هم دغه بد شکل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوبد بویه وي، یعني په معنی او په حقیقت کي لایحسب الظاهر فافهم) انا عملک السیي (زه ستا بد عمل یم چي خدای ﷻ په جسم درته مصور کړم)

ظالما رکبتني و انا ارکبک الیوم" او راوي دا ایت ددې حدیث په تائید کي راوړی یعني قوله تعالی عز وجل و هم یحملون اوزارهم علی ظهورهم.

دروښ وایي: چي ددغه حدیث په مقتضی دا موجوده ایت پر ځپل ظاهر حمل دی" والله یعلم غیب السمرات والارض".

خَٰلِدِينَ فِيهِ ۖ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾

دوئ په همیشه وي په هغه وزر کي یعني په جزا د وزر یا په حمل الوزر، او بد دی په ورځ د قیامت بار ددوئ.

پوه سه: چي خالدین یې په صیغه د جمع راوړی او یحمل یې مفرد راوړی افراد یې نظر ولفظ ته د من دی او جمع یې په اعتبار د معنا ده.

فائده: "حملا" تمییز دی د ضمیر مبهم چي په سا کي دی، او مخصوص بالذم یې محذوف دی، ای ساء حملا وزرهم واللام في فیهم للبیان".

دروښ وایي: چي مظهري رح ددې ایت او د سابق ایت په تفسیر کي څو حدیث د بخاري او مسلم او غیر هما راوړي دي، چي بعض یې د غلا په باره کي د اوښ یا د بقر یا د پسو دی، او بعض یې د محکي د غلا په باره کي دی، او بعض په نبا فوق الحاجة په باره کي دی زه دا ټول احادیث صحیح دی، په خپلو خپلو موضوعاتو کي لکن دلته خبره او آیت د کافرانو په باره کي دی، لکه مظهري رح په تفسیر کي د "ومن اعرض عنه" ویلي دي یعني من اعرض عن القران فلم یؤمن به ولم یعمل بما فیه، وقیل عن الله وقیل عن ذکرک مع الله یا محمد انتهی، بعبارته، او په هغو حدیثو کي چي ده راوړي دي النحضرت ﷺ مخاطب خپل امت اجابت ګرځولی دی، حیث قال ﷺ فلا اعرفن احدا منکم الی آخر الحدیث" او په بل حدیث کي چي مظهري راوړي دی، دامسي نبوي عبارت موجود دی، فلا الفین احدکم الی آخر الحدیث" حاصل دا چي هغه د مظهري رح راوړي حدیثونه ددې آیتو شان نزول نه سي کیدای، والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ

هغه ورځ چې پوه کړه سي په قرن یا شپېلی. کې چې نافخ اسرافیل دی. په اتفاق سره.

فائده: یوم منصوب دی، په اذکر مقدر سره یعني اذکر لقومک یا محمد ﷺ یوم ینفخ في الصور او یا بدل دی د یوم القیامة څخه. د ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی. چې یو اعرابي یعني صحرانشین د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه د صور په اړه وکړه، فقال علیہ السلام قرن ینفخ فیه" ابوداؤد والترمذي والنسائي والحاکم وابن حبان وابن المبارک رح.

وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ۝

او موږ به حشر کو مجرمین یعني الکافرین په دغه ورځ کې د قیامت چې شني سترګي بې وي زرقا جمع د ازرق ده. حال دی د مجرمینو څخه.

دروښ وایي: چې دا وصف یې ددې سبب راوړی دی چې دا رنګه د سترګو هغه بد رنګ دی په نېز د عربو. ولي چې د عربو لوی دښمنان رومیان وه. او د هغو سترګي شني وې. نو کافران به په په ورځ د قیامت زرق العیون وي. سره د تور والي د مخانو "والتجربة شاهدة علی انی زرقة العین مع سواد الوجه من اقبح الوان العیون" اوبعض مفسرین وایي چې معنی د زرقا عمیا ده، ولي سړی چې ړوند سي سترګه یې شنه کېږي. او ددې تاویل سره هغه ایت هم موافق دی. "ونحشرهم یوم القیامة اعمی" او بعض علماً وایي چې مراد دادی عطاشا" وهو تاویل بعید جدا"

سوال: یومثل ته ضرورت څه ؤ. ولي چې حشر خو نه دی مګر په ورځ کې د قیامت؟.

ځواب: دپاره د تحویل د حشر روح البیان.

يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ۝

"یتخافتون آه" دا جمله حال ده د "المجرمین" څخه او یا جمله مستانفه ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني یو دبله سره پتهي خبري کوي ولي ددوئ سینې د بهرې ډکي وي، په زوره خبري نسي سره کولای "ان لبثتم آه" مفعول دی د "یتخافتون" یعني دوئ خبر کوي، یو دبله سره کرار کرار او دا وایي چې تاسي درنګ او ژوند نه دی کړی، په دنیا کې مګر لس شپې سبب ددې وینا سره ددې چې دوئ خو په دنیا کې د هر عمرونه تېر کړی وه، چې عمر د دینا که د هر وي او که لږ چې تېر سو، او زوال پذیر سو، نو لږ دي او یا ددې سببه چې مدة د ژوند د آخرت د هر اوږد دی او هر کفارو د هره ترخه ده، ولي عذاب ده دوزخ وینې، چې زمونږ ځای به وي، او مظهري نقلا وایي چې ددوئ مابین النفختین مراد دی چې څلویښت کاله دی، ولي په دغه مابین کې له کفارو څخه عذاب پورته کېږي، ددې خبري یعني رفع العذاب عن الکفار که څه هم چا یې نسبت د ابن عباس رضي الله عنه ته کړی دی، لکن په تفسیر بحر العلوم کې وایي هو ضعیف جداً انتهی"

دروېش وایي: چې د بحر العلوم مقصد دادی چې سند وه ابن عباس رضي الله عنه ته ضعیف دی والله اعلم.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ

مونږ ښه خبر یو په هغه څه چې دوئ وایي، یعني که څه هم ترا وسه خو دا قول پر دې نه دی واقع سوی ولي دا قول ددوئ بعد البعث دی یعني لیس الامر کما یقولون دا جملة معترضه ده.

إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾

چې وایي هغه د هر عاقل ددوئ او اعدل قولاً، تاسي درنګ نه دی کړی مګر یوه ورځ ددې سړی وقول ته خدای جل جلاله ترجیح ورکړه، چې امثل یې وبالله، ولي چې نسبت د ټوله عمر ددینا نظر و طول ته د آخرة د ورځې غوندې دی بل اقل منه، د منصور خلیفة المسلمین چې وخت د وفات نژدې سو داسي یې وویل "بعنا نعیم الاخرة بنومة" یعني ژوند د دنیا داسي تېر سو لکه یو خوب،

سعدي شیرازي رح وایي:-

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نگه دار فرصت که عالم د میست..... دمی پیش عاقل به از عالمیست
مکن عمر ضائع بافسوس وحیف..... که فرصت عزیز است والوقت سیف
قال الشاعر العربي:
الا انما الدنیا کظل سحابة..... اظلک ثم عنک اضمحلت
فلاتک فرحا حین اقلبت..... ولاتک جزعانا اذا هي ولت
بغوي رح د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی دی، چې یو سړي د ثقیف د قبیلې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، چې په ورځ د قیامت دا غرونه څه په وسي نو دا ایت نازل سو.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴿١٠٥﴾

دوئ ستا څخه پوښتنه کوي د غرود حال یعني په ورځ د قیامت.
پوه سه: چې "سف" قلع ته وایي یعني غرونه خدای ﷻ یې د بیخه وکاږي او توک توک کوي به یې لکه ریگ، بیا باد پرې الوزوي ریگ یو سي په ډب ډب ځایو سره فراگنده کي.

فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾

نو پرېږي مځکه چې غرونه پرې باندي وه.
سوال: مځکه څو څونه وه ذکر سوې نو ضمیر څرنگه وړته راجع سو؟.
ځواب: غرونه پرې مځکه دلالت کوي "قاعًا" په قاموس کي وایي چې قاع ای ارض سهلة "قد انفجرت عنها الجبال والاکام (غنډې) پښتانه وایي چې په قیامت کي مځکه یوه هګۍ ګرځي "صفصفًا" په قاموس کي وایي ای مستویة کان اجزائها علی صف واحد" په پښتو لوړ ځای او جور ځای پرې مځکه نه وي.

لَا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا ﴿١٠٧﴾

ته به وینې ای مخاطب غیر معین په مځکه کي کږوالی او نه لوړ ځای که څه هم په ترازو او مقیاس د اهل هندسې یې پیمائش وکړي.
دروښ وایي: چې امام همام فخر الدین الرازي رح په تفسیر کبیر کي وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي شاید بعض کافرانو به د علیه الصلوة والسلام څخه دا پوښتنه کړې وه. چي ته د عوه کوې چي دنیا فاني کېږي، نو که داسي وای نو باید چي د کلو په اوږدو کي او د میاشتو په تېرېدو سره لږ لږ کمېدای. حتی تنتهی الی البطلان او سره ددې لوی او کشنی غرونه د سوو کلو بلکه د زرو کلو په تېرېدو سره کما هي موجود دی فاجاب الله بهذه الایة، وحاصل هذا الجواب دادی چي فنا د شي بعض زبولي وي یعني کرار کرار کم بود کوي آخر فاني لکه انسان چي عمر پر تېرېږي، قوت د بدن یې کمېږي، آخر مړ سي. چي دې ته حکما موت طبعي وایي: وقد یکون دفعة واحدة. لکه یو ځوان قوی البدن و صحیح المزاج چي نه هېڅ مرض لري او نه ذبول فجائة او نابیره مړ سي. نو غرونه سره د دې محکمي په قدرت د خدای ﷻ دفعتا د فنا په ور غندي د ځایه څخه ولاړ سي. نو په دې سره دلیل جالینوس رأس البغل هم دفع سو. چي دی وایي چي آسمانونه نه فاني کېږي. لعدم وقوع الذبول فیها فافهم.

يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُ ۖ

پوه سه: چي "یوم" مضاف دی و "اذ" ته او "یوم" منصوب دی علی الظرفیة لقوله تعالی "یتبعون" یعني په دغه ورځ چي غرونه له منځه څخه ولاړ سي "یتبعون الداعي" جمله مستأنفه ده یا بدل ثاني دی د یوم القیامة څخه. خلق متابعت کوي د آواز د بلونکي ددوی و محشر ته. و هو اسرافیل علیه السلام چي دی پر صخره د بیت المقدس ولاړ وي او داسي نعرې وهي "یا ایها العظام النخرة والجلود المتمزقة ان الله یأمرکم ان تجمعي لفصل القضا" "لاعوج له" چي کږوالی نه کوي هېڅ مدعو ددې له دعوت څخه یعني په قدرت د خدای ﷻ ټوله ژوندي سي.

وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ۝

او عاجزه او د ویرې وک وي آوازونه د خلګو وه رحمن ته (دا جمله حال د دفاعل څخه د یتبعون په تقدیر د قد کما هو القانون النحوي في الجملة الماضیة الواقعة حالا" اویا عطف ده پر یتبعون باندې دا عطف خالی دی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تکلف څخه د تقدیر د قد) ته نه اوري ای مخاطب غیر معین مګر نه صوت خفي لغاية الخوف والهول. لکه اوښ چي کرار کرار پښي پر مځکه اږدي.

او سعید ابن جبیر ؒ د ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی، چي د همس معنی داده چي شوند ان د سړي ښوري او خبري نه سي کولای، "و في سنده بحث فافهم" روح المعاني ددې کبله پر دغه قول داسي سوال کړی دی "ان ذالک مما یری" یعني تحریک الشفة خو په ستر ګو معلومېږي، لامما یسمع او په آیت کي خو لفظ د سمع راغلی دی.

فائده: په خشعت الاصوات کي بعض علماً وایي چي مضاف محذوف دی، یعني خشعت اصحاب الاصوات ولي خشوع صفت د شخص ده نه د صوت.

يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ

په دغه ورځ چي ماقبل خبرې پېښې سي. یعني د هېڅ چا شفاعت و هېڅ چاته فائده نه کوي، چي د دوزخ څخه دي هغه خلاص کړي "الا" استثناً د شفاعة څخه ای الا شفاعة ده هغه چاچي اجازه وکړي. وده ته رحمن ﷻ نو کلمه د من مرفوع محلا ده، بدل د شفاعة څخه ده، یا استثناً ده د اعم المفاعیل څخه چي مشفوع له دی، " ای الا من اذن الرحمن في شفاعته" نو پر دې تقدیر کلمه د من منصوب علی انه مفعول الشفاعة تدبر.

وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾

او راضي دی دده څخه په شفاعت کي د چا ولي چي دی چي شفاعت کوي د خدای ﷻ په جناب کي قرب لري دا تفسیر پر تقدیر د استثنا د شفاعت څخه دی او یا معنی داده چي خدای ﷻ راضي وي په قول د شافع په باره کي دده" قال ابن عباس ؓ یعني قال لا اله الا الله" دا تفسیر دی پر تقدیر د وهم دده استثنا" د تفسیر کما مر والحاصل لمن تنفع شفاعة الشافعین له یعني چي لا اله الا الله والا نه وي، یعني که څه هم شفاعت څوک وکړي فائده نه ورته کوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ﴿١١٠﴾

خبر دی رحمن جل علمه په هغو حالاتو چي په حضور کي د شافعینو او د مشفوع لهم دی، یعني في دار الاخرة، او په هغو حالاتو چي دوی تر شا پرې اینبي دي، یعني ماتقدم من احوالهم في الدنیا من الکفر والمعاصي والایمان والطاعة".

فائده: جمله د یعلم آه حال من الرحمن.

پوه سه: چي "علما" تمییز دی د نسبت څخه ای لایحیط علمهم بمعلوماته تعالی وقیل بذاته تعالی" او بعض مفسرین وایي چي ضمیر د به راجع دی و یوه ته د موصول یا و مجموع ته راجع دی، یعني په تاویل د مجموع فلا یرد ان الضمیر مفرد فکیف یصح ارجاعه الی الموصولین نو پر دې تقدیر معنی د ایت داده چي شافعین او مشفوعین په ټولو دعلومو د خدای ﷻ نه دی خبر.

وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ

او عاجزه سترګي کښته به وي. لکه بندیان په نېز د ملک قهار، مخان مراد ځندي اصحاب الوجوه په حذف د مضاف یا کنایة ده فافهم. و هغه ذات ته چي دائم الحیوة دی او صالح د موت نه دی نو انسانان و غیرهم که څه هم ژوندي وي لکن چونکه د عدم لاروړته خلاصه ده، نو اموات دي او معنی د القیوم چي قائم دی، په تدبیر د مخلوق موافقاً لحکمته و دغه رنګه قائم دی، پر هر نفس بما کسبت.

وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾

او په خسران او تاوان کي دي هغه څوک چي بار د ظلم ور سره وي، ابن عباس ﷺ وایي چي مراد د ظلم څخه شرک دی. کریمة ان الشرک لظلم عظیم دا جمله بعض وایي معترضه ده، یا مستانفه دپاره د بیان دعلت او سبب د عنت الوجوه او یا حال ده د الوجوه څخه.

وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ

او څوک چي عمل وکړي، د بعض صالحانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کلمه د من موصوله متضمن معنی لره د شرط ده. و لهذا دخلت الفاء في خبره و هو فلا يخاف آه" او کلمه د من تبعيضي ده چې مراد ځنډي فرائض دي

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴿۱۱۲﴾

او دی مؤمن هم وي يعني ايمان يې وي پر ثواب د صالحاتو يوم الجزا (دا جمله حال ده له ضمير مرفوع څخه د "يعمل" او يا "وهو مؤمن" يې ددې لپاره ووايه چې ايمان شرط وي په صحت کې د حسناتو او په قبول کې د طاعاتو) نه ببربري "ظلما" ای لا يخاف ان يزاد على سيئاته.

پوه سه: چې اصل معنی د هضم کسر او نقص ده فالمعنى لايخاف ان ينقص من ثواب حسناته. حسين کاشفي ؒ په تفسير حسيني کې وايي: نترسد دان روز از ستم و بی داد که زيادت سيئاتست. ونه از کسر وشکست که نقصان حسنات است يعني نه از حسنات مؤمن چيزی کم کنند ونه سيئات او افزايند انتهى.

پوه سه: چې افضل د حسناتو ادا الفرائض دی مع اجتناب المحارم.

حکايت: سليمان بن عبد الملک د ابي حازم ؒ ته وويل چې ماته نصيحت وکړه او مختصر، ابوحازم ورته وويل نعم يا امير المؤمنين نزه ربک (تعظيم کوه د خدای کوه ددې څخه تا ووينې په هغه عمل کې چې ته يې ځنډي نهي کړې يې. او يا تا ورک ووينې په عمل کې چې ته يې په امر کړې يې).

فائده: روح المعاني وايي چې ابن کثير او ابن محيص او حميد رحمهم الله فلا يخف پر صيغه د نهي وايي، يعني نه دي ببربري، مظهري ؒ وايي چې جزم يې مبني دی پر دې چې جزا د شرط ده يعني كلمة من المتضمن للشرط كما مر انفًا، او بيضاوي او روح المعاني جزم له سببه څخه د نهي بولي، او د جمهور قرا وو قرائت لايخاف دی. په رفع سره علامة الطيبي وايي چې قرائة د جمهورو موافق ددې قول سره د خدای ج "وقد خاب من حيث الاخبار في كليهما" او ابلغ دی تر قرائة د جزم من حيث دلالة المضارع على الاستمرار ومن حيث انها لاتقبل التردد في الاخبار" ولا تلتفت الى ماختار المظهري من تكلفات الحذف على قرائة الرفع فتدبر حق التدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا

دا جمله عطف ده علی قوله تعالی "وکذالک نقص علیک آه" نازل کړی مورِ قرآن نو ضمیر منصوب راجع و قرآن ته دی. او کذالک صفة دی د مصدر محذوف چي هغه منصوب په انزلناه سره ومعنی الایة کما قصصنا علیک" خبرونه د امم ماضیه وو مورِ نازل کړي دي پر تا. قرآن انزالاً (دا مصدر محذوف دی) مثل ذالک الانزال. (دا معنی د کذالک ده) مماثلت یه په دې کي دی، چي د جانب څخه د خالق الارض والسموت دی. او په دې کي هم مماثل دي چي مشتمل پر وعد او وعید دي. او احکام من الاوامر والمنهیات په کښې درج دي "قرآنًا عربیًا" ای حال کونه قرآنًا عربیًا چي په ژبه د عربو دی او فصیح او بلیغ دی. او پر اسلوب معجز دی للانس والملائکة والجن الی یوم القیامة نو قرآن مبارک معجزة باقیة ده آنحضرت ﷺ کرا الازمان و مر الدهور.

وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ

او مورِ مکرر ایت بار بار راوړی دی په قرآن کي من ایات الوعید (یعني مضاف ووعید ته محذوف دی وهو لفظ الایات) "لعلهم آه" (ای لکی) دډې لپاره (نو لعل په معنی دلام کي دی) چي کفار مکه به د شرک او معاصي وو څخه پرهیز وکړي ایمان به راوړي،

اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿۱۱۳﴾

یا به نوي پیدا کړی قرآن و دوئ ته ذکر یعني پند او عبرت او عظة.

کاشفي ؒ وایي: که از جمله وعید مکرر طوفان نوح است و رجفه زمین و صیحة جبرئیل و خسف قارون و اظلال الطور علی الیهود والرمی بالحجارة علی قوم لوط الی غیر ذالک.

فائده: نسبت د احداث الذکر وه قرآن ته مجاز دی من قبیل الاسناد الی السبب والا فالمحدث هو الله عز وجل دی فالمعنی یحدث الله (ای یجدد) بسبب القرآن ذکرا او داسي هم روا ده چي کله د "او" دي په معنی د "واو" سره وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ

تر اوسه خدای ﷻ په طرز د متکلم خبري کولې، انزلنا و صرفنا. اوس يې د غائب و الفاظو ته عبارت واړاوه، والالتفات طرز قديم في كلام العرب چې په علم البديع والبيان کې يې التفات بولي "وله ستة اقسام لان التكلم اما بالغيبة ثم ينقل الكلام الى الخطاب او التكلم و اما بالخطاب ثم يلفت الى الغيبة والتكلم او بالتكلم ثم ينقل الى الغيبة اوالخطاب" او ددې انتقالاتو امثله په علم البديع کې وګورئ او په قرآن عزيز کې هم بعض ځايونه التفات راځي لكنه "فيما نحن فيه کې بلنده ددې ذات يې بې همتا د خدای ﷻ له مماثلت څخه د يو شي سره د شيانو په ذات کې لانه واجب الوجود و ماسواه ممكنات.

او په صفاتو کې د جمال او جلال لان صفاته قديمة ازلية و ابدية و صفات ماسوا محدثة نو قرآن چې صفت د خدای دی، ليس من كلام المخلوقين كما يزعمه المشركون من انه من كلام محمد فذاته تعالى منزة في المعبودية عن الالهة الباطنة كما يزعمه مشركوا مكة" بلکه خدای ﷻ بلنده دی د بيان څخه د کامل واصفاتو دده کما قال سيد الكاملين محمد ﷺ لا احصى ثناً عليك كما اثنيت انت على نفسك" سعدي شيرازي ؒ وايي:

ای برتر از قیاس و گمان و وهم ... و زهر چه گفته اند شنیدم وخوانده ایم
مجلس تمام گشت و بپایان رسید عمر ... ما همچنان در اول وصف تو مانده ایم

"الملک" چې ملک دی چې نافذ دی حکم دده من الامر والنهي التكويني في كل ماسواه القديم سلطانه (كان الله و لم يكن شيئا كل شئ هالک الا وجهه)

"الحق" چې ثابت دی ذات دده او وجود دده او صفات دده بلا مداخلة غيره فيها، په صحيح حديث کې راغلي دي چې جبرئيل چې به وحي راوړې آنحضرت ﷺ چابک چابک ژبه په قرائت د مانزل بنورولە ددې له پاره چې راځخه هېر نه سي، او عليه السلام د دې پر سختۍ سره به مخامخ کېدی، نو دا آيت نازل سو، د پاره د سهولت او اسانتيا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ

ته تلوار مه کوه، په قرآن سره یعني بقرائة القرآن، د مخه تر دې چې جبرئیل یې له ابلاغ څخه نه وي فارغ سوی، نو دا آیت چې نازل سو علیه السلام به غوږ نیولی وۀ، چې جبرئیل علیه السلام به فارغ سو، علیه الصلوة والسلام به هغه ټوله ما نزل په زړه کې حفظ او پر ژبه مبارکه بې جارې وه، "و في موضع آخر لاتحرک به لسانک لتعجل به انا علینا جمعه وقرآنه" الایة (ته مه ښوره په قرآن یعني په قرائت د قرآن ژبه خپله یعني په وخت کې ده قرائت د جبرئیل تاچې ته تلوار وکې په قرآن یعني په حفظ کې د قرآن په تحقیق دا بیان د سبب د نهي دی پر موږ جمع کول د قرآن؛ یعني ستا په زړه کې او قرائت د قرآن ستا پر ژبه).

وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾

او داسي وایه چې ای زما ربه ماته زیات کړې علم یعني پر هغه علم چې تا ماته راکړی نور یې هم را زیات کړې.

دروښ وایي: چې دا آیت نص دی په شرافت کې د علم تر ټولو صفاتو بشریه، ولي چې خدای ﷻ اعلم الناس ته چې محمد ﷺ ؤ، امر کې په طلب د زیادۀ د علم له خدای څخه، ابن مسعود ﷺ چې به دا آیت وایه داسي دعا بې کوله اللهم زدني ایمانا و یقینا بک، حسین کاشفي ؒ وایي: در لطائف قشیري ؒ (چې د یو کتاب نوم دی) مذکور است که حضرت موسی علیه السلام زیادة علم طلبید اورا حواله بخضر علیه السلام کردند و بی طلب پیغمبر ما ﷺ را دعا یی زیادتی بیاموخت و حواله بغیر خود نکرد تا معلوم شود که آنکه در مکتب آدب "ادبني ربي، سبق" و قل ربي زدني علماً" خوانده باشد هر آئنه در درس گاه "علمک ما لم تعلم" نکته: "عُلمتَ" په صیغه د ماضي مجهول علم الاولین و الآخرین بگوش هوش مستفید آن حقائق اشیا تواند رسانید انتهی قوله الشریف الدقیق فافهم.

په صحیح حدیث کې راغلي چې یو چا د علیه السلام څخه پوښتنه وکړل "ای الاعمال افضل؟ قال العلم بالله" هغه سائل ورته وویل چې زه د عمل وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

افضل پوښتنه کوم، او تا جواب په علم راکړی. علیه الصلوة والسلام ورته وویل "قلیل العمل ینفع من العلم و ان کثیر العمل لا ینفع مع الجهل".

پوه سه: چې انسان ته لازمه ده چې علم نافع دي طلبه وي، و لهذا قال رسول الله ﷺ اللهم اني اعوذبک من علم لاینفع" شیخ اکبر محي الدین ابن عربي قدس سره وایي چې علم یو نور دی د انوارو څخه د خدای چې ور اچوي په زړه د من آراد د من عباده وهو معنی قائم بنفس العبد یطلعه علی حقائق الاشیأ و هو للبصیرة کنور الشمس للبصر مثلا بل اتم واکمل انتهی.

دروښ وایي: چې په شان دعلم د خیر البشر ﷺ دا یو بیت په فارسي ژبه ویل سوي دی.

علمها ی انبیأ و اولیأ..دردلش رخشنده بود چون شمس الضحی
عالمي که آموزه گارش حق بود .. علم او بس کامل و مطلق بود

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ

کلمه د لام موطئه یعني جواب د قسم محذوف ده او د عهد معنی امر او وصیت ده. یعني والله په تحقیق مونږ امر کړی وو آدم ته چې شجرة چې مشهوره غنم دي او بعض وایي چې اینځر دی دمخه تر دې.

فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

د آدم هغه عهد هېر سو (یا معنی داده چې د پرېښنه و هغه ما امر به چې احتراز وه د خوراک څخه د شجرة) او مونږ نه کړی پیدا آدم لره تینګ قصد د احتراز او حفظ څخه د ما امر به او ده عزم معنی صبر هم ده یعني صبر یې مانهي عند څخه ونه کړی.

پوه سه: چې عزم په لغت کې عقد القلب علی امضأ الامر، په نهایه کې وایي "العزم الجد" مظهري" وایي چې عقد القلب پر امضأ د یو کار مستلزم دی کوشش لره پر کولو د هغه کار او صبر پر سختیو د هغه کار او بعض وایي، لم نجد له عزما ای قصدا علی اکل الشجرة یعني په قصد یې خورک نه دی کړی، بل اکل ناسیا یعني لم یکن له عقد القلب علی امضأ المعصیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: هر نسيان چي خداى ﷻ د انسان ذم په كړى وي هغه نسيان دى چي اصل يې تعمد وي، او هغه نسيان چي معفو ده! هغه نسيان دى چي اصل يې تعمد نه وي كما ورد في الحديث النبوي رفع عن امتي الخطأ والنسيان.

فائده: عتاب الهي چي پر آدم عليه السلام وسو په سبب ددې چي ده اهتمام په نهي د خداى ﷻ نه وكړى.

فائده: آدم عليه السلام چي دا موضوع پېښه سوه په ابتدائي حالاتو كي دده چي تجارب د امورو ده نه وو كړى "لا من نقصان عقله لانه قد ورد في الحديث النبوي "لو وزن احلام بني آدم (اى عقولهم) بحلم آدم (اى بعقله) لرجح حلمهم اى عقله.

فائده: مراد د آدم څخه ابو البشر دى، وجه التسميه: قيل چي آدم عليه السلام د تولي محكي د اديم يعني د مخ له ځاورو څخه جسد دده پيدا كړه سوى وو، و قيل لادمة لونه يعني غنم رنگه بشر يې وو. و قيل چي دا نوم ماخوذ دى ددې قول څخه الادام ما طيب به الطعام" نو په آدم كي خداى ﷻ روح اېښى و چي در لودونكى د عقل او فهم او ادراك وو. و قيل غير ذالك والاظهر انه اسم عجمي و وجوه التسمية التي ذكرناها انما هي اذا كان اسم عربي فافهم.

فائده: په دې آيت كي و اذا اعزمت فتوكل على الله په معنا د قصد محكم دى، و كذا في قوله تعالى و لا تعزمو عقدة النكاح الاية و كذا في قوله تعالى و ان عزموا الطلاق آه فافهم.

فائده: جمله د "و لقد عهدنا آه" صاحب كشاف او بيضاوي وايي چي عطف ده على قوله تعالى "و صرفنا فيه من الوعيد لعلهم يتقون" وجه د عطف او مناسبت په مابين كي د معطوف عليه او د معطوف داده چي اشاره دي وكړل سي چي نقض العهد بعد تصريف الوعيد يوازي ددغو كسانو كار نه دى چي دا آيت پكښې نازل دى، بلكه آساس د بنا د آدميانو پر عصيان دى و عرقهم راسخ في العصيان حيث عهدنا الى آدم من قبل فنسي الاية هذا ماذكره المظهري.

لكن بعض محققنو دا عطف د كشاف او بيضاوي رد كړى دى، دوئ وايي چي "و صرفنا آه" څو معطوف ده پر "وكذالك نقص آه" او كذالك څو اشارة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وحديث ته د موسى و قصة آدم عليه السلام في النسيان ومخالفة الامر ليس مشابهاً بحديث موسى عليه السلام دوئ وايي چي دا جمله يعني "و لقد عهدنا الى آدم الاية" معطوف ده پر "و هل اتاك حديث موسى" عطف القصة على القصة، فالمعنى قد جائك قصة موسى و قصة آدم عليهما السلام.

دروبش وايي: يک نی صد آسانی، د عطف څه ضرورت دی په ولقد عهدنا الاية کي واو استينافي دی و مثل هذا الواو كثير في الهداية.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ

ای واذکر دا خطاب و نبي عليه السلام ته دی.

پوه سه: چي ددې ځايه څخه چي کيفيت د ظهور د نسيان د آدم عليه السلام و فقدان عزمه کلمه د اذ منصوب محلا په اذکر مقدر سره ای اذکر حال آدم في ذالک الوقت روح المعاني وايي چي دا جمله معطوف ده پر مقدر ای اذکر هذا ای مامر و لقد عهدنا آه واذکر اذ قلنا آه او من عطف القصة على القصة فلا يشترط فيه الاشتراک في الخبرية والانشائيه فلا يرما اورده المظهري چي معطوف عليه چي لقد عهدنا خو جمله خبريه ده او اذ قلنا آه په تقدير د اذکر خو جمله انشائيه ده فكيف يصح العطف و اجاب عنه المظهري بوجه بعيد فارجع اني تفسيره" ترجمه يه ياد که و خلګو ته يا محمد ﷺ هغه وخت چي مونږ وويل و ملکو ته چي سجده وکړه و آدم ته.

پوه سه: د "سجدة" څخه يا مراد انحناً يعني سر کښته کول دی كتحية اخوة يوسف الى يوسف كما اخبر الله تعالى عنها بالسجدة في سورت يوسف. او يا مراد سجده متعارفه ده. يعني وضع الجبهة على الارض فيكون آدم قبلة لسجودهم و اما السجدة فهي لله عزوجل.

پوښتنه: آدم عليه السلام ته ولي ملائکه امر کړی خدای پاک په سجده سره او سره ددې چي خدای جل جلاله وويل "فنسى و لم نجد له عزماً" يعني په دې امر حکمت د رب العزة عزوجل څه وو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په دې کې حکمت دادی چې آدم ته خپل دښمن يعنې ابليس ور وه پېژندی چې دده خبره ونه منې، کما سيئاتي او يا حکمت هغه ور چې په سورت البقره کې تېر سو په تفسير د هغه آيت د علم آدم الاسما کلها الی آخير الاية يعنې چونکه ملائکه ځه وخت چې د تعليم الاسما ځخه عاجزه پاته سوې، او آدم عليه السلام تولـه اسما په امر د خدای ﷻ و ملکو ته وربښوول، نو آدم عليه السلام ددوئ معلم با احترام سو، نو ځکه يې دوئ امر کړې په سجده وده ته احتراماً لآدم لکونه استاذه.

دروېش وايي: چې په تفسير کې د سورت البقرة دا اختلاف تېر سو چې مامور بالسجود تولې ملکي وې کما هو الاظهر والاوفق لقوله تعالى "فسجد الملائكة كلهم آه" كما في سورة البقرة، او که بعض ملکي وې چې جن يې د مځکې له مخه ځخه وشړل.

فَسَجَدُوٓا إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾

نو سجده وکړه ملکو (يعني كلهم اجمعون كما في سورة البقرة) مګر نه ابليس. اباً او منع وکړه ابليس له سجدې ځخه.

پوه سه: چې ابى جمله مؤكدة ده الا ابليس او دا هم روا ده چې ابى دې علت د استثنا وي.

فَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوّٞ لَّكَ وَلِزَوۡجِكَ

("فقلنا" جمله عطف ده پر مقدر باندې كما يدل عليه ما سيئاتي يعنې فادخلنا آدم الجنة فقلنا له) يعنې اى آدم دغه ابليس دښمن دى ستا او د همسرې ستا چې مراد ځندې حوا عليها السلام وه بعد ان خلقت من ضلعه الايسر في الجنة.

فَلَا يُخۡرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلۡجَنَّةِ فَتَشۡقَىٰٓ ﴿١١٧﴾

ظاهراً که ځه هم نهي د ابليس دي له اخراج ځخه ددوئ لکن په معنى نهي ده دوى دوو له متابعت ځخه ددوئ د ابليس د قول چې سبب د اخراج به وګرځي و ان كان المخرج هو الله تعالى.

پوه سه: چې کلمه د فا په "فلا يخرجنكما" کې لپاره د سببية اذا العداوة سبب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لعدم الاتباع، جمله د "فتشقى" دا جمله منصوب ده محلا په جواب کي د نهي.

پوه سه: چي مراد د شقاوة څخه شقاوة اخروي نه ادی بلکه سختي د دنیاوي چارو ده، یعني بکد یمینک و عرق جبینک یعني الحرثَ والحصد (ای لمو) والطحن (اوړه کول) والخبز (پخه ول).

پوښتنه: د اخراج نسبت خو آدم او حوا دواړو ته وسو او فتشقى کي یوازي آدم ذکر کړی؟

ځواب: یا لپاره د مطابقت د رأس الاية، یا ددي لپاره چي حوا تابع ده په شقاوة کي د آدم علیه السلام په دنیاوي چارو کي، او یا ددي سببه چي مراد له شقاوة څخه خو ستړیا ده په طلب کي د معاش هغه په ذمه کي د مړو ده.

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾

په تحقیق تا لره داشي سته چي ته به نه وږی کیږي، یعني سره د حوا په جنت کي "لان ثمار الجنة الذيذة في الغاية كثيرة في كل وقت وحين، او نه به د جامو د خوا لخپلوي لان ثياب السندس والاستبرق مهيائة لاهل الجنة

وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾

او نه به تږي کیږي په جنت لان الانهار الاربعة الماء، واللبن، والخمر والعسل جارية فيها، او تاته به نه رسیږي گرمي د لمر لانه ليس في الجنة شمس او اهل جنة في ظل ممدود. والحاصل چي په جنت کي د هیڅ شي کمي نسته، من الماكول والشروب والملبوس والمظلة په دي بیان کي قطع ده عذر وه د آدم ده په اکل کي د شجرة څخه.

دروښ وایي: چي لکه په سورت بقري کي تیر سوه چي آدم او حوا چي په جنت کي داخل کړه دا یو شرط یې پر کښیښو "ولا تقربا هذه الشجرة فتكونا من الظالمين" ابلیس هم د هغه نهي د خوا ورته راغلی او آدم او حوا ته یې وویل.

فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ الْخُلْدِ

نو وسوسه واچول و آدم ته شیطان. ای آدم دا بیان دی ده وسوسي د شیطان دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایا زه دلالت وکړم تاته پر درخته د خلد یعني الخبیث چي ددې درختي دا خاصیت دی چي خورک څندي وکړی هغه بیا نه مري یعني الخبیث چي تاسي چي خدای منع کړ است ددې درختي د خوراک څخه تاسي ته یو وخت اراده د مرګ لري.

وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴿١٢٠﴾

او ملک به دي وي پر هیوو وغیره د جنت چي نه به ضعیف کیږي، او نه به ته زړیږي.

فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ۚ

نو په سبب ده وسوسي د شیطان خورک وکړی آدم او حوا د هغي درختي څخه چي ابلیس ورته معرفي کړې وه، نو بنکاره سوه، دوئ یعني آدم او حوا انها فرجین د دوئ یعني یو د بل فرج یې ولیدی ولي چي کالي دجنت پر توئ سوه، او دوئ شروع وکړه، بلګونه د درختي یې پر فرجینو اینبول چي فټ سي. د بلګونو څخه د درختي د جنت بحذف المضاف.

فائده: فرج ته چي "سوئة" وایي ددې کبله چي لغ والی دفرج سړی په غم کي واقع کوي.

فائده: مشهوره داده چي دا بلګونه د درختي اینځر وه لان ورقة عریض یصلح لسترة العورة.

وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾

نافرماني وکړه آدم د رب له امر څخه په سبب د اکل الشجرة نو دی ده مطلوب څخه خپل بې برخي سو و اخطأ طریق الحق او د شیطان وربنسولي خلد باکل الشجرة ناکام سو. او یا دا معنی چي د مامور په عمل کي چي پرده لازم وو خطاوتی او یاد رشده چي د دښمن په خوله یې وکړه ابن اعرابي وایي چي آدم فاسد کړی پر ځان خپل عیش فر من العز الی الذلة و من الراحة الی التعب او من راحة الجنة الی تعب الدنیا.

دروښ وایي: چي خدای پاک ده ملکو سره په مشوره کي داسي وویل انّي جاعل في الارض قبل خلق آدم نو د آدم خلق د پاره د خلافت د محکمي خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی، لکن چې په جنت کې داخل سو او هغه عیش او راحت د جنت یې په ولیدی، نو بیله ددې موضوع یعني و لاتقربا الشجرة او بیله فوسوس الیه الشیطان او ده ده خورک د شجره منهی عنها څخه، کما مر خدای پاک و آدم ته ویلي وای، چې ته خلیفة الارض یې ته و حوا مځکي ته ولاړ سئ که څه هم آدم علیه السلام د امتثال څخه د امر الهی خو چاره نه درلوده لکن په دې هر غمګین زړه به سپېرې مځکي ته راتلای، نو خدای خپل دوست نه خپه کاوه، بلکه چې مځکي ته په خوشحالي ولاړ سي، دا موضوع د نهي ده د اکل الشجرة مابین ته راوستل او آدم ته تر عتاب د لم اقل لکما کما في سورة البقرة راوستی چې هبوط الارض ته راضي بلکه خوشحاله سو چې له عتاب الهی څخه یې خلاصون پیدا کړی، پښتانه وایي په مرګ یې ونیسه په تبه به خپله راضي سي، او آدم و حوا د مځکي په راتلو څه تاوان وکړی جنت خو ځای ده تو الد نه وو نو آدم علیه السلام او حوا دوه په دوه مځکي ته راغله د ملیاردو اولادو سره به جنت ته ورسي د یو عارف څخه چا پوښتنه وکړه چې آدم سره د نهي ولي د غنم دانه وخوړل هغه عارف ورته وویل که آدم په دې خبر وای چې زما په نسل کې نور محمدي ﷺ هم پیدا کېږي، د غنم درخته بې د بیخه څخه خوړلې وای.

دروېش وایي: چې موضوع څخه د خورک د آدم علیه السلام د شجره منهی عنها ده مفسرین ده اواهل المذهب من اهل السنة والجماعة او د معتزله وو او شیعه ګانو لوی اختلافات سته چې روح المعاني تولې په تفصیل سره بیان کړي دي، په آخر کې ویلي دي" والاحوط نظرا معام آدم علیه السلام ان صدور ما ذکر من آدم کان قبل النبوة و کان سهوا او عن تاویل (چې دنهي ده اکل الشجرة تنزیهي په خیال ورغلی وي او یا دا چې نهي د خورک یې محصور پر شخصي درخته په خیال ورغلی وو نو ده جنس د هغې درختي په بل ځای په جنت کې پیدا کړه، د هغې درختي څخه یې خورک وکړی، په وسوسه د ابلیس" وسهي في التاویل الثاني لان المقصود من هذه الشجرة جنسها لاشخصها") بیا روح المعاني ددې سوال په جواب کې چې داسي وایي نو ولي خدای عزوجل دومره سخت پر آدم علیه السلام وکړی چې کالي یې پرتوی کړه، اود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جنت څخه یې و ایستی الی غیر ذالک داسي ویلي دي نظراً الی علو شانه و مزید فضل الله تعالی علیه و قد شاع ان حسنات الابرار سیئات المقربین".

روح المعاني د خپلي خبري په تائید کي هغه حدیث د بیهقي راوړی دی، "في شعب الایمان عن ابي عبد الله المعزلي ؒ قال تفکر ابراهیم علیه السلام في شان آدم علیه السلام فقال یارب خلقته بیدک (یعني بقدرتک بلا توسط الاب والام) و نفخت فیه من روحک (ای الروح المطهر المختار لک) واسجدت له ملائکتک ثم بذنب واحد ملأت افواه الناس من ذکر معصیته فاوحی الله تعالی الیه یا ابراهیم اما علمت ان مخالفة الحبیب علی الحبیب شدیدة انتهی" او بعض محققین توجیه د شدت الهی پر آدم علیه السلام "اجر بلیغ ده اولاد د آدم عن امثاله انتهی".

درویش وایي: چي مثل د شدة الامر علی آدم علیه السلام لکه د ابراهیم علیه السلام په قصه کي چي آنفا تیر سو. پښتانه وایي چي د پردي سړي څخه څوک ګله نه کوي، او د خپل څخه ژر ګله کېږي. الاقرب فالاقرب حتی ده زوی څخه پلار پر لږ ناوړه کار ډېر غم او غصه ښکاره کوي. وروسته روح المعاني نوري د مقام سره موافقي او د درویش د زړه د خوشحالي خبري کړي دي، او روح البیان دا فعل د آدم زلة بللی دی، او ده ویلي دي چي اطلاق د معصیت پر ذلة په دې آیت کي مجاز دی، " لان الانبیاء علیهم السلام معصومون من الکبائر والصغائر لا من الذلات عندنا انتهی" فقیر وایي چي ما په عصمت کي د انبیاء علیهم السلام یوه رساله تصنیف کړې ده، چي نوم یې "کشف الغطاء عن عصمت الانبیاء" دی چي پر هغه رساله د تولو علماء د ولایت قندهار امضاوي او د هرات د مشائخو دستخطونه پر موجود دي که څوک په دې مسئله ځان ښه خبره وي، هغه رساله دې پیدا کړي ومن الله التوفیق.

ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَیْهِ وَهَدٰی ﴿۱۲۲﴾

وروسته تر مذکوري موضوع خدای ﷻ آدم علیه السلام مختاره کړی، او ځان ته یې نژدې کی. او توفیق د توبي یې ورکړی، توبه یې قبوله کړه.

پوه سه: چي د توبي نسبت چي بنده ته وسي معنی یې رجوع د عن الذنب، او چي خدای ﷻ ته وسي معنا یې رجوع ده وبنده ته په عفوه او رحمت سره "وهدٰی"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او خدای ده ته هدایت د توبې وکړی، حیث قال ربنا ظلمنا انفسنا الی آخره.

وهب بن منبه وایي چې آدم علیه السلام چې ډېرې د پښېمانۍ اوښکې توئ کړې، خدای پاک ﷻ ورته وویل چې داسې ووایه "سبحانک و بحمدک لا اله الا انت عملت سوءً و ظلمت نفسي فاغفرلي انک خیر الغافرین فقالها" بیا خدای ﷻ ورته وویل قل سبحانک و بحمدک لا اله الا انت عملت سوءً و ظلمت نفسي فارحمني وانت خیر الراحمین" بیا خدای ﷻ ورته وویل " قل سبحانک و بحمدک لا اله الا انت عملت سوء و ظلمت نفسي فتب علی انک انت التواب انتهی".

سوال: هدایت خو تر توبې د مخه وو، نو ولي یې هدایت تر توبې وروسته راوړی؟

ځواب: واو لپاره د مطلق جمع دی، دون الترتیب والتراخي او په تاخیر د "هدی" کې مطابقت د رؤس الایات دی کما مر.

سوال: اکل الشجرة خو حوا هم وکړی نو د هغې د توبې حال نه سو بیان ؟.

ځواب: حوا تبع د آدم علیه السلام ده په توبه او په قبول کې د توبې ځکه یې ذکر نه کړه، " وکذا طوی ذکر النسا في القرآن العزیز والنسة النبویة".

او بعض مفسرین وایي چې چونکه ذکر دعصیان د حوا نه وو سوی، نو ذکر د توبې ددې هم ونه کړی.

دروښ وایي: چې د آدم علیه السلام د ډېرې ژړا په باره کې لکه په حدیث کې د وهب رح چې تېره سوه، مولنا جلال الدین الرومي په مختلفو ځایو کې د مثنوي معنوي داسې په زړه پورې خواږه ابیات ویلي دي.

خاک غم را سرمه سازم بهر چشم..... تار گوهر پر شود دو بحر چشم
اشک چون از او بارند خلق..... گوهرست و اشک پندارند خلق
تو که یوسف نیستي یعقوب باش..... همچو او باگریه و اشوب باش
پیش یوسف نازش و خوبي مکن..... جز نیاز و اه یعقوبي مکن
آخر هر گریه آخر ضد خنده ایست..... مرد آخر بین مبارک بنده ایست
هر کجا ابر و روان سبزه شود..... هر کجا اشک دوان رحمت شود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلم له ابوهریره ﷺ څخه روایت کړی دی، "قال قال رسول الله ﷺ احتج آدم موسی (یعني اعتراض وکړی پر آدم موسی علیه السلام عند ربهما (یعني په روحانیت خدای سره جمع کړه) قال موسی انت ادم الذي خلقک الله بیده (ای بقدرته بدون مدخل الاسباب کما في اولاد آدم) و نفخ فیک من روحک (ای الروح المبارکة) واسکنک في جنت ثم اهبت الناس بخطیئتک الی الارض قال ادم انت موسی الذي اصطفاک الله برسالته و بکلامه، (یعني کلیم الله بلاواسطة جبرئیل وکړځپدې) و اعطاک الالواح (ای الالواح التي فیها التوراة) فیها تبیان کل شئ وقربک نجیاً فبکم وجدت الله کتب التوراة قبل ان اخلق قال باربعین سنة" قال آدم فهل وجدت فیها وعصی آدم ربه فغوی، قال نعم قال افتلو مني علی ان عملت عملا کتب الله علی ان اعمله قبل ان یخلقني باربعین سنة" قال رسول الله فحج آدم موسی (غالب سو آدم پر موسی په مذکور دلیل سره) په بل روایت کې راغلي دي چې درې واړه علیه السلام دا لفظ مکرر ووایه.

قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا

پوه سه: چې دا جمله مستانفه ده خدای پاک وویل کښته سئ د جنت څخه تا او حوا.

سوال: د دو کسو خطاب د جمیعاً و تاکید ته څه ضرورت لري او بل دا چې په وروسته آیت کې ضمائر د جمع راځي؟

ځواب: چونکه د آدم علیه السلام او حوا وتل له جنت څخه مستلزم دي وتلو ته د اولاد د دوئ تبعا نو زکه یې تاکید په جمیعا وکړی او وروسته ضمائر یې د جمع راوړه.

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى

بعض ستاسي یعني ده اولادي ستاسي به دښمنان وي د نور بعض، یعني په سبب د اختلافاتو دیني وو لکه مؤمنان او کافران یا د اختلافات دنیوي وو، نو که چیري راسي تاسي ته زما د خوا کتاب او رسول.

پر حدیث د مسلم یو علمي رنا: د خلګو خصوصاً عوام چې دا حدیث که څوک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته بیان کړي، نو هغه که عاصي په یوه ګناه سره وو. او ملامتیا څوک پرووایي نو هغه هم مثل دجواب د آدم علیه السلام ورکولای سي یعني چي دا ګناه خو رب جل و علا پر ما نوشته کړې وه. د مخه تر پیدائښت زما نو تاسي ولي پر ما ملامتیا وایاست. لکه آدم علیه السلام چي د لوم د موسی علیه السلام په دغه عذر له موسی څخه ځان خلاص کړی. او علیه السلام تائید مکرر د غلبې د آدم پر موسی هم وکړی.؟

ځواب: عاصي دا عذر نسي ویلای ولي آدم ته خدای بخښنه کړې کما مر "فتاب علیه و هدٰی" نو په عفوه سوي ګناه سره پېغور د موسی و آدم علیهما السلام ته بې ځایه ؤ او زمور د زماني د عاصي ګناه عفوه یعني نه ده. نو ددې لوم څخه نه خلاصېږي. او بل جواب دادي چي لوم پر عاصي په دار التکلیف کي دپاره زجر دعصیان څخه دی. او دار التکلیف څخه د باندي لکه آدم علیه السلام لوم یې فائده نه لري فافهم.

پوه سه: چي اصل ده اما ان ما وو ما زائد دی. نون دان شرطیه یې په کښي مدغم کړی. او مارد ددې هدی څخه کتاب او رسول دی.

فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا یَضِلُّ وَلَا یَشْقٰی ﴿۱۲۳﴾

دا جمله خبر د ان شرطیې ده. نو که څوک متابعت وکړي د هدایت زما یعني پر کتاب او رسول باندي ایمان راوړي. نو هغه سړی په دنیا کي په هدایت دخدای ﷻ د ضلالت څخه محفوظ او په آخرة کي څه یعني د سوء الحساب څخه بې خلاصون دی. بغوي رح دابن جبیر او هغه د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی. چي ده وویل من قرء القرآن واتبع ما فیه هداه الله في الدنیا من الضلالة ووقاه سوء الحساب یوم القیامة او دا ایت ابن عباس دخپل قول دلیل وګرځاوه.

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا

او که څوک روی ګرداني وکړي یعني له هدی څخه زما چي سبب د ذکر زما وو. یعني هدٰی زما ونه منې چي عبادت د کتاب او د رسول څخه وه. چي دا کسان عبارت د کافرانو څخه دی. نو په تحقیق ده لره عیش دی تنګ.

پوه سه: چي "ضنکا" مصدر دی. وصف به مبالغة. نو هم ددې سببه مذکر او مونث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پکښي برابر دی، نو دا سوال نه پیدا کیږي، چي معیشة مونث او ضنکا مذکر دی.

بغوي ؒ وایي چي د ابن مسعود او د ابي هریرة او د ابي سعید الخدري ؓ څخه روایت دی، وایي چي مراد څندي عذاب القبر دی، او دغه رنګه ابي هریرة ؓ د رسول الله ﷺ څخه روایت کړی دی، که ده وویل معیشة ضنکا عذاب القبر دی، قال ابوسعید حتی یختلف اضلاعه یعني قبر پر کافر دومره تنګ سي چي پښتی یې یو تر بل تیږي سي، او داغسي معذب وي تر بعث پوري، او په قول د الحسن مراد زقوم او زریع او غسلین دي په دوزخ کي. روح المعاني وایي والمتبادر ان تلک المعیشة له في الدنیا و روي ذالک عن عطاً و ابن جبیر او سبب د تنګ والي دعیش د کافر په دنیا کي دادی چي دی همیشه شدید الحرص په جمع کولو کي د دنیا او په ازدیاد کي د دنیا وهر هلاکت ته څان غورځوي او علی الدوام دی په بیره کي وي، د کم والي د دنیا او بخیل وي ولي چي دی بل غرض نه لري بې دنیا.

دروبش وایي: چي په اوسنی زمانه کي داغسي بعض مسلمانان په صفاتو کي د کافرانو سره شریک لیدل کیږي، بخلاف المؤمن الطالب للاخرة" وقیل "الضنک" مجاز مما لا خیر فیه. او عکرمه ؒ وایي چي ضیق یعني ضنکا حرام مال ته وایي، او ضحاک ؒ وایي چي ضنک کسب خبیث ته وایي او ابن عباس ؓ وایي الضنک الشقاً.

سوال: ضنک خو په لغت کي تنګ ته وایي، نو پر حرام پر کسب خبیث یا پر شقاً یې څرنګه اطلاق صحیح دی؟.

جواب: دغه امور مذکوره اسباب دي، ده ضیق المقام في القبر او النار، نو دا اطلاق دی د مسبب پر سبب باندي. د ابن عباس ؓ څخه روایت دی ده ووویل چي هر مال چي ورکړه سي بنده ته که لږ او که ډیر و لم یتق فیه ربه فلا خیر فیه و هو الضنک في المعیشة.

دروبش وایي: چي پر دې روایت ضنک په کافر پوري خاص نه دی لاًن بعض مسلمانان کذالک حدیث صحیح ابن ابي الدنیا او حکیم الترمذي او ابو یعلی او ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جرير او ابن المنذر او ابن ابي حاتم او ابن حبان او ابن مردويه ده ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم المؤمن في قبره في روضة خضراً ويرحب (يعني فراخه كره كبري) اويا گزه " ويضئي حتى يكون كالقمر ليلة البدر" بيا عليه السلام وويل "هل تدرون فيما انزلت فان له معيشة ضنكا؟ قالو الله ورسوله اعلم قال عليه السلام عذاب الكافر في قبره يسلط عليه (۹۹) تنينا مالتنين (۹۹) حية الى اخير الحديث.

دروښ وايي: چي دغه دی په حقيقت کي معيشة ضنکا.

وَنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿۱۲۴﴾

او موږ حشر کوو د کافر په ورځ د قيامت ړوند. قال ابن عباس رضي الله عنهما اعمى البصر يعني په ظاهري ستر گو ړوند. او مجاهد رح وايي اعمي عن الحجة" لكن قول د ابن عباس رضي الله عنهما صحيح دی مطابق ددې ايت سره دی.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿۱۲۵﴾

کافر ووای يا رب ولي زه حشر کړم په ستر گو ړوند، او زه وم په دنيا کي په ستر گو مي لپدل يعني په دنيا کي خو ړوند نه وم.

قَالَ كَذٰلِكَ

پوه سه: چي كذالك متعلق په فعل محذوف پورې يعني فعلت انت كذالك چونکه دا يوه مبهمه خبره و خدای پاک يې تفسير وکړی په دې سره.

اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿۱۲۶﴾

تاته درغلي وه آيت دالة پر وحدانيت او يا ايات المنزلة پر انبيا، تا د هغو څخه اعراض وکړی او پرې دې بنسول لکه ړوند دې شی نه وينې نو دا سبب دی دحشر ستا اعمى والي چي تا په دنيا کي ده رانده چمونه کوله. دغه رنګه نن ورځ يعني يوم القيامة ته پر ښنسول کيږي، په اور کي لکه تا چي ايات پرې ايښي وه.

وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْۢ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ۭ

"كذالك" ای مثل ذالك الجزا "نجزي" موږ جزا ورکوو هغه چاته چي تر حد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تېری یې کړی وي، یعنې عمر ګرانمایه یې صرف کړی وي په شهواتو کې او په اعراض کې له آیاتو څخه د خدای ﷻ. او ایمان یې نه دی راوړی پر آیاتو د خدای بلکه روی ګردانی یې د آیاتو آفاقیه و او له آیتو څخه د کتاب کړی وي، او دغه رنګه یې و معجزاتو ته د انبیا علیهم السلام په درنه سترګه نه وي کتلي.

وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَىٰ ﴿١٢٧﴾

او هر آئینه عذاب د آخرت یعنې په دوزخ کې سخت تر دې تر ضنک العیش والعمي و عذاب القبر او دوام داره دی، تر عذاب ده دنیا یا د قبر لانه دائم ابدا لایزول.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده علی قوله تعالی "ومن اعرض عن ذکري الایة، په صحیح البخاري کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وویل ان ادني اهل النار عذابا (هغه تر ټولو کم ده اهل النار از روي عذاب) الذي یجعل نعلان (یعني من النار) دوې چوتې (یغلي منهما دماغه في راسه) چې ایشي به د هغه چوتو په اثر ماغزه دده په سر کې "اللهم اعذنا من عذاب النار برحمتک وبجاه نبیک المجتبی ﷺ.

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ

ضمیر مرفوع په "یهدي" کې یا راجع دی وهدی ته چې مراد څندي کتاب او رسول دی او یا راجع دی و خدای ﷻ ته. المذکور في قوله و کذالک نجزي من اسرف و لم یؤمن بایات ربه" نو پر دې تقدیر په دې ایت کې التفات دی د تکلم څخه وغیبت ته چې د محسنات بدیعه څخه دی، ددې ارجاع تائید هغه قرائت کوي چې بعض قرأ دا آیت داسې ویلي دی " افلم نهدي لهم" بصیغة المتکلم او استفهام د پاره د انکار او نفي د نفي د اثبات وي، یعني هداهم الله او القرآن او الرسول محمد ﷺ والضمیر المنصوب راجع الی کفار مکة یعني کفارو ته د مکې هدایت کړه سوی دی لکن " استحبو العمي علی الهدی" والنار علی الرجوع من دین الاباً الی الدین الحق المؤید بالمعجزات الباهرة" او کلمه ده فا چې وروسته تر همزه د استفهام راغله عطف پر محذوف باندې کما مر غیر مر" او لم یبین لهم فلم یهدیهم.

سوال: همزه د انکار خو داخل پر هدایت دی او سره ددې چې هدایت منفي او منکر نه دی؟.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: هر لفظا خو پر هدایت داخل دی لکن په معنی کي منکر عدم اهتدا ددوئ ده بعد الهدایة فافهم.

كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ

کلمه د کم خبریه ده، مفید د معنی کثرة ده، یعني څومره وپر هلاک کړي دي موږ دمخه تر کفارو د مکې "کعاد، وثمود وقوم لوط وغیرهم "یمشون في مساکنهم" دا جمله حال ده له "القرون" څخه اهلکنا وهم ماشین ای کفار مکة في اوطانهم في اسفارهم الی الشام وغیره یعني افلا یعتبرون کفار مکة من حال تلک القرون: یعني چي دغه قرون چي دوئ په مساکنو خالیه وو ګرځي چي دا قرون په سبب د شرک او د تکذیب الرسل او د تکذیب الکتب المنزلة هلاک سوي، او په موږ کي هم ورته حالات د قرون ماضیه وو ستنه. نو پر موږ به هم یو وخت د هلاکت څپه راباندي راسي..... سعدي رح وایي:

پند گیر از مصائب دیگران..... تانگیرند دیگران ز تو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز..... چودیگر مرغ بیند اندر بند

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ

په تحقیق په دغه لیدلو کي د منازلو ده امم مهلکه وو دلائل او عبرتونه ستنه خاوند انو ته د عقول سالمه وو.

پوه سه: چي نهی بضم النون والقصر عقل ته وایي، لان العقل ینهی صاحبه عن الفحشآ والمنکر اذا کان خالیا عن التکبر والعناد وتقلید الاباٴ والاجداد.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ

که نه وای یو خبره چي ده ورانديّ سوې د خدای څخه یعني په لوح محفوظ کي چي هغه داده چي عذاب د امت محمدیه ﷺ د کفارو څخه پرې تر ورځي د قیامت او استیصال ددوئ په دنیا کي نه کړي، "لکون النبي ﷺ فیهم الذي هو رحمة للعالمین.

پوه سه: چي سبقت صفت دی د کلمة او خبر د مبتدآ محذوف دی والتقدیر لولا کلمة سبقت حاصلة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَكَانَ لِزَامًا وَّأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾

يعني واى به هلاكت د كفارو د قريشو په مثل دقرون ماضيه وو، مثل عاد وثمود وقوم لوط و قوم غير ذالک لازم به واى د هؤلاء الكفار سره.

پوه سه: چي لزاما مصدر دى، د بار د مفاعلة وصف يې مبالغة او يا په معنى د فاعل كمامر في الترجمة "واجل مسمى" عطف دى. پر كلمة والمعنى لولا اجل ليقائهم في الدنيا اولقيام القيامة او لعذابهم، نو په دې كلام كي تقديم او تاخير دى د اصل الكلام لولا كلمة سبقت و اجل مسمى لكان لزاما.

پوښتنه: په دې تقديم او تاخير كي حكمت څه دى؟

ځواب: علامه بغدادي آلوسي ؒ وايي چي حكمت يې مسارعت دى وبيان ته جواب ده لولا او بل تنبيه پر دې ده چي هر يو ددغو دو كارو مستقل په نفي د لزوم د عذاب ددوئ څخه دى. يعني كي اصل د كلام راوړى واى توهم به ددې كېدى چي دا مجموع علت د نفي د عذاب وي، اوبل حكمت يې مراعات د فواصلو د آيتو دى.

فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

نو صبر وكړه ته يا محمد ﷺ پر هغه څه چي دوئ يې وايي ستا په باره كي مثلا شاعر دى كاهن دى مجنون دى، مفتر دى وغير ذالک "وسبح" مراد له تسبيح څخه لمونځ دى ذكر جزء مراد څندي كل دى، متلبس په حمد خداى سره يعني حمد د خداى وايه چي ته يې رسول و گرځولې او تا تته يې توفيق در كړى پر ادا د رسالت و داسي سركښه او متكبر كافرانو ته د قريشو، ولهذا جاء في الحديث النبوي الصحيح كان رسول الله ﷺ اذا احزنه امراً افزع الى الصلوة.

پوه سه: چي "فاصبر" جزا د شرط محذوف ده، يعني چي تاته دا در معلومه سوه چي عذاب د مؤجل دى الى اجل مسمى ته وكړه.

تنبيه: ادا د رسالت چونكه عبادت عظمى و، لكن په دې سره بايد سړى ونه نازېږي، بلكه شكر د خداى ﷻ دي وايي پر توفيق او اعانة دده سره په دې لار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده اداً الرسالة، لكه په سورت فاتحه كي وروسته تر "اياك نعبد" يې اياك نستعين د پاره ددغي نكتې راوړي.

فائده: چونكه سبح امر دى او امر دپاره د وجوب اذا لم قرنية على خلافه كما في قوله و اذا حللتم و فاصطادوا. او د امر مقيد په بحمد ربك سره نو دا دليل ددې چي په لمانځه كي چي مراد د سبح څخه قرائت د فاتحة الكتاب دى، نو قرائت د فاتحة الكتاب واجب دى كما صرح به عليه السلام لا صلوة الا بفاتحة الكتاب. رواه الشيخان.

قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ

دمخه تر لمر ختلو، چي د سهار لمونځ دى "وقبل غروبها" يعني صلوة العصر (او بعض علماً وايي چي د قبل الغروب څخه مابعد الزوال مراد دى، نو ظهر او عصر دواړو ته شامل سو) او په ساعاتو كي د شپې چي مغرب او عشا ځندي مراد دى.

پوه سه: چي اناٰي جمع ده اني بالكسر والقصر په معنى ده وخت.

دروېش وايي: چي چونكه مخاطب عليه الصلوة والسلام دى، او پر صحيح قول د تهجد لمونځ پر عليه الصلوة والسلام واجب وو نو په اناٰي الليل كه د تهجد داخل والى هم احتمال لري.

"فسبح" قال المظهري الفاً زائدة او يا مبني پر تقدير ده اما يعني واما من اناً الليل فسبح، خفاجي په حاشيه كي د بيضاوي وايي "لاحاجة الى زيادة الفاً او تقدير اما، چي سبح عامل دى په من اناً الليل لانه لايمنع عمل مابعد الفاً فيما قبله كما صرح به النحات.

فائده: تخصيص د اناً الليل چي په صلوة سره وكړى يو سبب يې دادى چي شپه وخت دى د خلو د زړه په اشغال سره ددنيا اوبل سبب دادى چي نفس د شپې اميل دى، و استراحة ته فكان العبادة په اناً الليل افضل و احسن قال الله تعالى "ان ناشئة الليل هي اشد وطاً و اقوم قيلا".

وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضٰى ﴿۱۳۰﴾

دا عطف دى، على قبل طلوع الشمس او على محل من اناً الليل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د اطراف النهار د لمانځه څخه د سحار لمونځ اود مازديګر لمونځ دی، فائده د تکرار ددې دو لمونځو مزيد تاکيد دی پر دغو دوو لمونځو، لان الفجر وقت نوم وغفلة والعصر وقت الاشغال بالتجارات والاکتساب وغيرها. کقوله تعالى حافظوا على الصلوة والصلوة الوسطى چې بعض علماً وايي چې صلوة الوسطى د سهار لمونځ دی لانها متوسط بين صلوتي الليل اى المغرب والعشاً او صحيح داده چې مراد څنډې صلوة العصر دی ولې دا لمونځ متوسط دی په مابين د دولمونځو د ورځې اى الفجر والظهر او دوو لمنځو د شپې اى المغرب والعشاً او صيغه د جمع چې اطراف دی راوړه، ولې چې په دې کې هېڅ التباس نه راځي او بعض مفسرين وايي چې مراد څنډې صلوة الظهر فقط ولې چې دا لمونځ نهاية دی د نصف اول د ورځې او بدايۀ د نصف ثاني د ورځې او جمع يې په اعتبار د نصفين ده، او بعض مفسرين وايي چې دا امر استحباب دی په نفلي لمونځو سره في اجزاً النهار وقيل غير ذالک.

پوه سه: چې "لعل" په معنى دلام کې دی، اى لكى ترضى يعنې په دغو اوقاتو مذکوره ووکې ته لمونځونه کوه ددې دپاره چې د رب العزت لخوا به دونه کرامت وويني چې ته به راضي سې، او کسائي او ابوبکر يې په صيغه مجهول وايي، يعنې ته به راضي کړل سې، د خداى لخوا څخه، او پر صيغه د معلوم او مجهول د دواړو ترجمه داده اى يرضاک الله او بعض مفسرين وايي لعلک ترضى بالشفاعة في امتک کما في سورة والضحى و لسوف يعطيک ربک فترضى.. سعدي ؒ وايي:

عطاي شفاعت چنانش دهند ..... که امت تمامی ز دوزخ رهند

بخاري او مسلم او احمد او ابوداؤد او ترمذي او نسائي او ابن ماجه د جرير بن عبدالله څخه داسې روايت کړی دی دی، وايي چې موږ ناست وو، د رسول الله ﷺ سره يعنې د شپې نو عليه الصلوة والسلام وکتل و سپوږمي ته د (۱۴) چې تاسي به خداى جل شانه داسې وويني په جنت کې، لکه تاسي چې وينئ دغه سپوږمي، يعنې بلا ريب و اشتباه لکن بلا کيف لاتضامون في رويته يعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي به یو دبل سره انضمام کوئ په رویت کي د خدای ﷻ یعني لکه د لیلة البدر د سپو ږمی په لیدلو کي انضمام نسته" فان استطعتم علی ان لاتغلبو علی صلوة قبل طلوع الشمس و قبل غروبها فافعلوا. بیا علیه السلام دا آیت " فسبح بحمد ربک قبل طلوع الشمس و قبل غروبها" ووایه.

دروښ وایي: چي ددې حدیث څخه دا معلومه سوه چي په آیت متلوه کي مراد د سهار لمونځ او د مازدیګر لمونځ دی والله اعلم بمراده في کتابه. در شفاعت انحضرت ﷺ یک شاعر بلیغ چنان گفته.

امت همه جسمند تو ئ جان همه..... ایشان همه آن تو وتوآن همه
خوشنودی تو جست خدا درمحشر..... خوشنود نهٔ مگر بغفران همه.

فائده: در حدیث صحیح امده من داوم علی الصلوة الخمس في الجماعة رفع الله عنه ضیق العیش و عذاب القبر،و یعطي کتابه بیمینه،و یمر علی الصراط کالبرق و یدخل الجنة بلاحساب.

شان نزول ایت حسین کاشفي در تفسیر حسیني چنان فرموده ابو رافع نقل میکند رضي الله تعالی عنه، که مهمانی نزد پیغمبر ﷺ آمده و درخانه چیزی نبود که بدان اصلاح شان مهمان توانستی نمودو. مرا بنزدیک یکی از یهود فرستاد و گفت اورا بگو که محمد رسول الله ﷺ میگوید که مهمانی بمنزل ما نزول نموده ونمی یابم نیزدیک خود چیزی یعنی خوردنی که بدان اصلاح شان مهمان بکنم تاکه شرائط ضیافت بتقدیم رسد مقدار آرد بما بفروش و معامله کن تا ماه رجب چون وقت برسد بهای آن آرد میفرستم، پیغام آن حضرت ﷺ به یهودی رسانیدم او گفت که نه میفروشم و معامله مدانیه نمی کنم مگر آنگه که چه چیزی در گرو من نهد. ابو رافع ؓ میگوید که بآن حضرت مراجعت نمودم و کلام یهودی با او رسانیدم حضرت فرمود والله اني لآمین في السما وآمین في الارض اگر بامن معامله کرده البته حق اورا ادا کردمی پس زره (زغره) خود بمن داد تا نزدیک یهودی گرو نمودم و او مقدار آراد داد این ایت جهت تسلیت دل مبارک وی نازل شد. ددې حدیث روایت ابن ابي شیبة او ابو یعلی ده ابو رافع څخه کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

"عينک" ای نظر عينک (و به فارسي كما قال الحسيني و بازمكش نظر چشمهاي خود يعني منگر دا عطف ده على قوله تعالى "فاصبر عطف الانشا بالنهي على الانشا بالامر) و هغه مثالونه يعني پر وجه د تمني چي ما هم داغسي اموال درلودای، يعني اصنافا من الكفرة كالمشركين واليهود والنصارى، دا يو زينت او ښائست دی د ژوند ناقص،

پوه سه: چي ازواجا مفعول به د متعنا او منهم صفت ده ازواجا دی "زهرة" منصوب دی په فعل محذوف سره چي متعنا دلالت پر کوي، ای اعطيناهم زهرة الحيوة الدنيا يا منصوب دی په متعنا سره چي متضمن معنا لره ده اعطينا دی، مظهري وايي يا بدل دی د محل څخه ده به چي محلا منصوب دی، كه څه هم لفظا مجرور دی، روح المعاني وايي و ضعفه ابن الحاجب في اماليه لان ابدال المنصوب من محل الجار والمجرور ضعيف، كمررت بزيد اخاك ولان الابدال من الضمير مختلف يه انتهى،

دروښ وايي: چي هېڅ مفسر ته روانه ده چي تفسير د كلام بليغ د قرآن پر وجه ضعيف يې حمل كوي، امام واسطي رحمة الله عليه وايي چي په دې تسلي ورکوي رب جل وعلا و فقراً ته د امت مرحومه په دې معنى چي خدای ﷻ خيرا لخلق د نظر و دنيا ته پر وجه د استحسان منع بقوله جل ذكره لا تمدن عينک آه،

لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ

چي موږ امتحان او اختبار وکړو ددوئ په ما متعنا كي، نو ضمير د "فيه" راجع دی، و ماته په آيت سابقه كي، د امتحان معنى داده چي دې دی ددې نعمت ځداداده شكر وايي د قليل ما هم، او كه په مال سره يې تكبر او طغيان زياتېږي، حتى چي مستحق د عذاب الهي و گرځي كه نعمت يې منجرد كفر ته وگرځېدی نو داسي شی څخه بايد عاقل تنفر وکړي، قالوا عند الامتحان يكرم الرجل او يهان ولهذا اختار خير البشر ﷺ فقر الدنيا على غناها والجوع عمل الشبع،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په صحیح حدیث کي راغلي دي ان الدنیا حلوة (یعني صورة ددنیا شرین از روي متاع) خضرة حسنة في المنظر تعجب الناظر (سر سبز او شاداب دی او ښه معلومیږي، په کتو کي په تعجب کي اچوي کتونکی، خضرة چې یې وویل ددې سبب چې د عربو چونکه محکه وچه وه چې خضر دوئ ته ښه معلومیږي، او یا ددې سببه خضر ویلل چې لکه خضرواة زوال یې ژر دی او خلګ یې په خضرة او حسن ظاهري سره غولولي دي) "و ان الله مستخلفکم فیها" (او خدای تاسي خلیفه ګان ګرځوي په دنیا کي یعني په حقیقت کي خو مالک د اموالو ستاسو خدای دی صرف تصرف یې ستاسو په لاس درکړی دی لکه د کښت بزګر یا د باغ باغوان) فناظرة کیف تعلمون (او خدای ګوري چې څرنګه تصرف کوي په دنیا کي او یا ذخیره د آخرة او ثمن د جنت یې ګرځوي او مهر د حورانو د جنت یې ګرځوي او کې د عذاب النار سبب ګرځوي او که زقوم او غسلین په رانیسي) کمال خجندي رح وایي جهان و جمله لذاتش بذنبور عسل ماند (ای مشابه است) که شیرینش بسیار است و زان فزون شر و شورش ... مثنوي:

هر که از دیدار برخوردار شد ....این جهان در چشم او مردار شد.

از ره مرو بعشوه دنیا که این عجوز
مکاره مي نشیند و محتاله میرود

وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّأَبْقٰى ﴿١٣١﴾

یعني مارزق الله یا محمد في الدنیا من الهدی والنبوة و سیادة الانبیآ علیهم السلام او کفاف حلال بقد ما یسد جسدک و یدفع جوعک. او یا په آخرت کي من الجنة و مراتب القرب الی الله تعالی والشفاعة العظمی الی غیر ذالک "خیر وابقی" بهتر دی تر ما اعطی الله الکفار من الاموال و الجاه والجلال او دهر باقي دی تر اموال ددوئ ولي چې د آخرة نبي و نبادی خو فنی نه لري، بلکه ابدي دي " بخلاف اموالهم و لذاتهم" شیخ سعدي شیرازي قدس وایي.

گر از دۀ بر زمین خسپ و بس..... مکن بهر فانی زمین بوس کس
نیرزد عسل جان من زخم نیش .... قناعت نکو تر به دو شاب خویش

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خداوند زان بنده خرمند نیست .... که راضی به قسم خداوند نیست
پندار که چون سر که خود خورم .... که جور خداوند حلوا برم
قناعت کن ای نفس بر آند کي .... که سلطان و درویش بیني یکي
یعني په ورځ د قیامت یا په دفن کي د قبر)
کند مرد را نفس اماره خوار .... اگر هوشمندي عزیزش مدار

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ

او امر کوه ای قومک واهل دینک عطف دی پر لا تمدن "بالصلوة" په لمانځه سره مراد فرضي لمونځ دی. تخصیص د لمانځه چي وکړی لان الصلوة عماد الدین کریمة ان الصلوة تنهی عن الفحشآ والمنکر یعني کما امرناک بالصلوة فآ مر انت اهل بیتک و قاربک المؤمنین فان الفقیر ینبغي ان یستعین بالصلوة علی فقره او غم د معشیت دي نه کوي او اهل غنی ته دي نه گوري "واصطبر علیها" او دوام وکړه پر لمانځه په حدیث صحیح کي راغلي دي چي رسول الله په اثر ددغه امر الهی یوه میاشت د سهار د لمانځه دپاره بې پر فاطمه او علي رضي الله عنهما باندي د لمانځه ږغ کاوه و یقول الصلوة.

لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ۝

موږ ستا څخه سوال د رزق یعني تانه مکلفوو په رزق نه د ځان دپاره او نه د اهل قرابت ستا او نه د اهل دین ستا بلکه ته او دوئ مامور بالعمل یاست. موږ رزق در کوو تاته بحذف المعطوف یعني و ایاهم د دوئ یعني ته زړه د عبادت لپاره فارغ کړه. او دوئ دي هم فارغه کړي خپل زړونه د طاعت لپاره. .. بیت

ای کریمي که از خزانه غیب ..... گبر و ترسا وظیفه خود داری
دوستان را کجا کنی محروم ..... تو که با دشمنان نظر داری

پوه سه: چي عاقبت ما یعقب الصالح من الثواب والجنة کما ان العقاب ما یعقب العمل السوء من العذاب والعبارة بحذف المضاف ای لاهل التقوی. ابن عباس رضي الله عنهما وایي چي اهل التقوی هغه کسان دي چي ستاد نبوت تصدیق په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی وي او ستا متابعت یې مختاره دی او دده عذاب څخه ده خدای بهر ېږي، طبراني ؒ او بیهقي او ابونعیم ؒ داسي حدیث راوړی دی چې علیه السلام به په خپل اهل کي یو ناجوړی وغیره ولیدی هغه بې په لمانځه او دا آیت بې تلاوت کړی " وامر اهلک بالصلوة الی آخیر الایة" وهب بن منبه وایي چې په طلب کي حاجت د خدای جل شانه قوي واسطه لمونځ دی او سلف صالحینو چې یو حاجت بې درلودی لمونځ یې واسطه ګرځول لکن صدق قلب شرط دی.

وَقَالُوا لَوْلَا يَأْتِينَا بِآيَةٍ مِّن رَّبِّهِ

او ویل به مشرکانو د مکې: ولي راتګ نه کوي محمد (ﷺ) موږ ته. په یوه معجزه سره چې دلالت وکړي پر صدق دده په دعوی کي د رسالت.

پوه سه: چې دا جمله معطوف ده پر یقولون والمعنی ته صبر وکړه پر مایقولون و ما قالوا او هذا کلام مستانف والواو للاستئناف.

فائده: مشرکانو د مکې و معجزاتو ته د رسول کریم ﷺ لکه شق القمر او کلمه ویل د شګو په موټه کي د ابوجهل و غیر ذالک ته اعتبار نه ورکاوه. بلکي ګاهي بې علیه الصلوة والسلام ته ویل چې عصا موسی اوید بیضا معجزه موږ ته ښکاره کړه، او ګاهي بې ویل چې ته قصي بن کلاب چې زمونږ نامداره مشر وو را ژوندی کړه، چې هغه ستا د نبوت تصدیق وکړي او ګاهي بې ویل چې مخکه د مکې غرونو تنګه کړې ده ته ستا خدای ته ووایه چې دا غرونه د مکې ایسته کي. او ګاهي بې ویل چې د صفا غر د سرو زرو وګرځوه چې موږ د انفاق او د تجارت کار څندي واخلو او ګاهي بې ویل چې په مکه کي جاري اوبه نسته ته ستا خدای ته ووایه چې په مکه کي لویه ویاله جاري کړي، چې موږ یې پر یوه او بل جانب باغونه او میوه داري درختي شنې کړو. و امثال ذالک، چې دې ته په عربي کي مقترحات سوالونه وایي. او دا سوالونه ددوئ صرف او صرف د عناد او تکبر له کبله وه.

دروښ وایي: چې که چیري د دوئ مقصود صرف صدق د علیه الصلوة والسلام په دعوی کي د رسالت معلومات غرض وای نو چې بله هېڅ معجزه نه و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اى قرآن عزيز معجزه باقيه او موجوده معجزه وه سورة البقرة و ان كنتم في ريب مما نزلنا على عبد نا الى آخر الاية او څوځايه دا تقريع مكرر دوئ ته ورکړه سوې ده، نو که قرآن کريم من عند الله نه واى نو دوئ به يې په مثل د يوه سورت جوړ کړي واى. مع انهم شعراً بلغاً وه او رسول الله ﷺ په دې کي امي وو حتى چې کفارو د مکې تر مقابله د لسان چې ايمان بمثل السورة وه مقابله د سيف او سنان مختاره کړه، فعلم ان القرآن الكريم ليس من كلام البشر فافهم.

أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾

پوه سه: چې همزه د استفهام لپاره د انکار دى او نفي د نفي اثبات دى، او کلمه ده واو عطف پر مقدر باندې كما هو القانون النحوي في الحروف العاطفه الواقعة بعد همزة الاستفهام كما مر هذا القانون في هذا التفسير في مواضع كثيرة والتقدير الم يعرفوا صدقك في دعوى النبوة و لم تأ تهم آه والمعنى ايا نه دى راغلى دوئ ته بلكه رسېدل دى د مافي الكتب الاولى يعني چې تر قرآن عزيز د مخه کتابونه وه لکه تورات انجيل او نور کتب سماويه.

سوال: قريش مکه خو په تورات او انجيل نه پوهېدل نو دوئ ته څرنګه ما في الصحف الاولى رسېدلي وو؟

ځواب: قريشو د مکې هغه وخت چې عليه السلام په مکه کې وۀ، وه يهودو ته د مدينه استاذي استول او د عليه الصلوة والسلام نخښې او نښانې يې علماؤ ته د يهودانو بيانولې، او دده د صدق او کذب پوښتنه به يې ځندې کوله، او د يهودانو ملا يانو بې يې هغه وخت کې تصديق کاوه، او يا معنى د آيت داده چې قرآن کريم پر خلاصه د مافي الكتب السماوية مشتمل دى، من العقائد الحقة والاحكام الكلية او سره ددې چې راوړونکى د قرآن نبي امي دى، چې نې دغه کتب سماويه لېدلي او نه يې زده کړې دي د يو معلم څخه، د هغو کتابونو دا يو دليل واضح او حجت بينه پر صدق دده په ادعا کې د نبوت.

فائده: ددې ايت څخه دا هم معلومه سوه، چې قرآن کريم لکه چې برهان واضح دى پر نبوت د آنحضرت ﷺ دغه رنګه شاهد صدق دى پر صحت د ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تقدم من الكتب السماويه ولي چي نور كتب سماويه معجز نه وه بلكه اعجاز يوازي خاصه د قرآن كريم ده، نو هغه كتابونه و شاهد ته محتاجه دي، والقرآن يشهد بصدقها فافهم.

او بعض مفسرين وايي چي معنى دآيت داده چي تاسي ته بيان د صحف الاولى د خلگو او امتو در رسېدلي چي هغو ده دخپلو نبيانو څخه ايات مقترحه وغوښتي او هغه به خداى ﷻ په دعا ددوئ و نبي ته وركړه، او ددې سهنې سره به هم دوئ ايمان نه راوړى، نو خداى ﷻ به عذاب عاجل پر نازل كړى، لكه قوم د صالح چي اوښه يې له صالح ؑ څخه وغوښته چي د يوغره څخه راووتل قصه مشهوره ده، او د مخه مسطور وه، لكن چي هغه اوښه دوئ مړه كړه، عذاب د استيصال پر نازل سو چي تولـه په يوه وار خداى ﷻ په خپل قدرت د وجود كمبله څندي تولـه كړه په صيحه د جبرئيل ؑ يا په زلزله د محكي، او د غير قوم صالح من الاقوام چي آيات مقترحه يې غوښتي دي او بيا يې هم ايمان نه دى راوړى، خداى عذاب دنيوي پر نازل كړى، نو كه چيرې تاسي قريشو ته ايات مقترحه دركړل سي او تاسي ايمان نه راوړئ ده تاسي سره به هم هغسي معامله وكړل سي. لكن چونكه آنحضرت ﷺ رحمة للعالمين د داسي آياتو مقترحه غوښتنه يې دخداى ﷻ څخه نه دې كړې شفقة على قومهم.

وَلَوْ أَنَّا أَهْلَكْنَاهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِ لَقَالُوا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا

(چونكه كلمه د فعل غواړي نو تقدير د كلام داسي دى) "لو ثبت" كه موږ هلاك كړو قريش په سبب د شرك د دوى، په يو عذاب سره. يعني من قبل محمد ﷺ او من قبل البينة والتذكير. دوئ به وايي په ورځ د قيامت عذراً الى ربهم، يا ربنا ولي راوانستاوه تا موږ ته يو رسول يعني چي موږ ته يې حق لار رابسوولې واى او د شرك قبائح يې موږ ته په گوته كړې واى.

فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴿١٣٤﴾

موږ به متابعت كړى واى د هغه رسول دا صيغه منصوب ده، په اضمار د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ان بعد الفا" لان لولا چي معنی اصل يې تحقيق دی په معنی د استفهام دی.
ستا د آياتو منزله وو په قرآن کي "من قبل ان نزل" ظرف دی د "فنتبع".
دمخه تر دې چي مونږ ذليل کپدای په قتل او په سبي سره په دنيا کي "ونخزى"
او رسول کپدای په دخول د دوزخ په قيامت کي.

درويش وايي: چي حکمت د ارسال الرسول و انزل الکتاب ددې آيت په
مقتضی دفع د عذر ددوئ په ورځ کي د قيامت ورنه بطلان د شرک او توحيد د
باري عز وجل خو په عقل سليم هم معلومېږي. کما قال السيدي شيرازي رح.

برگ درختان سبز در نظر هوشيار... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

يو بل شاعر ددې په تائيد کي وايي.

گر انبياً هم نامدی فی مشرع بودي درجهان
واجب شدي بر مؤمنان ايمان به خالق مقتدر

وهذا مذهب الامام اعظم رح خلافًا للشافعي.

قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا۟

ووايه ته يا محمد (ﷺ) (دا کلام مستانف دی) په "کل" کي تنوين عوض د
مضاف اليه څخه دی ای کل واحد منا ومنکم) "متربص" منتظر دی تاسي کفار به
ويل نتربص بمحمد حوادث الدهر فاذا مات تخلصنا منه" يعني تاسي په داغه
شکنه ډوډی پوري کوله چي مآل څرنگه کپږي په دينا کي. وهو القتل يوم بدر.

فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِىِّ وَمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿١٣٥﴾

يعني في يوم القيامة به تاسي پوه سئ، چي څوک دي درلودونکي د لاري
مستقيم چي موصل وجنت ته ګرځي. او څوک دي پر اهتداً د ضلالة څخه
يعني مونږ يو او که تاسي.

پوه سه: چي "من" په دواړه ځای کي لپاره د استفهام مرفوع محلاً مبتداً ده
او مابعد يې خبر دی... قال الشاعر العربي بالکناية العجيبة"

سوف ترى اذا انجلى العبارة ..... افرش تحتک ام حماره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شاعر فارسي چه خوش گفته

زاه دان راه بين و راه بر.....درحقيقت نيست خبر خير البشر

و في الحديث لا يقرء اهل الجنة الا سورة "طٰه" و سورة "يٰس"

دروښ وايي: چې لله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله وصحبه البررة فرغت من تفسير جزء (١٦) من القرآن العزيز وقت الظهر يوم الاثنين سلخ شهر ربيع الاول (١٤٣٠هـ ق) في حجرتي و بتفسير الجزئين (١٥) (١٦) ثم الجلد (١١) و ارجو من الله الكريم ان يوفقني الاجزاً البقية من القرآن العزيز في مجلدات ان شاً الله العزيز و كان الله على كل شئ قديراً. وليس للفقير تمنى الا الموت على حقيقت الاسلام و اتمام التفسير للقرآن.

ع : من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن در بغل.

نصيحت عامه: پوه سه : چې علم يو لوی تناؤ دی هر چا چې لاس پورې ټينګ کړی هغه کامياب دی د دنيا تولې نعمتونه فاني دي مګر علم هغه نعمت باقي دي چې په دار القرار کې هم په کار دی کما قال الشاعر الفارسي

برود ا من علم کہر استوار.... که علمت رساند بدار القرار

ترا علم در دين و دنيا تمام.... که کار تو از علم گيرد نظام

فائده: هر څو مدح د علم چې په قرآن عزيز کې او په احاديثو شريفه و کې او په اقوال داهل علم کې چې بيان سوې ده هغه علم العقائد الحقة و علم الشريعة المطهرة دی و ما يتوقف هما عليه. د علم په شرف کې دا آيت کافي دی "و قل رب زدني علماً" چې خير البشر ﷺ خدای تعالی ﷻ مامور کړی په دعاً دزيادت د علم سره، و فوق کل ذي علم عليم حتى ينتهي سلسلة العلم الى الخبير ﷻ عالم الغيب والشهادة.

تمت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسير ابوبيٰ حنفي د مضامينو فهرست

شمېر	سرليک	مخ
١	سريزه	٣
٢	د "سبحٰن الذي" پيل	٥
٣	مسئله	١٠
٤	تتمة شق الصدر	١٦
٥	پوښتنه او ځواب	١٩
٦	دروېش دايي	٣١
٧	د "وآتنا موسى الكتٰب" تفسير	٤٣
٨	د "فجاسوا خلٰل الديار" تفسير	٤٦
٩	د "ان احسنتم احسنتم" تفسير	٤٧
١٠	تفريع	٥٥
١١	د اهل بابل او بخت نصر بيان	٦٠
١٢	د "ان هذا القرآن يهدي" تفسير	٦٥
١٣	د "وجعل الليل والنهار آيتين" تفسير	٧٠
١٤	د "وكل انسان الزمنٰه" تفسير	٧٢
١٥	فائده	٨٥
١٦	د "وللآخرة اكبر درجات" تفسير	٨٧
١٧	دروېش وايي	٩٠
١٨	مسائل حقوق الوالدين	٩٣
١٩	حكايت	٩٦
٢٠	د "ربكم اعلم بما في انفسكم" تفسير	٩٧
٢١	دروېش وايي	١٠١
٢٢	د "ان المبذرين كانوا اخوان الشيٰطين" تفسير	١٠٥
٢٣	حكايت	١١٣

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمیر	سرلیک	مخ
۲۴	فوائد شتی	۱۱۹
۲۵	دروېش وایي	۱۳۳
۲۶	د "ربکم اعلم بکم" تفسیر	۱۴۳
۲۷	د "واذ قلنا لک ان ربک" تفسیر	۱۵۳
۲۸	حکایت	۱۵۵
۲۹	تبصره	۱۶۱
۳۰	د "اقم الصلوة لدلوک الشمس" تفسیر	۱۷۶
۳۱	د "وننزل من القرآن ما هو شفاً" تفسیر	۱۸۶
۳۲	د "ویسئلونک عن الروح" تفسیر	۱۹۱
۳۳	د "الا رحمة من ربک" تفسیر	۱۹۴
۳۴	دروېش وایي	۲۰۹
۳۵	د سورة الکهف پیل	۲۲۳
۳۶	حکایت	۲۳۰
۳۷	تنبیه	۲۴۱
۳۸	سوال او ځواب	۲۴۳
۳۹	د اصحاب کهف د نومانو بیان	۲۴۶
۴۰	دروېش وایي	۲۶۶
۴۱	د "واذ قلنا للملائکة اسجدوا لآدم" تفسیر	۲۹۵
۴۲	تبصره	۳۰۴
۴۳	د "فوجدا عبداً من عبادنا" تفسیر	۳۰۸
۴۴	د شاړسمې پاړې پیل	۳۱۵
۴۵	د "خیراً منه زکوةً واقرب رحماً" تفسیر	۳۲۲
۴۶	دروېش وایي	۳۲۶
۴۷	د "حتی اذا بلغ مطلع الشمس" تفسیر	۳۳۶

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمېر	سرلیک	مخ
۴۸	مهمه فائده	۳۴۱
۴۹	سوال او ځواب	۳۵۱
۵۰	باب الریاٗ والسمعة	۳۶۰
۱۵	د سورة مریم پیل	۳۶۴
۵۲	د "یرثنی ویرث من آل یعقوب" تفسیر	۳۶۸
۵۳	د "فاٗجآئها المخاض" تفسیر	۳۸۰
۵۴	د "فاتت به قومها تحمله" تفسیر	۳۸۶
۵۵	تنبیه	۴۰۰
۵۶	د "قال سلٰم علیک" تفسیر	۴۰۲
۵۷	د "واذکر في الکتٰب ادریس" تفسیر	۴۰۸
۵۸	دروښ وایي	۴۱۰
۵۹	د "وما نتنزل الا بامر ربک" تفسیر	۴۱۸
۶۰	حکایت	۴۲۱
۶۱	سوال او ځواب	۴۳۰
۶۲	دروښ وایي	۴۳۷
۶۳	د سورة "طٰه" پیل	۴۴۵
۶۴	د "الرحمن علی العرش استوی" تفسیر	۴۴۷
۶۵	د "وهل آتک حدیث موسی" تفسیر	۴۵۱
۶۶	د "قال رب اشرح لي صدري" تفسیر	۴۶۴
۶۷	د "فقولا له قولاً لیناً" تفسیر	۴۷۷
۶۸	د واضل فرعون قومه" تفسیر	۵۰۴
۶۹	د "وعصی آدم ربه فغوی" تفسیر	۵۴۲
۷۰	سوا او ځواب	۵۴۸
۷۱	د "وامر اهلک بالصلوة" تفسیر	۵۵۸

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

محترمو مسلمانانو عقيده د انسان لپاره ډېره مهمه او د فهم وړ شی دی، که حقیقت ته لږ کتنه وکړو، نو عقیده د انسان د نجات او خلاصون ذریعه هم گرځي، او همدا رنگه عقیده د انسان لپاره د ابدي دوزخ او عذابونو سبب هم گرځي، نو د عقیدې په اړه زمونږ د اداري له خوا په پښتو ژباړي سره د اهل السنة والجماعة د تگړه عالم مرحوم مولانا محمد ادریس کاندهلوي صاحب سابق شیخ الحدیث جامعه اشرفیه لاهور مشهوره کتاب په نامه د:

عقائد الاسلام

چې د کور هر فرد، نارینه او ښځینه لپاره ډېر مفید دی، او په دې کتاب کې د ټولو باطلو فرقو بیان په ښه وضاحت سره لیکل سوی دی، او د ټولو باطلو فرقو رد په قرآن او احادیث سره سوی دی، نور نو کتاب چاپ سوی دی د کتاب په مطالعه کولو سره به یقیناً د باطلو فرقو په حال احوال خبر سئ.

الناشر

مَكْتَبَةُ القِرَاءَةِ وَالتَّجْوِيد

کاسي روډ کوئټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

و ټولو دين دوستو وروڼو ته خبر ورکول کېږي چې د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه پر مذهب باندې ليکل سوی کتاب چې له عربي ژڅه پښتو ته زمونږ د اداري له خوا ژباړل سوی دی په دې ډېره روانه او سليسه پښتو سره چې د عباداتو تر څنګ د معاملاتو مسائل هم پکښې دي يعني

المفيد في العبادات والمعاملات

على مذهب امام ابو حنيفه رحمة الله عليه

دې ټر به زمونږ د اداري له خوا وچاپ ته ورسېږي ان شآ الله تعالى، ددې کتاب خصوصيات دادي چې د پوښتنې او ځواب په شکل کې ټوله مسائل راوړل سوي دي، په دې کتاب کې څلور کتابونه دي يعني کتاب الصلوة، کتاب النکاح، کتاب البيوع او کتاب الشفع.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو. واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

الناشر

مکتبة التراث والتجويد

کاسي روډ کوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسیر ایوبي حنفي۱۱ ټوک

د نصیراحمد احمدي لخوا

سکین او pdf سو.

تاریخ. ۲-۱۱-۱۳۹۸

واتساپ، ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner